# اِصلاحي

# مُدلّل تقريرونه

دوېم جلد

دَقرآن کريم. نبوی احاديثو او دامت داسلافو دقيمتی اقوالو اصلاحی نصيحتونو، عِلمی لطائِفو او دعِبرت نه ډک زړه راښکونکو مُعتمدو واقعاتو په رڼا کی۔ دمعاشری داِصلاح. خوف خدا، دحقوق اللّٰه او حقوق العباد او اهميت او د دارينو دسعادت او نيک بختئ په باره کی. دعلماو. طلباو. مقررينو او عامو مسلمانانو دپاره يوه مفصله معتمده علمی او تحقيقی ذَخِيره:

تاليف

## اَبُو الشَّمس مولانا نُورُ الهُدیٰ عفی عنه

مدرس دارالعلوم فيض القرآن اکاخيل کالونی کاټلنګ روډ مردان

زير اهتمام
کفايت الله ارماني
0344-9995990

مکتبه اعزازيه
محله جنګی پشاور

جاده ميوند پخته فروشی کابل: 0764857797

دَ قرآن کریم، نبوي احادیثو او د امت د اَسلافو د قیمتي اَقوالو، اِصلاحي نصیحتونو، عِلمي لطائِفو او د عِبرت نه ډَک زړه راښکُونکو مُعتمدو واقعاتو په رڼا کې. د معاشرې د اِصلاح، خَوفِ خُدا، د حقوق الله او حقوق العبادو اَهمیت او د دارینو د سَعادت او نیک بختۍ په باره کې. د علماو، طلباو، مُقرِّرینو او عامو مسلمانانو د پاره یوه مُفصّله مُعتَمَده عِلمي او تحقیقي ذَخِیره:

# اِصلَاحِي مُدَلَّل تَقرِيرُونه

## جلد ۲

تالیف

اَبُو الشَّمس مولانا نُورُ الهُدیٰ عُفِيَ عَنهُ

مُدَرِّس دَارُالعلوم فیضُ القُرآن اکاخیل کالونی، مردان

مکتبهٔ عزیزیه محلّهٔ جنگی پشاور

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

د کتاب نوم: اِصْلَاحِيْ مُدَلَّلْ تَقْرِيْرُوْنه جلد ۲

مؤلف: اَبُوالشَّمْس مولانا نُوْرُالْهُدٰى عُفِيَ عَنْهُ

مُدَرِّس دَارُالعلوم فيضُ القرآن اکاخیل کالونی مردان

کمپوزر: مؤلف پخپله

د چاپ کال: ۱۴۳۵ھـ ق ، ۱۳۹۲ھـ ش، مطابق ۲۰۱۴ ء

د کتاب ټول حقوق د مکتبه اعزازیه سره محفوظ دی

مکتبه اعزازیه

محله جنگی پشاور

زیر اہتمام

کفایت اللہ ارسانی

0344-9995990

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# اجمالي فهرست



| نمبر شمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۱. | سريزه | ۱ |
| ۲. | ۱ . حُقوقُ الوالدين | ۳ |
| ۳. | فقهي مسائل | ۴۲ |
| ۴. | د والدينو د حقوقو متعلق نور بهترين واقعات | ۴۹ |
| ۵. | ۲ . عُقوقُ الوالدين | ٦۲ |
| ٦. | د والدينو د نافرمانۍ اسباب | ۸۱ |
| ۷. | فقهي مسائل | ۸٦ |
| ۸. | د عقوقُ الوالدين متعلق نور بهترين واقعات | ۹۴ |
| ۹. | ۳ . د مرګ بيان | ۱۰۵ |
| ۱۰ | د مرګ راتلل يقيني دي | ۱۰۸ |
| ۱۱. | د مرګ سختي او تکليفونه | ۱۳۸ |
| ۱۲. | د مومن او کافر روح وتلو بيان | ۱۴۹ |
| ۱۳. | د آخِري خاتمې ښه کيدو دُعا په کار ده | ۱٦۵ |
| ۱۴. | د مرګ متعلق ضروري فقهي مسائل | ۱۸۳ |
| ۱۵. | د مرګ متعلق نور بهترين واقعات | ۱۹٦ |

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۱٦, | **٤. د صبر فضيلت او اهميت** | ۲۱۷ |
| ۱۷. | د صبر فضايل او فوايد | ۲۲۰ |
| ۱۸. | د بچي په وفات کيدو صبر کول | ۲۵۷ |
| ۱۹. | د مصيبت په وخت چغې سُورې او مخ وهل منع دي | ۲۷۸ |
| ۲۰. | د صبر متعلق نور بهترين واقعات | ۲۸۴ |
| | **۵. د قبر عذابونه او نعمتونه** | ۲۹۴ |
| ۲۱. | د قرآن کريم او احاديثو نه دعذابِ قبر ثبوت | ۲۹۷ |
| | د عذابِ قبر اَسباب | ۳۳۴ |
| ۲۲. | په عذابِ قبر باندې د بې دينه خلقو اعتراضات او د هغې جوابات | ۲۴۳ |
| ۲۳. | د قبر متعلق فقهي مسايل | ۳۵۱ |
| ۲۴. | د قبر د عذابونو او نعمتونو متعلق نور متعمد واقعات | ۳٦۷ |
| ۲۵. | د بَرَاعَةُ الْاِسْتِهْلَالُ واله خُطبه | ۲۹۲ |

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

## تفصيلي فهرست



| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۱. | سریزه | ۱ |
| | **۱ . حُقوقُ الوالدين** | ۳ |
| ۲. | د حقوق العبادو اهميت او زمونږ غفلت | ۵ |
| ۳. | د احكامِ شرعيهٔ دريږ حصي حقوق العباد دي | ۵ |
| ۴. | په حقوق العبادو كې د ټولو نه رومبې حق د والدينو دى | ۵ |
| ۵. | د آيت تشريح | ٦ |
| ٦. | د امام قرطبي رحمه الله تحقيق | ۷ |
| ۷. | د والدينو د بوډا توب په حالت كې لحاظ ساتل | ۷ |
| ۸. | اول حكم : | ۸ |
| ۹. | دويم حكم : | ۸ |
| ۱۰. | دريم حكم : | ۸ |
| ۱۱. | څلورم حكم : | ۹ |
| ۱۲. | پنځم حكم : | ۹ |
| ۱۳. | د علامه آلوسي رحمه الله وينا : | ۱۰ |
| ۱۴. | فقهي مسئله : | ۱۰ |
| ۱۵. | كافر مور او پلار هم د خدمت او ښه سلوک مستحق دي | ۱۱ |
| ۱٦. | د مُشركې مور سره ښه سُلوک | ۱۱ |
| ۱۷. | د والدينو سره ښيگړه بهترين عمل دى | ۱۲ |
| ۱۸. | مسئله : | ۱۲ |
| ۱۹. | د والدينو په خدمت سره د جهاد ثواب حاصليدل | ۱۳ |

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
| --- | --- | --- |
| ۲۱. | د والدينو حق په نفلي عبادت هم مخکې دی | ۱۴ |
| ۲۲. | د جُريج واقعه: | ۱۵ |
| ۲۳. | په اولاد باندې د مور حق د پلار په نسبت زيات دی | ۱۸ |
| ۲۴. | فقهي مسئله : | ۱۹ |
| ۲۵. | مور د بچي سره ډير تکليفونه برداشت کوي | ۱۹ |
| ۲۶. | د والدينو په خدمت جنت حاصليدل | ۲۰ |
| ۲۷. | د ابواسحاق اَسفرائني واقعه | ۲۲ |
| ۲۸. | د والدينو د خدمت په وجه په جنت کې د حضرت موسی عليه السلام سره ملگرتيا | ۲۴ |
| ۲۹. | د پلار سره د احسان په وجه جنت حاصليدل | ۲۶ |
| ۳۰. | د والدينو سره د احسان په وجه د مصيبتونو نه نجات | ۲۷ |
| ۳۱. | د الله جل جلاله رضا د والدينو په خوشحاله ساتلو کې ده | ۲۹ |
| ۳۲. | د والدينو اَدب کول | ۳۰ |
| ۳۳. | امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله او د مور اَدب کول | ۳۱ |
| ۳۴. | فضل بن يحی البرمکي او د پلار اَدب کول | ۳۲ |
| ۳۵. | د مور د خدمت په وجه مُستجَابُ الدّعوات کيدل | ۳۲ |
| ۳۶. | د اُويس قرني رحمه الله واقعه | ۳۲ |
| ۳۷. | د والدينو سره ښه سلوک د عُمر د برکت او د رزق د فراخۍ سبب دی | ۳۴ |
| ۳۸. | مور او پلار ته د محبت او احترام په نظر کولو سره د يو مقبول نفلي حج ثواب | ۳۵ |
| ۳۹. | والدينو ته کتل عبادت دی | ۳٦ |
| ۴۰. | د والدينو د وفات نه روستو د هغوی سره ښيگړه کول | ۳٦ |
| ۴۱. | د پلار د وفات نه پس د هغه د دوستانو سره ښه سلوک کول | ۳۷ |
| ۴۲. | د والدينو سره ښه سلوک په عقل هم معلوميږي | ۳۹ |
| ۴۳. | د والدينو په بچي باندې بې شميره اِحسانات دي | ۳۹ |
| ۴۴. | د والدينو اجمالي غټ حقوق | ۴۰ |

| نمبر شمار | موضوع | صفحه |
| --- | --- | --- |
| .۴۵ | هغه کارونه کوم چې په بچي کول لازمي دي | ۴۰ |
| .۴٦ | هغه کارونه د کوم نه چې منع کیدل په کار دي | ۴۱ |
| .۴۷ | د والدينو د مرګ نه پس | ۴۱ |
| .۴۸ | خلاصه: | ۴۱ |
| .۴۹ | **فقهي مسائل** | ۴۲ |
| .۵۰ | د والدينو اِطاعت په جائز امورو کې فرض دی | ۴۲ |
| .۵۱ | په ګناه (او معصيت) کې د والدينو تابعداري نشته | ۴۲ |
| .۵۲ | د والدينو دَرجه د اُستاذ او پير نه زياته ده | ۴۴ |
| .۵۳ | د فرضِ کفايي تعليم نه د والدينو حق مخکې دی | ۴۴ |
| .۵۴ | که په لمونځ ولاړ وي او والدين ورته آواز وکړي | ۴٦ |
| .۵۵ | د مور حق په پلار باندې درې چنده زيات دی | ۴۷ |
| .۵٦ | په خدمت کې د مور او احترام کې د پلار حق زيات دی | ۴۸ |
| .۵۷ | **د والدينو د حقوقو متعلق نور بهترين واقعات:** | ۴۹ |
| .۵۷ | د مور د دُعا ګانو آثر | ۴۹ |
| .۵۸ | د مور د دُعا په وجه د سترګو نظر واپس راتلل | ۴۹ |
| .۵۹ | د مور د دُعا په وجه مقبوليت | ۴۹ |
| .٦۰ | بايزيد بسطامي رحمه الله ته د مور د دُعاګانو په وجه لوي مقام | ۵۰ |
| .٦۱ | د مور په دُعا سره په علم کې ترقي | ۵۱ |
| .٦۲ | د والدينو آدب کول | ۵۲ |
| .٦۳ | د مور خدمت ته ترجيح ورکول | ۵۳ |
| .٦۴ | د والدينو خبره منلو اهميت | ۵۳ |
| .٦۵ | ضروري تنبيه | ۵۵ |
| .٦٦ | د مُور مينه | ۵٦ |
| .٦۷ | واقعه | ۵٦ |

| نمبر شمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ٦٨. | په خپلو بچو قربانيدل | ۵٨ |
| ٦٩. | د شُودو (پيو) ختميدو نه روستو خپل بچي ته وينه ورکول | ۵٨ |
| ٧٠. | مور بچي ته تکليف رسيدل نه برداشت کوي | ٦٠ |
| | ۲ . عُقوقُ الوالدين | ٦۲ |
| ٧١. | د ''اُف'' ويلو ممانعت | ٦۴ |
| ٧۲. | د شِرک نه پس ذکر کيدل | ٦۵ |
| ٧٣. | د والدينو نافرماني حرامه ده | ٦٦ |
| ٧۴. | د والدينو نافرماني گناهِ کبيره ده | ٦٦ |
| ٧۵. | د والدينو سره احسان نه کوونکي ته د نبي ﷺ خبرې | ٦٧ |
| ٧۵. | د حضرت جبرائيل ﷺ خبرې او د نبي ﷺ پرې آمين ويل | ٦٨ |
| ٧٦. | مور او پلار ته کنځل کول گناه کبيره ده | ٦٩ |
| ٧٧. | د والدينو په نافرمان لعنت | ٦٩ |
| ٧٨. | د مور د نافرمانۍ په وجه په عذاب قبر کې مبتلاء کيدل | ٧٠ |
| ٧٩. | د مور او پلار نافرمان به جنت ته نه داخليږي | ٧١ |
| ٨٠. | د والدينو نافرماني کوونکي ته په دُنيا کې سزا | ٧۲ |
| ٨١. | د والدينو په نافرماني کولو سره د خپل اولاد نافرمانه کيدل | ٧۲ |
| ٨۲. | چې د والدينو سره څنگه سلوک وکړي هماغه شان به خپل بچي ورسره کوي | ٧٣ |
| ٨٣. | په دُنيا کې په سزا رسيدل | ٧۵ |
| ٨۴. | د مور او پلار خبرې ډيرې زر قبليږي | ٧۵ |
| ٨۵. | د مور د خبرو په وجه ذليل کيدل | ٧٦ |
| ٨٦. | د مور د وهلو په وجه خطرناک مرض | ٧٧ |
| ٨٧. | د عاقُ الوالدين نيک اعمال نه قبليږي | ٧٨ |
| ٨٨. | د والدينو د شکريې اداء کولو نه بغير د الله ﷻ شکريه قبوله نه ده | ٧٩ |

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۸۹. | **د د والدينو دنافرمانۍ اسباب** | ۸۱ |
| ۹۰. | ۱. د بچو صحيح تربيت نه کول | ۸۱ |
| ۹۱. | ۲. د بچي د بې دينه خلقو سره ناسته پاسته | ۸۱ |
| ۹۲. | ۳. اِنټرنيټ، ډِش، ټيوي او فحش فيلمونه کتل | ۸۲ |
| ۹۳. | ۴. د والدينو بد اَخلاقي د بچو سره | ۸۲ |
| ۹۴. | ۵. د ضرورت نه زياتې د بچي تقاضې (نَخرې) برداشت کول | ۸۳ |
| ۹۵. | د عبرت نه ډک نصيحت | ۸۳ |
| ۹۶. | خلاصه | ۸۴ |
| ۹۷. | **فقهي مسائل** | ۸۶ |
| ۹۸. | د والدينو نافرماني کوونکې سخت ګناهګار دی | ۸۶ |
| ۹۹. | که جهاد فرضِ کفايي ؤ نو بيا د والدينو نه اجازت اخيستل واجب دي | ۸۶ |
| ۱۰۰ | په ګناه (او معصيت) کې د والدينو فرمانبرداري نشته | ۸۸ |
| ۱۰۱ | که والدين د دِماغو نه کمزوري وي د هغوی د خبرې حيثيت | ۸۹ |
| ۱۰۲ | د خلافِ شَرعَ کار کوونکي (يعنی فاسِق) پلار سره معامله | ۹۰ |
| ۱۰۳ | د والدينو خپل مينځې اختلاف په وخت کې د بچي کردار | ۹۰ |
| ۱۰۴ | که د چانه والدين خفه وفات شوي وي د هغې صورت | ۹۱ |
| ۱۰۵ | **د عقوقُ الوالدين متعلق نور بهترين واقعات:** | ۹۴ |
| ۱۰۶ | يوه عبرت ناکه واقعه | ۹۴ |
| ۱۰۷ | د مور په بې عزتی سره خطرناک مرګ | ۹۷ |
| ۱۰۸ | د والدينو سره چې کوم عمل وکړې بچي به درسره هماغه عمل کوي | ۹۸ |
| ۱۰۹ | واقعه: | ۹۸ |
| ۱۱۰ | فقهي مسئله | ۱۰۲ |
| ۱۱۱ | د والدينو حوصله او برداشت د بچو په نسبت زياته وي | ۱۰۲ |
| ۱۱۲ | د مور د اجازت نه بغير حج ته د تلونکي کس سزا | ۱۰۴ |

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| | **۲. د مرګ بيان** | ۱۰۵ |
| ۱۱۳ | د مرګ نه هيڅوک هم اِنکار نه کوي | ۱۰۸ |
| ۱۱۴ | هيڅوک هم د مرګ نه نشي خلاصيدی | ۱۰۸ |
| ۱۱۵ | نيته چې کله او چيرته پوره وي په هماغه وخت او هماغه ځای کې وفات کيدل | ۱۰۹ |
| ۱۱۶ | حضرت سليمان ﷷ سره ناست کس ته د ملک الموت په حيرانتيا سره کتل | ۱۱۰ |
| ۱۱۷ | د مرګ نه تيخته نشته | ۱۱۱ |
| ۱۱۸ | د بَس د پاسه د زهريله مار چيچلو په وجه وفات کيدل | ۱۱۲ |
| ۱۱۹ | انسان د خاورې نه پيدا دی | ۱۱۲ |
| ۱۲۰ | د آيت تحقيق | ۱۱۲ |
| ۱۲۱ | د عطاء خراساني رحمه الله قول | ۱۱۳ |
| ۱۲۲ | زمکې ته واپس راتلل | ۱۱۴ |
| ۱۲۳ | د مرګ وخت هيچا ته معلوم نه دی | ۱۱۵ |
| ۱۲۴ | حضرت داؤد ﷷ او ملک الموت | ۱۱۵ |
| ۱۲۵ | د امام مالک رحمه الله خُوب ليدل | ۱۱۶ |
| ۱۲۶ | د مرګ نه مخکې تيَارې | ۱۱۷ |
| ۱۲۷ | د آخرت د پاره تياري کوونکې کس عقل مند دی | ۱۱۷ |
| ۱۲۸ | د آخرت نه غافله کس کم عقل دی | ۱۱۸ |
| ۱۲۹ | د بهلول دانا د عبرت نه ډکه واقعه | ۱۱۸ |
| ۱۳۰ | عُمر د انسان قيمتي سَرمايه ده | ۱۱۹ |
| ۱۳۱ | واقعه | ۱۱۹ |
| ۱۳۲ | د مرګ نه مخکې د ځان سره حساب کول | ۱۲۰ |
| ۱۳۳ | د يو ماشوم په زړه کې د آخرت فکر او د جهنم نه يَره | ۱۲۱ |
| ۱۳۴ | مرګ په هيڅ شي نه رامنعه کيږي | ۱۲۲ |

| نمبر شمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۱۳۵ | د حضرت داؤد ﷺ د وفات واقعه | ۱۲۳ |
| ۱۳۶ | ډاکټرانو یو سیکنډ ژوند ورنه کړو | ۱۲۴ |
| ۱۳۷ | د مرګ د پَنجې نه هیڅوک نه شي خلاصیدی | ۱۲۴ |
| ۱۳۸ | د حضرت عزرائیل ﷺ وفات کیدل | ۱۲۵ |
| ۱۳۹ | د یو کِشتي بَان عجیبه جواب | ۱۲۶ |
| ۱۴۰ | د مرګ علاج د هیچا سره نشته | ۱۲۷ |
| ۱۴۱ | دُنیا مسافر خانه ده : | ۱۲۷ |
| ۱۴۲ | د ابراهیم بن ادهم رحمه الله کورته یو اَجنبي کس راتلل | ۱۲۹ |
| ۱۴۳ | د ماشوم په ښي غوږ کې آذان او ګس غوږ کې د اِقامت وجه | ۱۳۰ |
| ۱۴۴ | په ټوله دُنیا کې په یوه کِهنته کې اَتلس زره کسان وفات کیږي | ۱۳۰ |
| ۱۴۵ | د دُنیا د محبت په وجه د مرګ نه غافل کیدل | ۱۳۱ |
| ۱۴۶ | د غافِل انسان د ژوند یو بهترین مثال | ۱۳۱ |
| ۱۴۷ | د دُنیا ژوند غنیمت وګڼړه | ۱۳۲ |
| ۱۴۸ | یو بهترین مثال : | ۱۳۲ |
| ۱۴۹ | د دُنیا ژوند او راحت فاني دی | ۱۳۴ |
| ۱۵۰ | د دُنیا ژوند د آخرت په مقابله د یو سیکنډ حیثیت هم نه لري | ۱۳۴ |
| ۱۵۱ | د عالَمِ برزخ اُوږد والې | ۱۳۴ |
| ۱۵۲ | د عالَمِ حشر اُوږد والې | ۱۳۵ |
| ۱۵۳ | د دریم دَور اُوږد والې | ۱۳۵ |
| ۱۵۴ | د آخرت د ژوند مثال | ۱۳۵ |
| ۱۵۵ | د درې وارو دَورونو په نسبت د دُنیا ژوند | ۱۳۶ |
| ۱۵۶ | پنځه شیان غنیمت ګڼل په کار دي | ۱۳۶ |
| ۱۵۷ | د قیمتي وخت په ضائع کیدو سزا | ۱۳۷ |

| نمبر شمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۱۵۸ | **د مرګ سختي** | ۱۳۸ |
| ۱۵۹ | د نبي كريم ﷺ حالت | ۱۳۸ |
| ۱۶۰ | د حضرت ابراهيم عليه السلام حالت | ۱۴۰ |
| ۱۶۱ | د حضرت موسى عليه السلام حالت | ۱۴۰ |
| ۱۶۲ | د كعب الاحبار نه د مرګ په باره کې پوښتنه | ۱۴۱ |
| ۱۶۳ | د حضرت عمرو بن العاص رضي الله عنه حالت | ۱۴۱ |
| ۱۶۴ | څلور زره كاله پس د مرګ سختي محسوسول | ۱۴۲ |
| ۱۶۵ | ملک الموت كافر ته په بَد او مؤمن ته په ښه شكل راځي | ۱۴۳ |
| ۱۶۶ | د يوې غلط فهمۍ اِزاله، او د اعتراض جواب | ۱۴۴ |
| ۱۶۷ | مرګ د مؤمن د پاره تحفه ده | ۱۴۶ |
| ۱۶۸ | د مومن مثال | ۱۴۷ |
| ۱۶۹ | د مرګ په وجه مومن ته د دُنيا د تكليفونو نه راحت نصيبه كيږي | ۱۴۷ |
| ۱۷۰ | د جنازې وړلو په وخت د نيک او بَد سړي آوازونه: | ۱۴۸ |
| ۱۷۱ | **د مومن او كافر روح وتلو بيان:** | ۱۴۹ |
| ۱۷۲ | د مومن روح په ډير عزت او آسانۍ سره اوځي | ۱۵۱ |
| ۱۷۳ | د كافر روح په ډيرې سختۍ سره اوځي | ۱۵۳ |
| ۱۷۴ | د مومن په روح فرښتې رحمت ليږي | ۱۵۵ |
| ۱۷۵ | مومن د روح وتلو په تكليف نه پوهيږي | ۱۵۶ |
| ۱۷۶ | د مومن روح په آسانۍ سره وتل د قرآن كريم نه معلول | ۱۵۷ |
| ۱۷۷ | د وفات كيدو نه پس د مومن د روح ځاى | ۱۵۸ |
| ۱۷۸ | مومن ته د مرګ په وخت د فرښتو زيرې | ۱۵۹ |
| ۱۷۹ | د مرګ يادولو فائده | ۱۶۰ |

| نمبر شمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۱۸۰ | د مرګ په یادولو سره درې اعزازه | ۱٦۱ |
| ۱۸۱ | د مرګ هیرولو نقصانات | ۱٦۱ |
| ۱۸۲ | مرګ بهترین واعظ دی | ۱٦۲ |
| ۱۸۳ | حضرت عمر رضی الله عنه ځانته د مرګ رایادولو دپاره یو کس مقرر کړې وُ | ۱٦۲ |
| ۱۸۴ | د عمر بن عبدالعزیز رحمه الله معمول | ۱٦۳ |
| ۱۸۵ | د مرګ یادوونکي کس حشر د شهیدانو سره | ۱٦۳ |
| ۱۸۶ | د مرګ په یادولو سره د زړه نه زَنګ لرې کیږي | ۱٦۳ |
| ۱۸۷ | د مرګ یادَولو طریقه | ۱٦۴ |
| ۱۸۸ | **د آخِرې خاتمې ښه کیدو دُعا په کار ده** | ۱٦۵ |
| ۱۸۹ | د مرګ په وخت د شیطان دُهوکه کولو کوشش | ۱٦٦ |
| ۱۹۰ | د خلقو غلط فهمي او غفلت | ۱٦٦ |
| ۱۹۲ | د کاتبِ وحي آخیري انجام | ۱٦۷ |
| ۱۹۳ | په غزوه حُنین کې د یو کس خودکُشي کول | ۱٦۸ |
| ۱۹۴ | د مرګ په وخت د قرآن کریم نه اِنکار | ۱٦۹ |
| ۱۹۵ | د بلعم بن باعوراء آخیري انجام | ۱٦۹ |
| ۱۹٦ | د بَرصیصا آخیري انجام | ۱۷۱ |
| ۱۹۷ | د غلط نظر استعمالولو په وجه آخِره خاتمه خرابیدل : | ۱۷۱ |
| ۱۹۸ | نیکانو خلقو ته په تکلیف رسولو سره آخیره خاتمه خرابیدل | ۱۷۳ |
| ۱۹۹ | د بُهتان لګونکي کس خراب انجام | ۱۷۴ |
| ۲۰۰ | **په نیکانو خلقو باندې د شیطان حمله :** | ۱۷٦ |
| ۲۰۱ | د امام رازي رحمه الله آخري وخت | ۱۷٦ |
| ۲۰۲ | د امام احمد بن حنبل رحمه الله آخِري حالت | ۱۷۸ |

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۲۰۳ | د شیخ عبدالقادر جیلاني رحمه الله آخِري وخت | ۱۷۸ |
| ۲۰۴ | **د خرابۍ خاتمې اَسباب :** | ۱۷۹ |
| ۲۰۵ | ۱. والدینو ته تکلیف رسول | ۱۸۰ |
| ۲۰۶ | د حضرت علقمه رضي الله عنه واقعه | ۱۸۰ |
| ۲۰۷ | ۲. د اولیاء الله وُ په شان کې گستاخي کول | ۱۸۰ |
| ۲۰۸ | ۳. تکبر کول | ۱۸۱ |
| ۲۰۹ | خُلاصه | ۱۸۱ |
| ۲۱۰ | **فقهي مسائل** | ۱۸۳ |
| ۲۱۱ | ۱. په تجهیز او تدفین کې تادي په کار ده | ۱۸۳ |
| ۲۱۲ | ۲. د جنازې لمونځ فرضِ کفایي دی | ۱۸۵ |
| ۲۱۳ | ۳. د جنازې د امامت کولو زیات حقدار | ۱۸۵ |
| ۲۱۴ | ۴. د غائبانه جنازې کولو حکم | ۱۸۶ |
| ۲۱۵ | ۵. په مړي باندې باربار جنازه کول ناجائز دي | ۱۸۸ |
| ۲۱۶ | ۶. په آختر کې دوباره تعزیت، او تَکرار د تعزیت مکروه دی | ۱۸۸ |
| ۲۱۷ | ۷. د څپلو سره د جنازې کولو حکم | ۱۸۹ |
| ۲۱۸ | ۸. که د مرگ په وخت مسلمان کلیمه طیبه او نه وایي د هغه حکم | ۱۹۰ |
| ۲۱۹ | ۹. د مومن او گناهگار د مرگ نښې | ۱۹۰ |
| ۲۲۰ | ۱۰. د قریب الموت کس سره سلوک | ۱۹۱ |
| ۲۲۱ | د سورة یسین په لوستو د مرگ سختي آسانیږي | ۱۹۳ |
| ۲۲۲ | ۱۱. د مرگ حقیقت | ۱۹۴ |
| ۲۲۳ | د وفات کیدو نه پس د روح ځای | ۱۹۴ |

| نمبر شمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۲۲۳ | **د مرګ متعلق نور بهترين واقعات:** | ۱۹۶ |
| ۲۲۴ | د حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما د وفات نه پس يوه عجيبه مرغۍ راتلل | ۱۹۶ |
| ۲۲۵ | د بَدن نه جدا شوي سَر نورو ته خطاب وکړو | ۱۹۶ |
| ۲۲٦ | د يو بادشاه د روح قبض کولو واقعه | ۱۹۸ |
| ۲۲۷ | د يو نيک سړي د روح قبض کولو واقعه | ۱۹۹ |
| ۲۲۸ | د فريدالدين عطار د وړاندې د يو نيک کس وفات کيدل | ۱۹۹ |
| ۲۲۹ | د يو ظالم بادشاه د روح قبض کولو واقعه | ۲۰۰ |
| ۲۳۰ | مال و دولت يې په کار رانغې | ۲۰۱ |
| ۲۳۱ | د مرګ په وخت د څلور فرښتو خطاب | ۲۰۳ |
| ۲۳۲ | د مړي محاسِن ذکر کول او د بَدي بيانولو نه ځان ساتل په کار دي | ۲۰۴ |
| ۲۳۳ | د مړې ښځې د پټون سره د غاسِلې زَنانه سره لاس نختل | ۲۰۵ |
| ۲۳۴ | د جنازې کولو اجر | ۲۰۷ |
| ۲۳۵ | د دفن کيدو پورې د حصاريدلو اَجر | ۲۰۷ |
| ۲۳٦ | د يو مسلمان جنازه کول د جنت تللو سبب دی | ۲۰۹ |
| ۲۳۷ | د سلو (۱۰۰) کسانو په جنازه کې شريکيدو سره د مړي مغفرت | ۲۱۰ |
| ۲۳۸ | د څلويښتو (۴۰) کسانو په جنازه کې شريکيدو سره د مړي مغفرت | ۲۱۰ |
| ۲۳۹ | جنازې کولو سره د جنازه کوونکو مغفرت کيږي | ۲۱۱ |
| ۲۴۰ | واقعه | ۲۱۱ |
| ۲۴۱ | د نيکانو خلقو په تعريف سره د مړي جَنتي کيدل | ۲۱۲ |
| ۲۴۲ | د حضرت موسی عليه السلام د وفات واقعه | ۲۱۴ |
| ۲۴۳ | **٤. د صبر فضيلت او اهميت** | ۲۱۷ |
| ۲۴۴ | شريعت په هر حالت کې د انسان راهنمايي کړې | ۲۱۸ |
| ۲۴۵ | د مومِن په هر کار کې خَير وي | ۲۱۹ |

| نمبر شمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۲۴۶ | په هر انسان باندې امتحانات او غمونه راځي | ۲۱۹ |
| ۲۴۷ | د لقمان حکيم ترخه خربوزه په شوق خوړل | ۲۲۰ |
| ۲۴۸ | **د صبر فضايل او فوايد :** | ۲۲۰ |
| ۲۴۹ | ۱. صبر کوونکو ته بې حسابه اجر | ۲۲۱ |
| ۲۵۰ | ۲. په صبر سره ګناهونه معاف کيږي | ۲۲۲ |
| ۲۵۱ | ۳. په صبر سره اُوچت او اَعلی مقام حاصليږي | ۲۲۴ |
| ۲۵۲ | ۴. په صبر کولو سره جنت حاصليږي | ۲۲۶ |
| ۲۵۳ | ۵. د صبر په وجه درجې اوچتيدل | ۲۲۹ |
| ۲۵۴ | ۶. صابرينو ته بهترينه بدله | ۲۲۹ |
| ۲۵۵ | ۷. د الله جل جلاله معيت د صابرينو سره | ۲۲۹ |
| ۲۵۶ | د حضرت داود عليه السلام پوښتنه | ۲۳۰ |
| ۲۵۷ | په نيکانو خلقو باندې امتحانات او تکليفونه ډير راځي | ۲۳۰ |
| ۲۵۸ | ۱. د حضرت ايوب عليه السلام صبر | ۲۳۲ |
| ۲۵۹ | ۲. حضرت ابراهيم عليه السلام ته اِمامت د امتحان او صبر نه روستو حاصل شو | ۲۳۳ |
| ۲۶۰ | ۳. په مخکيني خلقو اِمتحانات | ۲۳۴ |
| ۲۶۱ | لوي ثوابونه د لوي تکليفونو سره وي | ۲۳۵ |
| ۲۶۲ | د بنده نه د الله تعالی د راضي کيدو او ناراضه کيدو علامه | ۲۳۵ |
| ۲۶۳ | دا معلومول، چې دا مصيبت عذاب دی او که امتحان ؟ | ۲۳۶ |
| ۲۶۴ | د شاه ولي الله رحمه الله تحقيق | ۲۳۶ |
| ۲۶۵ | د مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله تحقيق | ۲۳۶ |
| ۲۶۶ | د صبر په برکت سره دُشمن هلاکيدل | ۲۳۸ |
| ۲۶۷ | دُنيا د آزمائشونو کور دی | ۲۳۹ |
| ۲۶۸ | دُنيا د مومِن د پاره قيد خانه ده | ۲۳۹ |

| نمبر شمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۲۶۹ | د مومِن په هر حالت کې خير وي | ۲۴۰ |
| ۲۷۰ | د صبر اَهميت | ۲۴۰ |
| ۲۷۱ | د صبر تعريف | ۲۴۱ |
| ۲۷۲ | د صبر اَقسام | ۲۴۱ |
| ۲۷۳ | د صبر درجات | ۲۴۲ |
| ۲۷۴ | صبر نيم ايمان دى | ۲۴۳ |
| ۲۷۵ | لمونځ او صبر به په قبر کې د انسان دفاع کوي | ۲۴۴ |
| ۲۷۶ | صبر د اِنسان خاصه ده | ۲۴۵ |
| ۲۷۷ | صبر کول د کامِل مومِن صفت دى | ۲۴۵ |
| ۲۷۸ | نبي ﷺ ته د صبر حکم | ۲۴۵ |
| ۲۷۹ | چا ته چې صبر ورکړى شو هغه ته بهترين نعمت ورکړى شو | ۲۴۶ |
| ۲۸۰ | صبر کول اول ګران وي خو انجام يې ښه وي | ۲۴۶ |
| ۲۸۱ | صبر هغه دى چې په اول وخت کې اوشي | ۲۴۷ |
| ۲۸۲ | عبدالله بن مبارک رحمه الله ته د يو مجوسي عجيبه خبره | ۲۴۸ |
| ۲۸۳ | د صبر علامات | ۲۴۸ |
| ۲۸۴ | د بې صبرۍ علامات | ۲۴۹ |
| ۲۸۵ | په هر حالت کې الله ﷻ ته متوجه کيدل په کار دي | ۲۴۹ |
| ۲۸۶ | تکليف لرې کوونکې ذات هم الله ﷻ دى | ۲۴۹ |
| ۲۸۷ | افلاطون ته د حضرت موسى ﷺ جواب | ۲۴۹ |
| ۲۸۸ | په مومن حقيقي مصيبت نه راځي | ۲۵۰ |
| ۲۸۹ | د يو ماشوم نا اَشنا جواب | ۲۵۱ |
| ۲۹۰ | د يو بزرګ د تو بې سبب | ۲۵۲ |
| ۲۹۱ | عِلمي نُکته او قانون | ۲۵۲ |

| | | |
|---|---|---|
| ۲۹۲ | اوله نمونه | ۲۵۳ |
| ۲۹۳ | دویمه نمونه | ۲۵۳ |
| ۲۹۴ | په بې صبرۍ سره مصیبت دوچند شي | ۲۵۴ |
| ۲۹۵ | د لوح محفوظ رومبۍ خبره | ۲۵۵ |
| ۲۹۶ | یو کور هم د غم نه خالي نه دی | ۲۵۵ |
| ۲۹۷ | واقعه | ۲۵۵ |
| ۲۹۸ | د نږدې خپلوان په وفات کېدو صبر کول | ۲۵۶ |
| ۲۹۹ | **د بچي په وفات کېدو صبر کول** | ۲۵۷ |
| ۳۰۰ | ۱. په جنت کې کور جوړېدل | ۲۵۷ |
| ۳۰۱ | ۲. د قیامت په ورځ به بچې د والدینو شفاعت کوي | ۲۵۸ |
| ۳۰۲ | نیمګړې (او ناتمام) بچې به هم د خپلو والدینو شفاعت کوي | ۲۶۰ |
| ۳۰۳ | ۳. د جنت مستحق کېدل | ۲۶۱ |
| ۳۰۴ | ۴. د ثواب حاصلیدل | ۲۶۱ |
| ۳۰۵ | د حضرت داؤد علیه السلام بچې وفات کېدل | ۲۶۱ |
| ۳۰۶ | د حضرت سلیمان علیه السلام بچې وفات کېدل | ۲۶۲ |
| ۳۰۷ | حضرت معاذ بن جبل رضي الله عنه ته د ځوي په وفات کېدو د نبي صلی الله علیه وسلم خط | ۲۶۳ |
| ۳۰۸ | د چا چې درې (۳)، یا دوه (۲) بچي وفات شوي وي د هغوی دپاره بشارت | ۲۶۴ |
| ۳۰۹ | د چا چې یو بچې وفات شوې وي د هغوی دپاره د جنت بشارت | ۲۶۶ |
| ۳۱۰ | صبر د ام سُلیم رضي الله عنها غوندې په کار دی | ۲۶۸ |
| ۳۱۱ | د صبر نه روستو فراخي راځي | ۲۷۰ |
| ۳۱۲ | د مصیبت په وخت د ځان نه په غټ امتحان کې مبتلاء کس ته کتل په کار دي | ۲۷۱ |
| ۳۱۳ | د شیخ سعدي رحمه الله واقعه | ۲۷۲ |
| ۳۱۴ | د مصیبت برداشت کولو دپاره ضروري کارونه | ۲۷۳ |

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۳۱۵ | ۱. دا امتحان په تقدير کښې ليکل شوی و | ۲۷۳ |
| ۳۱۶ | ۲. د صبر فضايل رامخې ته کول | ۲۷۴ |
| ۳۱۷ | حضرت عبدالله ابن عباس رضی الله عنهما ته ديو باندېچي تسلّي | ۲۷۴ |
| ۳۱۸ | ۳. د ځان نه په غټ امتحان کښې ګرفتار کس ته نظر کول | ۲۷۵ |
| ۳۱۹ | ۴. په بې صبرۍ سره مصيبت زياتيدل | ۲۷۵ |
| ۳۲۰ | د يو بزرګ نا آشنا صبر کول | ۲۷۶ |
| ۳۲۱ | ۵. هر مصيبت آخر هم ختميږي | ۲۷۶ |
| | ۶. وطنِ اصلي يعنی آخرت ته نظر کول | ۲۷۶ |
| ۳۲۳ | **د مصيبت په وخت چغې سُورې او مخ وهل منع دي** | ۲۷۸ |
| ۳۲۴ | واقعه | ۲۸۰ |
| ۳۲۵ | بغير د چغو او سُورو نه صرف اُوښکې بهيدل خير دی | ۲۸۰ |
| ۳۲۶ | د ځوي په وفات کيدو د نبي ﷺ د سترګو مبارکو نه اُوښکې تلل | ۲۸۰ |
| ۳۲۶ | د نمسي په وفات کيدو سره د نبي ﷺ د سترګو مبارکو نه اُوښکې تلل | ۲۸۱ |
| ۳۲۷ | د نَوحه او چغو نه بغير ژړل هم منع نه دي | ۲۸۲ |
| ۳۲۸ | خلاصه | ۲۸۳ |
| ۳۲۹ | دُعا | ۲۸۳ |
| ۳۳۰ | **د صبر متعلق نور بهترين واقعات:** | ۲۸۴ |
| ۳۳۱ | په نيکانو تکليفونه ډير راځي خو په خوشحالۍ يې برداشت کوي | ۲۸۴ |
| ۳۳۲ | د يوې صحابيه رضي الله عنها واقعه | ۲۸۶ |
| ۳۳۳ | د مصيبت په وخت کې الله ﷻ ته رجوع په کار ده | ۲۸۹ |
| ۳۳۴ | د يو بزرګ د صبر واقعه | ۲۸۹ |
| ۳۳۵ | د يوې ښځې د صبر بهترينه واقعه | ۲۹۰ |
| ۳۳۶ | د مصيبت په وخت "إِنَّا لِلّٰهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُوْنَ" ويلو فضيلت | ۲۹۲ |

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۳۳۷ | **۵ . د قبر عذابونه او نعمتونه** | ۲۹۴ |
| ۳۳۸ | د قبر عذاب او ثواب | ۲۹۷ |
| ۳۳۹ | د عذابِ قبر ثبوت د قرآن کريم نه | ۲۹۷ |
| ۳۴۰ | اول آيت | ۲۹۷ |
| ۳۴۱ | د امام رازي رحمه الله تحقيق | ۲۹۸ |
| ۳۴۲ | عِلمي نَکته | ۲۹۸ |
| ۳۴۳ | مړي ته په عالمِ برزخ کې سهر او ماښام خپل مقام خودلې شي | ۲۹۹ |
| ۳۴۴ | دويم آيت | ۲۹۹ |
| ۳۴۵ | قبر د جنت د باغيچو نه يوه باغيچه، يا د جهنم د کندو نه يوه کنده ده | ۳۰۱ |
| ۳۴۶ | د مومِن بنده نه په قبر کې د فرښتو پوښتنې | ۳۰۱ |
| ۳۴۷ | د کافر او گناهگار نه په قبر کې د فرښتو پوښتنې | ۳۰۴ |
| ۳۴۸ | په قبر کې د فرښتو په سوالونو کولو کې حکمت | ۳۰۶ |
| ۳۴۹ | په قبر کې د مومِن د پاره راحت او د کافر و منافق د پاره سختي | ۳۰۷ |
| ۳۵۰ | مړي ته په قبر کې د نبي ﷺ شکل خودلو باره کې عِلمي تحقيق | ۳۰۸ |
| ۳۵۱ | علمي تحقيق او تعارض ختمول | ۳۰۹ |
| ۳۵۲ | اصولي خبره | ۳۱۰ |
| ۳۵۳ | مومن په قبر کې په شين باغ کې | ۳۱۰ |
| ۳۵۴ | د قبر په ليدلو د حضرت عثمان رضي الله عنه حالت | ۳۱۱ |
| ۳۵۵ | د قبر آزمايشونو په اوريدو سره د صحابه کرامو حالت | ۳۱۲ |
| ۳۵۶ | د عذابِ قبر نه پناه غوښتل په کار دي | ۳۱۳ |
| ۳۵۷ | د نبي ﷺ د عذابِ قبر نه پناه غوښتل | ۳۱۳ |
| ۳۵۸ | صحابه کرامو ته د عذابِ قبر نه د پناه غوښتلو حکم | ۳۱۴ |
| ۳۵۹ | په هره ورځ د قبر آواز | ۳۱۶ |

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
| --- | --- | --- |
| ۳٦۰ | قبر هره ورځ پنځه کرتي آواز کوي | ۳۱۸ |
| ۳٦۱ | عمربن العزيز ته د قبر نه آواز محسوسيدل | ۳۱۹ |
| ۳٦۲ | عذابِ قبر بعض وخت د عبرت د پاره ښکاره کيږي | ۳۲۰ |
| ۳٦۳ | **دعذابِ قبر باره کې يو څو واقعات** | ۳۲۲ |
| ۳٦۴ | ۱. د لمونځ په پريښودو سره قبر د اُور د لمبو نه ډکيدل | ۳۲۲ |
| ۳٦۵ | ۲. د نَبَوِي سُنتو نه د اِعراض کولو په وجه په قبر کې د قبلې نه مخ اوړيدل | ۳۲۳ |
| ۳٦٦ | ۳. د مور په نافرماني د قبر نه د خره آواز راتلل | ۳۲۳ |
| ۳٦۷ | ۴. د جُنابَت نه غُسل نه کولو په وجه د قبر عذاب | ۳۲۳ |
| ۳٦۸ | د مرګ نه پس په کار راتلونکي اعمال | ۳۲۴ |
| ۳٦۹ | مړو ته د تلاوت ثواب ښِنَل | ۳۲۵ |
| ۳۷۰ | اوله واقعه | ۳۲۵ |
| ۳۷۱ | دويمه واقعه | ۳۲٦ |
| ۳۷۲ | په قبر کې د انسان نيک اعمال په کار راځي | ۳۲۷ |
| ۳۷۳ | د مال، اولاد او نيکو اعمالو حيثيت | ۳۲۸ |
| ۳۷۴ | د ''سورة ياسين'' په برکت دقبر نه ژوندي راوتل | ۳۲۹ |
| ۳۷۵ | د قبر نه آواز راتلل '' چې دلته نيک اعمال په کار راځي '' | ۳۳۰ |
| ۳۷٦ | د نيک عمله کس د خخيدو په وجه د نورو نژدې مړو مغفرت | ۳۳۱ |
| ۳۷۷ | پنځه تِياري او پنځه رناګاني | ۳۳۲ |
| ۳۷۸ | د ګناهګارانو په قبرونو کې ماران | ۳۳۲ |
| ۳۷۹ | مړي په مينځ دوه ټوټې کيدل | ۳۳۳ |
| ۳۸۰ | **د عذابِ قبر اَسباب** | ۳۳۴ |
| ۳۸۱ | ۱، ۲ : چُغل خُوري او د تشو متيازو نه ځان نه ساتل | ۳۳۴ |
| ۳۸۲ | ۳. په نبي عليه السلام باندې دروغ جوړول | ۳۳۵ |
| ۳۸۳ | ۴. په ناحقه مسلمان وژل | ۳۳٦ |

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
| --- | --- | --- |
| ۳۸۴ | ۵. د مور نافرماني کول | ۳۳۷ |
| ۳۸۵ | ٦. ملاوټ (دهوکه) کول | ۳۳۹ |
| ۳۸٦ | ۷. صحابه کرامو ته کنځل کول | ۳۴۰ |
| ۳۸۷ | ۸. بې اَودسه لمونځ کول او د مظلوم مدد نه کول | ۲۴۱ |
| ۳۸۸ | ۹. د عذابِ قبر نور اَسباب | ۲۴۱ |
| ۳۸۹ | **په عذاب قبر باندې څه اعتراضات او د هغې جوابات** | ۳۴۳ |
| ۳۹۰ | سوال: ۱. د قبر اَحوال مونږ ولې نه محسوسوو؟ | ۳۴۳ |
| ۳۹۱ | سوال: ۲. قبر ته فرښتې په کومه لار ورننوځي؟ | ۳۴٦ |
| ۳۹۲ | سوال: ۳. که مړې په قبر کې دفن نه شي نو هغه ته څنګه عذاب ورکولې شي؟ | ۳۴۷ |
| ۳۹۳ | واقعه | ۳۴۸ |
| ۳۹۴ | سوال: ۴. په قرآن مجيد کې خو دوه مرګه او دوه ژوندونه ذکر دي، نو د قبر.. | ۳۵۰ |
| ۳۹۵ | **فقهي مسايل** | ۳۵۱ |
| ۳۹٦ | ۱. د عذابِ قبر نه اِنکار کفر دی | ۳۵۱ |
| ۳۹۷ | ۲. په عالمِ برزخ کې عذاب په جسم او روح دواړو وي | ۳۵۱ |
| ۳۹۸ | ۳. د جُمعې په ورځ يا شپه باندې وفات کيدونکې کس د عذابِ قبر... | ۳۵۳ |
| ۳۹۹ | ۴. د قبرستان نه شنه ګياه ختمول مکروه تحريمي ده | ۳۵۴ |
| ۴۰۰ | ۵. د قبرونو دپاسه د اُوچې ګياه سوزول منع دي | ۳۵۴ |
| ۴۰۱ | ٦. د قبر سَر ته د سورة بقرې اول، او خپو ته د سورة بقرې آخِر لوستل | ۳۵۵ |
| ۴۰۲ | ۷. په تابوت کې د مړي خښولو حکم | ۳۵۵ |
| ۴۰۳ | ۸. د قبرونو پخول او آبادي پرې کول منع دي | ۳۵٦ |
| ۴۰۴ | د قبرونو پخولو او په دې باندې د تعمير کولو باره کې تحقيق | ۳۵۸ |
| ۴۰۵ | اعتراض: د اَولياءُ الله په مزاراتو بيا ګُنبدونه ولې دي؟ | ۳٦۱ |
| ۴۰٦ | اعتراض: د نبي عليه السلام په قبر باندې ګُنبد ولې دی؟ | ۳٦۱ |
| ۴۰۷ | په کچه (خام) قبر کې د مړي فائده ده | ۳٦۳ |

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۴۰۸ | مسئله | ۳۶۳ |
| ۴۰۹ | ۹. په زور قبر باندې نوره خاوره اچول | ۳۶۴ |
| ۴۱۰ | ۱۰. د دفن کولو نه پس د مړي بل ځاى ته د منتقل کولو حکم | ۳۶۵ |
| ۴۱۱ | د عذابِ قبر نه د بچ کيدو طريقه | ۳۶۶ |
| ۴۱۲ | دُعا | ۳۶۶ |
| ۴۱۳ | **د قبر عذابونو او نعمتونو متعلق نور بهترين واقعات:** | ۳۶۷ |
| ۴۱۴ | د ګناهونو او نافرمانيو په وجه عذابِ قبر | ۳۶۷ |
| ۴۱۵ | ۱. په بيت المال کې د خيانت کولو په وجه عذابِ قبر | ۳۶۷ |
| ۴۱۶ | ۲. د يوې ستَنې په وجه عذابِ قبر | ۳۶۸ |
| ۴۱۷ | ۳. په کافر، او تشو متيازو نه ځان نه ساتلو په وجه د قبر عذاب | ۳۷۰ |
| ۴۱۸ | ۴. د زخيره اَندوزۍ په وجه د قبر ګرميدل | ۳۷۱ |
| ۴۱۹ | ۵. د بې پردګۍ او ناځُن پالِش په وجه د قبر عذاب | ۳۷۱ |
| ۴۲۰ | ۶. د شرابي، بيلمازه، او تشو متيازو نه ځان نه ساتونکي د پاره د قبر عذاب | ۳۷۳ |
| ۴۲۱ | ۷. د يو کفن کش ګوتې سوزيدل | ۳۷۵ |
| ۴۲۲ | ۸. د عذابِ قبر نمونه | ۳۷۷ |
| ۴۲۴ | **د نيکانو او بزرګانو د قبرونو نه د مشکو خوشبوى تلل** | ۳۷۹ |
| ۴۲۵ | ۱. د حضرت سعد بن معاذ ﷺ د قبر نه خوشبوى تلل | ۳۷۹ |
| ۴۲۶ | ۲. د عبدالله بن غالب حمداني ﷺ د قبر نه خوشبوى تلل | ۳۷۹ |
| ۴۲۷ | ۳. د امام بخاري رحمه الله د قبر نه خُوشبوى تلل | ۳۸۰ |
| ۴۲۸ | ۴. د احمد علي لاهوري رحمه الله د قبر نه خوشبوى تلل | ۳۸۰ |
| ۴۲۹ | ۵. د مولانا موسىٰ روحاني رحمه الله د قبر نه خوشبوى تلل | ۳۸۱ |
| ۴۳۰ | ۶. په قبر کې د ګَنه خوشبوى | ۳۸۱ |
| ۴۳۱ | ۷. قبر د ګلِ ريحان نه ډکيدل | ۳۸۲ |

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۴۳۲ | **نيکان او اَولياءُ الله په قبرونو کې سالِم او ترُو تازه وي** | ۳۸۳ |
| ۴۳۳ | ۱. د غزوه اُحد د شهيدانو واقعه | ۳۸۴ |
| ۴۳۴ | ۲. د حضرت جابر رضي الله عنه د پلار "حضرت عبدالله رضي الله عنه" واقعه | ۳۸۴ |
| ۴۳۵ | ۳. د حضرت ابوطلحه رضي الله عنه واقعه | ۳۸۵ |
| ۴۳۶ | ۴. د امام احمد بن حنبل رحمه الله واقعه | ۳۸۶ |
| ۴۳۷ | ۵. د شيخ محمد بن سليمان جزولي رحمه الله واقعه | ۳۸۶ |
| ۴۳۸ | ۶. د اووه کسانو په قبر کې تازه لاشونه | ۳۸۷ |
| ۴۳۹ | د حضرت ابو ايوب انصاري رضي الله عنه د قبر نه نُور او چتيدل | ۳۸۷ |
| ۴۴۰ | مؤمنان به په قبر کې ثابت قدمه وي | ۳۸۸ |
| ۴۴۱ | ۱. د يزيد بن هارون فرښتو ته جواب | ۳۹۰ |
| ۴۴۲ | ۲. د رابعه بصريه فرښتو ته جواب | ۳۹۱ |
| ۴۴۳ | د بَرَاعَةُ الْإِسْتِهْلَالْ واله **خُطبه** | ۳۹۲ |

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# سریزه

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَكَفٰى، وَسَلَامٌ عَلٰى عِبَادِهِ الَّذِيْنَ اصْطَفٰى . اَمَّا بَعْدُ !

کله چې ما د دې " **اِصلاحي مدلّل تقریرونه** " کتاب اول جلد ولیکل، او چاپ شو نو الله ﷻ په علمي میدان کې ورته ډیر زیات مقبولیت ورکړو، جیّدو علماء کرامو، طالبانو او خطیبانو ورته ډیر د قدر په سترګه وکتل.

حقیقت دا دی چې د اول جلد په لیکلو کې مې پوره خواري او محنت کړې ؤ، او معتمَد مواد مې په ډیر احتیاط سره راجمع کړي ؤ.

ډیرو استاذانو او ملګرو بار، بار دا مطالبه کوله چې که په همدغه انداز باندې نور جلدونه ولیکلې شي نو ډیره به ښه وي. خو د درسي مصروفیاتو په بناء مې موقع نه شوه پیدا کولې، کله چې د مدرسې سالانه رخصتي وشوه نو دغه وخت مې غنیمت وګڼل، او د دویم جلد په لیکلو مې شروع وکړه. د الله ﷻ په فضل وکرم، د والدینو او استاذانو په دُعا سره دکتاب دویم جلد هم دا دی ستاسو په لاس کې دی.

**اِن شاء الله په همدغه انداز باندې به نور جلدونه هم لیکم چې په نزدې وخت کې به هغه هم ترتیب وار چاپ شي.**

په دې کتاب کې مې هم د اول جلد په شان ترتیب چلولې چې:

۱. په هره موضوع کې مې د قرآن کریم آیتونه او د هغې تفسیر او تشریح د مختلفو تفاسیرو نه، سره د حوالې نقل کړي.

۲. د هرې موضوع سره مناسب احادیث مې د عربي عبارت، ترجمې او تشریح سره د احادیثو د معتمدو کتابونو نه نقل کړي.

۳. د هرې موضوع متعلق مسائل مې د مُعتمدو بَاوَري کتابونو او نورو شروحاتو نه نقل کړي، او فقهي مسائلو کې مې د فقهاو کتابونو او فتاوو ته رجوع کړې.

۴ . د سامعينو په ذهنونو کې د مضمون په ښه طريقې سره اچولو ، او د خلقو د دِلچسپۍ دپاره مې د موقع مناسب د هرې موضوع سره مُستَنَداو د عبرت نه ډک واقعات را نقل کړي .

ځکه د عمل جذبه راپيدا کولو د پاره چې واقعاتو ته کوم اهميت حاصل دی هغه هرعاقِل ته د رُوښانه ورځې په شان ښکاره دی .

بل دا چې معتمد واقعات يو قسم رُوحاني غذا هم ده ، او د انسان په فطرت کې هم داخبره داخله ده چې په مثال يا واقعې سره کومه خبره بيان شي هغه دده په پوهه کې زر راځي . دغه وجه ده چې د قرآن کريم څه حصه په واقعاتو او امثالو هم مشتمله ده ، ځکه په تيرو واقعاتو کې د انسان دپاره غټ سبق اوِ عبرت پروت دی .

۵. هرې غټې خبرې ته يو عنوان ورکړې شوې دی .

٦ . د هرې موضوع په آخر کې د همدې موضوع متعلق نور سبق آموز واقعات هم سره د حوالې ذکر شوي چې هر واعِظ اومقرِّر يې دخپل وعظ او تقرير مؤثِر ګرځولو د پاره د خپلې خوښې مطابق ځانته پکې اِنتخاب کولې شي .

الله تعالی دې واقعي دا کتاب د معاشرې د اصلاح او د خلقو د کاميابۍ ذريعه وګرځوي . آمِيْن يَارَبَّ الْعَالَمِيْن .

په آخر کې زه د خپل مشر ورور اُستاذِ محترم ، مجاهدِ کبير، صاحِبُ التّصانيفِ الکثيرة ، جامع المعقول والمنقول الحاج حضرت مولانا عبدالباقي حقاني صاحب دامت برکاتهم العالية هم ډيره مننه او شکريه اداء کوم ، او د الله تعالی څخه ورته د ډير اجر غوښتونکې يم کوم چې دډيرو علمي مصروفياتو او نورو مشکلاتو باوجود خپل قيمتي وخت ددې دواړو جلدونو نظرِ ثاني او اِصلاح د پاره وقف کړو او په خپله قيمتي کتنې سره يې ددې کتاب په حُسن او اِفاده کې نوره هم اضافه وکړه .

فَجَزَاهُ اللهُ خَيْرَالْجَزَاءِ ، وَأَكْرَمَهُ اللهُ بِمَا لَا مَزِيْدَ عَلَيْهِ . آمِيْن ثُمَّ آمِيْن

نورالهدیٰ عفی عنه

**نوټ** : که د کتاب متعلق يا بله څه مفيده مشوره وي نو په دې نمبر رابطه کولې شئ .

موبائل نمبر : ۰۳۰٦ ۵۴۴۷۱۷۴

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

﴿ وَقَضٰى رَبُّكَ أَلَّا تَعْبُدُوْا إِلَّا إِيَّاهُ وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا ﴾ . سورة الإسراء آيت ۲۳.

# حُقُوقُ الوَالدَين

يعنی

## د مور او پلار حُقُوق

تالیف :

اَبُو الشَّمْس مولانا نُوْرُ الْهُدٰى عُفِيَ عَنْهُ

مُدَرِّس دَارُالعلوم فیضُ القرآن اکاخیل کالونی مردان

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

# د مور او پلار د حقوقو اهميت :

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ نَحۡمَدُهُ وَنَسۡتَعِيۡنُهُ وَنَسۡتَغۡفِرُهُ وَنُؤۡمِنُ بِهِ وَنَتَوَكَّلُ عَلَيۡه، وَنَعُوۡذُبِاللّٰهِ مِنۡ شُرُوۡرِ اَنۡفُسِنَا وَمِنۡ سَيِّئَاتِ اَعۡمَالِنَا مَن يَّهۡدِهِ اللّٰهُ فَلَامُضِلَّ لَهُ وَمَن يُّضۡلِلۡهُ فَلَاهَادِيَ لَه، وَنَشۡهَدُ اَنۡ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحۡدَهُ لَاشَرِيۡکَ لَهُ وَنَشۡهَدُ اَنَّ سَيِّدَنَا وَنَبِيَّنَا وَمَوۡلَانَا مُحَمَّدًا عَبۡدُهُ وَرَسُوۡلُه،

اَمَّا بَعۡدُ فَأَعُوۡذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيۡطٰنِ الرَّجِيۡمِ بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ. قَالَ اللّٰهُ تَبَارَکَ وَتَعَالٰی فِي الۡقُرۡآنِ الۡمَجِيۡدِ وَالۡفُرۡقَانِ الۡحَمِيۡدِ :

﴿ وَقَضٰی رَبُّکَ اَلَّا تَعۡبُدُوۡا اِلَّا اِيَّاهُ وَبِالۡوَالِدَيۡنِ اِحۡسَانًا، اِمَّا يَبۡلُغَنَّ عِنۡدَکَ الۡکِبَرَ اَحَدُهُمَا اَوۡ کِلَاهُمَا فَلَا تَقُلۡ لَّهُمَآ اُفٍّ وَّلَا تَنۡهَرۡهُمَا وَقُلۡ لَّهُمَا قَوۡلًا کَرِيۡمًا ﴾. (۱)

عَنۡ عَبۡدِاللّٰهِ بۡنِ مَسۡعُوۡدٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنۡهُ قَالَ : سَأَلۡتُ رَسُوۡلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّمَ اَيُّ الۡاَعۡمَالِ اَحَبُّ اِلَی اللّٰهِ؟ قَالَ : " اَلصَّلَاةُ عَلٰی وَقۡتِهَا ". قُلۡتُ : ثُمَّ اَيُّ؟ قَالَ : " بِرُّ الۡوَالِدَيۡنِ " قُلۡتُ : ثُمَّ اَيُّ؟ قَالَ : " اَلۡجِهَادُ فِيۡ سَبِيۡلِ اللّٰهِ ". (۲)

صَدَقَ اللّٰهُ الۡعَظِيۡمِ.

زما خوږو قدرمنو او عزت مندو مسلمانانو ورونو ! کوم انسان چې په دنيا کې د شريعت موافق د اطمينان او سکون واله ژوند تيرول غواړي نو دده د پاره دا ضروري ده چې دې به د دوه قسمه حقوقو لحاظ ساتي، اول د حقوق الله. او دويم د حقوق العبادو.

او کوم انسان چې د حقوق الله او حقوق العبادو لحاظ نه ساتي هغه هيڅ کله کامل مسلمان نشي جوړيدی، او نه ده ته د اطمينان، سکون او خوشحالۍ واله ژوند نصيبه کيدې شي.

---

(۱) الإسراء آيت ۲۳.

(۲) رواه البخاري، مواقيت الصلاة ۲۲۳، ومسلم الايمان ۱۳۹.

## د حقوق العبادو اهميت او زموږ غفلت

بيا خاصكر حقوق العباد خو ددين يوه اَهمه حصه ده ، ځكه كه چيرته ( خُدا نخَواسته ) په حقوق الله كې د انسان نه څه كوتاهي او كمې اوشي ، او اوس دې په هغې باندې پښيمانه شي ، په اخلاص باندې توبه اوباسي نو الله ﷻ ورته دا كوتاهي معاف كوي ، خو كه چيرته انسان حقوق العباد ضايع كړي ( يعنى بل مسلمان ته بَدني يا مالي ضرر اورسوي ) نو كه دې روستو په دې پښيمانه شي او توبه هم اوباسي ، نو دا صرف په دې توبه او استغفار سره نه معاف كيږي ، بلكه د حق خاوند نه به معافي غواړي يا به هغه ته خپل حق واپس كوي نو بيا به دې انسان ته دا حق معاف كولې شي .

قدرمنو ! بعضې خلق لمونځ ، روژه ، زكوة ، حج ، ذكر ، تلاوت ، وغيره خو ددين حصه شماري خو ليكن حقوق العباد د دين نه بالكل خارج ګڼي او هيڅ اهميت ورته نه وركوي ، حالانكه په شريعت كې د حقوق العبادو هم ډير تاكيد او اهميت بيان شوى .

## د احكامِ شرعيه وُ درې حصې حقوق العباد دي

په اِسلامي فقه كې چې د شريعت څومره احكامات بيان شوي كه چيرته هغه په څلورو حصو تقسيم كړې شي نو د هغې يوه حصه د عبادت ( يعنى حقوق الله ) جوړيږي ، او باقي درې حصې د حقوق العبادو ( يعنى معاملات او معاشرت ) جوړيږي .

كه چيرته د " هدايه " نوم مو اوريدلې وي كوم چې د فقهِ حنفي مشهور كتاب دى ، په څلورو جلدونو مشتمل دى ، په هغې كې په اول جلد كې د عباداتو ( طهارت ، لمونځ ، روژه ، زكوة او حج ) ذكر دى ، او په باقي درې حصو كې د معاملاتو ، معاشرت او حقوق العبادو ذكر دى. معلومه شوه چې حقوق العبادو ته په شريعت كې غټ مقام او اهميت حاصل دى .

## په حقوق العبادو كې د ټولو نه رومبې حق د والدينو دى

بيا خاصكر په حقوق العبادو كې د ټولو نه رومبې او اَهم حق د مور او پلار دى ، دغه وجه ده چې كله هم په قرآن كريم كې الله تعالى د حقوق العبادو تذكره كړې نو د ټولو نه اول يې د مور او پلار سره د احسان او نيكۍ كولو حكم كړې دى .

وجه داده چې لکه څرنګ الله ﷻ د انسان د وجود د پاره سببِ حقيقي دی نو دغه شان والدين د انسان د وجود د پاره سببِ ظاهري دي . (۱)

## د آيت تشريح

کوم آيتِ مبارکه چې ما په خطبه کې تلاوت کړو په دې کې الله جل جلاله د خپل عبادت نه روستو د والدينو سره د احسان حکم فرمايلې دی ، الله تعالی فرمايي :

﴿ وَقَضَىٰ رَبُّكَ أَلَّا تَعْبُدُوا إِلَّا إِيَّاهُ وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا ﴾ .(۲)

ترجمه : او ستا رب دا حکم کړې (۳) چې بې د هغه ( الله ﷻ ) نه د بل هيچا عبادت مه

---

(۱) لکه علامه آلوسي رحمه الله په خپل تفسير کې ليکي : ثُمَّ إِنَّ السَّبَبَ فِيْ تَعْظِيْمِ أَمْرِ الْوَالِدَيْنِ أَنَّهُمَا السَّبَبُ الظَّاهِرِيُّ فِيْ إِيْجَادِهِ وَتَعَيُّشِهِ وَلَا يَكَادُ تَكُوْنُ نِعْمَةُ أَحَدٍ مِّنَ الْخَلْقِ عَلَى الْوَلَدِ كَنِعْمَةِ الْوَالِدَيْنِ عَلَيْهِ. روح المعاني ج۸ ص۹۷ الاسراء الاية ۲۳ .

امام رازي رحمه الله ليکي : اَلسَّبَبُ الْحَقِيْقِيُّ لِوُجُوْدِ الْإِنْسَانِ هُوَ تَخْلِيْقُ اللهِ تَعَالَى وَإِيْجَادُهُ ، وَالسَّبَبُ الظَّاهِرِيُّ هُوَ الْأَبَوَانِ . فَأَمَرَ بِتَعْظِيْمِ السَّبَبِ الْحَقِيْقِيِّ ، ثُمَّ أَتْبَعَهُ بِالْأَمْرِ بِتَعْظِيْمِ السَّبَبِ الظَّاهِرِيِّ . تفسير كبير ج ۷ ص ۳۲۱ الاسراء الاية ۲۳

بيا روستو ليکي : فَثَبَتَ أَنَّهُ لَيْسَ لِأَحَدٍ مِّنَ الْمَخْلُوْقِ نِعْمَةٌ عَلَى غَيْرِهِ مِثْلُ مَا لِلْوَالِدَيْنِ عَلَى الْوَلَدِ . تفسير كبير ج ۵ ص ۱۷۸ الانعام الاية ۱۵۱ .

لِأَنَّ أَعْظَمَ أَنْوَاعِ النِّعَمِ عَلَى الْإِنْسَانِ نِعْمَةُ اللهِ تَعَالَى ، وَيَتْلُوْهَا نِعْمَةُ الْوَالِدَيْنِ لِأَنَّ الْمُؤَثِّرَ الْحَقِيْقِيَّ فِيْ وُجُوْدِ الْإِنْسَانِ هُوَ اللهُ سُبْحَانَهُ وَفِي الظَّاهِرِ هُوَ الْأَبَوَانِ . ثُمَّ نِعَمُهُمَا عَلَى الْإِنْسَانِ عَظِيْمَةٌ وَهِيَ نِعْمَةُ التَّرْبِيَةِ وَالشَّفَقَةِ وَالْحِفْظِ عَنِ الضِّيَاعِ وَالْهَلَاكِ وَقْتَ الصِّغَرِ . تفسير كبير ج۷ ص ۳۲۲ الاسراء الاية ۲۳ .

(۲) الإسراء آيت ۲۳.

(۳) ﴿ وَقَضَىٰ رَبُّكَ ﴾ حضرت ابن عباس رضی الله عنهما ، قتاده ، حسن او ربيع بن انس رحمه الله د دې ترجمه داسې کوي : اى أَمَرَ أَمْرًا مَقْطُوْعًا بِهِ . يعنی ستا رب قطعي حکم کړی. تفسير مظهري ج۵ ص ۴۳۰ الإسراء آيت ۲۳. ﴿ وَقَضَىٰ ﴾. اى أَمَرَ وَأَلْزَمَ وَأَوْجَبَ . قرطبي ج۱۰ ص ۲۰۶ الإسراء آيت ۲۳.

کوئ، او د مور او پلار سره احسان ( ښيگړه او ښه سلوک ) کوئ . (۱)

## د امام قرطبي رحمه الله تحقيق

امام قرطبي رحمه الله هم د دې آيت د لاندې ليکلي چې په دې آيت کې الله رب العزت د خپل عبادت او توحيد د حکم نه روستو د والدينو سره د احسان او ښه سلوک حکم فرمايلې، لکه څرنګ چې الله تعالى په سورة لقمان کې د خپل شکر اداء کولو نه روستو د مور او پلار د شکريې اداء کولو حکم کړي . الله ﷻ فرمايي :

﴿ أَنِ اشْكُرْ لِي وَلِوَالِدَيْكَ ﴾ . (۲)

ترجمه : ( اې بنده ! ) ته زما شکريه اداء کوه او د خپل مور او پلار شکريه اداء کوه . (۳)

## د والدينو د بوډا توب په حالت کې لحاظ ساتل

د والدينو خدمت او تابعداري د څه مخصوص حالت يا عُمر سره خاص نه ده بلکه په هر حالت کې د هغوى سره احسان او ښيگړه په کار ده، خو بيا هم قرآن کريم انسان ته د والدينو د بوډا توب په حالت کې يو څو تاکيدي حکمونه بيان کړي، ځکه د بوډا والي په حالت کې والدين يو خو د خدمت زيات محتاج شي، بل يې طبعيت هم نازک شي او بل عقل و فکر يې هم پوره کار نه کوي، نو ځکه الله رب العزت د دوى د کمزورۍ په حالت کې انسان ته څه خاص حکمونه ذکر کړي . الله تعالى فرمايي :

﴿ إِمَّا يَبْلُغَنَّ عِنْدَكَ الْكِبَرَ أَحَدُهُمَا أَوْ كِلَاهُمَا ﴾ . (۴)

---

(۱) ﴿ وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا ﴾ . فَإِنَّهُ دَلَّ عَلَى الْإِجْتِنَابِ عَنْ جَمِيعِ الْأَقْوَالِ الْمحرمَةِ وَالْإِتْيَانِ بِجَمِيعِ كَرَائِمِ الْأَقْوَالِ وَالْأَفْعَالِ مِنَ التَّوَاضُعِ وَالْخِدْمَةِ وَالْإِنْفَاقِ عَلَيْهِمَا ثُمَّ الدُّعَاءِ لَهُمَا فِي الْعَاقِبَةِ . مرقاة شرح مشكوة ج۴ ص ۶۶۲ باب البر والصلة الفصل الاول .

(۲) سورة لقمان آيت ۱۴ .

(۳) أَمَرَ اللهُ سُبْحَانَهُ بِعِبَادَتِهِ وَتَوْحِيدِهِ وَجَعَلَ بِرَّ الْوَالِدَيْنِ مَقْرُونًا بِذَلِكَ كَمَا قَرَنَ شُكْرَهُمَا بِشُكْرِهِ فَقَالَ : ﴿ وَقَضَى رَبُّكَ أَلَّا تَعْبُدُوا إِلَّا إِيَّاهُ وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا ﴾ وَقَالَ : ﴿ أَنِ اشْكُرْ لِي وَلِوَالِدَيْكَ ﴾ قرطبي ج۱ ص ۲۰۸ سورة لقمان آيت ۲۳ ط مكتبه رشيديه كوئټه .

(۴) الإسراء آيت ۲۳.

ترجمه : كه چيرته په دوى كې يو يا دواړه تا سره د بوډاولي حالت ته اورسي (يعنى ستا په ژوند كې دوى دواړه يا يو د بوډاوالي حالت ته اورسي) .

**اول حكم :** ﴿ فَلَا تَقُلْ لَّهُمَآ أُفٍّ ﴾ . دوى ته اُف هم مه وايه .

يعنى داسې هيڅ خبره ورته مه كوه چې په هغې سره ستا د طرف نه نفرت يا خفګان ښكاره كيږي ، او ستا والدينو ته ورباندې تكليف رسيږي . (۱)

ددې مطلب دا نه دى چې ګني مور او پلار ته اُف مه وايه خو ډانګ ورته نيسه ، كنځل ورته كوه او بې عزتي يې كوه ، بلكه چې كله د دوى په خدمت كې د ستړي والي په وجه اُف ويل ، يا هره داسې كلمه چې د هغوى د خفګان سبب ګرځي حرامه شوه نو وهل او كنځل ورته كول خو په دَلَالَةُ النَّصْ سره په طريقِ اولى حرام شو .

**دويم حكم :** ﴿ وَلَا تَنْهَرْهُمَا ﴾ او دوى مه رټه . (۲)

**دريم حكم :** ﴿ وَقُلْ لَّهُمَا قَوْلًا كَرِيْمًا ﴾ او د دوى سره په نرمى خبرې كوه . (۳)

يعنى د دوى سره د مينې او محبت په لهجه كې خبرې كوه .

---

(۱) ﴿ فَلَا تَقُلْ لَّهُمَآ أُفٍّ ﴾ وَالْأُفُّ : مَعْنَاهُ اَلْقِلَّةُ يَعْنِيْ لَا تَقُلْ لَّهُمَا كَلِمَةً تَدُلُّ عَلَى أَدْنَى كَرَاهَةٍ . فَيحرمُ بِذَلِكَ سَائِر أَنْوَاعِ الْإِيْذَاءِ بِدَلَالَةِ النَّصِّ بِالطَّرِيْقِ الْأَوْلَى . مظهري ج۵ ص ۴۳۱ .

امام رازي رحمه الله وايي : اَلْمَنْعُ مِنَ التَّافِيْفِ إِنَّمَا يَدُلُّ عَلَى الْمَنْعِ مِنَ الضَّرْبِ بِوَاسَطَةِ الْقِيَاسِ الْجَلِيِّ الَّذِيْ يَكُوْنُ مِنْ بَابِ الْإِسْتِدْلَالِ بِالْأَدْنَى عَلَى الْأَعْلَى . تفسير كبير ج۷ ص ۳۲۵ الاسراء آيت ۲۳ .

علامه آلوسي رحمه الله ليكي : وَالنَّهْيُ عَنْ ذَلِكَ (يعنى أُفٍّ) يَدُلُّ عَلَى الْمَنْعِ مِنْ سَائِرِ أَنْوَاعِ الْإِيْذَاءِ قِيَاسًا جَلِيًّا لِأَنَّهُ يَفْهَمُ بِطَرِيْقِ الْأَوْلَى وَيُسَمَّى مَفْهُوْمَ الْمُوَافَقَةِ وَ دَلَالَةَ النَّصِّ وَفَحْوَى الْخِطَابِ ..... وَخُصَّ بَعْضُ أَنْوَاعِ الْإِيْذَاءِ بِالذِّكْرِ فِيْ قَوْلِهِ تَعَالَى ﴿ وَلَا تَنْهَرْهُمَا ﴾ لِلْإِعْتِنَاءِ بِشَانِهِ . روح المعاني ج۸ ص ۷۳ الاسراء آيت ۲۳

(۲) اَلنَّهْرُ : اَلزَّجْرُ . وَالْغِلْظَةُ . قرطبي ج۱۰ ص ۲۱۴ ، وَقَالَ الرَّاغِبُ : اَلزَّجْرُ بِإِغْلَاظٍ . وَفِى الْكَشَّافِ : اَلنَّهْيُ وَالنَّهْرُ وَالنَّهْمُ أَخَوَاتٌ اى لَا تَزْجُرْهُمَا عَمَّا يَتَعَاطَيَانِهِ مِمَّا لَا يُعْجِبُكَ . روح المعاني ج۸ ص ۸۳ .

(۳) ﴿ وَقُلْ لَّهُمَا قَوْلًا كَرِيْمًا ﴾ وَالْمُرَادُ مِنْهُ أَنْ يُخَاطِبَهُ بِالْكَلَامِ الْمَقْرُوْنِ بِأَمَارَاتِ التَّعْظِيْمِ وَالْإِحْتِرَامِ . قَالَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ رضي الله عنه هُوَ أَنْ يَقُوْلَ لَهُ : يَا أَبَتَاهُ . يَا أُمَّاهُ . تفسير كبير ج۷ ص ۳۲۶ الاسراء آيت ۲۳ .

حضرت سعيد بن مسيب رحمه الله وايي چې داسې انداز کې ورسره خبرې کوه:

كَقَوْلِ الْعَبْدِ الْمُذْنِبِ لِلسَّيِّدِ الْفَظِّ.

لکه څرنګ چې يو غلام د خپل سخت مزاجه آقا (مالک) سره په نرمۍ خبرې کوي (۱)

**څلورم حکم:** ﴿وَاخْفِضْ لَهُمَا جَنَاحَ الذُّلِّ مِنَ الرَّحْمَةِ﴾. (۲)

ترجمه: او ښکته کړه د دوی د پاره متې د عاجزۍ له مهربانۍ نه. (يعنی د دوی په وړاندې په مينه محبت او عاجزۍ سره ټيټ اوسيږه لکه څرنګ چې يو عاجز غلام د خپل آقا د وړاندې پيش کيږي دغه شان د خپل مور او پلار د وړاندې هم په عاجزۍ سره مخامخ کيږه. (۳)

**پنځم حکم:** ﴿وَقُل رَّبِّ ارْحَمْهُمَا كَمَا رَبَّيَانِي صَغِيرًا﴾. (۴)

ترجمه: او (د الله ﷻ نه د دوی د پاره دُعا غواړه او داسې) وايه: چې اې ربه! په دې دواړو رحم وکړه لکه څرنګ چې دوی په وړوکوالي زما پالنه کړې ده.

په دې ﴿كَمَا رَبَّيَانِي صَغِيرًا﴾ کې الله ﷻ انسان ته دده د ماشوموالي زمانه وریاده کړه چې اې انسانه! يو وخت داسې وُ چې په هغې کې ته ددې والدينو محتاج وې، هغوی د تا سره تکليفونه او مشقتونه برداشت کړي، ستا خدمت يې کړې نو اوس چې هغوی د کمزورتيا حالت ته ورسيده نو د عقل او شرافت تقاضا هم داده چې اوس ته د دوی خدمت وکړه، او د هغوی د پاره درحمت دُعاګانې اوغواړه. (۵)

---

(۱) زاد المسير ج۳ ص ۱۹، مظهري ج۵ ص ۴۳۱، قرطبي ج۱۰ ص ۲۱۴، معارف القرآن الاسراء آيت ۲۳.

(۲) الاسراء آيت ۲۴.

(۳) ﴿وَاخْفِضْ لَهُمَا جَنَاحَ الذُّلِّ مِنَ الرَّحْمَةِ﴾ هَذِهِ اِسْتِعَارَةٌ فِي الشَّفَقَةِ وَالرَّحْمَةِ بِهِمَا وَالتَّذَلُّلِ لَهُمَا تَذَلُّلَ الرَّعِيَّةِ لِلأَمِيْرِ وَالعَبْدِ لِلسَّادَةِ. قرطبي ج ۱۰ ص ۲۱۴، أي أَلِنْ لَهُمَا جَانِبَكَ مُتَذَلِّلًا لَهُمَا مِنْ رَحْمَتِكَ إِيَّاهُمَا. زاد المسير ج ۳ ص ۱۹، أي تَوَاضَعْ لَهُمَا وَتَذَلَّلْ. روح المعاني ج ۸ ص ۷۳ الاسراء آيت ۲۴.

(۴) الاسراء آيت ۲۴.

(۵) معارف القرآن الاسراء آيت ۲۴. همدا خبره علامه قرطبي رحمه الله هم کړې: وَخُصَّ التَّرْبِيَةُ بِالذِّكْرِ لِيَتَذَكَّرَ العَبْدَ شَفَقَةَ الأَبَوَيْنِ وَتَعَبَهُمَا فِي التَّرْبِيَةِ، فَيَزِيْدَهُ ذَلِكَ إِشْفَاقًا لَهُمَا وَحَنَانًا عَلَيْهِمَا. قرطبي ج۱۰ ص ۲۱۵.

## د علامه آلوسي رحمه الله وينا :

علامه آلوسي رحمه الله فرمايي چې الله جل جلاله په دې آيتِ مبارکه کې د والدينو سره د احسان متعلق په دومره مختلفو طريقو سره تاکيد کړی که چيرته الله ﷻ د والدينو باره کې نور هيڅ تاکيد نه وی کړی نو د دوی سره د احسان د اهميت د پاره صرف دا هم کافي وه چې الله ﷻ د والدينو سره د احسان خبره د خپل توحيد سره په دې آيتِ مبارکه : ﴿ وَقَضَىٰ رَبُّكَ أَلَّا تَعْبُدُوٓا۟ إِلَّآ إِيَّاهُ وَبِٱلْوَٰلِدَيْنِ إِحْسَـٰنًا ﴾ کې يو ځای ذکر کړې . (۱)

## فقهي مسئله :

د دې آيت نه دا معلومه شوه چې د مور او پلار د پاره د رحمت دُعا ګانې غوښتل په کار دي او س که چيرته دوی مسلمانان وي نو د دوی په ژوند او د مرګ نه روستو دواړو حالتونو کې به د دوی د پاره بچې دُعاګانې غواړي ، البته که دوی کافران وي نو د دوی په ژوند کې به بچې د دوی د پاره د ايمان د توفيق او د دُنيوي تکاليفو نه د بچ کيدو دُعاګانې غواړي ، خو د مرګ نه روستو د کافر د پاره دُعا غوښتل جائز نه دي ، ځکه الله ﷻ فرمايي :

﴿ مَا كَانَ لِلنَّبِىِّ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ أَن يَسْتَغْفِرُوا۟ لِلْمُشْرِكِينَ وَلَوْ كَانُوٓا۟ أُو۟لِى قُرْبَىٰ مِنۢ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمْ أَنَّهُمْ أَصْحَـٰبُ ٱلْجَحِيمِ ﴾ (۲)،(۳)

ترجمه : د پيغمبر او مومنانو د پاره دا مناسب نه دي چې دوی د مشرکانو د پاره د بخنې دُعا غواړي اګر چې دوی يې نزدې خپلوان وي (دا د بخښنې دُعا د دوی د پاره هلته ناجائز ده ) کله چې دوی ته دا ښکاره شي چې دوی دوزخيان دي (يعنی د کفر په حالت کې وفات شوي ) .

(۱) هَذَا وَقَدْ بَالَغَ عَزَّ وَجَلَّ فِي التَّوْصِيَةِ بِهِمَا مِنْ وُجُوهٍ لَا تَخْفَى وَلَوْ لَمْ يَكُنْ سِوَى أَنْ شَفَعَ الْإِحْسَانَ إِلَيْهِمَا بِتَوْحِيدِهِ سُبْحَانَهُ وَنَظْمِهِمَا فِي سِلْكِ الْقَضَاءِ بِهِمَا مَعًا لَكَفَى . روح المعاني ج۸ ص ۷۵ الاسراء آيت ۲۴ .

(۲)،(۳) التوبة آيت ۱۱۳ ، مظهري ج ۵ ص ۳۳۱ ، بغوي ، بيضاوي .

## کافر مور او پلار هم د خدمت او ښه سلوک مستحق دي

د والدينو د حقوقو اهميت د دينه هم معلوميږي چې که چيرته د يو انسان مور او پلار مسلمانان نه وي بلکه کافر وي نو بيا هم الله جل جلاله انسان ته د دوی سره په دُنيوي ژوند کې د ښه سلوک حکم کړې .

البته که هغوی دې بچي ته د اسلام نه د اوړيدو يا د شريعت خلاف حکم کوي نو په دې کې د دوی تابعداري ضروري نه ده ، ځکه حديث کې راځي :

الله جل جلاله فرمايي :

﴿ وَإِن جَاهَدَاكَ عَلَىٰ أَن تُشْرِكَ بِي مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ فَلَا تُطِعْهُمَا وَصَاحِبْهُمَا فِي الدُّنْيَا مَعْرُوفًا ﴾ . (۱)

ترجمه : او که چيرته دوی کوشش کوي په تا باندې چې د ما سره داسې شی شريک مقرر کړه چې تا ته په هغې باندې علم نه وي نو د دوی خبره مه منه ، او د دوی سره په دُنيا کې په ښې طريقې سره تعلق ساته ( او ښه سلوک ورسره کوه ) .

يعنی که دوی په تا باندې دا زُور لګوي چې بغير د څه دليل نه د ما سره بل څوک شريک مقرر کړه نو په دې کې د دوی خبره مه مَنه ، البته په دُنياوي ژوند کې بيا هم د دوی سره احسان او ښيګړه کوه او د دوی خدمت کوه .

لَا طَاعَةَ لِمَخْلُوْقٍ فِيْ مَعْصِيَةِ الْخَالِقِ . (۲)

د خالِق ( الله ﷻ ) په نافرماني کې د چا مخلوق فرمانبرداري جائز نه ده .

## د مُشرکې مور سره ښه سُلوک

د دې خبرې ثبوت د دې حديث شريف نه هم کيږي کوم چې امام بخاري او امام مسلم رحمهما الله رانقل کړې . حضرت أسماء بنت ابي بکر رضی الله عنها فرمايي :

قَدِمَتْ عَلَيَّ أُمِّيْ وَهِيَ مُشْرِكَةٌ فِيْ عَهْدِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاسْتَفْتَيْتُ رَسُوْلَ اللهِ

(۱) سورة لقمان آيت ۱۵ .

(۲) مشکوة شريف ص ۳۲۱ کتاب الامارة الفصل الثاني .

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. قُلْتُ: قَدِمَتْ عَلَيَّ أُمِّي وَهِيَ رَاغِبَةٌ أَفَأَصِلُ أُمِّي؟ قَالَ نَعَمْ صِلِي أُمَّكِ.(۱)

د نبي عليه السلام زمانه کې زما مور ما کره راغله او دا مشرکه وه نو ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه پوښتنه وکړه چې زما مور ما کره راغلې ده او زما د ښه سلوک امید ساتي، نو آیا زه ورسره ښه سلوک وکړم؟ نبي عليه السلام راته وفرمایل: آو. د خپلې مور سره ښه سلوک کوه.

## دوالدينو سره ښيګړه بهترين عمل دی

حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه فرمايي:

سَأَلْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيُّ الأَعْمَالِ أَحَبُّ إِلَى اللهِ؟ قَالَ: "اَلصَّلَاةُ عَلى وَقْتِهَا" قُلْتُ: ثُمَّ أَيٌّ؟ قَالَ: "بِرُّ الْوَالِدَيْنِ" قُلْتُ: ثُمَّ أَيٌّ؟ قَالَ: "اَلْجِهَادُ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ".(۲)

ما د نبي کريم صلى الله عليه وسلم نه پوښتنه وکړه چې کوم عمل الله جل جلاله ته ډیر خوښ دی؟ نو نبي عليه السلام راته وفرمایل: په خپل (مستحب) وخت کې لمونځ کول ما بیا عرض وکړو چې ددې نه پس کوم عمل ډیر بهتر دی؟ نبي عليه السلام وفرمایل: د مور او پلار سره نیکي کول. ما (په دریم ځل) عرض وکړو چې ددې نه پس کوم عمل ډیر بهتر دی؟ رسول الله صلى الله عليه وسلم راته وفرمایل د الله ﷻ په لار کې جهاد کول.

**فايده**: په دې حديث کې ډير بهترين عمل اول په خپل وخت کې لمونځ کول بيان شوی، په دويمه مرتبه کې د والدينو سره احسان بهترين عمل بيان شوی، او په دريمه مرتبه کې جهاد بهترين عمل خودلې شوی. نو د والدين خدمت ته په جهاد هم فوقيت حاصل شوی.

**مسئله**:

ځکه زمونږ د شريعت دا مسئله ده چې تر څو پورې جهاد فرضِ عين نوي بلکه د فرض کفايه په درجه کې وي نو د مور او پلار د اجازت نه بغير جهاد ته تلل هم جائز نه دي، بلکه د والدينو

(۱) متفق عليه.

(۲) رواه البخاري، مواقيت الصلاة ۲۲۳.

خدمت به کوي چې په دې باندې به ده ته الله جل جلاله د جهاد ثواب ورکوي . (۱)

## دوالدينو په خدمت سره د جهاد ثواب حاصليدل

او ددې خبرې تأييد د بخاري شريف او مسلم شريف ددې حديث نه هم کيږي .

حضرت عبدالله بن عمرو رضی الله عنه فرمايي :

جَآءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْتَأْذِنُهُ فِي الْجِهَادِ . فَقَالَ : أَحَيٌّ وَالِدَاکَ ؟ قَالَ : نَعَمْ . قَالَ : فَفِيْهِمَا فَجَاهِدْ . (۲)

يو کس د نبي کريم ﷺ په خدمت کې حاضر شو، او د دوی نه يې په جهاد کې د شامليدو اجازت اوغوښتو ، نبي عليه السلام ورنه پوښتنه وکړه : آيا ستا مور او پلار ژوندي دی ؟ هغه ورته ووېل : آو . ( دواړه ژوندي دي ) پيغمبر عليه السلام ورته وفرمايل :

فَفِيْهِمَا فَجَاهِدْ . هم ددې مور او پلار د خدمت کولو جهاد کوه .

يعنی د دوی خدمت کوه داستا د پاره جهاد دی ، الله ﷻ به درته د دوی د خدمت په وجه د جهاد ثواب درکړي .

د مسلم شريف په روايت کې داسې دي : حضرت عبدالله بن عمرو بن العاص رضی الله عنه فرمايي :

اَقْبَلَ رَجُلٌ إِلَى نَبِيِّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ : أُبَايِعُکَ عَلَى الْهِجْرَةِ وَالْجِهَادِ أَبْتَغِي الْأَجْرَ مِنَ اللهِ . قَالَ : فَهَلْ مِنْ وَالِدَيْکَ أَحَدٌ حَيٌّ ؟ قَالَ : نَعَمْ . بَلْ كِلَاهُمَا . قَالَ : فَتَبْتَغِي الْأَجْرَ مِنَ

---

(۱) معارف القرآن سورة بني اسرائيل آيت ۲۳ . **نوټ** : ددې مسئلې پوره تفصيل روستو په بحث د فقهي مسائلو کې ذکر دې ، هلته يې اوګوره .

(۲) هذا الحديث اخرجه البخاري في الجهاد ، باب الجهاد باذن الابوين ۳۰۰۴ ، وفي الادب باب لايجاهد الا باذن الابوين ۵۹۷۲ ، ومسلم کتاب البر والصلة والآداب باب برّالوالدين وانهما احق به ۶۴۶۴\ ۵( ۲۵۴۹ ) ، واخرجه ابوداود في الجهاد باب في الرجل يغزو وابواه کارهان ۲۵۳۰ ، والترمذي في الجهاد باب فيمن خرج في الغزو وترک ابويه ۱۶۷۱ ، والنسائي في الجهاد باب الرخصة في التخلف لمن له والدان ۳۱۰۳ ، وفي البيعة باب البيعة على الهجرة ۴۱۶۳ ، وابن ماجه في الجهاد باب الرجل يغزو وله ابوان ۲۸۰۹ .

اللهِ؟ قَالَ: نَعَمْ. قَالَ: فَارْجِعْ إِلَى وَالِدَيْكَ فَأَحْسِنْ صُحْبَتَهُمَا. (۱)

يو سړي دنبي كريم صلى الله عليه وسلم په خدمت كې حاضر شو او عرض يې وكړو (اې د الله رسوله!) زه تاسو سره بيعت كوم په جهاد او هجرت كولو باندې، او خاص د الله ﷻ نه ددې اجر طلب كوونكې يم، نبي عليه السلام ورنه پوښتنه وكړه چې آيا ستا په مور او پلار كې څوك ژوندي شته؟ هغه عرض وكړو: آو، بلكه دواړه ژوندي دي.

نبي عليه السلام ورته وفرمايل: آيا ته يقيني د الله ﷻ نه د اجر او ثواب اميد ساتې؟ هغه وويل: آو، پيغمبر عليه السلام ورته وفرمايل چې: واپس خپل مور او پلار ته لاړ شه او د هغوى سره ښه سلوک (او احسان) وكړه (نو د هغوى د خدمت او ښه سلوک په وجه به الله ﷻ تاته د جهاد او هجرت ثواب دركړي).

د ابوداؤد شريف په روايت كې ورسره څه نوره اضافه هم ذكر ده، چې يو كس نبي عليه السلام ته راغې او ورته وې فرمايل:

جِئْتُ أُبَايِعُكَ عَلَى الْهِجْرَةِ وَتَرَكْتُ أَبَوَيَّ يَبْكِيَانِ، فَقَالَ: اِرْجِعْ إِلَيْهِمَا فَأَضْحِكْهُمَا كَمَا أَبْكَيْتَهُمَا. (۲)

(اې د الله ﷻ رسوله!) زه راغلې يم او تاسو سره په هجرت باندې بيعت كوم (يعنى زه هم درسره هجرت او جهاد كوم) او ما خپل مور او پلار ژړيدونكي پريخي دي، نبي عليه السلام ورته وفرمايل چې: واپس لاړ شه هغوى او خندوه (يعنى راضي يې كړه او داسې يې او خندوه) څنګه چې تا په ژړا پريخي وو.

يعنى دوى خوشحاله كړه چې ستا د اجازت نه بغير به جهاد له نه ځم. (قرطبي)

## د والدينو حق په نفلي عبادت هم مخكې دى

د والدينو د حقوقو اهميت ددې نه هم معلوميږي چې د نفلي عبادت په نسبت د والدينو حق

(۱) مسلم كتاب البر والصلة والاداب، باب بر الوالدين و ايهما احق به ۶۴۶۷.

(۲) اخرجه ابوداود في الجهاد ۲۵۲۸، وابن ماجه ۲۷۸۲، وابن حبان، الترغيب والترهيب كتاب البر والمعاملة الحسنة ۵ ۲۱۶۲

زيات دی ، نو كه يو سړی په نفلي عبادت ولاړ وي او والدين ورته آواز وكړي نو اكثر علماء احناف په دې قائل دي چې په دې سړي دا واجب دي چې والدينو ته به جواب وركوي . (۱)

## د جُريج واقعه :

امام بخاري رحمه الله او امام مسلم رحمه الله د جُريج واقعه رانقل كړې په كومه كې چې ډير عبرتونه دي . نبي كريم صلى الله عليه وسلم فرمايي :

لَمْ يَتَكَلَّمْ فِي الْمَهْدِ إِلَّا ثَلَاثَةٌ : عِيسَى بْنُ مَرْيَمَ ، وَصَاحِبُ جُرَيْجٍ ، وَكَانَ جُرَيْجٌ رَجُلًا عَابِدًا ، فَاتَّخَذَ صَوْمَعَةً فَكَانَ فِيهَا ، فَأَتَتْهُ أُمُّهُ وَهُوَ يُصَلِّي ، فَقَالَتْ : يَا جُرَيْجُ ! فَقَالَ : يَا رَبِّ ! أُمِّي وَصَلَاتِي ، فَأَقْبَلَ عَلَى صَلَاتِهِ فَانْصَرَفَتْ ، فَلَمَّا كَانَ مِنَ الْغَدِ أَتَتْهُ وَهُوَ يُصَلِّي ، فَقَالَتْ : يَا جُرَيْجُ ! فَقَالَ : أَيْ رَبِّ ! أُمِّي وَصَلَاتِي ، فَأَقْبَلَ عَلَى صَلَاتِهِ ، فَقَالَتْ : اَللَّهُمَّ ! لَا تُمِتْهُ حَتَّى يَنْظُرَ إِلَى وُجُوهِ الْمُومِسَاتِ . فَتَذَاكَرَ بَنُو إِسْرَائِيلَ جُرَيْجًا وَعِبَادَتَهُ ، وَكَانَتْ امْرَأَةٌ بَغِيٌّ يُتَمَثَّلُ بِحُسْنِهَا ، فَقَالَتْ : إِنْ شِئْتُمْ لَأَفْتِنَنَّهُ لَكُمْ ، قَالَ : فَتَعَرَّضَتْ لَهُ فَلَمْ يَلْتَفِتْ إِلَيْهَا ، فَأَتَتْ رَاعِيًا كَانَ يَأْوِي إِلَى صَوْمَعَتِهِ فَأَمْكَنَتْهُ مِنْ نَفْسِهَا ، فَوَقَعَ عَلَيْهَا ، فَحَمَلَتْ فَلَمَّا وَلَدَتْ قَالَتْ : هُوَ مِنْ جُرَيْجٍ ، فَأَتَوْهُ فَاسْتَنْزَلُوهُ ، وَهَدَمُوا صَوْمَعَتَهُ ، وَجَعَلُوا يَضْرِبُونَهُ ، فَقَالَ : مَا شَأْنُكُمْ ؟ قَالُوا : زَنَيْتَ بِهَذِهِ الْبَغِيِّ ، فَوَلَدَتْ مِنْكَ ، فَقَالَ : أَيْنَ الصَّبِيُّ ؟ فَجَاؤُوا بِهِ فَقَالَ : دَعُونِي حَتَّى أُصَلِّيَ ، فَصَلَّى فَلَمَّا انْصَرَفَ أَتَى الصَّبِيَّ فَطَعَنَ فِي بَطْنِهِ ، وَقَالَ يَا غُلَامُ ! مَنْ أَبُوكَ ؟ قَالَ : فُلَانٌ الرَّاعِي ، قَالَ : فَأَقْبَلُوا عَلَى جُرَيْجٍ يُقَبِّلُونَهُ وَيَتَمَسَّحُونَ بِهِ ، وَقَالُوا : نَبْنِي لَكَ صَوْمَعَتَكَ مِنْ ذَهَبٍ ، قَالَ : لَا ، أَعِيدُوهَا مِنْ طِينٍ كَمَا كَانَتْ ، فَفَعَلُوا .......... (۲)

---

(۱) تكلمة فتح الملهم ج۵ ص ۱۶۹ باب تقديم برّ الوالدين على التّطوع بالصلاة وغيره . نوټ : د دې مسئلې پوره تحقيق روستو په په بحث د فقهي مسائلو كې اوكوره .

(۲) مسلم باب تقديم برّ الوالدين على التطوع بالصلاة وغيرها ۶۴۶۹\۸ ، وهذا الحديث اخرجه البخاري في كتاب العمل في الصلاة باب اذا دعت الامّ ولدها في الصلاة ۱۲۰۶ وفي المظالم باب اذا هدم حائطا فليبن مثله ۲۴۸۲ ، وفي احاديث الانبياء باب قول الله تعالى واذكر في الكتب مريم اذا انتبذت من اهلها ۳۴۳۶ ، وباب رقم ۵۴ ورقم الحديث ۳۴۶۶ .

په زانګو (يعنى ماشوموالي) کې صرف درې کسانو خبرې کړي (۱) :

يو عيسى بن مريم ، دويم صاحب د جريج . ( واقعه داسې وه چې ) جريج يو عبادت ګزار سړی وُ ، ده ځان له يوه عبادت خانه جوړه کړې وه په هغې کې به وُ (عبادت به يې کولو) يوه ورځ ده په خپله عبادت خانه کې لمونځ کولو چې مور يې راغله او آوازيې ورته وکړو : اې جريجه ! ( زه ستا موريم ، خبرې راسره وکړه ) ، جريج د ځان سره (په زړه کې) وويل چې اې ربه ! يو طرفته راته مور آواز کوي او بل طرفته لمونځ کوم ( آخر څه چل وکړم ؟ نو د ځان سره يې دا فيصله وکړه چې د لمونځ نه روستو به مور ته ورشم ) نو ده خپل لمونځ جاري اوساتلو ، مور يې هم لاړه .

په صبا يې بيا مور راغله ، دې بيا په لمانځه ولاړ وُ ، مور ورته آواز وکړو : اې جريجه ! (ستا موريم ، جواب راکړه ) ، جريج د ځان سره بيا وويل : اې ربه ! (څه وکړم ؟ ) يو طرفته مې مور ده او بل طرفته په لمانځه ولاړيم ، خو ده بيا هم خپل لمونځ جاري وساتلو (او مور ته يې جواب ورنکړو ) ، مور يې لاړه .

په دريمه ورځ بيايې مور راغله ، دې بيا په لمانځه ولاړ وُ ، آوازيې ورته وکړو : اې جريجه ! (ستا موريم خبرې راسره وکړه ) جريج بيا د ځان سره وويل : اې ربه ! يو طرفته مې مور ده او بل طرفته لمونځ کوم ، خو ده خپل مونځ جاري وساتلو .

( مور چې يې درې ورځې راغله ، ده ورته جواب ورنه کړو او د لمانځه نه روستو هم مور ته ورنه رَغې ، نو مور يې غصه او خفه شوه ، الله ﷻ ته يې عرض وکړو چې اې الله ! دا جريج زما ځوی دی ، ما ورسره خبرې کولې خو ده جواب نه راکول ) نو يا الله ! زه تا ته دا سوال کوم چې دې تر هغې وخته پورې مه وفات کوه تر څو چې دې ده ته د زِناکارو ښځو مخونه نه وي خودلي (يعنى د زِنا په تهمت يې بدنام کړه ) .

---

(۱) قَالَ النَّوَوِيْ : وَلَيْسَ فِيْهِمُ الصَّبِيُّ الَّذِيْ كَانَ مَعَ الْمَرْأَةِ فِيْ حَدِيْثِ السَّاحِرِ وَالرَّاهِبِ وَقِصَّةِ أَصْحَابِ الْأُخْدُوْدِ الْمَذْكُوْرِ فِيْ آخِرِ صَحِيْحِ مُسْلِمٍ . وَجَوَابُهُ أَنَّ ذٰلِكَ الصَّبِيَّ لَمْ يَكُنْ فِي الْمَهْدِ بَلْ كَانَ أَكْبَرَ مِنْ صَاحِبِ الْمَهْدِ وَإِنْ كَانَ صَغِيْرًا . شرح صحيح مسلم ۱۱۶\۱۰۵ ، تكملة فتح الملهم بشرح صحيح الامام مسلم ج۵ ص۱۷۰ باب تقديم الوالدين على التطوع بالصلاة وغيرها .

بني اسرائيلو به د جريج او دده دعبادت تذکرې کولې (چې جريج ډير لوي عبادت ګزار دی) په بني اسرائيلو کې يوه زِناکاره ښځه وه او دومره ښائسته وه چې په حُسن کې به دد ې مثال بيانولې شو ، دې ښځې خلقو ته وويل (چې تاسو خو د جريج د عبادت قصې کوئ خو) که ستاسو خوښه وي نو زه به درله په ده خامخا آزمائش وکړم (او ځان طرفته به يې مائله کړم ، ځکه زه ډيره ښکلې يم ، خلقو ورته وويل چې صحيح ده آزمائش ورباندې وکړه) دې ځان ښکلې جوړ کړو او جريج ته يې ځان وَر وړاند ې کړو ، خو هغه ورته هيڅ توجّه ورنه کړه . (کله چې دا ښځه په دې چال کې کامياب نه شوه ، او نامراده راروانه شوه) نو هلته يو ګډبه وُ کوم چې به د جريج عبادت خانې ته راتلو ، نو دې ښځې هغه ته په خپل ځان باندې قدرت ورکړو او زِنا يې ورسره وکړه ، چې ددې په وجه دا حامله شوه ، کله چې يې بچې پيدا شو (نو خلقو ورنه پوښتنه وکړه : دا بچې دې د چانه دی ؟) دې ورته وويل چې دا بچې د جُريج نه دی (کوم چې په دې عبادت خانه کې اوسيږي ، ده راسره زِنا کړې ، کله چې بني اسرائيلو دا خبره واوريده نود عبادت خانې نړولو او وړانولو آلات يې راواخيست او راغله)، کله چې عبادت خانې ته را ورسيده ، نو جريج ته يې آواز وکړو چې راښکته شه (دې چونکه په لمانځه ولاړ وُ جواب يې ورنه کړو) نو دوی دده عبادت خانه ورانه کړه او دده په وهلو يې هم شروع وکړه .

ده ورنه پوښتنه وکړه : څه چل شوي ؟ (چې زما عبادت خانه مو ورانه کړه ، او وَهئ مې هم ؟) هغوی ورته وويل چې تا خو ددې زِناکارې ښځې سره زِنا کړې او د هغې نه بچې هم پيدا شوې ، ده ورته وويل چې : هغه ماشوم کوم ځای دی ؟ (تاسو يې ماله راوړئ) کله چې هغوی هغه ماشوم راوړو ، نو ده خلقو ته وويل : ما پريږدئ ، چې زه لمونځ وکړم (نو بيا به تاسو ته صحيح صورتِ حال معلوم شي) کله چې جريج لمونځ وکړو نو دې ماشوم ته راغې ، په خيټه يې ورله نُوکه اولږوله ، او ورته وې ويل : اې ماشومه ! ستا پلار څوک دی ؟

هغه ماشوم وويل : زما پلار فلانې ګډبه دی، (کله چې خلقوته معلومه شوه چې جريج دا کار نه دی کړې نو د عبادت خانې په وړانولوَ او د جريج په وهلو ډير پښيمانه شو) ، نو د جريج په ښُکلولو يې شرَوع وکړه او زاري ګانې يې ورته کولې (چې مونږ معاف کړه) او دايې ورته وويل : چې مونږ به تاله اوس دا عبادت خانه د سروزرو نه جوړه کړو . ده ورته

وويل چې نه . بلکه مخکې چې د ختې نه څنګه جوړه وه هماغه شان يې جوړه کړئ ، نو خلقو ورله هماغه شان جوړه کړه .

**فائده** : معلومه شوه چې د والدينو ډير حقوق دي ، ځکه جريج اګر چې ډير عبادت ګزار ؤ ، په لمانځ ولاړ ؤ خو چونکه د مور حق يې اداء نه کړو ، مور ورته خيرې وکړې ، الله ﷻ د مور خيرې قبولې کړې او جريج ته يې دزِناکارې ښځې مخ اوخوده .

ځکه که ده ته دا معلومه وې چې د نفلي عبادت په نسبت د مور حق زيات دی نو هيڅ کله به ده ته دا تکليف نه ؤ رسيدلې .

## په اولاد باندې د مور حق د پلار په نسبت زيات دی

چونکه مور د پلار په نسبت د بچي سره تکليفونه او مشقتونه ډير برداشت کوي نو ځکه په شريعت کې د مور حق ډير مؤکد بيان شوې . حضرت ابو هريرة رضی الله عنه فرمايي :

جَاءَ رَجُلٌ إِلىٰ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ : مَنْ أَحَقُّ بِحُسْنِ صَحَابَتِيْ ؟ قَالَ أُمُّکَ ، قَالَ : ثُمَّ مَنْ ؟ قَالَ ثُمَّ أُمُّکَ ، قَالَ ثُمَّ مَنْ ؟ قَالَ : ثُمَّ أُمُّکَ ، قَالَ : ثُمَّ مَنْ ؟ قَالَ ثُمَّ أَبُوْکَ .(۱)

يو کس رسول الله صلی الله عليه وسلم ته راغې او عرض يې وکړو : يا رسول الله ! ځما د ښه سلوک د ټولو نه زيات مستحق او حقدار څوک دی ؟ نبي عليه السلام ورته وفرمايل : ستا مور . هغه بيا پوښتنه وکړه چې د دې نه پس څوک ډير حقدار دی ؟ نبي عليه السلام ورته وفرمايل : ستا مور . هغه (په دريم ځل ) بيا پوښتنه وکړه چې د دې نه پس څوک ډير حقدار دی؟ پيغمبر عليه السلام ورته وفرمايل : ستا مور . هغه (په څلورم ځل ) بيا عرض وکړو چې بيا څوک ډير حقدار دی ؟ نبي عليه السلام ورته وفرمايل : ستا پلار .

---

(۱) هذا الحديث اخرجه البخاري في الادب باب من احق الناس بحسن الصحبة ۵۹۷۱ ، ومسلم کتاب البر والصلة والآداب باب برّالوالدين ۲۷۰۲ . په يو روايت کې دا سې الفاظ دي : عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ : قَالَ رَجُلٌ يَا رَسُوْلَ اللهِ ! مَنْ أَحَقُّ بِحُسْنِ الصُّحْبَةِ ؟ قَالَ : أُمُّکَ ، ثُمَّ أُمُّکَ ، ثُمَّ أُمُّکَ ، ثُمَّ أَبُوْکَ ، ثُمَّ أَدْنَاکَ أَدْنَاکَ . بخاري ، مسلم کتاب البرّ والصلة والآداب باب برّالوالدين وانهما احق به ۲/۱۶۲۶۱ ، مشکوة باب البرّ والصلة حديث ۱ .

**فقهي مسئله** : بعضي علماؤ ددې حديث نه دا مسئله معلومه کړې چې په انسان باندې په حُسنِ سلوک، خدمت او خير ښيګړه کې د مور حق د پلار نه درې چنده زيات دی، ځکه په حديث کې درې پيرې د مور ذکر شوې او په څلورمه پيره د پلار ذکر شوې.

## مور د بچي سره ډير تکليفونه برداشت کوي

ځکه مور يو خو نهه، يا لس مياشتې د حمل بوج اوچتوي، دويم د وِلادت تکليف برداشت کوي، او دريم د شودو (پيو) ورکولو بوج اوچتوي. په دې درې کارونو کې مور ځانله تکليف اوچتوي، البته په څلورمه مرتبه کې مور او پلار دواړه په تربيت کې شريک وي.

دغه وجه ده چې فقهاؤ ليکلي: په خدمت، ښه سلوک او مالي امداد کې د مور حق په پلار باندې زيات دی. (۱)

الله جل جلاله په قرآن مجيد کې فرمايي:

﴿ وَوَصَّيْنَا الْإِنْسَانَ بِوَالِدَيْهِ حَمَلَتْهُ أُمُّهُ وَهْنًا عَلَى وَهْنٍ وَفِصَالُهُ فِي عَامَيْنِ أَنِ اشْكُرْ لِي وَلِوَالِدَيْكَ ﴾. (۲)

ترجمه: مونږ انسان ته دده د مور او پلار په حقله په تاکيد سره حکم کړې (چې د دوی فرمانبرداري او خدمت کوه، د دوی شکريه اداء کوه، ځکه دوی د بچي سره ډير تکليفونه برداشت کوي، بيا خاصکر مور خو ډير تکليفونه برداشت کوي ځکه چې) دده مور دې ضُعف دَر ضُعف (يعنی په ډير کمزوری سره) په کيده کې پورته کړی (ځکه د حمل غټيدو په وجه د حاملې ښځې کمزوري ورځ په ورځ زياتيږي) او بيا په دوه کاله کې دې د "تي"

---

(۱) وَبِهِ اِسْتَدَلَّ بَعْضُ الْعُلَمَاءِ اَنَّ ثَلَاثَةَ اَرْبَاعِ الْبِرِّ لِلْاُمِّ، وَالرُّبْعَ لِلْوَالِدِ. قَالَ ابْنُ بَطَالٍ: مُقْتَضَاهُ اَنْ يَكُوْنَ لِلْاُمِّ ثَلَاثَةُ اَمْثَالِ مَالِلْاَبِ مِنَ الْبِرِّ. قَالَ: لِصُعُوْبَةِ الْحَمْلِ، ثُمَّ الْوَضْعِ، ثُمَّ الرِّضَاعِ. فَهٰذِهٖ تَنْفَرِدُ بِهَا الْاُمُّ وَتَشْقي بِهَا، ثُمَّ تُشَارِكُ الْاَبُ فِي التَّرْبِيَةِ. وَقَدْ وَقَعَتِ الْاِشَارَةُ اِلَى ذٰلِكَ فِيْ قَوْلِهٖ تَعَالَى: ﴿ وَوَصَّيْنَا الْاِنْسَانَ بِوَالِدَيْهِ حَمَلَتْهُ اُمُّهُ وَهْنًا عَلَى وَهْنٍ وَفِصَالُهُ فِي عَامَيْنِ ﴾. لقمان ۱۴. فَسَوّى بَيْنَهُمَا فِي الْوَصَايَةِ وَخَصَّ الْاُمَّ بِالْاُمُوْرِ الثَّلَاثَةِ. وَقَالَ اللَّيْثُ: حَقُّ الْاُمِّ آكَدُ، لَهَا ثُلُثَا الْبِرِّ. وَذَكَرَ الْمُحَاسِبِي تَفْضِيْلُ الْاُمِّ مُجْمَعٌ عَلَيْهِ تكملة فتح الملهم ج۵ ص ۱۶۵ كتاب البر والصلة والآداب باب بر الوالدين.

(۲) سورة لقمان آيت ۱۴.

نه پريکولې شي ( چې په دې ورځو کې هم مور ډير تکليف برداشت کوي او د ماشوم خدمت کوي . نو چونکه والدين ډير تکليفونه برداشت کوي نو ځکه الله ﷻ فرمايي چې ما په ډير تاکيد سره انسان ته دا حکم کړې چې ) ته زما شکريه اداء کوه او د خپل مور او پلار شکريه اداء کوه . (١)

## دوالدينو په خدمت جنت حاصليدل

د مور او پلار د خدمت په وجه الله جل جلاله انسان ته جنت ورکوي . حضرت ابوامامة رضى الله عنه فرمايي :

اَنَّ رَجُلًا قَالَ : يَا رَسُوْلَ اللهِ ! مَا حَقُّ الْوَالِدَيْنِ عَلَى وَلَدِهِمَا ؟ قَالَ : هُمَا جَنَّتُكَ وَنَارُكَ . (٢)

يو سړي عرض وکړو يا رسول الله ! د مور او پلار په بچي باندې څه حق دى ؟ نبي عليه السلام ورته وفرمايل : ستا مور او پلار ستا د پاره جنت هم دى او جهنم هم دى .

پيغمبر عليه الصلوة والسلام په ډير بليغ انداز کې د مور او پلار عظمت شان واضح کړو چې که چيرته د دوى خدمت دې وکړو او خوشحاله دې او ساتل نو دا ستا د پاره د جنت تللو ذريعه ده ، او که د دوى نافرماني دې وکړه او خفه دې کړه نو دا ستا دپاره د جهنم تللو ذريعه ده .

حضرت معاوية بن جَاهمة رضى الله عنه فرمايي :

اَنَّ جَاهِمَةَ جَاءَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ : يَا رَسُوْلَ اللهِ ! اَرَدْتُ اَنْ اَغْزُوَ وَقَدْ جِئْتُ اَسْتَشِيْرُكَ . فَقَالَ هَلْ لَكَ مِنْ أُمٍّ ؟ قَالَ نَعَمْ . قَالَ : فَالْزَمْهَا فَإِنَّ الْجَنَّةَ تَحْتَ رِجْلِهَا . رواه النسائي وابن ماجه والحاكم وقال : صحيح الإسناد . (٣)

---

(١) معارف القرآن سورة لقمان آيت ١٤ .

(٢) رواه ابن ماجه الحديث ٣٦٦٢ ، والتبريزي فى المشكاة ٤٩٤١ باب البرّ والصلة ، والعجلوني فى الخفاء ٢\٣٦١ .

(٣) رواه النسائي ٦\١ ، واحمد ٣\٤٢٩ ، والبيهقي ٩\٢٦ ، مشكوة باب البرّ والصلة . د طبراني په روايت کې داسې دي : عَنْ جَاهِمَةَ قَالَ : أَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَسْتَشِيْرُهُ فِي الْجِهَادِ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَلَكَ وَالِدَانِ ؟ قُلْتُ نَعَمْ . قَالَ اِلْزَمْهُمَا فَإِنَّ الْجَنَّةَ تَحْتَ أَرْجُلِهِمَا . رواه الطبراني باسناد صحيح ورجاله ثقات ، الهيثمي فى المجامع ٨\١٣٨ ، المتجر الرابح فى ثواب العمل الصالح ، ابواب البرّ والصلة ص ٣٢٥ .

يوه ورځ حضرت جاهمه رضی الله عنه د نبي کريم صلی الله عليه وسلم په خدمت کې حاضر شو او عرض يې وکړو : يا رسول الله ! زه جهاد ته تلل غواړم ، او اوس ددې دپاره راغلی يم چې د تاسو نه مشوره واخلم ، پيغمبر عليه السلام ورته وفرمايل : چې آيا ستا مور ژوندۍ ده ؟ هغه ووېل : هو . نبي عليه السلام ورته وفرمايل : ته د هغې خدمت کوه او د هغې سره ښيګړه کوه نو دا به ستا د جنت تللو ذريعه اوګرځي .

حضرت ابن عباس رضی الله عنهما فرمايي :

قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ أَصْبَحَ مُطِيْعاً لِلّٰهِ فِيْ وَالِدَيْهِ أَصْبَحَ لَهُ بَابَانِ مَفْتُوْحَانِ مِنَ الْجَنَّةِ ، وَإِنْ كَانَ وَاحِدًا فَوَاحِدًا ، وَمَنْ أَصْبَحَ عَاصِيًا لِلّٰهِ فِيْ وَالِدَيْهِ أَصْبَحَ لَهُ بَابَانِ مَفْتُوْحَانِ مِنَ النَّارِ وَإِنْ كَانَ وَاحِدًا فَوَاحِدًا ، قَالَ رَجُلٌ : وَإِنْ ظَلَمَاهُ ؟ قَالَ : وَإِنْ ظَلَمَاهُ ، وَإِنْ ظَلَمَاهُ ، وَإِنْ ظَلَمَاهُ . (۱)

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي : څوک چې په داسې حالت کې صبا کړي چې هغه د مور او پلار په حق کې د الله ﷻ فرمانبرداري کوونکې وي ( يعنی د الله ﷻ په خاطر د والدينو فرمانبرداري کوي او د هغوی د حقوقو اداء کولو سره د الله تعالی د حکم اطاعت کوونکې وي ) نو هغه داسې حالت کې صبا کړو چې دده دپاره د جنت دوه (۲) دروازې خلاصې دي ، او که په والدينو کې يو ژوندې وي او د هغه اطاعت کوي نو دده د پاره يوه دروازه د جنت خلاصه وي .

(۱) مشکوة باب البر والصلة حديث ۳۳ . وَإِنْ ظَلَمَاهُ : قَالَ الطِّيْبِيُّ : يُرَادُ بِالظُّلْمِ مَا يَتَعَلَّقُ بِالْأُمُوْرِ الدُّنْيَوِيَّةِ لَا الْأُخْرَوِيَّةِ . امام طيبي رحمه الله وايي چې دلته د ظلم نه مراد هغه دی چې د دُنيوي څيزونو سره تعلق لري ، نه چې د آخرت د امورو سره . په مرقاة شرحه د مشکوة کې دي : إِنَّ طَاعَةَ الْوَالِدَيْنِ لَمْ تَكُنْ طَاعَةً مُسْتَقِلَّةً ، بَلْ هِيَ طَاعَةُ اللهِ الَّتِيْ بلغت تَوْصِيَتَهَا مِنَ اللهِ تَعَالَى بِحَسْبِ طَاعَتِهَا لِطَاعَتِهِ ..... الى أَنْ قَالَ : وَيُؤَيِّدُهُ أَنْ وَرَدَ : لَاطَاعَةَ لِمَخْلُوْقٍ فِيْ مَعْصِيَةِ الْخَالِقِ . د والدينو تابعداري مستقله تابعداري نه ده بلکه دا د الله جل جلاله تابعداري ده چې د هغه د حکم مطابق ده ، چنانچه ددې تائيد ددې حديث نه کيږي چې پيغمبر عليه السلام فرمايي : د الله تعالی په نافرمانۍ کې د مخلوق فرمانبرداري نشته . د جنت کالې ص ۸۵۶ .

او پلار په حق کې د الله چې هغه د مور او پلار په حق کې د الله
او کوم سړي چې په داسې حالت کې صبا کړي چې هغه د مور او پلار په حق کې د الله
تعالی نافرماني کوونکې وي (يعنی د والدينو د حکم نه منلو سره د الله تعالی نافرماني
کوي) نو هغه داسې حالت کې صبا کړو چې دده د پاره د جهنم دوه دروازې خلاصې وي، او
که والدينو کې يې يو ژوندې وي او دې د هغه نافرماني کوي نو دده د پاره د جهنم يوه
دروازه خلاصه وي، (ددې حديث اوريدو سره) يو سړي عرض وکړو (يارسول الله!) اګر
که مور او پلار په ده ظلم کوي؟
پيغمبر عليه السلام وفرمايل: آو. اګر چې مور او پلار په ده ظلم وکړي (خو بيا هم چې
انسان والدين خفه کړي نو دده د پاره به د جهنم دروازې خلاصې وي).
دا اخيري جمله (وَإِنْ ظَلَمَاهُ) پيغمبر عليه السلام درې (۳) پيرې وفرمايله.
نبي عليه السلام په يو موقعه وفرمايل:
اَلْجَنَّةُ تَحْتَ اَقْدَامِ الْأُمَّهَاتِ. (۱)
جنت د موړانو د قدمونو لاندې دی (يعنی کوم کس چې د خپلې مور سره احسان کوي نو
الله جل جلاله به دا کس جنت ته بوځي).

## د ابواسحاق اسفرائنيؒ واقعه

ابواسحاق اسفرائني رحمه الله ډير لوي بزرګ او غټ عالم تير شوی، دده معمول دا وُ چې
د شپې به د مور او پلار خپو ته کيناست او هغوی له به يې د خپو چاپي کوله، کله به يې چې
مور او پلار اُوده شو نو دې به د هغې نه روستو خپل کټ ته اوخت، او اُوده به شو.
يو ځل يې مور له د خپو چاپي کوله نو د نبي کريم صلی الله عليه وسلم يو حديث ورته راياد
شو چې پيغمبر عليه السلام فرمايي:
اَلْجَنَّةُ تَحْتَ اَقْدَامِ الْأُمَّهَاتِ. (۲) جنت د موړانو د قدمونو لاندې دی.
ددې حديث مطلب دا دی چې د مور خدمت وکړه او ددې سره ښه سلوک وکړه نو الله ﷻ
به جنت درکړي. نو ده د ځان سره سوچ وکړو چې راشه، نن ددې حديث په ظاهر باندې عمل

(۱) اخرجه الحاکم ۷۰۱۲، والشهاب في مسنده ۱۰۲۱۱، نزهة الناظرين ص ۳۹۲ الباب الثالث عشر في برّ الوالدين ...

(۲) ورانديني مرجع.

وکړه، نو راتيښ شو او په خپله ګيره باندې يې د مور د خپو نه ګرد صفا کړو، کله چې يې مور اُوده شوه نو دې هم اُوده شو.

دې چونکه غټ عالم وُ، دَرس به يې کولو، سهر وختي چې کله درس ته راغې نو يو شاګرد ورته وويل: جناب! بيګاه شپه مې په خُوب کې په ډير ښائسته او ښکلې شکل کې اوليدې: چې يو ډير ښکلې تَک شين د ميوو نه ډک باغ دی او ته په کې روان يې، څهل قدمې دې په کې کوله، خو عجيبه دا وه چې ستا په ګيره کې ډيرې ښائسته قيمتې ملغلرې، لعلونه او جواهرات وو، هغې رڼا کوله.

ده ورته وويل چې ګوره، نبي عليه السلام فرمايي: **اَلْجَنَّةُ تَحْتَ اَقْدَامِ الْاُمَّهَاتِ.**

جنت د موراُنو د قدمونو لاندې دی. نو کوم کس چې د مور خدمت کوي الله ﷻ به هغه جنت ته بوځي، نو زما دا معمول دی چې زه هره شپه د مور خدمت کوم، نو دا تا چې زه په کوم ښکلې باغ کې وليدم دا جنت دی، دا زما يقين دی چې الله ﷻ به ما ته جنت راکوي، او دا زما په ګيره کې چې دې کومې قيمتې ملغلرې، ياقوت او جواهرات ليدلي چې هغې رڼا کوله نو دا مې بيګاه د حديث په ظاهر باندې عمل کړي او په دې خپله ګيره مې د مور خپې صفا کړي نو دا د هغې د خپو دُوړه او ګرد دی. (۱)

---

(۱) همدغه شان واقعه د حضرت حسن بصري رحمه الله په باره کې هم نقل ده، دې هم ډير غټ بزرګ او وليُ الله تيرشوې، دده پلار وفات شوې وُ، او مور يې ژوندۍ وه، دده ﷺ اِعادت وُ چې کله به د ماسخوتن لمانځه نه راغې نو د مور سره به ناست وُ او د مور د خوشحالۍ خبرې به يې کولې، د هغې نه روستو به بيا خپلې کمرې له تللو، کله به چې مور ورته وويل: بچيه! ماله خوب راځي اوس ته لاړ شه نو ده به د هغې لاس او خپې ښُکل (چُپ) کړی، مور به ورته دُعا وکړه او بيا به روان شو. يوه شپه دده ميلمانه راغلي وو نو د ماسخوتن لمانځه روستو ورسره ناست وُ، کله چې روستو د مور کمرې ته راغې نو هغه اُوده شوې وه، دې حيران شو چې دا خو د غټ سعادت نه محروم شوم ځکه د مور دُعا او لاس خپې ښُکلول رانه پاتې شو. آخر دا چې ډير په خُفيه او قلاره طريقې سره راغې او خپله ګيره يې د مور خپو سره مَسَه کړه، مور يې هم راويښه نه شوه، دې خپلې کمرې ته راغې، کله چې سهر لمانځه ته راغې، د مانځه نه پس يو شاګرد ورته وايي: اې حسن بصري!

رَأَيْتُ الْبَارِحَةَ كَانَ فِيْ لِحْيَتِكَ الْجَوَاهِرُ وَالْيَوَاقِيْتُ وَالدُّرَرُ مُزَيِّنَةً لِحْيَتَكَ بِهَا.

بيګاه شپه مې په خُوب کې وليدې چې ستا په ګيره کې جواهر، ياقوت او ملغلرې دي او ستا ګيره پرې ډيره مزينه او ښائسته ده، ده ورته وويل: دا خو مې بيګاه شپه د مور خپو سره ګيره لږولې وه، د هغې دُوړه په کې ښورځيدلې وه نو دا دُوړه د الله ﷻ په نزد ياقوت، جواهر او ملغلرې دي.

حضرت عائشه رضی الله عنها فرمايي چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل:

دَخَلْتُ الْجَنَّةَ فَسَمِعْتُ فِيهَا قِرَاءَةً ، فَقُلْتُ : مَنْ هَذَا ؟ قَالُوا : حَارِثَةُ بْنُ النُّعْمَانِ كَذٰلِكُمُ الْبِرُّ وَكَانَ أَبَرَّ النَّاسِ بِأُمِّهِ . (۱)

زه جنت ته داخل شوم ، نو ما هلته د قرآن کريم لوستلو آواز واوريدو ، ما (د فرښتو نه) پوښتنه وکړه : داسړي څوک دی ؟ فرښتو راته وويل : دا حارثة بن نعمان دی، (صحابه کرامو چې دا خبره واوريده نو په زړه کې يې خواهش پيدا شو چې دا معلومه کړي چې حارثه رضي الله عنه د کوم عمل په وجه دا فضيلت حاصل کړي چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم په جنت کې دده د تلاوت آواز اوريدو ؟ نو نبي عليه السلام ددې فضيلت سبب دا بيان کړو چې) دا فضيلت انسان ته د مور او پلار سره په نيکي کولو حاصليږي ، او حارثه بن نعمان رضی الله عنه د خپلې مور سره ډير ښه سلوک کوونکې وُ .

## د والدينو د خدمت په وجه په جنت کې د حضرت موسی عليه السلام سره ملګرتيا

علامه ابن جوزي رحمه الله په خپل کتاب " المنتظم في تاريخ الأمم " او نورو علماؤ په خپلو کتابونو کې يوه واقعه رانقل کړې چې يو کرت حضرت موسی عليه السلام د خپل رب نه سوال وکړو : اِلٰهِيْ أَرِنِيْ جَلِيْسِيْ فِي الْجَنَّةِ . اې الله ! ماته د جنت ملګرې په دُنيا کې اوښايه الله جل جلاله ورته وفرمايل :

اِذْهَبْ إِلَى بَلَدِ كَذَا تَجِدْ رَجُلًا قَصَّابًا فَهُوَ رَفِيْقُكَ فِي الْجَنَّةِ .

فلاني ښار ته لاړ شه هلته به يو قصاب او مي هغه به جنت کې ستا ملګرې وي .

حضرت موسی عليه السلام چې هلته (دُکان ته) ورغې ، او هغه قصاب يې وليدو ، چې اول يې يوه ښه د غوښې څه حصه راپريکړه او ځان سره يې محفوظه کيښوده ، کله چې کورته راروانيده نو حضرت موسی عليه السلام ته يې وويل :

يَا جَمِيْلَ الْوَجْهِ هَلْ لَكَ أَنْ تَكُوْنَ فِيْ ضِيَافَتِيْ ؟

---

(۱) رواه في شرح السنة والبيهقي في شعب الايمان ، وفي رواية قال : نِمْتُ الْبَارِحَةَ فَرَأَيْتُنِيْ فِي الْجَنَّةِ بَدَلَ دَخَلْتُ الْجَنَّةَ . مشكوة باب البر والصلة حديث ۱٦ .

اې د ښائسته نُوراني مخ خاونده ! تاسو ماته د ميلمستيا سعادت راکولې شئ ؟ ( چې دماسره لاړ شی او زما ميلمه شی ؟ ) حضرت موسی عليه السلام ورته وفرمايل : هو .

نو دې ورسره کورته لاړ ، ( دا کس چې کورته ورسيده نو اول يې غوښه ښکلې پخه کړه او د هغې نه يې خوروا وويسته ) کله يې چې خوراک کينبوده نو يوه نوړۍ به يې پخپله خوړه او دوه نوړۍ به يې په پچې ( زنبيل ) کې چاته ورکولې . په دې کې چا ( ددې کور ) دروازه اوټکوله ، دغه ځوان قصاب په منډه ورغې او هغه پچې ( زنبيل ) يې پريخوده .

حضرت موسی عليه السلام چې هغه پچې کې اوکته نو يو ډير بوډا سړې او يوه بوډۍ ښځه يې په کې وليده چې د ډير عمر دلاسه د هغه مرغو بچو غوندې ګرځيدلي وو په کومو چې وينبتان نه وي .

کله چې دې دواړو حضرت موسی عليه السلام وليده نو مُسکي شول ، بيا يې د حضرت موسی عليه السلام د رسالت ګواهي ورکړه او دواړه وفات شو . کله چې دا ځوان راننوت او پچې کې يې اوکته ( چې مور او پلار يې دواړه مړه شوي ) نو د حضرت موسی عليه السلام لاس يې ښُکل کړو او وې ويل :

أَنْتَ مُوْسٰی رَسُوْلُ اللهِ ؟ آيا تاسو حضرت موسی عليه السلام د الله ﷻ رسول ئي ؟

ده ورته وويل ( چې آو ، زه موسی عليه السلام يم ، خو دا راته ووايه ) چې تاته چا دا خبر درکړو چې زه حضرت موسی عليه السلام يم ؟ ( او دا په پچې کې څوک دي ؟ ) دې قصاب ورته وويل چې دا په پچې کې دواړه زما مور او پلار دي ، دوی ډير کمزوري شوي نو ما ځکه په پچې کې اچولي ، او زه تر هغه وخته پورې خوراک او څکاک نه کوم ترڅو پورې چې مې دوی ته نه وي ورکړی ، او دوی دواړو به د الله ﷻ نه دا سوال کولو چې يا الله ! مونږ ته تر هغه وخته پورې مرګ مه راوله ترڅو پورې چې مونږ حضرت موسی عليه السلام نه وي ليدلې .

کله چې ما دوی وليده چې اوس وفات شوي نو ماته پته ولږيده چې ته حضرت موسی عليه السلام يې ( ځکه ددوی سوال قبول شو او تاسو سره يې ملاقات اوشو ) . حضرت موسی عليه السلام ورنه پوښتنه وکړه :

رَأَيْتُ أُمَّكَ تُحَرِّكُ شَفَتَيْهَا .ما ستا مور وليده چې شونډې يې خوزولې (نو دا يې څه ويل؟) ده ورته وويل چې : کله به ما ددې خدمت کولو او دې ته به مې خوراک ورکولو نو دې به ماته دا دُعا کوله :

اَللّٰهُمَّ اجْعَلْهُ جَلِيْسَ مُوْسٰى فِي الْجَنَّةِ . اې الله ! زمونږ دا بچې په جنت کې د حضرت موسى عليه السلام ملګرې کړې .

حضرت موسى عليه السلام دې ځوان ته وويل : أَبْشِرْ بِذٰلِكَ . ته په دې زيرې قبول کړه (چې الله ﷻ ستا د مور دُعا قبوله کړې او ماته يې دا خبر راکړې چې ته به په جنت کې زما ملګرې يې . (۱)

# د پلار سره د احسان په وجه جنت حاصليدل

علامه قرطبي رحمه الله په '' التذکرة '' کې ذکر کړې چې د قيامت په ورځ کله د انسان اعمال او تللې شي نو دده د تلې دواړه طرفونه ( چابړې ) به برابر وي ، الله تعالى به ورته اوفرمايي چې ته نه جنتي يې او نه دوزخي ، په دې وخت کې به يوه فرښته دده د بدۍ په چابړې کې يوه پرچه کيدي چې په هغې کې به د مور او پلار د صدمې او تکليف آواز '' اُف ''. ليکلې شوې وي ( چې په دې سره به دده د بدۍ طرف دروند شي ) نو دده د پاره به د جهنم فيصله اوشي .

دې به الله ﷻ ته خواست وکړي چې يا الله ! ما د دوزخ نه بچ کړه . الله تعالى به ورته اوفرمايي چې اې د مور او پلار نافرمانه ! ته په څه بُنياد د جهنم نه د خلاصې خواست کوې؟ دې به ووايي : اې الله ! زه دوزخ ته تلونکې يم ، ما د پاره خلاصې نشته ځکه زه په دُنيا کې د مور او پلار نافرمانه ووم ، خو اې الله ! زه دا هم وينم چې زما پلار (هم د خپلو ګناهونو په وجه ) د دوزخ په طرف روان دى . نو زه غواړم چې زما پلار جنت ته لاړ شي ، او زما عذاب دې په بدله کې دوچند کړې شي ، په دې خبره به الله ﷻ اوخاندي (كَمَا يَلِيْقُ بِشَانِهٖ) او بيا

(۱) المنتظم في تاريخ الامم لابن جوزي ، شرح شرعة الاسلام ص ۴۸۰ ، نزهة المجالس ج۱ ص ۲۶۶ باب برّالوالدين .

به او فرمايي چې ته خو په دُنيا کې د دوی نافرمانه وې خو په آخرت کې دې د پلار سره نيک سلوک وکړو، نو لاړ شه خپل پلار د لاس نه ونيسه او دواړه جنت ته داخل شئ. (۱)

## د والدينو سره د احسان په وجه د مصيبتونو نه نجات

کوم کس چې د مور او پلار خدمت کوي، د دوی سره احسان او ښيګړه کوي نو الله ﷻ دې انسان ته په دُنيا هم د مصيبتونو او تکليفونو نه نجات ورکوي.

امام بخاري او امام مسلم رحمهما الله په خپلو کتابونو کې د نبي کريم صلى الله عليه وسلم هغه حديثِ مبارکه رانقل کړی په کوم کې چې رسول الله ﷺ د مخکيني امتونو د درې کسانو واقعه بيان کړې.

حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنهما فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل:

بَيْنَمَا ثَلَاثَةُ نَفَرٍ يَتَمَاشَوْنَ أَخَذَهُمُ الْمَطَرُ فَمَالُوْا إِلَى غَارٍ فِي الْجَبَلِ فَانْحَطَّتْ عَلَى فَمِ غَارِهِمْ صَخْرَةٌ مِّنَ الْجَبَلِ فَأَطْبَقَتْ عَلَيْهِمْ فَقَالَ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ: اُنْظُرُوْا أَعْمَالًا عَمِلْتُمُوْهَا لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ صَالِحَةً فَادْعُوْا اللهَ بِهَا لَعَلَّهُ يُفَرِّجُهَا. فَقَالَ أَحَدُهُمْ: اَللّٰهُمَّ إِنَّهُ كَانَ لِيْ وَالِدَانِ شَيْخَانِ كَبِيْرَانِ وَلِيْ صِبْيَةٌ صِغَارٌ وَكُنْتُ أَرْعَى فَإِذَا رُحْتُ عَلَيْهِمْ فَحَلَبْتُ بَدَأْتُ بِوَالِدَيَّ أَسْقِيْهِمَا قَبْلَ وَلَدِيْ وَإِنَّهُ نَأَتْ بِيَ الشَّجَرُ فَمَا أَتَيْتُ حَتَّى أَمْسَيْتُ فَوَجَدْتُهُمَا قَدْ نَامَا فَحَلَبْتُ كَمَا كُنْتُ أَحْلُبُ فَجِئْتُ بِالْحِلَابِ فَقُمْتُ عِنْدَ رُؤُوْسِهِمَا أَكْرَهُ أَنْ أُوْقِظَهُمَا مِنْ نَوْمِهِمَا وَأَكْرَهُ أَنْ أَبْدَأَ بِالصِّبْيَةِ (قَبْلَهُمَا) وَالصِّبْيَةُ يَتَضَاغَوْنَ عِنْدَ قَدَمِيْ فَلَمْ يَزَلْ ذٰلِكَ دَأْبِيْ وَدَأْبُهُمْ حَتَّى طَلَعَ الْفَجْرُ فَإِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ أَنِّيْ فَعَلْتُ ذٰلِكَ ابْتِغَاءَ وَجْهِكَ فَافْرُجْ لَنَا فُرْجَةً نَرَى مِنْهُ السَّمَاءَ فَفَرَجَ اللهُ عَزَّوَجَلَّ لَهُمْ يَرَوْنَ مِنْهُ السَّمَاءَ. قُلْتُ: فَذَكَرَ الْحَدِيْثَ. (۲)

يو ځل درې کسان چيرته (په سفر) روان وو، په لاره کې سخت باران راګير کړه، د باران نه د بچ کيدو د پاره هغوی د يو غر په غار کې ننوته، په دې کې د غر نه يو غټ کاڼړې

(۱) التذكرة للقرطبي ج۱ ص ۳۱۹، زرقاني ج۲ ص ۳۱۹، جنت كے حسين مناظر

(۲) رواه البخاري في الادب ۳، ومسلم في الذكر والدعاء ۲۷۴۳.

را وغورځيده او د غار په خوله کې راپرېوت چې په دې سره په دوی د غار خوله مکمل بنده شوه (کله چې بهر ته د راتلو لاره بنده شوه) نو دوی درې واړو يو بل ته وويل چې اوس تاسو په خپلو اعمالو نظر واچوئ او کوم نيک اعمال چې تاسو خالص د الله ﷻ د رضا د پاره کړي وي، د هغې اعمالو په ذريعه د الله ﷻ نه دعا وغواړئ، شايد چې الله ﷻ زمونږ د نجات او خلاصي لار پرانيزي (او دا ګټ د دې غار د خولې نه لرې کړي).

نو په دوی کې يو کس ووېل: اې الله! (ته ښه پوهېږې چې) ځما مور او پلار ډېر بوډا ګان وو، او زما ځو واړه بچي هم وو، ما به چيلۍ څرولې، د دې د پاره چې د (شودو په ذريعه) د هغوی ټولو د خوراک انتظام وکړې شم. کله به چې ما ښام کور ته راغلم، او چيلۍ به مې را ولوشلې نو د خوراک شروع به مې د بچو نه مخکې اول په مور او پلار کوله.

يوه ورځ داسې اتفاق اوشو چې د چيلۍ په څرولو کې زه ډېر لرې لاړم، کله چې ډېر ناوخته راغلم نو مور او پلار مې اوده شوي وو، نو د ما د خپل معمول مطابق چيلۍ راولوشلې، د شودو ډک لوخې مې راوړو او د مور او پلار سر ته ودريدم، ما خپل مور او پلار راويښول هم بد ګڼل او خپلو بچو ته مې مخکې ورکول هم بد ګڼل، حالانکه زما بچي د ولږې د وجې نه زما په خپو کې لوغړيدل او ژړل يې (خو ليکن ما ته د مور او پلار حق دومره لوي معلوميده چې اول مې خپلو بچو ته شوده ورکول نه غوښته (۱).) زه د دوی سر ته ولاړ

---

(۱) دې سرې چې خپلو بچو ته شوده اول نه ورکول نو دا ځکه چې کيدې شي د هغوی په شريعت کې د والدينو نفقه د بچو په نفقه مقدمه وه، يا بعضې علماء وايي چې کيدې شي د ضرورت په مقدار يې بچو ته ورکړي وو خو بچو يې په هغې صبر نه کولو او نور يې غوښته (مظاهر حق شرح مشکوة باب البر والصلة الفصل الثالث،

او همدا قول اشرف علي تهانوي رحمه الله هم ذکر کړې چې دا بچي يې اوږي نه وو خو د بچو چونکه دا ژړا عادت وي نو ځکه يې ژړل، او د دې خبرې تائيد د دينه کيږي چې د وړوکي بچي حق په پلار مقدم دې، لکه په درمختار کې ذکر دي: وَلَوْ لَهُ أَبٌ وَطِفْلٌ فَالطِّفْلُ أَحَقُّ بِهِ. وَقِيلَ (بِصِيغَةِ التَّمْرِيضِ) يُقَسِّمُهُمَا فِيهِمَا. که چيرته د چا پلار او ځوي دواړه موجود وي نو د خرچ په اعتبار سره ځوي د پلار نه زيات حق دار دی. او بعضې علماؤ ويلي چې په دواړو دې تقسيم کړي. الدر المختار باب النفقة، جنتي کالې ص ۸۵۷.

يا کيدې شي د دې سړي دا خپله نظريه وه چې د والدينو حق يې مقدم ګڼل، اګر چې شريعت دا اجازت کړې چې بچو ته هم خوراک مخکې ورکولې شې.

ووم، د شودو لوخي راسره وُ، دوی اُوده وو، تر دې چې سهر شو (او دوی راپاڅيده، هغوی ته مې شوده ورکړه او بيا مې روستو په خپلو بچو اوڅکل).

نو اې الله! تا ته معلومه ده چې ما دا کار خالصه ستا د رضا او خوشحالۍ د پاره کړی، نو زه تا ته دغه نيک عمل وسيله کوم چې ته دا کاڼې دومره اخوا کړه چې مونږ آسمان اوګورو. نو الله جل جلاله دده دُعا قبوله کړه او هغه کاڼې دومره اخوا شو چې دوی آسمان وليده.

**نوټ**: چونکه دا اُوږد حديث دی ما صرف دا لږه حصه درته بيان کړه کومه چې ددې موضوع سره تړلې وه. دغه شان دې نورو دوه کسانو هم خپل خپل نيک اعمال الله ﷻ ته وسيله کړه او د کاڼي لرې کيدو دُعا به يې کوله، الله ﷻ د ټولو دُعاګانې قبولې کړې، د غار د خُولې نه هغه ګټ لرې شو، او دوی درې واړه روغ رمټ ورنه راووت.

**فائده**: ددې حديث نه دا معلومه شوه چې د والدينو خدمت کول، دوی ته په خپل اولاد باندې ترجيح ورکول ډير فضيلت لري، او بيا دا عمل الله ﷻ ته وسيله کول هم د انسان د پاره د مصيبتونو او تکليفونو نه د نجات ذريعه ده. (۱)

## د الله ﷻ رضا د والدينو په خوشحاله ساتلو کې ده

نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايي:

رِضَا اللهِ فِيْ رِضَا الْوَالِدِ وَسَخَطُ اللهِ فِيْ سَخَطِ الْوَالِدِ. (۲)

د الله ﷻ رضامندي او خوشحالي د پلار په خوشحالۍ کې ده او د الله ﷻ ناراضګي او خفګان د پلار په ناراضګۍ او خفګان کې دی.

(۱) مظاهر حق شرح مشكوة باب البرّ والصلة الفصل الثالث ص ۷۵.

(۲) رواه الترمذي الحديث ۱۸۹۹، والحاكم ۴\۱۵۲، والهيثمي في المجمع ۸\ ۱۳٦، والزبيدي في الاتحاف ۸\ ۳۳۰، وقال الحاكم صحيح على شرط مسلم، ورواه الطبراني الاّ انّه قال (فِيْ رِضَا الْوَالِدَيْنِ). مشكوة باب البرّ والصلة الفصل الثاني حديث ۱۷. په يو روايت کې داسې دي: رِضَا اللهِ فِيْ رِضَا الْوَالِدَيْنِ وَسَخَطُ اللهِ فِيْ سَخَطِ الْوَالِدَيْنِ. رواه الترمذي من حديث عبدالله بن عمرو بن العاص، وابن حبان والحاكم وقال صحيح الاسناد على شرط مسلم، منذري، الكبائر ص ۴۵.

يعنی که چيرته يو سړی الله ﷻ راضي کول غواړي نو دء له په کاردي چې د والدينو خدمت کوي او خوشحاله يې ساتي نو الله رب العزت به هم ددء نه خوشحاله وي ، او کوم کس چې والدين خفه کوي نو الله ﷻ به هم ددء نه ناراضه وي .

## دوالدينو اَدب کول

زمونږ په شريعت کې د والدينو د اَدب هم ډير لحاظ ساتل شوي .

۱ . حضرت ابوطفيل رضی الله عنه فرمايي :

رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُقَسِّمُ لَحْمًا بِالْجِعِرَّانَةِ إِذْ أَقْبَلَتْ اِمْرَأَةٌ حَتَّى دَنَتْ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَبَسَطَ لَهَا رِدَاءَهُ فَجَلَسَتْ عَلَيْهِ فَقُلْتُ : مَنْ هِيَ ؟ فَقَالُوْا هِيَ أُمُّهُ الَّتِيْ أَرْضَعَتْهُ (۱)

ما نبي کريم صلی الله عليه وسلم په جعرانه مقام کې اوليده چې غوښه يې تقسيموله ، ناڅاپه يوه ښځه راغله ، تردې چې نبي عليه السلام ته را ورسيده ، نو حضور صلی الله عليه وسلم هغې د پاره خپل څادر خورکړو ، هغه په هغې څادر کيناسته (کله چې ما د پيغمبر عليه السلام دا حُسنِ سلوک او اَدب ددې ښځې سره اوليده ) نو ما د خلقو نه پوښتنه وکړه چې دا ښځه څوک ده ؟ (چې پيغمبر عليه السلام يې دومره عزت وکړو ) نو خلقو راته ووېل چې دا خو د پيغمبر عليه السلام رضاعي مور (حليمه بي بي ) ده کومې چې دوی ﷺ ته شوده (پی ) ورکړي دي .

۲ . يو کرَت حضرت ابوهريرة رضی الله عنه دوه سړي وليده نو د يو نه يې پوښتنه وکړه :

مَا هَذَا مِنْكَ ؟ دا ستا څه دی ؟ هغه ورته ووېل : أَبِيْ . دا زما پلار دی .

نو ده ورته وفرمايل : لَاتُسَمِّهِ بِإِسْمِهِ . وَلَاتَمْشِ أَمَامَهُ . وَلَاتَجْلِسْ قَبْلَهُ . (۲)

ده ته نوم مه اخله ، ددء نه مخکې مه ځه او (مجلس کې ) ددء نه مخکې مه کينه .

---

(۱) رواه ابوداود باب برّالوالدين حديث ۵۱۳۷ ، مشكوة باب البرّ والصلة الفصل الثاني حديث ۲۷ .

(۲) الادب المفرد باب لايسمي الرجل اباه ولايجلس قبله ولايمشي امامه ص ۲۲ .

# امام اعظم ابو حنيفه رحمه الله او د مور اَدب كول

د امام اعظم ابو حنيفه رحمه الله په وخت كې دوه علماء وو ، ديو نوم زرعه قاص ؤ ، او د بل نوم عمربن زر ؤ ، دوى چونكه مشران علماء وو ، ددې وجې نه د امام اعظم ابو حنيفه رحمه الله بوډۍ مور ته به چې څه مسئله راپيښه شوه نو دې به چې ددې دوه مشرانو علماو نه پوښتنه وكړه نو بيا به يې زړه مطمئن شو .

دې به امام صاحب ته وويل : ما فلانكي عالم ته بوځه چې زه ورنه د مسئلې پوښتنه وكړم، نو امام صاحب به دا په اُوښ سوره كړه ، او په خپله به يې د اُوښ مهار اونيوه ، او پياده به ورسره روان ؤ ، خلقو به چې دا وليده نو حيران به شو چې دا په اُوښ څوک دى چې امام صاحب پياده ورسره روان دى ؟ چونكه په دغه ورځو كې امام صاحب درس كولو، نو په زرهاو شاګردان يې وو، هغوى به په لاره كې ورته ادبًا ولاړ وو او امام صاحب به په خاموشۍ سره تيريده .

كله به چې امام صاحب د هغه عالم كورته ورسيده ، دروازه به يې ورته اوټكوله ، هغه به راووت ، ده به ورته وويل چې : زما بوډۍ مور راغلې ده او د تاسو نه ديوې مسئلې پوښتنه كوي، دير كرت به داسې اوشو چې دې مور به يې ورنه د مسئلې پوښتنه وكړه ، هغوى ته به ددې مسئلې جواب نه و معلوم ، نو دوى به د امام صاحب نه پوښتنه وكړه ، امام صاحب به په قلاره ورته جواب وكړو ( چې دده مور يې وانه وري ) ، دې علماو به بيا په زوره باندې دده مور ته جواب وركړو ، كله به چې دې دا جواب ددوى د خُولې نه واوريده نو زړه به يې مطمئن شو . د امام اعظم ابو حنيفه رحمه الله په زړه كې د مور دومره قدر او عزت ؤ چې ټول عُمر يې د مور سره د اتكليف برداشت كول ، خو هيڅ كله يې مور ته دا نه دي ويلي چې مورې! ته چې كومو علماو ته د مسئلې معلومولو د پاره ورځې هغوى خو د مانه ددې پوښتنه كوي .

دا هغه تواضع ، عاجزي او د مور اَدب ؤ چې ددې په وجه دده نه امامِ اعظم ( لوي امام ) جوړ شوي ؤ ، (۱)

(۱) القصاص المذكرين ۱ / ۳۱۰ ، تحذير الخواص ۱ / ۲۳۱ ، تاريخ بغداد ۱۳ / ۳۶۶ ، الاسرار المرفوعة ۱ / ۷۱ ، الطبقات السنية في تراجم الحنفية ۱ / ۳٦ . اهل دل كے تڑپا دينے والے واقعات ج۴ ص ۲۰۲ .

# فضل بن يحى البرمكيؒ او د پلار اَدب کول

د فضل بن يحى البرمكي رحمه الله په باره کې نقل دي چې دې د خپل پلار ډېر فرمانبردار او خدمتگار وُ ، يو کرت دې د خپل پلار سره يوځای دواړه په جيل (محبَس) کې قيديان شو ، د ژمي موسم وُ ، سخته يخني وه ، دده پلار به په کور کې په گرمو اُوبو اودس کولو ، چونکه جيل ته دننه لرگي راوړل بند وو چې اُوبه يې پرې گرمې کړې وې .

په جيل کې د رڼا د پاره يوه ډيوه لګېدلې وه ، کله چې يې دا پلار اُوده شو نو دا فضل بن يحى راپاڅيد ، په يو لوښي کې يې اُوبه راواخيستې ، او د ډيوې د پاسه يې اونيوې ، ترد سهره پورې ډيوې ته ولاړ وُ . کله چې سهر شو پلار ته يې گرمې اُوبه ورکړې نو هغه پرې اودس وکړو .

د جيل خانې مشر ته پَته ولګېده چې دې د پلار دپاره اُوبه په ډيوه گرموي نو د ډيوې پابندي يې پرې هم اولګوله .

نو ده به بيا داسې کار کوُلو چې په يو لوښي کې به يې اُوبه واچولې ، او د خپلې خېټې سره به يې دا لوښې تر سهره پورې نيولې وُ ، چې په دې سره به دا اُوبه څه اندازه ترمې شوې او بيا به يې خپل پلار ته د اودس د پاره ورکړې . (۱)

# د مور د خدمت په وجه مُستجَابُ الدّعوات کيدل

کوم کس چې د والدينو خدمت کوي الله جل جلاله د داسې کس دُعاګانې هم قبلوي .

# د اُويس قرني رحمه الله واقعه

اُويس قرني رحمه الله په يمن کې اوسيده ، دده يوه مور وه چې د هغې د خدمت به يې کولو ، د همدې مور د خدمت په وجه د نبي کريم صلى الله عليه وسلم مجلس ته د حاضريدو موقع ورته ملاوُ نه شوه ، حالانکه صحابي جوړيدل ډېر لوي شَرف دی ، ځکه که د ټولې دُنيا اولياءُالله او تابعين راجمع شي نو د اَدنى صحابي مرتبې ته نشي رسيدی .

خو دې د مور د خدمت په وجه پاتې شوې ؤ ، نو نبي كريم صلى الله عليه وسلم صحابه كرامو ته دده ذكر وكړو چې په يمن كې داسې يو كس دی چې د مور د خدمت په وجه پاتې شوې ، نو تاسو كې چې څوک دده سره يو ځای شئ نو د هغه نه ځان د پاره دُعا اوغواړئ (ځكه هغه الله ﷻ د مور د خدمت په وجه مُسْتَجَابُ الدَّعوَات كړځولي).

او رسول الله صلى الله عليه وسلم ده ته د مور د خدمت په وجه خَيْرُ التَّابِعِيْن ويلي . (۱)

صاحِب د مشكوة په آخر د كتاب كې د اُويس قرني رحمه الله په حالاتو كې يو حديث راوړی : حضرت عمر ﷺ فرمايي چې نبي كريم صلى الله عليه وسلم فرمايلي :

إِنَّ رَجُلًا يَأْتِيكُمْ مِنَ الْيَمَنِ يُقَالُ لَهُ أُوَيْس لَا يَدَعُ بِالْيَمَنِ غَيْرَ أُمٍّ لَهُ . قَدْ كَانَ بِهِ بَيَاضٌ فَدَعَا اللهَ فَأَذْهَبَهُ إِلَّا مَوْضِعَ الدِّيْنَارِ أَوِ الدِّرْهَمِ فَمَنْ لَقِيَهُ مِنْكُمْ فَلْيَسْتَغْفِرْ لَكُمْ . (۲)

د يمن نه به يو كس درته راځي چې نوم يې اُويس دی ، په يمن كې يې مور ده ، صرف د هغې د خدمت په وجه ماته نه شي راتلې (نښه يې داده چې په ده د برګي (برص) مرض دی ، د الله ﷻ نه يې د ځان د پاره دُعا اوغوښته ، الله ﷻ دده مرض ختم كړو مګر صرف د يو دينار يا يو درهم په اندازه ځای يې په وجود كې لوس هم سپين دی .

نو (اې صحابه ؤ) په تاسو كې چې څوک هم دده سره ملاقات وكړی نو د ځان د پاره ورنه د مغفرت دعا اوغواړئ (يعنې هغه ته حكم وكړئ چې تاسو د پاره د مغفرت دُعا اوغواړي ، ځكه هغه الله ﷻ د مور د خدمت په وجه مُسْتَجَابُ الدَّعوَات كړځولی .

**فائده** : حضرت اويس قرني رحمه الله ته چې الله ﷻ دومره فضيلت وركړې ؤ چې نبي عليه السلام صحابه كرامو ته فرمايي : فَمُرُوْهُ فَلْيَسْتَغْفِرْ لَكُمْ ده ته حكم وكړئ چې تاسو له د الله ﷻ نه مغفرت اوغواړي . نو دا صرف د خدمت په وجه ؤ .

---

(۱) نبي عليه السلام فرمايي : إِنَّ خَيْرَ التَّابِعِيْنَ رَجُلٌ يُقَالُ لَهُ أُوَيْس ، وَلَهُ وَالِدَةٌ وَكَانَ بِهِ بَيَاضٌ ، فَمُرُوْهُ فَلْيَسْتَغْفِرْ لَكُمْ . مشكوة باب ذكر اليمن والشام وذكر اويس القرني ج ۲ ص ۵۸۲ الفصل الثالث .

(۲) مشكوة باب ذكر اليمن والشام وذكر اويس القرني ج ۲ ص ۵۸۱ الفصل الثالث .

شيخ عبدالحق محدّث دهلوي رحمه الله په "اشعة اللمعات" شرحه د مشكوة كې د
دې حديث لاندې د اُويس قرني رحمه الله ډير واقعات ذكر كړي: چې حضرت عمر ﷺ به
هر كال د حج په موسم كې د يمن د خلقو نه پوښتنه كوله چې په تاسو كې د اويس قرني په نوم
څوک شته؟ (د دې د پاره چې د هغه نه د ځان د پاره دُعا اوغواړم) پوره لس (۱۰) كاله
يې انتظار وكړو او د خلقو نه به يې د دې باره كې پوښتنه كوله.
يو كرت د اويس قرني رحمه الله په خپلوانو كې يو كس حج ته راغلې ؤ، كله چې حضرت
عمر ﷺ د يمن د خلقو نه د دې باره كې پوښتنه وكړه نو دې كس حضرت عمر ﷺ ته وويل:
اې عمره! د اويس قرني په نوم زما په خپلوانو كې يو كس شته، خو هغه د دې لائق نه دى
څو مره چې تاسو د هغه متعلق په ډير اهتمام سره پوښتنه كوئ، بلكه هغه خو يو ديوانه
سړې دى، خپل اوښان په يو دشته كې څروي، حضرت عمر ﷺ ورنه پوره اَدرس واخيست،
دې او حضرت علي ﷺ دواړه په سورلۍ باندې وَر روان شو، كله چې هلته وراورسيده نو
هغه يې په يوه دشته كې وليده چې ډير په اطمينان او سكون سره يې مونځ كولو.
كله چې د لمانځه نه فارغ شو، دوى ورنه د نوم پوښتنه وكړه، بيا يې هغه نَښه اوكته
كومه چې نبي كريم صلى الله عليه وسلم دوى ته خودلې وه چې په چَپ طرف به يې د يو درهم
په مقدار د برګي مرض پاتې وي. كله يې چې هغه وليده نو وې پيژندو، ښُكل يې كړه، او د
رسول الله صلى الله عليه وسلم سلام يې ورته اورسول، او د خپلو ځانونو د پاره يې ورنه د
دُعا مطالبه وكړه، هغه ورته دُعا وكړه، بيا دوى دواړه واپس ورنه راروان شو. (۱)

## د والدينو سره ښه سلوک د عُمر د بركت او د رزق د فراخۍ سبب دى

نبي عليه السلام فرمايي: لَا يَزِيْدُ الْعُمُرَ اِلَّا الْبِرّ. (۲)
د انسان په عُمر كې زيادت كوونكې (بركت اچوونكې) شى صرف د والدينو سره
احسان او ښيګړه كول دي.

(۱) اشعة اللمعات شرح مشكوة ج۴ ص ۷۵۲ ط المكتبة الحبيبية كويټه.
(۲) رواه الترمذي الحديث ۲۱۳۹ وقال حديث حسنٌ، وابن ماجه ۱۹\ ۳۰۲۲، والحاكم ۱\۴۹۳.

په يوبل حديث کې راځي :

مَنْ سَرَّهُ أَنْ يُمَدَّ لَهُ فِي عُمْرِهِ وَيُزَادَ فِي رِزْقِهِ فَلْيَبَرَّ وَالِدَيْهِ وَلْيَصِلْ رَحِمَهُ . (۱)

څوک چې دا غواړي چې دده په عُمر کې دې اوږدوالې (برکت) راشي او دده په رزق کې دې زيادت اوشي نو دې دې د مور او پلار سره ښيګړه کوي او د خپلو رشته دارو سره دې ښه سلوک کوي .

**نوټ** : د عُمر د زيادت نه مراد برکت دی چې الله ﷻ دې کس په عُمر کې داسې برکت واچوي چې ده ته به د ډير عبادت توفيق ملاوېږي ، د زړه نُورانيت ، پاکيزګي به ورته حاصليږي ، او په دُنيا کې به د اطمينان او سکون ژوند ورته نصيبه کيږي .

يا ددې نه نيک اولاد مراد دی چې دده د مرګ نه روستو به هم دده د پاره دُعاګانې غواړي . (۲)

## مور او پلار ته د محبت او احترام په نظر کولو سره د يو مقبول نفلي حج ثواب

نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايي :

مَا مِنْ وَلَدٍ بَارٍّ يَنْظُرُ إِلَى وَالِدَيْهِ نَظْرَةَ رَحْمَةٍ إِلَّا كَتَبَ اللهُ لَهُ بِكُلِّ نَظْرَةٍ حَجَّةً مَبْرُورَةً . قَالَ وَإِنْ نَظَرَ كُلَّ يَوْمٍ مِائَةَ مَرَّةٍ ؟ قَالَ نَعَمْ . اَللهُ أَكْبَرُ وَأَطْيَبُ . (۳)

کوم نيک بچې چې خپل مور او پلار ته د محبت او احترام په نظر سره اوګوري نو الله ﷻ ده ته ددې کتلو په عوض کې د يو مقبول نفلي حج ثواب ليکي ، صحابه کرامو عرض وکړو

---

(۱) رواه احمد ۲۶٦\۳ ورجاله رجال الصحيح . ، والمنذري ۳۱۷\۳ ، والهيثمي ۱۳٦\۸ .

(۲) مظاهر حق شرح مشکوة باب البر والصلة ص ۵۰ . يا دعُمر د زيادت دا مطلب دې چې کله دده عمر مثلا څلويښت کاله ليکلې شو ، نو الله ﷻ ته خو دا د مخکې نه معلومه وه چې دا سړي به د والدينو او رشته دارو سره احسان کوي چې د هغې په سبب دده په عُمر کې مثلا ديرش کاله نوره اضافه اوشوه ، نو ځکه يې عُمر د اول نه اويا کاله اوليکلې شي . نو دا بڑالوالدين د عُمر د زيادت ظاهري سبب شو . دعُمر د زيادت دا مطلب مو ځکه بيان کړو چې د قرآن کريم صريح آيت موجود دې ، الله تعالی فرمايي : ﴿ فَإِذَا جَاءَ أَجَلُهُمْ لَا يَسْتَأْخِرُونَ سَاعَةً وَلَا يَسْتَقْدِمُونَ . الاعراف آيت ۳۴ ﴾ ترجمه : کله چې د دوی نيټه راشي نو بيا يو ساعت نه روستو کيږي او نه مخکې کيږي .

(۳) مشکوة باب البرّ والصلة حديث ۳۴ .

(اې د الله رسوله !) اګر که دا بچې د ورځې سل کرَت مور پلار ته اوګوري ؟ (نو بيا به هم الله ﷻ په هر کرَت کتلو د يو مقبول حج ثواب ورکوي ؟)

نبي کريم صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل : هو . الله تعالى ډير لوي او ډير پاکيزه دى (يعنى د الله تعالى د رحمت او مهربانۍ نه دا خبره څه بعيده نه ده چې په هر نظر سره انسان ته د يو مقبول نفلي حج ثواب ورکړي ، بلکه که الله تعالى اوغواړي نو په هر نظر سره د دې نه هم ډير اجر ورکولې شي) . سبحان الله

## والدينو ته کتل عبادت دی

مور او پلار ته د محبت او احترام په نظر سره کتل عبادت دی . حضرت عبدالله بن مسعود رضى الله عنه فرمايي :

اَلنَّظَرُ اِلَى الْوَالِدِ عِبَادَةٌ ، وَالنَّظَرُ اِلَى الْكَعْبَةِ عِبَادَةٌ . وَالنَّظَرُ اِلَى الْمُصْحَفِ عِبَادَةٌ ، وَالنَّظَرُ اِلَى أَخِيْكَ حُبًّا لَهُ فِي اللهِ عِبَادَةٌ . (۱)

پلار ته (د محبت او احترام په نظر سره) کتل عبادت دی ، خانه کعبې ته کتل عبادت دی ، قرآن مجيد ته کتل عبادت دی او کوم مسلمان ورور سره چې ته د الله د رضا د پاره محبت کوې هغه کتل هم عبادت دی .

## د والدينو د وفات نه روستو د هغوی سره ښيګړه کول

د والدينو په ژوند کې خو د دوی سره ښيګړه او اِحسان په هر بچي ضروري دی ، ليکن د دوی د وفات پس هم شريعت داسې څه اعمال خودلي چې د هغې په کولو سره انسان د والدينو سره د حُسنِ سلوک او ښيګړې سلسله جاري ساتلې شي .

حضرت ابواُسيد ساعدي ﷺ فرمايي چې يوه ورځ مونږ صحابه کرام د پيغمبر عليه السلام سره ناست وو ، په دې کې ناڅاپه د (انصارو د قبيلې) بنوسَلِمَه يو کس راغې او د پيغمبر عليه السلام نه يې پوښتنه وکړه :

يَارَسُوْلَ الله ! هَلْ بَقِيَ مِنْ بِرِّ أَبَوَيَّ شَيْءٌ أَبَرُّهُمَا بِهِ بَعْدَ مَوْتِهِمَا ؟

اې د الله ﷺ رسوله ! آيا زما د مور او پلار د حُسنِ سلوک څه خصه لا تر او سه پاتې ده چې زه د هغوى د وفات نه پس هغه پوره کړم ؟

پيغمبر عليه السلام ورته وفرمايل :

نَعَمْ ، اَلصَّلٰوةُ عَلَيْهِمَا وَالْاِسْتِغْفَارُ لَهُمَا وَاِنْفَاذُ عَهْدِهِمَا مِنْ بَعْدِهِمَا وَصِلَةُ الرَّحِمِ الَّتِيْ لَاتُوْصَلُ اِلَّا بِهِمَا وَاِكْرَامُ صَدِيْقِهِمَا . (۱)

آو ، د هغوى حق کې دُعا کول (چې په دې کې د جنازې لمونځ هم داخل دى) د هغوى د پاره استغفار کول ، د هغوى د مرګ نه پس د هغوى وصيت پوره کول ، د هغوى هغه خپلوانو سره ښه سلوک کول چې د هغوى سره حُسنِ سلوک خالصه د والدينو د خوشحاليدو د پاره وي ، او د والدينو د دوستانو عزت کول . (دا ټول هغه صورتونه دي چې د دې په وجه انسان د والدينو سره د ښه سلوک او ښيګړې سلسله د دوى د مرګ نه پس هم جاري ساتلې شي) .

## د پلار د وفات نه پس د هغه د دوستانو سره ښه سلوک کول

۱ . په مسلم شريف کې ذکر دي چې کله به حضرت عبدالله بن عُمر رضی الله عنهما مکې مکرمې ته تللو نو د ده يو خَرۇ چې کله به د اُوښ د سورلۍ نه ستړې شو نو په هغې به (د استراحت د پاره) سوريده ، او د ده يو پټکې ۇ چې په هغې به يې خپل سَر تړلو (يعنی وهلو به يې) .

يوه ورځ دې په دې خَر سور ۇ (او د مکې په طرف روان ۇ) په لاره کې په ده باندې يو اعرابي (بانډه چي) تير شو ، ده ورنه پوښتنه وکړه :

آَلَسْتَ ابْنَ فُلَانِ بْنِ فُلَانٍ ؟ آيا ته د فلان بن فلان ځوي نه ئي؟

هغه ورته وويل چې هو (زه د هغه ځوي يم) ، نو ابن عمر ﷺ هغه ته دا خَر او پګړۍ دواړه ورکړه ، او ورته وې ويل چې : په دې خَر سور شه او په دې پټکي خپل سَر او تړه (يعنی په سَر يې کړه) .

د حضرت عبدالله بن عمر ﷺ بعضو ملګرو ده ته وويل :

(۱) رواه ابوداؤد وابن ماجه ، مشکوة ج۲ باب البرّ والصلة الفصل الثاني حديث ۲٦ .

غَفَرَاللهُ لَکَ. اې ابن عمره ! الله ﷻ دې تاته مغفرت وکړي ، تا خو دې اعرابي ته خپل هغه خَر هم ورکړو په کوم چې به دې سوَرلي کوله او هغه پټکې دې هم ورکړو په کوم چې به دې سَر تړلو ، (حالانکه دا خو اعرابي او بانډيچي دی او دوی خو په معمولي شی هم خوشحالیږي نو دومره قيمتي شيان دې ولې ورکړه ؟)

نو ابن عمر ﷺ ورته او فرمايل : ما د پيغمبر عليه السلام نه اوريدلي دي چې فرمايل يې:

إِنَّ مِنْ أَبَرِّ الْبِرِّ صِلَةُ الرَّجُلِ أَهْلَ وُدِّ أَبِيْهِ بَعْدَ أَنْ يُوَلِّيَ.

بيشکه د پلار د وفات نه پس د هغه سره بهترينه نيکي (او ښه سلوک) دا دې چې سړې د هغه خلقو سره صله رحمي وکړي د کومو خلقو سره چې د ده د پلار محبت او تعلق وُ .

بيا ابن عمر ﷺ ووېل : وَإِنَّ أَبَاهُ كَانَ صَدِيقًا لِعُمَرَ . (۱)

بيشکه د دې اعرابي پلار د حضرت عمر ﷺ دوست وُ (نو ځکه ما ورسره ښه سلوک وکړو

۲ . ابن حبان په خپل صحيح کې د حضرت ابوبردة ﷺ نه دا خبره رانقل کړې چې يوه ورځ زه مدينې منورې ته راغلم ، نو ماته حضرت عبدالله بن عمر ﷺ راغې او راته وې وېل :

أَتَدْرِيْ لِمَ أَتَيْتُکَ ؟ آيا ته پوهيږې چې زه ولې تاته راغلم ؟

دې وايي چې ما ورته ووېل : زه خو نه پوهيږم (چې ته څنګه ماله راغلې يې ؟) ، نو هغه راته ووېل : ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه اوريدلي دي چې فرمايل يې :

مَنْ أَحَبَّ أَنْ يَصِلَ أَبَاهُ فِيْ قَبْرِهِ فَلْيَصِلْ إِخْوَانَ أَبِيْهِ مِنْ بَعْدِهِ .

---

(۱) عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّهُ كَانَ إِذَا خَرَجَ إِلَى مَكَّةَ كَانَ لَهُ حِمَارٌ يَتَرَوَّحُ عَلَيْهِ إِذَا مَلَّ رُكُوْبَ الرَّاحِلَةِ وَعِمَامَةٌ يَشُدُّ بِهَا رَأْسَهُ . فَبَيْنَا هُوَ يَوْمًا عَلَى ذَلِکَ الْحِمَارِ إِذْ مَرَّ بِهِ أَعْرَابِيٌّ ، فَقَالَ : أَلَسْتَ ابْنَ فُلَانِ بْنِ فُلَانٍ ؟ قَالَ : بَلَى . فَأَعْطَاهُ الْحِمَارَ . وَقَالَ : إِرْكَبْ هَذَا ، وَالْعِمَامَةَ . قَالَ : أُشْدُدْ بِهَا رَأْسَکَ . فَقَالَ بَعْضُ أَصْحَابِهِ : غَفَرَ اللهُ لَکَ أَعْطَيْتَ هَذَا الْأَعْرَابِيَّ حِمَارًا كُنْتَ تَرَوَّحُ عَلَيْهِ ، وَعِمَامَةً كُنْتَ تَشُدُّ بِهَا رَأْسَکَ . فَقَالَ : إِنِّيْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ : " إِنَّ مِنْ أَبَرِّ الْبِرِّ صِلَةُ الرَّجُلِ أَهْلَ وُدِّ أَبِيْهِ بَعْدَ أَنْ يُوَلِّيَ " وَإِنَّ أَبَاهُ كَانَ صَدِيقًا لِعُمَرَ . رواه مسلم كتاب البر باب فضل صلة اصدقاء الاب والام ۱۲\۶۲۷۵ ، ومثل هذا الحديث في ابي داؤد الادب باب في بر الوالدين ۵۱۴۳ ، والترمذي في البر والصلة باب ماجاء في اكرام صديق الوالد ۱۹۰۳ ، الترغيب والترهيب ج۳ كتاب البر والصلة الترغيب في بر الوالدين وصلتهما .

كوم كس چې دا غواړي چې د پلار سره په قبر كې احسان او ښيګړه وكړي نو د پلار دوستانو (اسلامي وروڼو) سره دې صله رحمي كوي.

بيا ابن عمر ﷺ وويل چې: بيشكه زما د پلار (حضرت عمر ﷺ) او ستا د پلار په خپل مينځ كې ورور ولي او محبت وُ نو ما غوښته چې زه دا صله رحمي اوپالم. (۱)

## د والدينو سره ښه سلوك په عقل هم معلوميږي

فقيه ابو الليث ثمرقندي رحمه الله وايي: كه چيرته الله ﷻ په خپل آخري كتاب (قرآن مجيد) كې د مور او پلار حقوق نه وې ذكر كړي او نه يې د دوی سره د احسان حكم كړې وی، نو بيا به هم د عقل په ذريعه د والدينو د عزت او عظمت وجوب معلوميده، حالانكه الله ﷻ په قرآن كريم كې د دوی سره د احسان ډير تاكيد كړې، په مخكيني ټولو آسماني كتابونو (توراة، انجيل او زبور) كې يې ددې ذكر كړې، ټولو پيغمبرانو ته يې ددې وصيت كړې او خپله رضا يې د والدينو په رضا كې ايښې او خپله ناراضګي يې د والدينو په ناراضګۍ كې ايښي، نو اوس خو په طريقِ اولی سره انسان ته په كار دي چې د خپلو والدينو قدر وعزت وكړي او د دوي خدمت وكړي. (۲)

## د والدينو په بچي باندې بې شميره احسانات دي

وجه داده چې والدينو د بچي سره ډير تكليفونه برداشت كړي او بې شميره احسانات يې ورسره كړي، حضرت عبد الله بن عمر رضی الله عنهما يو ځل يو كس اوليده چې خپله مور يې په شا كينولې وه او د خانه كعبې طواف يې كولو (كله چې دې سړي ابن عمر ﷺ وليده)

---

(۱) عَنْ أَبِي بردَةَ ﷺ قَالَ قَدِمْتُ الْمَدِيْنَةَ فَأَتَانِيْ عَبْدُاللهِ بْنُ عُمَرَ فَقَالَ: أَتَدْرِيْ لِمَ أَتَيْتُكَ؟ قَالَ: قُلْتُ: لَا. قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ: مَنْ أَحَبَّ أَنْ يَصِلَ أَبَاهُ فِيْ قَبْرِهٖ فَلْيَصِلْ إِخْوَانَ أَبِيْهِ مِنْ بَعْدِهٖ وَإِنَّهُ كَانَ بَيْنَ أَبِيْ عُمَرَ وَبَيْنَ أَبِيْكَ إِخَاءٌ وَوُدٌّ فَأَحْبَبْتُ أَنْ أَصِلَ ذٰلِكَ. رواه ابن حبان في صحيحه، روح المعاني ج۸ ص ۷۷ الاسراء آيت ۲۳.

(۲) تنبيه الغافلين باب حق الوالدين ص ۵۷ ط دارالفكر بيروت.

نو پوښتنه يې ورنه وکړه : اې ابن عمر ! ( ما چې دا مور په اوږه کينولې او خدمت يې کوم نو ) آيا ما ددې حق اداء کړو ؟

ده ورته ووېل : دې ستا مور چې د لنګوال په وخت کوم درد ونه برداشت کړي تا د هغې د يو درد بدله هم تر اوسه نه ده پوره کړې . البته ( چې ددې خدمت کوې نو دا ) ښه کار کوې الله جل جلاله به په دې لږ عمل ډېره بدله درکړي . (۱)

## دوالدينو اجمالي غټ حقوق

قدرمنو ! په آخر کې درته د مور او پلار اجمالي غټ غټ حقوق خلاصةً ذکر کوم ، حقيقت دادی چې د والدينو دومره ډېر حقوق دي که چيرته يو بچې تول عُمر د والدينو حقوقو پوره کولو کې صَرف کړي نو بيا هم دې د والدينو د حقوقو ذمه دارۍ نه نشي خلاصيدی . البته شريعت غټ غټ او اهم حقوق بيان کړي د کومو چې لحاظ ساتل ډېر ضروري دي .

### هغه کارونه کوم چې په بچي کول لازمي دي

۱ . په جائز امورو کې د دوی اطاعت کول او خبره منل . ۲ . د دوی جائزې غوښتنې پوره کول . ۳ . دوی راضي او خوشحاله ساتل . ۴ . که حاجت يې وُ نو د خپل حيثيت او طاقت موافق د دوی د خوراک ، څکاک او لباس ضرورت پوره کول ، اګر چې دوی کافران وي خو بيا هم د دوی جائز ضرورتونه پوره کول . ۵ . د هغوی د وړاندې تواضع او عاجزي اختيارول ، او په نرمه لهجه کې ورسره خبرې کول . ۶ . د دوی پوره خدمت کول ، او په هره طريقه سره د دوی د خوشحاله ساتلو کوشش کول . ۷ . که والدين په ناجائز کارونو کې اَخته وي نو په نصيحت کې د نرمۍ او احترام نه کار اخيستل ، او س که منعه نه شو نو بيا خاموشي اختيارول ، او د هغوی د پاره استغفار ويل .

---

(۱) رَأَى ابْنُ عُمَرَ رضی الله عنهما رَجُلًا قَدْ حَمَلَ أُمَّهُ عَلَى رَقَبَتِهِ وَهُوَ يَطُوفُ بِهَا حَوْلَ الْكَعْبَةِ فَقَالَ : يَا ابْنَ عُمَرَ أَتَرَانِي جَازَيْتُهَا ؟ قَالَ : وَلَا بِطَلْقَةٍ وَاحِدَةٍ مِنْ طَلَقَاتِهَا وَلَكِنْ أَحْسَنْتَ ، وَاللهُ يُثِيبُكَ عَلَى الْقَلِيْلِ كَثِيْرًا . الكبائر باب عقوق الوالدين ص ۴۷ ، وَفِيْ رِوَايَةٍ : وَلَا بِزَفْرَةٍ وَاحِدَةٍ . الادب المفرد باب جزاء الوالدين حديث ۱۱ ص ۱۳ .

## هغه کارونه د کوم نه چې منع کېدل په کار دي

۸ . دوی ته هيڅ قسمه تکليف نه ورکول ، اګر چې دوی په بچي ظلم وکړي . ۹ . د دوی سره د بې ادبۍ ، ګستاخۍ او تکبر رَويه نه اختيارول ، اګر چې مشرک وي خو بيا به هم د بې ادبۍ معامله ورسره نشي کولې . ۱۰ . د خبرو په وخت خپل آواز د هغوی دآواز نه ښکته ساتل . ۱۱ . په څه کار کې د هغوی نه ، نه مخکې کيدل ، او نه د هغوی مقابله کول . ۱۲ . د ادب د وجې د هغوی نوم نه اخيستل . ۱۳ . د دوی د وړاندې داسې هيڅ خبره او هيڅ کار نه کول چې د دوی د خفګان سبب ګرځي .

## د والدينو د مرګ نه پس

۱۴ . د دوی په مرګ د خلافِ شرعه ژړا او فرياد نه ځان ساتل ، چې دا دوی ته تکليف رسوي . ۱۵ . د دوی د پاره د مغفرت او رحمت دُعاګانې کول ، او د نفلي عباداتو او خيراتونو ثواب ورپسې بخَل . ۱٦ . د دوی په ذمه چې کوم قرضونه وي هغه اداء کول ، يا د يو جائز کار وصيت يې چې کړې وي او طاقت دې وي هغه پوره کول . ۱۷ . د دوی دوستانو او خپلوانو سره ښه سلوک کول . (۱)

## خلاصه :

خلاصه دا چې والدين د بچي د پاره يو عظيم نعمت دی ، او انسان ته په کار دي چې د دې نعمت قدرداني وکړي ، د دوی خدمت وکړي او د دوی د راضي کولو کوشش وکړي .

دُعا وکړئ چې د چا والدين ژوندي دي الله تعالی دې د دوی بچو ته د خپلو والدينو د خدمت توفيق ورکړي . او که د چا مور او پلار وفات شوي وي نو الله تعالی دې د هغوی قبرونه د اَنواراتو نه ډک کړي ، او قبرونه دې د جنت د باغيچو نه يوه باغيچه اوګرځوي .

آمِيْن يَا رَبَّ الْعَالَمِيْن .

وَآخِرُ دَعْوَانَا أَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ

وَصَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى خَيْرِ خَلْقِهٖ مُحَمَّدٍ وَّآلِهٖ وَأَصْحَابِهٖ أَجْمَعِيْن

(۱) مظاهر حق شرح مشکوة ج۸ ص ۴۱ باب البر والصلة ، تنبيه الغافلين ص ۸۲ پولسم باب د والدينو حقوق ، د جنت کالي ص ۳۰۰ د حقوقو بيان د مور پلار حقوق .

## هغه کارونه د کوم نه چې منع کيدل په کار دي

۸ . دوی ته هيڅ قسمه تکليف نه ورکول ، اګر چې دوی په بچي ظلم وکړي . ۹ . د دوی سره د بې ادبۍ ، ګستاخۍ او تکبر رَويه نه اختيارول ، اګر چې مشرک وي خو بيا به هم د بې ادبۍ معامله ورسره نشي کولې . ۱۰ . د خبرو په وخت خپل آواز د هغوی دآواز نه بنکته ساتل . ۱۱ . په څه کار کې د هغوی نه ، نه مخکې کيدل ، او نه د هغوی مقابله کول . ۱۲ . د ادب د وجې د هغوی نوم نه اخيستل . ۱۳ . د دوی د وړاندې داسې هيڅ خبره او هيڅ کار نه کول چې د دوی د خفګان سبب ګرځي .

## د والدينو د مرګ نه پس

۱۴ . د دوی په مرګ د خلافِ شرعه ژړا او فرياد نه ځان ساتل ، چې دا دوی ته تکليف رسوي . ۱۵ . د دوی د پاره د مغفرت او رحمت دُعاګانې کول ، او د نفلي عباداتو او خيراتونو ثواب ورپسې بخَل . ۱۶ . د دوی په ذمه چې کوم قرضونه وي هغه اداء کول ، يا د يو جائز کار وصيت يې چې کړې وي او طاقت دې وي هغه پوره کول . ۱۷ . د دوی دوستانو او خپلوانو سره بنه سلوک کول . (۱)

## خلاصه :

خلاصه دا چې والدين د بچي د پاره يو عظيم نعمت دی ، او انسان ته په کار دي چې د دې نعمت قدرداني وکړي ، د دوی خدمت وکړي او د دوی د راضي کولو کوشش وکړي .
دُعا وکړئ چې د چا والدين ژوندي دي الله تعالی دې د دوی بچو ته د خپلو والدينو د خدمت توفيق ورکړي . او که د چا مور او پلار وفات شوي وي نو الله تعالی دې د هغوی قبرونه د اَنواراتو نه ډک کړي ، او قبرونه دې د جنت د باغيچو نه يوه باغيچه اوګرځوي .

آمِيْن يَا رَبَّ الْعَالَمِيْن .

وَآخِرُ دَعْوَانَا أَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ

وَصَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى خَيْرِ خَلْقِهٖ مُحَمَّدٍ وَّآلِهٖ وَأَصْحَابِهٖ أَجْمَعِيْن

---

(۱) مظاهر حق شرح مشکوة ج۸ ص ۴۱ باب البر والصلة ، تنبيه الغافلين ص ۸۲ يولسم باب د والدينو حقوق ، د جنت کالي ص ۳۰۰ د حقوقو بيان د مور پلار حقوق .

# فقهي مسائل

قدرمنو ! په معاشره کې که مونږ او ګورو نو بعضو آزاد خياله خلقو د والدينو په فرضي حقوقو کې دومره تفريط (کمي) کړې چې بالکل شاته يې غورځولي چې دا هم ګناه کبيره ده، او بعضې ديندارو خلقو د والدينو په حقوقو کې دومره اِفراط (زياتوالي) کړې چې په دې سره يې دخپلو بچو، ښځې او نورو خپلوانو حقوق هم ضائع کړي چې دا هم د ګناه او نقصان خبره ده.

لهذا د والدينو د حقوقو متعلق فقهي مسائل او احکامات زده کول ضروري دي چې په دې سره انسان د اِفراط او تفريط نه بچ شي، او هر کس ته خپل حق او سپارل شي.

## د والدينو اِطاعت په جائز امورو کې فرض دی

په جائز کارونو کې د مور او پلار تابعداري او حکم منل فرض دي:

لِأَنَّ اِطَاعَتَهُمَا (أَيِ الْوَالِدَيْنِ) فَرْضُ عَيْنٍ. (۱)

طَاعَةُ الْوَالِدَيْنِ فَرْضُ عَيْنٍ. (۲)

د مور او پلار تابعداري (په جائزو کارونو کې) فرضِ عين ده.

## په ګناه (او معصيت) کې د والدينو تابعداري نشته

په دې باندې د ټولو علماؤ اتفاق دی چې د والدينو تابعداري صرف په جائز امورکې ضروري ده، په ناروا او د ګناه په کارونو کې د هيچا تابعداري نشته، تر دې چې په دې کې د مور او پلار خبره منل هم ضروري نه ده.

الله تعالی فرمايي:

(۱) الدرالمختار على هامش ردالمحتار ج۴ ص ۱۲۵ کتاب الجهاد.

(۲) البحرالرائق ج۵ ص ۷۲ اول کتاب السِّير ط کوئټه، حاشية الشلبي ج۳ ص ۲۴۱ کتاب السير ط امداديه ملتان، وحاشيه فتاوی محموديه ج۲۹ ص ۹۰.

﴿ وَإِن جَاهَدَاكَ عَلَىٰ أَن تُشْرِكَ بِي مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ فَلَا تُطِعْهُمَا وَصَاحِبْهُمَا فِي الدُّنْيَا مَعْرُوفًا ﴾ . (۱)

ترجمه : او که چيرته دوی کوشش کوي په تا باندې چې د ما سره داسې شی شريک مقرر کړه چې تا ته په هغې باندې علم نه وي نو د دوی خبره مه منه ، او د دوی سره په دُنيا کې په ښې طريقې سره تعلق ساته ( او ښه سلوک ورسره کوه ) .

يعنی که دوی په تا باندې دا زُور لګوي چې بغير د څه دليل نه د ما سره بل څوک شريک مقرر کړه نو په دې کې د دوی خبره مه منه ، البته په دُنياوي ژوند کې بيا هم د دوی سره احسان او ښيګړه کوه او د دوی خدمت کوه .

او حديث کې هم راځي :

لَا طَاعَةَ لِمَخْلُوقٍ فِيْ مَعْصِيَةِ الْخَالِقِ . (۲)

د خالق ( الله جَلَّ جَلَالُهُ ) په نافرماني کې د چا مخلوق فرمانبرداري جائز نه ده .

ملا علي قاري رحمه الله ليکي :

لَاطَاعَةَ : " أَيْ لِأَحَدٍ مِّنَ الْإِمَامِ وَغَيْرِهِ كَالْوَالِدِ وَالشَّيْخِ " فِيْ مَعْصِيَةٍ . (۳)

د ګناه په کار کې د هيچا تابعداري نشته نه د يو امام ، نه د پلار او نه د شيخ .

علماؤ تردې پورې ليکلي چې که چيرته د يو کس والدين ديندراه نه وي او بچي ته د ديني تعليم په ځای د بل فن زده کولو حکم کوي ، او دده والدين دده د خدمت محتاج هم نه وي نو بعض علماء وايي چې په دې بچي باندې ددې غير دينداره والدينو خبره منل هم ضروري نه ده :

---

(۱) سورة لقمان آيت ۱۵ .

(۲) مشکوة شريف ص ۳۲۱ کتاب الامارة الفصل الثاني .

(۳) مرقاة شرح مشکوة ج۴ ص ۱۱۸ کتاب الامارة والقضاء الفصل الاول ، درمختار على الشامي ج۹ ص ۵۹ ، ۵۸۳ کتاب الحظر والاباحة فصل فى البيع ، فتاوى محموديه ج ۲۹ ص ۱۰۰ والدين کے حقوق .

وَفِي الْهِنْدِيَّةِ : رَجُلٌ خَرَجَ فِيْ طَلَبِ الْعِلْمِ بِغَيْرِ إِذْنِ وَالِدَيْهِ فَلَابَأْسَ بِهِ وَلَمْ يَكُنْ هٰذَا عُقُوْقًا . (۱)

په هنديه کې دي چې يو کس بغير د اجازت نه د علم په طلب کې ووځي (او ده ته د والدينو د خدمت هيڅ ضرورت نه وي) نو دا څه پرواه نه کوي اوّ ديته د والدينو نافرماني هم نه وايي.

## د والدينو درجه د اُستاذ او پير نه زياته ده

د جسماني تربيت په بناء باندې د والدينو درجه زياته ده او همدا بنياد د ټولو کمالاتو دی، او روحاني تربيت د علم او عمل په اعتبار سره استاذ کوي اګر چې دا اوچت دی، خو ليکن بيا هم د والدينو درجه اوچته ده، ځکه که چيرته والدين د بچي جسماني تربيت او نه کړي او استاذ ته يې حواله نه کړي نو استاذ ته به د تربيت موقعه څنګه ملاؤ شي؟ معلومه شوه چې د والدينو حق په ټولو زيات دی.

قَالَ الْقَاضِيْ : أَجْمَعُوْا عَلَى أَنَّ الْأُمَّ وَالْأَبَ آكِد حُرْمَةً فِي الْبِرِّ عَنْ سِوَاهُمَا . (۲)

قاضي فرمايلي: علماؤ په دې خبره اجماع کړې چې د مور او پلار حق د اِحسان او حُسنِ سلوک په اعتبار سره د نورو ټولو خلقو نه مؤکد او زيات دی.

په بهشتي زيور کې هم مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله ذکر کړي چې د والدينو درجه په استاذ او پير باندې اوچته ده.

## د فرضِ کفايي تعليم نه د والدينو حق مخکې دی

که چيرته يو سړي فرضي علم حاصل کړې وي (او د دين بُنيادي ضرورتونو علم ورسره وي) خو د دَرسِ نظامي کتابونه يې پوره نه وي ختم کړي (او تر اوسه د دوره حديث نه فارغ شوې نه وي) او ده ته د والدينو د خدمت او کفالت ضرورت وي نو په ده لازم دي چې د

(۱) فتاوی عالمگیری ج۵ ص۳٦٦ کتاب الکراهية الباب السادس والعشرون، فتاوی محمودية ج۱ ص۲۰٦ کتاب العلم.
(۲) شرح نووي علی المسلم ج۲ ص۳۱۲ کتاب البر والصلة باب بر الوالدين، فتاوی محموديه ج۲۹ ص۹۴ والدين وغيره کے حقوق.

فرضي علم نه روستو د والدينو خدمت ته متوجه شي او په فارغ وختونو کې مَابَقِي علم پوره کړي . (۱)

څکه مروّجه نصاب پوره کول (يعنی پوره عالم جوړيدل او دوره حديث کول) فرضِ عين نه دي او د والدينو اطاعت (په جائز امورو کې) فرضِ عين دی .

البته ضروري علم په ده زده کول فرضِ عين دي . (۲)

همدا مسئله مفتي محمد شفيع رحمه الله هم په خپل تفسير معارف القرآن کې ذکر کړې چې کله يو شی فرضِ عين يا واجب على العين نه وي بلکه د فرضِ کفايه په درجه کې وي مثلاً د پوره عالم جوړيدلو د پاره سفر کول او يا د تبليغ د پاره سفر کول، نو په دې کارونو کې د والدينو نه اجازت اخيستل ضروري دي ، بغير د اجازت نه تلل جائز نه دي .

البته که د ده سره فرضي او ضروري علم نه وي نو بيا تللې شي . (۳)

---

(۱) إِذَا أَرَادَ الرَّجُلُ أَنْ يُسَافِرَ إِلَى غَيْرِ الْجِهَادِ لِتِجَارَةٍ أَوْ حَجٍّ أَوْ عُمْرَةٍ وَكَرِهَ ذَلِكَ أَبَوَاهُ فَإِنْ كَانَ يَخَافُ الضَّيْعَةَ عَلَيْهِمَا بِأَنْ كَانَا مُعْسِرَيْنِ وَنَفَقَتُهُمَا عَلَيْهِ وَمَالُهُ لَا يَفِي بِالزَّادِ وَالرَّاحِلَةِ وَنَفَقَتِهِمَا فَإِنَّهُ لَا يَخْرُجُ بِغَيْرِ إِذْنِهِمَا .... (الى أن قال) وَإِنْ كَانَ لَا يَخَافُ الضَّيْعَةَ عَلَيْهِمَا بِأَنْ كَانَا مُوسِرَيْنِ وَلَمْ تَكُنْ نَفَقَتُهُمَا عَلَيْهِ إِنْ كَانَ سَفَرًا لَا يَخَافُ عَلَى الْوَلَدِ الْهَلَاكَ فِيهِ كَانَ لَهُ أَنْ يَخْرُجَ بِغَيْرِ إِذْنِهِمَا..... (الى قوله) وَكَذَا الْجَوَابُ فِيمَا إِذَا خَرَجَ لِلنَّفَقَةِ إِلَى بَلْدَةٍ أُخْرَى . الهندية ج۵ ص ۳۶۵ كتاب الكراهية ، الباب السادس والعشرون ، خاليه ج۳ ص ۴۲۷ كتاب الحضر والاباحة فصل فی التسبيح ، شامي ج۴ ص ۱۲۵ كتاب الجهاد مطلب اطاعة الوالدين واجب ، فتاوی محموديه ج۲۹ ص ۹۴ والدين وغيره کے حقوق. امام غزالي رحمه الله په احياء العلوم کې ليکلي : وَلَيْسَ لَكَ أَنْ تُسَافِرَ فِي مُبَاحٍ أَوْ نَافِلَةٍ إِلَّا بِإِذْنِهِمَا . وَالْمُبَادَرَةُ إِلَى الْحَجِّ الَّذِي هُوَ فَرْضُ الْإِسْلَامِ نَفْلٌ لِأَنَّهُ عَلَى التَّأْخِيرِ . وَالْخُرُوجُ لِطَلَبِ الْعِلْمِ نَفْلٌ إِلَّا إِذَا كُنْتَ تَطْلُبُ عِلْمَ الْفَرْضِ مِنَ الصَّلَوٰةِ وَالصَّوْمِ وَلَمْ يَكُنْ فِي بَلَدِكَ مَنْ يُعَلِّمُكَ وَذَلِكَ كَمَنْ يُسْلِمُ اِبْتِدَاءً فِي بَلَدٍ لَيْسَ فِيهَا مَنْ يُعَلِّمُهُ شَرْعَ الْإِسْلَامِ فَعَلَيْهِ الْهِجْرَةُ وَلَا يَتَقَيَّدُ بِحَقِّ الْوَالِدَيْنِ .احياء العلوم ج۱ ص ۲۹۴ كتاب آداب الالفة والاخوة .

(۲) وَتَعْلِيمُ مَا لَا بُدَّ مِنْهُ مِنَ الْفِقْهِ فَرْضُ عَيْنٍ . شامي ج ۹ ص ۶۱۷ آخر كتاب الحضر والاباحة ، مرقاة ج۱ ص ۲۲۳ كتاب العلم الفصل الثاني ، عالمكيري ج۵ ص ۳۷۷ الباب الثلاثون فی المتفرقات ، فتاوی محموديه ج۲۹ ص ۱۰۱ والدين وغيره کے حقوق

(۳) معارف القرآن سورة بني اسرائيل آيت ۲۳ .

# که په لمونځ ولاړ وي او والدين ورته آواز وکړي

که چیرته یو کس په لمانځه ولاړ وي او ده ته مور او پلار آواز وکړي نو که دې په فرض لمانځه ولاړ وي او دوی ته څه تکلیف نه وي نو بیا به دې دا فرض لمونځ پوره کوي او هغوی ته به ورځي. (۱)

او که والدینو ته سخت تکلیف وي نو بیا به لمونځ مات کړي او هغوی ته به جواب ورکړي.

او که دې په نفل لمانځه ولاړ وي نو په دې کې د علماؤ مختلف اقوال شته خو د احنافو یو لوي جَماعت په دې متفق دی چې سړی په نفل لمانځه ولاړ وي او والدین ورته آواز وکړي نو په ده باندې جواب ورکول واجب دي.

وَلِذَالِکَ ذَهَبَ مُعْظَمُ الْحَنَفِيَّةِ اِلَی وُجُوْبِ الْاِجَابَةِ فِيْ صَلَاةِ النَّفْلِ. (۲)

د علماءِ احناف لوي جماعت په دې قایل دی چې په نفلي لمانځه کې والدینو ته جواب ورکول واجب دي.

او دې علماؤ استدلال کړې د جریج د واقعې نه، کومه چې په بخاري شریف او مسلم شریف کې ذکر ده.

(۱) څکه نبي علیه السلام فرمایي: لَا طَاعَةَ لِمَخْلُوْقٍ فِيْ مَعْصِيَةِ الْخَالِقِ مشکوة شریف ص ۳۲۱ کتاب الامارة الفصل الثاني. د خالق په نافرماني کې د چا مخلوق فرمانبرداري جائز نه ده. وَحَقُّ اللهِ عَزَّوَجَلَّ اَلَّذِيْ شَرَعَ فِيْهِ آكِدُ مِنْ حَقِّ الْاَبَوَيْنِ حَتّٰى يَفْرُغَ مِنْهُ. عمدة القاري ۳ ۷۱۶.

(۲) تکملة فتح الملهم ج۵ ص ۱۶۹ باب تقديم برّ الوالدين على التطوع بالصلاة وغيرها. وَقَالَ الْحَصْكَفِيْ فِي الدُّرِّ الْمُخْتَارِ: وَلَوْ دَعَاهُ اَحَدُ اَبَوَيْهِ فِي الْفَرْضِ لَا يُجِيْبُهُ اِلَّا اَنْ يَسْتَغِيْثَ بِهِ، وَفِي النَّفْلِ: فَاِنْ عَلِمَ اَنَّهُ فِي الصَّلَاةِ لَا يُجِيْبُهُ وَاِلَّا اَجَابَهُ. وَقَالَ ابْنُ عَابِدِيْنَ وَالظَّاهِرُ اَنَّ مَحَلَّهُ اِذَا تَاَذّٰى مِنْهُ بِتَرْكِ الْاِجَابَةِ لِكَوْنِهِ عُقُوْقًا. وَالَّذِيْ يَظْهَرُ اَنَّ هٰذَا اَعْدَلُ الْاَقْوَالِ اِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالٰى. والله اعلم. تکملة فتح الملهم ج۵ ص ۱۶۹ باب تقديم بر الوالدين على التطوع بالصلاة وغيرها.

# د مور حق په پلار باندې درې چنده زيات دی

مور چونکه د بچي سره د پلار په نسبت ډير تکليفونه برداشت کوي مثلا : ۱. د حمل اوچتولو تکليف ، ۲. دزيږولو تکليف ، ۳. د شودو (پيو) ورکولو تکليف ، ۴. او د تربيت تکليف.

چونکه په دې تربيت کې ورسره پلار هم شريک دی ، ددې د وجې علماؤ ويلي چې د مور حق د پلار په نسبت درې چنده زيات دی (يعنی څلورو کې درې چنده حق د مور دی او يو چند د پلار دی) او دوی ددې احاديثو نه استدلال کوي :

جَاءَ رَجُلٌ إِلَى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ : مَنْ أَحَقُّ بِحُسْنِ صَحَابَتِيْ ؟ قَالَ : أُمُّکَ ، قَالَ : ثُمَّ مَنْ ؟ قَالَ : ثُمَّ أُمُّکَ . قَالَ : ثُمَّ مَنْ ؟ قَالَ : ثُمَّ أُمُّکَ . قَالَ : ثُمَّ مَنْ ؟ قَالَ : ثُمَّ أَبُوْکَ .(۱)

يو کس رسول الله صلی الله عليه وسلم ته راغې او عرض يې وکړو : يا رسول الله ! زما د ښه سلوک د ټولو نه زيات مستحق او حقدار څوک دی ؟ نبي عليه السلام ورته وفرمايل : ستا مور . هغه بيا پوښتنه وکړه چې ددې نه پس څوک ډير حقدار دی ؟ نبي عليه السلام ورته وفرمايل : ستا مور .

هغه (په دريم ځل) بيا پوښتنه وکړه چې ددې نه پس څوک ډير حقدار دی؟ پيغمبر عليه السلام ورته وفرمايل : ستا مور .

هغه (په څلورم ځل) بيا عرض وکړو چې بيا څوک ډير حقدار دی ؟ نبي عليه السلام ورته وفرمايل : ستا پلار .

(۱) هذا الحديث اخرجه البخاري في الادب باب من احق الناس بحسن الصحبة ۵۹۷۱ ، ومسلم كتاب البر والصلة والآداب باب برّالوالدين ۲۷۰۲ . په يو روايت کې داسې الفاظ دي : عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ : قَالَ رَجُلٌ يَارَسُوْلَ اللهِ! مَنْ أَحَقُّ بِحُسْنِ الصُّحْبَةِ ؟ قَالَ : أُمُّکَ . ثُمَّ أُمُّکَ . ثُمَّ أُمُّکَ . ثُمَّ أَبُوْکَ . ثُمَّ أَدْنَاکَ أَدْنَاکَ . بخاري ، مسلم كتاب البرّ والصلة والآداب باب برّالوالدين والهما احق به ۲\۶۳۶۱ ، مشكوة باب البر والصلة حديث ۱ .

دغه وجه ده چې فقهاؤ ليکلي : په خدمت ، ښه سلوک او مالي امداد کې د مور حق په پلار باندې زيات دى . (۱)

## په خدمت کې د مور او احترام کې د پلار حق زيات دى

د خدمت په لحاظ سره د مور حق زيات دى ( چې ددې سره به ښه سلوک کوى ، ددې خدمت به کوى او مالي لحاظ سره به ددې ډير امداد کوى ) .

او د احترام په لحاظ سره د پلار مرتبه زياته ده (چې دده تعظيم به کوې ، دده د وړاندې به په ادب او احترام سره کينې ، دده طرف ته به خپې نه غزوې ، او د عزت په ځائى کې به يې کينوې ) . (۲)

(۱) وَبِهِ اِسْتَدَلَّ بَعْضُ الْعُلَمَاءِ اَنَّ ثَلَاثَةَ اَرْبَاعِ الْبِرِّ لِلْاُمِّ ، وَالرُّبْعَ لِلْوَالِدِ ، قَالَ ابْنُ بَطَالٍ : مُقْتَضَاهُ اَنْ يَكُوْنَ لِلْاُمِّ ثَلَاثَةُ اَمْثَالِ مَالِلْاَبِ مِنَ الْبِرِّ ، قَالَ : لِصُعُوْبَةِ الْحَمْلِ ، ثُمَّ الْوَضْعِ ، ثُمَّ الرِّضَاعِ ، فَهٰذِهٖ تَنْفَرِدُ بِهَا الْاُمُّ وَتشقي بِهَا . ثُمَّ تُشَارِكُ الْاَبَ فِي التَّرْبِيَةِ ، وَقَدْ وَقَعَتِ الْاِشَارَةُ اِلَى ذٰلِكَ فِيْ قَوْلِهٖ تَعَالَى : ﴿ وَوَصَّيْنَا الْاِنْسَانَ بِوَالِدَيْهِ حَمَلَتْهُ اُمُّهٗ وَهْنًا عَلٰى وَهْنٍ وَفِصَالُهٗ فِيْ عَامَيْنِ ﴾ . لقمان ۱۴ . فَسَوّٰى بَيْنَهُمَا فِي الْوَصَايَةِ وَخَصَّ الْاُمَّ بِالْاُمُوْرِ الثَّلَاثَةِ . وَقَالَ اللَّيْثُ : حَقُّ الْاُمِّ آكِدُ ، لَهَا ثُلُثَا الْبِرِّ ، وَذَكَرَ الْمحَاسِبِي تَفْضِيْلُ الْاُمِّ مُجْمَعٌ عَلَيْهِ . تكملة فتح الملهم ج۵ ص ۱٦۵ كتاب البر والصلة والآداب باب بر الوالدين .

(۲) اِنَّ بِرَّ الْاُمِّ مُقَدَّمٌ عَلٰى بِرِّ الْاَبِ ، وَحَقُّ الْاَبِ مُقَدَّمٌ فِي الطَّاعَةِ وَحُسْنِ الْمُتَابَعَةِ لِرَأْيِهٖ وَالنُّفُوْذِ لِاَمْرِهٖ وَقُبُوْلِ الْاَدَبِ مِنْهُ . مرقاة شرح مشكوة ج۴ ص ٦٦۵ باب البر والصلة الفصل الاول ، نفع المفتي والسائل ص ۱۲۰ مايتعلق باطاعة الوالدين ، عالمكيري ج۵ ص ۳٦۵ كتاب الكراهية الباب السادس والعشرون ، فتاوى محموديه ج۲۹ ص ۱۲۱ .

# د والدينو د حقوقو متعلق نور بهترين واقعات:

د والدينو د حقوقو متعلق مې نور داسې بهترين او زړه راښكونكي معتمَد واقعات ذكر كړي چې په اوريدو سره يې د انسان په زړه كې د خپلو والدينو قدر وعزت پيدا كيږي، او د هغوى د خدمت توفيق ورته نصيبه كيږي.

## د مور د دُعاګانو اَثر

قدرمنو ! مور كه چيرته د ډيرې كمزورۍ په وجه د هډوكو ډَهانچه وي، بيماره وي، لاس او خپې نشي خوزولې خو بيا هم الله ﷻ ورته دومره لوي مقام وركړې چې كله هم د خپل بچي د پاره دُعا وكړي نو الله ﷻ دغه دُعا قبلوي.

## د مور د دُعا په وجه د سترګو نظر واپس راتلل

په " تاريخِ بخارا " او " شرح السنة " كې ذكر دي چې امام بخاري رحمه الله په ماشوم والي كې ړوند شوې وُ چې د هغې په وجه د ده مور ډيره خفه وه، دې به هميشه د الله ﷻ نه په ډير ژړا او عاجزۍ سره د خپل ځوي د نظر صحيح كيدو د پاره دُعا كوله.

يوه شپه دې خُوب وليده، په خُوب كې يې د حضرت ابراهيم عليه السلام سره ملاقات اوشو، حضرت ابراهيم عليه السلام ورته وفرمايل: چې الله تعالى ستا د ژړاګانو او دُعاګانو په وجه ستا د ځوي نظر صحيح كړو. كله چې دا سهر راپاځيده نو وې كته چې د دې د بچې نظر صحيح شوې وُ. (۱)

## د مور د دُعا په وجه مقبوليت

د مُفكّرِ اسلام حضرت مولانا سيد ابوالحسن علي ندوي رحمه الله نوم به شايد هر چا اوريدلې وي، الله ﷻ د ده نه په لږ وخت كې د دين ډير لوي خدمت واخيست، چې په دې

(۱) تاريخ بخارا لغنجار، شرح السنّة للالكائي، ظفر المحصلين ص ۹۳ حالات امام بخاري رحمه الله.

نزدې زمانه کې د هغه مثال په مشکله پيدا کيږي ، هغه ته الله رب العزت په عِلمي ميدان کې ډير زيات مقبوليت او محبوبيت ورکړې ؤ ، او ډير زيات کتابونه يې ليکلي دي.

دې په وړوکوالي کې نه خو ډير لائق ؤ او نه ډير چُست و چالاک ؤ ، په عِلمي صلاحيت کې هم په مدرسه کې د عام او درميانه طالب په شان ؤ ، خو ليکن ددې باوجود بيا هم الله تعالى دده نه د علم يو لوي خدمت واخيست کوم چې انسان لره حيرانوونکې دی .

کله چې دده نه د الله تعالى ددې توفيق په باره کې پوښتنه وشوه چې تا ته په دې علمي ميدان کې دومره مقبوليت او محبوبيت څنګه حاصل شو ؟ نو ده به ورته ويل چې الله تعالى زما د پاره ددين په دې خدمت کې زما د مور د دُعاګانو هم يوه خصوصي حصه ايښې ده (يعنى په دې کې راسره د مور دُعاګانې شاملې دي) نو دا د هغوی د دُعاګانو برکت دی .

دده مور ډيره عبادت ګزاره وه ، دې به هميشه د پاره روزانه دوه رکعته صلاةِ حاجت لمونځ کولو او د خپل دې ځوي د پاره به يې دُعاګانې غوښتلې : چې اې الله ! زما د ځوي په هر ځای کې صحيح راهنمايي وکړه ، ددې دپاره چې دده نه څه غلط کار اونه شي . او دې به هميشه دې خپل ځوي ته دا وصيت کولو چې ته روزانه دا دُعا وايه :

اَللّٰهُمَّ آتِنِيْ بِفَضْلِكَ أَفْضَلَ مَا تُؤْتِيْ عِبَادَکَ الصَّالِحِيْنَ .

يا الله ! ته چې خپلو نيکو بندګانو ته څه ورکوې نو ماله په خپل فضل سره په هغې کې د ټولو نه افضل راکړه .

ددې نه علاوه دې مور به دده تربيت په ډير ښه انداز سره د شرعي اصولو موافق کولو ، دغه وجه وه چې الله تعالى دده نه د وخت عَلَّامَه جوړ کړو او ډير لوي خدمت د دين يې ورنه واخيست . دا وو د مور د دُعاګانو برکت . (۱)

## بايزيد بسطامي رحمه الله ته د مور د دُعاګانو په وجه لوي مقام حاصل و

حضرت بايزيد بسطامي رحمه الله به ويل : ماته چې الله ﷻ دا دومره لوي مقام راکړې نو دا د خپلې مور د دُعاؤ برکت دی ، چا ورنه پوښتنه وکړه چې هغه څنګه ؟ ده ورته وويل چې کله زه ځوان وم ، نو يوه شپه رانه مور اُوبه اوغوښتې ، زه د اُوبو پسې لاړم ، چې راغلم

نو مور مې اُوده شوې وه، ما اُوبه په لاس کې نيولې وې او د دې سَر ته تږله شپه ولاړ ووم، د ژمي موسم وُ، سخته يخني وه، د ډيرې يخنۍ د لاسه مې وجود لړزيدو. کله چې سهر وخت زما د مور سترګې را وغړيدې او زه يې په دې حالت کې اوليدم، نو ډيرې دُعاګانې يې راته وکړې، د هغې دُعاګانو په وجه الله ﷻ په ما باندې د ولايت دروازې خلاصې کړې. (۱)

## د مور په دُعا سره په علم کې ترقي

علامه ابن السبکي رحمه الله ذکر کړي چې د امام شافعي رحمه الله په شاګردانو کې يو کس سليم بن ايوب دی، دې چې کله د لسو کالو په عُمر وُ نو ده اَلْحَمْدُ لله نشوه ويلې، بلکه ژبه به يې نښته. دې خپله واقعه بيانوي چې يوه ورځ ماته يو عالم وويل: ته د خپلې مور نه د ځان د پاره دُعا اوغواړه چې په قرآن کريم او نورو علومو کې دې ژبه روانه شي او الله ﷻ ستا سينه د دې د پاره خلاصه کړي.

دې وايي چې ما د خپلې مور نه د ځان دپاره دُعا اوغوښته، هغې راته دُعا وکړه نو الله تعالی داسې علم راکړو چې بيا به زما په هيڅ شي کې ژبه نه نښته.

څه ډيره زمانه پس د مانه هماغه مخکيني عالم (کوم چې ماته ويلي وُ چې د مور نه د ځان دپاره دُعا اوغواړه) پوښتنه وکړه چې دا تاته الله ﷻ د څه شي په وجه دومره ترقي درکړه چې ژبه دې هم کلاوُ شوه او سينه دې هم د علم د پاره کلاوُ شوه؟

ما اراده وکړه چې زه هغه ته ووايم: که چيرته ستا مور ژوندۍ وي نو ته هم د هغې نه د ځان د پاره دُعا اوغواړه، خو چونکه ماته حياء راغله (چې دا خو لوي عالم دی ده ته خو د مور د دُعاوُ د اهميت په خپله پته ده) نو ځکه مې څه ورته ونه ويل. (۲)

(۱) تذکرة الاولياء ص ۹۰، اهل دل کے تڑپا دينے والے واقعات ج۳ ص ۱۱۹.
(۲) الطبقات لابن السبکي، نزهة المجالس ج۱ ص ۲٦۲ باب بر الوالدين.

# دوالدينو اَدب كول

۱. د حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ په باره كې نقل دي چې: يوه شپه دده نه مور اُوبه اوغوښتې، كله چې ده اُوبه راوړې نو موريې اُوده شوې وه، دده په زړه كې د مور د خدمت دومره جذبه وه چې تر سهره پورې د مور سَر ته ولاړ وُ او اُوبه يې په لاس كې نيولې وې. (۱)

۲. عون بن عبدالله رحمه الله ته مور آواز وكړو، ده چې ورته جواب وركړو نو د جواب وركولو په وخت ورنه آواز لږ اوچت شو، دې ډير خفه شو چې دا خو رانه بې اَدبي اوشوه، ددې بې اَدبۍ معاف كولو د پاره ده دوه غلامان آزاد كړه. (۲)

۳. طلق بن حبيب رحمه الله كوم چې غټ عالم او عابد تيرشوې، ده به د ډير اَدب د وجې نه د خپلې مور سَر ښكلول، او په كومه كمره كې چې به لاندې دده مور وه د هغې كمرې د پاسه به نه كيناسته. (۳)

۴. د حضرت حسن ﷺ په باره كې منقول دي چې ده به د خپلې مور حضرت فاطمې رضى الله عنها سره يو ځاى خوراک نه كولو، هغې ورنه پوښتنه وكړه چې ته د ماسره ولې خوراک نه كوې؟ نو ده ورته ووېل:

أَخَافُ أَنْ آكُلَ شَيْئًا سَبَقَ إِلَيْهِ نَظَرُكَ فَأَكُوْنَ عَاقًا لَكَ.

زه ويريږم چې هغه شى اوخورم په كوم چې ستا اول نظر لږيدلې وي (او تا د هغې د خوراک اراده كړې وي) نو زه به ستا نافرمان جوړشم.

نو هغې ورته ووېل: كُلْ وَأَنْتَ فِيْ حِلٍّ. (۴)

ته (د ماسره يو ځاى) خوراک كوه او تا ته اِجازت دى چې هر څه خورى.

۵. ابوغسان الضبي رحمه الله وايي: يو كرَت زه په لار روان ووم، او زما نه شاته زما پلار راروان وُ، په لاره كې راسره حضرت ابوهريرة ﷺ يو ځاى شو، پوښتنه يې رانه وكړه

(۱) والدين كا مقام.. ص ۸۹.
(۲) ورالديني مرجع ص ۹۰.
(۳) ورالديني مرجع ص ۷۲.

چې دا شاته کس ستا څه دی ؟ ما ورته وویل : دا خو زما پلار دی . حضرت ابو هریرة ﷺ راته وویل : تا خو د سنت خلاف کار وکړو ، او حق خبره دې پريخې ده . د خپل پلار نه مخکې مه ځه ، بلکه د هغه شاته يا خي طرف ځه .... (که يو ځای ورسره خوراک کوې نو ) د غوښې په کومه برخه (پوټي ) چې ستا د پلار نظر ولړي هغه مه راخله ، کيدې شي هغه د دې د خوړلو اراده کړې وي ، پلار ته په تيزاو کړېه نظر مه ګوره ، او تر څو پورې چې هغه ناست نه وي تر هغې وخته پورې ته مه کينه . (۱)

## د مور خدمت ته ترجيح ورکول

يو کرَت شيخ الاسلام نصربن ابي حافظ المقدسي رحمه الله د علم په تلاش کې د بيت المقدس نه روان شو او عراق ته لاړو ، هلته د مشهور فقيه امام کازروني رحمه الله په خدمت کې حاضر شو ، هغه ورنه پوښتنه وکړه چې آيا ستا مور ژوندۍ ده ؟ ده ورته وويل : آو . هغه ورته وويل چې کله ته راتلې نو د هغې نه دې اجازت راخيستې وُ ؟ ده ورته وويل چې نه .

امام کازروني رحمه الله ورته وويل : زما دې په الله ﷻ قسَم وي چې تر هغه وخته پورې به درته يو لفظ هم اونه وايم تر څو چې واپس لاړ نه شې او د خپلې مور نه اجازت راوا نه خلې او هغه راضي نه کړې .

نصربن حافظ رحمه الله وايي چې کله راته د مور د خدمت پته اولږيده نو واپس راغلم ، او د مور د ژونده پورې د هغې په خدمت کې مصروف ووم ، کله چې هغه وفات شوه نو د هغې نه روستو د علم د زده کړې د پاره ووتم . (۲)

## د والدينو د خبرې منلو اهميت

انسان ته په کار دي چې د مور او پلار د خوشحالۍ او رضا کيدو د پاره ټول محبتونه قربان کړي ، تردې چې که والدين بچي ته د خپلې ښځې طلاقولو حکم وکړي ، او شرعي

(۱) والدين کا مقام ... ص ۸۰ .

(۲) والدين کا مقام ....ص۷۵ .

لحاظ سره نقصان يقيني د ښځې وي نو بيا د ښځې د محبت په نسبت د والدينو خبرې ته ترجيح ورکول په کار دي. حضرت ابن عمر رضی الله عنهما فرمايي:

كَانَتْ تَحْتِيْ اِمْرَأَةٌ وَكُنْتُ أُحِبُّهَا وَكَانَ عُمَرُ يَكْرَهُهَا . فَقَالَ لِيْ طَلِّقْهَا فَأَبَيْتُ فَأَتَى عُمَرُ ﷺ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ ذٰلِكَ لَهُ . فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : طَلِّقْهَا . (۱)

زما په نکاح کې يوه ښځه وه، او ما ورسره ډير محبت کول، خو ليکن (زما د پلار) حضرت عمر ﷺ خوښه نه وه (کيدې شي چې څه ديني لحاظ سره کمزوري به په کې وه) نو ماته يې حکم وکړو چې ته ديته طلاق ورکړه، نو ما (د طلاق ورکولو نه) انکار وکړو.

حضرت عمر ﷺ نبي کريم ﷺ ته لاړ او هغه ته يې ددې خبرې ذکر وکړو (چې زه دې ځوي ته دا حکم کوم چې خپلې ښځې ته طلاق ورکړه او دې انکار کوي) نو نبي عليه السلام ماته وفرمايل چې ته دې خپلې ښځې ته طلاق ورکړه.

حضرت ابودرداء ﷺ ته هم يو کس راغې او عرض يې ورته وکړو:

إِنَّ لِيْ إِمْرَاءَةً وَإِنَّ أُمِّيْ تَأْمُرُنِيْ بِطَلَاقِهَا . فَقَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ: " اَلْوَالِدُ أَوْسَطُ أَبْوَابِ الْجَنَّةِ " فَإِنْ شِئْتَ فَأَضِعْ ذٰلِكَ الْبَابَ أَوِاحْفَظْهُ . (۲)

زما يوه ښځه ده، او زما مور ماته ددې د طلاق حکم کوي، حضرت ابودرداء رضی الله عنه ورته وويل چې ما د رسول الله صلی الله عليه وسلم نه اوريدلي دي چې پلار د جنت د دروازو نه مينځني بهترينه دروازه ده (يعنی د پلار رضا، خوشحالي او خبره منل د انسان د

(۱) رواه ابوداؤد، والترمذي ابواب الطلاق باب ما جاء في الرجل يساله ابوه ان يطلق زوجته، وقال حديث حسنٌ صحيح، رياض الصالحين باب برّ الوالدين وصلة الارحام حديث ۳۳۲.

(۲) رواه الترمذي الحديث ۱۹۰۰، وقال حديث حسن صحيح، وابن ماجه الحديث ۲۰۸۹، ۳۶۶۳، واحمد ۱۹۶\۵، ورواه الحميدي في مسنده ۳۹۵، مشكوة باب البرّ والصلة حديث ۱۸ . ورواه ابن حبان الا انه قال: إِنَّ رَجُلًا أَتَى أَبَا الدَّرْدَاءِ فَقَالَ إِنَّ أَبِيْ لَمْ يَزَلْ حَتّٰى زَوَّجَنِيْ وَإِنَّهُ الْآنَ يَأْمُرُنِيْ بِطَلَاقِهَا . قَالَ مَا أَنَا بِالَّذِيْ اٰمُرُكَ اَنْ تَعُقَّ وَالِدَيْكَ وَلَا بِالَّذِيْ اٰمُرُكَ اَنْ تُطَلِّقَ إِمْرَاَتَكَ غَيْرَ اَنَّكَ إِنْ شِئْتَ حَدَّثْتُكَ مَا سَمِعْتُ مِنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . سَمِعْتُهُ يَقُوْلُ " اَلْوَالِدُ أَوْسَطُ أَبْوَابِ الْجَنَّةِ " فَحَافِظْ عَلٰى ذٰلِكَ الْبَابِ إِنْ شِئْتَ اَوْ دَعْ . رواه ابن حبان، المتجر الرابح في ثواب العمل الصالح ص ۳۲۶ ابواب البر والصلة.

جنت تللو ذريعه ده ، حضرت ابو درداء ﷺ عنه دې سړي ته وفرمايل چې ) اوس ستا خوښه ده كه غوارې دا دروازه ضايع كړه ، او كه غوارې نو حفاظت يې وكړه .

فائده : حضرت ابو درداء ﷺ دې سړي ته دنبي كريم ﷺ حديث بيان كړو او بيا يې ورته وويل چې : اوس ستا خوښه ده كه مور خوشحاله ساتې نو تا ددې بهترينې دروازې حفاظت وكړو او كه خفه دې كړه نو دا دروازه دې ضايع كړه .

**ضروري تنبيه** : علماؤ ددې احاديثو په تشريح كې ليكلي چې ددې احاديثو نه اګر چې په ظاهره داسې معلوميږي چې مور او پلار كله هم بچي ته د ښځې د طلاق حكم وكړي نو ګني هغه به طلاق وركوي .

خو خبردار ! دا حكم عام نه دى چې ګني هر سړې دې بغير د څه سبب نه د والدينو په وينا ښځې ته طلاق وركوي ، بلكه طلاق وركول هلته ضروري دي چې كله په ښځه كې داسې ديني كمزوري وي چې په وعظ و نصيحت نه لرې كيږي ، يا په كې داسې صفتونه وي چې د خاوند د بدنامۍ سبب ګرځي ، يا د خاوند نه د شريعت خلاف مطالبې كوي نو په دې صورتونو كې كه والدين بچي ته د ښځې د طلاقولو حكم كوي نو منل يې ضروري دي .

او كه په ښځه كې نه څه ديني كمزوري وي ، نه په كې څه داسې خراب صفتونه وي چې د خاوند د بدنامۍ سبب ګرځي او نه ورنه د شريعت خلاف مطالبې كوي ، بلكه بغير د څه سبب نه والدين بچي ته حكم كوي چې دې ښځې له دې طلاق وركړه نو بيا د والدينو خبره منل ضروري نه دي. ځكه طلاق يو خو اَبْغَضُ الْمُبَاحَاتُ دى ( يعنى په ټولو مباحو څيزونو كې الله ﷻ ته ډير ناخوښه شى طلاق دى ) ، او دويم د طلاقو په وجه اكثر انسان ته ډيرې دشمنۍ پيدا كيږي . لهذا ښځې ته په طلاق وركولو كې ډير احتياط په كار دى .

ملا علي قاري رحمه الله په مرقاة شرحه د مشكوة كې ليكلي چې ( بغير د څه سبب نه ) په ځوي دا لازم نه دي چې د پلار په ځوله باندې خپلې ښځې ته طلاق وركړي ، اګر چې مور او پلار ته يې په طلاق نه وركولو سخت تكليف رسي ، ځكه په طلاق وركولو سره كله ځوي ته داسې سخت تكليفونه راپيښيږي كوم چې شريعت نه غواړي او نه شريعت دا بچې په دې باندې مكلف كوي . بل دا چې د والدينو د شفقت نه هم دا خبره لرې ده چې خپل بچي ته ددې

حکم وکړي . او که (بغير د څه سبب نه ځوي ته ددې) حکم وکړي نو دا به د دوی ناپوهي و
چې ددې څه اعتبار نشته . (۱)

او پاتې شو هغه حديث په کوم کې چې حضرت عمر ﷺ خپل ځوي ته د ښځې د طلا
حکم ورکړې وُ ، او بيا نبي عليه السلام هم حکم ورکړو ، نو کيدې شي چې په هغه ښځه کې
داسې څه صفت وُ چې د شريعت په نظر کې ښه نه وُ نو ځکه ورته پيغمبر عليه السلام د طلا
حکم ورکړو .

# د مُور مينه :

قدرمنو ! مور چې د بچي سره کومه مينه او محبت کوي دا محبت فطري دی ، انسان خو
پرنده چې په حيواناتو کې هم شته . تاسو به چيرته وړه مرغۍ کتلې وي چې کله يې په ځاله
کې واړه واړه بچي وي نو هغوی ته په اُوبو او خوراک ورکولو کې څومره خواري او محنت
کوي ، په خپله مخوکه کې ورله اُوبه او خوراک راوړي .

که چيرته د يوې مرغۍ په کوټه کې ځاله وي او ددې کوټې دروازه بنده وي نو دا مرغۍ
به مسلسل ځي او راځي ، عجيبه داده چې د ډير تلو راتلو په وجه به ښه ستړې وي خو په خوله
کې چې ورسره کومې اُوبه وي هغه به هم نه څکي ، تر هغه وخته پورې به دې ته اطمينان او
سکون نه حاصليږي چې ترڅو يې خپلو بچو ته خوراک او اُوبه نه وي ورکړي ، د خوراک
ورکولو نه روستو به مطمئنه او خوشحاله شي .

## واقعه

امام ابوداؤد رحمه الله يوه واقعه رانقل کړې :

عَنْ عَامِرِ الرَّامِ قَالَ : بَيْنَا نَحْنُ عِنْدَهُ يَعْنِيْ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذْ أَقْبَلَ رَجُلٌ
عَلَيْهِ كِسَاءٌ وَفِيْ يَدِهِ شَيْءٌ قَدِ الْتَفَّ عَلَيْهِ فَقَالَ : يَا رَسُوْلَ اللهِ ! مَرَرْتُ بِغَيْضَةِ شَجَرٍ فَسَمِعْتُ فِيْهَا .

---

(۱) اما باعتبار اصل الجواز فلا يلزمه طلاق زوجة امرأة بفراقها وإن تأذيا ببقاءها ايذاءً شديدًا لانه قد يحصل له ضرر بها فلا يكلفه لاجلهما . إذ من شأن شفقتهما انهما لو تحققا ذلك لم يأمراه به فالزامهما له به مع ذلک حمق منهما ولايلتفت اليه . مرقاة شرح مشكوة ، جيبي كالي ص ۸۵۵ .

اَصْوَاتَ فَرَاخِ طَائِرٍ فَأَخَذْتُهُنَّ فَوَضَعْتُهُنَّ فِيْ كِسَائِيْ فَجَاءَتْ أُمُّهُنَّ فَاسْتَدَارَتْ عَلَى رَأْسِيْ فَكَشَفْتُ لَهَا عَنْهُنَّ فَوَقَعَتْ عَلَيْهِنَّ فَلَفَفْتُهُنَّ بِكِسَائِيْ فَهُنَّ أُولَاءِ مَعِيَ . قَالَ ضَعْهُنَّ فَوَضَعْتُهُنَّ وَأَبَتْ أُمُّهُنَّ إِلَّا لُزُوْمَهُنَّ . فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : أَتَعْجَبُوْنَ لِرُحْمِ أُمِّ الْأَفْرَاخِ فَرَاخَهَا. فَوَالَّذِيْ بَعَثَنِيْ بِالْحَقِّ لَلّٰهُ أَرْحَمُ بِعِبَادِهِ مِنْ أُمِّ الْأَفْرَاخِ بِفِرَاخِهَا . إِرْجِعْ بِهِنَّ حَتّٰى تَضَعَهُنَّ مِنْ حَيْثُ أَخَذْتَهُنَّ وَأُمُّهُنَّ مَعَهُنَّ فَرَجَعَ بِهِنَّ (۱)

حضرت عامر رضی الله عنه وايي : چې يو ورځ مونږ د نبي كريم صلى الله عليه وسلم سره ناست وو ، په دې كې يو كس راغې ، څادر يې اغوستی ؤ ، او په لاس كې ورسره څه وو چې په څادر كې يې راتاؤ كړي وو ، او وې ويل : (ای د الله رسوله ! كله چې زه ستاسو د راتلو نه خبر شوم نو ستاسو ملاقات ته را روان شوم نو ) په لاره كې د اُونو په يو ځنګل راتيريدم ، نو ما په دې اُونو كې د مرغو د بچو آوازونه واوريده ، نو ما هغه بچي را واخيست او په دې څادر كې مې واچول ( چې كله را روان شوم ) نو د دې بچو مور راغله او زما د سَر د پاسه تاويده راتاويده ، ما څادر د دې بچو نه لرې كړو ( چې دا مور يې اوګوري ، كله چې دې مور دا بچي وكتل ) نو مور يې راغله او په دې بچو يې وزرې خورې كړې او نه وَرَنه پاڅيده ، نو ما په دې هم څادر واچول ، او دا دې ټول اوس د ماسره دي .

نبي عليه السلام ورته وفرمايل : ته دا كيده . دا صحابي وايي چې ما كيښوده ( او څادر مې ورنه لرې كړو ) نو دې مور هماغه شان په دې بچو خپلې وزرې خورې كړې دي، او نه ورنه پاڅيده ( صحابه كرامو رضي الله عنهم چې دا وليده نو ډير تعجب يې وكړو چې دا مور په دې خپلو بچو څومره مهربانه ده چې خپل ځان يې قيد كې وركړو خو د بچو نه جدا نه شوه نو ) نبي عليه السلام صحابه كرامو ته وفرمايل :

ای صحابو ! تاسو تعجب كوئ چې دا مور په دې خپلو بچو څومره مهربانه ده ؟

زما دې قسم وي په هغه ذات ﷻ چې زه برحق رسول راليږلې يم ، الله تعالى په خپلو بندګانو باندې د دې نه هم زيات مهربانه دی څومره چې دا مور په دې بچو مهربانه ده .

(۱) ابوداؤد كتاب الجنائز ۳۰۸۹ ، مشكوة .

صحابي وايي چې بيا نبي کريم صلی الله عليه وسلم حکم وکړو چې واپس دا ټول هماغه ځاى ته ويسه د کوم ځاى نه دې چې راخستي دي.

نو واپس هماغه ځاى ته وى وړل شو، او مورې هماغه شان ورسره وه.

## په خپلو بچو قربانيدل

۱. تاسو به کتلي وي چې کله د چرګې سره واړه واړه بچي وي، ګرځي راګرځي، په دې وخت کې پيشو راښکاره شي، اوس دې چرګې ته ښه پته لږي چې زه خو هم د دې پيشو مقابله نه شم کولې او زما د خپل سَر خطره هم شته، خو بيا هم دا چرګه نه تختي، بلکه په دې خپلو بچو باندې وزَرې راخورې کړي او د دې پيشو سره د مقابلې د پاره تياره شي.

ځکه دا چرګه بَزُبَانِ حَالْ دا وايي: اې پيشو! که چيرته ته زما بچو ته رانژدې کيږې نو تر هغه وخته پورې نه شې رانژدې کيدې تر څو پورې چې زما په وجود کې سَاه وي.

۲. يا به مو کتلي وي چې کومه چرګه يا سپۍ چې په کور کې او سيږي نو يو ماشوم ته هم هيڅ نه وايي خو چې کله ورسره بچي وي او بيا هر څوک هم دې بچو ته ورنژدې کيږي نو بيا دا چرګه او دا سپۍ په هغه حمله کوي، دا د دې د پاره چې څوک زما دې بچو ته نقصان اونه رسوي.

قدرمنو! دا خو حيوانات دي چې د خپلو بچو سره دومره محبت کوي چې د خپل ځان قربانولو ته هم تيار وي خو چې بچو ته يې نقصان اونه رسي. اوس چې انسانان وي د هغې محبت خو به ډير زيات وي.

## د ښُودو ( پيو ) ختميدو نه روستو خپل بچي ته وينه ورکول

په تيرو وختونو کې يو ځل په چين کې خطرناکه زلزله راغلې وه، چې په هغې کې په زرهاؤ خلق مړه شوي وو، په يو ځاى کې ډير غټ بلډنګ راغورځيدلې ؤ، د هغې په راسپړدلو کې دوه (۲)، درې (۳) ورځې ولړيدې، چې کله يې دا راوسپړل، نو چې ګوري چې د يوې کمرې (کوټې) چَت روغ راپريوتې، چت داسې په ترَس (ځنګ) ولاړ ؤ، او په يو ګوټ کې يوه ښځه او وروکې تې خُور ماشوم دواړه پراته دي، ژوندي دي خو بې هوشه دي (پدوې د چَت ملبه نه وه راغلې ځکه دوى د کوټې په يو ګُنج کې وو). دواړه يې هسپتال

ته وی ورل ، څه وخت پس دواړه په هوش کې راغلل ، ډاکټرانو ددې ښځې نه پوښتنه وکړه چې دا څه وجه ده چې ستا د دواړو لاسونو د ګوتو سَرونه زخمي دي ؟ پدې خود چَت مَلبه هم نده راغلې ؟ هغې ورته وویل چې کله دا چت رااُوغورځيده نو مونږ د کوټې په يو ګُنج کې ناست وو ، مونږ محفوظ شو خو د راوتلو لاره نوه . دې وړوکي تي خُور ماشوم ژړل ، مابه ورته خپله سينه ورکړه ، دې به قرار شو ، آخر دوه دری ورځې پس زما په سينه کې شُودده (پی) هم ختم شو ، ځکه د خوراک او څکاک څه نهٔ چې ما خوړلي وی ، نو دې ماشوم به ډير ژړل ، مابه ورته کله خپله ګوته په خُله کې ورکړه چې قلار شي ، خو دې به نه قلاريده ، ځکه دده خيټې ته به د خوراک څه نه تلل

کله چې دده وَلږه او ژړا زياته شوه ، او زما دبرداشت نه بهر شوه ، نو ما د ځان سره سوچ وکړو چې که زما په سينه کې شودده (پی) نشته ، نو په وجود کې خو مې وينه شته ، نو ما د خپل لاس دايوه ګُته په غاښونو اوچيچله او زخمي مې کړه ، چې کله ورنه وينه را ووته ، نو ما دې ماشوم ته په خُله کې کيښوده ، نو ده به اُوچوپله ، څه وخت به قرار شو .

کله به چې بيا په ژړا شو نو مابه دا دويمه ګُته په غاښونو او چيچله او ده ته به مې په خُله کې کيښوده . دغه شان نمبر په نمبر مې لس (۱۰) واړه ګوتې په غاښونو اوچيچلې ، او ده ته به مې په خُله کې کيښودی . آخر د مانه هم ډيره وينه لاړه ، زه هم د کمزورتيا نه بی هوشه شوم او دې ماشوم چونکه ډيره وينه څکلې وه ، نو دې هم بې هوشه شو ، مونږ بيا په ځان نه يو پُوهه شوي . اوس دادی تاسو دلته هسپتال ته راوړي يو .

کله چې ډاکټرانو دا خبره واوريده نو سخت حيران شو چې ګوره مور د بچي سره دومره محبت کوي ، که مورته دا پَته اولږي چې زما په وينه څکلو دا بچې ژوندې پاتی کيږي نو هم ورته ورکوي يې . (۱)

محترمو ! مور دا نه غواړي چې زما بچي ته دې معمولي تکليف اورسي .

(۱) اهل دل کے تڑپا دینے والے واقعات ج۳ ص ۳۴ .

# مور بچي ته تکليف رسيدل نه برداشت کوي

په مشکوة شريف کې يوه واقعه ذکر ده ، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي چې دوه ښځې (په ځنګل کې) رواني وې ، د دواړو سره خپل خپل بچي وو ، په دې کې يو ليوه راغې او ددې يوې (مشرې ښځې) نه يې بچې اوتختول (دا ډيره خفه شوه ، آخر دا چې دې ښځې دا برداشت نه کړې شوه چې د ماسره بچې نشته او ددې بلې ښځې سره شته) نو دې (مشرې) ښځې په دې دويمې باندې دعوى وکړه چې دا ژوندې بچې خو زما دى ، هغې ورته وويل چې: ( ستا هغه ليوه اوتختول او ) دا زما بچې دى ، د دواړو جګړه شوه ، فيصله حضرت داود عليه السلام ته راغله ، حضرت داوُد ﷺ ددې مشرې ښځې (د کومې نه چې بچې ليوه وړې وُ) په حق کې فيصله وکړه (چې دا بچې ددې دى (۱)) بيا دا دواړه ښځې په حضرت سليمان ﷺ تيريدى ، نو دوى هغه ته هم پوره واقعه بيان کړه ( حضرت سليمان ﷺ وفرمايل : ( ددې فيصله زه کوم ، نو يو تدبير يې جوړ کړو ددې د پاره چې دا معلومه کړي چې دا ژوندې بچې د چا دى ؟ نو حکم يې وکړو ) : چاړه راوړئ ، کله يې چې ورته چاړه راوړه ، نو دواړو ته يې ووېل : زه به اوس دا بچې په مينځ کټ کوم ، نيم به تاته درکوم ، او نيم به دې دويمې ته ورکوم .

نو دې مشرې ښځې خو دا فيصله اومنله چې نيم يې کړه (ځکه ديته پته وه چې زما بچې خو ليوه اوخوړو ، پريده چې ددې دا بچې هم ختم شي) خو دې کشرې ښځې اوژړل ، او وې ويل چې کټ کوه يې مه ، بلکه همدې ښځې ته يې ورکړه (ځکه که د همدې سره وي نو کم از کم ژوندې خو به وي ، کله ، کله خو به يې ګورم ، زما بچې خو به بچ شي ) .

حضرت سليمان ﷺ پوهه شو چې ددې ماشوم اصلي مور دا کشره ښځه ده نو بچې يې هغې ته ورکړو . (۲)

(۱) امام نووي رحمه الله ذکر کړي چې حضرت داوُد ﷺ ځکه د مشرې ښځې په حق کې فيصله وکړه چې يو خو دا ماشوم د هغې سره په لاس کې وُ ، يا يې ددې ښځې د مشرى لحاظ ساتلې وُ ، يا کيدې شي چې په څه ظاهري شکل و شباهت کې دا ماشوم ددې مشرې ښځې په شان وُ نو ځکه يې ددې په باره کې فيصله وکړه .
(۲) مشکوة شريف ص ۵۸ ، نسائي شريف ج۲ ص ۲۶۱ .

معلومه شوه چې مور هيڅ کله دا نه غواړي چې زما بچي ته دې معمولي تکليف اورسي.

قدرمنو ! تاسو دمور دې محبت ته اوګورئ چې کله بچې ددې مور سره په غيږ کې وي نو اکثر دا بچې ددې مور ويښتان راکاږي، يا دا خپله مور په مخ باندې په څپيړه اووهي، نو په کار خو داوه چې دا مور دا بچې ښکته اوغورځوي چې دا زه درسره څومره مينه کوم او ته ايله زما ويښتان راکاږې او ما وهې، خو ليکن د مور دومره محبت وي چې بيا هم ددې بچي لاسونه ښکل کړي او خوشحاله شي. سبحانَ الله ديته دمور محبت وايي.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

﴿ إِمَّا يَبْلُغَنَّ عِنْدَكَ الْكِبَرَ أَحَدُهُمَا أَوْ كِلَاهُمَا فَلَا تَقُلْ لَهُمَا أُفٍّ وَلَا تَنْهَرْهُمَا وَقُلْ لَهُمَا قَوْلًا كَرِيْمًا ﴾. سورة الإسراء آيت ٢٣.

# عُقوقُ الوَالدَين

يعنى

## د مور او پلار نافرماني (او د هغې سزا)

تاليف :


اَبُوالشَّمس مولانا نُورُالهُدىٰ عُفِيَ عَنْهُ

مُدَرِّس دَارُالعلوم فيض القرآن اكاخيل كالونى مردان

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# د مور او پلار د نافرمانۍ سزا:

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَحْدَهٗ، وَالصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى مَنْ لَّا نَبِيَّ بَعْدَهٗ، وَلَا رَسُوْلَ بَعْدَهٗ، وَهُوَ خَاتَمُ النَّبِيِّيْنَ، وَعَلٰى آلِهٖ وَاَصْحَابِهٖ اَجْمَعِيْنَ، وَعَلٰى مَنْ تَبِعَهٗ وَتَبِعَهُمْ بِاِحْسَانٍ اِلٰى يَوْمِ الدِّيْنِ.

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ. قَالَ اللّٰهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى فِي الْقُرْآنِ الْمَجِيْدِ وَالْفُرْقَانِ الْحَمِيْدِ:

﴿وَقَضٰى رَبُّكَ اَلَّا تَعْبُدُوْا اِلَّا اِيَّاهُ وَبِالْوَالِدَيْنِ اِحْسَانًا. اِمَّا يَبْلُغَنَّ عِنْدَكَ الْكِبَرَ اَحَدُهُمَا اَوْ كِلَاهُمَا فَلَا تَقُلْ لَّهُمَا اُفٍّ وَّلَا تَنْهَرْهُمَا وَقُلْ لَّهُمَا قَوْلًا كَرِيْمًا﴾ (۱)

وَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ: اِنَّ اللّٰهَ حَرَّمَ عَلَيْكُمْ عُقُوْقَ الْاُمَّهَاتِ. (۲)

صَدَقَ اللّٰهُ الْعَظِيْمُ. زما خوږو قدرمنو او عزت منډو مسلمانانو ورونو! په مسلمان باندې په حقوق العبادو کې د ټولو نه زيات حق هغه د خپلو والدينو دی، ځکه د والدينو په بچې باندې ډېر زيات احسانات دي. لکه څرنګ چې د انسان د وجود د پاره مؤثرِ حقيقي او سببِ حقيقي الله ﷻ دی نو دغه شان د انسان د وجود د پاره سببِ ظاهري همدا والدين دي. (۳)

---

(۱) الإسراء آيت ۲۳.

(۲) اخرجه البخاري ۲۲۷۷، ومسلم ۵۹۳، مشكوة كتاب البرّ والصلة الفصل الاول حديث ۵.

(۳) لکه علامه آلوسي رحمه الله په خپل تفسير کې ليکي: ثُمَّ اِنَّ السَّبَبَ فِيْ تَعْظِيْمِ اَمْرِ الْوَالِدَيْنِ اَنَّهُمَا السَّبَبُ الظَّاهِرِيُّ فِيْ اِيْجَادِهٖ وَتَعْيِيْشِهٖ وَلَا يَكَادُ تَكُوْنُ نِعْمَةُ اَحَدٍ مِّنَ الْخَلْقِ عَلَى الْوَلَدِ كَنِعْمَةِ الْوَالِدَيْنِ عَلَيْهِ. روح المعاني ج۸ ص۹۷ الاسراء الاية ۲۳. امام رازي رحمه الله ليکي: اَلسَّبَبُ الْحَقِيْقِيُّ لِوُجُوْدِ الْاِنْسَانِ هُوَ تَخْلِيْقُ اللّٰهِ تَعَالٰى وَاِيْجَادُهٗ، وَالسَّبَبُ الظَّاهِرِيُّ هُوَ الْاَبَوَانِ. فَاَمَرَ بِتَعْظِيْمِ السَّبَبِ الْحَقِيْقِيِّ. ثُمَّ اَتْبَعَهٗ بِالْاَمْرِ بِتَعْظِيْمِ السَّبَبِ الظَّاهِرِيِّ. تفسير كبير ج۷ ص۳۲۱ الاسراء الاية ۲۳. بيا روستو ليکي: لِاَنَّ الْمُؤَثِّرَ الْحَقِيْقِيَّ فِيْ وُجُوْدِ الْاِنْسَانِ هُوَ اللّٰهُ سُبْحَانَهٗ وَفِي الظَّاهِرِ هُوَ الْاَبَوَانِ. نَعَمْ نَعِيْمُهُمَا عَلَى الْاِنْسَانِ عَظِيْمَةٌ وَهِيَ نِعْمَةُ التَّرْبِيَةِ وَالشَّفْقَةِ وَالْحِفْظِ عَنِ الضِّيَاعِ وَالْهَلَاكِ وَقْتَ الصِّغَرِ. تفسير كبير ج۷ ص۳۲۲ الاسراء الاية ۲۳.

دغه وجه ده چې په قرآن کريم او احاديثو مبارکه وُکې د والدينو حقوق ډير په تاکيد او اهميت سره بيان شوي، تر دې چې د والدينو اطاعت په جائز امورو کې فرض عين دی. (١) او نافرماني يې ګناه کبيره او حرامه ده.

## د "أف" ويلو ممانعت

الله ﷻ والدينو ته د اُف ويلو نه هم منع کړې، الله رب العزت فرمايي:

﴿ إِمَّا يَبْلُغَنَّ عِندَكَ الْكِبَرَ أَحَدُهُمَا أَوْ كِلَاهُمَا فَلَا تَقُل لَّهُمَا أُفٍّ وَلَا تَنْهَرْهُمَا وَقُل لَّهُمَا قَوْلًا كَرِيمًا ﴾ (٢)

ترجمه: که چيرته په دوی کې يو يا دواړه تاسره د بوډا والي حالت ته اورسي (يعنی ستا په ژوند کې دوی دواړه يا يو بوډا شي) نو دوی ته اُف مه وايه، او مه يې رټه، او د دوی سره په نرمۍ خبرې کوه.

نو په دې آيت کې دوی ته د اُف ويلو يا د هرې داسې خبرې او کار کولو ممانعت بيان شوې چې په هغې سره والدينو ته تکليف رسيږي، که هغه کنځل کول وي، يا ستغې سپورې خبرې کول وي يا وهل او رټل وي، دا ټول منع دي. (٣)

---

(١) لِأَنَّ إِطَاعَتَهُمَا (أَيِ الْوَالِدَيْنِ) فَرْضُ عَيْنٍ. الدرالمختار على هامش ردّ المحتار ج٣ ص ١٢٥ كتاب الجهاد. طَاعَةُ الْوَالِدَيْنِ فَرْضُ عَيْنٍ. البحرالرائق ج٥ ص ٧٢ اول كتاب السير ط كوئټه، حاشية الشبلي ج٣ ص ٢٤١ كتاب السير ط امداديه ملتان، وحاشيه فتاوی محموديه ج٢٩ ص ٩٠. د مور او پلار تابعداري (په جائزو کارونو کې) فرضِ عين دی.

(٢) الإسراء آيت ٢٣.

(٣) ﴿ فَلَا تَقُل لَّهُمَا أُفٍّ ﴾ وَالْأُفُّ مَعْنَاهُ الْقِلَّةُ يَعْنِيْ لَا تَقُلْ لَهُمَا كَلِمَةً تَدُلُّ عَلَى أَدْنَى كَرَاهَةٍ. فَيحرمُ بِذٰلِكَ سَائِرُ أَنْوَاعِ الْإِيذَاءِ بِدَلَالَةِ النَّصِّ بِالطَّرِيْقِ الْأَوْلَى. مظهري ج٥ ص ٤٣١. امام رازي رحمه الله فرمايي: اَلْمَنْعُ مِنَ التَّأْفِيفِ إِنَّمَا يَدُلُّ عَلَى الْمَنْعِ مِنَ الضَّرْبِ بِوَاسِطَةِ الْقِيَاسِ الْجَلِيِّ الَّذِيْ يَكُوْنُ مِنْ بَابِ الْإِسْتِدْلَالِ بِالْأَدْنٰى عَلَى الْأَعْلٰى. تفسير كبير ج٧ ص ٣٢٥ الاسراء آيت ٢٣. علامه آلوسي رحمه الله ليکي: وَالنَّهْيُ عَنْ ذٰلِكَ (يعني أُفٍّ) يَدُلُّ عَلَى الْمَنْعِ مِنْ سَائِرِ أَنْوَاعِ الْإِيذَاءِ قِيَاسًا جَلِيًّا لِأَنَّهُ يَفْهَمُ بِطَرِيْقِ الْأَوْلٰى وَيُسَمّٰى مَفْهُوْمَ الْمُوَافَقَةِ وَدَلَالَةَ النَّصِّ وَفَحْوَى الْخِطَابِ ..... وَخُصَّ بَعْضُ أَنْوَاعِ الْإِيذَاءِ بِالذِّكْرِ فِيْ قَوْلِهِ تَعَالٰى ﴿ وَلَا تَنْهَرْهُمَا ﴾ لِلْإِعْتِنَاءِ بِشَأْنِهِ روح المعاني ج٨ ص ٧٣ الاسراء آيت ٢٣

# د شرک نه پس ذکر کیدل

په یو بل آیت کې الله ﷻ د څنو حرامو کارونو تذکره کړې، الله تعالی فرمايي:

﴿قُلْ تَعَالَوْا أَتْلُ مَا حَرَّمَ رَبُّكُمْ عَلَيْكُمْ أَلَّا تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا﴾. (۱)

ترجمه: (اې پیغمبره!) ته دې خلقو ته ووایه: تاسو راشئ چې زه تاسو ته هغه څه اولولم کوم چې ستاسو رب په تاسو باندې حرام کړي دي، هغه دا چې تاسو د الله تعالی سره هیڅ څیز مه شریکوئ، او د مور او پلار سره احسان (ښه سلوک) کوئ.

په دې آیتِ مبارکه کې الله ﷻ اول حکم دا وکړو چې د الله ﷻ سره څوک مه شریکوئ (نه په ذات کې او نه په صفاتو کې)، او دویم الله ﷻ دا بیانول غوارې چې د والدینو نافرماني مه کوئ. څکه په آیت کې اصل مقصود د حرامو څیزونو بیان کول دي، او دا د نهي او منعې په عنوان سره ذکر کول په کار وو، خو لیکن بعضې شیان په ایجابي دول د امر په صیغې سره ذکر شوي لکه د والدینو سره بدسلوکي کولو نه ممانعت په حکیمانه انداز کې داسې بیان شوی چې د والدینو سره احسان کوئ.

او په دې کې حکمت دا دی چې په دې کې اشاره ده دې خبرې ته چې د والدینو په باره کې صرف دومره کافي نه ده چې د دوی نافرماني مه کوئ، بلکه د دوی سره ښه سلوک او راضي کول هم فرض دي. (۲)

نو په دې آیتِ مبارکه کې والدینو ته ضرر او تکلیف رسول د شرک نه پس دویم نمبر غټ جُرم تاکل شوی.

په یو بل آیت کې د والدینو سره احسان او فرمانبرداري د الله ﷻ د عبادت پسې روستو متصلا ذکر شوی، الله تعالی فرمايي:

---

(۱) الانعام آیت ۱۵۱.

(۲) معارف القرآن الانعام آیت ۱۵۱. علامه جارالله زمحشري ددې آیت لاندې لیکي: لَمَّا وَرَدَتْ هَٰذِهِ الْأَوَامِرُ مَعَ النَّوَاهِيْ وَتَقَدَّمَهُنَّ جَمِيْعًا فِعْلُ التَّحْرِيْمِ وَاشْتَرَكْنَ فِي الدُّخُوْلِ تَحْتَ حُكْمِهِ، عُلِمَ أَنَّ التَّحْرِيْمَ رَاجِعٌ إِلَى أَضْدَادِهَا وَهِيَ الْإِسَاءَةُ إِلَى الْوَالِدَيْنِ... الکشاف ج۲ ص ۷۵ الانعام آیت ۱۵۱.

﴿ وَقَضَىٰ رَبُّكَ أَلَّا تَعْبُدُوا إِلَّا إِيَّاهُ وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا ﴾. (۱)

ترجمه: او ستا رب دا حکم کړی چې بې د هغه (الله جلّ جلاله) نه د بل هیچا عبادت مه کوئ، او د مور او پلار سره احسان (ښیګړه او ښه سلوک) کوئ.

همدغه شان په یو آیت کې د الله جلّ جلاله د شکرېې سره د والدینو د شکرې ذکر هم راغلی، الله تعالی فرمايي:

﴿ أَنِ اشْكُرْ لِي وَلِوَالِدَيْكَ ﴾. (۲)

ترجمه: (اې بنده!) ته زما شکریه اداء کوه او د خپل مور او پلار شکریه اداء کوه.

ددې آیتونو نه معلومه شوه چې د والدینو فرمانبرداري او راضي کول په انسان باندې لازم او ضروري دي، او د دوی نافرماني ګناه کبیره ده.

## د والدینو نافرماني حرامه ده

نبي علیه السلام فرمايي:

إِنَّ اللهَ حَرَّمَ عَلَيْكُمْ عُقُوقَ الْأُمَّهَاتِ. (۳)

بیشکه الله تعالی په تاسو باندې د میندو (او پلارانو) نافرماني حرامه کړې.

## د والدینو نافرماني ګناه کبیره ده

یو کرت نبي کریم ﷺ صحابه کرامو ته وفرمایل:

أَلَا أُنَبِّئُكُمْ بِأَكْبَرِ الْكَبَائِرِ؟ ثَلَاثًا. قُلْنَا: بَلَى يَا رَسُولَ اللهِ. قَالَ: اَلْإِشْرَاكُ بِاللهِ، وَعُقُوقُ الْوَالِدَيْنِ وَكَانَ مُتَّكِئًا فَجَلَسَ فَقَالَ: أَلَا وَقَوْلُ الزُّورِ وَشَهَادَةُ الزُّورِ. فَمَا زَالَ يُكَرِّرُهَا حَتَّى قُلْنَا لَيْتَهُ سَكَتَ. (۴)

---

(۱) الإسراء آیت ۲۳.

(۲) سورة لقمان آیت ۱۴.

(۳) اخرجه البخاري ۲۲۷۷، ومسلم ۵۹۳، مشکوة کتاب البرّ والصلة الفصل الاول حدیث ۵.

(۴) متفق علیه، ریاض الصالحین باب برّ الوالدین وصلة الارحام حدیث ۳۳۵، ترمذي من حدیث ابي بکرة. په یو روایت کې داسې ذکر دي: أَكْبَرُ الْكَبَائِرِ اَلْإِشْرَاكُ بِاللهِ وَعُقُوقُ الْوَالِدَيْنِ .... رواه البخاري، نزهة الناظرین .... ص ۱۳۹.

آيا زه تاسو ته د کبيره ګناهونو باره کې خبر درنکړم؟ دا خبره يې درې پيرې وفرمايله. مونږ ورته وويل چې هو، اې د الله ﷺ رسوله (خبر راکړئ)؛ نو نبي عليه السلام وفرمايل: د الله ﷻ سره شريک جوړول، او د والدينو نافرماني کول، پيغمبر ﷺ تکيه وهلې وه نو راکيناست، او وې فرمايل: خبردار! دروغ ويل او د دروغو ګواهي ورکول (دا هم په کبيره ګناهونو کې داخل دي). پيغمبر ﷺ دا اخيري خبره (اَلَا وَقَوْلُ الزُّوْرِ وَشَهَادَةُ الزُّوْرِ) پرله پسې کوله، تردې چې مونږ وويل: کاش چې دوی چُپ شي (ځکه دوی ته په بار بار ويلو کې تکليف دی).

# دوالدينو سره احسان نه کوونکي ته د نبي ﷺ خبرې

حضرت ابو هريرة ؓ د نبي کريم ﷺ دا حديث مبارکه نقل کوي چې پيغمبر ﷺ فرمايلي:

رَغِمَ أَنْفُ، رَغِمَ أَنْفُ، رَغِمَ أَنْفُ. قِيْلَ: مَنْ يَارَسُوْلَ اللهِ؟ قَالَ: مَنْ أَدْرَكَ أَبَوَيْهِ عِنْدَالْكِبَرِ أَحَدُهُمَا أَوْكِلَيْهِمَا فَلَمْ يَدْخُلِ الْجَنَّةَ.(۱)

د هغه سړي پوزه دې په خاورو ککړه شي (يعنى ذليل او خوار دې شي)، بيا دې د هغه پوزه په خاورو ککړه شي، او بيا دې د هغه پوزه په خاورو ککړه شي (نبي کريم ﷺ درې کرت دا خبرې وکړې) نو پوښتنه ورنه وشوه: (اې د الله رسوله!) دا سړی څوک دی؟ (چې د هغه په حق کې دا خبرې اوشوې؟) رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: دا هغه کس دی چې هغه خپل والدين دواړه يا يو د بوډاوالي په حالت کې بيامومي او بيا جنت ته داخل نه شي (يعنى د هغوی د خدمت په وجه جنت ته داخل نه شي. ځکه د والدينو خدمت د جنت تللو ذريعه ده).

**فائده**: پيغمبر عليه السلام چې درې پيرې خبرې وکړې نو دا ځکه چې کوم کس مور او پلار دواړه يا يو د بوډا والي په حالت کې ومومي نو دده د پاره جنت ګټل ډير آسان دي.

(۱) مسلم کتاب البرّ والصلة والاداب، باب رغم انف من ادرک ابويه او احدهما عندالکبر فلم يدخل الجنّة ۶۴۷۰\۹، ترمذي الدعوات باب قول رسول الله ﷺ رغم انف رجل ۳۸۴۵. په يو روايت کې داسې الفاظ دي: رَغِمَ اَنْفُهُ. رَغِمَ اَنْفُهُ. رَغِمَ اَنْفُهُ ...

نو اوس چې يو كس د دوى خدمت او نه كړي او ځان د جنت تللو مستحق جوړ نه كړي نو يقيني چې دا ډير بدبخت انسان دى ، نو ځكه رسول الله ﷺ د ده باره كې د ذلت او رسوايۍ خيرې وكړې . (۱)

نبي كريم صلى الله عليه وسلم په يو موقع وفرمايل : مَلْعُوْنٌ مَنْ عَقَّ وَالِدَيْهِ . (۲)

د الله ﷻ د طرفه لعنت ليږل شوى په هغه چا چې د والدينو نافرماني كوي .

## د حضرت جبرائيل عليه السلام خيرې او د نبي عليه السلام پرې آمين ويل

د حضرت كعب بن عجرة رضي الله عنه په حديث كې ذكر دي (كوم چې اوږد حديث دى) چې نبي اكرم ﷺ وفرمايل ..... كله چې ما د ممبر په دريمه پوړۍ قدم كيښود نو حضرت جبريل عليه السلام دا خيرې وكړې : بَعُدَ مَنْ أَدْرَكَ أَبَوَيْهِ الْكِبَرَ أَوْ أَحَدُهُمَا فَلَمْ يُدْخِلَاهُ الْجَنَّةَ .

هلاک دې شي هغه كس چا چې خپل مور او پلار دواړه يا يو د بوډا والي په حالت كې اومونده ، او هغوى دې جنت ته داخل نه كړي .(يعنى د هغوى خدمت او نه كړي چې جنت ته پرې داخل شي). فَقُلْتُ آمِيْن . نو ما د هغوى په خيرو باندې آمين ووېل . (۳)

---

(۱) تكمله فتح الملهم ج۵ ص ۱۷۲ باب رغم الف من ادرک ابويه او احدهما ... ، معارف القرآن الانعام آيت ۱۵۱ .

(۲) رواه الطبراني والحاكم وقال صحيح الاسناد ، الترغيب والترهيب ج۳ ص ۲۲۵ . په يو بل روايت كې دا سې الفاظ دي : لَعَنَ اللهُ مَنْ سَبَّ وَالِدَيْهِ . رواه ابن حبان في صحيحه ، الترغيب والترهيب ج۳ ص ۲۲۹ .

(۳) هذا الحديث اخرجه الحاكم وابن حبان والطبراني عن كعب بن عجرة ورجاله ثقات . عَنْ كَعْبِ بْنِ عُجْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : " أُحْضُرُوا الْمِنْبَرَ " فَحَضَرْنَا . فَلَمَّا ارْتَقَى دَرَجَةً قَالَ : " آمِيْن " فَلَمَّا ارْتَقَى الدَّرَجَةَ الثَّانِيَةَ قَالَ : " آمِيْن " فَلَمَّا ارْتَقَى الدَّرَجَةَ الثَّالِثَةَ قَالَ : " آمِيْن " فَلَمَّا نَزَلَ عَنِ الْمِنْبَرِ قُلْنَا : يَا رَسُوْلَ اللهِ ! لَقَدْ سَمِعْنَا مِنْكَ الْيَوْمَ شَيْئًا مَا كُنَّا نَسْمَعُهُ ؟ قَالَ : إِنَّ جِبْرِيْلَ عَرَضَ لِيْ فَقَالَ : بَعُدَ مَنْ أَدْرَكَ رَمَضَانَ فَلَمْ يُغْفَرْ لَهُ . فَقُلْتُ : " آمِيْن " فَلَمَّا رَقِيْتُ الثَّانِيَةَ قَالَ : بَعُدَ مَنْ ذُكِرْتَ عِنْدَهُ فَلَمْ يُصَلِّ عَلَيْكَ . فَقُلْتُ " آمِيْن " فَلَمَّا رَقِيْتُ الثَّالِثَةَ قَالَ : بَعُدَ مَنْ أَدْرَكَ أَبَوَيْهِ الْكِبَرَ عِنْدَهُ أَوْ أَحَدُهُمَا فَلَمْ يُدْخِلَاهُ الْجَنَّةَ فَقُلْتُ : " آمِيْن " . الترغيب والترهيب ج۴ ص ۳۳۰ الترغيب في اكثار الصلاة على النبي ﷺ ، حديث نمبر ۳۴ ، ورواه الحاكم في المستدرک ج ۴ ص ۱۷۰ رقم : ۷۲۵۶ ، وقال هذا حديث صحيح الاسناد ولم يخرجاه ووافقه الذهبي والبخاري في برالوالدين ، وابن حبان في صحيحه ، ورواه الهيثمي في مجمع الزوائد ج ۱۰ ص ۱۶۶ وعزاه للطبراني .

## مور او پلار ته کنځل کول ګناه کبيره ده

نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايي :

مِنَ الْكَبَائِرِ شَتْمُ الرَّجُلِ وَالِدَيْهِ . قَالَ : يَا رَسُوْلَ اللهِ ! وَهَلْ يَشْتِمُ الرَّجُلُ وَالِدَيْهِ ؟ قَالَ نَعَمْ . يَسُبُّ أَبَا الرَّجُلِ فَيَسُبُّ أَبَاهُ ، وَيَسُبُّ أُمَّهُ فَيَسُبُّ أُمَّهُ . (۱)

د کبيره ګناهونو نه يوه کبيره ګناه داده چې سړې خپل مور او پلار ته کنځل کوي ، صحابه کرامو عرض وکړو : يارسول الله ! آيا يو سړې خپل مور او پلار ته هم کنځل کوي ؟ نبي ﷺ ورته وفرمايل : آو ، چې کله دې د بل چا پلار ته کنځل کوي نو هغه دده پلار ته کنځل کوي ، او چې کله دې دبل چا مور ته کنځل کوي نو هغه هم بيا دده مور ته کنځل کوي . ( نو دا سړې سبب جوړ شو خپل مور او پلار ته د کنځل کولو د پاره ، ځکه که ده د هغه مور او پلار ته کنځل نه وې کړې نو هغه به هم ده ته نه کولې ) .

نن صبا خو داسې بدبخته خلق شته چې نيغ په نيغه خپل مور او پلار ته کنځل کوي ، نو په داسې سړي باندې لعنت ليږل شوې دی .

## د والدينو په نافرمان لعنت

نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايي :

لَعَنَ اللهُ مَنْ سَبَّ أَبَاهُ ، لَعَنَ اللهُ مَنْ سَبَّ أُمَّهُ . (۲)

الله ﷻ لعنت ليږلې په هغه چا باندې چې خپل پلار ته کنځل کوي ، او لعنت ليږلې الله ﷻ په هغه چا باندې څوک چې خپل مور ته کنځل کوي .

په يو حديث کې راځي :

مَلْعُوْنٌ مَنْ عَقَّ وَالِدَيْهِ . (۳)

لعنتي دی څوک چې د مور او پلار نافرماني کوي .

---

(۱) اخرجه البخاري ۵۶۲۸ ، ومسلم ۹۰ ، مشكوة باب البر والصلة الفصل الاول حديث ٦ .

(۲) رواه ابن حبان في صحيحه من حديث ابن عباس ، الكبائر للامام الحافظ الذهبي الكبيرة الثامنة عقوق الوالدين ص ۴۵ .

(۳) رواه الطبراني في الاوسط والحاكم ، الترغيب والترهيب ج۳ ص ۱۹٦ .

## د مور د نافرمانۍ په وجه په عذاب قبر کې مبتلاء کېدل

حضرت عوام بن حوشب رحمه الله خپله واقعه بيانوي چې يو پيره (ما په ايران، نيشاپور ښار کې سفر کولو نو) زه يو کلي ته ورسيدم، په هغه کلي کې يو طرفته مقبره وه (هلته په جمات کې مې د مازيګر لمونځ وکړو) د لمانځه نه پس ما اوکته چې په دې مقبره کې يو قبر وشليده (يعنى څيرې شو) او د هغې نه يو کس را ووت چې سَر يې د خر ؤ، او نور بدن يې د انسان ؤ، ده د خَر غوندې يو درې آوازونه وکړه، بيا وربانديې قبر واپس وربند شو (زه ډير حيران شوم چې دا څه معامله ده؟) ناڅاپه مې هلته يوه بوډۍ وليده چې ويښتان يې کمڅې کول، ماته دې بوډۍ وويل: (اې فلانکيه!) ته دا پورې ښځه ګورې؟ ما ورته وويل چې: په دې څه شوي (او څه خبره ده؟) دې بوډۍ راته وويل چې: هغه ښځه د دې قبر واله مور ده. ما ورته وويل چې د دې څه واقعه ده؟ (هغه خو راته بيان کړه)، نو دې بوډۍ وويل: دا دقبر واله کس د شرابو عادي ؤ، کله به چې کورته راغې نو دې مور به ورته وويل: اې بچيه! د الله تعالى نه اويرېږه ترڅو پورې به ته دا شراب څکې. نو ده ورته په جواب کې وويل: "تا خو داسې بريګې (آواز کوې) لکه خَر چې بريګي" نو دا کس د مازيګر نه پس وفات شو نو اوس ده ته الله تعالى دا سزا ورکړې چې په هره ورځ د مازيګر لمانځه نه پس دده قبر وشليږي، د خر غوندې درې آوازونه وکړي، او بيا دوباره وربانديې قبر بند شي. (۱)

---

(۱) وَعَنِ الْعَوَّامِ بْنِ حَوْشَبٍ رحمه الله قَالَ: نَزَلْتُ مَرَّةً حَيًّا، وَإِلَى جَانِبِ ذَلِكَ الْحَيِّ مَقْبَرَةٌ. فَلَمَّا كَانَ بَعْدَ الْعَصْرِ انْشَقَّ مِنْهَا قَبْرٌ فَخَرَجَ رَجُلٌ رَأْسُهُ رَأْسُ الْحِمَارِ وَجَسَدُهُ جَسَدُ إِنْسَانٍ فَنَهَقَ ثَلَاثَ نَهَقَاتٍ، ثُمَّ انْطَبَقَ عَلَيْهِ الْقَبْرُ. فَإِذَا عَجُوزٌ تَغْزِلُ شَعْرًا أَوْ صُوفًا. فَقَالَتِ امْرَأَةٌ: تَرَى تِلْكَ الْعَجُوزَ؟ قُلْتُ: مَا لَهَا؟ قَالَتْ: تِلْكَ أُمُّ هَذَا. قُلْتُ: وَمَا كَانَ قِصَّتُهُ؟ قَالَتْ: كَانَ يَشْرَبُ الْخَمْرَ فَإِذَا رَاحَ تَقُولُ لَهُ أُمُّهُ: يَا بُنَيَّ اتَّقِ اللهَ إِلَى مَتَى تَشْرَبُ هَذِهِ الْخَمْرَ؟ فَيَقُولُ لَهَا: إِنَّمَا أَنْتِ تَنْهَقِينَ كَمَا يَنْهَقُ الْحِمَارُ. قَالَتْ: فَمَاتَ بَعْدَ الْعَصْرِ. قَالَتْ: فَهُوَ يَنْشَقُّ عَنْهُ الْقَبْرُ بَعْدَ الْعَصْرِ كُلَّ يَوْمٍ، فَيَنْهَقُ ثَلَاثَ نَهَقَاتٍ، ثُمَّ يَنْطَبِقُ عَلَيْهِ الْقَبْرُ. رواه الاصبهاني ج۲ ص ۲۲٦ كتاب البر والصلة، الترهيب من عقوق الوالدين، وَقَالَ الْأَصْبَهَانِي حَدَّثَ أَبُو الْعَبَّاسِ الْأَصَمُّ بِنَيْسَابُورَ بِمَشْهَدٍ مِنَ الْحُفَّاظِ فَلَمْ يُنْكِرُوهُ. نزهة الناظرين في الاخبار والآثار المروية عن الانبياء والصالحين ص ۳۹۳ الباب الثاني عشر في برّ الوالدين وصلة الارحام.

# د مور او پلار نافرمان به جنت ته نه داخليږي

د والدينو نافرماني دومره خطرناکه ګناه ده چې د دې په وجه انسان د جنت نه هم محرومه کيږي ، پيغمبر عليه السلام فرمايي :

لَايَدْخُلُ الْجَنَّةَ مَنَّانٌ وَلَاعَاقٌ وَلَامُدْمِنُ خَمْرٍ . (۱)

جنت ته به هغه سړی نه داخليږي څوک چې د چا سره نيکي کولو نه روستو په هغه باندې احسان زباتي ، او نه به هغه سړی جنت ته داخليږي څوک چې د مور او پلار نافرماني کوونکې وي ، او نه هغه کس چې شراب څکي (او بغير د توبې مړ شي) .

يعنى د سزا خوړلو نه بغير به بې حسابه جنت ته نه داخليږي ، بلکه اول به د دې نافرمانۍ جزا په جهنم کې خوري او بيا به روستو جنت ته داخليږي .

په يو حديث کې د دينه هم سخت وعيد ذکر دی ، نبي عليه السلام فرمايي :

وَإِيَّاكُمْ وَعُقُوقَ الْوَالِدَيْنِ فَإِنَّ رِيْحَ الْجَنَّةِ تُوْجَدُ مِنْ مَسِيْرَةِ أَلْفِ عَامٍ وَاللهِ لَايَجِدُهَا عَاقٌ وَلَاقَاطِعُ رَحِمٍ ...... (۲)

تاسو د مور او پلار نافرمانۍ نه ځان اوساتئ ، ځکه د جنت بُوي د زر (۱۰۰۰) کاله په مسافت لرې محسوسولې شي خو قسَم په الله چې د مور او پلار نافرمان او خپلولي کټ کوونکې کس به دا محسوسه نه کړي .

په يو حديث کې دي : أَرْبَعٌ حَقٌّ عَلَى اللهِ أَنْ لَايُدْخِلَهُمُ الْجَنَّةَ وَلَايُذِيْقَهُمْ نَعِيْمَهَا : مُدْمِنُ الْخَمْرِ ، وَآكِلُ الرِّبَا ، وَآكِلُ مَالَ الْيَتِيْمِ بِغَيْرِ حَقٍّ ، وَالْعَاقُّ لِوَالِدَيْهِ . (۳)

---

(۱) اخرجه احمد (۲۰۳\۲ ، ۲۲۱\۲) رواه النسائي والدارمي ، مشكوة باب البر والصلة الفصل الثاني حديث ۲۳ .

(۲) رواه الطبراني في الاوسط ، الترغيب والترهيب ص ۲۲۵ . په يو روايت کې داسې الفاظ دي ، نبي ﷺ فرمايي : إِنَّ الْجَنَّةَ يُوْجَدُ رِيْحُهَا مِنْ مَسِيْرَةِ خَمْسِمِائَةِ عَامٍ وَلَايَجِدُ رِيْحَهَا عَاقٌ وَلَا قَاطِعُ رَحِمٍ . اخرجه الطبراني في الصغير من حديث ابي هريرة ، وهي في الاوسط من حديث جابر الا انه قال : " من مسيرة الف عام " . احياء العلوم ج۲ ص ۲۹۱ كتاب آداب الالفة والاخوة .

(۳) رواه الحاكم ، وقال صحيح الاسناد ، الترغيب والترهيب ج۳ ص ۲۲۳ كتاب البرّ والصلة وغيرهما الترغيب في بر الوالدين وصلتهما .

څلور کسان داسې دي چې په الله ﷻ باندې دا حق دي چې دوی به جنت ته نه داخلوي او نه به په دوی د جنت نعمتونه وڅکي، يو هغه کس چې هميشه شراب څکي، دويم سُود خور، دريم په ناحقه د يتيم مال خوړونکې، او څلورم د مور او پلار نافرمان.

## دوالدينو نافرماني کوونکي ته په دُنيا کې سزا

د مور او پلار نافرماني داسې گناه ده چې د دې سزا الله ﷻ انسان ته د آخرت سره په دُنيا کې هم ورکوي. پيغمبر عليه السلام فرمايي:

كُلُّ الذُّنُوبِ يُؤَخِّرُ اللهُ مِنْهَا مَا شَآءَ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ إِلَّا عُقُوقَ الْوَالِدَيْنِ فَإِنَّ اللهَ يُعَجِّلُهُ لِصَاحِبِهِ فِي الْحَيَاةِ قَبْلَ الْمَمَاتِ. (۱)

الله ﷻ چې اوغواړي نو د ټولو گناهونو سزا آخرت ته روستو کوي، مگر د مور او پلار د نافرمانۍ سزا داسې ده چې الله رب العزت په دُنيا کې هم دې انسان ته د مرگ نه وړاندې ډير زر د دې سزا ورکوي (او په آخرت کې خو به هسې هم د دې سزا ورکول کيږي).

## دوالدينو په نافرمانۍ کولو سره د خپل اولاد نافرمانه کيدل

دا خبره أَظْهَرُ مِنَ الشَّمْسِ ده چې په دُنيا کې چا هم د خپلو والدينو تابعداري او فرمانبرداري کړې نو الله ﷻ ده ته هم داسې اولاد ورکړې چې د ده قدر او عزت کوي، لکه حديث کې راځي:

بِرُّوا آبَاءَكُمْ تَبَرَّكُمْ أَبْنَاءُكُمْ. (۲)

تاسو د خپلو پلارانو سره احسان کوئ نو ستاسو بچي به تاسو سره احسان کوي.

---

(۱) رواه الحاكم والاصبهاني كلاهما من طريق بكار ابن عبدالعزيز وقال الحاكم صحيح الاسناد، الترغيب والترهيب ج۲ حديث ۲۱۸۵\۱۵ . د مشكوة شريف په حديث کې داسې الفاظ دي: كُلُّ الذُّنُوبِ يَغْفِرُ اللهُ مِنْهَا مَا شَآءَ إِلَّا عُقُوقَ الْوَالِدَيْنِ فَإِنَّهُ يُعَجِّلُ لِصَاحِبِهِ فِي الْحَيٰوةِ قَبْلَ الْمَمَاتِ. مشكوة الفصل الثالث حديث ۳۵ باب البر والصلة. الله ﷻ چې اوغواړي نو (د شرک نه علاوه) ټول گناهونه بخښي مگر د مور او پلار د نافرمانۍ گناه نه بخښي، بلکه ده ته په دُنيا کې د مرگ نه مخکې هم سزا ورکوي.

(۲) رواه الحاكم ۴\۱۵۲ والسيوطي في الدر ۱۷۰\۴ ، والمنذري ۳\۳۱۷، ۴۹۲ ، المتجر الرابح في ثواب العمل الصالح ص ۳۲۷ ابواب البرّ والصلة.

او چا چې هم په دُنيا کې خپل مور او پلار ته نقصان رسولې نو الله رب العزت په دُنيا کې هم ده ته دا سزا ورکړې چې دده خپل بچي يې دده نافرمان کړځولي .

د حضرت وهب بن منبه رحمه الله نه روايت دی چې الله ﷻ حضرت موسی ؑ ته وفرمايل :

يَامُوسَى وَقِّرْ وَالِدَيْكَ فَإِنَّهُ مَنْ وَقَّرَ وَالِدَيْهِ مَدَدْتُ فِيْ عُمرِهِ وَوَهَبْتُ لَهُ وَلَدًا يَبرّهُ . وَمَنْ عَقَّ وَالِدَيْهِ قَصَرْتُ عُمرَهُ وَوَهَبْتُ لَهُ وَلَدًا يَعقّهُ . (۱)

اې موسى ! ته د خپل مور او پلار عزت کوه ، ځکه څوک چې د مور او پلار عزت کوي نو زه به دده عمر اوږد کړم ( يعنی برکت به ورته په کې واچوم ) ، او ده ته به داسې بچې ورکړم چې دده سره به احسان کوي ، او څوک چې د مور او پلار نافرماني کوي نو زه به دده عمر لنډ کړم ، او ده ته به داسې بچې ورکړم چې دده نافرماني به کوي .

## څنګه چې دوالدينو سره څنګه سلوک وکړي هماغه شان به خپل بچي ورسره کوي

۱ . يو مشهور عالم د يو کس متعلق واقعه بيانوي چې کله دده مور وفات کيده نو ده د خپلې مور سره ډيره بداخلاقي وکړه ، هيڅ علاج يې ددې اونه کړو او ډيرې ستغې سپورې خبرې به يې ورته کولې . دا موريې په ځانله کوټه کې پرته وه ، او په دې حالت کې وفات شوه

دا عالم وايي زما دا يقين وُ چې يو سړې د خپل مور او پلار سره څنګه سلوک وکړي نو هماغه شان به ورسره خپل بچي هم کوي . نو زه په دې انتظار ووم چې آخر دده بچي به دده سره څنګه سلوک کوي ؟

نو پوره ديرش کاله پس دا سړې سخت بيمار شو ، دده درې ځامن وو ، خو په درې واړو کې هيڅوک هم ده ته نه رانزدې کيدو ، او نه يې دده علاج کولو ، ځامنو به ده ته هم ستغې سپورې خبرې کولې او دده بې عزتي به يې کوله ، دې ځانله په کور کې پروت وُ ، يوه ورځ سهر چې د کلي واله خلق راغله نو وې کته چې په دده باندې ميږيان راټول شوي او چيچي يې ، په همدې حالت کې دده نه شپې ځانله ساه اوتې وه .

(۱) نزهة الناظرين في الاخبار والآثار المرويّة من الانبياء والصالحين الباب الثاني عشر في برّ الوالدين وصلة الارحام ۳۹۳ .

ما وويل چې : واقعي د والدينو سره دې څنګه سلوک وکړو هماغه شان سلوک به درسره خپل بچي هم کوي . (۱)

۲ . اصمعي وايي چې يو صحرايي سړي راته وويل : زه د دې معلومولو د پاره د خپل ښار نه راووتم چې دا معلومه کړم چې د والدينو نافرماني کوونکو کسانو کې د ټولو نه بدترين کس کوم يو دی ، او د والدينو سره احسان کوونکو خلقو کې د ټولو نه بهترين کس کوم يو دی . نو سفر مې کولو ، داسې يو ځای ته اورسيدم چې هلته مې په سَره غَرمه کې يو بوډا سړې وليده چې په غاړه يې يوه لويه بوکه ده ، او په هغې يې د کوهي نه اُوبه راويستې ، دومره دروند او د مشقت واله کاريې کولو چې تکړه اوښ هم هاغه شان کار نشي کولې ، او د دې بوډا شاته يو ځوان ولاړ ؤ ، چې دا بوډا يې سخت وهلو ، د ډيرو وهلو په وجه د ده ملا زخمي شوې وه .

ما ورته وويل : د خداې نه اويريږه ، د دې سپين ږيري نه دومره دروند د مشقت واله کار هم اخلې او وهې يې هم . خو دا راته ووايه چې دا څوک دی ؟

راته وې ويل : دا مې پلار دی . ما ورته وويل : الله ﷻ دې تاته خير درنکړي ، د خپل پلار سره چا دا کار کړې ؟ هغه راته وويل : چپ شه . دا کار ځکه ورسره کوم چې ده د خپل پلار سره هم دا کار کړې ؤ ، او هغه بيا د خپل پلار سره هم کړې ؤ .

دا صحرايي وايي چې : زه د ده نه مخکې روان شوم ، بيا مې داسې يو ځوان وليده چې په غاړه کې يې ټوکرۍ اچولې وه ، په هغې کې يو زوړ سړې ؤ ، دې ځوان به د څه لږ مزَل کولو نه روستو دا ټوکرۍ راښکته کړه ، او د مارغانو د بچو غوندې په احتياط به يې ورله خوراک ورکولو . ما ورنه پوښتنه وکړه چې دا څوک دی ؟ او دا ته څه شی ورکوې ؟

ده راته وويل : دا مې پلار دی ، د ډير بوډا والي د وجې کمزورې شوی ، زه يې وخت په وخت ګورم او خوراک ورکوم .

دا صحرايي وايي : ماته معلومه شوه چې دا اول کس د والدينو نافرماني کوونکو کسانو کې بدترين کس دی ، او دا دويم کس د والدينو سره احسان کوونکو خلقو کې بهترين کس دی .

(۱) ناقابلِ يقين سچے واقعات ص ۵۱۰ .

# په دُنيا کې په سزا رسيدل

يو ډير معتمد عالم د خپلو سترګو ليدلې حال بيانوي چې : يوه ورځ زه د جمات نه را ووتم ، نو په لاره کې يو سړي خپل پلار راغوررځولې ؤ ، او د پاسه پرې ناست ؤ ، وهلو يې او همدا يوه خبره يې ورته کوله چې " ارمان پلار مې يې ګني ډير غټ دَله سړې يې " . دا عالم وايي : ما ورنه دا ځوي پاڅول ، دا سړې مې خپلې کمرې ته راوست ، مخ او لاسونه يې زخمي وو ، ماته يې وويل : مولانا صاحب ! دا زما ځومره بدبخته ځوي دی، ګوره د ماسره يې ځومره غټ زياتې وکړو ، ما ورته وويل : يقيني ده چې د تاسره يې ډير زياتې وکړو ، خو دا راته ووايه : چې ډير کلونه مخکې تا په همدغه ځای کې خپل پلار راځملولې ؤ کوم ځای چې ته نن خپل ځوي راځملولې وې ، هغه دې وهلو او همدا يوه خبره به دې ورته کوله " ارمان پلار مې يې ګني ډير غټ دَله سړې يې " او هغه له دې هم مخ او لاسونه زخمي کړي وو .

دا عالم وايي چې کله ما ده ته دا خبره وکړه نو سخت ملامته شو او نور يې هيڅ غږ او نه کړو نو دې کس چې د خپل پلار سره مخکې کوم عمل کړې ؤ هماغه شان عمل ورسره خپل ځوي هم وکړو .

محترمو ! که چيرته زه په دې خبره قسَم وکړم نو هم حانِث به نه شم چې په دُنيا کې يو کس د خپل مور او پلار سره هر څنګه سلوک وکړي نو هماغه شان سلوک به ورسره خپل بچي هم کوي.

نو که چيرته يو سړې غواړي چې صبا دې زما بچي د ماسره ښه سلوک وکړي نو دې دی نن د خپلو والدينو سره ښه سلوک کوي .

## د مور او پلار خيرې ډيرې زر قبليږي

قدرمنو ! لکه څرنګ چې د والدينو دُعاګانې زر قبليږي نو دغه شان د دوی خيرې هم زر قبليږي . نبي ﷺ فرمايي :

ثَلَاثُ دَعَوَاتٍ لَاشَكَّ فِيْ إِجَابَتِهِنَّ : دَعْوَةُ الْمَظْلُوْمِ ، وَدَعْوَةُ الْمُسَافِرِ ، وَدَعْوَةُ الْوَالِدِ عَلَى الْوَلَدِ(۱)

درې خيرې داسې دي چې د هغې په قبليدو کې هيڅ شک نشته : د مظلوم خيرې ، د مسافر خيرې او دپلار د ځوي په باره کې خيرې .

د جُريج واقعه مخکې ( " د مور او پلار د حقوقو اهميت " په موضوع کې ) په تفصيل سره تيره شوې : چې درې ورځې ورته مور راغله ، آواز به يې ورته وکړو خو دې به چونکه په دغه وخت په نفلي لمانځه ولاړ ؤ ، جواب به يې ورنه کړو ، مور به يې لاړه او دې به دلمانځه نه روستو هم ورنه رغې ، نو مور ورته خيرې وکړې :

اَللّٰهُمَّ ! لَاتُمِتْهُ حَتّٰى يَنْظُرَ إِلٰى وُجُوْهِ الْمُوْمِسَاتِ .يا الله ! زه تا ته دا سوال کوم چې دې تر هغې وخته پورې مه وفات کوه تر څو چې دې ده ته د زِناکارو ښځو مخونه نه وي خودلي (يعنی د زِنا په تهمت يې بدنام کړه ) او همدغه شان بيا اوشو . ( اوږده واقعه ده ، تفصيل يې په صفحه ۱۴ کې اوګوره .

## د مور د خېرو په وجه ذليل کيدل

مولانا عبدالشکور دين پوري رحمه الله وايي چې : يو کرت زه د ګوجرانوالې په بازار تيريدم، ناڅاپه د سړک په غاړه په يو سوال ګرې مې نظر ولږيده ، هغه چې زه وليدم ، نو ما ته يې آواز وکړو ، چونکه په ما تادي وه ، تيز روان ووم ، نو څه غږ مې او نه کړو ، هغه دوباره تيز آواز راکړو چې مولانا صاحب ! د خداې د پاره زما خبره واوره ، زه سوالګرې نه يم ، صرف زما خبره واوره او دُعا راته وکړه .

مولانا صاحب وويل چې : زه ورا وګرځيدم ، نو هغه راته خپله واقعه بيان کړه : چې زه ډير غټ مالدار ووم ، خپله زمکه ، خپله بنګله ، ګاډي او ډير مال و دولت راسره ؤ ، عيش و عشرت به مې کولو ، د شرابو او نورو نشو عادي ووم ، د غلطو خلقو په مجلس کې به شپه او ورځ ناست ووم ، هميشه به کورته ناوخته راتلم ، د ملګرو سره به د شرابو په محفلونو کې مصروف ووم ، کله به چې کورته راغلم نو د کور ټول خلق به اُوده وو خو صرف زما مور به

(۱) رواه الترمذي كتاب البر باب ۷ ، ورواه ابوداؤد بتقديم وتاخير ، الترغيب والترهيب ج۳ ص ۱۳۰ الترهيب من الظلم و دعاء المظلوم وخذله ....

ماته په انتظار ناسته وه، چې را به غلم نو ماته به یې وویل: بچیه! ناوخته مه راځه، ځکه زه ستا د لاسه بې آرامه یم، ستا انتظار کوم.

یوه شپه مې د ملګرو سره شراب څکلي وو، ډیر ناوخته کورته راغلم، چې کله کورته راورسیدم نو مور مې هماغه شان راته په انتظار ناسته وه، نو د ډیرې غصې نه یې راله یوه څپیړه راکړه. زه هم د نشې په حالت کې ووم، ما هم مور په څپلۍ باندې په سر ووهله، نو د هغې د خولې نه صرف دا یو جمله را اووته چې ''بچیه! خدای ﷻ دې په وجود باندې چینجي ولږوه'' څه وخت پس زما دا مور وفات شوه، یو څو ورځې روستو زما په خپه باندې یوه دانه را اوخته او هغه دومره خرابه شوه چې په هغه زخم کې چینجي اوشو، د پاکستان مشهورو ډاکټرانو او حکیمانو نه مې علاج وکړو خو هیڅ فایده یې او نه کړه. آخر دا چې څه زمکه مې خرڅه کړه او لندن ته د علاج د پاره لاړم، هلته مې ډیر وخت علاج کولو، دلته مې چې څومره ځمکې، بنګلې او موټرې وې هغه مې ټول ددې علاج د پاره خرڅ کړه، او په لندن کې مې په دې خپه باندې خرچ کړه، د لندن ډاکټرانو زما ډیر وخت علاج وکړو، خو آخر دا چې هغوی راته جواب راکړو چې دا یو لاَعلاجه مرض دی ددې د ښه کیدو څه صورت نشته. دې وایي چې واپس د هغه ځای نه دلته پاکستان ته راغلم. اوس مې نه دلته څه کور شته، نه مې زمکه شته او نه ګاډي، بلکه د خپلې خیټې ساتلو د پاره سوال کوم، او ورځ په ورځ مې په زخم کې چینجي نور هم زیاتیږي.

نو اې مولانا صاحب! د مور خیرو وهلې یم ته راته دُعا وکړه که الله ﷻ راته شفاء راکړي نو ډیره به ښه وي. (۱)

## د مور د وهلو په وجه خطرناک مرض

یو مشر ډاکټر د خپلو سترګو لیدلې حال بیانوي چې د ما سره په خپل وارډ کې د څلویښتو کالو په دوران کې مختلف مریضان راغلي، او مختلف قسمه خلق زما د وړاندې وفات شوي، خو د یو ځوان د زنکدن حالت ما لیدلې چې په دې څلویښت کاله ډاکټرۍ کې ما دومره خطرناک مرګ د هیچا نه دی لیدلې.

کله چې دا ځوان زما هسپتال ته راوړې شو ، نو دده ګرُدې خرابې شوې وې ، درې ورځې يې زنکدن وُ او په دې حالت کې به دده ځوله د ډير تکليف نه ټکه شنه شوه ، سترګې به يې راووتې ، او د ځولې نه يې داسې خطرناکې رمبارې راوتې لکه چا چې په مرۍ کې ټينګ نيولې وي ، د مرګ نه يو څو ورځې مخکې يې دا چغې دومره زياتې شوې چې په هغه وارډ کې نور څومره مريضان وو هغه ټول دده د چغو او سُورو د لاسه اوتختيده . آخر دا چې دې ځانله يوې کمرې ته وې وړې شو ، ددې د پاره چې دده آواز کم شي ، خو ليکن آواز يې نور هم همداسې تيزيده .

ډاکټر وايي چې ددې هلک پلار راته وويل : ډاکټر صاحب ! زه چې د خپل بچي دې حالت ته ګورم نو نه يې شم برداشت کولې ، زما درته اجازت دی ده ته د زهرو ستن ووهه ( ډاکټر صاحب وويل چې ما ورته وويل : زه خو دا کار نه کوم ) . ما دده د پلار نه پوښتنه وکړه چې آيا دې ستا ځوي خو په خپل ژوند کې څه خاص ګناه نه کوله چې اوس د هغې په وجه په دومره سخت تکليف کې دی ؟ هغه راته فورًا وويل چې ده به د خپلې ښځې په سَر د مور سخته بې عزتي کوله هغه به يې وهله او هر وخت به يې په مرۍ کې نيوه ، ما به دې ډير منع کولو خو نه به منع کيدو . اوس يې نتيجه دا شوه چې په ډير سخت تکليف کې ګرفتار دی اوداسې خطرناک آوازونه کوي لکه چا چې دې په مرۍ کې نيولې وي . (۱)

## د عاقُ الوالدين نيک اعمال نه قبليږي

نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايي :

ثَلَاثَةٌ لَا يَقْبَلُ اللهُ عَزَّوَجَلَّ مِنْهُمْ صَرْفًا وَلَا عَدْلًا عَاقٌّ، وَلَا مَنَّانٌ ، وَمُكَذِّبٌ بِقَدَرٍ . (۲)

درې کسان داسې دي چې الله تعالى د دوی نه فرض قبلوي او نه نفل ، يو په کې د مور او پلار نافرمانه ، دويم احسان زياتونکې او دريم د تقدير تکذيب کوونکې .

(۱) ناقابلِ يقين سچے واقعات ص ۵۱۰ .

(۲) رواه ابن ابي عاصم في كتاب السنة باسناد حسن ، الترغيب والترهيب ج۳ ص ۲۲۴ كتاب البرّ والصلة وغيرهما الترغيب في برّ الوالدين وصلتهما .

په يو بل حديث کې دي:

ثَلَاثَةٌ لَايَنْفَعُ مَعَهُنَّ عَمَلٌ: اَلشِّرْكُ بِاللهِ، وَعُقُوْقُ الْوَالِدَيْنِ، وَالْفِرَارُ مِنَ الزَّحفِ. (۱)

درې کارونه داسې دي چې د هغې د کولو په وجه د انسان نيک اعمال نه قبليږي، يو د الله ﷻ سره شرک کول، دويم د مور او پلار نافرماني کول، او دريم د ميدان جنګ (جهاد) نه تيخته کول.

## دوالدينو د شکريې اداء کولو نه بغير د الله ﷻ شکريه قبوله نه ده

حضرت ابن عباس رضی الله عنهما وايي چې: (په قرآن مجيد کې) درې آيتونه داسې نازل شوي چې په هغې کې دوه شيان هر ځای يو ځای ذکر دي نو که چيرته يو انسان په دې کې يو کار کوي خو بل نه کوي نو هغه اول کار يې هم الله ﷻ ته قبول نه دی.

اول: الله تعالی فرمايي: ﴿ أَطِيْعُوا اللهَ وَأَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ ﴾. (۲)

ترجمه: تاسو تابعداري د الله ﷻ کوئ او تابعداري د رسول" محمد" ﷺ کوئ.

نو اوس که څوک د الله تعالی اطاعت کوي خو د پيغمبر ﷺ اطاعت نه کوي نو دده دغه د الله ﷻ اطاعت هم قبول نه دی (لکه نن صبا يهود او نصاری الله ﷻ مني خو زمونږ پيغمبر صلی الله عليه وسلم نه مني نو ځکه مسلمانان نه دي، بلکه کافر دي).

دويم: الله تعالی فرمايي: ﴿ وَأَقِيْمُوا الصَّلَاةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ ﴾. (۳)

ترجمه: تاسو لمونځ قائموئ او زکوة ورکوئ.

اوس که يو کس لمونځ کوي خو زکوة نه ورکوي نو دا لمونځ يې هم الله ﷻ ته قبول نه دی

دريم: الله تعالی فرمايي:

﴿ أَنِ اشْكُرْ لِيْ وَلِوَالِدَيْكَ ﴾. (۴)

---

(۱) رواه الطبراني في الكبير، الترغيب والترهيب ج ۳ ص ۲۲۴.

(۲) سورة النساء ۹۵. سورة النور ۵۴، سورة محمد ۳۳. ددې نه علاوه هم پې شماره ځايونو کې راغلي.

(۳) سورة البقرة آيت ۴۳، ۸۳، ۱۱۰، سورة النساء ۷۷، سورة النور آيت ۵۶، سورة المزمل آيت ۲۰.

(۴) سورة لقمان آيت ۱۴.

(اې بنده !) زما شكريه اداء كوه او د خپل مور او پلار شكريه اداء كوه.

نو اوس كه يو كس د الله ﷻ شكريه اداء كوي خو د خپل مور او پلار شكريه نه اداء كوي نو دغه د الله ﷻ شكريه اداء كول يې هم قبول نه دي.

ځكه په دې درې آيتونو كې دا دوه خبرې (اكثره) يو ځاى ذكر دي نو يوه عملي كول او بله نه عملي كول، په دې سره دا اوله هم قبوله نه ده، بلكه دا دواړه عملي كول لازمي دي. لهذا د الله ﷻ د شكرېې سره، سره د خپلو والدينو شكريه اداء كول هم ضروري دي. (۱)

ځكه خو نبي عليه السلام فرمايي:

رِضَا اللهِ فِي رِضَا الْوَالِدَيْنِ، وَسَخَطُ اللهِ فِي سَخَطِ الْوَالِدَيْنِ. (۲)

د الله ﷻ رضا او خوشحالي د والدينو په رضا او خوشحالۍ كې ده، او د الله ﷻ ناراضګي او خفګان د والدينو په ناراضګۍ او خفګان كې ده.

(۱) قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ رضي الله عنهما: ثَلَاثُ آيَاتٍ نُزِلَتْ مَقْرُوْنَةً بِثَلَاثٍ لَا تُقْبَلُ مِنْهَا وَاحِدَةٌ بِغَيْرِ قَرِيْنَتِهَا. (احداها) قوله تعالى: ﴿ أَطِيْعُوا اللهَ وَأَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ ﴾. فَمَنْ أَطَاعَ اللهَ وَلَمْ يُطِعِ الرَّسُوْلَ لَمْ يُقْبَلْ مِنْهُ. (الثانية) قوله تعالى: ﴿ وَأَقِيْمُوا الصَّلَاةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ ﴾ فَمَنْ صَلَّى وَلَمْ يُزَكِّ لَمْ يُقْبَلْ مِنْهُ. (الثالثة) قوله تعالى: ﴿ أَنِ اشْكُرْ لِيْ وَلِوَالِدَيْكَ ﴾ فَمَنْ شَكَرَ اللهَ وَلَمْ يَشْكُرْ لِوَالِدَيْهِ لَمْ يُقْبَلْ مِنْهُ. الكبائر للحافظ الذهبي، الكبيرة الثامنة عقوق الوالدين ص ۴۴.

(۲) رواه الترمذي من حديث عبدالله بن عمرو بن العاص، وابن حبان والحاكم وقال صحيح الاسناد على شرط مسلم، منذري، الكبائر ص ۴۵.

# د والدينو د نافرمانۍ اسباب

په قرآن کريم او احاديثو کې د والدينو حقوق ډير په تاکيد سره بيان شوي ، اوس دا څه وجه ده چې بيا هم ځوي د خپل مور او پلار د حقوقو لحاظ نه ساتي ؟ نو د دې د پاره ضرور څه اسباب شته چې د هغې په وجه ځوي د خپلو والدينو د حقوقو لحاظ نه ساتي ، هغه اسباب په لاندې ډول دي :

## ۱. د بچو صحيح تربيت نه کول

اول غټ سبب د والدينو د نافرمانۍ دا دی چې کله والدين اول د خپل بچي تربيت په اسلامي طريقې سره او نه کړي او دوی ته اسلامي تعليمات اونه ښايي نو دې به څنګه د والدينو حقوق اوپيژني ؟ دې به خامخا د چرسيانو ، پوډريانو او بې دينه خلقو سره کيني ، نو چې کله د هغوی اخلاق په کې راشي نو دې بيا کله د خپلو والدينو حقوق پيژني ؟

## ۲ . د بچي د بې دينه خلقو سره ناسته پاسته

دويم غټ سبب دا دی چې کله د يو بچي ناسته پاسته د بې دينه او غلطو خلقو سره وي ، نو خامخا په ده کې هم د هغوی اخلاق پيدا کيږي ، او بيا به دې هم د هغوی غوندې د خپلو والدينو د حقوقو لحاظ نه ساتي . بيا خاصکر هغه بچي چې د کمزوري دماغو واله وي نو هغه خو د نورو په نسبت بيا ډير زر متأثره کيږي .

لهذا دا د والدينو ذمه واري ده چې دوی د خپل بچي پوره نګراني وکړي چې دده ناسته د کومو خلقو سره ده ؟ نبي عليه السلام هم فرمايي :

كُلُّكُمْ رَاعٍ وَكُلُّكُمْ مَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ . (۱)

په تاسو کې هريو ذمه وار دی ، او د هريو نه به د خپلو ماتحتو خلقو باره کې پوښتنه کولې شي او بل د ملګري نه خو سړې ډير زر اثر قبلوي ، ځکه په انسان کې د انفعال (يعنی د بل نه د اثر قبلولو ) ماده پرته ده ، د بل کس نه خامخا اثر قبلوي .

(۱) اخرجه البخاري ( ۲\۶، ۱۹۶\۳، ۶\۴ ، ۳۳\۷، ۴۱، ۷۷\۹ )، ومسلم ( ۱۸۲۹ ) . قال العلماء : الراعي الحافظ المؤتمن الملتزم صلاح ما قام عليه وهو ماتحت نظره . نزهة الناظرين .... ص ۲۹۵

نبي عليه السلام فرمايي :

اَلْمَرْءُ عَلَى دِيْنِ خَلِيْلِهِ فَلْيَنْظُرْ أَحَدُكُمْ مَنْ يُخَالِلُ . (۱)

انسان د خپل دوست طور و طريقې اختياروي ، لهذا په تاسو کې هر کس ته دا کتل په کار دي چې دې د چا سره دوستي کوي .

## ۳ . انټرنيټ ، ډش ، ټيوي او فحش فيلمونه کتل

کله چې والدين د خپلو بچو نه بې پرواه شي او دوی د وړوکوالي نه د انټرنيټ ، ډش او ټيوي په فحش او ګنده فيلمونو کتلو باندې راواوړي ، يا هغه رسالې ګوري کومې چې په جنسي واقعاتو يا شهوت راپاروونکو قصو باندې مشتمل وي نو په دې سره د دې بچې ذهن خراب شي، په ده کې د غير مسلمه او بې دينه خلقو سره مينه پيدا شي ، عيش پرستي ، آزادي او بې ادبي په کې راشي ، بيا په پټو سترګو د دې بې دينه خلقو تقليد کوي . نو دې بيا کله د خپلو والدينو د حقوقو لحاظ ساتي ؟

## ٤. د والدينو بد اَخلاقي د بچو سره

کله چې مور او پلار د خپلو بچو سره بَداَخلاقي کوي ، هر وخت يې په معمولي معمولي خبره باندې وهي ، رټي ، او په کور کې دده سپکاوې کوي ، يا په کور کې دده د ژوند ضروري حوائج او شوقونه ، نه پوره کيږي نو آخر دا بچې په کور کې دومره تنګ شي چې يا خو د مور او پلار سره جَګړې ته تيار شي او يا ددې کور نه اوتختي . نو بهر بيا دې بې دينه خلقو ته موقع په لاس ورشي ، دې په خپل ګرفت کې راولي ، نود هغوی د غلط مجلس او غلطو اخلاقو د وجې نه دده ذهن هم خراب شي ،او بيا دده نه د معاشرې يو غټ مجرم او بَدمعاش سړې جوړ شي . نو دې بيا کله د خپلو والدينو حقوق پيژني ؟

لهذا والدينو ته په کار دي چې د خپلو بچو سره د خوش اخلاقۍ معامله وکړي او د ژوند ضروري حوائج يې په کور کې پوره کړي ، د دې د پاره چې بهر بې دينه خلقو ته دده د ګمراه کولو موقع په لاس ور نه شي .

(۱) مسند احمد .

## ۵ . د ضرورت نه زياتې د بچې تقاضې (نَخرې) برداشت کول

کله چې مور او پلار د بچي سره دومره مينه شروع کړي چې دده هرې تقاضې (نَخرې) برداشت کوي، که دا بچې يې چاته کنځل کوي، يا هغه ته بَد رد وايي، يا د شريعت خلاف کارونه کوي او دوی ورته هيڅ هم نه وايي نو په دې سره ددې بچي اخلاق خرابيږي صبا به خامخا همدا بچې دې خپل مور او پلار ته هم کنځل کوي او د دوی نافرماني به هم کوي.

لهذا والدينو ته په کار دي چې د بچو تربيت د اسلامي اصولو موافق وکړي او د دوی سره په مينه او محبت کې هم د اعتدال نه کار واخلي.

## د عبرت نه ډک نصيحت

اې د غفلت په خُوب اُوده او د ځوانۍ په نشَه مست انسانه ! تاچيرته په دې خپل ګريوان کې دا سوچ کړي چې ددې والدينو په ماباندې څومره حقوق دي ؟ او دوی د ماسره څومره تکليفونه برداشت کړي ؟

دې مور خو ته نهه مياشتې په خپله خيټه کې ډير په تکليف ګرځولې يې، چې ستا د لاسه به دې عاجزې نه صحيح تلل کولې شو، نه صحيح څملاستې شوه، او نه يې زړه وَر هر قسمه خوراک کولې شو، بلکه هميشه به يې ستا د لاسه ډير په احتياط ژوند تيرول، چې چيرته تاته نقصان اونه رسي، دغه نهه مياشتې خو په دې عاجزې باندې د نهه کالو نه هم زياتې اوږدې تيرې شوي.

بيا د پيدائش په وخت يې څومره تکليفونه برداشت کړي. بيا يې څومره په احتياط سره د خپل بدن په اَعلی جُزء (شودو) سره ستا پرورش کړې.

خپله غيګه يې ستا د پاره زانګو ګرځولې وه، ستا د مريضتيا په وجه دې شپه او ورځ په خپل ځان باندې خوب حرام کړې ؤ، تر هغې وخته پورې يې زړه نه قراريده ترڅو چې به ته روغ شوې نه وې، په خپله به يې وَلږه برداشت کوله خو ته يې موړ کړې يې، په خپله به يې تَنده برداشت کوله خو ته يې سيراب کړې يې، ستا ګندګي به يې ډير په مينه او خوشحالۍ سره صفا کوله، ستا په ليدو به يې سترګې نه مړيدی، او د تانه يې ډير اميدونه لرل.

دغې **پلار** خو هم ستا په تربيت او كفالت كې ډير مشقتونه برداشت كړي، خپل لاسونه يې تنها كې كړي خو ستا د صحت او تربيت لحاظ يې ساتلې، خپل وجود يې زړې زړې كړې خو ته يې په مشقت كې نه يې اچولې، ستا د هره ورځ په ترقۍ او غټيدو سره به دده سترګې يخيدې او د تا پورې ډير اميدونه تړلي وو.

خو **افسوس صد افسوس** چې تا هغه شان حقوق د دوی اداء نه کړه، تا ددوی د زړه په اميدونو باندې خاورې واړولې، تا د دوی ټول هغه تکليفونه او احسانات هير کړه کوم چې دوی د تا سره برداشت کړي وو.

کله چې دوی نن تاته محتاج شو نو تا دوی ته ډير په سپک نظر اوکته، خپل ځان دې مور کړو خو دوی دې اوږې پريښوده، تا خپل بچي او بي بي ته په دوی باندې ترجيح ورکړه، تا د خپلې ښځې په سَر د دوی بې عزتي وکړه، ستا د لاسه د دوی سترګې د ژړا نه اُوچې نه شوې

حالانکه خپل خالق الله ﷻ ته د دوی د وړاندې د اُف ويلو نه هم منع کړې يې، د دوی د خدمت باره کې يې درته ډير تاکيدونه کړي. خپل پيغمبر محمّدٌ رّسول الله صلی الله عليه وسلم درته د دوی بې شميره حقوق بيان کړي: جنت يې د دوی د قدمونو لاندې ګرځولې، د نفلي حج، عمرې او جهاد ثواب يې د دوی په خدمت مقرر کړې.

ليکن اې بې وَفا او احسان فراموش انسانه! تا دا هر څه هير کړه، شاته دې اوغورځول، او د دوی وجود درته يو بوج معلوم شو، حالانکه که د ددوی خدمت د ې وکړو نو دا ستا دپاره د جنت تللو ذريعه ده، او که د دوی نافرماني دې وکړه نو الله ﷻ به دې جهنم ته اوغورځوي او د جنت بُوی به درباندې حرام کړي.

## خلاصه

خلاصه دا چې مور او پلار د انسان دپاره جنت هم دی او جهنم هم. که چيرته د دوی خدمت وکړي او دوی خوشحاله اوساتي نو دا د انسان د پاره د جنت تللو سبب دی، او که د دوی خدمت او نه کړي او دوی خفه کړي يا د دوی بې عزتي وکړي نو دا دده د پاره په دُنيا او آخرت دواړو کې د رسوائي او د جهنم تللو سبب دی.

لهذا که د چا والدين ژوندي وي نو دا دې د الله ﷻ يو لوي نعمت اوګڼي ، د دوی خدمت دې وکړي ،او د دوی د وړاندې دې داسې خبرې نه کوي چې د دوی د خفګان سبب ګرځي .
الله تبارک وتعالی دې زمونږ په زړونو کې د خپلو والدينو قدر واچوي او د هغوی د خدمت توفيق دې راته نصيبه کړي .

او که د چا والدين وفات شوي وي نو الله ﷻ دې د هغوی قبرونه د انواراتو نه ډک اوګرځوي او تبرونه دې د جنت د باغيچو نه يوه باغيچه اوګرځوي .

آمِيْن يَا رَبَّ الْعَالَمِيْن .

وَآخِرُ دَعْوَانَا أَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ

وَصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى خَيْرِ خَلْقِهٖ مُحَمَّدٍ وَّآلِهٖ وَاَصْحَابِهٖ اَجْمَعِيْن

# فقهي مسائل

د والدينو د نافرمانۍ متعلق ضروري فقهي مسائل ستاسو د وړاندې ذکر کوم.

## د والدينو نافرماني کوونکې سخت گناهګار دی

په جائز امورو کې د والدينو نافرماني کوونکې سخت گناهګار دی ، ځکه نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايي:

إِنَّ اللهَ حَرَّمَ عَلَيْكُمْ عُقُوْقَ الْأُمَّهَاتِ. (۱)

بيشکه الله تعالى په تاسو باندې د ميندو (او پلارانو) نافرماني حرامه کړې ده.

په بل حديث کې ذکر دي:

... وَمَنْ أَصْبَحَ عَاصِيًا لِلّٰهِ فِيْ وَالِدَيْهِ أَصْبَحَ لَهُ بَابَانِ مَفْتُوْحَانِ مِنَ النَّارِ وَإِنْ كَانَ وَاحِدًا فَوَاحِدًا ..... (۲)، (۳)

او څوک چې په داسې حالت کې صبا کړي چې هغه د مور او پلار په حق کې د الله تعالى نافرماني کوونکې وي (يعنى د والدينو د حکم نه منلو سره د الله تعالى نافرماني کوي) نو هغه داسې حالت کې صبا کړو چې دده د پاره د جهنم دوه دروازې خلاصې وي ، او که والدينو کې يې يو ژوندې وي او دې د هغه نافرماني کوي نو دده د پاره د جهنم يوه دروازه خلاصه وي.

## که جهاد فرضِ کفايي وُ نو بيا د والدينو نه اجازت اخيستل واجب دي

کله چې جهاد فرضِ عين نه وي ، بلکه فرضِ کفايي وي نو بيا جهاد ته تللو نه مخکې د والدينو نه اجازت اخيستل واجب دي.

---

(۱) اخرجه البخاري ۲۲۷۷ ، ومسلم ۵۹۳ ، مشكوة كتاب البرّ والصلّة الفصل الاول حديث ٥ .

(۲) ، (۳) مشكوة حديث ۳۳ ص ۴۲۱ كتاب البر والصلة الفصل الثالث . فتاوى محموديه ج۲۹ ص ۹۳ والدين وغيره کے حقوق

.........

البته که جهاد فرضِ عین وُ ، او کافرانو د مسلمانانو په علاقه حمله کړې وه نو بیا د والدینو نه اجازت اخیستل ضروري نه دي ، اوس که والدین دې منع کوي نو هغوی ګناهګار دي . (۱)
البته ابن حزم رحمه الله ذکر کړي که دده په تللو سره دده والدین ضایع کیدل نو بیا دده نه فرض ساقط دی . (۲)

همدا مسئله مفتي محمد شفیع رحمه الله هم ذکر کړی چې ترڅو جهاد فرضِ عین نه وي ، بلکه د فرضِ کفايي په درجه کې وي نو د والدینو د اجازت نه بغیر په دې کې شریکیدل جائز نه دي . (۳) لکه په بخاري شریف کې ذکر دي :

جَآءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْتَأْذِنُهُ فِي الْجِهَادِ . فَقَالَ : أَحَيٌّ وَالِدَاكَ ؟ قَالَ : نَعَمْ . قَالَ : فَفِيْهِمَا فَجَاهِدْ . (۴)

---

(۱) قَالَ الْعَيْنِيْ : '' قَالَ أَكْثَرُ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْهُمُ الْأَوْزَاعِي . وَالثَّوْرِي وَمَالِك وَالشَّافِعِي وَأَحْمَد : إِنَّهُ لَايخرجُ إِلَى الْغَزْوِ إِلَّا بِإِذْنِ وَالِدَيْهِ مَالَمْ يَقُمْ ضَرُوْرَةٌ وَ قُوَّةُ الْعَدُوِّ . فَإِذَا كَانَ كَذَلِكَ تَعَيَّنَ الْفَرْضُ عَلَى الْجَمِيْعِ وَ زَوَالُ الْإِخْتِيَارِ وَوَجَبَ الْجِهَادُ عَلَى الْكُلِّ فَلَا حَاجَةَ إِلَى الْإِذْنِ مِنْ وَالِدٍ وَسَيِّدٍ . عمدة القاري ۱۷\۲۰ . وَعَنِ الْمُنْذِرِيْ هَذَا فِي التَّطَوّعِ . أَمَّا إِذَا وَجَبَ عَلَيْهِ فَلَا حَاجَةَ إِلَى إِذْنِهِمَا وَإِنْ مَنَعَاهُ عَصَاهُمَا . وَالْحَاصِلُ أَنَّ إِسْتِيْذَانَ الْأَبَوَيْنِ لِلْجِهَادِ وَاجِبٌ إِلَّا إِذَا صَارَ الْجِهَادُ فَرْضَ عَيْنٍ بِالنَّفِيْرِ الْعَامِ . قَالَ ابْنُ هَمَّامٍ فِيْ فَتْحِ الْقَدِيْرِ : هَذَا (أَيْ كَوْنُ الْجِهَادِ فَرْض كِفَايَةٍ ) إِذَا لَمْ يَكُنِ النَّفِيْرُ عَامًا . فَإِنْ كَانَ . بِأَنْ هَجَمُوْا عَلَى بَلْدَةٍ مِنْ بِلَادِ الْمُسْلِمِيْنَ فَيَصِيْرُ مِنْ فُرُوْضِ الْأَعْيَانِ سَوَاءٌ كَانَ الْمُسْتَنْفِرُ عَدْلًا أَوْ فَاسِقًا فَيَجِبُ عَلَى جَمِيْعِ أَهْلِ تِلْكَ الْبَلْدَةِ النَّفْرُ . وَكَذَا مَنْ يَقْرُبُ مِنْهُمْ إِنْ لَمْ يَكُنْ بِأَهْلِهَا كِفَايَةٌ . وَكَذَا مَنْ يَقْرُبُ مِمَّنْ يَقْرُبُ ..... فتح القدير لابن همام ۵\۱۹۱ ، تكملة فتح الملهم ج۵ ص۱۶۷ .

(۲) قَالَ ابْنُ حَزْمٍ فِيْ مَرَاتِبِ الْإِجْمَاعِ : إِنْ كَانَ أَبَوَاهُ يُضَيَّعَانِ بِخُرُوْجِهِ فَفَرْضُهُ سَاقِطٌ عَنْهُ إِجْمَاعًا . تكملة فتح الملهم ج۵ ص۱۶۷

(۳) معارف القرآن سورة بني اسرائيل آيت ۲۳ .

(۴) هذا الحديث اخرجه البخاري في الجهاد ، باب الجهاد باذن الابوين ۳۰۰۴ ، وفي الادب باب لايجاهد الا باذن الابوين ۵۹۷۲ ، ومسلم كتاب البر والصلة والآداب باب برّالوالدين وانهما احق به ۵\۶۴۶۲ (۲۵۴۹) ، واخرجه ابوداود في الجهاد باب في الرجل يغزو وابواه كارهان ۲۵۳۰ ، والترمذي في الجهاد باب فيمن خرج في الغزو وترك ابويه ۱۶۷۱ ، والنسائي في الجهاد باب الرخصة في التخلف لمن له والدان ۳۱۰۳ ، وفي البيعة باب البيعة على الهجرة ۴۱۶۳ ، وابن ماجه في الجهاد باب الرجل يغزو وله ابوان ۲۸۰۹ .

يو كس د نبي كريم صلى الله عليه وسلم په خدمت كې حاضر شو، او د دوى نه يې په جهاد كې د شامليدو اجازت اوغوښتو، نبي عليه السلام ورته پوښتنه وكړه: آيا ستا مور او پلار ژوندي دى؟ هغه ورته وويل چې هو. (دواړه ژوندي ذي) پيغمبر عليه السلام ورته وفرمايل:

فَفِيهِمَا فَجَاهِدْ. هم ددې مور او پلار د خدمت كولو جهاد كوه.

يعنى د دوى خدمت كوه داستا د پاره جهاد دى، الله ﷻ به درته ددې خدمت په وجه د جهاد ثواب دركوي.

د ابوداؤد شريف په روايت كې ورسره څه نوره اضافه هم ذكر ده، چې يو كس نبي عليه السلام ته راغې او ورته وې ويل:

جِئْتُ أُبَايِعُكَ عَلَى الْهِجْرَةِ وَتَرَكْتُ أَبَوَيَّ يَبْكِيَانِ. فَقَالَ: إِرْجِعْ إِلَيْهِمَا فَأَضْحِكْهُمَا كَمَا أَبْكَيْتَهُمَا. (۱)

(اې د الله ﷺ رسوله!) زه راغلې يم او تاسو سره په هجرت باندې بيعت كوم (يعنى زه هم درسره هجرت او جهاد كوم) او ما خپل مور او پلار ژړيدونكي پريخي دي، نبي عليه السلام ورته وفرمايل چې: واپس لاړ شه هغوى اوخندوه (يعنى راضي يې كړه او داسې يې اوخندوه) څنګه چې تا په ژړا پريخي وو.

يعنى دوى خوشحاله كړه چې ستاسو د اجازت نه بغير به جهاد له نه ځم. (قرطبي)

## په ګناه (او معصيت) كې د والدينو فرمانبرداري نشته

په دې باندې د ټولو علماؤ اتفاق دى چې د والدينو تابعداري صرف په جائز اموركې ضروري ده، په ناروا او د ګناه په كارونو كې د هيڅا تابعداري نشته، تر دې چې په دې كې د مور او پلار خبره منل هم ضروري نه ده.

(۱) اخرجه ابوداؤد في الجهاد ۲۵۲۸، وابن ماجه ۲۷۸۲، وابن حبان، الترغيب والترهيب كتاب البر والمعاملة الحسنة ۵ .۲۱۶۲

الله تعالى فرمايي :

﴿ وَإِن جَاهَدَاكَ عَلَىٰ أَن تُشْرِكَ بِي مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ فَلَا تُطِعْهُمَا وَصَاحِبْهُمَا فِي الدُّنْيَا مَعْرُوفًا ﴾ . (۱)

ترجمه : او كه چيرته دوى كوشش كوي په تا باندې چې د ما سره داسې شى شريک مقرر كړه چې تا ته په هغې باندې علم نه وي نو د دوى خبره مه منه ، او د دوى سره په دُنيا كې په ښې طريقې سره تعلق ساته ( او ښه سلوک ورسره كوه ) .

او حديث كې هم راځي :

لَا طَاعَةَ لِمَخْلُوقٍ فِي مَعْصِيَةِ الْخَالِقِ . (۲)

دخالق ( الله ﷻ ) په نافرمانۍ كې د چا مخلوق فرمانبرداري جائز نه ده .

● ملا علي قاري رحمه الله ليكلي :

لَا طَاعَةَ : " أَيْ لِأَحَدٍ مِّنَ الْإِمَامِ وَغَيْرِهِ كَالْوَالِدِ وَالشَّيْخِ " فِي مَعْصِيَةٍ . (۳)

د ګناه په كار كې د هيچا تابعداري نشته نه د يو امام ، نه د پلار ، او نه د شيخ .

## كه والدين د دِماغو نه كمزوري وي د هغوى د خبرې حيثيت

صاحب د روح المعاني علامه آلوسي رحمه الله ليكلي : كه چيرته د يو سړي والدين د دماغو نه كمزوري وي ، تر دې چې د حماقت په درجه كې وي ، نو كه چيرته دوى د خپل ضُعفِ عقل او كمزورې رأې په وجه دې بچي ته د يو داسې شي په باره كې حكم كوي چې د عقل خاوندان دا كار ښه نه ګڼي ، او د دې كار په نه كولو سره دې والدينو ته څه تكليف هم نه رسي ، نو كه چيرته دا بچې د دوى مخالفت وكړي او دا كار او نه كړي نو په دې سره دې عَاقُ الوالدين ( د مور او پلار نافرمانه ) نه ګرځي . (۴)

(۱) سورة لقمان آيت ۱۵ .
(۲) مشكوة شريف ص ۳۲۱ كتاب الامارة الفصل الثاني .
(۳) مرقاة شرح مشكوة ج۴ ص ۱۱۸ كتاب الامارة والقضاء الفصل الاول ، درمختار على الشامي ج۹ ص ۵۹ ، ۵۸۳ كتاب الحظر والاباحة فصل في البيع ، فتاوى محموديه ج ۲۹ ص ۱۰۰ والدين كے حقوق .
(۴) روح المعاني ج۸ ص ۹۸ الاسراء الاية ۲۴ مع الاختصار .

## د خلافِ شرعَ کار کوونکي (یعني فاسِق) پلار سره معامله

که چیرته د یو سړي پلار په خلافِ شرعَ کارونو کې مبتلاء وي نو بچي ته اوس هم د دوی اَدب او احترام په کار دی ، خو کوشش به دا کوي چې دوی ته په ښه طریقې سره نصیحت وکړي او د الله ﷻ د عذاب نه دې وویروي ، یا دې د یو بل نیک سړي په ذریعه ورته نصیحت وکړي ، یا دې داسې مجلس ته ولیږلې شي چیرته چې د دیني مسائلو تذکره کولې شي ، یا دې ورله دیو نیک بزرگ سره تعلق پیدا کړي چې د هغه دصُحبت او هدایت په وجه ورنه دا خراب عادتونه ختم شي ، او یا دې دداسې تبلیغي جماعت سره ولیږلې شي کوم چې د خپلو اصولو پابند وي او په صحیح طریقې سره کار کوي .

او که تعلیم یافته وي نو د مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله یا د نورو بزرگانو اِصلاحي کتابونه دې د مطالعې د پاره ورکړې شي ، او که تعلیم یافته نه وي نو ده ته دې دا واورولې شي، دده داصلاح د پاره دې دُعاګانې غواړي ، امید شته چې الله ﷻ دده اصلاح وکړي .

اوس که چیرته اصلاح یې اوشوه نو ډیره ښه ده ، او که اصلاح یې او نه شوه نو بیا به هم دده بې اَدبي نه شي کولې ، او نه به ورسره تعلق پرېښودلې شي ، بلکه د ده د پاره به استغفار او د اصلاح دعاګانې کولې شي او د ده د خوشحالولو کوشش به هر وخت کولې شي . (۱)

## د والدینو خپل مینځي اختلاف په وخت کې د بچي کردار

که چیرته د یو سړي د خپلو والدینو په مینځ کې سخت اختلاف وي : پلار چې کله بچي ته یو حکم وکړي نو مور ورته د دې متضاد د بلې خبرې حکم کوي ، اوس که چیرته بچې د پلار خبره مني نو مور یې خفه کیږي ، او که د مور خبره مني نو په پلار یې خفه کیږي .

---

(۱) نَعَمْ فَإِنَّ الْأَمْرَ بِالْمَعْرُوْفِ وَالنَّهْيَ عَنِ الْمُنْكَرِ فِيْهِ مَنْفَعَةٌ مِنْ أَمْرِهِ وَنَهَاهُ عَنِ الْمُنْكَرِ وَالْأَبُ وَالْأُمُّ أَحَقُّ بِأَنْ يَنْفَعَ لَهُمَا لَكِنْ يَنْبَغِيْ أَنْ لَايَعنفَ عَلَى الْوَالِدَيْنِ فَإِنْ قَبِلَا فَبِهَا . وَإِلَّا سَكَتَ وَاشْتَغَلَ بِالْإِسْتِغْفَارِ لَهُمَا . نفع المفتي والسائل ص ۱۰۷ باب ما يتعلق بطاعة الوالدين ، شامي ج ۴ ص ۸۷ باب التعزير مطلب في تعزيرات المتهم ، فتاوى محموديه ج ۲۹ ص ۱۱۲ ، ۱۱۳ .

نو په دې صورت کې به بچې اول خو دا کوشش کوي چې دواړه په څه طريقه راضي او خوشحاله اوساتي، او که بيا اونشوه نو طريقه يې داده چې په تعظيم او احترام کې به د پلار حقوقو ته ترجيح ورکوي، او په خدمت او مالي امداد کې په مورته ترجيح ورکوي. (۱)

## که د چانه والدين خفه وفات شوي وي د هغې صورت

که د چانه والدين خفه وفات شوي وي او اوس دې په هغه تير کار باندې پښيمانه وي نو ددې صورت دادی چې د هغوی د پاره دې مسلسل دُعاګانې غواړي او د هغوی پسې دې د نيکو اعمالو ثوابونه بخي لکه: د قرآن مجيد دتلاوت ثواب، د نوافلو ثواب، د صدقو ثواب، د نفلي حج ثواب، د درود شريف او تسبيحاتو ثواب، د هغوی د پاره ډير استغفار ويل، او ددېنه علاوه د هر بدني او مالي عبادت ثواب دې ورپسې بخي.

إِنْ شَاءَ اللّٰه په دې سره به الله ﷻ د هغوی روح خوشحاله کړي، او دې انسان ته به الله ﷻ د تيرې خطايي ببښنه هم وکړي او دې به الله ﷻ د والدينو په فرمانبردارو کې شمار کړي. (۲)

---

(۱) إِذَا تَعَذَّرَ عَلَيْهِ جَمْعُ مَرَاعَاةِ حَقِّ الْوَالِدَيْنِ بِأَنْ يَتَأَذّٰى أَحَدُهُمَا بِمَرَاعَاةِ الْآخَرِ يُرَجِّحُ حَقَّ الْأَبِ فِيْمَا يَرْجِعُ إِلَى التَّعْظِيْمِ وَالْإِحْتِرَامِ وَحَقَّ الْأُمِّ فِيْمَا يَرْجِعُ إِلَى الْخِدْمَةِ وَالْإِنْعَامِ .... عالمكيري ج۵ ص ۳۶۵ كتاب الكراهية الباب السادس والعشرون في الرجل يخرج الى السفر.. ، نفع المفتي والسائل ص ۱۲۰ ما يتعلق بطاعة الوالدين . إِنَّ بِرَّ الْأُمِّ مُقَدَّمٌ عَلَى بِرِّ الْأَبِ وَحَقُّ الْأَبِ مُقَدَّمٌ فِي الطَّاعَةِ وَحُسْنِ الْمُتَابَعَةِ لِرَأْيِهِ وَالنُّفُوْذِ لِأَمْرِهِ وَقُبُوْلِ الْأَدَبِ مِنْهُ. مرقاة شرح مشكوة ج۴ ص ۶۶۵ باب البرّ والصلة الفصل الاول، فتاوى محموديه ج ۲۹ ص ۱۲۶، ۱۲۷ والدين وغيره كے حقوق

(۲) فتاوى محموديه ج۲۹ ص ۱۰۹، آپ كے مسائل اور ان كا حل ج۸ ص ۵۷۵، مظاهر حق شرح مشكوة ج۸ ص ۷۹ باب البر والصلة.

د نيکو اعمالو ثواب د مړي پسې رسي: صَرَّحَ عُلَمَاؤُنَا فِيْ بَابِ الْحَجِّ عَنِ الْغَيْرِ بِأَنَّ لِلْإِنْسَانِ أَنْ يَجْعَلَ ثَوَابَ عَمَلِهِ لِغَيْرِهِ صَلٰوةً أَوْ صَوْمًا أَوْ صَدَقَةً أَوْ غَيْرَهَا. شامي ج۳ ص ۱۵۱ باب صلاة الجنازة مطلب في القراءة للميت واهداء ثوابها له . عالمكيري ج۱ ص ۲۵۷ الباب الرابع عشر في الحج عن الغير ط كوئته ، هداية ج۱ ص ۲۹۶ باب الحج عن الغير.

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

إِنَّ الْعَبْدَ لَيَمُوْتُ وَالِدَاهُ أَوْ أَحَدُهُمَا وَإِنَّهُ لَهُمَا لَعَاقٌّ فَلَا يَزَالُ يَدْعُوْ لَهُمَا وَيَسْتَغْفِرُ لَهُمَا حَتَّى يَكْتُبَهُ اللهُ بَارًّا . (۱)

کله چې د يو کس مور او پلار دواړه يا يو وفات شي ، او دې د هغوی نافرمانه وو (يعنی د هغوی فرمانبرداري يې نه وه کړې او اوس دې په هغه تير کار پښيمانه دی نو که چيرته) دې اوس د هغوی د پاره هميشه دُعا او استغفار غواړي نو الله ﷻ به دې د نيکو کارو (او د والدينو د فرمانبردارو) نه اوليکي .

ځکه د انسان ژوند خو صرف تر مرګه پورې محدود نه دی ، بلکه د مرګ په وجه خو صرف د يو ژوند نه بل ژوند طرفته نقل کيدل دي . (۲)

نو مور او پلار لکه څرنګې چې په دُنيا کې د بچي د خدمت محتاج وي ، نو دغه شان د مرګ نه پس هم دوی د خپل مغفرت او درجاتو اوچتولو د پاره د خپل بچي د دُعاؤ او استغفار محتاج وي، او دا د قبر احتياج د دُنيا د احتياج زيات دی ، ځکه که چيرته په دُنيا کې يو بَدبخته بچې د والدينو خدمت او نه کړي نو بيا يې هم مور او پلار د بل چا نه خپل خدمت اخيستې شي ، يا په خپله هم څه ناڅه خپل حوائج پوره کولې شي .

خو چې کله والدين ګناهګار وي او وفات شي نو دلته بيا دوی د مغفرت او بښنې زيات محتاج شي ، ځکه دلته د دوی بل هيڅ شی په کار نه راځي ، نو په دې وخت کې که يو بچې د دوی د پاره دُعاګانې غواړي ، د دوی د پاره استغفار وايي او د دوی پسې د نفلي لمونځونو ، روژو ، صدقاتو او نورو نيکو اعمالو ثواب بخي ، او په دې سره الله ﷻ د دې ګناهګارو والدينو مغفرت وکړي ، نو خامخا به دا مور او پلار د دې بچې نه راضي کيږي.

---

(۱) مشكوة باب البر والصلة ج۲ حديث ۳۲ .

(۲) قَالَ الْعُلَمَاءُ : اَلْمَوْتُ لَيْسَ بِعَدَمٍ مَحْضٍ وَلَا فَنَاءٍ صَرْفٍ ، وَإِنَّمَا هُوَ إِنْقِطَاعُ تَعَلُّقِ الرُّوْحِ بِالْبَدَنِ وَمُفَارَقَةٌ وَحَيْلُوْلَةٌ بَيْنَهُمَا ، وَتَبَدُّلُ حَالٍ ، وَانْتِقَالٌ مِنْ دَارٍ إِلَى دَارٍ . شرح الصدور باب فضل الموت للسيوطي ص ۱۱۲ ط المكتبة العلمية بيروت ، آپ کے مسائل اور اُن کا حل ج۸ ص ۵۷۷ .

او د والدينو د راضي کيدو په وجه الله ﷻ دغه بچي فرمانبرداره ليکي، ځکه د الله ﷻ رضا د والدينو په رضا کې ده. (۱)

معلومه شوه چې د يو کس نه د مور او پلار په خدمت کې غفلت شوې وي، دوی ورنه خفه وفات شوي وي، او اوس دا بچي په خپل تير کار پښيمانه وي نو که چيرته دې د هغوی د پاره مسلسل دُعاګانې او استغفار غواړي او د هغوی پسې د نيکو اعمالو ثواب ببښي اميد شته چې الله ﷻ دده تيره خطاء معاف کړي او دې د والدينو د فرمانبردارو نه اوليکي.

(۱) آپ کے مسائل اور اُن کا حل ج۸ ص ۵۷۷ والدین اور اولاد کے تعلقات.

# د عقوق الوالدین متعلق نور بهترین واقعات:

د ''عقوق الوالدین'' موضوع متعلق مې نور بهترین واقعات ذکر کړي چې په اوریدو سره یې د انسان په زړه کې د خپلو والدینو قدر وعزت پیدا کیږي، د هغوی د نافرمانۍ نه د بچ کیدو، او د هغوی د خدمت توفیق ورته نصیبه کیږي.

## یوه عبرت ناکه واقعه

علامه ذهبي رحمه الله په خپل کتاب '' الکبائر '' کې یوه واقعه رانقل کړې (۱) چې یو ځوان د نبي کریم صلی الله علیه وسلم په زمانه کې وُ، نوم یې علقمه وُ، د الله ﷻ په عبادت، لمونځ، روژو کې به یې ښه محنت کولو او صدقې به یې هم ډیرې ورکولې. دې بیمار شو او دا بیماري یې ډیره سخته شوه، نو دده بي بي د نبي ﷺ په خدمت کې حاضره شوه او عرض یې وکړو چې اې د الله رسوله! زما خاوند علقمه د زنکدن په حالت کې دی، زما اراده ده چې زه تاسو د هغوی د احوالو نه خبر کړم، نبي علیه السلام حضرت بلال حضرت عمار او حضرت صهیب رضی الله عنهم ته حکم وکړو چې تاسو لاړ شئ او هغه ته د کلمه شهادت تلقین وکړئ. کله چې دوی هلته ورغله، نو د هغه آخیري وخت وُ، دوی ورته د کلمې تلقین کولو خو دده ژبه په دې نه چلیده (یعنی کلمه شهادت یې نه شوه ویلې) نو دوی رسول الله ﷺ پسې خبر وراولیږل چې دې خو کلمه شهادت نه شي ویلې.

نبي علیه السلام پوښتنه وکړه چې آیا دده په والدینو کې څوک ژوندي دي؟ خلقو ورته وویل (چې پلار یې وفات شوې خو) بوډۍ مور یې ژوندۍ ده. نبي کریم ﷺ دده پسې

---

(۱) دا واقعه اګر چې علامه ابن جوزي رحمه الله په '' الموضوعات '' کې ذکر کړې. البته امام سیوطي رحمه الله په مختلفو طریقو سره رانقل کړې، همدارنګې دا واقعه ذکر ده په : شعب الایمان للبیهقي ۷۵۰۸ ج ۲۹\۱۰ ، الخصائص الکبری ۲۰۹\۲ ، جمع الوسائل ۳۹۷\۱ ، الترغیب والترهیب ج۳ ص ۲۲۶ ، تنبیه الغافلین ص ۸۱ ، الکبائر للذهبي ص ۵۰ الکبیرة الثامنة عقوق الوالدین ، نزهة الناظرین فی الاخبار والآثار المرویة عن الانبیاء والصالحین ص ۳۹۲ الباب الثاني عشر في بر الوالدین . (خُذْ مَا صَفَیٰ وَدَعْ مَا کَدَرَ).

يو كس اوليږل ، او دې كس ته يې ووېل چې : دې مورته يې ووايه : كه ته راتلې شې نو نبي ﷺ ته راشه ، او كه نه شې راتلې نو ته همدلته اوسه ، نبي ﷺ به دلته تاته راشي .

كله چې هغه كس دې بوډۍ ته راغې ، او د پيغمبر ﷺ خبره يې ورته وكړه نو دې ووېل : "زما مور او پلار دې د نبي ﷺ نه قربان شي ، زه د دوی مجلس ته ورځم " دې خپله امسا راواخيسته ، او د پيغمبر ﷺ مجلس ته حاضره شوه ، نبي ﷺ ورته وفرمايل : ريښتيا روايه ځكه كه ته دروغ ووايې نو ماته د الله ﷻ د طرفه وحې راځي .

كَيْفَ كَانَ حَالُ وَلَدِكَ عَلْقَمَةَ ؟ ستا د بچي علقمه څنګه حال ؤ (يعنى دا څنګه سړې ؤ ؟)

دې ورته ووېل : يَارَسُوْلَ اللهِ ! كَثِيْرَ الصَّلَاةِ ، كَثِيْرَ الصِّيَامِ ، كَثِيْرَ الصَّدَقَةِ .

اې دالله رسوله ! ډېر لمونځ ګزار ؤ ، ډيرې روژې يې نيوې او ډيره صدقې يې وركولې .

پيغمبر ﷺ ورنه دوباره پوښتنه وكړه چې د تا سره يې رَويه څنګه وه ؟ دې ورته ووېل چې زه خو ورنه سخته خفه يم . نبي ﷺ ورنه پوښتنه و كړه : ولې ؟ دې ورته ووېل :

يَارَسُوْلَ اللهِ ! كَانَ يُؤْثِرُ عَلَيَّ زَوْجَتَهُ وَيَعْصِيْنِيْ . اې د الله رسوله ! دهٔ به خپلې ښځې ته په ما باندې ترجيح وركوله او زما نافرماني به يې كوله .

نبي ﷺ وفرمايل : إِنَّ سَخَطَ أُمِّ عَلْقَمَةَ حَجَبَ لِسَانَ عَلْقَمَةَ عَنِ الشَّهَادَةِ . د علقمه د مور ناراضتيا (او خفګان) د دهٔ ژبه د كلمه شهادت نه بنده كړې ده .

بيا نبي ﷺ حضرت بلال رضي الله عنه ته حكم وكړو چې لاړ شه او ماله ډير لرګي راجمع كړه (دا رسول الله ﷺ يو نفسياتي تدبير جوړ كړو چې په څه طريقې سره دا مور د ده ته معافي وكړي) دې بوډۍ ورنه پوښتنه وكړه : اې د الله رسوله ! په دې لرګو څه كوې ؟ پيغمبر ﷺ ورته وفرمايل چې : ستا د وړاندې علقمه په دې اُور كې سوزوم ، هغې ورته ووېل : اې د الله رسوله ! دا زما بچې دی ، تاسو چې زما د وړاندې دا سوزوی نو زه به دا څنګه برداشت كړې شم ؟ نبي ﷺ ورته وفرمايل :

يَا أُمَّ عَلْقَمَةَ ! عَذَابُ اللهِ أَشَدُّ وَأَبْقَى . فَإِنْ سَرَّكَ أَنْ يَغْفِرَ اللهُ لَهُ فَارْضِيْ عَنْهُ . فَوَالَّذِيْ نَفْسِيْ بِيَدِهِ لَا يَنْفَعُ عَلْقَمَةَ بِصَلَاتِهِ وَلَا بِصِيَامِهِ وَلَا بِصَدَقَتِهِ مَا دُمْتَ عَلَيْهِ سَاخِطَةً .

اې د علقمه مورې ! د الله ﷻ عذاب خو ددينه هم ډير سخت او باقي پاتې کيدونکې دی ، که چيرته ته په دې خوشحاليږې چې الله ﷻ ده ته ببنښه وکړي نو ته دده نه راضي شه ، ځکه زما دې په هغه ذات قسَم وي د چا په قبضه کې چې زما ساه ده تر څو پورې چې ته دده نه خفه يې تر هغې وخته پورې به علقمه ته لمونځ ، روژه ، او صدقه هيڅ فائده ورنه کړي .

( کله چې بوډۍ دا خبرې واوريدې ) نو وې ويل : اې د الله رسوله ! زه الله ﷻ ، فرشتې او دا حاضر مسلمانان ټول ګواه کوم چې زه ددې خپل بچي علقمه نه راضي يم .

نبي عليه السلام حضرت بلال ﷺ ته وفرمايل : اې بلال ! ته ورشه او علقمه اوګوره چې لَا إِلٰهَ إِلَّا الله ويلې شي او که نه ؟ ځکه کيدې شي د علقمه مور دا معافي د زړه نه وي کړي ، بلکه د ماته يې د حياء په وجه کړي وي .

کله چې حضرت بلال ﷺ ورغې نو د کور دننه نه يې د علقمه د خولې نه کلمه واوريده ، دې چې دننه ورغې نو خلقو ته يې وويل : اې خلقو ! د علقمه د مور د خفګان په وجه دده په ژبه کلمه نه جاري کيده ، اوس يې چې مور ورنه راضي شوه نو په ژبه يې کلمه جاري شوه .

بيا علقمه په همدغه ورځ وفات شو ، نبي عليه السلام ده ته راغې ، دده د غُسل او کفن ورکولو حکم يې وکړو ، لمونځ د جنازې يې ورباندې وکړو ، د دفن کولو په وخت نبي کريم صلى الله عليه وسلم دده د قبر څنګ کې اودريده او وې فرمايل :

يَا مَعْشَرَ الْمُهَاجِرِيْنَ وَالْأَنْصَارِ مَنْ فَضَّلَ زَوْجَتَهُ عَلَى أُمِّهِ فَعَلَيْهِ لَعْنَةُ اللهِ وَالْمَلَائِكَةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِيْنَ لَا يَقْبَلُ اللهُ مِنْهُ صَرْفًا وَلَا عَدْلًا إِلَّا أَنْ يَتُوْبَ إِلَى اللهِ عَزَّوَجَلَّ وَيُحْسِنَ إِلَيْهَا وَيَطْلُبَ رِضَاهَا فَرِضَى اللهِ فِيْ رِضَاهَا وَسَخَطُ اللهِ فِيْ سَخَطِهَا . (۱)

---

(۱) الكبائر للذهبي ص ۵۵ الكبيرة الثامنة عقوق الوالدين ، شعب الايمان للبيهقي ۷۵۰۸ ج ۱۰\۲۹۱ ، الخصائص الكبرى ۲۰۹\۲ ، جمع الوسائل ۳۹۷\۱۱ ، الترغيب والترهيب ج۳ ص ۲۲۶ ، تنبيه الغافلين ص ۸۱ ، نزهة الناظرين في الاحاديث والآثار المروية عن الانبياء والصالحين ص ۳۹۲ الباب الثاني عشر في بر الوالدين

اې د مهاجرينو او انصارو ډلې ! څوک چې خپلې ښځې ته په مور باندې ترجيح ورکړي نو په هغه باندې د الله ﷻ، فرښتو او ټولو خلقو لعنت دی. الله ﷻ نه خو دده فرضي عبادت قبلوي او نه نفلي. تر دې چې دې الله ﷻ ته توبه اوباسي او د خپلې مور سره احسان وکړي او داراضي کړي (نو بيا به يې فرضي او نفلي عبادات قبول شي). ځکه د الله ﷻ رضا او خوشحالي د مور په رضا او خوشحالۍ کې ده او د الله ﷻ خفګان د مور په خفګان کې دی.

## د مور په بې عزتۍ سره خطرناک مرګ

علماو يوه واقعه رانقل کړې چې د باندې (اطرافو) نه يو ځوان هسپتال ته راوړې شو، ده ته دا بيماري وه چې يو څو منټه پس به ده دا چغې وهلې: ''د خدای د پاره ما په مرۍ کې مه نيسه'' ډاکټرانو ويل چې دا خو نفسياتي مريض دی. ددې هلک پلار هم دلته ولاړ ؤ هغه ورته وويل: دا څه نفسياتي مريض نه دی بلکه ده ته خپل عمل رامخې ته کيږي، دا د هغې جزاء ده.

ډاکټرانو ورته وويل چې: هغه څنګه ؟ ده ورته وويل چې دې به د بې دينه خلقو سره کيناسته نو کور ته به چې راغې، مور به ورته نصيحت کولو: بچيه ! د بې دينه خلقو سره مه کينه، بلکه د نيکانو خلقو سره کينه.

ده به مور ته په غصه کې ويل: ''چپ شه ګني په مرۍ کې دې نيسم''. مورغريبه به يې د ويرې نه چپ شوه. بله ورځ به ورته مور بيا نصيحت کولو ده به بيا هم همدا خبره ورته کوله چې ''چپ شه ګني په مرۍ کې دې نيسم'' ټول عُمر يې مور ته همدا دَهمکي ورکوله چې: ''چپ شه ګني په مرۍ کې دې نيسم''.

اوس الله دې په داسې بيمارۍ کې مبتلاء کړې چې په خپله چغې وهي: ''د خدای د پاره ما په مرۍ کې مه نيسه'' نو دا دده هغه خپل عمل دی چې ورته رامخې ته کيږي.(۱)

(۱) خطبات فقير ج۱۹ ص ۱۰۲ .

# دوالدينو سره چې کوم عمل وکړې بچې به درسره هماغه عمل کوي

۱. يوه مشهوره واقعه ده چې يو سړي خپل پلار په څادر کې تاو کړې وُ ، شاته يې اچولې وُ ، او په يو کوهي کې د غورځولو د پاره يې روان کړې وُ ، کله چې هغه کوهي ته اورسيده ، نو د کوهي په غاړه يې دا پلار اودرول ، قريبه وه چې ورغورځولې يې وې ، نو د پلار په سترګو کې يې اوښکې راغلې او ورته وې ويل : بچيه ! ما دې کوهي ته مه غورځوه بلکه چيرته بل کوهي ته مې اوغورځوه ، ځکه چې ما په دې کوهي کې خپل پلار هم غورځولې وُ ( ما ته حياء راضي ) نو ځکه ته ما بل کوهي ته اوغورځوه .

دا خبره چې دې ځوي واوريده نو په سوچ کې شو چې ده چونکه د خپل پلار سره دا عمل کړې وُ نو دده سره هم دادې کيدونکې دى . اوس که چيرته زه دې کوهي ته اوغورځوم نو صبا به ما هم خپل بچي کوهي ته غورځوي . نو پلار يې واپس په ډير ادب او احترام سره کورته راروان کړو .

لهذا بچو ته دا سوچ په کار دى چې نن زه د خپلو والدينو سره کوم عمل وکړم صبا به دا زما بچي د ماسره هم هماغه شان عمل کوي . (۱)

۲ . همدغه شان يوه بله واقعه هم نقل ده چې يو کس خپل پلار له په مرى کې څادر اچولې وُ او په کور کې يې راښکوده ، دې پلار ورته وويل : بچيه ! دې پورې وَنې پورې مې راکاږه ، اخوا مې مه راکاږه ګني ظالم به شى .

دې ځوي ورته وويل چې : ددې وَنې پورې راښکودل ولې څه ظلم نه دى ؟ پلار ورته وويل چې : ددې اُونې پورې ما خپل پلار راښکلې وُ ، نو الله ﷻ د هغې سزا دادې راکړه ، خو اخوا ما نه وُ راښکلې نو ځکه به ته ظلم کوونکې جوړ شى .

## واقعه :

امام قرطبي رحمه الله په خپل متصل سَند سره د حضرت جابر ؓ نه روايت نقل کړې روايت علامه آلوسي رحمه لله په خپل تفسير روح المعاني کې او مفتي شفيع رحمه الله په معارف القرآن کې هم رانقل کړې ) .

چې يو سړي نبي کريم صلى الله عليه وسلم ته راغې او وې ويل :

يَا رَسُوْلَ الله ! إِنَّ أَبِيْ أَخَذَ مَالِيْ . اې د الله رسوله ! بيشکه زما پلار د مانه زما مال اخيستې دی. نبي ﷺ دې کس ته وفرمايل :

فَأْتِنِيْ بِأَبِيْکَ . ته ورشه او ماته دې خپل پلار راوله .

(کله چې هغه کس لاړو) نو په دې وخت کې حضرت جبراييل ﷺ راغې او وې فرمايل:

إِنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ يَقْرَئُکَ السَّلَامُ وَيَقُوْلُ لَکَ : إِذَا جَاءَکَ الشَّيْخُ فَاسْأَلْهُ عَنْ شَيْءٍ قَالَهُ فِيْ نَفْسِهِ مَا سَمِعَتْهُ أُذُنَاهُ .

الله ﷻ په تاسو سلام وايي ، او دا وايي چې کله درته هغه شيخ (ددې کس پلار) راشي نو د هغه خبرو په باره کې ورنه پوښتنه وکړه کومې چې دده په زړه کې تيرې شوي خو دده غوږونو هم نه دي اوريدلي .

هر کله چې يې دغه پلار راورسيده نو نبي عليه السلام ورته وفرمايل: ستا ځوي خو تانه شکايت کوي چې مال يې رانه اخيستې ، آيا ته ريښتيا دده د مال اخيستلو اراده لرې ؟ ده ورته وويل : اې د الله رسوله ! تاسو په خپله دهمده نه پوښتنه وکړئ ، زه خو دا مال صرف دده په يوې ترور (د پلار خور) ، بلې ترور (د مور خور) ، او خپل ځان باندې خرچ کوم (بل چيرته خو مې نه دې وړې) . نبي عليه السلام ورته وفرمايل :

إِيْه دَعْنَا مِنْ هَذَا أَخْبِرْنِيْ عَنْ شَيْءٍ قُلْتَهُ فِيْ نَفْسِکَ مَا سَمِعَتْهُ أُذُنَاکَ .

دا پريږده ، بس ماته پته اولېږده ، خو هغه خبرې راته ووايه کومې چې تا په زړه کې جوړې کړي ، او ستا غوږونو هم نه دي اوريدلي .

هغه وويل : اې د الله رسوله ! په الله ﷻ قسم چې په هره معامله کې الله ﷻ زمونږ په تاسو باندې ايمان او يقين زياتوي ( ځکه کومې خبرې چې زما غوږونو نه دي اوريدلي د هغې هم الله ﷻ تاسو ته خبر درکړی) .

بيا دې سړي وويل : دا حقيقت دی چې ما څه شعرونه په زړه کې ويلي وو چې هغه زما غوږونو هم نه دي اوريدلي . نبي ﷺ ورته وفرمايل :

قُلْ وَأَنَا أَسْمَعُ . ته هغه اشعار ووايه چې زه يې واورم. نو هغه دا اشعار شروع کړه.

غَذَوْتُکَ مَوْلُوْدًا وَمُنْتُکَ يَافِعًا * تُعَلُّ بِمَا أَجْنِيْ عَلَيْکَ وَتُنْهَلُ

(اې ځويه ! ) ما تاته په وړوکوالي کې غذا درکړه ، او د ځوانيدو نه پس مې هم ستا ذمه واري واخيسته ، ستا ټول خوراک او څکاک زما د ګټې نه ؤ .

إِذَا لَيْلَةٌ ضَافَتْکَ بِالسُّقْمِ لَمْ أَبِتْ * بِسُقْمِکَ إِلَّا سَاهِرًا أَتَمَلْمَلُ

کله به چې د شپې درباندې څه بيماري راغله نو ستا د بيمارۍ په وجه به زه ټوله شپه ويښ ووم ، او په ناقرارۍ به مې شپه تيروله .

كَأَنِّيْ أَنَا الْمَطْرُوْقُ دُوْنَکَ بِالَّذِيْ * طُرِقْتَ بِهٖ دُوْنِيْ فَعَيْنِيْ تَهْمُلُ

ګويا چې ستا په ځای زه بيمار يم ، ته نه يې ، او ددې د وجې به زه ټوله شپه ژړيدم .

تَخَافُ الرَّدٰى نَفْسِيْ عَلَيْکَ وَإِنَّهَا * لَتَعْلَمُ أَنَّ الْمَوْتَ وَقْتٌ مُؤَجَّلُ

زما زړه به ستا د هلاکت ( او مرګ ) د وجې يريدو ، حالانکه زه پوهيدم چې د مرګ يوه ورځ ټاکل شوې ده ( د هغې نه نه مخکې کيږي ، او نه روستو کيږي ) .

فَلَمَّا بَلَغْتَ السِّنَّ وَالْغَايَةَ الَّتِيْ * إِلَيْهَا مَدٰى مَا کُنْتُ فِيْکَ أُؤَمِّلُ

بيا کله چې ته اورسيدې هغه عُمر او هغه حَد ته د کوم چې ما د تا نه آرزو لرله .

جَعَلْتَ جَزَائِيْ غِلْظَةً وَفَظَاظَةً * كَأَنَّکَ أَنْتَ الْمُنْعِمُ الْمُتَفَضِّلُ

نو تا ماله د هغې په بدله کې سختي او سخت کلامي راکړه ، ( داسې معلوميږي ) ګويا چې تا په ما باندې احسان کړې ( او ما درباندې هيڅ احسان نه دې کړې ) .

فَلَيْتَکَ إِذْ لَمْ تَرْعَ حَقَّ أُبُوَّتِيْ * فَعَلْتَ كَمَا الْجَارُ الْمُصَاقِبُ يَفْعَلُ

کاش ، چې کله تا زما د پلار ولۍ حق نه شو اداء کولې نو ( کم از کم ) دومره خو به دې اسره کړې وې لکه څنګه چې يو شريف ګاونډي د چا سره کوي .

فَأَوْلَيْتَنِيْ حَقَّ الْجِوَارِ وَلَمْ تَکُنْ * عَلَيَّ بِمَالٍ دُوْنَ مَالِکَ تَبْخَلُ

دومره خو به دې کړې وې چې د يو ګاونډي هومره حق خو به دې راکړې وی ، او هم زما په مال کې خو به دې د ماسره بُخل نه کولی .

رسول الله ﷺ ددې اشعارو اوريدو نه روستو ددې ځوي ګريوان ونيوه او وې فرمايل :

أَنْتَ وَمَالُكَ لِأَبِيْكَ. ته او ستا مال ستا د پلار دی. (۱)

ددې نه پته ولږيده چې که چيرته والدين محتاج وي او د خوراک څه بله ذريعه يې نه وي نو د بچي د مال نه خوراک کولې شي ، خو ددې دا مطلب نه دی چې ګني بچې هر څه ګټي هغه ټول دده د مور او پلار دي.

حضرت ابوبکر صديق ﷺ ددې أَنْتَ وَمَالُكَ لِأَبِيْكَ مطلب بيانوي :

إِنَّمَا يَعْنِيْ بِذٰلِكَ اَلنَّفَقَةَ. (۲) د دينه مراد نان نفقه ده.

د حاکم په روايت کې دا هم شته چې که والدين محتاج وو نو د بچي د مال نه نفقه اخيستې شي :

إِنَّ أَوْلَادَكُمْ هِبَةُ اللهِ تَعَالَى لَكُمْ يَهَبُ لِمَنْ يَشَاءُ إِنَاثًا وَيَهَبُ لِمَنْ يَشَاءُ الذُّكُوْرَ فَهُمْ وَأَمْوَالُهُمْ لَكُمْ إِذَا احْتَجْتُمْ إِلَيْهَا. (۳)

بيشکه ستاسو اولاد د الله ﷻ ورکړه ده چاته چې اوغواړي جنيکۍ ورکوي ، او چاته چې اوغواړي هلکان ورکوي ، نو دغه اولاد او د هغوی مال ستاسو د پاره دی خو کله چې ستاسو ورته ضرورت وي (او محتاجه يې).

مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله ددې حديث په تشريح کې ليکي چې ددې حديث د آخيري قيد ( إِذَا احْتَجْتُمْ إِلَيْهَا ) نه هم معلومه شوه چې کله والدين محتاج وي نو بيا د بچي مال استعمالولې شي.

---

(۱) قرطبي ج۱۵ ص ۲۱۵ ، روح المعاني ج۱۵ ص ۷٦ ، معارف القرآن پ ۱۵ سورة بني اسرائيل آيت ۲۳، اخرجه الطبراني في الصغير ۹۴۷ من حديث جابر ، وقال المجمع ٦۷۷۰ رواه في الصغير والاوسط ، وفيه من لم اعرفه والمنكدر بن محمد ضعيف ، والحديث بهذا التمام منكر . **نوټ** : دا د عربي شعرونه د ادب په مشهور کتاب ''حماسه ''کې هم شته خو دا اشعار يې اميه بن ابى الصلت ته منسوب کړي ؛ بعضى وايي چې داد عبدالاعلى شعرونه دي ، بعضو ددې شعرونو نسبت ابو العباس عمى ته کړې . معارف القرآن سورة بني اسرائيل آيت ۲۳ بحواله حاشيه قرطبي .

(۲) رواه البيهقي كذا في تاريخ الخلفاء ص ٦۵ ، د جنت کالي ص ۸۵۸ .

(۳) كنزالعمال ج۸ ث ۲۸۳ عن الحاكم وغيره ، د جنت کالي ص ۸۵۸ .

او كه والدين په خپله مالدار وي نو بيا د بچي مال بلا ضرورته نشي استعمالولې .

## فقهي مسئله

امام محمد رحمه الله وايي :

أَخْبَرَنَا أَبُوْحَنِيْفَةَ عَنْ حَمَّادٍ عَنْ إِبْرَاهِيْمَ قَالَ : لَيْسَ لِلْأَبِ مِنْ مَالِ إِبْنِهِ شَيْءٌ إِلَّا أَنْ يَحْتَاجَ إِلَيْهِ مِنْ طَعَامٍ أَوْ شَرَابٍ أَوْ كِسْوَةٍ . قَالَ مُحَمَّدٌ : وَبِهِ نَأْخُذُ وَهُوَ قَوْلُ أَبِي حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ الله.

امام محمد د امام ابو حنيفه رحمه الله نه روايت كوي ، هغه د حماد نه ، هغه د ابراهيم نه: چې پلار لره د ځوي په مال كې هيڅ حق نشته ، خو هله چې د خوراک ، څکاک او د جامو حاجت مند وي ( نو بيا د ځوي مال استعمالولې شي ) . امام محمد رحمه الله وايي : چې همدا قول د امام ابو حنيفه رحمه الله دى او په دې باندې مونږ عمل كوو .

امام محمد رحمه الله تر دې ليكلي دي چې كه بلا ضرورته پلار د ځوي مال استعمالوي نو دا به په ده باندې قرض وي :

قَالَ مُحَمَّدٌ : لَابَأْسَ بِهِ إِذَا كَانَ مُحْتَاجًا أَنْ يَأْكُلَ مِنْ مَالِ إِبْنِهِ بِالْمَعْرُوْفِ فَإِنْ كَانَ غَنِيًّا فَأَخَذَ مِنْهُ شَيْئًا فَهُوَ دَيْنٌ عَلَيْهِ وَهُوَ قَوْلُ أَبِي حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ الله .

كله چې پلار محتاج وي نو د ځوي د مال نه د ده د پاره د ضرورت مطابق خوراک څه بديت نه لري ، خو كه پلار يې مالدار وي او بلا ضرورته د خپل ځوي مال خوري نو دا په ده قرض دى ، او همدا قول د امام ابو حنيفه رحمه الله هم دى . (۱)

## دوالدينو حوصله او برداشت د بچو په نسبت زيات وي

قدرمنو ! انسان ته دا سوچ په كار دى چې كه زه نن د خپلو والدينو سره تكليف برداشت كوم ، د دوى خدمت كوم ، او د بودا والي په وجه د دوى ګډې وَډې خبرې زغمَم ، نو دغه شان دوى هم زما خدمت كړى او دوى هم د ما سره ډير تكليفونه برداشت كړي .

د دې په باره كې درته يوه مشهوره واقعه بيانوم كومه چې مولاناې روم رحمه الله نقل كړې : چې يو كس د خپل بودا پلار سره په كور كې په انګړ كې ناست وُ ، په دې كې يو كارغه

راغې او مخامخ په ديوال کيناست. دې پلار د دې ځوي نه پوښتنه وکړه: بچيه! دا پورې تور په ديوال څه شې دی؟ ده ورته وويل: پلاره دا کارغه دی، يو منټ پس بيا دې پلار پوښتنه وکړه: بچيه! دا پورې تور په ديوال څه شی دی؟ ده ورته وويل: پلاره کارغه دی. څه وخت پس بيا ورنه پلار پوښتنه وکړه نو دې ځوي ورته په سخته لهجه کې وويل: ړوند خو نه يې کارغه دی. څه وخت پس بيا ورنه پلار پوښتنه وکړه چې بچيه! دا پورې تور په ديوال څه شی دی؟ نو دا ځوي سخت غصه شو او ډيره سخته لهجه کې يې ورته وويل چې يو خو ته د سره پوهيږې نه څو پيرې مې درته وويل چې دا کارغه دی.

دې پلار ورته وويل: بچيه! دا کارغه چې څنګه دلته کيناست، نو ما او پيژنده، خو ما ته ستا دوړوکوالي يوه واقعه رايادة شوه، چې کله ته وړوکې وې او د ما سره دلته ناست وې، نو همدغه شان يو کارغه راغی او په دې مخامخ ديوال کيناست، تا د ما نه پوښتنه وکړه چې پلاره! دا پورې مخامخ په ديوال څه شی دی؟ ما درته جواب درکړو: بچيه! دا کارغه دی، او د ډيرې مينې نه مې ستا خوله ښکل (چَپ) کړه، تا بيا پوښتنه وکړه، ما بيا همدغه شان په مينه جواب درکړو، تا د ما نه په هغه لړ وخت کې پنځه ويشت (۲۵) کرتې پوښتنه وکړه او ما په هره پيره پوره جواب درکړی چې بچيه! دا کارغه دی او په هره پيره مې ستا خوله د ډيرې مينې نه ښُکل کړې. خو نن چې ما د تا نه صِرف څلور پيرې پوښتنه وکړه نو ته دومره سخت غصه شوی او دومره غلطه لهجه دې استعمال کړه. حالانکه ما ته معلومه وه چې دا کارغه دی خو صرف ستا رَوَيه او اخلاق مې کتل، چې په تا کې څومره برداشت دی، په دې اوريدو سره يې ځوي سخت ملامته شو. (۱)

---

(۱) په بعضې کتابونو کې دا واقعه داسې ذکر ده چې کله دې بچي ورته په څلورم کرت په سخته لهجه کې جواب ورکړو، نو بيا دا ځوي پاڅيد او کمرې ته ننوت، هلته په کمره کې يې څه شی تلاش کولو، په دې کې ده يوه زړه د پلار ډائري پيدا کړه (په کومه کې چې ده د پلار د هرې ورځې حالت ليکلې وُ) ده هغه راخلاصه کړه، ده کتله، په هغې کې په يوه صفحه کې ده د پلار ليکلي وُ چې نن ورځ د ماسره په آنګړ کې زما وړوکې ځوي ناست وُ، او په دې کې په مخامخ ديوال يو کارغه کيناست، د ما نه ځوي پوښتنه وکړه چې پلاره! دا مخامخ په ديوال څه شی دی؟ ما د ډيرې مينې نه ده د ځله ښکل کړه او جواب مې ورکړو چې بچيه! دا خو کارغه دی، ده د مانه پنځه ويشت کرته پوښتنه وکړه او ما په هره پيره ده ده ځله ښکل کړه او صحيح جواب مې ورکړو. دې ځوي چې دا خبره اوکتله نو سخت ملامته شو چې کله زه وړوکې ووم نو ما د پلار نه پنځه ويشت کرته پوښتنه کړې وه او هغه په مينه جواب راکړی او نن ده د مانه صرف څلور کرته پوښتنه وکړه او زه دومره سخت غصه شوم.

# د مور د اجازت نه بغير حج ته د تلونكي كس سزا

علماو د يو كس واقعه رانقل كړې چې ډير نيك سړې ؤ ، ده يو كرّت د حج د تللو اراده وكړه . رورته وويل : بچيه ! زما د خدمت بل څوك نشته ، ماته تكليف دى ، ته اوس مه ځه ، بل كال به لاړ شې . ده د مور خبره اونه منله او بغير د اجازت نه حج ته روان شو ، سفر يې كولو ، يوه په دې يو جمات ته د نفلو كولو د پاره ورننوت ، د خداى شان ګوره چې د دې جمات سره نزدې يو كور ته غَل د غلا د پاره ننوت .

كله چې ورباندې د كور واله خلق راوينښ شو نو دې غل د جمات په طرف رامنډه كړه ، خلقو هم دده پسې رامنډې وهلې ، غل په يوه دروازه جمات ته راننوت ، او په دويمه دروازه اخوا اووت ، او لاړ اوتختيده .

خلق چې جمات ته را ورسيده نو په دې جمات كې يې دغه نيك كس وليده چې په لمانځه ولاړ دى ، خلقو همدا راټينګ كړو او ورته وې ويل چې غلا دې هم وكړه او اوس دې راته د ځان نه بزرګ هم جوړ كړې ؟ ټينګ يې ونيوه ، سخت يې ووهل ، ده چې هر څومره عذرونه ورته پيش كړه خو هغوى اونه منل ، او ورته ويل يې : ته هسې بانې جوړوى .

د وخت بادشاه ته يې بوتلو ، هغه حكم وكړو چې لاس او خپې د واړه ورنه پريكړئ ، په خرېې سور كړئ ، په بازار كې يې اوګرځوئ او دا چغه ورسره وهئ .

هَٰذَا جَزَاءُ السَّارِقِ . دا د غَل سزا ده .

دوى همدا كار ورسره وكړو ، لاس ، خپې يې ورنه غوڅ كړه ، په خَرېې سور كړو ، بازار كې يې ګرځول او دا چغه به يې ورسره وهله : هَٰذَا جَزَاءُ السَّارِقِ . دا د غَل سزا ده . ده دې خلقو ته وويل : دا مه وايئ ، بلكه دا وايئ : هَٰذَا جَزَاءُ مَنْ قَصَدَ طَوَافَ مَكَّةَ بِلَا إِذْنِ أُمِّهِ . دا د هغه چا سزا ده څوك چې د مور د اجازت نه بغير حج ته ځي .

خلقو چې دا خبره واوريده نو ورته متوجه شو ، ده ورته قسَم وكړو چې زه غَل نه يم ، بلكه حج ته روان ووم ، خو چونكه زما مور زما د خدمت محتاجه وه ، بل څوك يې د خدمت نه وو زه د هغې د اجازت نه بغير د حج د پاره راروان شوې يم ، او دا د هغې سزا ده . خلقو ورنه معافي اوغوښته ، او دوباره يې خپل كورته وراورسول ........ (۱)

(۱) درّة الناصحين ص ۲۹۵ ذم عاق الوالدين وفضيلة برهما .

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

﴿ كُلُّ نَفۡسٍ ذَآئِقَةُ الۡمَوۡتِ ﴾. آل عمران آیت ۱۸۵.

﴿ كُلُّ شَيۡءٍ هَالِكٌ إِلَّا وَجۡهَهُ ﴾. القصص آیت ۸۸.

# د مرګ بیان

تَالِیف :


اَبُوالشَّمۡس مولانا نُوۡرُالۡهُدیٰ عُفِيَ عَنۡهُ

مُدَرِّس دَارُالعلوم فیضُ القُرآن اکاخیل کالونی ، مردان

# نوټ :

د " مرګ بيان " موضوع مې په درې (۳) غټو عنواناتو تقسيم کړی :


۱. د مرګ راتلل يقيني دي ........................ صفحه : ۱۰۸

۲. د مرګ سختئ او تکليفونه ........................ صفحه : ۱۳۸

۳. د آخرِې خاتمې ښه کېدو دُعا په کار ده ........ صفحه : ۱۶۵


په آخر کې د مرګ متعلق ضروري **فقهي مسائل** هم په تفصيل سره ذکر دي .

تاسو کولې شئ چې هره موضوع ځانله ځانله بيان کړئ ، او که ځانله ځانله يې نه بيانوئ نو په درې واړو موضوع ګانو کې داسې ربط موجود دی چې که وخت زيات وي نو په يو مجلس کې هم ټول تقرير کولې شئ .

ابوالشمس عفی عنه

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# د مرګ بيان:

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ ، وَالصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ الْأَنْبِيَآءِ وَأَشْرَفِ الْمُرْسَلِيْنَ ، وَعَلٰى آلِهٖ وَأَصْحَابِهٖ وَمَنْ تَبِعَهُمْ بِإِحْسَانٍ إِلٰى يَوْمِ الدِّيْنِ.

اَمَّا بَعْدُ فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ. قَالَ اللّٰهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى فِي الْقُرْآنِ الْمَجِيْدِ وَالْفُرْقَانِ الْحَمِيْدِ:

﴿كُلُّ نَفْسٍ ذَآئِقَةُ الْمَوْتِ وَإِنَّمَا تُوَفَّوْنَ أُجُوْرَكُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَمَنْ زُحْزِحَ عَنِ النَّارِ وَأُدْخِلَ الْجَنَّةَ فَقَدْ فَازَ وَمَا الْحَيَاةُ الدُّنْيَا إِلَّا مَتَاعُ الْغُرُوْرِ﴾ (۱)

وقَالَ في موضعٍ آخر: ﴿كُلُّ شَيْءٍ هَالِكٌ إِلَّا وَجْهَهُ ، لَهُ الْحُكْمُ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ﴾ (۲)

وَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ: اَلْكَيِّسُ مَنْ دَانَ نَفْسَهُ وَعَمِلَ لِمَا بَعْدَ الْمَوْتِ . (۳)

وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ: " أَكْثِرُوْا ذِكْرَ هَاذِمِ اللَّذَّاتِ " يَعْنِي الْمَوْتَ. (۴)

يَا صَاحِبِيْ لَا تَغْتَرِرْ بِتَنَعُّمٍ * فَالْعُمْرُ يَنْفَدُ وَالنَّعِيْمُ يَزُوْلُ
وَإِذَا حَمَلْتَ إِلَى الْقُبُوْرِ جَنَازَةً * فَاعْلَمْ بِأَنَّكَ بَعْدَهَا مَحْمُوْلُ

صَدَقَ اللّٰهُ الْعَظِيْم.

زما خوږو قدرمنو او عزت منده مسلمانانو ورونو! په مخ د زمکه چې څومره انسانان دي هغه ټول په دې متفق دي چې مرګ داسې يو حقيقت دی چې هيڅوک هم ددينه نشي خلاصيدی، بلکه هر ذي روح به خامخا يو ورځ د مرګ دا پيالی څکي.

(۱) آل عمران آيت ۱۸۵.
(۲) القصص آيت ۸۸.
(۳) ترمذي باب صفة القيامة باب ۱۳۶ ، كذا ذكره الزبيدي في الاتحاف ۹ \ ۱۱.
(۴) اخرجه الترمذي في القيامة باب ۶۲ ، ( ۲۳۰۷ ) والزهد باب ۴ ، وابن ماجه في الزهد باب ۳۱ ، والنسائي ۴ ۱۳ ، ورواه الطبراني في الاوسط باسناد حسن وابن حبان في صحيحه ، الترغيب والترهيب ج۴ ص ۱۱۷ الترغيب في ذكر الموت...

## د مرګ نه هيڅوک هم اِنکار نه کوي

محترمو ! تاسو ته به په مخلوقاتو کې ډير داسې خلق په نظر راشي کوم چې د قرآن کريم نه اِنکار کوي، د پيغمبر ﷺ نه انکار کوي، د قيامت نه اِنکار کوي، د جنت او جهنم نه اِنکار کوي، تر دې چې د الله ﷻ د ذات نه هم اِنکار کوونکي شته . خو تر ننه پورې هيڅوک داسې پيدا نه شو چې د مرګ نه يې اِنکار کړې وي، يا يې په مرګ کې اختلاف کړې وي، بلکه هر کس دا مني چې څوک هم دې دُنيا ته راغلي خامخا به يو ورځ د دې نه ځي، د مرګ خُولې ته به ورځي. او د دې مشاهَده هر انسان روزانه په خپلو سترګو باندې هم کوي.

## هيڅوک هم د مرګ نه نشي خلاصيدی

الله رب العزت فرمايي: ﴿كُلُّ نَفْسٍ ذَآئِقَةُ الْمَوْتِ﴾. (۱)

ترجمه: هر يو نفس څکونکې د مرګ دی .( که هغه انسانان وي، پيريان وي، او که فرشتې وي ټول به وفات کيږي ).

حافظ ابن کثير رحمه الله د دې آيت د لاندې ليکلي:

وَهٰذِهِ الْاٰيَةُ فِيْهَا تَعْزِيَةٌ لِجَمِيْعِ النَّاسِ فَإِنَّهُ لَا يَبْقَىٰ أَحَدٌ عَلَىٰ وَجْهِ الْأَرْضِ حَتّٰى يَمُوْتَ . (۲)

په دې آيت کې ټولو خلقو ته تسلي ده، ځکه په مخ د زمکه به هيڅوک هم نه پاتې کيږي تر دې چې ټول به وفات کيږي.

بل ځای الله ﷻ فرمايي: ﴿كُلُّ شَيْءٍ هَالِكٌ إِلَّا وَجْهَهُ﴾ (۳)

ترجمه: هر شی هلاکيدونکې (او فناء کيدونکې) دی مګر ذات د الله ﷻ به باقي وي.

په سورة رحمن کې الله رب العزت فرمايي:

﴿كُلُّ مَنْ عَلَيْهَا فَانٍ ۰ وَيَبْقَىٰ وَجْهُ رَبِّكَ ذُو الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ﴾. (۴)

---

(۱) آل عمران آيت ۱۸۵.

(۲) ابن کثير ج۲ ص۱۵۸.

(۳) القصص آيت ۸۸.

(۴) الرحمن آيت ۲۶، ۲۷.

ترجمه : هر څوک چې په دې زمکه (آباد) دي هغه ټول فناء کيدونکي دي او صرف ستا د رب ذات به باقي پاتې وي کوم چې د لوي شان او عظمت خاوند دی.

## نيټه چې کله او چيرته پوره وي په هماغه وخت او هماغه ځای کې وفات کيدل

قدرمنو ! د انسان نيټه چې کله هم پوره شي، په کوم ځای کې هم پوره شي، او د څه شی نه هم پوره شي تيک په هماغه وخت، په هماغه ځای او د هماغه شی نه به ورته مرګ راځي.

الله ﷻ فرمايي :

﴿ وَلِكُلِّ أُمَّةٍ أَجَلٌ فَإِذَا جَآءَ أَجَلُهُمْ لَا يَسْتَأْخِرُونَ سَاعَةً وَّلَا يَسْتَقْدِمُونَ ﴾. (۱)

ترجمه : او د هرې ډلې (او قوم) د پاره يو وخت مقرر دی، پس کله چې د دوی نيټه راشي نو نه يو ساعت روستو کيږي او نه رامخکې کيږي.

په سورة منافقون کې الله ﷻ فرمايي :

﴿ وَلَنْ يُّؤَخِّرَ اللّٰهُ نَفْسًا إِذَا جَآءَ أَجَلُهَا وَاللّٰهُ خَبِيْرٌ بِمَا تَعْمَلُوْنَ ﴾. (۲)

ترجمه : او الله تعالى هيڅ يو نفس ته هرګز مهلت نه ورکوي کله چې نيټه يې راشي، او الله تعالى خبر دار دی د هغه څه نه چې تاسو يې کوئ.

بل ځای الله ﷻ فرمايي: ﴿ أَيْنَمَا تَكُوْنُوْا يُدْرِكْكُّمُ الْمَوْتُ وَلَوْ كُنْتُمْ فِيْ بُرُوْجٍ مُّشَيَّدَةٍ ﴾ (۳)

ترجمه : کوم ځای چې يئ تاسو مرګ به تاسو بيا مومي اګر چې تاسو په مضبوطو قلاګانو کې يئ.

نبي عليه السلام فرمايي : " إِذَا قَضَى اللّٰهُ لِعَبْدٍ أَنْ يَمُوْتَ بِأَرْضٍ جَعَلَ لَهُ إِلَيْهَا حَاجَةً " أَوْ قَالَ " بِهَا حَاجَةً ". (۴)

---

(۱) الاعراف آيت ۳۴ .

(۲) المنافقون آيت ۱۱ .

(۳) النساء آيت ۷۸ .

(۴) اخرجه الترمذي ۲۱۳۶ ، واحمد ۲۲۷ .

کله چې الله ﷻ د يو بنده په باره کې دا فيصله وکړي چې دا دې په فلاني زمکه کې وفات شي نو ددې کس په هغه ځای کې ضرورت پيدا کړي ( دې هلته لاړ شي او هلته وفات شي ).

## حضرت سليمان ؑ سره ناست کس ته د ملک الموت په حيرانتيا سره کتل

ابن ابي شيبه په روايت د خيثمه سره يوه واقعه رانقل کړې، دا واقعه تفسيرِ مدارک واله د آيت : ﴿ وَمَا تَدْرِيْ نَفْسٌ بِأَيِّ أَرْضٍ تَمُوْتُ ﴾ لاندې هم ذکر کړې، همدارنګې ابن جوزي رحمه الله هم په خپل کتاب "بُستانِ الواعظين" کې رانقل کړې چې :

ملک الموت به د حضرت سليمان ؑ مجلس ته راتلو، يوه ورځ چې دې راغې نو د حضرت سليمان ؑ سره يو کس ( په شام کې ) ناست ؤ، خبرې يې ورسره کولې، ملک الموت دغه کس ته په ډير نا آشنا او حيرانتيا انداز کې کتل، کله چې ملک الموت لاړ، دې سړي د حضرت سليمان ؑ نه پوښتنه وکړه :

يَا نَبِيَّ اللهِ مَنْ هٰذَا الدَّاخِلُ عَلَيْکَ آنِفًا ؟ اې د الله رسوله ! دا اوس چې تاته کوم کس راغلې ؤ دا څوک ؤ ؟ حضرت سليمان ؑ ورته وويل : دا خو ملک الموت ؤ ، دې سړي وويل : دہ خو ماته په ډير نا آشنا انداز کې راکته، ما سره دا يَره ده چې هسې نه زما روح واخلي، نو ته دا خدمت وکړه : هوا ته حکم وکړه چې ما اوس في الحال د هند د آخري أطرافو ته اورسوي، حضرت سليمان ؑ هوا ته حکم وکړو، هوا دې هماغه ځای ته اورسول.

يو څو ورځې روستو ملک الموت بيا د حضرت سليمان ؑ مجلس ته حاضر شو، ده ورنه پوښتنه وکړه :

وَ جِئْتَ عِنْدِيْ مُذْ أَيَّامٍ رَجُلًا فَنَظَرْتَ إِلَيْهِ نَظَرًا مُنْکَرًا ؟

يو څو ورځې مخکې چې د ما سره يو کس ناست ؤ تا هغه ته په ډير نا آشنا انداز کته، دا ولې ؟ ملک الموت ورته وويل :

كُنْتُ أَعْجَبُ مِنْهُ ، أُمِرْتُ بِقَبْضِ رُوْحِهِ فِيْ ذٰلِكَ الْيَوْمِ بِجَزَائِرِ الْهِنْدِ وَهُوَ عِنْدَكَ بِالشَّامِ .

ما تعجب كولو چې ما ته خو ددې كس د روح قبض كولو باره كې دا حكم شوى چې دده روح د هِند په جزائرو كې واخله حالانكه دې دلته د تاسره په شام كې ناست وُ ( نو ځكه مې ورته په دير تعجب سره كتل ) .

خو چې كله زه هماغه ځاى ته ورسيدم كوم ځاى چې دده نيته پوره وه نو ما دې هلته اومونده ، هوا هلته رسولې وُ ، نو په هماغه ځاى كې مې ورنه روح واخيست . (۱)

## د مرګ نه تيختة نشته :

الله تعالى فرمايي :

﴿ قُلْ إِنَّ الْمَوْتَ الَّذِيْ تَفِرُّوْنَ مِنْهُ فَإِنَّهُ مُلَاقِيْكُمْ ثُمَّ تُرَدُّوْنَ إِلَىٰ عَالِمِ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ فَيُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴾ . (۲)

ترجمه : اې پيغمبره ته دوى ته ووايه چې بيشكه تاسو د كوم مرګ نه تختئ هغه ضرور تاسو سره ملاقي كيدونكې دى ( تاسو رانيسي ) ، بيا به تاسو هغه ذات طرفته واپس كيږئ (او هغه ته به وړاندې كيږئ ) كوم چې ستاسو په پټ او ښكاره عملونو باندې پوهه دى ، نو دغه الله ﷻ به تاسو ته د هغه عملونو په باره كې خبر دركړي كوم چې تاسو ( په دُنيا ) كې كول .

يو شاعر وايي : إِذَا مَا حِمَامُ الْمَرْءِ كَانَ بِبَلْدَةٍ • دَعَتْهُ إِلَيْهَا حَاجَةٌ فَيَطِيْرُ

كله چې د انسان د مرګ نيته په يو ښار كې پوره شي ، نو هلته يې څه حاجت پيدا شي او ورشي ، ( بيا په هماغه ځاى كې وفات شي ) .

الله ﷻ فرمايي : ﴿ قُلْ لَّنْ يَّنْفَعَكُمُ الْفِرَارُ إِنْ فَرَرْتُمْ مِّنَ الْمَوْتِ أَوِ الْقَتْلِ ﴾ . (۳)

ترجمه : اې پيغمبره ته دوى ته ووايه كه چيرته تاسو د مرګ يا قتل نه تختئ نو دا تيخته به تاسو ته هيڅ فايده درنه كړي .

---

(۱) ابن ابي شيبه ، تفسير مدارک سورة لقمان آيت ۳۴ ، بستان الواعظين لابن جوزي رحمه الله ص ۱۲۴ ، نزهة الناظرين في الاخبار والآثار المروية عن الانبياء والصالحين ص ۶۲۲ .شرح الصدور ص ۶۶ ط مكتبه فاروقيه .

(۲) الجمعة آيت ۸ .

(۳) الاحزاب آيت ۱۶ .

## دبَس د پاسه دزهريله مار چيچلو په وجه وفات کيدل

مشهوره واقعه ده چې د کوئټې نه د مسافرو يو بَس ''صادق آباد'' ته راروان وُ، ددې بَس په پاس چَت باندې څلور کسان ناست وُ، په دې لاره کې نا څاپه دې پاسه ناست خلقو چغې او سورې جورې کړې، کله چې دراځيوَر بَس اُودرول، او خلق پاس ور اوختل نو وې کته چې څلور واړه کسان مړه شوي وو، خلق حيران شو، آخرېې يو زهريله مار پيدا کړو، دا مار چيرته شاهين مارغه په يوه دَشته کې نيولې وُ، په هوا کې يې روان کړې وُ، په لاره کې ورنه رااوغورځيده، او د بَس دپاسه په دې مسافرو راپريوت، دې زهريله مار دا څلور واړه کسان اوچيچل، او په هماغه ځای وفات شول، خلقو بيا دا مار مړ کړو. (۱)

## انسان د خاورې نه پيدا دی

الله رب العزت فرمايي:

﴿ مِنْهَا خَلَقْنَاكُمْ وَفِيهَا نُعِيدُكُمْ وَمِنْهَا نُخْرِجُكُمْ تَارَةً أُخْرَىٰ ﴾. (۲)

ترجمه: مونږ تاسو ددې زمکې نه پيدا کړي يئ، او ديته به مونږ تاسو (د مرګ نه پس) دوباره راولو، او د همدې زمکې نه به مو يو ځل بيا (د قيامت په ورځ) را اوباسو.

## دآيت تحقيق:

امام رازي رحمه الله په خپل تفسير (تفسير کبير) کې د همدې آيت د لاندې ليکي چې دلته الله ﷻ فرمايي: ما تاسو د خاورې نه پيدا کړي يئ. حالانکه د نورو آيتونو نه معلوميږي چې انسان د مني نه پيدا دی (۳)، نو په ظاهره تضاد معلوميږي.

---

(۱) موت اور قبر کے حیران کن واقعات اور جدید تحقیقات ص ۷۷.

(۲) سورہ طٰہ آیت ۵۵.

(۳) لکه الله تعالی فرمايي: فَلْيَنظُرِ الْإِنسَانُ مِمَّ خُلِقَ. خُلِقَ مِن مَّاءٍ دَافِقٍ. يَخْرُجُ مِن بَيْنِ الصُّلْبِ وَالتَّرَائِبِ. سورة الطارق آيت ۵، ۶، ۷. وَهُوَ الَّذِي خَلَقَ مِنَ الْمَاءِ بَشَرًا. الفرقان آيت ۵۴. وَاللَّهُ خَلَقَ كُلَّ دَابَّةٍ مِّن مَّاءٍ. النور آيت ۴۵.

**جواب** : ددې يو جواب دادی چې کله زمونږ اَصل حضرت آدم عليه السلام د خاورې نه پيدا دی لکه الله تعالی فرمايي : ﴿ كَمَثَلِ آدَمَ خَلَقَهُ مِنْ تُرَابٍ . (۱) ﴾ نو ګويا چې مونږ ټول د خاورې نه پيدا يو .

يا دويم جواب دادی چې هر انسان د مَني نه پيدا شوی ، او مَني د غِذا نه پيدا شوی او غذا د خاورې او اُوبو نه پيدا شوی . معلومه شوه چې انسان هم اصلاً د خاورې نه پيدا شوی . (۲)

## د عطاء خراساني رحمه الله قول

عطاء خراساني رحمه الله وايي : کله چې نُطفه په رحم کې ځای ونيسي نو ددې نطفې نه د پيداکيدونکي انسان په پيداکولو باندې چې کومه فرښته مقرر وي هغه لاړه شي او د هغه ځای نه خاوره راوړي په کوم ځای کې چې به دې دفن کيږي ، دغه خاوره ددې مَني سره ګډه کړي نو ددې نه انسان پيدا شي . ځکه خو الله تعالی فرمايي :

---

(۱) آل عمران آيت ۵۹.

(۲) **د امام رازي رحمه الله تحقيق** : وَالْجَوَابُ مِنْ وَجْهَيْنِ : اَلْاَوَّلُ : اَنَّهُ لَمَّا خُلِقَ اَصْلُنَا وَهُوَ آدَمُ عَلَيْهِ السَّلَامُ مِنَ التُّرَابِ عَلَى مَا قَالَ : (﴿ كَمَثَلِ آدَمَ خَلَقَهُ مِنْ تُرَابٍ ﴾ لَاجَرَمَ اُطْلِقَ ذٰلِكَ عَلَيْنَا . اَلثَّانِيْ : اَنَّ تَوَلُّدَ الْاِنْسَانِ اِنَّمَا هُوَ مِنَ النُّطْفَةِ وَدَمِ الطَّمْثِ ، وَهُمَا يَتَوَلَّدَانِ مِنَ الْاَغْذِيَةِ ، وَالْغِذَاءُ اِمَّا حَيْوَانِيٌّ اَوْ نَبَاتِيٌّ ، وَالْحَيْوَانِيُّ يَنْتَهِيْ اِلَى النَّبَاتِ ، وَالنَّبَاتُ اِنَّمَا يَحْدُثُ مِنْ اِمْتِزَاجِ الْمَاءِ وَالتُّرَابِ . فَصَحَّ اَنَّهُ تَعَالَى خَلَقَنَا مِنْهَا ، وَذٰلِكَ لَايُنَافِيْ كَوْنَنَا مَخْلُوْقِيْنَ مِنَ النُّطْفَةِ . تفسير کبير ج۸ ص ٦۲ سوره طه آيت ۵۵ .

**د علامه قرطبي رحمه الله تحقيق** : علامه قرطبي رحمه الله ليکي : ﴿ مِنْهَا خَلَقْنَاكُمْ ﴾ يَعْنِيْ آدَمَ عَلَيْهِ السَّلَامُ لِاَنَّهُ خُلِقَ مِنَ الْاَرْضِ . قاله ابواسحاق الزجاج وغيره . وَقِيْلَ : كُلُّ نُطْفَةٍ مَخْلُوْقَةٌ مِنَ التُّرَابِ . عَلَى هٰذَا يَدُلُّ ظَاهِرُ الْقُرْآنِ . قرطبي ج۱۱ ص ۱۹۱ سوره طه آيت ۵۵ .

**د قاضي ثناء الله پاني پتي رحمه الله تحقيق** : قاضي ثناء الله پاني پتي رحمه الله ليکي : ﴿ مِنْهَا خَلَقْنَاكُمْ ﴾ يَعْنِيْ خَلَقْنَا مِنْ تُرَابِ الْاَرْضِ اَبَاكُمْ "آدَمَ" وَمَوَادَّ اَبْدَانِكُمْ . فَاِنَّ النُّطْفَةَ يَتَوَلَّدُ مِنَ الْاَغْذِيَةِ وَهِيَ تُخْلَقُ مِنَ الْاَرْضِ . تفسير مظهري ج٦ ص ۱۳٦ سوره طه آيت ۵۵ .

﴿ مِنْهَا خَلَقْنَاكُمْ وَفِيهَا نُعِيدُكُمْ وَمِنْهَا نُخْرِجُكُمْ تَارَةً أُخْرَىٰ ﴾ . (۱)، (۲).

## زمکې ته واپس راتلل :

حديث کې راځي :

لَمَّا خَلَقَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ آدَمَ عَلَيْهِ السَّلَامُ اِشْتَكَتِ الْأَرْضُ إِلَى رَبِّهَا لِمَا أُخِذَ مِنْهَا فَوَعَدَهَا أَنْ يردَّ إِلَيْهَا مَا أُخِذَ فَمَا مِنْ أَحَدٍ إِلَّا يُدْفَنُ فِي التُّرْبَةِ الَّتِي خُلِقَ مِنْهَا . (۳)

کله چې الله ﷻ حضرت آدم عليه السلام د زمکې نه پيدا کړو نو زمکې خپل رب ته شکايت وکړو، نو الله ﷻ ورسره وعده وکړه چې څه د دينه اخيستل شوي هغه به ورته واپس کوي . نو اوس چې هر انسان وفات کيږي نو په هماغه خاوره (ځای) کې به دفن کيږي د کوم ځای نه چې پيدا شوی .

حضرت ابو هريرة ﷺ فرمايي : يوه ورځ رسول الله صلى الله عليه وسلم د مدينې منورې په اطرافو کې ګرځيده نو وې ليده چې خلقو يو قبر کنيستو ، پوښتنه يې وکړه : دا قبر د چا دی ؟ خلقو ورته وويل : داد حبشو يو کس دی د هغه د پاره قبر کنيستې شي . نبي عليه السلام اوفرمايل :

لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ سِيقَ مِنْ أَرْضِهِ وَسَمَائِهِ حَتَّى دُفِنَ فِي الْأَرْضِ الَّتِي خُلِقَ مِنْهَا . (۴)

---

(۱) سوره طه آيت ۵۵.

(۲) قَالَ الْعَطَاءُ الْخُرَاسَانِيُّ : إِذَا وَقَعَتِ النُّطْفَةُ فِي الرَّحِمِ انْطَلَقَ الْمَلَكُ الْمُوَكَّلُ بِالرَّحِمِ فَأَخَذَ مِنْ تُرَابِ الْمَكَانِ الَّذِي يُدْفَنُ فِيهِ فَيَذُرُّهُ عَلَى النُّطْفَةِ . فَيَخْلُقُ اللهُ النَّسَمَةَ مِنَ النُّطْفَةِ وَمِنَ التُّرَابِ . فَذَلِكَ قَوْلُهُ تَعَالَى : ﴿ مِنْهَا خَلَقْنَاكُمْ وَفِيهَا نُعِيدُكُمْ .. ﴾ . قرطبي ج۱۱ ص ۱۹۱ سوره طه آيت ۵۵ ، مظهري ج٦ ص ۱۳٦ سوره طه آيت ۵۵ ، معارف القرآن سورة طه آيت ۵۵ .

(۳) تفسير مظهري ج۲ ص ۱۸۹ ، نزهة الناظرين ... كتاب ذكر الموت وما يتعلق به ص ٦۱۷ .

(۴) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ : خَرَجَ عَلَيْنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَطُوفُ بِبَعْضِ نَوَاحِي الْمَدِينَةِ وَإِذَا بِقَبْرٍ يُحْفَرُ فَأَقْبَلَ عَلَيْهِ فَقَالَ : لِمَنْ هَذَا ؟ فَقِيلَ لِرَجُلٍ مِنَ الْحَبَشَةِ فَقَالَ : لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ سِيقَ مِنْ أَرْضِهِ وَسَمَائِهِ حَتَّى دُفِنَ فِي الْأَرْضِ الَّتِي خُلِقَ مِنْهَا . روى الترمذي الحكيم في نوادر الاصول ، نزهة الناظرين..... ص ٦۱۷ .

نشته دی لايق د عبادت مګر يو الله ﷻ دی ، دا کس د خپل ځای نه راوستې شو او په هغه ځای کې دفن کړې شو د کوم ځای نه چې پيدا شوی وُ .

## د مرګ وخت هيچا ته معلوم نه دی

قدرمنو ! انسان ته په کار دي چې دا ژوند غنيمت وګڼري او په دې کې د آخرت د پاره توښه تياره کړي ځکه په دې خبره خو د ټولو اتفاق دی چې هيچا ته دا پته نشته چې زه به کله وفات کيږم ؟ صبا به وفات کيږم ؟ يا مياشت پس ؟ يا کال پس ؟

سائنس اګر چې ډيره ترقي کړې خو تر اوسه يې دا معلومه نه کړه : چې انسان به کله وفات کيږي ؟ الله تعالی فرمايي :

﴿ وَمَا تَدْرِيْ نَفْسٌ بِأَيِّ أَرْضٍ تَمُوْتُ إِنَّ اللهَ عَلِيْمٌ خَبِيْرٌ ﴾ .(۱)

ترجمه : او نه پوهيږي هيڅ کس چې په کومه زمکه به مړ کيږي ، بيشکه الله ﷻ پوهه او خبردار دی .( يعنی هيچا ته دا معلومه نه ده چې زه به په کوم ځای کې مړ کيږم ، البته الله ﷻ ته هر څه معلوم دي او په هر څه خبردار دی ) .

## حضرت داؤد عليه السلام او ملک الموت

رواياتو کې راځي چې ملک الموت حضرت داؤد عليه السلام ته راغې ، نو ده ورنه پوښتنه وکړه : مَنْ أَنْتَ ؟ ته څوک يې ؟ ملک الموت ورته وويل :

مَنْ لَايَهَابُ الْمُلُوْکَ وَلَايَمْنَعُ مِنَ الْقُصُوْرِ وَلَايَقْبَلُ الرِّشَا. زه هغه څوک يم څوک چې د بادشاهانو نه نه ويريږي ، محلات يې نه شي رامنعه کولې او رشوت نه قبلوي .

حضرت داؤد عليه السلام ورته وويل : بيا خو ته ملک الموت يې ، او ما خو تياري نه ده کړې ، ملک الموت ورته وويل : اې داؤده ! ستا فلانې ملګرې او فلانې ګاونډي څه شو؟ ده ورته وويل : هغه خو وفات شوي . ملک الموت ورته وويل :

(۱) سورة لقمان آيت ۳۴ .

مَاكَانَ لَكَ فِيْ هٰؤُلَاءِ عِبْرَةٌ تَسْتَعِدُّ. (۱)

آيا ستا د پاره په دې خلقو عبرت نه وُ چې تا تياري کړې وى ؟

## د امام مالک رحمه الله خُوب ليدل

امام مالک رحمه الله اولس (۱۷) کاله په مدينه منوره کې دَرس کړې وُ ، يو ځل يې خوب وليد ، د پيغمبر عليه السلام سره يې ملاقات اوشو ، ده ورنه پوښتنه وکړه : اې د الله رسوله ! مرګ به کله راځي ؟ (او زه به کله وفات کيږم ؟ ) نبي کريم صلى الله عليه وسلم ورته د لاس په پنځو ګُتو اشاره وکړه . امام مالک رحمه الله پوهه نه شو چې ددې نه پنځه ورځې مراد دي ، که پنځه مياشتې مراد دي ، او که پنځه کاله مراد دي ؟

دده په زمانه کې مشهور تابعي ابن سيرين رحمه الله خبر شو ، هغه ورته ووېل چې : د پيغمبر عليه السلام د پنځو ګُتو نه مراد اشاره ده د سوره لقمان هغه آيت ته په کوم کې چې الله ﷻ فرمايي چې ما د پنځو شيانو علم بل چاته نه دى ورکړى . الله تعالى فرمايي :

﴿ إِنَّ اللهَ عِنْدَهٗ عِلْمُ السَّاعَةِ وَيُنَزِّلُ الْغَيْثَ وَيَعْلَمُ مَا فِي الْأَرْحَامِ وَمَا تَدْرِيْ نَفْسٌ مَّاذَا تَكْسِبُ غَدًا وَمَا تَدْرِيْ نَفْسٌ بِأَيِّ أَرْضٍ تَمُوْتُ إِنَّ اللهَ عَلِيْمٌ خَبِيْرٌ ﴾ . (۲)

ترجمه : بيشکه هم الله تعالى ته د قيامت عِلم دى ، او هم هغه باران وروي ، او هم هغه پوهيږي په هغه څه باندې چې په خېټو د حامِلو ښځو کې دي ، او هيچا ته معلومه نه ده چې صبا به څه کوي ؟ او هيچاته معلومه نه ده چې په کوم ځاى کې به مړ کيږي ، بيشکه الله تعالى (په هر شي باندې) پوهه او خبر دار دى .

(۱) وَرُوِيَ اَنَّ مَلَكَ الْمَوْتِ دَخَلَ عَلٰى دَاوٗد عليه السلام فَقَالَ : مَنْ اَنْتَ ؟ فَقَالَ : مَنْ لَايَهَابُ الْمُلُوْكَ وَلَايَمْنَعُ مِنَ الْقُصُوْرِ وَلَايَقْبَلُ الرِّشَا . قَالَ : فَاِذًا اَنْتَ مَلَكُ الْمَوْتِ وَلَمْ اَسْتَعِدَّ بَعْدُ . قَالَ : يَادَاوٗدُ ! اَيْنَ فُلَان قَرِيْنُكَ ؟ اَيْنَ فُلَان جَارُكَ ؟ قَالَ : مَاتَ . قَالَ : مَاكَانَ لَكَ فِيْ هٰؤُلَاءِ عِبْرَةٌ تَسْتَعِدُّ . نزهة الناظرين فى الاخبار والآثار المروية عن الانبياء والصالحين ص۶۱۹ كتاب الموت وما يتعلق به .

(۲) سورة لقمان آيت ۳۴ .

# د مرګ نه مخکې تيَارې

قدرمنو ! که مونږ اوګورو په دُنيا کې چې څوک د دوه يا درې ورځو د پاره معمولي سفر کوي نو هم د مخکې نه پوره تياري نيسي او د سفر د پاره توښه برابروي .

اوس چې يو انسان د آخرت په دې دومره اوږد سفر ځي چې د هغې د پاره د سره څه اِنتهاء نشته نو ددې د پاره خو په طريقِ اولی تياري په کار دی .

او دا دُنيا خو د همدې د پاره ده چې په دې کې انسان د آخرت د پاره څه د نيکو اعمالو توښه تياره کړي .

اَلدُّنْيَا مَزْرَعَةُ الْآخِرَة . (۱)

دُنيا د آخرت د پاره د کروندې ځای دی .

نعمت الدُّنْيَا مَطِيْئَةُ الْآخِرَةِ . (۲)

ښه ده دا دُنيا چې دا توښه ده د آخرت د پاره .

د پښتو متَل دی : ښه ده ، ښه ده دا دُنيا ، چې توښه ده د عُقبیٰ .

## د آخرت د پاره تياري کوونکې کس عقل مند دی

کوم کس چې په دُنيا کې د آخرت د پاره تيَاري کوي دا سې کس ته رسول الله ﷺ عقل مند ويلې : حديث کې راځي :

اَلْكَيِّسُ مَنْ دَانَ نَفْسَهُ وَعَمِلَ لِمَا بَعْدَ الْمَوْتِ . (۳)

هوښيار کس هغه دی چې خپل نفس قابو کړي او د خواهشاتو نه يې اوساتي ، او د مرګ نه پس ژوند د پاره تياري وکړي .

---

(۱) مفيد الطالبين .

(۲)

(۳) ترمذي باب صفة القيامة ص ۱۳٦ .

## د آخرت نه غافله کس کم عقل دی

او کوم کس چې د آخرت نه غافله وي ، ټول عُمر په فضولياتو او ناجائزو کارونو کې تيروي ، او د آخرت د پاره هيڅ تياري اونه کړي نو واقعي دا سړې کم عقل او بې وقوف دی .

## د بهلول داناؒ د عبرت نه ډکه واقعه

د هارون رشيد بادشاه په زمانه کې يو بزرګ تير شوی ''بهلول مجذوبؒ'' . دې اګرچې مجذوب ؤ خو د حکمت نه ډکې خبرې به يې کولې ، هارون رشيد بادشاه به دده سره ټوقې کولې ، او دربانچيانو ته يې حکم کړې ؤ چې کله هم دا بزرګ ماله د ملاقات د پاره راځي نو تاسو يې مه منعه کوئ ، نو دې به هم زړه وَر تلو راتلو .

يوه ورځ دې د هارون رشيد بادشاه دربار ته راغې ، د هارون رشيد سره په لاس کې آمسا وه ، ده ته يې په ټوقو کې وويل : بهلوله ! زه تاته دا آمسا د امانت په طور درکوم ، او په دُنيا کې چې تاته د خپل ځان نه علاوه بل څوک ډير کم عقل او بې وقوف ملاؤ شو نو هغه ته دا آمسا د هديې په طور ورکړه . ده آمسا ورنه واخيسته ، او ورته وې ويل : ډيره ښه ده .

د بادشاه مقصد دا ؤ چې ده ته يې په ټوقو کې ويل : چې ته د ټولو نه ډير بې وقوف يې .

بهلول لاړ ، څو کاله پس بهلول ته پته ولږيده چې هارون رشيد سخت بيمار دی ، په کټ کې پروت دی ، حکيمان يې علاج کوي خو څه فائده وَرته نه ورکوي ، دې د هغه پوښتنې ته ورغې ، کله چې وَر اورسيده نو پوښتنه يې ورنه وکړه :

اې اميرالمؤمنين ! څنګه يې ؟ هارون رشيد ورته وويل : بهلوله ! په ډير اوږد سفر روان يم . ده ورته وويل : چيرته ؟ هغه جواب ورکړو : د آخرت په سفر باندې . بهلول ورته وويل : څو ورځې پس به بيا راځې ؟ هغه ورته وويل : ددې نه څوک واپس نه راځي .

بهلول بيا ورته وويل : تا ددې دومره اوږد سفر د پاره څه تياري کړې ؟ څومره فوجيان ، لښکرې او بادي ګارډ دې مخکې ليږلي ؟ هارون رشيد ورته وويل : بهلوله ! ګوره ته اوس هم د بې وقوفه خلقو خبرې کوې ، د آخرت په سفر کې څوک لښکرې او فوجيان مخکې نه ليږي ، هلته هر کس ځانله ځانله ځي .

بهلول ورته وويل: بادشاه سلامت! د ماسره ستا يو اَمانت اَمسا ده، تا ماته ويلي وُ چې د تا نه بل څوک ډير کم عقل او بې وقوف پيدا شي نو دا اَمسا هغه ته ورکړه، خو ماته په ټولو خلقو کې د تا نه غټ کم عقل او بې وقوف پيدا نه شو، ځکه ما به ته مخکې ليدې چې کله به دې د دوه يا درې ورځو معمولي سفر کولو نو يوه مياشت مخکې به دې تيارې کولو او د خوراک څکاک سامان، خيمې، لښکرې او بادي ګارډ به دې مخکې ليږل، اوس چې ته په دې دومره اوږد سفر روان يې چې د سره يې څه انتهاء نشته، او دوباره بيا ورنه راتګ هم نشته خو ليکن تا بيا هم د دې سفر د پاره هيڅ تيارې نه دې کړې، معلوميږي چې په ټولو خلقو کې غټ کم عقل او بې وقوف همدا ته يې.

هارون رشيد چې دا خبره واوريده نو په ژړا شو او وې ويل: بهلوله! تا رېښتيا وويل، اګر چې مونږ به ته مخکې بې وقوف ګنړلې ليکن حقيقت دادی چې تا ډيره د حکمت خبره وکړه، واقعي ما خپل وخت ضائع کړی او د آخرت د پاره مې هيڅ تيارې نه دی کړې.

ځکه خو نبي عليه السلام فرمايي: اَلْكَيِّسُ مَنْ دَانَ نَفْسَهُ وَعَمِلَ لِمَا بَعْدَ الْمَوْتِ. (۱)

هوښيار کس هغه دی چې خپل نفس قابو کړي او د خواهشاتو نه يې اوساتي، او د مرګ نه پس ژوند د پاره تيارې وکړي.

## عُمر د انسان قيمتي سرمايه ده

که يو انسان په دُنيا کې عبث وخت تيروي او د آخرت د پاره د نيکو اعمالو توښه نه تياروي نو په دې سره د ده قيمتي سَرمايه "عُمر" هسې ضائع کيږي.

**واقعه**: يو بزرګ وايي چې زما د هدايت سبب يو د وَاورې (برَف) خرڅوونکې جوړ شوې وُ، خلقو ورته وويل: هغه څنګه؟ ده ورته واقعه بيان کړه چې يو ه ورځ د اُورې په موسم کې زه په بازار کې تيريدم، يو سړي واوره خرڅوله، چونکه په دې ورځ باندې باران شوې وُ، موسم يخ وُ، خلقو واوره نه اخيسته، ده خو لږ وخت انتظار وکړو خو هيڅا هم ورنه واوره وانه خيسته. آخر ده په اُوچت آواز سره وويل:

(۱) ترمذي باب صفة القيامة ص ۱۳٦.

اې خلقو په هغه چا باندې رحم وکړئ چې د چا سَرمايه وِيلې کيږي . ( يعنی د ما نه دا واوره واخلئ ، دا خو زما ټوله سرمايه ده ، او دا هسې وِيلې کيږي ) .

دا بزرګ وايي چې کله ما ددې کس دې خبرې ته سوچ وکړو نو د ماسره دا اِحساس پيدا شو چې کله دده سره د خپلې سَرمايې وِيلې کيدو دومره فکر دی نو په کار داده چې زه خو هم ددې خپلې سَرمايې "عُمر" فکر وکړم ، زما عُمر خو هم هسې په فضول کارونو کې ختميږي ، نو دهماغه وخت نه پس مې عبادت شروع کړو . (۱)

# د مرګ نه مخکې د ځان سره حساب کول

محترمو ! کله چې د مرګ نه اِنکار نه شي کيدی ، نو بيا خو په کار ده چې انسان د هغې د پاره تيارې وکړي او د خپل ځان سره حساب وکړي ، رسول الله ﷺ فرمايي :

مُوْتُوْا قَبْلَ أَنْ تَمُوْتُوْا وَحَاسِبُوْا قَبْلَ أَنْ تُحَاسَبُوْا . (۲)

د حديث لفظي ترجمه داده چې تاسو د مرګ نه مخکې مړه شئ ، او د قيامت په ورځ چې کله د تاسو سره حساب کولې شي د هغې نه مخکې د خپل ځان سره حساب وکړئ .

علماؤ د مرګ نه مخکې د مړه کيدو دوه مطلبه بيان کړي :

۱ . ستاسو په زړونو کې چې کوم ناجائز نفساني خواهشات دي ، يا د ګناه کولو چې کوم غلط خيالات دي دا مړه او ختم کړئ .

۲ . کله کله د ځان سره دا سوچ کوئ چې يوه ورځ به زه هم ددې دُنيا نه خالي لاسونه ځم ، نه به راسره دا مال و دولت وي ، نه به دا کورونه او بنګلې وي او نه به دا دوستان وي ، بلکه يواځې به ځم . نو په دې سوچ کولو سره به انسان د ډيرو ظلمونو او ګناهونه بچ شي .

خو افسوس دا چې نن مونږ د خپل يو ورور مسلمان جنازه په خپلو اُوږو باندې ويسو ، په قبر کې يې کيدو ، خاورې وربانديې راواړوو خو بيا هم د دُنيا په محبت او د ځوانۍ په نَشه کې دومره مست يو چې هيڅ سوچ مو ديته نه ځي چې زه به هم يوه ورځ خالي لاسونه ددې دُنيا نه روان يم .

---

(۱) اهل دل کے تڑپادینے والے واقعات ج۳ ص ۲۹۲ .

(۲) کشف الخفاء ۲:۲:۲ : ۳ .

# د يو ماشوم په زړه کې د آخرت فکر او د جهنم نه يَره

بهلول دانا وايي چې يوه ورځ زه په لاره روان ووم، په لاره کې څو ماشومانو لوبې کولې، او داسې په لږه فاصله کې اَخوا يو بل ماشوم غلې ناست ؤ، ما چې ورته اوکته نو ډير هوښيار معلوميده، ما زړه کې وويل: د دې ماشوم نه پوښتنه کوم چې دې ولې د دې نورو سره لوبې نه کوي؟ نو ورنزدې شوم، پوښتنه مې ورنه وکړه:

بچيه! ته دې نورو ماشومانو سره ولې لوبې نه کوې؟ ده راته وويل: اې بهلوله! مونږ خو څه د لوبو او ټوقو د پاره نه يو پيدا شوي. الله تعالی فرمايي:

﴿أَفَحَسِبْتُمْ أَنَّمَا خَلَقْنَاكُمْ عَبَثًا وَأَنَّكُمْ إِلَيْنَا لَا تُرْجَعُونَ﴾.(۱)

ترجمه: آيا ستاسو دا خيال ؤ چې مونږ تاسو بې فائدې پيدا کړي يئ؟ او دا چې تاسو به مونږ طرفته نه راګرځئ؟ (بلکه تاسو د يو مقصد د پاره پيدا يئ او دوباره به ما طرفته راګرځئ).

بهلول وائي: زه حيران شوم چې دومره کشر ماشوم او دومره د هوښيارتيا خبره يې وکړه زه پوهه شوم چې دا ډير هوښيار هلک دی، ما ورته وويل: بچيه! لږ نصيحت راته وکړه، هغه راته يو څو اشعار وويل چې د هغې مطلب دا ؤ:

اې مسافره! ستا سفر ډير اوږد دی، د سفر تياري وکړه.

کله چې دې ماشوم دا خبره وکړه نو په ژړا شو، څه وخت پس يې چې طبعيت لږ رابنه شو نو ما ورته وويل: بچيه! ستا خو عُمر هم ډير کم دی نو ته د جهنم نه دومره ولې يريږې؟ هغه راته وويل: بهلوله! زه په کور کې خپله مور هره ورځ ګورم چې کله اُور بَلوي نو اول په دې ووړو ووړو لرګو باندې اُور بَل کړي، کله چې اُور ښه ګرم شي نو بيا پرې دا غټ غټ لرګي کيدي، نو د ما سره دا يَره ده چې هسې نه د قيامت په ورځ الله ﷻ په دې ووړو ووړو هلکانو باندې د جهنم اُور بل کړي او بيا دا غټ کسان ور واچوي نو ځکه د جهنم د اُور نه ډير يَريږم.

بهلول وايي چې: کله ما دا خبره واوريده، نو زه بې هوشه شوم، څه وخت پس چې په هوش کې راغلم نو دا هلک رانه تللې ؤ.

(۱) المؤمنون آيت ۱۱۵.

**فائده :** قدرمنو ! مونږ ټوله ورځ د الله ﷻ نافرماني کوو خو بیا مو هم په زړه کې د الله ﷻ د عذاب او د جهنم نه یَره نه وي او نه راسره د آخرت فکر وي ، او دا ماشوم اګر چې مکلف نه ؤ لیکن بیا یې هم په زړه کې د جهنم نه ډیره یَره وه او د آخرت غم ورسره ؤ .

## مرګ په هیڅ شي نه راٖمنعه کیږي

حسن بصري رحمه الله اول د جواهراتو تجارت کولو ، یو کرَت روم ته لاړ ، هلته یې د یو وزیر سره ملاقات اوشو ، وزیر ورته ووئیل : نن مونږ یو ځای ته ځو که ته راسره لاړ شې نو هم ډیره به ښه وي ، دې راضي شو ورسره لاړ ، د څه مزل کولو نه روستو یې داسې قیمتي ښکلې خیمه ولیده ، د ټولو نه مخکې دې خیمې ته یو مُسلّح فوج راغې او ددې خیمې نه ګیر چاپیره تاؤ راتاؤ شو ، بیا لاړ ، ددې پسې بیا تکړه تکړه د حکیمانو یوه ډله راغله دوی هم څه وخت وو بیا دوی هم لاړه ، دریم نمبر کې د فلاسفه ؤ او هوښیارانو یوه ډله راغله ددې خیمې نه تاؤ راتاؤ شوه بیا هغه هم لاړ ، په څلورم نمبر کې بې شماره داسې ښکلې او حَسینې ځوانې ښځې راغلې چې د هرې ښځې سره ډیر زیات سره زَر ، سپین زَر او جواهرات وو دوی هم ددې خیمې نه تاؤ راتاؤ شوې بیا دوی هم لاړې .

ددې نه روستو په آخر کې د روم بادشاه او وزیران راغله ، دې خیمې ته ننَوتە ، څه وخت پس دوی هم ددې خیمې نه را ووت .

حسن بصري رحمه الله چې دا ټول هر څه ولیده نو حیران شو چې دا څه معامله ده ؟ آخر ددې وزیر ملګري نه یې پوښتنه وکړه : دا څه تماشه وه ؟ زه خو په دې پوهه نه شوم . وزیر ورته ووئیل چې ددې قیصر روم یو ډیر ښکلې حَسین وجمیل صرف یو ځوي ؤ ، څه وخت مخکې هغه وفات شو ، په دې خیمه کې د هغه قبر دی ، مونږ څه وخت پس راځو ، او دا بادشاه دې خپل ځوي ته دا وئیل غواړي :

اې بچیه ! که چیرته ستا په ژوندي کولو کې زمونږ څه وَس رسیدې نو دا دی ټول مُسلّح فوجونه ، حکیمان ، ډاکټران ، فلاسفه ، هوښیاران ، بزرګان ، ښکلې ښځې ، سره زرا و سپین زَر ټول مو ستا د وړاندې حاضر کړه خو لیکن ستا د مرګ او ژوند معامله د داسې ذات سره ده چې د هغه په مقابله کې دا ټول کائنات هیڅ شی نه دی .

کله چې حسن بصري رحمه الله دا خبره واوريده نو دومره اَثر يې ورباندې وکړو چې خپل د جواهراتو کاروبار يې پرېښود او واپس بصرې ته راغی ، دلته يې چې څومره جواهرات وو هغه ټول يې په غريبانانو باندې تقسيم کړه ، د الله ﷻ عبادت يې شروع کړو او د اويا (٧٠) کاله پورې يې داسې عبادت وکړو چې د خپلې زمانې د ټولو بزرګانو نه په عبادت کې وړاندې شو. (١)

## د حضرت داؤد ﷺ د وفات واقعه :

په مسند امام احمد کې ذکر دي ، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي چې حضرت داؤد ﷺ ډير غيرت مند ؤ ، کله به چې د کور نه بهر وتو نو دروازې به يې بندې کړې ، بيا به هيچا ته د دَننه تللو اجازت نه ؤ ، يو ځل حضرت داؤد ﷺ بهر ووت ، دروازې يې بندې کړې ، لږ ساعت پس دده بي بي د کور په مينځ کې يو کس وليد ، ډيره حيرانه شوه ، نورو ته يې هم اُوخوده ، دوی په خپل مينځ کې خبرې کولې چې دا سړې د کوم ځای نه راغې ، دروازې هم بندې دي ، نو په کومه لار راغې ؟ په خدای قسَم که حضرت داؤد عليه السلام دا اوګوري نو زمونږ به سخته رسوايي اوشي .

دوی دا خبرې کولې چې په دې کې حضرت داؤد ﷺ رانښوت ، هغه چې دا کس وليده نو پوښتنه يې ورنه وکړه : مَنْ أَنْتَ ؟ ته څوک يې ؟ ده ورته وويل :

أَنَا الَّذِيْ لَا أَهَابُ الْمُلُوْکَ ، وَلَا أُمنع مِنَ الْحُجَّابِ .

زه هغه کس يم چې د بادشاهانو نه نه ويريږم ، او ما هيڅوک نشي منعه کولې ، بندې دروازې هم ما نشي منعه کولې ، او د هيچا پرواه هم نه ساتم .

حضرت داؤد ﷺ ورباندې پوهه شو ، او ورته وې ويل : مَرْحَبًا (په خير راغلې) ، مَرْحَبًا (په خير راغلی) ته خو ملک الموت يې . ملک الموت په هم دغه وخت دده روح قبض کړو.(٢)

(١) التبر المسبوک ، للداے ممبر ومحراب ج١ ص ٣٨٦ .

(٢) اخرجه احمد ج٢ ص ٤١٩ ، ملک الموت والانبياء ص ٥٢ ، تفسير ابن کثير ج٤ ص ٦٣ .

## ډاکټرانو يو سيکنډ ژوند ورنه کړو

" ملکة الزبتهـ اول " ته چې کله مرګ راغې نو وې ويل : کوم ډاکټر چې زما علاج وکړي او مرګ نه مې بچ کړي نو د هر يو منټ په عوض به يو يو لک روپۍ ورکوم ، د يورپ چې څومره ډاکټرانو ټولو پوره کوشش وکړو خو هيچا هم ديته يو سيکنډ ژوند ورنه کړې شو . (۱)

## د مرګ د پَنجې نه هيڅوک نه شي خلاصيدی

معززو ساـــيـنو ! د مرګ د پَنجې نه نه عالِم خلاص دی نه جاهِل ، نه مالدار او نه غريب ، نه مسلمان او نه کافر ، نه د فرعون غوندې متکبِر او نه د حضرت موسی عليه السلام غوندې کليمُ الله ، نه د نمرود غوندې سرکشه او نه د حضرت ابراهيم عليه السلام غوندې خليل الله نه د افلاطون او ارسطو غوندې حکيمانِ او نه د ابوجهل او ابولهب غوندې بې عقله ، او نه د حضرت عمر او حضرت ابوبکر صديق رضی الله عنهما غوندې جليلُ القدر صحابه ، تر دې چې د دواړو جهانو سردار محمد رّسول الله صلی الله عليه وسلم غوندې عظيم پيغمبر هم د مرګ نه خلاص نه شو . يو شاعر وايي :

لَوْ كَانَتِ الدُّنْيَا تَدُوْمُ لِوَاحِدٍ • لَكَانَ رَسُوْلُ اللهِ فِيْهَا مُخَلَّدًا

که چيرته په دُنيا کې يو کس هميشه پاتې کيدې شوی نو رسول الله صلی الله عليه وسلم به په کې هميشه پاتې و .

پته ولږيده چې د مرګ نه هيڅوک هم په هيڅ حيله نشي خلاصيدې ، تر دې چې که چيرته د حِکمت په وجه انسان د مرګ نه خلاصيدې شوې نو لقمان حکيم به د مرګ نه خلاص شوې وُ ، که چيرته د مال ودولت په وجه څوک د مرګ نه خلاصيدې شوې نو قارون به د مرګ نه بچ شوې وُ ، که چيرته د حکومت او دَبدبې په وجه څوک د مرګ نه بچ کيدې شوې نو فرعون به د مرګ نه بچ شوې وُ ، که چيرته د حُسن وجمال په وجه څوک د مرګ نه بچ کيدې شوې نو حضرت يوسف عليه السلام به د مرګ نه بچ شوې وُ ، که چيرته په بزرګۍ څوک د مرګ نه بچ کيدې

(۱) نداۓ ممبر ومحراب ج۱ ص ۳۸۸ .

شوې نو د جنيد بغدادي غونډې بزرګان به د مرګ نه بچ شوي وو ، حتّى چې که د پيغمبرۍ په وجه څوک د مرګ نه بچ کيدې شوې نو سردارِ دوجهان محمّد رسولُ الله صلى الله عليه وسلم به د مرګ نه بچ شوې وُ .

معلومه شوه چې په هيڅ صورت انسان د مرګ نه نشي بچ کيدې . يو شاعر وايي :

اَلْمَوْتُ قَدَحٌ كُلُّ النَّاسِ شَارِبُوْهَا * وَالْقَبْرُ بَابٌ كُلُّ النَّاسِ دَاخِلُوْهَا

مرګ داسې پياله ده چې هر کس به يې څکي ، او قبر داسې دروازه ده چې هر کس به پرې داخليږي .

# د حضرت عزرائيل عليه السلام وفات کيدل

تردې چې د مرګ فرښته "حضرت عزرائيل عليه السلام" به هم د مرګ د پَنجې نه نه خلاصيږي په مسند ابويعلى کې يو اُوږد حديث دى ، او همدغه شان مضمون په تفسير مظهري کې هم ذکر دى : چې کله ټول خلق وفات شي نو ملک الموت به الله جلّ جلاله ته عرض وکړي :

اې الله ! د آسمان او زمکې ټول مخلوق وفات شو بغير د هغه خلقو نه د کومو اراده چې تاسو نده کړې . الله جلّ جلاله به ( سره د عِلمه ) ورنه پوښتنه وکړي : مَنْ بَقِيَ؟ څوک باقي پاتې دي ؟ ملک الموت به جواب ورکړي : صرف ستاسو ذات باقي دى "چې تاسو ته خو د سره مرګ نه راځي" د عرش او چتوونکې فرښتې ، جبرائيل ، ميکائيل او زه پاتې يم .

الله جلّ جلاله به ورته اوفرمايي : جبرائيل او ميکائيل دې هم وفات شي . بيا به حضرت جبرائيل عليه السلام او ميکائيل عليه السلام هم وفات شي . ددې نه پس به ملک الموت بيا راشي ، او عرض به وکړي :

اې الله ! جبرائيل او ميکائيل هم وفات شو ، اوس صرف زه او د عرش اوچتوونکې فرښتې باقي پاتې دي ، الله جلّ جلاله به حکم وکړي زما د عرش اوچتوونکې فرښتې دې هم وفات شي ، دا به هم وفات شي . بيا به ملک الموت الله جلّ جلاله ته راشي او عرض به وکړي :

اې الله ! د عرش اوچتوونکې فرښتې هم وفات شوى . الله جلّ جلاله به ( سره د عِلمه ) ورنه پوښتنه وکړي : مَنْ بَقِيَ؟ څوک باقي پاتې دي ؟ ملک الموت به ورته عرض وکړي :

اې الله ! صرف ته پاتې يې چې تا ته خو هيڅ کله مرګ نه راځي ، او زه پاتې يم . الله تعالى به اوفرمايي : ته هم زما په مخلوقاتو کې يو مخلوق يې ، ته چې دڅه کار د پاره پيدا شوې وې تا هغه وکړو ، اوس ته هم مړ شه ، ملک الموت به هم وفات شي .

کله چې د الله ﷻ نه علاوه هيڅوک باقي پاتې نه شي " کوم چې يو اځې او بې مثله دی ، نه خو دده اولاد شته ، نه د چا نه پيدا دی او نه دده نه څوک پيدا دي ، او نه دده همسَر شته ، د اَزل نه وُ او تر اَبده پورې به وي " نو دغه ذات به دا زمکه او آسمان د کتاب غوندې راغونډ کړي ، درې کرَتې به يې دغسې راغونډ او خور کړي ، بيا به درې پيرې اوفرمايي :

همدا زه زبردست او غالبه يم . بيا به اعلان وکړي : لِمَنِ الْمُلْکُ الْيَوْمَ ؟ نن ورځ د چا حکومت دی ؟ هر طرفته به خاموشي وي ، جواب ورکوونکې به هيڅوک نه وي .

الله ﷻ به په خپله اوفرمايي : لِلّٰهِ الْوَاحِدِ الْقَهَّارِ .صرف د الله ﷻ حکومت دی چې يو اځې او غالبه دې . (۱)

## د يو کِشتي بَان عجيبه جواب :

يو سړي د خپل کِشتي بَان دوست نه پوښتنه وکړه چې دا راته ووايه : ستا پلار چيرته وفات شوی ؟ ده ورته ووېل : په درياب کې ډوب شوی ، بيا يې ورنه پوښتنه وکړه : ستا نيکه چيرته وفات شوی ؟ ده ورته ووېل : دا کِشتي بَاني زمونږ د نيکونو نه کسَب راروان دی زما ټول نيکونه په همدې اُوبو کې ډوب شوي .

---

(۱) نداے ممبر ومحراب ج۱ ص ۳۹۲ . په تفسير مظهري کې دا مضمون په دې انداز ذکر دی : اخرج البيهقي عن انس ﷺ في قوله تعالى ﴿ونفخ في الصور . الاية﴾ فكان ممّن استثنى الله ثلاثة : جبرئيل و ميكائيل وملک الموت . فيقول الله ( وهو اعلم ) يا ملکَ الموت مَنْ بَقِيَ ؟ فيقول : وَجْهُکَ الْبَاقِي الكريم ، وعبدک جبرئيل وميكائيل وملک الموت فيقول : توف نفس ميكائيل . ثم يقول ( وهو اعلم ) يا ملک الموت ! من بقي؟ فيقول : وجهک الباقي الكريم وعبدک جبرئيل وملک الموت . فيقول توفّ نفس جبريل . ثم يقول ( وهو اعلم ) يا ملک الموت ! من بقي؟ فيقول : بقي وجهک الباقي الكريم وعبدُک ملک الموت وهو ميّت . فيقول : مت . ثم ينادي انا بدأت الخلق ثم اعيده أين الجبّارون المتكبّرون ثم ينادي : لمن الملک اليوم؟ فلا يجيبه احد . فيقول : لله الواحد القهار ... تفسير مظهري ج۸ ص ۲۴۹ سورة المومن آيت ۱۶ .

دې سړي ورته وويل : د تاسره يَره نشته چې ته به هم د هغوی غوندې په دې اُوبو کې ډوب شی ؟ نو کِشتي باني ولې کوی ؟ کِشتي بَان ورته وويل : د مرګ نه ويريږم خو د مرګ نه خو خلاصيدې هم نشته .

کِشتي بَان ورنه نا اشنا پوښتنه وکړه : اوس ته راته دا ووايه چې ستا پلار چيرته وفات شوی ؟ ده ورته جواب ورکړو : په کور کې . بيا يې ورنه پوښتنه وکړه : نيکه دې چيرته وفات شوی ؟ ده جواب ورکړو : زما ټول نيکونه په کور کې وفات شوي .

دې کِشتي بَان ورته وويل : ته يريږې نه ، چې هسې نه په همدې کور کې ته هم وفات شې؟ نو بيا ولې په دې کور کې اوسيږې ؟ (۱)

## د مرګ علاج د هيچا سره نشته

يورپي ډاکټرانو د صحت د حفاظت د پاره بې شماره طريقې او وسائل راويستلي او ډير طِبّي تحقيقات يې کړي ، خو د دې ټولو خبرو باوجود تر اوسه داسې ډاکټر او سائنس دان پيدا نه شو چې دا ووايي : ما د مرګ علاج راويستلې .

بلکه ډير کرَته داسې اوشي چې کوم ډاکټر او حکيم په کوم مرض کې مهارت حاصل کړې وي اکثر دغه ډاکټر او حکيم د همدغه مرض نه مر شي .

ارسطاليس د '' سِل '' په بيمارۍ کې ډير مهارت لرل ، افلاطون په '' فالج '' کې ، لقمان په '' سرسام '' ، او جالينوس د معدې په بيمارۍ کې پوره مهارت لرل . خو دوی ټول د همدغه بيمارۍ د وجې وفات شوي په کومه کې چې يې مهارت لرل . د عربۍ يو شعر دی :

بِسِلٍّ مَاتَ اَرَسْطَالِيْس وَاَفْلَاطُوْن بافليج • وَلُقْمَان بسرسام وجالينوس مبطونا

## دُنيا مسافر خانه ده :

حقيقت دا دی چې دُنيا د هميشه باقي پاتې کيدو ځای نه دی بلکه دا يو مسافر خانه ده چې په دې کې انسان د آخرت د پاره څه توښه تياره وي .

(۱) للالے ممبر ومحراب ج۱ ص ۳۸٦ .

حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما وايي :

أَخَذَ رَسُوْلُ اللهِ بِمَنْكِبِيْ فَقَالَ : كُنْ فِي الدُّنْيَا كَأَنَّكَ غَرِيْبٌ أَوْ عَابِرُ سَبِيْلٍ .(۱)

رسول الله صلى الله عليه وسلم زما اوګه ( د مُتَنَبِّه کولو ) دپاره ونيوه او وې فرمايل : ته په دُنيا کې داسې اوسه ګويا چې ته مسافر يې ، بلکه لاره وُونې ( په لاره تلونکې ) يې .

يعنى لکه څرنګ چې يو مسافر او اَجنَبي کس د پرَدي وطن سره زړه نه تړي او هغه خپل دائمي وطن نه ګڼي دغه شان ته هم دې دُنيا ته دير مه مائله کيږه او دا خپل دائمي کور مه ګڼه

بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم د زياتې مبالغې د پاره اوفرمايل چې ته په دُنيا کې يو لاره وُوني (راه ګير ) په شان اُوسه . لکه څرنګ چې يو کس په لاره روان وي نو که په دې لاره کې هر قِسم ښکلي ښکلي مَناظِر، يَخ سوري او چينې وي نو دې که هلته کيني نو د يو څو منټو د پاره کيني ، دوباره ورنه رارو انيږي او خپل منزَلِ مقصود ته ځان رسوي ، نو دغه شان د انسان منزلِ مقصود هم آخرت دى ، په دې دُنيا کې خو دې عارضي د آخرت د پاره توخې تيارولو د پاره راغلې .

حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما به خلقو ته ويل :

إِذَا أَمْسَيْتَ فَلَا تَنْتَظِرِ الصَّبَاحَ ، وَإِذَا أَصْبَحْتَ فَلَا تَنْتَظِرِ الْمَسَاءَ ، وَخُذْ مِنْ صِحَّتِكَ لِمَرَضِكَ وَمِنْ حَيَاتِكَ لِمَوْتِكَ .(۲)

کله چې ته ماښام کړې نو دصبا انتظار مه کوه او چې کله ته صبا کړې نو د ماښام انتظار مه کوه ، او د خپل صحت په زمانه کې د مرض د زمانې د پاره توښه واخله ، او په خپل ژوند

(۱) رواه البخاري في الرقاق باب ۳ ، والترمذي في الزهد باب ۲۵ ، مشكوة باب تمنّى الموت و ذكره حديث ٦ .

(۲) رواه البخاري في الرقاق باب ۳ ، والترمذي في الزهد باب ۲۵ ، مشكوة باب تمنّى الموت و ذكره حديث ٦ . په بعضو رواياتو کې دا پاس الفاظ د پيغمبر عليه السلام نه نقل شوي : لکه د ترمذي شريف حديث دى ، حضرت ابن عمر رضي الله عنهما فرمايي : أَخَذَ رَسُوْلُ اللهِ بِبَعْضِ جَسَدِيْ فَقَالَ : كُنْ فِي الدُّنْيَا كَأَنَّكَ غَرِيْبٌ أَوْ عَابِرُ سَبِيْلٍ وَعُدَّ نَفْسَكَ مِنْ أَصْحَابِ الْقُبُوْرِ ، وَقَالَ لِيْ : يَابْنَ عُمَرَ ! إِذَا أَصْبَحْتَ لَاتُحَدِّثْ نَفْسَكَ بِالْمَسَاءِ ، وَإِذَا أَمْسَيْتَ فَلَاتُحَدِّثْ نَفْسَكَ بِالصَّبَاحِ ، وَخُذْ مِنْ صِحَّتِكَ قَبْلَ سَقْمِكَ وَمِنْ حَيَاتِكَ قَبْلَ مَوْتِكَ فَإِنَّكَ لَاتَدْرِيْ يَاعَبْدَاللهِ مَااسْمُكَ غَدًا . رواه الترمذي ، والبيهقي ، الترغيب والترهيب ج ۲ الترغيب في ذكر الموت وقصر الامل .. ۱۷/ ۲۹۸٦ .

کې د مرګ د پاره توښه تياره کړه ، ( يعنې خپل صحت او ژوند غنيمت وګڼره ، او په دې کې نيک اعمال کوه چې بيا د مرض په حالت او د مرګ نه روستو هم د دې ثواب در رَسي (۱) ) .

يو شاعر وايي :

غنيمتے شمر اے شمع وصل پروانه * که اين معامله تا صبح دم نه خواهد ماند

غنيمت دان جوانا دولت حسن جواني را * نه پنداري که ايام جواني جاودان باشد

## د ابراهيم بن ادهم رحمه الله کور ته يو اَجنبي کس راتلل

د بلخ بادشاه ابراهيم بن ادهم رحمه الله په شاهي تخت ناست وُ ، دربار لږيدلې وُ ، ناڅاپه يو نا آشنا مسافر دربار ته راننوت ، او څلور طرفه يې کتل ، خلقو ورنه پوښتنه وکړه : چې څه ګورې ؟ هغه جواب ورکړو : چې دا '' سَرای '' زما خوښه نه شوه .

ابراهيم بن ادهم رحمه الله چې دا خبره واوريده نو ورته وې ويل : دا خو سرای نه ده بلکه دا خو زما محل دی . دې نا آشنا کس ورنه پوښتنه وکړه : د تا نه مخکې په دې محل کې څوک وُ ؟ ده ورته وويل : زما پلار . هغه بيا ورنه پوښتنه وکړه : د هغه نه مخکې څوک وُ ؟ ده ورته وويل : زما نيکه . هغه په دريم ځل پوښتنه وکړه : ستا د نيکه نه مخکې په دې ځای کې څوک وُ ؟ ده ورته وويل : زما غور نيکه .

دې مسافر ورته وويل : د همدې د وجې خو زه ديته سرای وايم چې په دې کې هيڅوک هم مستقل نه دی اوسيدلې ، څو چې څوک هم راغلې يو څو ورځې پاتې شوی او بيا ورنه تللې ، اې ابراهيم بن ادهم ! يوه ورځ به ته هم د دې مسافرخانې نه لاړ شې . (۲)

علماء ليکي چې دا دُنيا يو پُل دی او څوک چې د پُل د پاسه آبادي جوړوي هغه خپل وخت ضائع کوي او د خپل انجام نه ناخبره دی ، بلکه هوښيار هغه کس دی چې په دُنيا کې دومره مشغول شي څومره چې دده ضرورت وي ، د ضرورت نه زيات مشغوليدل او جَمعه کول د انسان د پاره زهرِ قاتل دي .

(۱) مظاهر حق شرح مشکوة ج۲ ص ۹۲ .

(۲) ندائے ممبر ومحراب ج۱ ص ۳۹۸ .

# د ماشوم په خي غوږ کې آذان او ګس غوږ کې د اِقامت وجه

په دُنيا کې انسان د ډېر مختصر وخت د پاره راغلې، تاسو ديته سوچ وکړئ چې کله ديو مسلمان بچې پيدا شي نو په خي غوږ کې ورته آذان او ګس غوږ کې ورته اِقامت کولې شي. دا چونکه يو سنت عمل دى، ډيرې فائدې دي په کې، ماشوم هم د ډيرو مرضونو نه محفوظ وي. علامه ابن قيم رحمه الله ددې ډير حکمتونه ذکر کړي، يو حکمت په کې دا دى:

چې آذان او اِقامت دواړه د جَمعې د لمانځه نه مخکې وي، او بيا د اقامت او جَمعې په مينځ کې ډيره لږه وقفه وي ، نو کله چې د ماشوم په خي غوږ کې آذان او ګس غوږ کې اِقامت اوشي نو دې ماشوم ته دا خودلې شي چې ستا اوسيدل په دې دُنيا کې ډير کم دي، ځکه ستا د پاره آذان هم اوشو او اقامت هم اوشو صرف په تا باندې د جنازې لمونځ پاتې دى، نو ته خپل ژوند کې د آخرت د پاره تياري وکړه.

دغه وجه ده چې کله په مړي باندې د جنازې لمونځ کولې شي نو ده ته آذان او اقامت نه شي کولې. ځکه چې دا خو مخکې شوي دي. (۱)

آئے ہوئی آذان گئے ہوئی نماز • بس اتني دير کا جھگڑا ہے زندگي کيا ہے

# په ټوله دُنيا کې په يوه ګهنټه کې اَتلس زره کسان وفات کيږي

محترمو! په ټوله دُنيا کې په يوه ګهنټه کې تقريبا شپږويشت زره (۲۶۰۰۰) کسان پيدا کيږي، او اتلس زره (۱۸۰۰۰) کسان وفات کيږي، ګويا په شوا روز کې په ټوله دُنيا کې تقريبًا څلور نيم لکه (۴۵۰۰۰۰) کسان وفات کيږي.

اوس هيڅ پته نه لږي چې ددې آينده څليريشت (۲۴) ګهنټو د پاره د مړو کوم فهرست تيارولې شي آيا په دې کې خو دده نوم نشته؟

هيڅ پته نه لږي چې دده د کفن د پاره کومه کپړه استعماليږي آيا هغه خو بازار ته نه ده راغلې؟

هيڅ پته نه لږي چې دده د مرګ اَسباب دده کورته رارسيدلي وي خو دې بيا هم د غفلت په خُوب اُوده دى، د مرګ او آخرت نه غافله دى.

---

(۱) نداے منبر ومحراب ج۱ ص ۳۹۸.

# د دُنيا د محبت په وجه د مرګ نه غافل کيدل

قدرمنو ! کله چې د انسان په زړه کې د دُنيا محبت داسې ورننوځي چې د دې بيا د جائز او ناجائز، حلال او حرام پرواه نه کوي، او ږده او ږده اميدونه يې پيدا شي نو په دې سره د دې د مرګ، قبر، حشر و نشر او د آخرت د ورځې د حساب و کتاب نه غافله کيږي، او د همدې غفلت په دوران کې اکثره ورته مرګ راشي چې بيا د افسوس او ندامت لاسونه مروړي او هيڅ فايده ورته نه ورکوي.

# د غافل انسان د ژوند يو بهترين مثال:

امام غزالي رحمه الله ذکر کړي چې حضرت عيسى عليه السلام د دُنيا او هغه کس چې د آخرت نه غافله وي يو مثال پيش کړی چې يو سړې په ځنګل کې روان وي، ده وليده چې شاته دده پسې يو زمرې راروان دی، ده ورنه منډې کړی، زمري هم دده پسې شاته رامنډې وهلې، آخر دا چې ستړې شو، مخې ته يې يوه لويه کنده وليده، ده سوچ وکړو چې په دې کې به پناه واخلم، خو چې وې کته نو په هغې کې لاندې يوه لويه اژدها پَرته وه، دې هم حيران شو چې د شاته نه زمرې دی او مخې ته دا اژدها خطر دی.

ده د دې کندې په غاړه يوه وَنه وليده، دې هغې ته وراوخت، کله يې چې لاندې د وَنې بيخ ته اوکته نو يوه سپينه او يوه توره مږه يې وليده چې د دې وَنې جرړې کټ کوي، دده سره ډيره يَره شوه چې که چيرته دغه توره او سپينه مږه د اُونې جرړې کټ کړي او لاندې وَلويږم نو د زمري او اژدها خوراک به جوړ شم.

ناڅاپه يې په اُونه کې پاس د شهدو مچو په ګبين باندې نظر ولږيده، دې هغې ته وراوخت، او د هغې نه د خوږو شهدو په حاصلولو او خوړلو کې مصروفه شو، د زمري يَره، د اژدها يره، او د دې جرړو کټ کيدو يَره يې د زړه نه ووته او مکمل غافل شو.

آخر دا چې د دې سپينې او تورې مږې د اُونې دا جرړې کټ کړی او ناڅاپه دا سړې رااوغورځيده، لاندې زمري اونيوه، وې شلول او د دې غټې کندې ته يې وراوغورځول، چې لاندې د اژدها خولې ته ورغې.

قدرمنو ! همدغه شان ددې ځنګل نه مراد دا دُنيا ده ، د زمري نه مراد مرګ دی چې دده پسې شاته راروان دی ، دا غتې کنده قبر دی او په کنده کې اژدها د انسان بَد اعمال دي چې په قبر کې به يې چيچي ، دا اُونه دده عُمر دی ، او دا دوه مږې "يوه توره او بله سپينه" شپه او ورځ دي چې د شپې او ورځې په تيريدو سره د انسان عُمر ختميږي ، او دا د شهدو مچو خوږ ګبين د دُنيا لذتونه او خواهشات دي .

نو انسان چې کله د دُنيا په لذتونو او خوندونو کې مصروفه وي دده نه مرګ ، قبر او د قبر اژدها ګانې هيرې وي ، د شپه او ورځ په تيريدلو سره آخر دده عُمر ختم شي او د همدې غفلت په حالت کې ورته مرګ راشي نو بيا هميشه د افسوس او ندامت لاسونه مروړي خو هيڅ شی ورته په ګوتو نه ورځي . (۱)

## د دُنيا ژوند غنيمت وګڼه

انسان ته په کار دي چې د دُنيا ژوند غنيمت وګڼي او په دې کې د آخرت د پاره د نيکو اعمالو ذخيره تياره کړي ، ځکه که دده ته د غفلت په حالت کې مرګ راشي او د نيکو اعمالو هيڅ ذخيره ورسره نه وي نو بيا به صرف افسوس او ندامت ښکاره کوي خو هيڅ نتيجه به پرې مرتب نه وي .

## يو بهترين مثال :

علماؤ د پوهې د پاره د دُنيا د ژوند يو بهترين مثال ورکړې چې د يو بادشاه ډير غټ او اُوږد باغ ؤ ، ددې باغ ډيرې حصې وې ، په هره حصه کې ښکلي ګلان او ميوې وې ، بادشاه يو کس ته ټوکرۍ ورکړه او ورته وې ويل :

لاړ شه او ددې باغ نه ښکلي ګلان او ميوې په دې ټوکرۍ کې راوړه ، ځکه زه په دې د تانه ډير خوشحاليږم او بهترين انعام به درکوم .

خو ګوره خبردار ! زما يو شرط دی چې ته د باغ په کومه يوه حصه يو کرت تير شې نو دوباره به بيا په هماغه حصه نه راګرځې ، بلکه د مخکې راتلونکې حصې نه به ګلان او ميوې راشوکوې .

---

(۱) ندائے ممبر ومحراب ج۱ ص ۲۱۶ ، نزهة المجالس ج۲ ص ۲۸ باب الزهد والقناعة والتوكل .

کله چې دې سړي ټوکرۍ واخيسته او دې باغ ته داخل شو، نو وې ليده چې په دې اوله حصه کې ډير بهترين ګلان او ميوې دي، په زړه کې يې سوچ وکړو چې د دينه ګلان او ميوې را اوشوکوم، او په دې ټوکرۍ کې ځانله ذخيره جمع کړم، خو بيا يې د ځان سره ووېل: چې مخکې خو د باغ ډيره حصه پاتې ده د هغې نه به يې را اوشوکوم، کله چې مخکې لاړ، نو په دويمه حصه کې هم بهترين ګلان او ميوې وې زړه کې يې سوچ وکړو چې د دې حصې نه به يې را اوشوکوم خو بيا يې ځان سره ووېل: مخکې خو لا ډير باغ پاتې دی هلته به يې رااُوشوکوم.

همدغه شان مخکې تللو، او زړه کې به يې وېل چې مخکې به يې را اُوشوکوم، نا څاپه د باغ آخر ته ورسيده نو په هغه آخِري حصه کې نه ګلان وُ او نه ميوې: ده چې اُوکتل نو ډير خفه شو چې دلته خو هيڅ شی نشته، ما خو په ټوکرۍ کې هيڅ نه دي راوړي، ډير يې وژړل، او افسوس يې وکړو خو هيڅ نتيجه ورته په لاس ورنغله، ځکه د ده سره دا شرط لږيدلې وُ چې دوباره به د ګلانو راشوکول پسې نه ورګرځي.

قدرمنو! دغه شان د دُنيا د ژوند مثال هم دی چې د ده د ژوند هره ورځ او هره شپه د باغ يوه حصه ده او په دې کې د ځان د پاره ميوې او ګلان يعنی نيک اعمال په عمل نامه کې جمع کولې شي، خو ليکن انسان دا سوچ کوي چې صبا به نيک اعمال وکړم، په صبا بيا دا سوچ کوي چې بله ورځ به يې وکړم، آخر دا چې ناڅاپه د ده د مرګ نيټه پوره شي، او دا خو داسې وخت وي الله تعالى فرمايي:

﴿ فَإِذَا جَآءَ أَجَلُهُمْ لَا يَسْتَأْخِرُونَ سَاعَةً وَّلَا يَسْتَقْدِمُونَ ﴾. (۱)

ترجمه: کله چې د دوی نيټه راشي نو نه يو ساعت روستو کيږي او نه رامخکې کيږي.

نو په دې حالت کې چونکه د ده سره د نيکو اعمالو ذخيره نه وي، دې که هر څومره افسوس او غم وکړي هيڅ نتيجه وربانديې مرتب نه وي او نه ده ته بيا دا مهلت ورکولې شي چې په دې کې نيک اعمال وکړي. (۲)

(۱) الاعراف آيت ۳۴.

(۲) اهل دل کے تڑپادینے والے واقعات ج۲ ص ۲۸۱.

## د دُنيا ژوند او راحت فاني دي

قدرمنو ! د دُنيا ژوند او راحتونه فاني دي ، او د آخرت ژوند او راحتونه دائمي دي ، لهذا عاقل ته په کار دي چې د دې فاني ژوند يو څو ورځې تکليفونه د ابدي ژوند بنه کولو د پاره برداشت کړي .

ځکه که د يو ځوان محبوبه وي او هغه ده ته ووايي چې ته صرف نن شپه تکليف برداشت کړه زه به بيا تاته د زرهاؤ شپو عيش و عشرت درکړم ، او که ته صرف د نن شپې آرام وراحت غواړې نو ما به بيا هيڅ کله او نه گورې .

نو که دا کس هر څومره پوخ عاشق وي او د جدائي نه ورته بنه ډير تکليف وي خو دې به بيا هم دا يوه شپه تکليف ډير په خوشحالۍ سره برداشت کوي ، ځکه ده ته دا پته ده چې که صرف نن شپه تکليف برداشت کړم نو بيا به د زرهاؤ شپو خوَند اخلم .

دغه شان د دُنيا ژوند د آخرت په مقابله کې هيڅ شی نه دی ، نو که يو سړې د دُنيا تکليفونه برداشت کړي ، په دې کې د الله ﷻ عبادت وکړي نو د آخرت دائمي ژوند به يې بيا د خوشحالۍ او راحت وي ، او که دې دلته د عارضي ژوند په بنه کولو کې مصروفه شي او د آخرت نه بالکل غافله شي نو بيا به دده د آخرت دائمي ژوند خراب وي .

## د دُنيا ژوند د آخرت په مقابله د يو سيکنډ حيثيت هم نه لري

محترمو ! د دُنيا ژوند د آخرت په مقابله کې د يو سيکنډ حيثيت هم نه لري ، ځکه چې د انسان د مرگ نه روستو په ده باندې درې دَورونه راځي :

۱ : د عالم برزَخ دوَر. ۲ : د عالمِ حشَر دوَر. ۳ : د عالمِ جنت يا عالمِ جهنم دوَر.

دا هريو دوَر دومره اُوږد دی چې دده په مقابله کې د دُنيا اَويا ، اَتيا کاله هيڅ شی نه دی ددې هر دور د اُوږد والي په باره کې درته څه تفصيل بيانوم :

**د عالَمِ برزخ اوږد والې** : د عالمِ برزخ دوَر د وفات کيدو نه شروع کيږي او د قيامت قائميدو پورې وي ، دا دومره اُوږد دوَر دی چې ددې د وړاندې د دنيا ژوند هيڅ حيثيت نه لري .

مثلاً يو كس د حضرت آدم عليه السلام په زمانه كې وفات شوى، د هغې نه راپه ديخوا په زرهاوُ كلونه تيرشوي او هيڅ پته نه لږي چې قيامت به كله قائميږي. نو دغه كس تر اوسه پورې په عالمِ برزخ كې روان دى، نو د هغه عُمر ددې اُوږد ژوند په مقابله كې ډير كم دى.

**د عالمِ حشر اُوږد والې** : دويم دوَر به په انسان باندې د عالمِ حشر تيريږي، دا دوَر د عالم دوباره را ژوندي كيدو نه شروع كيږي او تر د حساب وكتاب ختميدو پورې به جاري وي. ددې دوَر اُوږد والې قرآن كريم په خپله بيانوي:

﴿.... فِي يَوْمٍ كَانَ مِقْدَارُهُ خَمْسِينَ أَلْفَ سَنَةٍ ﴾.(۱)

ترجمه:.... په داسې ورځ كې چې د هغې مقدار پنځوس زره (۵۰۰۰۰) كاله دى.

كله چې ددې دوَر يوه ورځ پنځوس زره (۵۰۰۰۰) كاله ده ،نو هيڅ پته نه لږي چې په دې كې به څومره وخت تير شي (خو دا دويم دوَر به په مومن باندې دومره لنډ تير شي لكه د ماسپخين او مازيګر په مينځ كې وخت).

**د دريم دوَر اوږدوالې** : دريم دوَر په انسان باندې د عالمِ جنت او يا عالمِ جهنم دى، دا دوَر د حساب و كتاب ختميدو نه روستو شروع كيږي، دا دومره اوږد دى چې ددې ابتداء شته خو انتهاء يې نشته.

څكه حديث كې راځي چې كله جنتيان جنت ته لاړ شي او جهنميان جهنم ته لاړ شي نو مرګ به د جنت او جهنم په مينځ كې د ګډ په شكل باندې ذبح كړې شي.

نو بيا خو ددې ژوند هيڅ حَد نه دې معلوم بلكه دا دايمي ژوند دى.

**د آخرت د ژوند مثال** : علماؤ د پوهې د پاره يو مثال وركړې چې كه د زمكې او آسمان دا مينځنۍ غونډه حصه د اُوري د دانو نه ډكه كړې شي (دا وړوكې دانې دي)، او يوه مرغۍ هر زَر (۱۰۰۰) كاله پس راځي او ددې نه يوه دانه په مخوكه كې اخلي او چيرته بل ځاى كې يې اچوي، نو آخر داسې يو وخت به راشي چې د زمكې او آسمان دا مينځ به مكمل

(۱) سورة المعارج آيت ۴

د اُوري د دانو نه خالي شي ، خو لیکن د آخرت دومره اُوږد ژوند دی چې دا هیڅ کله نه ختمیږي.

**د دري وارو دورونو په نسبت د دُنیا ژوند**: کله چې د هر دَور اُوږد والې معلوم شو نو اوس چې دا دري (۳) واړه دَورُونه رایو ځای کړی او ددې د وړاندې د دُنیا ژوند اوګوری نو د یو سیکنډ حیثیت هم نه لري.

د مجرمانو په باره کې راځي چې الله ﷻ به ورنه پوښتنه وکړي:

﴿ كَمْ لَبِثْتُمْ فِي الْأَرْضِ عَدَدَ سِنِينَ ﴾. (۱)

ترجمه: تاسو په زمکه د کلونو په حساب څومره پاتې شوي یئ؟

دوی به ورته وایي: ﴿ لَبِثْنَا يَوْمًا أَوْ بَعْضَ يَوْمٍ فَاسْأَلِ الْعَادِّينَ ﴾. (۲)

ترجمه: مونږ (په دُنیا کې) یوه ورځ یا د ورځې څه بعضې حصه پاتې شوي یو، د شمار کوونکو (فرښتو) نه پوښتنه وکړه.

الله تعالی به ورته وایي: ﴿ إِنْ لَبِثْتُمْ إِلَّا قَلِيلًا لَوْ أَنَّكُمْ كُنْتُمْ تَعْلَمُونَ ﴾. (۳)

ترجمه: په دُنیا کې خو تاسو ډیره لږه موده پاتې شوي یئ، خو کاش چې تاسو پوهیدی.

## پنځه شیان غنیمت ګڼل په کار دي

لهذا انسان ته په کار دي چې دا خپل قیمتي ژوند غنیمت وګڼي او ددې نه فائده واخلي، رسول الله ﷺ یو کس ته نصیحت کولو او ورته وې فرمایل:

اِغْتَنِمْ خَمْسًا قَبْلَ خَمْسٍ: شَبَابَكَ قَبْلَ هَرَمِكَ، وَصِحَّتَكَ قَبْلَ سَقَمِكَ، وَغِنَاكَ قَبْلَ فَقْرِكَ، وَفَرَاغَكَ قَبْلَ شُغْلِكَ، وَحَيَاتَكَ قَبْلَ مَوْتِكَ. (۴)

(۱) سورة المؤمنون آیت ۱۱۲.

(۲) سورة المؤمنون آیت ۱۱۳.

(۳) سورة المؤمنون آیت ۱۱۴.

(۴) رواه الحاکم وقال: صحیح علی شرطهما، الترغیب والترهیب ج۴ ص ۱۲۵ الترغیب في ذکر الموت.

پنځه خبرې د پنځو نه مخکې غنيمت وګڼه : ځواني د بوډاوالي نه مخکې ، صحت د بيمارۍ نه مخکې ، مالداري د فقر نه مخکې ، فارغ وخت د مشغولتيا نه مخکې ، او ژوند د مرګ نه مخکې .

په دې حديث کې نبي عليه السلام هغه پنځه شيان ذکر کړه چې د هغې په نشه کې انسان دومره مَست دی چې د آخرت نه غافله دی ، حالانکه دا شيان عارضي دي ، ددې نه فايده اخيستل په کار دي ، آخرت طرفته متوجه کيدل په کار دي.

او خپل قيمتي وخت ، قيمتي عُمر ، او قيمتي ځواني په فضول کارونو کې خرچ کول نه دي په کار .

## د قيمتي وخت په ضائع کيدو سزا

د هارون رشيد په زمانه کې يو کس دده دربارته حاضر شو ، او په دربار کې يې د يو حيرت اَنګيز کمال ښکاره کولو اجازت اوغوښتو ، هارون رشيد ورته اجازت ورکړو .

ده په دربار کې د ګنډلو غټه ستن په يو ځای کې اودروله ، بيا يې لس (۱۰) نورې ورې ستنې راواخيستې او ددې غټې ستنې نه په څه فاصله کې اودريده ، او په داسې کمال سره يې دا ولاړه ستن اوويشته چې د هغې په سوري کې يې دا ورې لس واړه ستنې په داسې انداز اخوا وويستې چې دا غټه ستن د سره او نه خوزيده .

کله چې حاضرينو او هارون رشيد دده دا کمال وليده نو ډير حيران شو . هارون رشيد حکم وکړو چې دې کس ته لس ديناره اِنعام ورکړئ ، خو لس کوړې يې هم ووهئ .

حاضرين حيران شو چې دا لس ديناره خو دده د کمال ښکاره کولو انعام شو ، خو دا کوړې د څه شي سزا ده ؟

د هارون رشيد نه يې پوښتنه وکړه ، هغه ورته وويل : دا لس ديناره خو دده د ذهانت او کمال اِنعام دی ، ليکن دا لس کوړې دده سزا ده چې ده دا خپل قيمتي خُداداد صلاحيت او قيمتي وخت په داسې کار کې لږولې چې په دې کې نه د دُنيا فايده شته او نه آخرت .

# د مرګ سختي

قدرمنو ! د مرګ داسې سختئ دي چې د هغې پوره بيا ن نشي کيدی ، ددې سختيو اندازه صرف هغه چاته کيدې شي په چاباندې چې دا حالت راشي . الله ﷻ د انسان د خبردار کولو د پاره فرمايي : ﴿ وَجَاءَتْ سَكْرَةُ الْمَوْتِ بِالْحَقِّ ذَلِكَ مَا كُنْتَ مِنْهُ تَحِيْدُ ﴾ .(۱)

ترجمه : او راغله بې هوشي ( سختي ) د مرګ په حقه سره ، دا هغه شی دی چې ددې نه به تا ډَډَه کوله (او تري به تختيدې به ) .

## د نبي کريم ﷺ حالت

د بخاري شريف حديث دی ، په خپله د رسول الله ﷺ په باره کې حضرت عائشه رضی الله عنها وايي :

كَانَ بَيْنَ يَدَيْ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ رَكْوَةٌ اَوْ علبَةٌ فِيْهَا مَاءٌ فَجَعَلَ يُدْخِلُ يَدَيْهِ فِي الْمَاءِ فَيَمْسَحُ بِهِمَا وَجْهَهُ وَيَقُوْلُ : " لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ إِنَّ لِلْمَوْتِ سَكَرَات " .(۲)

د رسول الله صلی الله عليه وسلم د وفات په وخت د دوی مخې ته يو لوخې ؤ په هغې کې اُوبه وی ، نبي عليه السلام به په دې لوخې کې دواړه لاسونه ښکته کول او بيا به يې په مخ راښکل او دا به يې فرمايل : " لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ إِنَّ لِلْمَوْتِ سَكَرَات "

نشته دې لائق د عبادت مګر يو الله دی ، بيشکه د مرګ ډيرې سختئ دي .

د ترمذي شريف په روايت کې داسې الفاظ دي چې پيغمبر عليه السلام به فرمايل :

---

(۱) سورة ق آيت ۱۹ .

(۲) اخرجه البخاري ( ٦/ ١٦ ) ، نزهة الناظرين في الأخبار والآثار المروية عن الأنبياء والصالحين ص ٦٢۴

...........................

اَللّٰهُمَّ اَعِنِّيْ عَلٰى غَمَرَاتِ الْمَوْتِ او سَكَرَاتِ الْمَوْتِ . (۱)

اې الله ! د مرګ سختئ لرې کولو کې زما مدد وکړه ، يا به يې دا فرمايل : يا الله ! د مرګ شدت لرې کولو کې زما مدد وکړه .

او نبي عليه السلام به مسلسل دا دُعا غوښته : اَللّٰهُمَّ هَوِّنْ عَلَيَّ سَكَرَاتِ الْمَوْتِ . (۲)

اې الله ! په ما باندې د مرګ سختئ آسانې کړې .

د پيغمبر عليه السلام نه د مرګ د سختيو باره کې پوښتنه وشوه نو نبي ﷺ ورته اوفرمايل :

إِنَّ أَهْوَنَ الْمَوْتِ بِمَنْزِلَةِ حسكة فِيْ صُوْفٍ فَهَلْ تَخْرُجُ الْحسكةُ مِنَ الصُّوْفِ إِلَّا مَعَهَا صُوْفٌ (۳)

بيشکه آسان مرګ په شان د هغه ازغي دارې څانګې دی چې په مالوچو کې وي ، نو دغه ازغي داره څانګه چې د مالوچو نه راويستلې شي نو ددې سره خامخا مالوچ را اوځي .

يو کرت رسول الله صلى الله عليه وسلم د مرګ او د مرګ د سختيو تذکره وکړه نو وې فرمايل :

هُوَ اَشَدُّ مِنْ ثَلَاثِ مِائَةِ ضَرْبَةٍ بِالسَّيْفِ . (۴)

د مرګ سختئ د تورې د درې سوه ( ۳۰۰ ) ګوزارونو نه هم سختې دي .

---

(۱) عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ : رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ وَهُوَ بِالْمَوْتِ عِنْدَهُ قَدَحٌ فِيْهِ مَاءٌ وَهُوَ يُدْخِلُ يَدَهُ فِي الْقَدَحِ ثُمَّ يَمْسَحُ وَجْهَهُ بِالْمَاءِ ثُمَّ يَقُوْلُ : اَللّٰهُمَّ اَعِنِّيْ عَلٰى غَمَرَاتِ الْمَوْتِ او سَكَرَاتِ الْمَوْتِ . رواه الترمذي ، رياض الصالحين باب ما يقوله من ايس من حياته حديث ۹۱۰ . په يو روايت کې داسې الفاظ ذکر دي : اَللّٰهُمَّ اَعِنِّيْ عَلٰى مُنْكَرَاتِ الْمَوْتِ او سَكَرَاتِ الْمَوْتِ . اې الله ! د مرګ سختئ لرې کولو کې زما مدد وکړه ، يا به يې دا ويل : يا الله ! د مرګ شدت لرې کولو کې زما مدد وکړه . رواه الترمذي وابن ماجه ، مشكوة كتاب الجنائز باب عيادة المريض وثواب المرض حديث ۴۲ .

(۲) وَيَقُوْلُ مَرَّةً بَعْدَ مَرَّةٍ : اَللّٰهُمَّ هَوِّنْ عَلَيَّ سَكَرَاتِ الْمَوْتِ . اخرجه الامام احمد في مسنده ( ۶ / ۴۶ ) ، والترمذي ۹۷۸ بنحوه ، بستان الواعظين لابن جوزي رحمه الله ص ۱۱۸ سكرات الموت .

(۳) اخرجه الزبيدي في الاتحاف ( ۱۰ / ۲۶۰ ) ، نزهة الناظرين في الاخبار والآثار المروية عن الانبياء والصالحين ص ۶۲۴ .

(۴) اخرجه ابن المبارک في الزهد ۶۲۰ ، بستان الواعظين ص ۱۳۱ شدة الموت .

## د حضرت ابراهيم عليه السلام حالت :

حضرت ابراهيم عليه السلام چې کله وفات شو نو الله جل جلاله ورته اوفرمايل :

كَيْفَ وَجَدْتَ الْمَوْتَ يَا خَلِيْلِيْ ؟ اې زما خليله ! تا مرګ څنګه اوموند ه ؟

ده ورته جواب ورکړو : كَسُفُّوْدٍ جُعِلَ فِيْ صُوْفٍ رَطْبٍ ثُمَّ جُذِبَ . د داسې (ګرم کنډه دار) سيخ په شان چې په لمدو مالوچو کې کېښودې شي او بيا رابښکلې شي .

الله جل جلاله ورته اوفرمايل : أَمَا انا قَدْ هَوَّنَّا عَلَيْكَ . حالانکه مونږ خو دا ستا د پاره آسان کړې وُ . (۱)

## د حضرت موسى عليه السلام حالت :

د حضرت موسى عليه السلام باره کې نقل دي چې کله دې وفات شو نو الله جل جلاله ورنه پوښتنه وکړه : كَيْفَ وَجَدْتَ الْمَوْتَ ؟ مرګ دې څنګه اوموند ه ؟ ده ورته وويل :

وَجَدْتُ نَفْسِيْ كَالْعُصْفُوْرِ حِيْنَ يقلى عَلَى الْمقلى لَا يَمُوْتُ فَيَسْتَرِيْحَ وَلَا يَنْجُوْ فَيَطِيْرَ . (۲)

ما خپل ځان داسې اوموندو لکه ژوندۍ مرغۍ چې په اُور باندې داسې وريته کړې شي چې هغه نه مړه شي چې آرام اومومي او نه نجات مومي چې والوځي .

په بعضو رواياتو کې دا نقل دي چې حضرت موسى عليه السلام ورته وويل :

وَجَدْتُ نَفْسِيْ كَشَاةٍ تُسْلَخُ بِيَدِ الْقَصَّابِ . (۳)

ما خپل ځان داسې اوموند ه لکه د ژوندۍ چېلۍ نه چې د قصاب په لاس څرمن ويستلې شي .

---

(۱) نزهة الناظرين في الاخبار والآثار المروية عن الانبياء والصالحين ص ۶۲۴ .

(۲) نزهة الناظرين في الاخبار والآثار المروية عن الانبياء والصالحين ص ۶۲۴ ، بستان الواعظين ص ۱۱۸ موسى وموعظه ، التذكرة في احوال الموتى وامور الاخرة ص ۳۱ .

(۳) نزهة الناظرين في الاخبار والآثار المروية عن الانبياء والصالحين ص ۶۲۴ ، بستان الواعظين ص ۱۱۸ موسى وموعظه ، التذكرة في احوال الموتى وامور الاخرة ص ۳۱ .

## د کعب الاحبار رح نه د مرګ په باره کې پوښتنه

حضرت عمر بن الخطاب رضي الله عنه یو کرت کعب الاحبار رحمه الله ته وویل چې : د مرګ په باره کې خو راته څه بیان وکړه ، هغه جواب ورکړو : اې امیر المؤمنین ! مرګ داسې شی وګڼړه ګویا چې یوه ازغي داره څانګه د انسان په خیټه کې داخله کړې شي ، تر دې چې دغه ازغي د انسان په هر هر رګ او بَند کې ننوځي ، بیا یو طاقتور سړی دغه څانګه په سختۍ سره راکاږي چې په دې سره دده رګونه هم کټ شي .

په دې سره چې څومره تکلیف دې سړي ته رسي ددې نه څو چنده زیات تکلیف انسان ته د مرګ په وخت رسي . (۲)

## د حضرت عمرو بن العاص رضي الله عنه حالت :

د حضرت عمرو بن العاص رضي الله عنه په حالاتو کې ذکر دي چې کله دده د زنکدن حالت شروع شو نو ځوي ورته وویل : پلاره ! تا به مخکې ویل چې : کاش ، ماته داسې عقل مند سړی ملاؤ شي چې ماته د مرګ د وخت حالات بیان کړي ، او تا به ویل : تعجب دی په هغه انسان چې په هوش کې د اوسیدو باوجود د مرګ په وخت په خپل ځان باندې تیریدونکي حالات نشي بیانولې ، نو اې پلاره ! ته خو اوس دې حالت د زنکدن ته رسیدلې یې نو تاسو بیان وکړئ چې د مرګ حالت څنګه محسوسوئ ؟

حضرت عمرو بن العاص رضي الله عنه ورته وویل : اې بچیه ! حقیقت دادی چې د مرګ حالت بیانول د الفاظو د احاطې نه بهر دي ، خو لیکن بیا به هم زه تاسو په اشاره پوهه کړم :

زه په دې وخت کې دا محسوسوم ګویا چې زما په څټ باندې د ''رضوی'' په نوم باندې یو غَر ایښودې شي ، زه داسې محسوسوم ګویا چې زما په خیټه کې یو ازغي داره څانګه دده

---

(۱) رُوِیَ اَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ رضي الله عنه قَالَ لِکَعْبٍ : یَا کَعْبُ حَدِّثْنَا عَنِ الْمَوْتِ فَقَالَ : یَا اَمِیْرَ الْمُؤْمِنِیْنَ ! هُوَ غُصْنٌ کَثِیْرُ الشَّوْکِ اُدْخِلَ فِیْ جَوْفِ رَجُلٍ حَتّٰی اِذَا اَخَذَتْ کُلَّ شَوْکَةٍ بِعِرْقٍ ثُمَّ جَذَبَهٗ رَجُلٌ شَدِیْدُ الْجَذْبِ فَقَطَعَ مَا قَطَعَ وَاَبْقٰی مَا اَبْقٰی . بستان الواعظین لابن جوزي آلام الموت ص ۱۱۸ ، شرح الصدور ص ۶۴.

(او هغه رابنکودې شي) ، ماته د ساه په اخيستو کې د ومره تنگي او تکليف دی گويا چې زما روح د ستنې د سوري نه اوځي . (۱)

يو حديث کې راځي : د مرگ فرښته چې کله روح اوباسي نو ددې تکليف د تورې د زرو (۱۰۰۰) گوزارو نه هم زيات سخت دی ، او د مرگ په وخت کې د مؤمن په رگ رگ کې د تکليف احساس کيږي . (۲)

يو شاعر وايي :

لِلْمَوْتِ فَاعْمَلْ بِجِدٍّ اَيُّهَا الرَّجُلُ • وَاعْلَمْ بِأَنَّکَ مِنْ دُنْيَاکَ مُرْتَحِلُ

اِلَى مَتَى أَنْتَ فِي لَهْوٍ وَفِي لَعِبٍ • تُمْسِيْ وَتُصْبِحُ فِي اللَّذَّاتِ مُشْتَغِلُ

فَاعْمَلْ لِنَفْسِکَ يَا مِسْكِيْنُ فِي مَهَلٍ • مَادَامَ يَنْفَعُکَ التِّذْكَارُ وَالْعَمَلُ . (۳)

## څلور زره کاله پس د مرگ سختي محسوسول

حضرت عيسى عليه السلام به د الله ﷻ په حکم سره مړي ژوندي کول ، يوه ورځ ورته بعضو کافرانو وويل : ته خو هغه مړي را ژوندي کوې کوم چې تازه مړه شوي وي ، څه پته لږي ؟ کيدې شي چې دا کس د سره مړ شوې نه وي ، لهذا ته مونږ ته هغه مړې راژوندې کړه کوم چې په اوله زمانه کې مړ شوې وي .

حضرت عيسى عليه السلام ورته اوفرمايل : تاسو يو کس خوښ کړئ زه به هغه د الله ﷻ په حکم سره راژوندې کړم ، دوی ورته سام بن نوح اوخوده چې دا راژوندې کړه .

---

(۱) شرح الصدور ص ۶۳ . رُوِيَ عَنْ عَمْرِوبْنِ الْعَاصِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا اَنَّهُ قَالَ لِاِبْنِهِ عِنْدَ الْمَوْتِ : لَيْتَنِيْ الْقِي رَجُلًا عَاقِلًا عِنْدَ نُزُوْلِ الْمَوْتِ يُخْبِرُنِيْ بِمَا يَجِدُ . فَقَالَ لَهُ اِبْنُهُ : قَدْ نَزَلَ بِکَ الْمَوْتُ فَصِفْ لِيْ الَّذِيْ تَجِدُ . فَقَالَ لِيْ : يَا بُنَيَّ ! كَاَنَّ جَنْبِيْ فِي تحت وَكَاَنَّ غُصْنَ شَوْكٍ يَخْرُجُ مِنْ قَدَمِيْ اِلَى هَامَتِيْ ، وَكَاَنِّيْ اَتَنَفَّسُ مِنْ سَمِّ اِبْرَةٍ . ثُمَّ مَدَّ يَدَهُ وَقَالَ : اَللّٰهُمَّ لاقويّ فَانْتَصِرُ ، ولابريء فَاَعْتَذِرُ . اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ مُقِرٌّ مُذْنِبٌ مُسْتَغْفِرٌ . ثُمَّ مَاتَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ . بستان الواعظين لابن جوزي ص ۱۲۴ عمروبن العاص رضي الله عنه .

(۲) وَفِيْ بَعْضِ الْاَخْبَارِ : لِلْمَوْتِ ثَلَاثَةُ آلَافِ سكرة . كُلُّ سكرة مِنْهَا اَشَدُّ مِنْ اَلْفِ ضَرْبَةٍ بِالسَّيْفِ . بستان الواعظين ص ۱۲۰ سكرات الموت .

(۳) بستان الواعظين ص ۱۲۴ سكرات الموت .

نو حضرت عيسى عليه السلام د ده قبر ته راغې، اول يې دوه رکعته لمونځ وکړو او د الله تعالى نه يې دده مړي راژوندي کولو دُعا اوغوښته، الله تعالى د ده دُعا قبوله کړه، او سام بن نوح يې راژوندې کړو، دوى چې وليده نو د ده د سَر او ګيرې ويښتان سپين شوي وو، پوښتنه يې ورنه وکړه چې ستاسو په زمانه کې خو د ويښتانو سپينيدل نه وُ نو ستا دا ويښتان څنګه سپين شوي؟ ده ورته وويل:

سَمِعْتُ النِّدَاءَ فَظَنَنْتُ اَنَّ الْقِيَامَةَ قَدْ قَامَتْ فَشَابَ شَعْرُ رَأْسِيْ وَلِحْيَتِيْ.

ما چې دا آواز واوريده نو ما ګمان وکړو چې ګني قيامت قائم شو نو د يَرې د لاسه مې د سَر او ګيرې ويښتان سپين شو.

دوى ورنه پوښتنه وکړه: ستا د وفات کيدو څومره زمانه اوشوه؟ هغه ورته وويل:

مُنْذُ اَرْبَعَةِ آلَافِ سَنَةٍ وَمَا ذَهَبَتْ عَنِّيْ سَكَرَاتُ الْمَوْتِ. (۱)

څلور زره کاله مې اوشو خو تر اوسه پورې د ما نه د مرګ د سختيو اثرات نه دي ختم شوي.

## ملک الموت کافر ته په بَد او مؤمن ته په ښه شکل راځي

په رواياتو کې راځي (۲) چې حضرت ابراهيم عليه السلام ملک الموت ته وويل: آيا ته دا کولې شې چې ماته په هغه شکل و صورت کې ځان اوښائې په کوم کې چې ته د فاجر روح قبض کوې؟ ملک الموت ورته وويل: ته به ددې طاقت او نه لرې. ده ورته وويل: طاقت

(۱) تنبيه الغافلين باب هول الموت وشدته ص ۱۴ ط دارالفکر بيروت.

(۲) رُوِيَ اَنَّ اِبْرَاهِيْمَ عليه السلام قَالَ لِمَلَكِ الْمَوْتِ: هَلْ تَسْتَطِيْعُ اَنْ تُرِيَنِيَ الصُّوْرَةَ الَّتِيْ تَقْبِضُ فِيْهَا رُوْحَ الْفَاجِرِ؟ قَالَ: لَاتُطِيْقُ ذٰلِكَ. قَالَ: بَلٰى. قَالَ: فَاَعْرِضْ عَنِّيْ. فَاَعْرَضَ عَنْهُ فَالْتَفَتَ فَاِذَا هُوَ بِرَجُلٍ اَسْوَدَ قَائِمِ الشَّعْرِ مُنْتِنِ الرِّيْحِ يَخْرُجُ مِنْ فِيْهِ وَمَنَاخِرِهِ لَهِيْبُ الدُّخَانِ وَالنَّارِ فَغُشِيَ عَلَى اِبْرَاهِيْمَ ثُمَّ اَفَاقَ وَقَدْ عَادَ مَلَكُ الْمَوْتِ اِلٰى صُوْرَتِهِ الْاُوْلٰى فَقَالَ: يَا مَلَكَ الْمَوْتِ لَوْ لَمْ يَلْقَ الْفَاجِرُ عِنْدَ مَوْتِهِ اِلَّا صُوْرَةَ وَجْهِكَ لَكَانَ حَسْبُهُ. وَقَالَ: هَلْ تَسْتَطِيْعُ اَنْ تُرِيَنِيَ الصُّوْرَةَ الَّتِيْ تَقْبِضُ فِيْهَا رُوْحَ الْمُؤْمِنِ؟ قَالَ: نَعَمْ. فَاَعْرِضْ عَنِّيْ. فَاَعْرَضَ عَنْهُ ثُمَّ الْتَفَتَ فَاِذَا هُوَ بِشَابٍ فَذَكَرَ مِنْ حُسْنِ وَجْهِهِ وَحُسْنِ ثِيَابِهِ وَطِيْبِ رِيْحِهِ فَقَالَ: يَا مَلَكَ الْمَوْتِ! لَوْ لَمْ يَلْقَ الْمُؤْمِنُ عِنْدَ الْمَوْتِ اِلَّا صُوْرَتَكَ كَانَ حَسْبُهُ. نزهة الناظرين فى الاخبار والآثار المروية عن الانبياء والصالحين ص ۶۲۴.

رلې شم . ملک الموت ورته وویل : ته مخ واړوه ، نو چې مخ یې واړو او واپس یې ده ته
ته نو وې لیده چې یو تک تور سړی دی ، وېښته وریاندې ولاړ دي ، سخته بدبویي ورنه
، د خولې نه یې د اور لمبې را اوځي . کله چې ابراهیم علیه السلام دا اوکته نو بې هوشه
و ، کله چې په هوش کې راغې نو ملک الموت خپل اولني صورت کې ولاړ ؤ ، ده ورته
ویل :

اې ملک الموت ! که چیرته فاجر سړی د مرګ په وخت صرف ستا دا مخ اوګوري نو هم
ده د پاره دا جزاء کافي ده .

بیا ابراهیم علیه السلام ورته وویل : آیا ته دا کولې شې چې په هغه صورت کې راته ځان اوښائې
په کوم صورت کې چې ته د مؤمن روح قبض کوی ؟ ده ورته وویل : آو . خو مخ واړوه ، نو
ابراهیم علیه السلام چې مخ واړول او بیا یې ده ته اوکته نو یو ډیر ښکلې مخ او ښائسته لباس
واله ځوان ؤ ، او بهترینه خوشبوی ورنه تلله .

ابراهیم علیه السلام ورته وویل : اې ملک الموت ! که چیرته مؤمن د مرګ په وخت
صرف ستا دا ښکلې صورت اوګوري نو ده د پاره دا هم کافي دی .

## د یوې غلط فهمۍ ازاله . او د اعتراض جواب

نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي چې : د مومن روح په آسانۍ سره ووځي لکه
حدیث کې راځي : فَتَخْرُجُ تَسِيْلُ كَمَا تَسِيْلُ الْقَطْرَةُ مِنَ السِّقَاءِ . (۱)
دا روح ده د بدن نه داسې (په اسانۍ او سهولت سره) را اوځي لکه څنګه چې د مُشک
نه د اوبو یوه قطره رابهیږي .

او د کافر روح په ډیرې سختۍ سره اوځي : كَمَا يُنْتَزَعُ السُّفُّوْدُ مِنَ الصُّوْفِ الْمَبْلُوْلِ . (۲)
لکه څرنګ چې د لمدې وړۍ نه کنډه دار سیخ په سختۍ سره راویستلې شي .

خو که بل طرفته اوګورو نو په مومنانو او نیکانو باندې د مرګ سختۍ زیاتې وي ، تردې
پورې چې حضرت عائشه رضی الله عنها د پیغمبر علیه السلام باره کې وایي :

(۱) مشکوة باب تمنی الموت و ذکره حدیث ۱۵ .
(۲) مشکوة باب تمنی الموت و ذکره حدیث ۱۵ .

كَانَ بَيْنَ يَدَيْ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ رَكْوَةٌ أَوْ علبَةٌ فِيْهَا مَاءٌ فَجَعَلَ يُدْخِلُ يَدَيْهِ فِي الْمَاءِ فَيَمْسَحُ بِهِمَا وَجْهَهُ وَيَقُوْلُ: " لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ إِنَّ لِلْمَوْتِ سَكَرَات ". (۱)

د رسول الله صلى الله عليه وسلم د وفات په وخت د دوی مخې ته يو لوخې وُ په هغې کې اُوبه وی، نبي عليه السلام به په دې لوخي کې دواړه لاسونه ښکته کول او بيا به يې په مخ راښکل او دا به يې فرمايل: " لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ إِنَّ لِلْمَوْتِ سَكَرَات "

نشته دې لائق د عبادت مګر يو الله دی، بيشکه د مرګ ډيرې سختۍ دي.

د ترمذي شريف په حديث کې داسې الفاظ دي چې پيغمبر عليه السلام به فرمايل:

اَللّٰهُمَّ اَعِنِّيْ عَلٰى غَمَرَاتِ الْمَوْتِ او سَكَرَاتِ الْمَوْتِ. (۲)

اې الله! د مرګ سختۍ لرې کولو کې زما مدد وکړه، يا به يې دا فرمايل: يا الله! د مرګ شدت لرې کولو کې زما مدد وکړه.

او نبي عليه السلام به مسلسل دا دُعا غوښته: اَللّٰهُمَّ هَوِّنْ عَلَيَّ سَكَرَاتِ الْمَوْتِ. (۳)

اې الله! په ما باندې د مرګ سختۍ آسانې کړې.

دغه شان د نورو پيغمبرانو باره کې هم ذکر دي چې په دوی باندې د مرګ سختي راغلې وه.

اوس په دې دواړه قسمه روايتونو کې تضاد معلوميږي. خو ليکن حقيقت کې هيڅ تضاد نشته، ځکه چيرته چې په نيکانو باندې د مرګ د سختيو ذکر دی نو د هغې نه مراد د روح وتلو نه مخکې د بيمارۍ سختي او تکليف مراد دی، او دا په نيکانو باندې کله د ګناهونو معاف کولو، او کله د درجو اوچتولو د پاره راځي، او چيرته چې ذکر دي چې د

(۱) اخرجه البخاري (۶/ ۱۶)، لزهة الناظرين في الاخبار والآثار المروية عن الانبياء والصالحين ص ۶۲۴.

(۲) رواه الترمذي، رياض الصالحين باب ما يقوله من ايس من حياته حديث ۹۱۰.

(۳) وَيَقُوْلُ مَرَّةً بَعْدَ مَرَّةٍ: اَللّٰهُمَّ هَوِّنْ عَلَيَّ سَكَرَاتِ الْمَوْتِ. اخرجه الامام احمد في مسنده (۶/ ۴۶)، والترمذي ۹۷۸ بنحوه، بستان الواعظين لابن جوزي رحمه الله ص ۱۱۸ سكرات الموت.

مومن روح په اسانۍ سره اوځي نو ددينه مراد عينِ د روح وتلو حالت دی يعنی د عينِ روح وتلو په وخت کې په مومن باندې آساني وي . (۱)

بلکه دير کرَته داسې اوشي چې کافر د څه خير کارونه کړي وي نو ددې بَدله په دُنيا کې خلاصولو د پاره د مرګ نه مخکې د مرګ سختي په ده باندې آسانه کړي ، البته د روح وتلو په وخت کې په ده باندې ديره سختي وي . (۲)

همدغه شان مضمون حضرت زيد بن اسلم د خپل پلار نه هم نقل کړی : چې کله مومن د خپل عمل په وجه غټو درجو ته نشي رسيدې نو په ده باندې د مرګ سختي راوستې شي ، ددې د پاره چې په دې سختي او تکليف سره دې د جنت اوچتو مرتبو ته اورسي .

او کله چې کافر د څه خير کار کړې وي او ده ته په دُنيا کې ددې بدله نه وي ورکړې شوي نو د مرګ په وخت په ده باندې آساني کولې شي، ددې دپاره چې ددې نيک کار بدله ورته په دُنيا کې ورپوره کړې شي او بيا جهنم ته لاړ شي . (۳)

## مرګ د مؤمن د پاره تحفه ده

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

تُحفَةُ المُؤمِنِ اَلمَوتُ . (۴) د مومن تحفه مرګ دی .

ځکه د مرګ په وجه انسان ته د الله ﷻ ملاقات او د آخرت اوچتې درجې نصيبه کيږي .

---

(۱) قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ إِنَّ نَفسَ المُؤمِنِ تَخرُجُ رَشحًا وَإِنَّ نَفسَ الكَافِرِ تُسَلُّ كَمَا تُسَلُّ نَفسُ الحِمَارِ ، وَإِنَّ المُؤمِنَ لَيَعمَلُ الخَطِيئَةَ فَيُشَدَّدُ عَلَيهِ عِندَ المَوتِ لِيُكَفِّرَ بِهَا .... التذكره للقرطبي ص ۱۹ باب منه في خروج نفس المؤمن والكافر . شرح الصدور ص ۲۸ باب من دنا اجله وكيفية الموت وشدته . آپ کے مسائل اور ان کا حل ج۲ ص ۴۶۶ .

(۲) مظاهر حق ج۲ ص ۱۲۵ .

(۳) عَن زَيدِ بنِ اَسلَمَ عَن أَبِيهِ قَالَ : إِذَا بَقِيَ عَلَى المُؤمِنِ مِن دَرَجَاتِهِ شَيءٌ لَم يَبلُغهَا بِعَمَلِهِ شُدِّدَ عَلَيهِ المَوتُ لِيَبلُغَ بِسَكَرَاتِ المَوتِ وَكُرَبِهِ دَرَجَتَهُ فِي الجَنَّةِ ، وَإِذَا كَانَ لِلكَافِرِ مَعرُوفٌ لَم يُجزَ بِهِ فِي الدُّنيَا هُوِّنَ عَلَيهِ فِي المَوتِ لِيَستَكمِلَ ثَوَابَ مَعرُوفِهِ لَيَصِيرَ إِلَى النَّارِ . نزهة الناظرين في الاخبار والآثار المروية عن الانبياء والصالحين ص ۶۲۴ كتاب ذكر الموت وما يتعلق به .

(۴) رواه البيهقي في شعب الايمان ، مشكوة باب تمني الموت وذكره حديث ۱۱ .

# د مومن مثال

نبي ﷺ فرمايي : د مومن مثال په دُنيا کې داسې دى لکه د ماشوم مثال د مور په خېټه کې. کله چې دا ماشوم د مور د خېټې نه راووځي نو اوژاړي ، ځکه دې د هغه خپل زوړ ځاى پسې خفه وي ، خو کله چې دا رڼا اوګوري او د مور شوده (پی ) اوڅکي نو (خوشحاله شي) بيا دوباره د مور خېټې ته تلل نه خوښوي .

دغه شان مومن بنده اول مرګ نه څه نا څه ويرېږي خو کله چې وفات شي او هلته نعمتونه او خپل مقام جنت کې اوګوري نو دې هم بيا دُنيا ته واپس راتلل نه غواړي . (۱)

## د مرګ په وجه مومن ته د دُنيا دتکليفونو نه راحت نصيبه کيږي

کله چې يو مومن وفات شي نو په دې سره دې د دُنيا دتکليفونو او مشقتونو نه نجات مومي. حضرت ابوقتادة رضي الله عنه وايي :

إِنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ مُرَّ عَلَيْهِ بِجَنَازَةٍ فَقَالَ : مُسْتَرِيْحٌ أَوْ مُسْتَرَاحٌ مِنْهُ . فَقَالُوْا : يَارَسُوْلَ اللهِ ! مَاالْمُسْتَرِيْحُ وَالْمُسْتَرَاحُ مِنْهُ ؟ فَقَالَ : اَلْعَبْدُ الْمُؤْمِنُ يَسْتَرِيْحُ مِنْ نَصَبِ الدُّنْيَا وَاَذَاهَا اِلَى رَحْمَةِ اللهِ ، وَالْعَبْدُ الْفَاجِرُ يَسْتَرِيْحُ مِنْهُ الْعِبَادُ وَالْبِلَادُ وَالشَّجَرُ وَالدَّوَابُّ . (۲)

يو ځل د رسول الله ﷺ د وړاندې يو جنازه تيره شوه نو پيغمبر ﷺ اوفرمايل : يا دا راحت موندونکې دى او يا د ده نه نورو خلقو ته راحت حاصل شو ، صحابه کرامو عرض وکړو: اې د الله رسوله ! راحت موندونکې ، او هغه کس چې نور خلق د ده نه راحت مومي دا څوک دي ؟ نبي عليه السلام ورته اوفرمايل : مومن بنده د خپل مرګ په ذريعه د دُنيا د غم او تکليف نه راحت مومي او د الله جل جلاله رحمت طرفته ځي .

او د فاجر (ګناهګار) سړي د مرګ په وجه د ده د شر او فساد نه نور بندګان ، ښهرونه ، اُونې او چارپيان ټول راحت مومي .

(۱) نزهة الناظرين في الاخبار والآثار المروية عن الانبياء والصالحين ص ۶۴۱ كتاب ذكر الموت وما يتعلق به .

(۲) متفق عليه ، مشكوة باب تمنى الموت وذكره حديث ۵ .

يعنی مومن ته چې په دُنيا کې کوم تکليفونه، مصيبتونه وي نو دې د مرګ په وجه د هغې نه نجات او مومې نو دا مرګ دده د پاره راحت شي.

او د فاجر وظالم د ظلم او فساد په وجه چونکه په غونډ عالم کې فساد خوريږي، بارانونه بند وي، او خلقو ته دده نه ضرر او تکليف وي، کله چې دې مړ شي نو ټولو ته دده نه راحت ملاؤ شي.

## د جنازې وړلو په وخت د نيک او بَد سړي آوازونه:

رسول الله ﷺ فرمايي:

إِذَا وُضِعَتِ الْجَنَازَةُ فَاحْتَمَلَهَا الرِّجَالُ عَلَى أَعْنَاقِهِمْ فَإِنْ كَانَتْ صَالِحَةً قَالَتْ قَدِّمُوْنِيْ. وَإِنْ كَانَتْ غَيْرَ صَالِحَةٍ قَالَتْ لِأَهْلِهَا: يَا وَيْلَهَا أَيْنَ تَذْهَبُوْنَ بِهَا. يَسْمَعُ صَوْتَهَا كُلُّ شَيْءٍ إِلَّا الْإِنْسَانُ، وَلَوْ سَمِعَ الْإِنْسَانُ لَصَعِقَ. (۲)

کله چې جنازه تياره کړې شي او خلق يې په خپلو اوږو باندې کېږدي (او قبرستان ته يې روانه کړي وي) نو که دا جنازه د نيک سړي وي نو دې خلقو ته وايي: ما خپل منزل ته زر اورسوئ، او که دا جنازه د بَدبخت سړي وي نو دې خلقو ته وايي: هاې افسوس، تاسو ما چيرته وړئ؟ نبي عليه السلام فرمايي: د جنازې دا آواز د انسان نه علاوه هر شي آوري، که انسان هم دا واوري نو بيهوشه به شي.

(۲) بخاري باب قول الميت وهو على الجنازة قَدِّمُوني باب ۱۲۲۷/۸۳۵، باب ۱۲۹۷/۸۷۳، مشكوة باب المشي بالجنازة والصلوة عليها حديث ۲.

# د مؤمن او کافر روح وتلو بيان:

حضرت ابو هريرة رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ او فرمايل: کوم سړي چې قريب الموت وي هغه ته فرښتې راشي نو که دا کس نيک وي ده ته د رحمت فرښتې وايي:

أُخْرُجِيْ أَيَّتُهَا النَّفْسُ الطَّيِّبَةُ كَانَتْ فِي الْجَسَدِ الطَّيِّبِ أُخْرُجِيْ حَمِيْدَةً وَأَبْشِرِيْ بِرَوْحٍ وَرَيْحَانٍ وَرَبٍّ غَيْرِ غَضْبَانَ.

اې پاکه روحه! چې په پاک بدن کې يې ددې جسم نه په داسې حالت کې را اوځه چې (د الله ﷻ او مخلوق په نزد) ستا تعريف کړې شوې دی، تاته دې خوشخبري وي د دائمي آرام وراحت، د جنت د پاکيزه رزق، او د الله ﷻ سره د ملاقات چې هغه په تا باندې غضبناک نه دی (بلکه د تا نه خوشحاله دی).

فرښتې به دې قريب الموت ته بار بار دا خبره کوي تر دې چې دا روح (په ډېر خوشحالی سره) دده د بدن نه را اوځي. بيا فرښتې دا آسمان طرفته وړي.

(په بعضو رواياتو کې دي چې ددې روح نه د مشکو په شان خوشبوئي ځي (۱)).

د آسمان دروازې دده د پاره خلاصې شي، د آسمان دَربانچي پوښتنه وکړي: مَنْ هَذَا؟ دا څوک دی؟ فرښتې ورته ووايي: داد فلانکي سړي روح دی (دده نوم او نسب ورته ذکر کړي)، د هغوی د طرفه ورته وويل شي:

مَرْحَبًا بِالنَّفْسِ الطَّيِّبَةِ كَانَتْ فِي الْجَسَدِ الطَّيِّبِ أُدْخُلِيْ حَمِيْدَةً وَأَبْشِرِيْ بِرَوْحٍ وَرَيْحَانٍ وَرَبٍّ غَيْرِ غَضْبَانَ.

دې پاک روح ته دې مرحبا (او آفرين) وي چې په پاک بدن کې وُ، او اې پاکه روحه! ته په آسمان کې په داسې حالت کې داخل شه چې ستا تعريف شوې، او تاته دې خوشخبري وي د راحت، د جنت د پاکيزه رزق او د پروردګار سره د ملاقات چې په تا باندې غضبناک نه دی

(۱) مشکوة باب تمنی الموت وذکره حدیث ۱۳.

دې روح ته به مسلسل دا خبره کولې شي تردې چې هغه آسمان (عرش) ته اورسي کوم ځای چې د الله ﷻ خاص رحمت موجود وي.

او کله چې يو بد کار کافر سړی مړ کيږي نو ملک الموت ورته وايي:

أُخْرُجِيْ أَيَّتُهَا النَّفْسُ الْخَبِيْثَةُ كَانَتْ فِي الْجَسَدِ الْخَبِيْثِ أُخْرُجِيْ ذَمِيْمَةً وَأَبْشِرِيْ بِحَمِيْمٍ وَغَسَّاقٍ وَاٰخَرَ مِنْ شَكْلِهٖ أَزْوَاجٍ.

اې خبيثه روحه چې په دې خبيث (ناپاکه) بدن کې وې ددې بدن نه را اوځه په داسې حال کې چې ستا بَدي بيان کړې شوی، او ته دګرمو ايشيدلو اوبو، دنَو (پيپ) او نور قسما قسم عذابونو زيرې قبول کړه (چې تاته به دا عذابونه درکولې شي).

دې بدبخت قريب الموت کس ته به بار بار دا خبره کولې شي تر دې چې دا روح دده د بدن نه (په ډير تکليف سره) رااوځي.

(په بعضو رواياتو کې راځي چې ددې روح نه به د مرداري په شان بدبويي ځي (۱))

بيا به دا آسمان طرفته وړې ورل شي (ددې د پاره چې ذلت او رسوايي په ده ظاهره کړې شي). هر کله چې دده د پاره د آسمان دروازې خلاصې کړې شي، دربانچي به پوښتنه وکړي: مَنْ هٰذَا؟ دا څوک دی؟

فرښتې به جواب ورکړي: دا فلانکې کس دی، نو ورته اوبه ويلې شي:

لَا مَرْحَبًا بِالنَّفْسِ الْخَبِيْثَةِ كَانَتْ فِي الْجَسَدِ الْخَبِيْثِ اِرْجِعِيْ ذَمِيْمَةً فَإِنَّهَا لَا تُفْتَحُ لَكَ أَبْوَابُ السَّمَآءِ.

ددې خبيث روح د پاره دې مرحبا نه وي (بلکه په ده دې لعنت وي) کوم چې په خبيث جسم کې وُ (اې خبيث روحه!) واپس لاړ شه په داسې حال کې چې ستا بدي بيان شوی ده، ستا دپاره دآسمان دروازې نشي خلاصيدی.

(۱) مشکوة باب تمنی الموت وذکره حديث ۱۴.

نو دغه روح به د آسمان نه راوويشتلې شي او د هغه قبر طرفته به راشي . (۱)

**فائده** : معلومه شوه چې د کافر روح د آسمان نه راشړلې شي او هميشه د پاره په أسفل السّافلين کې قيد کولې شي ، البته د مومن روح ته آزادي وي په آسمانونو او ځمکه کې چې چيرته اوغواړي نو سيل کوي ، د جنت ميوې خوري ، د عرش لاندې قنديلونو طرفته ځي او په قبر کې د خپل جسم سره يې هم تعلق وي . (۲)

## د مومن روح په ډير عزت او آسانۍ سره اوځي

په مشکوة شريف کې اوږد حديث دی په کوم کې چې د مومن او کافر د روح وتلو تفصيل بيان شوی . نبي عليه السلام فرمايي :

کله چې د مومن بنده تعلق د دُنيا نه کټ کيږي او آخرت طرفته متوجه کيږي ( يعنی قريب الموت شي ) نو هغه ته د آسمان نه داسې روښانه مخ واله فرښتې رابښکته شي ( او مخونه يې داسې ځليږي ) ګويا چې د دوی مخونه لکه د نمر دي ، دوی سره د جنت ( د وريښمو ) کفن او د جنت خوشبوی وي ، تردې چې دوی ( د کمالِ أدب او روح وتلو په انتظار کې ) د دې مومن نه په دومره فاصله کې کيني څومره چې دده نظر رسي .

بيا ملک الموت رانزدې شي تر دې چې دده سَر ته نزدې کيني او ورته وايي :

---

(۱) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ اَلْمَيِّتُ تَحْضُرُهُ الْمَلَائِكَةُ فَإِذَا كَانَ الرَّجُلُ صَالِحًا قَالُوْا " اُخْرُجِيْ أَيَّتُهَا النَّفْسُ الطَّيِّبَةُ كَانَتْ فِي الْجَسَدِ الطَّيِّبِ اُخْرُجِيْ حَمِيْدَةً وَأَبْشِرِيْ بِرَوْحٍ وَرَيْحَانٍ وَرَبٍّ غَيْرِ غَضْبَانَ " فَلَا تَزَالُ يُقَالُ لَهَا ذٰلِكَ حَتّٰى تَخْرُجَ ثُمَّ يُعْرَجُ بِهَا إِلَى السَّمَاءِ فَيُفْتَحُ لَهَا فَيُقَالُ مَنْ هٰذَا ؟ فَيَقُوْلُوْنَ فُلَانٌ فَيُقَالُ مَرْحَبًا بِالنَّفْسِ الطَّيِّبَةِ كَانَتْ فِي الْجَسَدِ الطَّيِّبِ اُدْخُلِيْ حَمِيْدَةً وَأَبْشِرِيْ بِرَوْحٍ وَرَيْحَانٍ وَرَبٍّ غَيْرِ غَضْبَانَ فَلَا تَزَالُ يُقَالُ لَهَا ذٰلِكَ حَتّٰى تَنْتَهِيَ إِلَى السَّمَاءِ الَّتِيْ فِيْهَا اللهُ فَإِذَا كَانَ الرَّجُلُ السَّوْءِ قَالَ : اُخْرُجِيْ أَيَّتُهَا النَّفْسُ الْخَبِيْثَةُ كَانَتْ فِي الْجَسَدِ الْخَبِيْثِ اُخْرُجِيْ ذَمِيْمَةً وَأَبْشِرِيْ بِحَمِيْمٍ وَغَسَّاقٍ وَآخَرَ مِنْ شَكْلِهِ أَزْوَاجٌ فَمَا تَزَالُ يُقَالُ لَهَا ذٰلِكَ حَتّٰى تَخْرُجَ ثُمَّ يُعْرَجُ إِلَى السَّمَاءِ فَيُفْتَحُ لَهَا فَيُقَالُ مَنْ هٰذَا ؟ فَيُقَالُ فُلَانٌ فَيُقَالُ لَا مَرْحَبًا بِالنَّفْسِ الْخَبِيْثَةِ كَانَتْ فِي الْجَسَدِ الْخَبِيْثِ اِرْجِعِيْ ذَمِيْمَةً فَإِنَّهَا لَا تُفْتَحُ لَكِ أَبْوَابُ السَّمَاءِ فَتُرْسَلُ مِنَ السَّمَاءِ ثُمَّ تَصِيْرُ إِلَى الْقَبْرِ . رواه ابن ماجه ، مشکوة باب تمنی الموت وذکره حديث ۱۲ .

(۲) مظاهر حق شرح مشکوة ج ۳ ص ۱۱۴ .

أَيَّتُهَا النَّفْسُ الطَّيِّبَةُ ! أُخْرُجِيْ إِلَى مَغْفِرَةٍ مِنَ اللهِ وَرِضْوَانٍ.

اې پاکه روحه ! ته د الله ﷻ مغفرت او د الله ﷻ رضا حاصلولو د پاره ددې جسم نه راووځه. نبي عليه السلام اوفرمايل : فَتَخْرُجُ تَسِيْلُ كَمَا تَسِيْلُ الْقَطْرَةُ مِنَ السِّقَاءِ.(۱) دا روح دده د بدن نه داسې (په اسانۍ او سهولت سره) را اوځي لکه څنګه چې د مُشک نه د اُوبو يوه قطره رابهيږي.

نو ملک الموت دا روح راواخلي، بيا نورې فرښتې د ډير شوق د وجې نه دغه روح د ملک الموت د لاس نه سمدستي واخلي او هغه جنتي کفن او خوشبوی کې يې کيږدي کوم چې دوی د ځان سره راوړې وي، او ددې روح نه داسې بهترينه خوشبوی ځي لکه په مخ د زمکه چې د ټولو نه بهترين مشک وي.

رسول الله ﷺ فرمايي چې : دا فرښتې دا روح پورته روان کړي، نو دوی چې (د آسمان او زمکې په مينځ کې) د فرښتو په کوم ټولي باندې تيريږي هغوی ورنه پوښتنه کوي :

مَا هَذَا الرُّوحُ الطَّيِّبُ ؟ دا پاک روح د چا دی ؟ دوی ورته جواب ورکړي : دا د فلان بن فلان روح دی. دا فرښتې ددې کس هغه بهترين نوم، لقب او اوصاف ذکر کړي په کومو سره چې به د دُنيا واله خلقو دې يادولو.

(تر د آسمانه پورې هره ډله د فرښتو دغه پوښتنه کوي او دوی ورته دغه جواب ورکوي) تر دې چې فرښتې دا روح آسمانِ دُنيا (رومبي آسمان) ته اورسوي، دده د پاره دآسمان دروازې خلاصې شي، د هرآسمان فرښتې (دده د اعزاز و اکرام د پاره) دده سره د راتلونکي آسمان پورې ځي، تر دې چې (په ډير عزت سره) اووم آسمان ته دا روح اورسولې شي، نو الله رب العزت فرښتو ته فرمايي :

(اې فرښتو !) ددې بنده عملنامه عليين کې کيږدئ (عليين په اووم آسمان کې يو ځای دی چې په دې کې د نيکانو عمل نامې پرتې وي) او دا روح زمکې (بدن) طرفته واپس ورسوئ (ددې د پاره چې په قبر کې ورنه سوال وجواب اوشي) ځکه بيشکه ما جسمونه د

(۱) مشكوة باب تمنى الموت و ذكره حديث ۱۵.

زمکې په پيدا کړي او دې زمکې ته به يې واپس ليږم، او بيا به يې د همدې زمکې نه دوباره (د قيامت په ورځ) را اوباسم.

نبي کريم صلى الله عليه وسلم اوفرمايل: چې دده روح بدن ته واپس راوړې شي.. (۱)

## د کافر روح په ډېر سختئ سره اوځي

بيا نبي کريم ﷺ اوفرمايل چې کله د کافر بنده تعلق د دُنيا نه په کټ کيدو شي، او آخرت طرفته متوجه شي (يعنى د مرګ وخت يې نزدې شي) نو ده ته د آسمان نه (د عذاب) تورمخې فرښتې راشي، د هغوى سره ټاټ وي، ددې کافر نه په دومره اندازه کې کيني څومره چې دده نظر رسي، بيا ملک الموت ده ته راشي، دده سره نزدې کيني او ورته وايي:

أَيَّتُهَا النَّفْسُ الْخَبِيْثَةُ أُخْرُجِيْ إِلَى سَخَطٍ مِّنَ اللهِ.

اې خبيث روحه! د الله ﷻ د طرفه په عذاب کې مبتلاء کيدو د پاره ددې جسم نه را اوځه

نبي عليه السلام اوفرمايل: د کافر روح دې اوريدو سره (د الله ﷻ د عذاب د يَرې) دده په جسم کې خورشي (او پټ شي) نو ملک الموت دا دومره په سختئ او زُور سره بهر

(۱) نبي عليه السلام فرمايي: إِنَّ الْعَبْدَ الْمُؤْمِنَ إِذَا كَانَ فِيْ إِنْقِطَاعٍ مِّنَ الدُّنْيَا وَإِقْبَالٍ فِي الْآخِرَةِ نَزَلَ إِلَيْهِ مَلَائِكَةٌ مِّنَ السَّمَاءِ بِيْضُ الْوُجُوْهِ كَأَنَّ وُجُوْهَهُمُ الشَّمْسُ مَعَهُمْ كَفَنٌ مِّنْ أَكْفَانِ الْجَنَّةِ وَحُنُوْطٌ مِّنْ حُنُوْطِ الْجَنَّةِ حَتَّى يَجْلِسُوْا مِنْهُ مَدَّ الْبَصَرِ ثُمَّ يَجِيْءُ مَلَكُ الْمَوْتِ عَلَيْهِ السَّلَامُ حَتَّى يَجْلِسَ عِنْدَ رَأْسِهِ فَيَقُوْلُ: أَيَّتُهَا النَّفْسُ الطَّيِّبَةُ! أُخْرُجِيْ إِلَى مَغْفِرَةٍ مِّنَ اللهِ وَرِضْوَانٍ. قَالَ: فَتَخْرُجُ تَسِيْلُ كَمَا تَسِيْلُ الْقَطْرَةُ مِنَ السِّقَاءِ فَيَأْخُذُهَا فَإِذَا أَخَذَهَا لَمْ يَدَعُوْهَا فِيْ يَدِهِ طَرْفَةَ عَيْنٍ حَتَّى يَأْخُذُوْهَا فَيَجْعَلُوْهَا فِيْ ذٰلِكَ الْكَفَنِ وَفِيْ ذٰلِكَ الْحَنُوْطِ وَيَخْرُجُ مِنْهَا كَأَطْيَبِ نَفْحَةِ مِسْكٍ وُجِدَتْ عَلَى وَجْهِ الْأَرْضِ قَالَ: فَيَصْعَدُوْنَ بِهَا فَلَا يَمُرُّوْنَ يَعْنِيْ بِهَا عَلَى مَلَاءٍ مِّنَ الْمَلَائِكَةِ إِلَّا قَالُوْا: مَا هٰذَا الرُّوْحُ الطَّيِّبُ؟ فَيَقُوْلُوْنَ فُلَانُ بْنُ فُلَانٍ بِأَحْسَنِ أَسْمَائِهِ الَّتِيْ كَانُوْا يُسَمُّوْنَهُ بِهَا فِي الدُّنْيَا حَتَّى يَنْتَهُوْا بِهَا إِلَى السَّمَاءِ الدُّنْيَا فَيَسْتَفْتِحُوْنَ لَهُ فَيُفْتَحُ لَهُمْ فَيُشَيِّعُهُ مِنْ كُلِّ سَمَاءٍ مُقَرَّبُوْهَا إِلَى السَّمَاءِ الَّتِيْ تَلِيْهَا حَتَّى يُنْتَهَى بِهِ إِلَى السَّمَاءِ السَّابِعَةِ فَيَقُوْلُ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ: أُكْتُبُوْا كِتَابَ عَبْدِيْ فِيْ عِلِّيِّيْنَ وَأَعِيْدُوْهُ إِلَى الْأَرْضِ فَإِنِّيْ مِنْهَا خَلَقْتُهُمْ وَفِيْهَا أُعِيْدُهُمْ وَمِنْهَا أُخْرِجُهُمْ تَارَةً أُخْرَى. قَالَ: فَيُعَادُ رُوْحُهُ فِيْ جَسَدِهِ... مشكوة باب تمنى الموت و ذكره حديث ۱۵.

رااوباسي : كَمَا يُنْتَزَعُ السَّفُّوْدُ مِنَ الصُّوْفِ الْمَبْلُوْلِ. څنګه چې د لمده وړې نه کنډه دار کړه سيخ په ډيرې سختۍ راويستلې شي .

نو ملک الموت دا روح ونيسي ، د سترګو په رپ کې ډير په جلتۍ سره نورې فرښتې ورنه دا روح واخلي او په هغه ټاټ کې يې راتول کړي ، په زمخ د زمکه د بَدترينې مردارۍ په شان بدبوئي ددې روح نه ځي .

فرښتې دا روح آسمان طرفته روان کړي ، هر کله چې دوی د (آسمان او زمکې په مينځ کې د ) فرښتو په کوم ټولي باندې تيريږي نو هغوی ورنه پوښتنه کوي :

مَا هٰذَا الرُّوْحُ الْخَبِيْثُ؟ دا ناكاره روح د چا دی ؟

دا روح وړونکې فرښتې ورته جواب ورکوي : دا د فلان بن فلان سړي روح دی ، فرښتې دده هغه بدترين نوم او اوصاف ذکر کړي په کوم سره به چې دې په دُنيا کې بللې شو ، تردې چې دا روح آسمان دُنيا ته اورسولې شي ، دده د پاره د آسمان دروازې خلاصولو د پاره وويلې شي خو دده د پاره دروازه خلاصه نه شي .

بيا رسول الله ﷺ ( د استدلال په طور ) دا آيت اولوستو :

﴿لَا تُفَتَّحُ لَهُمْ أَبْوَابُ السَّمَآءِ وَلَا يَدْخُلُوْنَ الْجَنَّةَ حَتّٰى يَلِجَ الْجَمَلُ فِيْ سَمِّ الْخِيَاطِ ...﴾ ..(۱)

ترجمه : نه به شي کلاوولې دوی ته دروازې د آسمان ، او نه به دوی جنت ته داخل شي تر دی چې اُوښ د ستنې په سوري کې تير شي . ( يعنی هيڅ کله به دوی جنت ته داخل نشي ) .

بيا الله ﷻ فرښتو ته اوفرمايي : اې فرښتو ! دده عملنامه په سجّين کې کيدئ ( سجّين د اوومې زمکې لاندې د دوزخ د يو ژور ځای نوم دی چيرته چې د جهنميانو عمل نامې ايښودلې شي ) نو دده روح د بَره نه را اوغورځولې شي ، بيا نبي کريم صلى الله عليه وسلم ( د استدلال په طور ) دا آيت ولوستو :

---

(۱) سورة الأعراف آيت ۴۱ .

﴿ وَمَن يُشْرِكْ بِاللَّهِ فَكَأَنَّمَا خَرَّ مِنَ السَّمَاء فَتَخْطَفُهُ الطَّيْرُ أَوْ تَهْوِي بِهِ الرِّيحُ فِي مَكَانٍ سَحِيقٍ ﴾ (۱)

ترجمه : او څوک چې د الله ﷻ سره شریک مقرر کړي نو (هغه داسې دی) ګویا هغه د آسمان نه راپریوتلو ، پس اوتختوي ده لره مارغان ، یا اوغورځوي ده لره هوا په یو لرې ځای کې . (یعنی شیطان دې ګمراه کړي او د الله ﷻ د رحمت نه لرې شي) .

رسول الله ﷺ اوفرمایل : بیا دده روح دده بدن ته واپس راوړې شي . (۲)

## د مومن په روح فرښتې رحمت لیږي

په یو روایت کې داسې الفاظ دي : نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي :

کله چې د مومن روح د ده د بدن نه اوځي نو هره فرښته کومه چې د آسمان او زمکې په مینځ کې ده یا په آسمان کې ده دا ټولې په ده باندې رحمت لیږي ، ده ته د آسمان دروازه پرانستلې شي ، او د هر آسمان فرښتې د الله ﷻ نه دا دُعا کوي چې ددې مومن روح دې زمونږ د طرفه آسمان ته وې وړل شي (ددې د پاره چې مونږ دده سره د تللو شرف حاصل کړو)

---

(۱) سورة الحج آیت ۳۱ .

(۲) نبي علیه السلام فرمایي : إِنَّ الْعَبْدَ الْكَافِرَ إِذَا كَانَ فِي إِنْقِطَاعٍ مِنَ الدُّنْيَا وَإِقْبَالٍ مِنَ الْآخِرَةِ نَزَلَ إِلَيْهِ مِنَ السَّمَاءِ مَلَائِكَةٌ سُودُ الْوُجُوهِ مَعَهُمُ الْمُسُوحُ فَيَجْلِسُونَ مِنْهُ مَدَّ الْبَصَرِ ثُمَّ يَجِيءُ مَلَكُ الْمَوْتِ حَتَّى يَجْلِسَ عِنْدَ رَأْسِهِ فَيَقُولُ : أَيَّتُهَا النَّفْسُ الْخَبِيثَةُ أُخْرُجِي إِلَى سَخَطٍ مِنَ اللَّهِ . قَالَ فَتَفَرَّقُ فِي جَسَدِهِ . فَيَنْتَزِعُهَا كَمَا يُنْتَزَعُ السَّفُّودُ مِنَ الصُّوفِ الْمَبْلُولِ فَيَأْخُذُهَا فَإِذَا أَخَذَهَا لَمْ يَدَعُوهَا فِي يَدِهِ طَرْفَةَ عَيْنٍ حَتَّى يَجْعَلُوهَا فِي تِلْكَ الْمُسُوحِ وَتَخْرُجُ مِنْهَا كَأَنْتَنِ رِيحِ جِيفَةٍ وُجِدَتْ عَلَى وَجْهِ الْأَرْضِ فَيَصْعَدُونَ بِهَا فَلَا يَمُرُّونَ بِهَا عَلَى مَلَاءٍ مِنَ الْمَلَائِكَةِ إِلَّا قَالُوا : مَا هَذَا الرُّوحُ الْخَبِيثُ ؟ فَيَقُولُونَ : فُلَانُ بْنُ فُلَانٍ بِأَقْبَحِ أَسْمَائِهِ الَّتِي كَانَ يُسَمَّى بِهَا فِي الدُّنْيَا حَتَّى يُنْتَهَى بِهِ إِلَى السَّمَاءِ الدُّنْيَا فَيُسْتَفْتَحُ لَهُ فَلَا يُفْتَحُ لَهُ . ثُمَّ قَرَءَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ : ﴿ لَا تُفَتَّحُ لَهُمْ أَبْوَابُ السَّمَاءِ وَلَا يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ حَتَّى يَلِجَ الْجَمَلُ فِي سَمِّ الْخِيَاطِ ... ﴾ فَيَقُولُ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ : أُكْتُبُوا كِتَابَهُ فِي سِجِّينٍ فِي الْأَرْضِ السُّفْلَى فَتُطْرَحُ رُوحُهُ طَرْحًا . ثُمَّ قَرَأَ : ﴿ وَمَنْ يُشْرِكْ بِاللَّهِ فَكَأَنَّمَا خَرَّ مِنَ السَّمَاءِ فَتَخْطَفُهُ الطَّيْرُ أَوْ تَهْوِي بِهِ الرِّيحُ فِي مَكَانٍ سَحِيقٍ ﴾ فَيُعَادُ رُوحُهُ فِي جَسَدِهِ .... مشکوة باب تمنی الموت وذکره حدیث ۱۵ .

او د کافر روح دده د بدن نه د رګونو ( او سختیو ) سره ویستلې شي ، نو د زمکې او آسمان ټولې فرښتې ، او هغه فرښتې چې په رومبي آسمان کې دي دا ټولې په ده باندې لعنت وایي ، د ده د پاره د آسمان دروازې بندولې شي ، او د رومبي آسمان دروازو واله ټولې فرښتې د الله ﷻ نه دا سوال کوي چې ددې کافر روح دې زمونږ د طرفه اونه خیجولې شي . (۱)

# مومن د روح وتلو په تکلیف نه پوهیږي

په مومن باندې د روح وتلو نه مخکې بیماري سخته وي د ګناهونو معاف کولو یا درجې اوچتولو د پاره ، خو د روح وتل په مومن باندې ډیر آسان وي ، حدیث کې راځي :

فَتَخْرُجُ تَسِيْلُ كَمَا تَسِيْلُ الْقَطْرَةُ مِنَ السِّقَاءِ . (۲)

دا روح دده د بدن نه داسې ( په اسانۍ او سهولت سره ) را اوځي لکه څنګه چې د مُشک نه د اُوبو یوه قطره رابهیږي .

او په یو حدیث کې ذکر دي :

يَخْرُجُ رُوحُ الْمُؤْمِنِ مِنْ جَسَدِهِ كَمَا يَخْرُجُ الشَّعْرُ مِنَ الْعَجِيْنِ .

د مومن روح دده د بدن نه داسې اوځي لکه ویښته چې د اُوړو نه څومره په آسانۍ سره اوځي

---

(۱) نبي علیه السلام فرمایي : إِذَا خَرَجَ رُوحُهُ صَلَّى عَلَيْهِ كُلُّ مَلَكٍ بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ وَكُلُّ مَلَكٍ فِي السَّمَاءِ وَفُتِحَتْ لَهُ أَبْوَابُ السَّمَاءِ ، لَيْسَ مِنْ أَهْلِ بَابٍ إِلَّا وَهُمْ يَدْعُونَ اللهَ أَنْ يُعْرَجَ بِرُوحِهِ مِنْ قِبَلِهِمْ . وَتُنْزَعُ نَفْسُهُ يَعْنِي الْكَافِرَ مَعَ الْعُرُوقِ فَيَلْعَنُهُ كُلُّ مَلَكٍ بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ وَكُلُّ مَلَكٍ فِي السَّمَاءِ . وَتُغْلَقُ أَبْوَابُ السَّمَاءِ لَيْسَ مِنْ أَهْلِ إِلَّا وَهُمْ يَدْعُونَ اللهَ أَنْ لَا يُعْرَجَ رُوحُهُ مِنْ قِبَلِهِمْ . رواه احمد ، مشكوة باب تمنى الموت و ذكره حديث ۱۵ . په یو حدیث کې ذکر دي ، نبي علیه السلام فرمایي : إِنَّ الْمُؤْمِنَ إِذَا احْتُضِرَ أَتَتْهُ الْمَلَائِكَةُ بِحَرِيْرَةٍ فِيهَا مِسْكٌ وَضَبَائِرُ الرَّيْحَانِ فَتُسَلُّ رُوحُهُ كَمَا تُسَلُّ الشَّعْرَةُ مِنَ الْعَجِيْنِ ، وَيُقَالُ لَهَا : أَيَّتُهَا النَّفْسُ الْمُطْمَئِنَّةُ ! اُخْرُجِيْ رَاضِيَةً وَمَرْضِيًّا عَنْكِ إِلَى رَوْحِ اللهِ وَكَرَامَتِهِ . فَإِذَا اُخْرِجَتْ رُوحُهُ وُضِعَتْ عَلَى ذٰلِكَ الْمِسْكِ وَالرَّيْحَانِ وَطُوِيَتْ عَلَيْهَا الْحَرِيْرَةُ وَبُعِثَ بِهَا إِلَى عِلِّيِّيْنَ ... اخرجه ابن ابی الدنیا مع اختلاف والبزار بلفظ المصنف ، احیاء العلوم ج۴ ص ۶۶۳ کتاب ذکر الموت ومابعده .

(۲) مشکوة باب تمنى الموت و ذکره حدیث ۱۵ .

## د مومن روح په آسانۍ سره وتل د قرآن کريم نه معلول :

يو عالِم دا سوچ کولو چې الله ﷻ خو په قرآن کريم کې فرمايلي :

﴿ وَلَا رَطْبٍ وَلَا يَابِسٍ إِلَّا فِيْ كِتَابٍ مُّبِيْنٍ ﴾ .(۱)

ترجمه : اُوچ او لُوند هر څه په روښانه کتاب کې موجود دي .

نو آيا په قرآن مجيد کې به داسې يو آيت وي چې په هغې سره د رسول الله ﷺ د دې حديث : '' يَخْرُجُ رُوْحُ الْمُؤْمِنِ مِنْ جَسَدِهٖ كَمَا يَخْرُجُ الشَّعْرُ مِنَ الْعَجِيْنِ '' مضمون او معنى قوي شي ؟ نو ده د سَر نه قرآن مجيد شروع کړو ، تر آخره پورې يې ختم کړو خو داسې مضمون يې په کې پيدا نه کړو . ( يعنى د ده دماغ ورته اونه رسيده ) .

د شپې يې خُوب وليده ، په خوب کې يې د پيغمبر ﷺ سره ملاقات اوشو ، ده د نبي ﷺ نه پوښتنه وکړه : اې د الله رسوله ! ما خو غونډ قرآن مجيد اوکته خو داسې مضمون مې په کې پيدا نه کړو چې د دې حديث معنى ورباندې قوي شي ، نو رسول الله ﷺ ورته اوفرمايل :

اُطْلُبْهُ فِيْ سُوْرَةِ يُوْسُفَ . په سورة يوسف کې دا مضمون اوګوره .

نو دې چې د خوب نه راپاڅيد ، سورة يوسف يې شروع کړو ، کله چې دې آيت ته را اورسيده :

﴿ وَقَالَتِ اخْرُجْ عَلَيْهِنَّ فَلَمَّا رَأَيْنَهٗ أَكْبَرْنَهٗ وَقَطَّعْنَ أَيْدِيَهُنَّ ﴾ .(۲)

کله چې هغه ښځو د حضرت يوسف ﷺ حُسن وليده او د ده په کتو کې مشغوله شوى نو د فروټو په ځاى يې خپل لاسونه پريکړه خو د پريکيدو په درد باندې پوهه نه شوى ( ځکه د حضرت يوسف ﷺ حُسن ته يې کته ) .

(۱) سورة الأنعام آيت ۵۹ .

(۲) سورة يوسف آيت ۳۱ .

نو دغه شان کله چې د مومن روح اوځي او دې د ښکلي مخ واله فرښتې، په جنت کې خپل مقام، د جنت نعمتونه، ښکلې او ښکلې حورې اوګوري، او دې هم د هغې په حُسن او کتو کې مشغوله شي نو دې هم د روح وتو په تکليف نه پوهيږي. (۱)

نو دې ته معلومه شوه چې د هغه حديث مضمون په دې آيت کې ذکر دی.

## د وفات کيدو نه پس د مومن د روح ځای

رسول الله ﷺ فرمايي:

إِنَّ أَرْوَاحَ الْمُؤْمِنِينَ فِي طَيْرٍ خُضْرٍ تَعْلُقُ بِشَجَرِ الْجَنَّةِ. (۲)

بيشکه (په عالم برزخ کې) د مومنانو روحونه د شنو مارغانو په قالب کې وي.

په يو بل حديث کې ذکر دي:

إِنَّمَا نَسَمَةُ الْمُؤْمِنِ طَيْرٌ تَعْلُقُ فِي شَجَرِ الْجَنَّةِ حَتَّى يَرْجِعَهُ اللهُ فِي جَسَدِهِ يَوْمَ يَبْعَثُهُ. (۳)

بيشکه (په عالم برزخ کې) د مومن روح (دده دعزت د پاره) د مارغه په قالب کې وي چې د جنت د اُونو ميوې خوري، نر دې چې د قيامت په ورځ کله چې الله ﷻ هغه را اوچت کړي نو دې به خپل بدن ته واپس اوليږي.

په يو روايت کې ورسره داسې الفاظ هم شته چې د مومنينو روحونه به د شنو مارغانو په قالب کې وي چې په جنت کې به ګرځيږي، د جنت ميوې به خوري، د جنت اُوبه به څکي او د عرش د لاندې د سرو زرو په قنديلونو کې به يې خپل د اوسيدو ځای جوړ کړې وي. (۴)

(نوټ: ددې مسئلې څه تشريح په صفحه ۱۹۴ کې هم ذکر ده)

(۱) شرح شرعة الاسلام، درّة الناصحين ص ۱۷۵ مجلس في بيان شدة الموت.
(۲) مشكوة باب تمنّي الموت و ذكره حديث ۲۱.
(۳) رواه مالک والنسائي والبيهقي في كتاب البعث والنشور، مشكوة باب تمنى الموت و ذكره حديث ۱۷.
(۴) مظاهر حق شرح مشكوة ج ۳ ص ۱۲۷

# مومن ته د مرګ په وخت د فرښتو زيرې

الله رب العزت فرمايي :

﴿ إِنَّ الَّذِينَ قَالُوا رَبُّنَا اللهُ ثُمَّ اسْتَقَامُوا تَتَنَزَّلُ عَلَيْهِمُ الْمَلَائِكَةُ أَلَّا تَخَافُوا وَلَا تَحْزَنُوا وَأَبْشِرُوا بِالْجَنَّةِ الَّتِي كُنتُمْ تُوعَدُونَ . نَحْنُ أَوْلِيَاؤُكُمْ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَفِي الْآخِرَةِ وَلَكُمْ فِيهَا مَا تَشْتَهِي أَنفُسُكُمْ وَلَكُمْ فِيهَا مَا تَدَّعُونَ . نُزُلًا مِّنْ غَفُورٍ رَّحِيمٍ ﴾ . (۱)، (۲)

ترجمه : بيشکه کومو خلقو چې دا اقرار وکړو چې زمونږ رب يو الله دی او بيا په دې باندې قائم پاتې شونو په هغوی به (د رحمت) فرښتې (اول د مرګ په وخت، بيا په قبر کې او بيا په قيامت کې (۳) ) راکوزيږي، او ورته وايي به : تاسو مه ويريږئ، او مه غمجن

---

(۱) سورة فصلت (حم السجده) آيت ۳۰ تا ۳۲.

(۲) ﴿ ثُمَّ اسْتَقَامُوا ﴾: فِيهِ ثَلَاثَةُ أَقْوَالٍ . أَحَدُهَا: اِسْتَقَامُوا عَلَى التَّوْحِيدِ . قاله ابوبكر الصديق ومجاهد . وَالثَّانِي: عَلَى طَاعَةِ اللهِ، وَأَدَاءِ فَرَائِضِهِ . قاله ابن عباس والحسن وقتادة . وَالثَّالِثُ: عَلَى الْإِخْلَاصِ وَالْعَمَلِ إِلَى الْمَوْتِ . قاله ابو العالية والسدي .

"تَتَنَزَّلُ عَلَيْهِمُ الْمَلَائِكَةُ" : وَفِي وَقْتِ نُزُولِهَا عَلَيْهِمْ قَوْلَانِ : أَحَدُهُمَا : عِنْدَ الْمَوْتِ . قاله ابن عباس ومجاهد . اَلثَّانِي: تَتَنَزَّلُ عَلَيْهِمْ إِذَا قَامُوا مِنَ الْقُبُورِ . قاله قتادة . زاد المسير في علم التفسير ج۴ ص ۵۱ سورة حم السجدة آيت ۳۰ .

وَقَالَ ابْنُ كَثِيرٍ رحمه الله فِي تَفْسِيرِهِ: قَالَ زَيْدُ بْنُ أَسْلَمَ : يُبَشِّرُونَهُ عِنْدَ مَوْتِهِ وَفِي قَبْرِهِ وَحِينَ يُبْعَثُ . وَهَذَا الْقَوْلُ يَجْمَعُ الْأَقْوَالَ كُلَّهَا . وَهُوَ حَسَنٌ جِدًّا ، وَهُوَ الْوَاقِعُ . ابن كثير ج۴/ ۱۱۷ .

﴿ أَلَّا تَخَافُوا وَلَا تَحْزَنُوا ﴾: أَيْ لَا تَخَافُوا الْمَوْتَ ، وَلَا تَحْزَنُوا عَلَى أَوْلَادِكُمْ . قاله مجاهد . ـ او ـ لَا تَخَافُوا: مَا أَمَامَكُمْ ، وَلَا تَحْزَنُوا عَلَى مَا خَلْفَكُمْ . قاله عكرمة والسدي . زاد المسير في علم التفسير ج۴ ص ۵۱ .

﴿ نَحْنُ أَوْلِيَاؤُكُمْ ﴾: أَيْ أَنْصَارُكُمْ وَأَحِبَّاءُكُمْ فِي الدُّنْيَا وَالْأَخِرَةِ . وَقَالَ السُّدِّي تَقُولُ الْمَلَائِكَةُ نَحْنُ الْحَفَظَةُ الَّذِينَ كُنَّا مَعَكُمْ فِي الدُّنْيَا وَنَحْنُ أَوْلِيَاءُكُمْ فِي الْأَخِرَةِ . يَقُولُونَ لَا نُفَارِقُكُمْ حَتَّى تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ .

﴿ وَلَكُمْ فِيهَا مَا تَشْتَهِي أَنفُسُكُمْ ﴾: مِنَ الْكَرَامَاتِ وَاللَّذَّاتِ . نزهة الناظرين في الاخبار والآثار المروية عن الانبياء والصالحين ص ۶۴۱ .

(۳) تفسير درمنثور ، معارف القرآن .

کيږئ ، او د هغه جنت زيږي واورئ د کوم چې تاسو سره وعده شوی وه ، مونږ (فرښتې) په دُنيا کې هم ستاسو دوستان وو ، او په آخرت کې به هم يو ، او چې څه (لذتونه او عزتونه) مو زړه غواړي هغه به درته په جنت کې حاضر وي ، او ستاسو د پاره به په جنت کې هر هغه څه موجود وي چې تاسو يې غواړئ ، دا (نعمتونه وغيره ستاسو د پاره) د ښښونکي او مهربان رب د طرف نه ميلمستيا ده .

## د مرګ يادولو فائده

قدرمنو ! که يو طرفته اوګورو نو د مرګ په يقيني والي د هر چا علم شته خو که بل طرفته اوګورو نو په خلقو کې د مرګ نه دومره غفلت او بې توَجّهي موجوده ده چې هيڅ څوک هم ددې ذکر نه خوښوي ، تر دې چې د خوشحالۍ په يو پروګرام کې که څوک د مرګ تذکره وکړي نو خلق پرې خفه کيږي .

حالانکه دا غفلت او بې پرواهي د ايماني تقاضو خلاف ده ، ځکه مومن ته خو هر وخت مرګ يادول په کار دي ، د قرآن په سوونو آيتونو کې د مرګ ، حشر نشر او د جنت او جهنم تفصيل مذکور دی .

دغه وجه ده چې رسول الله ﷺ هم خپل امت ته د مرګ د ياد ساتلو حکم کړې دی . نبي عليه السلام فرمايي :

" أَكْثِرُوْا ذِكْرَ هَاذِمِ اللَّذَّاتِ " يَعْنِيْ الْمَوْتَ . (۱)

تاسو دلذتونو ماتوونکې څيز يعنی مرګ ډير يادوئ .

حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنهما فرمايي : يو کرت د پيغمبر ﷺ نه پوښتنه اوشوه :

أَيُّ الْمُؤْمِنِيْنَ أَكْيَسُ ؟ په مومنانو کې د ټولو نه ډير هوښيار (او عقل مند) څوک دی ؟

نبي عليه السلام جواب ورکړو :

(۱) رواه ابن ماجه والترمذي وحسنه (۲۳۰۷) والنسائي ۴ / ۱۲) ورواه الطبراني في الاوسط باسناد حسن وابن حبان في صحيحه ، مشكوة باب تمنى الموت وذكره حديث ۹ .

اَكْثَرُهُمْ لِلْمَوْتِ ذِكْرًا وَاَحْسَنُهُمْ لِمَا بَعْدَهُ اِسْتِعْدَادًا اُولٰئِكَ الْاَكْيَاسُ . (۱)

په دوی کې چې څوک مرګ ډير يادوي او د مرګ نه روستو ژوند د پاره چې څوک ډير تياري کوي نو دغه خلق د ټولو نه زيات عقل مند دي .

ځکه د مرګ په يادولو سره د نفس اصلاح ډيره زر کيږي ، زړه يې نرميږي ، آخرت طرفته متوجه کيږي او په نيکو اعمالو ورته توفيق هم ملاويږي . حديث کې راځي :

مَا اَكْثَرَ رَجُلٌ اَلْمَوْتَ اِلَّا زَادَ ذٰلِكَ فِيْ عَمَلِهٖ . (۲)

کوم سړي چې مرګ ډير يادوي نو په دې سره ده ته د نيکو اعمالو توفيق ملاويږي .

## د مرګ په يادولو سره درې اعزازه

علامه سيوطي رحمه الله د بعضې علماؤ نه نقل کړي : څوک چې مرګ يادوي هغه ته به الله ﷻ د درې خبرو اعزاز او توفيق ورکوي :

۱ . تَعْجِيْلُ التَّوْبَةِ : يعنی دده نه چې څه ګناه اوشي نو زَر ورنه توبه اوباسي ، ځکه يريږي چې هسې نه بې توبې مړ شم .

۲ . قَنَاعَةُ الْقَلْبِ : يعنی زړه يې مطمئن وي ، په حرص او طمعه کې نه مبتلاء کيږي ، چې څه ورته ملاؤ شي په هغې صبر کوي ، او په دې سره ده ته طبعي سکون او د زړه راحت هم ملاويږي ، ځکه ده ته پته وي چې دا لږ ژوند دی په هر حالت کې تيريږي .

۳ . نَشَاطُ الْعِبَادَةِ : يعنی عبادت په پوره اطمينان او سکون سره کوي ، ځکه ده ته دا خطره وي چې هسې نه دا مې آخيري عبادت وي ، نو په ډير اطمينان او خوَند سره يې کوي .

## د مرګ هيرولو نقصانات :

او چا ته چې مرګ نه وي ياد نو هغه به په درې عذاب او محرُوميو کې مبتلاء کيږي :

(۱) رواه ابن ماجه ۳۲۴ ، و رواه البيهقي في الزهد ، الترغيب والترهيب ج۴ ص ۱۱۹ الترغيب في ذكر الموت وقصر الامل ، شرح الصدور ۴۳

(۲) اخرجه ابن ابي شيبه في مصنفه ( ۳۵۶۷۶ ) والبهقي في مجمع الزوائد ( ۱۰/۳۱۰ ) .

۱ . تَسْوِيْفُ التَّوْبَة : په توبه کې ټال مټول او تاخیر کول ، ځکه دده نه مرګ هیر وي نو توبه نه اوباسي ، دیر کرته په همدې حالت کې بې توبې مړ شي .

۲ . تَرْكُ الرِّضَا بِالْكَفَافِ : یعنی د ضرورت مطابق روزي باندې نه راضي کیږي ، بلکه همیشه د هَلْ مِنْ مَزِيْد ؟ په فکر کې وي ، حرص او لالچ یې زیات وي .

۳ . اَلتَّكَاسُلُ فِي الْعِبَادَةِ : په عبادت کې سستي کول او چستي ختمیدل . یعنی اول خو داسرې عبادت نه کوي او که کوي یې نو په طبعیت یې دیر دروند وي ځکه دده ته مرګ او د الله ﷻ د وړاندې حضور نه وي یاد .(۱)

## مرګ بهترین واعظ دی

دغه وجه ده چې مرګ د انسان د پاره بهترین واعظ دی . رسول الله ﷺ فرمايي :

كَفَىٰ بِالْمَوْتِ وَاعِظًا .(۲)

کافي دی مرګ د وعظ د پاره.

## حضرت عمر رضي الله عنه ځانته د مرګ رایادولو دپاره یو کس مقرر کړې ؤ

حضرت عمر رضي الله عنه جلیل القدر صحابي دی خو باوجود د دینه ده د ځان دپاره یو کس مقرر کړې ؤ ، او هغه ته یې ویلي ؤ چې ته ماته هر وخت مرګ رایادوه ، نو هغه به ده ته په هر مجلس او هره موقع کې مرګ رایادول . یوه ورځ حضرت عمر رضي الله عنه ده ته وویل :

---

(۱) وَقَالَ اللَّفَافُ : مَنْ اَكْثَرَ مِنْ ذِكْرِ الْمَوْتِ اُكْرِمَ بِثَلَاثَةَ اَشْيَاءَ : تَعْجِيْلُ التَّوْبَةِ . وَقَنَاعَةُ الْقَلْبِ . وَنَشَاطُ الْعِبَادَةِ . وَمَنْ نَسِيَ الْمَوْتَ عُوْقِبَ بِثَلَاثَةَ اَشْيَاءَ : تَسْوِيْفُ التَّوْبَةِ . وَتَرْكُ الرِّضَا بِالْكَفَافِ وَالتَّكَاسُلُ بِالْعِبَادَةِ . نزهة الناظرين في الاخبار والآثار المروية عن الانبياء والصالحين ص ۶۱۹ كتاب ذكر الموت وما يتعلق به . شرح الصدور ص ۲، التذكرة للقرطبي .

(۲) اخرجه العجلوني في كشف الخفاء (۱۹۳۳) ، والقضاعي في مسند الشهاب ۱۴۱۰ . والهيثمي في مجمع الزوائد (۱۰/ ۳۰۸) وذكره السيوطي في الدرالمنثور (۴/ ۲۴۰) ، ورواه الطبراني . الترغيب والترهيب ج۴ ص ۱۲۰ الترغيب في ذكر الموت وقصر الامل . . .

تاته اوس اجازت دی که چیرته بل کار کوې نو کوه يې. هغه ورنه پوښتنه وکړه : ايا اوس تاته د مرګ رايادولو ضرورت نشته ؟ ده خپلې ګيرې مبارکې ته اشاره وکړه په کومه کې چې سپين ويښتان پيدا شوي ؤ او ورته وې ويل :

دا سپين ويښتان ماته اوس د مرګ رايادولو دپاره کافي دي ، زه چې کله دې ته ګورم نو مرګ رايادېږي ( نو ځکه ماته اوس ستا د مرګ رايادولو ضرورت نشته ) . (۱)

## د عُمر بن عبدالعزيز رحمه الله معمول

د حضرت عمر بن عبدالعزيز رحمه الله معمول دا ؤ چې هغه به علماء راجَمعه کړه ، د مرګ، قيامت او آخرت تذکرې به يې کولې ، او ددغه احوالو نه دمتأثره کيدو په وجه به يې داسې په چغو چغو ژړل ګويا چې د هغه په مخکې کومه جنازه ايښودل شوې . (۲)

## د مرګ يادوونکي کس حشر د شهيدانو سره

يو کرت د نبي کريم ﷺ نه پوښتنه وشوه :

هَلْ يُحْشَرُ مَعَ الشُّهَدَاءِ اَحَدٌ ؟ آيا د شهيدانو سره به د چا حشر کيږي ؟

نبي عليه السلام ورته اوفرمايل : نَعَمْ مَنْ يَذْكُرُ الْمَوْتَ فِي الْيَوْمِ وَاللَّيْلَةِ عِشْرِيْنَ مَرَّةً . (۳)

آو ، څوک چې په شواروز کې شل (۲۰) کرَته مرګ يادوي .

## د مرګ په يادولو سره دزړه نه زَنګ لرې کيږي

رسول الله صلى الله عليه وسلم صحابه کرامو ته اوفرمايل : لکه څرنګ چې اُوسپنه زنګ نيسي نو دغه شان زړه هم ( د ګناهونو په وجه ) زنګ نيسي . صحابه کرامو پوښتنه وکړه :

وَمَا جِلَاءُهَا يَا رَسُوْلَ اللهِ ؟ اې د الله جل جلاله رسوله ! ددې د صفا کوله طريقه څه ده ؟

---

(۱) اهل دل کے تڑپا دینے والے واقعات ج۲ ص ۲۸۳ . .

(۲) وَكَانَ عُمَرُ بْنُ عَبْدِ الْعَزِيْزِ كُلَّ لَيْلَةٍ يَجْمَعُ الْفُقَهَاءَ فَيَتَذَاكَرُوْنَ الْمَوْتَ وَالْقِيَامَةَ ثُمَّ يَبْكُوْنَ حَتَّى كَأَنَّ بَيْنَ أَيْدِيْهِمْ جَنَازَةً . نزهة الناظرين في الاخبار والآثار المروية عن الانبياء والصالحين ص ۶۱۹ كتاب ذكر الموت وما يتعلق به ، التذكرة ص ۱۰ .

(۳) اتحاف السادة المتقين ( ۱۰ / ۲۲۹ ، نزهة الناظرين في الاخبار والآثار المروية عن الانبياء والصالحين ص ۶۱۸ .

نبي عليه السلام ورته او فرمايل: كَثْرَةُ ذِكْرِ الْمَوْتِ، وَتِلَاوَةُ الْقُرْآنِ. د مرګ ډير يادول او د قرآن مجيد تلاوت كول (په دې سره د زړه نه زَنګ صفا كيږي). (۱)

## د مرګ يادولو طريقه:

د مرګ يادولو طريقه داده چې سړې ځانله په تنهايي كې دا سوچ وكړي چې د حضرت آدم عليه السلام نه نيولې تر اوسه پورې چې څومره انسانان راغلي ټول د دې فاني دُنيا نه تللي، دغه شان به زه هم يو ځل د دې دُنيا نه ځم.

د مرګ، قبر او حشر باره كې چې څومره آيتونه راغلي دي د هغې بار بار مطالعه كول، او په دې موضوع چې څومره كتابونه ليكل شوي د هغې مطالعه كول.

همدارنګې مقبرې ته د مرګ رايادولو د پاره تلل، لكه حديث كې راځي، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي:

كُنْتُ نَهَيْتُكُمْ عَنْ زِيَارَةِ الْقُبُوْرِ فَزُوْرُوا الْقُبُوْرَ فَإِنَّهَا تُزَهِّدُ فِي الدُّنْيَا وَتُذَكِّرُ الْآخِرَةَ. (۲)

ما تاسو د زيارتونو نه منع كړي وئ، اوس تاسو د قبرونو زيارتونه كوئ، ځكه د قبرونو زيارت د دُنيا نه بې رغبتي او د آخرت فكر پيدا كوي.

په دې طريقې سره به انسان ته خپل مرګ رامخې ته كيږي او آخرت طرفته به يې توجّه پيدا كيږي.

---

(۱)

(۲) رواه ابن ماجه باسناد صحيح. الترغيب والترهيب ج۲ (۳/۳۲۰۱۳). په ابوداود شريف حديث كې دا حديث په دې الفاظو ذكر دى: نَهَيْتُكُمْ عَنْ زِيَارَةِ الْقُبُوْرِ فَزُوْرُوْهَا فَإِنَّ فِيْ زِيَارَتِهَا تَذْكِرَةً. ابوداود باب في زيارة القبور باب ۶۲۲ حديث ۱۲۵۸. ما تاسو مخكې قبرونو ته د تللو نه منع كولى، اوس تاسو زيارتونو ته ځي، ځكه د قبرونو په زيارت سره انسان ته آخرت رايادېږي.

# د آخرې خاتمې ښه کيدو دُعا په کار ده

قدرمنو ! انسان ته هيڅ کله په خپلو اعمالو باندې غاوِره کيدل نه دي په کار ، بلکه هميشه په زړه کې د الله ﷻ نه يَره په کار ده ، او د آخِرې خاتمې ښه کيدو دُعا په کار ده ، ځکه أصل اِعتبار آخِرې خاتمې ته دی . نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايي :

إِنَّمَا الْأَعْمَالُ بِالْخَوَاتِيْمِ . (۱) د عملونو د قبوليت دارو مدار په اخيري انجام دی .

په يو بل حديث کې راځي :

إِنَّ الرَّجُلَ لَيَعْمَلُ الزَّمَانَ الطَّوِيْلَ بِعَمَلِ أَهْلِ الْجَنَّةِ ثُمَّ يُخْتَمُ لَهُ عَمَلُهُ بِعَمَلِ أَهْلِ النَّارِ ، وَإِنَّ الرَّجُلَ لَيَعْمَلُ الزَّمَانَ الطَّوِيْلَ بِعَمَلِ أَهْلِ النَّارِ ثُمَّ يُخْتَمُ لَهُ بِعَمَلِ أَهْلِ الْجَنَّةِ . (۲)

بيشکه يو انسان به د أوږدې زمانې پورې د جنتيانو عمل کوي مګر خاتمه به يې د جهنميانو په عمل اوشي ، او کله يو انسان به د أوږدې زمانې پورې د جهنميانو عمل کوي مګر خاتمه به يې د جنتيانو په عمل باندې اوشي .

دغه وجه ده چې نبي کريم ﷺ به هم په دين او طاعت باندې د استقامت دُعا کوله .

حضرت عائشه رضی الله عنها وايي چې (۳) : رسول الله ﷺ به هميشه دا دُعا کوله :

يَا مُقَلِّبَ الْقُلُوْبِ ثَبِّتْ قَلْبِيْ عَلَى طَاعَتِكَ .

اې الله ! زما زړه په خپل اطاعت باندې کلک کړې .

حضرت عائشه رضی الله عنها وايي : ما ورته پوښتنه وکړه : اې د الله رسوله ! تاسو دا دُعا ولې ډيره کوئ ؟ آيا تاسو ته د څه خبرې خطره ده ؟

---

(۱) بخاري شريف ۲ / ۹۸۷ .

(۲) مسلم شريف ۲ / ۳۳۴ .

(۳) قَالَتْ عَائِشَةُ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُكْثِرُ أَنْ يَقُوْلَ : " يَا مُقَلِّبَ الْقُلُوْبِ ثَبِّتْ قَلْبِيْ عَلَى طَاعَتِكَ " فَقُلْتُ : يَارَسُوْلَ اللهِ إِنَّكَ تُكْثِرُ أَنْ تَدْعُوْا بِهَذَا الدُّعَاءِ . فَهَلْ تَخْشَى ؟ قَالَ : وَمَا يُؤْمِنُنِيْ يَا عَائِشَةُ وَقُلُوْبُ الْعِبَادِ بَيْنَ إِصْبَعَيْنِ مِنْ أَصَابِعِ الْجَبَّارِ إِذَا أَرَادَ أَنْ يُقَلِّبَ قَلْبَ عَبْدِهِ قَلَّبَهُ . اخرجه الترمذي ( ۲۱۴ ) نزهة الناظرين ... کتاب الرجاء والخوف ص ۵۵۹ ، التذکرة في احوال الموتى والاخرة ص ۴۳ .

نبي عليه السلام اوفرمايل : اې عائشې ! زه په خپل ځان ځنګه مطمئن شم چې کله د ټولو انسانانو زړونه د الله تعالى د دوه ګوتو په مينځ کې دي ( كَمَا يَلِيْقُ بِشَانِهٖ ) ، هغه چې کله هم اوغواړي او د چا زړه هم اوغواړي نو په اړولو يې قادر دى .

لهذا انسان ته هميشه د آخيرې خاتمې ښه کيدو دُعا په کار ده .

## د مرګ په وخت د شيطان دُهوکه کولو کوشش

وجه داده چې د انسان آزلي دشمن " شيطان " هميشه دا کوشش کوي چې په ځه طريقې سره انسان ګمراه کړي او ددې عظيم نعمت "ايمان" نه يې محرومه کړي .

حديث کې راځي :

اُحْضُرُوْا مَوْتَاكُمْ وَلَقِّنُوْا لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَبَشِّرُوْهُمْ بِالْجَنَّةِ فَاِنَّ الْحَلِيْمَ الْعَلِيْمَ مِنَ الرِّجَالِ وَالنِّسَاءِ يَتَحَيَّرُ عِنْدَ ذٰلِكَ الْمَصْرَعِ فَاِنَّ اِبْلِيْسَ عَدُوَّ اللهِ اَقْرَبُ مَا يَكُوْنُ مِنَ الْعَبْدِ فِيْ ذٰلِكَ الْمَوْطِنِ . (۱)

کوم انسان چې قريب الموت وي هغه ته حاضريږئ او هغه ته د کلمې طيبې " لا اله الا الله " تلقين ورکوئ ، او د جنت زيرې ورکوئ ، ځکه په دغه هيبت ناک وخت کې عقل مند سړي او عقل مندې ښځې هم حيرانيږي ( او حواس د لاسه ورکوي ) او شيطان په دغه وخت کې انسان ته ډير رانزدې کيږي ( او ده د ګمراه کولو کوشش کوي ) .

## د خلقو غلط فهمي او غفلت

قدرمنو ! ډير خلق په دې غلط فهمۍ کې پراته دي او وايي چې : " زه په خپله مسلمان يم، د مسلمان په کور کې پيدا يم ، کلِمه مې ويلى ، لمونځ کوم او نور عبادات کوم نو زما تلل خو جنت ته يقيني دي ، او که د ځه ګناهونو په وجه جهنم ته لاړ هم شم نو د ځه سزا خوړلو نه روستو به آخر هم د جهنم نه راواوځم او جنت ته به داخليږم ، ځکه مسلمان آخر هم د کليمې ويلو په وجه جنت ته داخليږي ، لهذا که زه ځه ډير عبادت نه کوم نو خير دى ، اوس به خپلې مزې اوکړم ".

---

(۱) اخرجه ابوداؤد ( ۳۱۱۷ ) والنسائي ( ۱ /۲۵۹ ) ، نزهة الناظرين في الاخبار والآثار المروية عن الانبياء والصالحين ص ۶۲۵ .

محترمو ! دا خبره صحيح ده چې مومن به آخر هم د جهنم نه را اوځي او جنت ته به داخليږي ، خو دا اطمينان او ګرنټي اوس څوک چاته ورکوي چې يو کس نن مسلمان دی نو ګنې صبا دې هم دې يقيني مسلمان وي ؟ يا دې دده آخيري خاتمه يقيني په ايمان سره وي ؟ ځکه شيطان هميشه په دې کوشش کې وي چې که کله هم دا مسلمان غافله شي دده نه ايمان سَلب کړي .

دغه وجه ده چې ډير واقعات داسې موجود دي چې د مرګ په وجه د ډيرو خلقو حالات د بعضو ګناهونو په وجه داسې خراب شوي چې آخيره خاتمه يې په ايمان نه ده نصيب شوی .

## ددې په باره کې درته يو څو د عبرت نه ډک واقعات ذکر کوم :

## ۱. د کاتبِ وحي آخرِي انجام:

حضرت انس رضي الله عنه وايي چې د نبي کريم صلی الله عليه وسلم يو کاتِب وُ چې وحي به يې ليکله ، بيا هغه روستو مرتد شو ، او کافرانو ته لاړ ، نبي کريم صلی الله عليه وسلم اوفرمايل: د الله جل جلاله زمکه به دې هيڅ کله قبول نه کړي .

حضرت ابو طلحه رضي الله عنه فرمايي : دې چې چيرته مړ شوې وُ ، نو زه هلته د تحقيق د پاره لاړم، ما اوليده چې دې د قبر نه بهر پروت وُ . ما دخلقو نه پوښتنه وکړه چې دا ولې دقبر نه بهر پروت دی ؟ هغوی راته وويل چې مونږ څو پيرې دې په قبر کې دفن کړو خو هره پيره قبر دې بهر راغورځوي ، آخر مونږ تنګ شو او همداسې مو پريښود .(۱)

قدرمنو ! سوچ په کار دی چې دې کاتب وحي وُ (کوم آيتونه چې به نازل شو هغه به يې ليکل ) خو ليکن تر آخر عُمره پورې يې ايمان د ځان سره محفوظ اونه ساتل . دغه وجه ده چې شريعت انسان ته د استقامت دُعا تلقين کوي، قرآن کريم هم همدا دُعا ښودلې

﴿ رَبَّنَا لَا تُزِغْ قُلُوبَنَا بَعْدَ إِذْ هَدَيْتَنَا وَهَبْ لَنَا مِن لَّدُنكَ رَحْمَةً ۚ إِنَّكَ أَنتَ الْوَهَّابُ ﴾ .(۲)

---

(۱) بخاري کتاب المناقب باب علامات النبوّة في الاسلام حديث ۸۲۱ ، مسلم ج۲ ص ۳۷۰ ، دلائل النبوّة ج۶ ص ۲۴۵

نوټ : دا حديث پوره په تفصيل سره روستو د '' د قبر ثوابونه او عذابونه '' کې د ''عذابِ قبر اسباب'' عنوان لاندې په صفحه ۳۲۵ په تفصيل ذکر دی .

(۲) سورة آل عمران آيت ۷ .

ترجمه: اې ربه زمونږه! زمونږ د هدايت نه پس زمونږ زړونه مه کږوه، او مونږ ته د خپل طرف نه رحمت راکړه، بيشکه هم ته ډير ورکوونکې ذات يې.

د نبي کريم صلی الله عليه وسلم نه هم دا استقامت دُعا نقل ده:

يَا مُقَلِّبَ الْقُلُوْبِ ثَبِّتْ قُلُوْبَنَا عَلٰی دِيْنِکَ.

اې د زړونو اړوونکيه! ته زمونږ زړونه په دين باندې مضبوط اوساته.

## ۲. په غزوه حُنين کې د يو کس خودکشي کول

حضرت ابوهريرة رضي الله عنه فرمايي چې په عزوه حنين کې چې کوم خلق په جهاد کې شريک وو، په هغې کسانو کې د يو کس په باره کې نبي کريم صلی الله عليه وسلم اوفرمايل:

هُوَ مِنْ اَهْلِ النَّارِ. دې جهنمي دی.

کله چې جنګ شروع شو نو دغه کس د مسلمانانو د طرف نه د کافرانو سره سخت اوجنګيده، تردې چې سخت زخمي شو.

په دې کې يو کس رسول الله صلی الله عليه وسلم ته راغې او ورته وې فرمايل: اې د الله جل جلاله رسوله! د کوم کس په باره کې چې تاسو د جهنمي کيدو خبر ورکړې ؤ هغه خو د کافرانو سره سخت اوجنګيده، تر دې چې سخت زخمي شو، نبي عليه السلام ورته اوفرمايل: ياد لرئ، دا جهنمي دی.

راوي د حديث وايي: نزدې وه چې بعضې خلق په شک کې غورځيدلي وی، ځکه چې هغه کس څنګه جهنمي کيدې شي کوم چې ښه جهاد وکړو او سخت زخمي شو؟

څه وخت پس اطلاع راغله چې دغه کس د زخمونو درد او تکليف برداشت نه کړې شو، د خپل ترکش نه يې غشې را وويست، په خپله سينه کې يې اوتومبل او خودکشي يې وکړه.

دا چې خلقو وليده نو پيغمبر عليه السلام ته ډير و خلقو رامنډه کړه او ورته وې ويل: اې دالله رسوله! ستاسو خبره الله جل جلاله ريښتيا کړه، تاسو چې د کوم کس د جهنمي کيدو خبر ورکړې ؤ هغه خو خودکشي وکړه او خپل ځان يې په زوره هلاک کړو.

نبي عليه السلام اوفرمايل: زه دا ګواهي ورکوم چې زه د الله جل جلاله بنده او د هغه رسول يم

بيا يې حضرت بلال ﷺ ته او فرمايل : اې بلاله ! پاڅه ، او په خلقو کې دا اعلان وکړه :
لَايَدْخُلُ الْجَنَّةَ اِلَّا مُؤْمِنٌ . جنت ته به صرف مومن داخليږي . او بيا يې او فرمايل :
اِنَّ اللّٰهَ لَيُؤَيِّدُ هٰذَا الدِّيْنَ بِالرَّجُلِ الْفَاجِرِ .
بيشکه الله ﷻ ددې دين مدد او تائيد په يو فاجر او نافرمانه کس باندې هم کوي . (۱)

## ۳ . د مرګ په وخت دقرآن کريم نه انکار

په مَرِي کې يو بزرګ تير شوی " حافظ غلام محمد صاحب " ده په مدينه منوره کې ديرش (۳۰) کاله د قرآن کريم دَرس کړی ، آخر دا چې هم هلته وفات شو او په جنّتُ البقيع کې دفن شو .

دې يوه واقعه بيانوي چې دلته په حرم شريف کې يو مؤذِن وُ ، څلويښت (۴۰) کاله يې آذانونه کړي وو ، خو چې کله يې د مرګ وخت رانزدې شو ، نو قرآن کريم يې را اوغوښت ، خپلې مخې ته يې کيښود او په غصه کې يې وويل : زه دا نه منم او زه دا نه تسليموم .

ددې خبرې کولو نه روستو په همدې حالت کې وفات شو . (نَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنْ هٰذَا) . (۲)

## ۴ . د بلعم بن باعوراء آخري انجام

مفسرينو د آيت : ﴿وَاتْلُ عَلَيْهِمْ نَبَأَ الَّذِيْ آتَيْنَاهُ آيَاتِنَا فَانْسَلَخَ مِنْهَا فَأَتْبَعَهُ الشَّيْطَانُ فَكَانَ مِنَ الْغَاوِيْنَ﴾ . (۳) دلاندې د بلعم بن باعوراء واقعه بيان کړې :

بلعم بن باعوراء د بني اسرائيلو ډير لوي عالم وُ ، او د ډيرو کتابونو عِلم ورسره وُ ، تردې چې اسمِ اعظم ورته ياد وُ ، ددې په برکت به دده هره دُعا قبليده ، (يعنی مُستجاب الدعوات وُ)

(۱)
(۲) صدائے ممبر ج۳ ص ٦٢ .
(۳) سورة الأعراف آيت ۱۷۵ .

کله چې فرعون او دده لښکر غرق شو، او مصر فتحه شو ، نو الله ﷻ حضرت موسی عليه السلام ته حکم وکړو چې د جبّارين قوم سره جهاد وکړه ، نو حضرت موسی عليه السلام جبّارينو ته ورغې ، هغوی سره سخته ير‌ه پيدا شوه چې کله فرعون او د هغه لښکر ده ته تينګ نه شو نو مونږ به يې څنګه مقابله وکړو.

نو دوی بلعم بن باعوریٰ ته راغله او ورته وی ويل چې : ته خو مستجاب الدّعوات يې ، حضرت موسی عليه السلام ته خيرې وکړه چې د مونږ نه يې مخه واوړي . ده ورته وويل :

زه دا کار هيڅ کله نه شم کولې ، ځکه هغه خو د الله ﷻ پيغمبر دی د هغه سره فرښتې وي، او که داسې مې وکړه نو دين او دُنيا دواړه به مې تباه شي .

کله چې قوم يې ډير تينګار وکړو نو ده ورته وويل : صبر وکړئ زه دا معلوموم چې دا کار زما د پاره صحيح دی او که نه ؟ د خپلې طريقې مطابق يې استخاره يا بل عمل وکړو ، په خُوب کې ورته اوخودلې شو چې هيڅرې دا کار اونه کړی .

ده خپل قوم ته وويل چې : زه ددې کار کولو نه منعه شوې يم . آخر دا چې قوم ده ته څه غټه ډالۍ ور وړاندې کړه ، چې په حقيقت کې دا رشوت ؤ.

په بعضو رواياتو کې راځي چې دده کور واله ته دې قوم ډالۍ ورکړه ، بيا دې ښځې دا خپل خاوند مجبور کړو .

آخر دا چې بلعم بن باعوراء د مال و دولت ، او د ښځې د محبت په وجه دې ته آماده شو چې حضرت موسی عليه السلام او دده قوم ته خيرې وکړي .

کله يې چې لاسونه د خيرو د پاره اوچت کړه نو د الله ﷻ د قدرت عجيبه ننداره ښکاره شوه چې کومې خيرې يې د حضرت موسی عليه السلام باره کې کول غوښتې هغه خيرې يې د خپل قوم باره کې وکړې ، قوم چغې کړې او ورته وې ويل: دا ته څه کوې ؟ ته خو مونږ ته خيرې کوې .

ده ورته وويل : زه اوس په دې کې بې اختياره يم ، هغوی ته په خيرو مې ژبه نه چليږي . نتيجه يې دا شوه چې خپل قوم جبارين ټول تباه شو ، او ده ته دا جزاء ورکړې شوه چې ژبه يې په سينه باندې راځوړنده شوه . د سپي غوندې يې ډيره په تکليف سره ساه اخيسته .

الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمايي: ﴿ فَمَثَلُهُ كَمَثَلِ الْكَلْبِ إِن تَحْمِلْ عَلَيْهِ يَلْهَثْ أَوْ تَتْرُكْهُ يَلْهَث ﴾. (۱)

ترجمه: دده مثال د سپي په شان دی که ته په هغه حمله وکړې (او وې زغلوې) نو هم ژبه رااوباسي (او ډير په تکليف ساه اخلي) او که ته پرې حمله اونه کړې (او وې نه زَغلوې) نو هم ژبه رااوباسي (او ډير په تکليف ساه اخلي). (۲)

# ۵. د بَرصيصا آخِري انجام

تفسير ابن کثير، مظهري، قرطبي، معارف القرآن او نورو تفاسيرو د آيت " كَمَثَلِ الشَّيْطَانِ إِذْ قَالَ لِلْإِنسَانِ اكْفُرْ فَلَمَّا كَفَرَ قَالَ إِنِّي بَرِيءٌ مِّنكَ إِنِّي أَخَافُ اللهَ رَبَّ الْعَالَمِينَ " (۳) د لاندې د بني اسرائيلو ديو بزرګ " برصيصا " واقعه رانقل کړې، دا واقعه اګرچې ډيره اوږده او تفصيلي ده خو زه به يې درته مختصر ذکر کړم:

په بني اسرائيلو کې يو راهب عبادت ګزار ؤ، چې نوم يې برصيصا ؤ، هميشه به په خپله عبادت خانه کې داسې په عبادت مصروف ؤ چې د ورځې به يې روژه وه او هيڅ کله به دعبادت خانې نه نه راوَت، په دغه شان يې اويا (۷۰) کاله عبادت وکړو، شيطان لعين دده د ګمراه کولو پسې ولګيده، نو په انساني شکل کې راغې او ددې برصيصا د عبادت خانې سره نزدې يې مصنوعي عبادت شروع کړو، شيطان ډير وخت دغه مصنوعي عبادت وکړو، تر دې چې ددې راهب ورباندې هم اعتماد پيدا شو.

څه وخت پس چې دا شيطان ددې ځای نه تللو نو دې برصيصا ته يې يو څه دَمونه اوخودل چې په دې باندې خلق دَموه، هغوی به ښه کيږي.

دې شيطان به په چا باندې اَثر وکړو او بيا به يې ورته دا راهب اوخوده چې ده له يې بوزئ دې به يې دَم کړي نو ښه به شي، هغوی به همدغه شان وکړه، چې کله به دې راهب ورباندې دغه دَم وويل نو هغه به ښه شو، ځکه دې شيطان به ورنه خپل اَثر لرې کړو، ډير وخت دا سلسله روانه وه.

(۱) سورة الأعراف آيت ۱۷۶.
(۲) معارف القرآن سورة الأعراف آيت ۱۷۶.
(۳) سورة حشر آيت ۱۶.

آخر دا چې دې شيطان د يو سردار په يوه ښُکلې لور باندې خپل اَثر وکړو ، بيا يې د دَم د پاره ورته دا راهب اوښوده ، راهب چې دَم کړه نو هغه جينۍ ښه شوه . څه وخت پس دغه سردار او دده ځامن چيرته په لرې سفر تله ، نو دا جينۍ يې دې راهب ته پريښوده .

_ دا واقعه ډيره اوږده ده خو زه يې درته رالنډوم _ شيطان ددې راهب په زړه کې ددې جنيۍ وسوسې ورواچولې ...... آخر دا چې دې راهب دې جينۍ سره زِنا وکړه ، د هغې نه دا حامِله شوه ، شيطان ده ته دا وسوسه ورواچوله که دا جينۍ ژوندۍ پاتې شي او خپلو ورونو ته حال ووايي نو په دې کې زما بدنامي ده ، نو ده دا جينۍ قتل کړه ، او په يو ځای کې يې دفن کړه .

شيطان دا رونړه په دې واقعې باندې خبر کړه ، هغوی چې تحقيق وکړو يقيني ده دا کار کړې وُ ، د وخت قاضي ورباندې د پانسي (اِعدام) کولو حکم وکړو ، کله چې دې يې د سُولۍ په تخت باندې کينولو او دده مرۍ ته يې پړې واچول ، څه لږ وخت پاتې وُ ، نو شيطان ورته رامخې ته شو ، او ورته وې ويل چې : زه خو هماغه کس يم چې تا ته مې دَم خودلې وُ ، او دا ټول کارونه تا زما په وسوسه اچولو باندې کړي دي ، اوس تا زه ددې سولۍ نه هم خلاصولې شم خو ته صرف يو کار وکړه چې ماته سجده وکړه نو زه به دې ددې نه خلاص کړم

ددې برصيصا ورباندې يقين راغې چې کيدې شي دا ما خلاص کړي نو دې شيطان ته يې سجده وکړه ، شيطان ورته وويل : إِنِّيْ بَرِيْءٌ مِّنْكَ إِنِّيْ أَخَافُ اللهَ رَبَّ الْعَالَمِيْنَ .

ترجمه : بيشکه زه د تانه بيزاره يم ، ځکه زه د الله ﷻ ويريږم کوم چې د ټولو جهانونو رب دی .

دده هم د سولۍ وخت پوره وُ ، دې يې په سولۍ کړو او د دُنيا بې ايمانه د کُفر په حالت کې لاړ . (۱)

(۱) تفسير قرطبي ۹۳/۱۸ ، تفسير ابن کثير ج۶ ص ۱۷۶ سورة حشر آيت ۱۶ ، تفسير مظهري سورة حشر آيت ۱۶ ، البداية والنهاية ۲ /۱۶۲ ، تلبيس ابليس ص ۳۳ . معارف القرآن سورة حشر آيت ۱۶ .

## ٦. د غلط نظر استعمالولو په وجه آخِره خاتمه خرابيدل:

په مصر کې يو کس وُ، د ډير وخت نه په جُمات کې اوسيده، په جُمات کې به يې آذانونه کول، او په جَمعې سره به يې لمونځونه کول، يوه ورځ د آذان د پاره د جُمات مُنارې ته اوخت، د جمات سره نزدې د يو عيسائي کور وُ، د عيسائي په لور باندې د ده نظر ولږيده، د هغې حُسن او ښائست په ده دومره اثر وکړو چې آذان يې په ځاى پرېښود او نيغ د دې عيسائي کور ته لاړ، هغه جينۍ ورنه پوښتنه وکړه:

څه خبره ده؟ زما کورته څنګه راغلې يي؟ ده ورته ووېل: ستا ښائست په ما ډير اَثر وکړو لهذا زه ستا خپلولو د پاره راغلې يم.

هغې ورته ووېل: ته مسلمان يې او زه عيسائي مذهب واله يم نو څنګه به زما او ستا نکاح اوشي؟ ما پلار تاته هيڅ کله نه درکوي.

دې سړي ورته ووېل: زه هم عيسايي مذهب قبلوم، نو دې سړي صرف د دې يوې جينۍ د نکاح د پاره اسلام پرېښود او عيسايي مذهب يې قبول کړو.

تراوسه يې نکاح نه وه شوې، دا سړې په دې کور کې وُ، په همدې ورځ باندې دا سړې د دې عيسائي په کور کې پاس چت ته ختو نو خپه يې اوخويده، لاندې رااوغورځيده، څټ يې مات شو او په هماغه ځاى کافر مړ شو. دين هم ورنه لاړ او د جينۍ سره يې نکاح هم اونه شوه. (۱)

## ۷. نيکانو خلقو ته په تکليف رسولو سره آخِره خاتمه خرابيدل

علامه ابن حجر هيثمي رحمه الله په '' فتاوى حديثيه '' کې ليکلي چې د ابن السقاء په نوم يو کس وُ کوم چې په اسلامي علومو او عقائدو کې پوره مهارت لرلو، او د باطلو فرقو سره د بحث او مناظرو ملکه ورته حاصله وه، د خپل عِلمي صلاحيت په وجه ورته دومره غټ مقام ملاؤ شوې وُ چې د بادشاهِ وقت او خليفةُ المسلمين ډير نزدې کسانو کې وُ، د خليفه ورباندې ډير اعتماد وُ، تردې چې د روم بادشاه په دربار کې يې خپل سفير مقرر کړو، کله چې دې د روم بادشاه ته ورغې نو هغه دده داعزاز د پاره د لويو لويو امراؤ او د عيسائي

---

(۱) التذکرة ص۴۳، اهل دل کے تڑپا دینے والے واقعات ج۲ ص۱۷۱.

مذهب د پیشوایانو او پادریانو یو عظیم مجلس منعقد کړو، په دې مجلس کې ابن السقاء د عقائدو په موضوع باندې داسې مُدَلّل بیان وکړو چې د مجلس ټول حاضرین حیران پاتې شو او هیچا دده جواب ورنکړې شو.

عیسائي بادشاه چې د ابن السقاء قابلیت او د خپلو پادریانو کمزوري ولیده نو سخت خفه شو. آخر ده داسې یو تدبیر وکړو چې په شیش محل کې یې ده ته ځانله خپله حسینه او ښکلې لور ور وړاندې کړه، ده چې د هغې حُسن او جَمال ولیده نو ډیر متأثره شو، او د بادشاه نه یې د هغې سره د نکاح کولو درخواست وکړو، بادشاه داشرط او لګولو چې که ته عیسائي مذهب قبلوې نو دا درته په نکاح درکوم.

دې ابن السقاء (کوم چې د باد شاه په دربار کې ټول عیسائي پادریان لاجوابه کړي وُ، ده) صرف د یوې جینۍ د نکاح په خاطر خپل بهترین مذهب ''اسلام'' پریښود او عیسائي مذهب یې قبول کړو او مرتد شو. (اَعَاذَنَا اللّٰهُ مِنْهُ).

علماء لیکلي چې دې ابن السقاء د طالبۍ په دوران کې د یو لوي بزرګ او وليُ الله په شان کې سخته ګستاخي کړې وه او د هغه د ذلیله کولو اراده یې کړې وه، دې بزرګ ورته په هماغه وخت کې ویلي وُ چې زه تا په جهنم کې سوزېدونکې وینم. (۱)

## ۷. د بُهتان لګونکي کس خراب انجام

حضرت سعد بن ابي وقاص رضی الله عنه په لویو مستجابُ الدّعوات صحابه کرامو کې وُ، د حضرت عمر رضی الله عنه په زمانه کې د کوفې والي او ګورنر وُ، د کوفې ځنې خلقو حضرت عمر رضی الله عنه ته دده باره کې شکایتونه وې وړه، په هغې کې یو شکایت دا هم وُ چې دې لمونځ په ښې طریقې سره نه کوي.

حضرت عمر رضی الله عنه دې مدینې منورې ته را اوغوښت، او تحقیق یې ورنه وکړو، ده ورته جواب ورکړو: زه خو د نبي کریم صلی الله علیه وسلم د طریقې مطابق لمونځ کوم، یعنی د ماسخوتن اولني دوه رکعتونه اوږده او آخیري دوه رکعتونه لنډ کوم.

حضرت عمر رضي الله عنه ورته وويل : واقعي د تا نه همدا اميد ؤ .

بيا حضرت عمر رضي الله عنه څه خلق د نور تحقيق د پاره کوفې ته وليږل چې هلته جماتونو ته لاړ شي او د حضرت سعد رضي الله عنه باره کې معلومات حاصل کړي .

دوی به چې کوم جُمات کې د ده باره کې پوښتنه کوله خلقو به ورته د حضرت سعد رضي الله عنه ډير تعريف کولو ، مګر کله چې دا خلق د '' بنو عبس '' جمات ته اورسيده او هلته يې د خلقو نه پوښتنه وکړه نو په هغوی کې يو کس راپاڅيده ( چې نوم يې اسامه او کنيت يې ابوسعده ؤ ) او وې ويل : کله چې تاسو قسَم راکړو او تحقيق کوئ نو واورئ :

حضرت سعد رضي الله عنه نه خو جهاد ته ځي ، نه د غنيمت په تقسيم کې انصاف کوي او نه په فيصلو کې عدل کوي .

دې اِلزاماتو اوريدو سره حضرت سعد رضي الله عنه اوفرمايل : قسَم په الله ، زه اوس درې خيرې کوم ، او وې ويل :

اې الله ! که ستا دابنده په خپله دعویٰ کې دروغجن وي او د خپل ځان د شهرت او رِياکارۍ د پاره يې په ما باندې دا اِلزام لګولې وي نو :

١. دده عُمر اُوږد کړه . ٢. دده فقر وفاقه زياته کړه . ٣. او دې په فتنو کې مبتلا کړه .

ددې روايت راوي عبدالملک وايي چې : ددې نه پس ما دغه سړی وليده چې د ډيربوډاوالي په وجه ذده وريزې دده په سترګو رازوړندې شوې وې ، ليکن هغه به په لاره تلونکو جينکو چيړلو نه نه منعه کيدو . کله به چې خلقو ورنه پوښتنه وکړه چې په دومره بوډا والي کې بيا هم ددې کار نه نه منعه کيږې دا ولې ؟ ده به ورته جواب ورکړو :

شَيْخٌ مَفْتُوْنٌ أَصَابَتْنِيْ دَعْوَةُ سَعْدٍ . په فتنه کې مبتلاء بوډا يم ، ماته د حضرت سعد رضي الله عنه خيرې رارسيدلې . (١)

---

(١) بخاري ١ / ١٠٤ مجابي الدعوة ٣٥ .

محترمو ! تاسو واوريده چې د ډيرو غټو غټو خلقو د بعضو خرابو اعمالو په وجه آخره خاتمه خرابه شوی . لهذا انسان ته په دې دهوکه کېدل نه دي په کار چې زه که څه نيک اعمال نه کوم نو خير دی ځکه زه مسلمان يم ، آخر به هم جنت ته داخليږم .

ځکه دا خبره صحيح ده چې مسلمان آخر هم جنت ته داخليږي خو دا يقين د هيچا سره نشته چې يو کس نن مسلمان وي ګني نو هغه دې صبا هم مسلمان وي او دده آخره خاتمه دې هم په ايمان سره وي .

# په نيکانو خلقو باندې د شيطان حمله :

د انسان ازلي دشمن " شيطان " هميشه دا کوشش کوي چې په څه طريقې سره انسان ګمراه کړي ، بيا خاص کر په آخيري وخت کې خو شيطان ډير زور لږوي چې انسان د ځان سره دا عظيم نعمت " ايمان " وې نه سي . تردې چې شيطان په آخيري وخت کې د ډيرو نيکانو ګمراه کولو کوشش کړی خو الله ﷻ په خپل فضل سره دوی محفوظ کړي .

## ددې په باره کې درته يو څو مختصر واقعات ذکر کوم :

### ۱ . د امام رازي رحمه الله آخري وخت

امام رازي رحمه الله يو ډير لوي جيّد او فلسفي عالِم تير شوی ، د قرآن کريم يو تفسيرې ليکلې د " تفسيرِ کبير " په نوم باندی .

کله چې دده آخيري وخت شو نو شيطان ورته رامخې ته شو او ورته وې ويل : اې امام رازي ! ته خو عالَمِ آخرت طرفته روان يې ، د الله ﷻ سره به دې ملاقات کيږي ، دا راته ووايه : چې څه شی د ځان سره وړې چې هغه ستا هلته په کار راشي ؟ ده ورته وويل :

زه کليمه توحيد " لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ " د ځان سره وړم ، ځکه الله ﷻ ددې کليمې ويونکي سره د مغفرت او ببنښې وعده کړی .

شيطان ورته وويل : ته خو د توحيد قايل يې ، خو د تا سره د الله ﷻ په توحيد باندې څه دليل هم شته او که نه ؟

(امام رازي رحمه الله خو داسې فلسفي عالِمؤ چې ټول عُمريې د عقايدو په موضوع باندې بحثونه کړي ؤ ، دده سره د دلائلو څه کمې ؤ ).

ده شيطان ته د الله ﷻ په وحدانيت باندې يو عقلي دليل ذکر کړو ، شيطان چې دا واوريده نو ورته وې ويل : ستا په دې دليل باندې خو فلانې اعتراض راځي . لهذا ستا دا دليل ختم شو .

امام رازي رحمه الله د الله ﷻ په وحدانيت باندې دويم دليلِ عقلي بيان کړو ، شيطان په دې باندې هم اعتراض وکړو ، همدغه شان دا سلسله شروع وه ، تردې چې امام رازي رحمه الله د الله ﷻ په وحدانيت باندې يو سل يو (۱۰۱) دلائلِ عقليه ذکر کړه ، ليکن شيطان به په هريو دليل باندې څه نا څه اعتراض کولو او هغه دليل به يې ختمولو .

اوس د امام رازي رحمه الله آخيري وخت ؤ ، ټول دلايل ورسره ختم شو ، حيران شو .

په دې وخت کې الله ﷻ په ده خصوصي فضل وکړو ، دده خپل يو استاذ ؤ '' شيخ نجم الدين کبریٰ رحمه الله '' د هغه صورت ورته رامخې ته شو ، ګويا چې هغه ورته وايي :

اې امام رازي ! دې شيطان ته ووايه چې زه الله ﷻ بغير د څه دليلِ عقلي نه يو منم ، ځکه شيطان خو عقلي دلائل ختموي او اعتراضاتورباندې کوي .

نو امام رازي رحمه الله شيطان ته وويل : زه الله ﷻ بغير د څه عقلي دليل نه منم . په دې جواب اوريدو سره شيطان بې جوابه شو ، او په همدې حالت کې امام رازي رحمه الله وفات شو . (۱)

مولاناى روم رحمه الله وايي :

ګر به اِستدلال کار دين بود * فخر رازي رازدار دين بود

معلومه شوه چې شيطان دا کوشش کوي چې انسان په څه نا څه طريقې سره ګمراه کړي .

خو الله ﷻ خپل نيکان بندګان د شيطان د شَر نه محفوظ ساتي .

---

(۱) صدائے ممبر ج۳ ص ۶۰ ، اهل دل کے تړپا دينے والے واقعات ج۲ ص ۱۷۷، ۱۸۱ .

## ۲. د امام احمد بن حنبل رحمه الله آخيري حالت

امام احمد بن حنبل رحمه الله چې د مستقل مَسلک امام تير شوی او د ''فتنه خلقِ قرآن'' په موقعه ده د اسلام د پاره سخت تکليفونه برداشت کړي، کله چې دده د وفات وخت رانژدې شو، شاګردان ورسره ناست وو، يو ځل يې د ژبې نه دا کلمات راووتل: لَا بَعْدُ لَا بَعْدُ. اوس نه، اوس نه. ځوي ورنه پوښتنه وکړه چې تاسو ولې بار بار دا کلمات وايې: لَا بَعْدُ لَا بَعْدُ؟ ده ورته وويل: چې کله په ما باندې بې هوشي راشي نو شيطان راته رامخې ته شي، خپلې ګوتې په غاښونو چيچي، لاسونه مروړي، او راته وايي:

اې احمده! افسوس دا چې ته رانه بچ شوی او زما درباندې زور اونه رسيده. نو زه ورته وايم: لَا بَعْدُ. تر څو پورې مې چې په وجود کې ساه وي تر هغه وخته پورې ستا د ګمراهۍ نه نه يم بچ، کله مې چې د وجود نه روح اوځي او ايمان د ځان سره سلامت وې سَم نو بيا به ستا د ګرفت نه بچ شم. (۱)

## ۳. د شيخ عبدالقادر جيلاني رحمه الله آخيري وخت

شيخ عبدالقادر جيلاني رحمه الله يو عظيم بزرګ او عالِم تير شوی، دې يو ورځ د ژوند په آخيري وخت کې ځنګل ته د سيل د پاره راووت، ناڅاپه يې په ځنګل کې څه رڼا وليده، دا رڼا ډيره زر د آسمان په غاړو کې خوره شوه، بيا د دې رڼا نه يو آواز راغی:

اې عبدالقادر! زه ستا رب خبرې کوم، تا د دين د پاره ډير تکليفونه او ډيرې مجاهدې برداشت کړي، د نن نه پس ما تا ته لمونځ، روژې او نور ټول احکامات معاف کړي، ستا زړه چې څه غواړي هغه کوه، د تا نه به هيڅ تپوس نشي کيدې.

عبدالقادر جيلاني چې دا خبره واوريده نو پوهه شو چې دا خو ابليس دی، فورًا يې ووېل:

---

(۱) اهل دل کے تڑپا دینے والے واقعات ج۲ ص ۱۷۷.

لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ الْعَلِيِّ الْعَظِيْم . او وې ويل : اې مردود ابليسه ! ورک شه . الله تعالى خپل پيغمبر ته فرمايي : ﴿ وَاعْبُدْ رَبَّكَ حَتّٰى يَأْتِيَكَ الْيَقِيْنُ ﴾ . (۱)

ترجمه : ته د خپل رب عبادت کوه تردې چې تاته يقين ( مرګ ) راشي .

نو چې کله الله ﷻ نبي عليه السلام ته ترآخر عُمره پورې عبادات نه دي معاف کړي اګر چې هغه د دين دپاره ډير زيات مشقتونه برداشت کړي وو ، نو زه څوک يم چې ماته عبادات معاف کړي ؟

شيطان خپل انداز بدل کړو ، او دوباره آواز راغې :

اې عبدالقادر ! ته نن مانه خپل علم بچ کړی ، ځکه د تا نه مخکې اويا ( ۷۰ ) اَبدال او بزرګان ما په آخيري عُمر کې ګمراه کړي . خو نن ته رانه ستا علم بچ کړی ، که ته عالِم نه وی نو ته به هم ګمراه شوې وی .

عبدالقادر جيلاني چې دا خبره واوريده نو فورًا يې وويل : لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ الْعَلِيِّ الْعَظِيْم . او وې ويل : اې ابليسه ! دا ستا دويمه حمله ده ، زه د تا نه خپل علم نه يم بچ کړی ، بلکه زه د تا نه الله ﷻ په خپل فضل وکرم سره بچ کړم . ځکه که دما سره د الله ﷻ توفيق نه وی نو زه به هم په هغه ګمراه شوي کسانو کې شامل ووم . (۲)

قدرمنو ! تاسو وليده چې شيطان په آخِري وخت کې کوشش کوي چې انسان په څه ناڅه طريقې سره ګمراه کړي ، الله ﷻ دې مونږ د شيطان د شَر نه محفوظ اوساتي . آمين

# د خرابې خاتمې اَسباب :

بعضې ګناهونه او اعمال داسې دي چې د هغې په کولو سره د انسان آخره خاتمه خرابيږي لهذا اجمالاً درته هغه اَسباب بيانوم ، ددې د پاره چې انسان د هغې نه ځان اوساتي او آخره خاتمه يې خرابه نه شي :

(۱) سورة الحجر آيت ۹۹.

(۲) اهل دل کے تڑپا دینے والے واقعات ج۲ ص ۱۸۱ .

## ۱ . والدينو ته تکليف رسول

مور او پلار ته تکليف رسول ګناه کبيره او حرام دي ، او کوم کس چې مور او پلار ته تکليف رسوي هغه ته الله ﷻ په دې دُنيا کې هم سزا ورکوي ، او اکثر انسان ته په آخيري وخت کې کليمه هم نه نصيبه کيږي .

## د حضرت علقمه رضي الله عنه واقعه

د حضرت علقمه رضي الله عنه (۱) نه چې تر څو پورې مور ناراضه وه نو کليمه يې نه شوه ويلې ....
نبي ﷺ وفرمايل : إِنَّ سَخَطَ أُمِّ عَلْقَمَةَ حَجَبَ لِسَانَ عَلْقَمَةَ عَنِ الشَّهَادَةِ .
د علقمه د مور ناراضتيا (او خفګان) د ده ژبه د کلمه شهادت نه بنده کړې ده .
خو کله چې مور ورنه راضي شوه نو بيا يې کليمه په خُله باندې جاري شوه . (۲)

## ۲ . د اولياء الله وُ په شان کې ګستاخي کول

کوم کس چې بِلا وجه اولياء الله ، علماء ، محدثين ، فقهاء او نيکانو خلقو ته تکليف رسوي ، د دوی بې ادبي او ګستاخي کوي نو د دغې کس د آخِرې خاتمې د خرابيدو سخت خطره ده . حديث قدسي دی الله تعالی فرمايي :

مَنْ عَادَىٰ لِي وَلِيًّا فَقَدْ آذَنْتُهُ بِالْحَرْبِ . (۳)

---

(۱) د حضرت علقمه رضي الله عنه تفصيلي واقعه مخکې په '' عقوق الوالدين '' موضوع کې په صفحه نمبر په تفصيل سره تيره شوی.

(۲) دا واقعه اګر چې علامه ابن جوزي رحمه الله په '' الموضوعات '' کې ذکر کړې . البته امام سيوطي رحمه الله په مختلفو طريقو سره رانقل کړې ، همدارنګې دا واقعه ذکر ده په الکبائر للذهبي ص ٥٥ الکبيرة الثامنة عقوق الوالدين ، شعب الايمان للبيهقي ٧٥٠٨ ج ١٠\٢٩ ، الخصائص الکبرى ٢\٢٠٩ ، جمع الوسائل ١\٣٩٧ ، الترغيب والترهيب ج٣ ص ٢٢٦ ، تنبيه الغافلين ص ٨١ ، نزهة الناظرين في الاخبار والآثار المروية عن الانبياء والصالحين ص ٣٩٢ الباب الثاني عشر في برالوالدين . ( خُذْ مَا صَفَىٰ وَدَعْ مَا كَدَرَ ) .

(۳) بخاري شريف . په يو حديث کې دا سې الفاظ دي : مَنْ آذَىٰ لِي وَلِيًّا فَقَدْ آذَنْتُهُ بِالْحَرْبِ . اخرجه البخاري ٦١٣٧ .

ځوک چې زما د يو ولي سره دُشمني کوي زه هغه ته اعلانِ جنګ کوم (هغه دې د ما سره مقابلې ته تيار شي).

ملا علي قاري رحمه الله په مرقات شرحه د مشکوة کې ليکلي: کومو خلقو ته چې الله ﷻ اعلانِ جنګ وکړي نو د دغـــې خلقو د آخرې خاتمې خرابيدو سخت خطر دی.

## ۴. تکبر کول:

په قرآن کريم او احاديثو کې د تکبر سخت مذمت بيان شوی، الله تعالی فرمايي:

﴿ كَذَٰلِكَ يَطْبَعُ اللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ قَلْبِ مُتَكَبِّرٍ جَبَّارٍ ﴾.(۱)

ترجمه: دغه شان الله تعالی د هر متکبر سرکشه بنده په زړه باندې مهر لګوي.

بل ځای الله تعالی فرمايي:

﴿ سَأَصْرِفُ عَنْ آيَاتِيَ الَّذِينَ يَتَكَبَّرُونَ فِي الْأَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ ... ﴾.(۲)

ترجمه: کوم خلق چې په زمکه کې په ناحقه تکبّر کوي نو زه به دغه خلق د خپلو آيتونو نه لرې (بيرته) اوساتم.

علماؤ خو تر دې ليکلي چې تکبر داسې يوه ګناه ده چې اکثر د انسان د آخرې خاتمې خرابيدو سبب ګرځي.

## خُلاصه:

د غونډ تقرير خلاصه دا ده چې انسان ته په کار دي چې د دُنيا دا عارضي ژوند غنيمت وګڼي، په دې کې د آخرت د پاره د نيکو اعمالو ذخيره تياره کړي، مرګ او د مرګ نه روستو ژوند ځانته رامخې ته کړي او هغه اعمال وکړي په کوم چې الله ﷻ راضي کيږي او د انسان د آخرې خاتمې ښه کيدو سبب ګرځي.

(۱) سورة مومن (غافر) آيت ۳۵.

(۲) سورة الأعراف آيت ۱۴۶.

او د هغه اعمالو نه ځان اوساتي په کومو سره چې دانسان آخره خاتمهٔ خرابيږي . او هميشه د ځان د پاره د آخرې خاتمې ښه کيدو دُعا په کار ده . الله تبارک و تعالى دې مونږ ټولو ته په دې خبرو دعمل کولو توفيق رانصيبه کړي .

آمِيْن يَا رَبَّ الْعَالَمِيْن .

وَآخِرُ دَعْوَانَا أَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ

# فقهي مسائل :

د مړي سره تړلې ضروري فقهي مسـائل مې د معتمدو کتابونو او فتاؤ نه راجمع کړي يو څو ستاسو د وړاندې ذکر کوم :

## ۱. په تجهيز او تدفين کې تادي په کار ده :

د مړي په تجهيز، تکفين، جنازه او دفن کولو کې تادي په کار ده. ځکه بغير د څه معقول عذر نه روستو والې کول جائز نه دی، بلکه علماؤ دې روستو والي ته مکروه ويلي : البته که څه معقول شرعي عذرؤ نو بيا خير دی.

حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنهما فرمايي :

سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ : إِذَا مَاتَ أَحَدُكُمْ فَلَا تَحْبِسُوْهُ وَأَسْرِعُوْا بِهِ إِلَى قَبْرِهِ. (۱)

ما د نبي کريم ﷺ نه اوريدلي دي :کله چې په تاسو کې يو کس وفات شي نو هغه محبوس (قيد) مه ساتئ، بلکه هغه قبر ته زر رسوئ.

يعنی بغير د څه عذر نه په دفن کولو کې تاخير مه کوئ.

د مسلم شريف حديث دی، نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايي :

أَسْرِعُوْا بِالْجَنَازَةِ فَإِنْ تَكُ صَالِحَةً فَخَيْرٌ تُقَدِّمُوْهَا إِلَيْهِ. وَإِنْ تَكُ غَيْرَ ذٰلِكَ فَشَرٌّ تَضَعُوْنَهُ عَنْ رِقَابِكُمْ. (۲)

تاسو د جنازې په کولو کې تادي کوئ ځکه که هغه ښه سړې وي نو هغه به ښه ځای ته زر وراورسوئ، او که ښه نه وي نو تاسو به د خپلو اوږو نه دبدی پيټې لرې کړئ (يعنی تادي کول په هر صورت کې غوره دي).

(۱) رواه البيهقي في شعب الايمان، والصحيح انه موقوف عليه. مشكوة باب المشي بالجنازة والصلوة عليها حديث ۲۴.

(۲) مسلم شريف ۱/۳۰۶.

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

فَإِنَّهُ لَا يَنْبَغِيْ لِجِيْفَةِ مُسْلِمٍ اَنْ تُحْبَسَ بَيْنَ ظَهْرَانِيْ اَهْلِهِ . (۱)

بيشکه د مسلمان مړي د پاره مناسب نه دي چې هغه دې د خپل اهل په مينځ کې ايسار کړې شي .

وجه داده چې اکثر په روستو کولو سره د مړي لاش خرابيد و خطره وي نو بيا خلق ددې مړي نه نفرت کوي او دده سپکاوې کوي ، حالانکه مومن الله ﷻ ډير معزز او مکرم پيدا کړی . نو ځکه نبي ﷺ اوفرمايل چې تاسو د مړي په تجهيز ، تکفين او تدفين کې تادي کوئ . (۲)

نبي کريم ﷺ حضرت علي رضي الله عنه ته اوفرمايل :

يَا عَلِيُّ ! ثَلَاثٌ لَا تُؤَخِّرْهَا : اَلصَّلٰوةُ إِذَا أَتَتْ . وَالْجَنَازَةُ إِذَا حَضَرَتْ . وَالْأَيِّمُ إِذَا وَجَدْتَ لَهَا كُفْؤًا . (۳)

اې علي ! درې شيان مه روستوکوه : د لمانځه وخت چې راشي ، جنازه چې تياره شي ، او د جينۍ لپاره چې کله مناسب کس پيدا شي .

علامه ابن همام رحمه الله ليکلي: چې د مړي په کفن ، دفن کې تادي کول مستحب دي (۴)

په دفن کولو د تعجيل د اهميت اندازه تاسو ددينه لږولې شئ چې فقهاؤ ترديې ليکلي:

فَلَوْ جهزَ الْمَيِّت صَبِيْحَةَ يَوْمِ الْجُمُعَةِ يُكْرَهُ تَاخِيْرُ الصَّلٰوةِ عَلَيْهِ لِيَصَلِّيَ عَلَيْهِ الْجَمْعُ الْعَظِيْمُ

(۱) رواه ابوداؤد ۲ / ۴۵۰ ، مشكوة باب ما يقال عند من حضره الموت جديث ۱۰ .

(۲) مظاهرِ حق شرحه مشكوة ج۲ ص ۱۱۱ .

(۳) مشكوة ص ٦١ .

(۴) مظاهرِ حق شرحه مشكوة ج۲ ص ۱۹۵ .

بَعْدَ صَلٰوةِ الْجُمُعَةِ. (۱)

که يو کس د جُمعې په ورځ سهر مړ شي او د لمانځه نه مخکې خخيدې شي نو صرف د خلقو د ډير والي په خاطر د جُمعې لمانځه نه روستو دده جنازه روستو کول مکروه دي چې ګڼي په دې ډير خلق د جنازې لمونځ وکړي (بلکه د جُمعې لمانځه نه مخکې به يې خخوي).

## ۲. د جنازې لمونځ فرضِ کفايې دی

د احاديثو نه معلوميږي چې يو مسلمان مړ شي نو په نورو مسلمانانو باندې دده جنازه فرضِ کفايي ده، يعنې د بعضې مسلمانانو په اداء کولو سره د نورو ذمه فارغيږي، البته که ټول مسلمانان په اجتماعي طور سره په ده باندې جنازه اونه کړي نو بيا ټول ګناهګار دي. (۲)

## ۳. د جنازې د امامت کولو زيات حقدار

د جنازې د لمانځه زيات حقدار د وخت حاکم يا دده نائب دی خو په دې شرط چې په هغه کې د جنازې د امامت کولو صلاحيت موجود وي، که حاکمِ وقت يا دده نائب نه وي نو بيا ددې علاقې قاضي يا دده نائب زيات حقدار دی، او که دې هم نه وُ نو بيا د محلې امام زيات حقدار دی (خو په دې شرط چې ددې مړي په خپلوانو کې ددې امام نه بهتر څوک نه وي

---

(۱) طحطاوي على المراقي ص ۴۹۸ باب احكام الجنائز فصل في حملها ودفنها، الدر مع الشامي ۳/ ۱۳۶ باب صلاة الجنازة، بحر الرايق ۲ / ۱۹۱ كتاب الجنائز فصل السلطان احق بصلاته، فتاوى محموديه ج۳ ص ۲۰۳.

وَقَالَ عَبْدُاللهِ التَّمَرْتَاشِيْ : وَكُرِهَ تَاخِيْرُ صَلٰوتِهِ وَدَفْنِهِ لِيُصَلِّيَ عَلَيْهِ جَمْعٌ عَظِيْمٌ. الدرالمختار على صدر رد المحتار ج۱ ص ۲۳۲ كتاب الجنائز، ومثله في بحر الرائق ج۲ ص ۱۹۱، فتاوى حقانيه ج۲ ص ۴۵۲.

(۲) قَالَ عَلَاؤُ الدِّيْنِ الْكَاسَانِيْ رَحِمَهُ اللهُ : وَالْاِجْمَاعُ مُنْعَقِدٌ عَلٰى فَرْضِيَّتِهَا اَيْضًا اِلَّا اَنَّهَا فَرْضُ كِفَايَةٍ إِذَا قَامَ بِهِ الْبَعْضُ يَسْقُطُ عَنِ الْبَاقِيْنَ ... بدايع الصنائع ج۱ ص ۳۱۱ فصل الكلام في صلوة الجنازة.

وَفِي الْهِنْدِيَّةِ : اَلصَّلٰوةُ عَلَى الْجَنَازَةِ فَرْضُ كِفَايَةٍ إِذَا قَامَ بِهِ الْبَعْضُ وَاحِدًا كَانَ اَوْ جَمَاعَةً ذَكَرًا كَانَ اَوْ اُنْثٰى سَقَطَ عَنِ الْبَاقِيْنَ. وَاِذَا تَرَكَ الْكُلُّ اَثِمُوْا. هكذا في التاتارخانيه ج۱ ص ۱۶۲ الفصل الخامس في الصلوة على الميت، ومثله في البحر الرائق ج۲ ص ۱۷۹ فصل السلطا احق بصلوته، فتاوى حقانيه ج۳ ص ۴۳۳ كتاب الجنائز.

ځکه که د مړي په اولياؤ کې د محلې د امام نه زيات عالم او متقي ؤ نو بيا دده حق مخکې دی (۱)).

او که د محلې امام هم نه ؤ نو بيا ددې مړي په خپلوانو کې چې څوک ډير نزدې وي هغه ددې امامت حقدار دی. (۲)

نوټ: د محلې امام چې نيک او صالح وي نو د ولي په نسبت دده جنازې ته مخکې کول مستحب دي، او که ولي د محلې د امام په نسبت أعلم او متقي ؤ نو بيا حق د ولي مخکې دی. (۳)

## ٤. د غائبانه جنازې کولو حکم:

د احنافو او مالکيه ؤ په نزد باندې د جنازې په لمانځه کې يو شرط دا دی چې د مړي لاش به مخې ته پروت وي، دغه وجه ده چې احناف د غائبانه جنازې قائل نه دي. (۴)

(۱) البحر الرائق ، بهشتی زیور ، احکام میت ص ٦٥ .

(۲) لِمَا فِي الْهِنْدِيَّةِ: اَوْلَى النَّاسِ بِالصَّلٰوةِ عَلَيْهِ اَلسُّلْطَانُ اِنْ حَضَرَ فَاِنْ لَمْ يَحْضُرْ فَالْقَاضِيْ ثُمَّ اِمَامُ الْحَيِّ ثُمَّ الْوَلِيُّ . الهندية ج۱ ص۱٦۳ الفصل الخامس في الصلوة على الميت . وَقَالَ عَلَاءُ الدِّيْنِ الْكَاسَانِيْ: وَرَوَى الْحَسَنُ عَنْ اَبِيْ حَنِيْفَةَ اَنَّ الْإِمَامَ الْأَعْظَمَ اَحَقُّ بِالصَّلٰوةِ اِنْ حَضَرَ . فَاِنْ لَمْ يَحْضُرْ فَاَمِيْرُ الْمِصْرِ وَاِنْ لَمْ يَحْضُرْ فَإِمَامُ الْحَيِّ فَاِنْ لَمْ يَحْضُرْ فَالْاَقْرَبُ مِنْ ذَوِيْ قَرَابَتِهِ وَهٰذَا هُوَ حَاصِلُ الْمَذْهَبِ عِنْدَنَا . بدائع الصنائع ج۱ ص ۳۱۷ ، ومثله في كبيري ص ۵۸۴ باب الجنائز ، فتاوى حقانيه ج۳ ص ۴۳۵ كتاب الجنائز .

(۳) وَتَقْدِيْمُ اِمَامِ الْحَيِّ مَنْدُوْبٌ فَقَطْ بِشَرْطِ اَنْ يَكُوْنَ اَفْضَلُ مِنَ الْوَلِيِّ وَاِلَّا فَالْوَلِيُّ أَحَقُّ . الدرالمختار على الشامي نعمانيه ج۱ ص ۵۹۰ باب صلوة الجنائز مطلب في بيان من هو احق بالصلوة على الميت . طحطاوي على المراقي ص ۴۸۵ احكام الجنائز ، سكب الانهر على هامش مجمع الانهر ۱ / ۲٦۹ باب صلاة الجنائز ، فتاوى محموديه ج۱۳ ص ۱۹۸ ، كفاية المفتي ج۴ ص ۹۴ .

(۴) قَالَ عَلَاءُ الدِّيْنِ الْحَصْكَفِيْ: وَشَرْطُهَا اَيْضًا حُضُوْرُهُ ، وَوَضْعُهُ ، وَكَوْنُهُ هُوَ اَوْ اَكْثَرُهُ اَمَامَ الْمُصَلِّيْ .... الدرالمختار على صدر رد المحتار ج۲ ص ۲۰۸ باب الجنائز مطلب في صلوة الجنازة .

وَفِي الْهِنْدِيَّةِ: وَمِنَ الشُّرُوْطِ حُضُوْرُ الْمَيِّتِ وَوَضْعُهُ وَكَوْنُهُ اَمَامَ الْمُصَلِّيْ فَلَا تَصِحُّ عَلَى غَائِبٍ وَلَا عَلَى مَحْمُوْلٍ عَلَى دَابَّةٍ وَلَا عَلَى مَوْضُوْعٍ . الفتاوى الهندية ج۱ ص ۱٦۴ الفصل الخامس في الصلوة على الميت ، ومثله في البحر الرائق ج۲ ص ۱۷۹ فصل السلطان احق بصلوته ، فتاوى حقانيه ج۳ ص ۴۴۴ كتاب الجنائز .

او کوم خلق چې د یو لیډر یا د یو مشر کس په وفات کیدو سره په مختلفو ځایونو کې غائبانه جنازه کوي نو دا یو سیاسي حَربه ده ، ددې د مسلک او مذهب سره هیڅ تعلق نشته ، دا صرف د عوامو خوشحالولو د پاره کوي . لهذا په دې کې شرکت نه دی په کار .

البته د شوافعو او حنابله ؤ په نزد غائبانه جنازه جائز ده ، او هغوی په دلیل کې د بخاري شریف حدیث پیش کوي چې نبي علیه السلام په نجاشي بادشاه باندې غائبانه جنازه کړې وه .

لیکن حقیقت دادی چې پیغمبر ﷺ د نجاشي نه علاوه د بل هیچا غائبانه جنازه نده کړې، حالانکه نبي علیه السلام ته به د دوی د مرګ خبر په وخت رسیدلې ؤ ، لکه په بخاري کې ذکر دي چې کله حضرت زید ، حضرت جعفر ، او ابن رواحه رضی الله عنهم په غزوه موته کې شهیدان شو نو نبي ﷺ ورباندې په هماغه وخت خبر ؤ . (۱)

نو چې کله غائبانه جنازه په هر چا جائز وه نو بیا یې په دوی باندې غائبانه جنازه ولې نه کوله؟ دغه شان د دوی نه علاوه نور ډیر صحابه کرام او قاریان شهیدان شوي حالانکه نبي ﷺ به ورباندې خبر ؤ او په دوی یې د جنازې کولو حرص هم ؤ خو لیکن بیا یې هم په دوی غایبانه جنازه نده کړې .

پاتې شوه د نجاشي د جنازې خبره نو امام واقدي د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما په حواله ذکر کړي چې د نجاشي لاش نبي علیه السلام ته حاضر شوې ؤ او د مخې نه حِجاب او پَردې پورته شوې وی ، یا دا د نجاشي خصوصیت ؤ . (۲)

---

(۱) بخاري ۱ : ۱۶۷ باب الرجل ینعی الی اهل المیت بنفسه .

(۲) وَفِي الْمِنْهَاجِ : وَالْجَوَابُ عَنْ حَدِيْثِ الصَّلٰوةِ عَلَى النَّجَاشِيْ اَنَّهُ رفع الحِجَاب كَمَا ذَكَرَهُ الْوَاقِدِيْ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنهما ، و رواه ابو عوانه و ابن حبان في صحیحه عن عمران بن حصین . منهاج السنن شرح جامع السنن ج۴ ص۲۱۷ باب صلوة النبي على النجاشي .

مِنْ جُمْلَةِ ذَلِكَ اَنَّهُ تُوُفِّيَ خَلْقٌ كَثِيْرٌ مِنَ اَصْحَابِهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ من اعزهم علیه القراء وَلَمْ يُنْقَلْ عَنْهُ اَنَّهُ صَلَّى عَلَيْهِمْ مَعَ حِرْصِهِ عَلَى ذَلِكَ . الدرالمختار مع رد المحتار ۱ : ۶۴ باب صلوة الجنائز ، فتاوی محمودیه ج۳ ص ۲۵۲ .

# ۵. په مړي باندې باربار جنازه کول ناجائز دي

که چیرته په یو مسلمان باندې د ولي په موجودګی کې یو کرت جنازه وشوه نو دوباره په ده باندې جنازه نشته، ځکه په یو ځل جنازه کولو سره فرض ساقط شو، لهذا تکرار په جنازه کې جائز نه دی. (۱)

# ٦. په اختر کې دوباره تعزیت. او تکرار د تعزیت مکروهه دی

د درې (۳) ورځو نه پس تعزیت مکروهه دی، البته که یو کس په موقعه موجود نه وي بلکه مسافر وي او دې څه وخت پس راشي نو ده ته اجازت شته. خو په اختر کې د مړي کورته د تعزیت د پاره جمعه کیدل مکروه دي.

دغه شان چې یو کس یو ځل تعزیت وکړي نو دده د پاره دوباره تعزیت کول هم مکروهه دي. (۲)

---

(۱) وَلَا يُصَلَّى عَلَى مَيِّتٍ إِلَّا مَرَّةً وَاحِدَةً وَالتَّنَفُّلُ بِصَلَاةِ الْجَنَازَةِ غَيْرُ مَشْرُوعٍ، وَلِهَذَا تَرَكَهُ النَّاسُ مِنَ السَّلَفِ الصَّالِحُونَ. فتاوى عالمگيري ج ۱ ص ۱٦۳ الفصل الخامس في الصلوة على الميت. وَقَالَ الْكَاسَانِيُّ وَلَنَا مَا رُوِيَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى عَلَى جَنَازَةٍ فَلَمَّا فَرَغَ جَاءَ عُمَرُ وَمَعَهُ قَوْمٌ فَأَرَادَ أَنْ يُصَلِّيَ ثَانِيًا فَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ اَلصَّلٰوةُ عَلَى الْجَنَازَةِ لَا تُعَادُ وَلٰكِنْ أُدْعُ لِلْمَيِّتِ وَاسْتَغْفِرْ لَهُ. وَهٰذَا نَصٌّ فِي الْبَابِ وَرُوِيَ أَنَّ ابْنَ عَبَّاسٍ وَابْنَ عُمَرَ فَاتَتْهُمَا صَلٰوةٌ عَلَى جَنَازَةٍ. فَلَمَّا حَضَرَا مَا زَادَ عَلَى الْاِسْتِغْفَارِ لَهُ. بدائع الصنائع ۲ ۲۷ كيفية الصلوة على الجنازة، فتاوى فريديه ج۳ ص ۲۳۰. وَقَالَ الْعَلَّامَةُ الْمَرْغِينَانِيُّ رَحِمَهُ اللهُ: وَإِنْ صَلَّى غَيْرُ الْوَلِيِّ أَوِ السُّلْطَانِ أَعَادَ الْوَلِيُّ ـ يَعْنِيْ إِنْ شَاءَ. لِمَا ذَكَرْنَا أَنَّ الْحَقَّ لِلْأَوْلِيَاءِ ـ وَإِنْ صَلَّى الْوَلِيُّ لَمْ يَجُزْ لِأَحَدٍ أَنْ يُصَلِّيَ بَعْدَهُ لِأَنَّ الْفَرْضَ يَتَأَدَّى بِالْأَوَّلِ وَالتَّنَفُّلُ بِهَا غَيْرُ مَشْرُوعٍ. الهدايه ج۱ ص ۱٦۲ كتاب الجنائز. قَالَ الْعَلَّامَةُ الْحَصْكَفِيُّ: لِأَنَّ تَكْرَارَهَا غَيْرُ مَشْرُوعٍ. الدرالمختار على صدر رد المحتار ج۲ ص۲۲۳ كتاب الجنائز، فتاوى حقانيه ج۳ ص ۲۲۰ كتاب الجنائز.

(۲) قَالَ فِي الدُّرِّ الْمُخْتَارِ وَتُكْرَهُ بَعْدَهَا إِلَّا لِغَائِبٍ. وَتُكْرَهُ التَّعْزِيَةُ ثَانِيًا. وفي رد المحتار ۱ ۸۴۲ قوله ... لِأَنَّهَا تُجَدِّدُ الْحُزْنَ ..... الدرالمختار على هامش رد المحتار ۱: ٦٦۵ باب صلاة الجنائز مطلب في زيارة القبور فتاوى فريديه ج۳ ص ۲۹۳.

بلکه علماؤ د اختر په ورځ دوباره تعزيت ته رسمِ قبيحه او بدعتِ سيئه ويلي دی . (۱)

په فتاوی دارالعلوم ديوبند کې خو تر دې پورې ذکر دي چې يو کس په اول ځل باندې د خط په ذريعه تعزيت وکړي نو دده د پاره دوباره بالمشافه ( مخامخ ) تعزيت مکروهه دی . (۲)

اين عام است که اولاً بکتابت و ثانيًا بالمشافه باشد . يا بر عکس . (۳)

## ۷ . د څپلو سره دجنازې کولو حکم

که چيرته د جنازه کوونکي څپلی پاکې او صفا وي نو بيا د څپلو سره جنازه کول صحيح دي او که څپلی يې ګنده وي نو بيا په دې څپلو کې د جنازې يا بل لمونځ کول ناجائز دي . (۴)

مفتي عبدالرحيم لاجپوري رحمه الله ليکلي :

جوتياں پهن کر ، يا جوتياں نکال کر اس پر پاؤں رکھ کر نماز جنازه پڑھنے کي صورت ميں جوتيوں کا پاک هونا ضروري هے . جوتياں پاک هوں گي تو نماز هو گي . ناپاک هو گي تو نماز صحيح نهيں هو گي . (۵)

---

(۱) فتاوی فريديه ج۱ ص ۲۹۸ ، وفی الهندية : اِذَا عَزّٰی اَهْلَ الْمَيِّتِ مَرَّةً فَلَا يَنْبَغِيْ اَنْ يَعْزِيَهُ مَرَّةً اُخْرٰی . کذا فی المضمرات . وَ وَقْتُهَا مِنْ حِيْنَ يَمُوْتُ اِلٰی ثَلَاثَةِ اَيَّامٍ وَيَكْرَهُ بَعْدَهَا اِلَّا اَنْ يَكُوْنَ الْمُعَزّٰی اَوِ الْمُعَزّٰی اِلَيْهِ غَايِبًا فَلَا بَأْسَ بِهَا . فتاوی هنديه ج۱ ص ۱٦۷ ومما يتصل بذلک مسائل التعزية باب الجنائز ، فتاوی فريديه ج۱ ص ۲۹۸ .

(۲) وَتَكْرَهُ التَّعْزِيَةُ ثَانِيًا . الدر المختار علی هامش رد المحتار باب صلاة الجنائز بعد مطلب کراهية الضيافة ج۱ ص ۸۸۲ ط.س. ج۲ ص ۲۴۱ ،

(۳) فتاوی دارالعلوم ديوبند ج۵ ص ۲۸۳ ساتويں فصل تعزيت کے بيان ميں .

(۴) قَالَ الْعَلَّامَةُ اِبْنُ نُجَيْمِ الْمِصْرِيِّ رحمه الله : وَلَوْ اِفْتَرَشَ نَعْلَيْهِ وَقَامَ عَلَيْهَا جَازَتْ . بِهٰذَا يَعْلَمُ مَا يَفْعَلُ فِيْ زَمَانِنَا مِنَ الْقِيَامِ عَلَى النَّعْلَيْنِ فِيْ صَلٰوةِ الْجَنَازَةِ لٰكِنْ لَا بُدَّ مِنْ طَهَارَةِ النَّعْلَيْنِ . البحر الرائق ج۲ ص ۱۷۹ کتاب الجنائز .

(۵) فتاوی رحيميه ج۱ ص ۳٦۰ کتاب الجنائز ، فتاوی حقانيه ج۳ ص ۴٦۴ .

او که چيرته په جنازګاه کې ګند پروت ؤ خو د د ځپلې پاکې وی ، د ځپلې او ويستې ، پاسه پرې اودريده او جنازه يې وکړه نو صحيح ده ځکه دا خو داسې شو لکه په ګنده زمکه چې تخته کيدی او د هغې د پاسه اودريږی . (۱)

او که ځپلې يې نه وي اينستې ، او د ګند د پاسه ددې ځپلو سره اودريده نو بيا يې د جنازې لمونځ نه کيږي . (۲)

## ۸. که د مرګ په وخت مسلمان کلمه طيبه اونه وايي د هغه حکم

که چيرته يو کس ټول عمر په مسلمانۍ کې تير کړې وي او اوس د مړ کيدو په وخت کې ده کليمه طيبه اونه ويله نو اوس به هم دې مسلمان وي او د مسلمانانو معامله به ورسره کولې شي . (۳)

## ۹. د مومن او ګناهګار د مرګ نښې :

حضرت سلمان فارسي رضي الله عنه وايي : ما د نبي کريم ﷺ نه اوريدلي دي چې د چا د مرګ وخت رانزدې شي نو په هغه کې درې علامې په غور سره ګورئ :

---

(۱) وَلَوْ اِفْتَرَشَ نَعْلَيْهِ وَقَامَ عَلَيْهَا جَازَ فَلَا يَضُرُّ نِجَاسَةُ مَا تَحْتَهَا . لَكِنْ لَابُدَّ مِنْ طَهَارَةِ نَعْلَيْهِ مِمَّا يَلِيْ الرِّجْلَ لَا مَا يَلِي الْاَرْضَ . طحطاوي على المراقي ص ۴۷۹ باب صلوة الجنازة فصل الصلاة عليه . مطبوعه مصر .
عالمګيري ليکلي : وَلَوْ خَلَعَ نَعْلَيْهِ وَقَامَ عَلَيْهَا جَازَ سَوَاءٌ كَانَ مَا يَلِي الْاَرْضَ مِنْهُ نَجِسًا اَوْ طَاهِرًا اِذَا كَانَ مَا يَلِي الْقَدَمَ طَاهِراً . عالمكيري ج۱ ص ٦٢ الباب الثالث في شروط الصلاة الفصل الثاني في طهارة ما يستر به العورة وغيره ، فتاوى محموديه ج۱۳ ص ۱۱۰ .

(۲) وَلَوْ قَامَ عَلَى النِّجَاسَةِ وَفِيْ رِجْلَيْهِ نَعْلَانِ اَوْ جَوْرَبَانِ لَمْ تَجُزْ صَلوٰتُهُ . وَلَوْ خَلَعَ نَعْلَيْهِ وَقَامَ عَلَيْهَا جَازَ سَوَاءٌ كَانَ مَا يَلِي الْاَرْضَ مِنْهُ نَجِسًا اَوْ طَاهِرًا اِذَا كَانَ مَا يَلِي الْقَدَمَ طَاهِراً .. عالمكيري ج۱ ص ٦٢ الباب الثالث في شروط الصلاة ، طحطاوي على المراقي ص ۴۷۹ باب احكام الجنائز ، بحرالرائق ۱ / ۲٦۸ باب شروط الصلاة . فتاوى محموديه ج ۱۳ ص ۱۱۱

(۳) وَالْمَقْصُوْدُ اَنْ يَمُوْتَ الرَّجُلُ وَلَيْسَ فِيْ قَلْبِهِ اِلَّا اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ . لِاَنَّ الْمَدَارَ عَلَى الْقَلْبِ وَعَمَلُ الْقَلْبِ هُوَ الَّذِيْ يُنْظَرُ فِيْهِ وَتَكُوْنُ النَّجَاةُ بِهِ . التذكرة في احوال الموتى وامور الاخرة ص ۳۵ ط دار الكتب العلمية بيروت ، آپ كے مسائل اور ان كا حل ج۲ ص ۴۱۰ .

۱. که چیرته دده په تَندي خوَله وي. ۲. سترګې یې پُرنَم وي (یعنی په سترګو کې یې اوښکې وي). ۳. او د پوزې سُوري یې اوپړسیږي.

نو پوهه شئ چې په ده باندې د الله ﷻ رحمت دی.

او که چیرته: ۱. ده داسې خرارې کولو لکه څوان اوښ چې چا په مرۍ کې نیولې وي او خرارې کوي. ۲. رنګ یې پیکه شي. ۳. د خُولې نه یې زګونه اوځي او وَښکي یې د ایرې غوندې (خړ) شي. نو پوهه شئ چې په ده باندې د الله ﷻ عذاب نازل شوی. (۱)

## ۱۰. د قریب الموت کس سره سلوک

کله چې په یو مریض کې دا لاندېنۍ نښې راښکاره شي:

۱. مخ یې زیړ شي. ۲. ساه زَر زَر اخلي. ۳. پوزه یې کږه شي. ۴. سترګې یې پورته طرفته لاړې شي. ۵. غوږونه یې مړاوي شي. ۶. لاس او خپې یې یخې شي. ۷. پښې یې دومره کمزورې شي چې اودریدې نه شي. (۲) ۸. شونډې یې اوچې شي. ۹. د ګیرې ویښتان یې خواره او کلاوُ شي.

نو تاسو پوهه شئ چې ددې مریض د زنکدن حالت شروع دی، دې ستوني ستَغ څملوئ، په داسې طریقې سره چې قبله دده خي طرف راشي او سَر ورله لږ قبلې طرفته واړوئ. (۳)

یا یې خپې قبلې طرفته اوغزوئ، او د سَر لاندې ورته بالخت کیدئ چې مخ یې قبلې طرفته راشي (البته که مریض ته تکلیف وُ نو بیا خیر دی په خپل حال یې پریږدئ).

---

(۱) وَرُوِيَ عَنْ سَلْمَانِ الْفَارِسِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: اِرْقَبُوْا لِلْمَيِّتِ عِنْدَ مَوْتِهِ ثَلَاثًا: اِنْ رَشَحَ جَبِيْنُهُ، وَذَرَفَتْ عَيْنَاهُ، وَانْتَشَرَ مِنْخَرَاهُ فَهِيَ رَحْمَةٌ مِّنَ اللهِ نَزَلَتْ بِهِ. وَاِنْ غَطَّ غَطِيْطَ الْبَكْرِ الْمَخْنُوْقِ وَخَمَدَ لَوْنُهُ. وَازبد شَدْقَاهُ فَهُوَ عَذَابٌ مِّنَ اللهِ تَعَالَى قَدْ حَلَّ بِهِ. التذکره للقرطبي ص ۱۹ باب المؤمن يموت بعرق الجبين، آپ کے مسائل اور ان کا حل ج۲ ص ۴۶۶. عَنْ بريدة ﷺ قَالَ قَالَ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ: اَلْمُؤْمِنُ يَمُوْتُ بِعَرَقِ الْجَبِيْنِ. رواه الترمذي، مشكوة ص ۱۴۰ ط كراچي.

**نوټ** ددې خبرې پوره تفصیل په "ملک الموت والانبیاء" ص ۷۴ او ص ۱۳۹ کې پوره په تفصیل سره ذکر دی.

(۲) در مختار وغیره، رساله لبریه.

(۳) حاکم، در مختار مع رد المحتار، رساله لبریه.

او موجود ناست کسانو د پاره دا مستحب دي چې په خپله په اوچت آواز سره کلمه طيبه (لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللهِ) او کلمه شهادت (اَشْهَدُ اَنْ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْکَ لَهٗ وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ) ووايئ. (۱) ددې د پاره چې دا قريب الموت کس هم دا ووايي، او دده د دُنيا نه په رخصتيدو آخيري خبره: لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللهِ شي.

حديث کې راځي: لَقِّنُوْا مَوْتَاکُمْ '' لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ '' تاسو خپلو مړو ته تلقين د '' لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ '' کوئ. (۲)

او چې د کوم کس آخري خبره '' لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ '' شي نو دا انسان به جنت ته داخليږي. رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي:

مَنْ کَانَ آخِرُ کَلَامِهٖ '' لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ '' دَخَلَ الْجَنَّةَ. (۳) د چا چې د دُنيا نه په رخصتيدو آخري خبره '' لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ '' شي نو هغه به جنت ته داخليږي.

**خبرداری**: قريب الموت ته به هيڅ کله د کلمه شهادت ويلو حکم نه کوئ بلکه د هغه د وړاندې به يې په خپله په اُوچت آواز سره وايئ، ځکه په هغه باندې دا وخت سخت تکليف وي، په هوش کې نه وي، هسې نه چې د خُلې نه څه ګډې وډې خبرې رااوباسي، او يا ترې انکار وکړي.

نوټ: چې کله ده يو کرَت کلمه شهادت وويله، نو بيا باربار دا کوشش مه کوئ چې دې دې د مرګه پورې کلمه شهادت جاري اوساتي. (۴)

---

(۱) در مختار، رساله قبريه.

(۲) مشکوة باب مايقال عند من حضره الموت ص ۱۴۰. فقهاؤ هم ليکلي: وَيُلَقَّنُ بِذِکْرِ الشَّهَادَتَيْنِ لِقَوْلِهٖ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَقِّنُوْا مَوْتَاکُمْ '' لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ ''. شامي ج۲ ص ۱۹۰ ط. کراچي، حلبي کبيري ص ۵۷۶، مجمع الانهر ج۱ ص ۲۶۳، فتاوى محموديه ج۱۳ ص ۲۶۹.

(۳) رواه ابوداؤد ۳۱۱۶، واحمد ۲۳۳/۵، ۲۴۱، والهيثمي في المجمع ۳۲۳ والحاکم ۱ / ۳۵۱، مشکوة باب مايقال عند من حضره الموت حديث ۶.

(۴) درمختار، بهشتي زيور، مسافر آخرت، احکام ميت لمولانا محمد عبدالحي رحمه الله ص ۲۰، رساله قبريه ص ۳.

# د سورة يٰسين په لوستو د مرګ سختي آسانيږي

قريب الموت ته سورة يٰسين تلاوت کول مستحب دي ، ځکه په دې سره په ده باندې د زنکدن سختي آسانيږي . رسول الله ﷺ فرمايي :

مَا مِنْ مَيِّتٍ يُقْرَأُ عِنْدَ رَأْسِهٖ يٰسٓ اِلَّا هَوَّنَ اللهُ عَلَيْهِ . (۱)

د کوم وفات کيدونکي کس سَر ته چې سورة ياسين اولوستې شي نو الله ﷻ په ده باندې آساني راولي .

په يو بل حديث کې راځي : اِقْرَءُوْ سُوْرَةَ يٰسٓ عَلٰى مَوْتَاكُمْ . (۲)

تاسو قريب الموت ته سورة ياسين وايئ .

**تنبيه** : که د زنکدن په حالت کې خداى مه کړه د مريض د خُلې نه څه کفري خبره اووځي نو په خلقو کې دا خبره مه خوروئ ، بلکه دا خيال کوئ چې د زنکدن د سختيو په وجه يې عقل په ځاى نه دى ، او د الله ﷻ نه دده د پاره د ښښنې دُعا غواړئ . (۳)

کله چې دا کس وفات شي نو په پَلَنه کپړه ورله زَنه په داسې طريقه اوتړئ چې د کپړې غوټه پاس په سَر راشي ، سترګې ورله پټې کړئ او د سترګو بندوونکې دې دا ووايي :

بِسْمِ اللهِ وَعَلٰى مِلَّةِ رَسُوْلِ اللهِ . (۴)

بيا د مړي لاس او خپې سَم کړئ ، د خپو غټې ګوتې يو ځاى په کپړه اوتړئ ، په خيټه ورله يو دروند شى کيدئ چې خيټه يې اونه پړسيږي ، په کټ کې يې واچوئ او د پاسه پرې سپين څادر خور کړئ . (۵)

بيا د مړي په تجهيز ، تکفين ، او ښښولو کې تادي کوئ .

(۱) شرح الصدور ص ٦٩ .
(۲) رواه احمد و ابوداؤد وابن ماجه ، مشکوة باب ما يقال عند من حضره الموت حديث ٦ .
(۳) بهشتي زيور ، احکام ميت ص ۲۱ .
(۴) شرح الصدور ص ۷۴ .
(۵) در مختار ، ۲/۸۳ ، بهشتي زيور ، مسافر آخرت ، احکام ميت ص ۲۲

## ۱۱ . د مرگ حقيقت

عام طور باندې خلق دا خيال کوي چې گني مرگ د فناء کيدو او ختميدو نوم دی ،او وايي: انسان چې وفات شي بَس مکمل ختم او فناء شي . حالانکه دا خيال غلط دی ځکه مرگ صرف د فناء کيدو نوم نه دی بلکه د مرگ په وجه خو انسان صرف د يو ځای (عالَمِ دُنيا) نه بل ځای (عالَمِ برزخ) طرفته انتقال کوي ، او روح د بدن نه جدا شي ، اصلي انسان خو روح دی کوم چې هيڅ کله ختميږي نه .

البته جسم خو د روح د پاره د سورلۍ حيثيت لري ، که جسم په ظاهره ختم شي نو بيا هم اصلي انسان روح دی دا هيڅ کله نه ختميږي . (۱)

بعضې علماء وايي : د روح او بدن د تعلق نوم حيات (ژوند) دی ، او د تعلق د ختميدو نوم مرگ دی ، مگر د مرگ سره بالکلية تعلق نه ختميږي ، بلکه هغه تعلق ختميږي په کوم چې ددې عالَمِ دُنيا آثار ظاهريږي ، د عالَمِ برزخ د آثارو تعلق ورسره اوس هم قائم وي . (۲)

## ۱۲ . د وفات کيدو نه پس د روح ځای

د وفات کيدو نه روستو چې د انسان روح په کوم ځای کې پاتې کيږي په دې کې مختلف روايات راغلي ، او د علماو اقوال هم مختلف دي ، مگر د ټولو نصوصو جَمعه کولو نه روستو چې کومه خبره معلوميږي هغه داده چې :

---

(۱) قَالَ الْعُلَمَاءُ · اَلْمَوْتُ لَيْسَ بِعَدَمٍ مَحْضٍ وَلَافَنَاءٍ صَرْفٍ . وَاِنَّمَا هُوَ اِنْقِطَاعُ تَعَلُّقِ الرُّوحِ بِالْبَدَنِ وَمُفَارَقَتُهُ وَحَيْلُوْلَةٌ بَيْنَهُمَا ، وَتَبَدُّلُ حَالٍ اِلَى حَالٍ ، وَانْتِقَالُ دَارٍ اِلَى دَارٍ . شرح الصدور للسيوطي باب فضل الموت ص ۱۱۲ ط . المکتبة العلمية بيروت ، التذکرة للقرطبي ص ۴ . ط دارالکتب العلمية بيروت ، آپ کے مسائل اور اُن کا حل ج۸ ص ۵۷۷ اَلْمَوْتُ زَوَالُ الْحَيَاةِ عَمَّنْ اِتَّصَفَ بِهَا . قواعد الفقه ص ۵۱۳ ، آپ کے مسائل اور اُن کا حل ج۲ ص ۴۰۸ .

(۲) مَوْتُ النُّفُوْسِ هُوَ مُفَارَقَتُهَا لِأَجْسَادِهَا وَخُرُوْجُهَا مِنْهَا . شرح العقيدة الطحاوية ص ۴۴۶ ، وفيه ايضا : الرابع: تعلقها به في البرزخ . فانها و ان فارقته و تجردت عنه فانها لم تفارقه فراقًا کليًا بحيث لايبقى لها اليه التفات . شرح عقيدة الطحاوية ص ۴۵۱ ، آپ کے مسائل اور اُن کا حل ج۲ ص ۴۰۸ .

د نيکانو د روحونو ځای عليين دی، ليکن درجات يې مختلف دي . (۱)

او د بدانو د روحونو ځای سجين دی . (۲)

او د هر روح د خپل جسم سره يو خاص تعلق وي ، اوس که دا جسم يې په قبر کې دفن وي ، يا په دریاب کې ډوب وي ، يا د ځناورو په خيټه کې وي خو بيا هم د دې روح ورسره يو خاص تعلق وي ، او د همدې خاص تعلق نوم برزخي ژوند دی . (۳)

بيا خاصکر د مومنانو روحونه خو به ښه خوشحاله وي . رسول الله ﷺ فرمايي :

إِنَّ أَرْوَاحَ الْمُؤْمِنِيْنَ فِيْ طَيْرٍ خُضْرٍ تَعْلُقُ بِشَجَرِ الْجَنَّةِ . (۴)

بيشکه (په عالَم برزخ کې) د مومنانو روحونه د شنو مارغانو په قالب کې وي .

په يو بل حديث کې ذکر دي :

إِنَّمَا نَسَمَةُ الْمُؤْمِنِ طَيْرٌ تَعْلُقُ فِيْ شَجَرِ الْجَنَّةِ حَتّٰى يَرْجِعَهُ اللهُ فِيْ جَسَدِهٖ يَوْمَ يَبْعَثُهُ . (۵)

بيشکه (په عالَم برزخ کې) د مومن روح (دده د عزت د پاره) د مارغه په قالب کې وي چې د جنت د ونو ميوې خوري ، تر دې چې د قيامت په ورځ کله چې الله ﷻ هغه را اوچت کړي نو دې به خپل بدن ته واپس اوليږي .

په يو روايت کې ورسره دا سې الفاظ هم شته چې د مومنينو روحونه به د شنو مارغانو په قالب کې وي چې په جنت کې به ګرځي ، د جنت ميوې به خوري ، د جنت اوبه به څکي او د عرش د لاندې د سرو زرو په قنديلونو کې به يې خپل د اوسيدو ځای جوړ کړی وي . (۶)

---

(۱) علامه قرطبي رحمه الله ليکي : إِنَّ كِتَابَ الْأَبْرَارِ مَرْفُوْعٌ فِيْ عِلِّيِّيْنَ عَلٰى قَدْرِ مَرْتَبَتِهِمْ . وَقَالَ الضحاک ومجاهد وقتادة يَعْنِي السَّمَاءَ السَّابِعَةَ فِيْهَا أَرْوَاحُ الْمُؤْمِنِيْنَ . تفسير قرطبي ج۱۹ ص ۲۶۲ طبع مصر .

(۲) عن ابن عباس رضی الله عنهما : قَالَ : إِنَّ أَرْوَاحَ الْفُجَّارِ وَأَعْمَالَهُمْ لَفِيْ سِجِّيْنَ . تفسير قرطبي ج۱۹ ص ۲۵۷ طبع مصر .

(۳) آپ کے مسائل اور اُن کا حل ج۲ ص ۳۲۸ .

(۴) مشکوة باب تمنی الموت و ذکره حديث ۲۱ .

(۵) رواه مالک والنسائي والبيهقي في کتاب البعث والنشور ، مشکوة باب تمنی الموت و ذکره حديث ۱۷ .

(۶) مظاهرِ حق شرح مشکوة ج۳ ص ۱۲۷

# د مرګ متعلق نور بهترين واقعات:

د ''مرګ بيان'' موضوع متعلق مې نور بهترين واقعات ذکر کړي چې په اوريدو سره يې د انسان په زړه کې آخرت طرفته توجه پيدا کيږي او د نيکو اعمالو توفيق ورته نصيبه کيږي.

## د حضرت عبدالله بن عباس ﷺ دوفات نه پس يوه عجيبه مرغۍ راتلل

حضرت سعيد بن جبير ﷺ وايي: چې کله حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنهما په طائف کې وفات شو، د جنازې تياريدو نه پس يوه عجيبه مرغۍ راغله چې د هغې په شان مرغۍ چيرته وراندې نه وه ليدلې شوې، او د جنازې په کالبوت کې ورننوته، خو بيا چا په وتلو اونه ليده، کله چې دې دفن شو، نو د قبر په غاړه يو غيبي آواز دا آيت تلاوت کولو:

﴿ يَا أَيَّتُهَا النَّفْسُ الْمُطْمَئِنَّةُ . ارْجِعِي إِلَىٰ رَبِّكِ رَاضِيَةً مَّرْضِيَّةً . فَادْخُلِي فِي عِبَادِي . وَادْخُلِي جَنَّتِي ﴾ . (۱) خو هيڅ پته اونه لګيده چې دا آيت چا تلاوت کړو. (۲)

## د بدن نه جدا شوي سَر نورو ته خطاب وکړو

امام حافظ طبراني رحمه الله په کتاب العجائب کې په خپل سند سره د قباث بن رزين ابن ابي هاشم نه د هغه خپله واقعه رانقل کړې، دا قباث بن رزين وايي: زه يو ځل د روم په علاقه کې بَندي (قيدي) شوم، (او د ما سره څه نور کسان هم وو)، د هغه ځای بادشاه مونږ رااوغوښتو، او خپل دين يې مونږ ته وړاندې کړو چې دا قبول کړئ، او وې ويل چې: هر څوک د قبلولو نه اِنکار وکړي نو د هغه څټ به په (توره) وهلې شي.

---

(۱) سورة الفجر ۲۷ تا ۳۱.

(۲) عن سعيد بن جبير قال: مَاتَ ابْنُ عَبَّاسٍ بِالطَّائِفِ . فَجَاءَ طَيْرٌ لَمْ يُرَ عَلَى خَلْقَتِهِ فَدَخَلَ نَعْشَهُ ثُمَّ لَمْ يُرَ خَارِجًا مِنْهُ . فَلَمَّا دُفِنَ تُلِيَتْ هٰذِهِ الآيَةُ عَلَى شَفِيْرِ الْقَبْرِ لَا يُدْرى مَنْ تَلَاهَا: ﴿ يَا أَيَّتُهَا النَّفْسُ الْمُطْمَئِنَّةُ . ارْجِعِي إِلَىٰ رَبِّكِ رَاضِيَةً مَّرْضِيَّةً . فَادْخُلِي فِي عِبَادِي . وَادْخُلِي جَنَّتِي ﴾ . رواه الطبراني عن عبدالله بن احمد عن مروان. تفسير ابن كثير ج٦ ص ۴۵۹ الفجر آيت ۲۷ ، معارف القرآن الفجر آيت ۲۷ ، البداية والنهاية ۷۰۸\۷ .

په مونږ کې دري کسان د يرې نه مرتد شو ( او د بادشاه دين يې قبول کړو ) ، څلورم کس چې پيش شو نو هغه د کفر کولو او د بادشاه دين منلو نه انکار وکړو ، د هغه څټ ... هلې شو او سر يې په نزدې نهر کې اوغورځولې شو ، د هغه سر په اوبو کې ډوب شو ... يا د اوبو د پاسه رابنکاره شو ، او دې درې ( مرتد شوي ) کسانو ته يې اوکته ، هر کس ته يې په خپل نوم سره آواز وکړو چې يا فلان ، يا فلان ، يا فلان او بيا يې ورته وويل : الله تعالى په خپل کتاب کې فرمايلي:

﴿ يَا أَيَّتُهَا النَّفْسُ الْمُطْمَئِنَّةُ . ارْجِعِي إِلَى رَبِّكِ رَاضِيَةً مَّرْضِيَّةً . فَادْخُلِي فِي عِبَادِي . وَادْخُلِي جَنَّتِي ﴾ . (۱)

ترجمه : اې د اطمينان واله نفسه ! ته خپل رب ته واپس وګرځه ، په داسې حال کې چې ته د هغه نه راضي يې او هغه د تا نه راضي دی ، زما په نيکانو بندګانو کې داخل شه ، او زما په جنت کې داخل شه .

دا سر بيا په اوبو کې ډوب شو ، قريبه وه چې ټول نصارىٰ مسلمانان شوي وی ( يعنی په دې ځای کې موجود اکثرو کافرانو اسلام قبول کړو ) .کله چې دا عجيبه واقعه موجودو نصاری ؤ وليده نو د بادشاه تخت اوخوزيده ( يعنی حکومت يې کمزورې شو ) هغه درې مرتد شوي کسان واپس مسلمانان شو ، دا قباث بن رزين رحمه الله وايي چې : بيا د خليفه ابو جعفر منصور وفد راغې او مونږ ټول يې د قيد نه راخلاص کړو . (۲)

---

(۱) سورة الفجر ۲۷ تا ۳۱.

(۲) وقد ذكر الحافظ محمد بن المنذر الهروي ـ المعروف بشكر ـ في كتاب العجائب بسنده عن قباث ابن رزين ابي هاشم قال : أسرت في بلاد الروم فجمعنا الملك وعرض علينا دينه على ان من امتنع ضربت عنقه . فارتد ثلاثة . وجاء الرابع فامتنع فضرب عنقه . والقي رأسه في نهر هناک . فرسب في الماء ثم طفا على وجه الماء ونظر الى اولئک الثلاثة فقال : يا فلان ! ويا فلان ! ويا فلان ! يناديهم باسمائهم قال الله تعالى : ﴿ يَا أَيَّتُهَا النَّفْسُ الْمُطْمَئِنَّةُ . ارْجِعِي إِلَى رَبِّكِ رَاضِيَةً مَّرْضِيَّةً . فَادْخُلِي فِي عِبَادِي . وَادْخُلِي جَنَّتِي ﴾ ثم غاص في الماء . فكادت النصارى ان يسلموا و وقع سرير الملک ورجع اولئک الثلاثة الى الاسلام . قال : وجاء الوفد من عند الخليفة ابي جعفر المنصور فخلصنا . تفسير ابن كثير ج٦ ص ۴۵۹ الفجر آيت ۲۷ ، معارف القرآن الفجر آيت ۲۷ .

# د يو بادشاه د روح قبض کولو واقعه :

حضرت وهب بن منبه د يو بادشاه واقعه بيانوي چې يو ځل ده د خپل ملک د سيل اراده وکړه ، نو شاهي لباس يې ځان له رااوغوښت ، يوه جوړه ورته راوړې شوه هغه يې خوښه نه شوه ، دويمه يې رااوغوښته هغه يې هم خوښه نه شوه ، دغه شان يې بار بار يوه يوه راغوښته، آخر دا چې يوه جوړه يې په کې خوښه شوه ( هغه يې واغوسته ) .

بيا د سورلۍ دپاره ورته يو آس راوستې شو ، هغه يې خوښ نه شو دا يې واپس کړو، دويم يې رااوغوښت هغه يې هم خوښ نه شو ، بيا ورته دريم ...... راوستې شو خو يو يې هم خوښ نه شو .آخر دا چې ټول اسونه ورته حاضر کړې شو ، ده په هغې کې ځانله يو خوښ کړو او په هغه سور شو .

شيطان مردود دده غوږونه د تکبّر د هوا نه ډک کړي وو ، دې ډير په ناز ، نخرو او تکبر سره روان شو ، فوجيان او خادمان ورسره پياده روان وو ، مزل يې کولو ، په لاره کې ورته يو کس رامخې ته شو ، کمزوري حالت واله ؤ ، او زړې جامې يې اغوستې وى ، په بادشاه يې سلام واچول ، خو بادشاه ده طرفته د ډير تکبر د وجې نه کتل هم نه غوښتل ، دې کس د بادشاه د آس واګې اونيوې ، بادشاه دې او رټل ، او ورته وې ويل :

د اس واګې پريږده ، په تا کې دا جرأت څنګه پيدا شو چې تا زما د آس واګې اونيوى ؟

دې کس ورته ووېل : زما د تاسره يو کار دى ، بادشاه ورته ووېل : صبر وکړه زه درکوزېږم نو بيا به راته ووايې .

ده په زوره د آس واګې راښکلې او ورته وې ويل : راکوزيږه مه . بس او س يې درته وايم .
بادشاه ورته ووېل : څه وايې؟ ده ورته ووېل : د راز خبره ده په غوږ کې يې درته کومه .
بادشاه ورته غوږ ورنزدې کړو ، ده ورته په غوږ کې ووېل : زه ملک الموت يم ، ستا د روح اخيستو دپاره راغلې يم .

د بادشاه رنګ تَک زيړ شو ، ژبه يې اونښته ، او وې ويل : دومره مهلت راکړه چې زه خپل کورته لاړ شم ، د خپل آسباب څه بندوبس وکړم ، او کور واله ؤ سره ووينم .
ملک الموت ورته ووېل : تا ته هيڅ مهلت نشته ، او س ته هيڅ کله خپل کور او اسباب نه

دا يې وويل او د آس د پاسه يې ورنه روح واخيست ، بادشاه د لرګي غوندې د آس نه لاندې رااوغورځيد.

## د يو نيک سړي د روح قبض کولو واقعه :

د بادشاه روح قبض کولو نه روستو ملک الموت د يو غريب سړي روح قبض کولو دپاره لاړ ، دا نيک سړې چيرته په سفر روان وُ ، ملک الموت ده ته ( په انساني شکل کې ) راغې ، سلام يې واچول ، هغه ورته د سلام جواب ورکړو ، ملک الموت ده ته وويل : زه تاته په غوږ کې څه خبره کوم . هغه ورته وويل : وې کړه . ده ورته په غوږ کې وويل :

زه ملک الموت يم . هغه ورته وويل : ډيره ښه ده ، ستا راتله دې مبارک وي ، تا خو ډير ناوخته کړو ، زما خو ستا د ملاقات ډير شوق وُ ، ملک الموت ورته وويل : د کوم کار د پاره چې ته د کور نه راوتې يې هغه پوره کړه ( بيا به زه ستا روح واخلم ) .

دې نيک بنده ورته وويل : ماته د الله ﷻ سره ملاقات د ټولو نه محبوب ترين کار ښکاري . ملک الموت ورته وويل : ته چې په کوم حالت باندې وفات کيدل غواړې نو زه به په هماغه حالت باندې ستا روح واخلم . دې نيک کس ورته وويل :

آيا تاته ددې اختيار شته ؟ ملک الموت ورته وويل : ماته د الله ﷻ د طرفه دا حکم شوی چې ستا دمرضۍ او خوشحالۍ لحاظ اوساتم . ده ورته وويل : ښه ده . زه اَودس کوم ، او په لمانځه اودريږم ، کله چې سجدې ته لاړ شم نو ته زما روح قبض کړه .

نو همداسې اوشو ، کله چې ده لمونځ شروع کړو او سجدې ته لاړ نو ملک الموت دده روح قبض کړو . (۱)

## د فريدالدين عطار دوراندې د يو نيک کس وفات کيدل

د مشهور بزرګ " خواجه فريد الدين عطار رحمه الله " اول د عطرو دُکان وُ ، عطر به يې خرڅول ، په دُکان کې يې مختلف قسمه دعطرو بوتلې ( شيشې ) ايښې وی ، يوه ورځ يو فقير راغې ، دې دُکان ته راننوت ، او په دې دُکان کې يې د عطرو دې بوتلو ته کتل راکتل .

(۱) ناقابلِ يقين سچے واقعات ص ۳۵۹ ، تفسير روح البيان ج ص .

فريد الدين عطار ورته پوښتنه وکړه : فقيره ! څه شی ګوری ؟ هغه ورته وويل : ته په دُنيا کې دومره ډوب شوې يې حيران ديته يم چې کله ته وفات کيږې نو ستا روح به ددې شيشو نه څنګه را اوځي ؟ (يعنی ستا خو ددې سره ډير محبت دی ، د روح وتلو په وخت کې به هرې شيشې ته ګورې چې دا رانه پاتې شوه) .

فريد الدين عطار چونکه په ځوانی کې ؤ ، په غصه کې يې ورته وويل : فقيره ! ستا روح چې څنګه اوځي هماغه شان به زما روح هم اوځي .

فقير ورته وويل : ښه . زما روح خو داسې اوځي : " په دُکان کې څملاست ، کچکول يې د سَر لاندې کيښود ، څادر يې په ځان راواچول ، او کلمه يې وويله لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللهِ " .

فريد الدين عطار رحمه الله چې دې اوخوزول نو وفات شوې ؤ . په دې ليدو سره دده په زړه باندې دومره آثر اوشو چې په هماغه ساعت يې ټول هر څه صدقه کړه ، او د الله ﷻ عبادت يې شروع کړو . ته دې چې د تَذْكِرَةُ الْاَوْلِيَاء غوندې عظيم کتاب يې اوليکه ، او په بهترينو بزرګانو کې شمار شو (۱)

## د يو ظالم بادشاه د روح قبض کولو واقعه :

يزيد رقاشي رحمه الله وايي چې : په بني اسرائيلو کې ډير غټ ظالم بادشاه ؤ ، يو کرت دې په شاهي تخت ناست ؤ ، ناڅاپه يې يو ډير خوفناک او بدصورته کس وليده چې دده کورته رادننَه شو ، بادشاه چې دې وليده نو سخت اوبريده ، او ورته وې ويل :

اې سړيه ! ته څوک يې ؟ او تا ته چا زما کورته د راتلو اجازت درکړی ؟

هغه ورته وويل : ما ته ددې کور مالک اجازت راکړی . او زه خو هغه کس يم چې ما هيڅ پهره دار نشي رامنعه کولې ، او ما ته د چانه د اجازت اخيستو ضرورت نشته ، زه خو نه د يو بادشاه د سياست نه يريږم ، نه يو ظالم ما يرولې شي ، او نه زما د ګرفت نه څوک بچ کيدې شي

(۱) اهلِ دل کے تڑپادینے والے واقعات ج۲ ص ۲۸۴ ، تذکرة الاولياء حالات فريدالدين عطار اردو ص ۴۳ .

بادشاه چې دا خبرې واورېدې نو پر مخې را اوغورځېده ، اندامونه يې په لړزېدو شو ، او وې ويل : بيا خو ته ملک الموت يې ؟ هغه ورته وويل : آو .

بادشاه ورته وويل : ستا دې په الله ﷻ قسم وي چې ماته ديوې ورځې مهلت راکړه ، ددې د پاره چې زه د ګناهونو نه توبه اوباسم ، د الله ﷻ نه معافي اوغواړم ، او کوم مال چې مې په خزانه کې جَمعه کړی دا خپلو مالکانو ته حواله کړم ، ځکه زه د الله ﷻ عذاب نه شم برداشت کولې .

ملک الموت ورته وويل : زه تاته څنګه مهلت درکړم ، حالانکه ستا د ژوند ورځې پوره شوي ، او ستا وخت ختم دی . بادشاه ورته وويل : ماته د ډېر لږ ساعت د پاره مهلت راکړه .

ملک الموت وويل : دا خو د يو يو ساعت حساب کيږي ، دا خو تا ټول په غفلت او لاپرواهۍ کې تير کړي ، تا خپل ټول ساعتونه پوره کړي .

بادشاه وويل : کله چې زه وفات شم نو د ماسره به په قبر کې څوک وي ؟ ملک الموت ورته وويل : د تاسره به صرف خپل عمل وي . بادشاه وويل : د ماسره خو څه نيک عمل نشته

ملک الموت ورته وويل : هيڅ خبره نه ده اوس ستا ځای جهنم دی ، او په تا د الله ﷻ غضب دی . ملک الموت دده روح قبض کړو او د تخت نه پر مخې لاندې را اوغورځېده . (۱)

## مال و دولت يې په کار رانغې

يو ډير مالدار بادشاه ؤ ، بې اندازې مال و دولت يې جَمعه کړې ؤ ، د دُنيا هر نعمت دده سره ؤ ، ده دځان د پاره يو ډير بهترين قيمتي او ښائسته محل جوړ کړو ، په دې کې يې دوه غټې مضبوطې دروازې اولږولې ، او په دې باندې د خپلې خوښې فوځيان ، غلامان ، پهره دار او جلادان مقرر کړه . خپلو نوکرانو ته يې حکم وکړو چې بهترين خوراک تيار کړئ ، بيا يې ټول خاندان او خپلوان راجَمعه کړه چې د خوشحالۍ په دې پروګرام کې شريک شي ، دې په خپله په شاهي تخت کيناست ، تکيه يې وهلې وه ، خپل نفس ته مخاطب شو او وې ويل :

---

(۱) موت کے سبق آموز واقعات ص ۲۲.

اې نفسه! ما دستا د خوشحالولو د پاره بهترين محل جوړ کړو، خپلوان مې راجمع کړل، ښه ښه خوراکونه مې تيار کړه، نو اې نفسه! ته اوس هميشه په مزو کې اوسه، او فراخه خوراک او خوشحالي کوه.

دا خبرې ده لا خلاصې کړې نه وې چې ناڅاپه خلقو د محل نه بهر يو کس په زړو جامو کې وليد، دې راغې او په دومره زور سره يې دا دروازه ووهله چې د دې په وجه په غونډ محل کې زلزله پيدا شوه، او د بادشاه تخت هم اوخوزيده.

نوکرانو دروازې ته ورمنډې کړې، او ورته وې ويل: دا څه بدتميزه ميلمه يې، صبر وکړه چې مونږ خوراک وکړو او د مونږ نه چې څه پاتې شي هغه پاتې شوې خوراک به تاله درکړو. دې کس ورته وويل: ورشئ، مالک ته مو ووايئ چې ماله راشي، څکه زما ورسره ضروري کار دی، نوکرانو ورته وويل: آخر ته څوک يې چې مونږ تا د خپل مالک سره يو ځای کړو؟ ده ورته وويل: ورشئ هغه ته صرف همدومره ووايئ چې بهر يو کس دې غواړي، د هغه درسره ضروري کار دی.

کله چې دا نوکران او پهره دار دې بادشاه ته راغله او ده ته يې د هغه کس سوال جواب راوړو، نو بادشاه دې نوکرانو ته غصه شو او ورته وې ويل:

تاسو هغه ولې شړل نه؟ ولې مو سزا نه ورکوله؟ او ولې مو بې عزته کولو نه؟ (د هغه څه حيثيت دی چې د ماسره ملاقات کوي؟)

په دې کې هغه کس دوباره په تيزۍ سره دروازه ووهله، ټولو نوکرانو او فوجيانو آسلحه راواخيسته، او په منډه دروازې ته د مقابلې د پاره ورغله، کله چې دروازې ته وراورسيده نو هغه په تيز آواز سره وويل:

خبردار! په خپل خپل ځای اودريږئ، زه ملک الموت يم.

په دې اوريدو سره ټول سخت اويريده، او اندامونه يې په لړزيدو شو. کله چې بادشاه ته ورغې، هغه ورته وويل: ته زما په عوض کې يو بل شی واخله او ما ته څه مه وايه.

ملک الموت ورته وويل: زه صرف ستا د روح قبض کولو د پاره راغلې يم، او تا د دغې نعمتونو او مالونو نه جدا کوم، کوم چې تا جَمعه کړي.

بادشاه يَخ اَو سيلي وكړو ، او وې ويل : په دې مال دې د الله ﷻ لعنت وي چا چې زه په دهوكه كې اچولې ووم ، زه يې د الله ﷻ د عبادت نه منعه كړې وم ، زما خو ګمان وُ چې كنې ماته به زما دا مال فائده راكړي . خو ليكن نن زُما مال زما د پاره د حسرت او افسوس ذريعه وګرځيده ، د مانه پاتې شو او زما د دشمنانو ته په لاس ورغې .

الله ﷻ مال ورته ګويا كړو او ورته وې ويل : اې بادشاه ! ته ولې ما ملامت كوې ؟ بلكه خپل ځان ملامت كړه ، ځكه زه او ته دواړه الله تعالى د زمكې نه پيدا كړي يو ، او زه يې تاته حواله كړې يم د دې د پاره چې ته په ما باندې خپل آخرت جوړ كړې ، ما په فقيرانو تقسيم كړې او د نور د خير كارونه را باندې وكړې .

ليكن تا زه جَمعه كړم او د خپل خواهش موافق دې خرچ كړم ، زما حق دې اداء نه كړو ، شكريه دې اداء نه كړه ، بلكه ناشكري دې وكړه او خپلو دشمنانو ته دې پريښودم ، نو لعنت او ملامتي په خپل ځان باندې ووايه ( په ما باندې يې ولې وايې ؟ )

بيا ملك الموت د بادشاه روح د خوراك خوړلو نه مخكې قبض كړو . خوراك هم ورنه پاتې شو ، ټول مال و دولت هم ورنه پاتې شو او په مرينې د تخت نه رااوغورځيد . (۱)

## د مرګ په وخت د څلور فرښتو خطاب

علامه نسفي رحمه الله په زهرة الرياض كې ذكر كړي چې كله ديو بنده مرګ رانزدې شي نو څلور فرښتې ورته راشي .

اوله فرښته ورته وايي : اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا عَبْدَاللهِ ! قَلَّبْتُ مَشَارِقَ الْأَرْضِ وَمَغَارِبَهَا فَلَمْ أَجِدْ لَكَ خُطْوَةً تَخْطُوْهَا .

اې د الله بنده ! په تا دې سلام وي ، ما خو د زمكې مشرق او مغرب ټول اوكته خو ما ستا داسې ديو قدم ځاى پيدا نه كړو چې ته په هغې كې قدم كيدې .

بيا دويمه فرښته ورته وايي : اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا عَبْدَاللهِ ! قَلَّبْتُ أَنْهَارَ الدُّنْيَا فَلَمْ أَجِدْ لَكَ شَرْبَةً .

(۱) موت كے سبق آموز واقعات ص ۱۳ .

اې د الله بنده ! په تا دې سلام وي ما خو د دُنيا ټول نهرونه اوکته خو ليکن ما ستا د پر ا
د اُوبو يو ګوټ هم پيدا نه کړو .

بيا دريمه فرښته ورته وايي: اَلسَّلَامُ عَلَيْکَ يَا عَبْدَاللهِ ! قَلَّبْتُ مَشَارِقَ الْأَرْضِ وَمَغَارِبَهَا فَلَمْ أَجِدْ لَکَ لُقْمَةً فِيْهَا .

اې د الله بنده ! په تا دې سلام وي ما خو د زمکې مشرق او مغرب ټول اوکته ليکن ما ستا دپاره په دې کې د خوراک يوه نوړۍ پيدا نه کړه .

بيا څلورمه فرښته ورته وايي : اَلسَّلَامُ عَلَيْکَ يَا عَبْدَاللهِ ! قَلَّبْتُ مَشَارِقَ الْأَرْضِ وَمَغَارِبَهَا فَلَمْ أَجِدْ لَکَ فِيْهَا نَفَسًا تَتَنَفَّسُهُ . (۱)

اې د الله بنده ! په تا دې سلام وي ما خو د زمکې مشرقي او مغربي حصې ټولې اوکتې خو ليکن ما ستا دپاره يوه ساه هم پيدا نه کړه چې ته هغه ساه واخلې ( بلکه ستا د ژوند ساګانې پوره شوي ) .

## د مړي محاسن ذکر کول او د بدي بيانولو نه ځان ساتل په کار دي

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :
اُذْکُرُوْا مَحَاسِنَ مَوْتَاکُمْ وَکُفُّوْا عَنْ مُسَاوِيْهِمْ . (۲)
تاسو د خپلو مړو نيکۍ ذکر کوئ ، او د هغوی د بدۍ ذکر کولو نه بچ اوسيږئ .

وجه داده چې د نيکۍ ذکر کولو په وخت د الله ﷻ رحمت راوريږي ، نو ځکه د مړو نيکيو ذکر کولو حکم شوی ، او دا حکم اِستحبابي دی .

او د مړي بدي نه ذکر کولو حکم وجوبي دی ، يعنی په هر مسلمان دا واجب دي چې د مړ ورور مسلمان بدي بيان نه کړي .

په '' حجة الاسلام '' کې ليکلي چې د مړو غيبت کول د ژوندو خلقو د غيبت نه ډير د نفرت قابل دی .

---

(۱) النسفي زهرة الرياض ، نزهة المجالس باب في ذکر الموت ص ۸۶ .

(۲) رواه ابوداؤد والترمذي ، مشکوة باب المشي بالجنازة والصلوة عليها حديث ۳۱ .

په "كتاب الاذهار" کې خو تر دې پورې ليکل شوي چې کوم کس مړې لامبوي او هغه په دې مړي کې څه ښه علامه اووينې: لکه د مړي مخ روښانه وي يا د مړي نه خوشبوي څې نو دا د خلقو وړاندې بيانول مستحب دي.

او که په مړي کې څه خرابه علامه اوګوري لکه: د مړي مخ يا نور بدن تور شوې وي، يا يې صورت مَسخه شوې وي نو د خلقو د وړاندې د دې ذکر کول حرام دي، ځکه نبي عليه السلام فرمايي:

وَكُفُّوا عَنْ مُسَاوِيْهِمْ. د مړي د بدي بيانولو نه بچ شئ.

بيا خاصکر چې په مړي کې يو کار نه وي او په هغه باندې تهمت لږوي نو دا خو ډيره ګناه او حرام کار دی. د دې په باره کې درته يوه واقعه ذکر کوم:

## د مړې ښځې د پټون سره د غاسلې ښځې لاس نښتل:

علامه زرقاني رحمه الله (په شرح د موطاء امام مالک کې) ليکلي چې د مدينې منورې په شاؤ خوا کې يوه ښځه وفات شوه، ښځو ورته غُسل ورکول، يوې ښځې چې کله د دې ورنون (پټون) وينځلو، نو نورو ته يې وويل: خورګانو! تاسو ته پته ده چې د دې مړې ښځې د فلانکي کس سره غلط تعلقات ساتل.

د خداى شان ګوره چې دې څنګه دا خبره وکړه نو په هماغه وخت د دې غاسلې ښځې لاس د دې مړې ښځې د پټون سره اونښته، دې چې هر څومره زُور وکړو خو لاس يې ورنه راجدا نه شو، څه وخت پس د دې مړي وارثان راغله، او آوازيې ورته وکړو چې تادي وکړئ، نا وخته کيږي. دې ښځې ورته وويل: زه خو ستاسو مړې پريږدم خو ستاسو مړې ما نه پريږدي. خلقو چې اوکته نو حيران شو، شپه تيره شوه خو لاس راجدا نه شو، صبا ورځ هم تيره شوه خو بيا هم لاس راجدا نه شو، مُشکل پيدا شو، د مړي وارثان علماؤ ته ورغله، د يو عالِم نه يې پوښتنه وکړه چې زمونږ يوه ښځه مړه شوې، بلې ښځې غُسل ورکول، نو د دې غاسلې لاس د هغې د پټون سره ټينګ نښتې، د دې سره څه چل وکړو؟ دې عالِم ورته وويل: د ژوندۍ ښځې لاس په چاړه باندې غوڅ کړئ.

د دې غاسلې ښځې خپلوانو ووېل: داسې هيڅ کله نشي کيدې، ځکه په دې سره خو زمونږ ژوندۍ ښځه معذوره کيږي.

بل عالِم ته راغله ، هغه ورته دا وویل : چې د دې مړې ښځې څه غوښه د دې لاس سره راغوڅه کړئ . د دې مړې ښځې وارثانو وویل : مونږ هم د خپل مړي بې عزتي نه کوو ، لانجه ورنه جوړه شوه ، درې شپې او ورځې تیرې شوی ، خو لاس ورنه راجدا نه شو ، ټول خلق خبر شو .

خلقو ورته وویل : دا مسئله دلته څوک نشي حل کولې ، بلکه مدینې منورې ته لاړ شئ ، هلته د امام مالک رحمه الله نه پوښتنه وکړئ . ( امام مالک رحمه الله په دې وخت کې د قاضيُ القضات په عُهده باندې وُ ) .

کله چې دوی امام مالک رحمه الله ته راغله ، او دا واقعه یې ورته بیان کړه ، ده ورته وویل : زه په خپله هغه ځای ته ځم چې د واقعې د حقیقت نه ځان خبر کړم ، نو دې راغې ، پَرده اوشوه ، امام مالک رحمه الله د پَردې شاته د دې ښځې نه پوښتنه وکړه :

بي بي ! کله چې تا دې ښځې له غُسل ورکول نو آیا تا خو د خُولې نه څه خبره نه وه ایستې؟ هغې ورته وویل : ما دا ویلي وُ : چې دې مړې ښځې د فلانکي سړي سره غلط تعلق ساتل .

امام مالک رحمه الله ددینه پوښتنه وکړه : د تا سره څلور ګواهان شته ؟ دې وویل : نه . بیا یې ورنه پوښتنه وکړه : تا په خپله لیدلې وه ؟ دې وویل : نه . امام مالک ورته وویل : آخر تا په دې باندې دا تُهمت ولې لږولې ؟ دې ورته وویل : دا ښځه یوه ورځ په دروازه کې ولاړه وه او هغه سړې د دې په دروازه تیر شو .

امام مالک رحمه الله ورته وویل : دا خو تا په دې باندې بغیر د څه دلیل نه تهمت لږولې . د تا سره خو څلور ګواهان هم نشته . لهذا د قرآن کریم حُکم دی :

﴿ وَالَّذِيْنَ يَرْمُوْنَ الْمُحْصَنَاتِ ثُمَّ لَمْ يَأْتُوْا بِأَرْبَعَةِ شُهَدَاءَ فَاجْلِدُوْهُمْ ثَمَانِيْنَ جَلْدَةً ﴾(۱)

ترجمه : بېشکه کوم خلق چې په پاک دامنو ښځو باندې تُهمت لږوي ، بیا څلور ګواهان را نه ولي ، نو هغوی اتیا (۸۰) دُورې ووهئ .

زه چونکه د وخت قاضي القضات یم . جلاد ته یې حکم وکړو چې دا ژوندۍ ښځه اتیا (۸۰) دورې ووهه . جلاد چې کله دُورې وهل شروع کړه ، یوه دُوره یې ووهله ، دویمه یې

---

(۱) النور آیت ۴ .

ووهله ، دريمه يې ووهله ...... خو لاس نه راجدا کيده ، جلاد همداسې په دُوره ووهله ، چې څلوېښت ( ۸۰ ) دُورې پوره شوې نو لاس په خپله راجدا شو .(۱)

## د جنازې کولو اجر :

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي :

مَنِ اتَّبَعَ جَنَازَةَ مُسْلِمٍ إِيمَانًا وَاحْتِسَابًا وَكَانَ مَعَهُ حَتَّى يُصَلِّيَ عَلَيْهَا وَيَفْرُغَ مِنْ دَفْنِهَا فَإِنَّهُ يَرْجِعُ مِنَ الْأَجْرِ بِقِيرَاطَيْنِ كُلُّ قِيرَاطٍ مِثْلُ أُحُدٍ ، وَمَنْ صَلَّى عَلَيْهَا ثُمَّ رَجَعَ قَبْلَ أَنْ تُدْفَنَ فَإِنَّهُ يَرْجِعُ بِقِيرَاطٍ .(۲)

کوم سړی چې د يو مسلمان جنازې سره د مومن کيدو حيثيت سره او د ثواب طلب کولو په غرض لاړ شي او د جنازې سره وي تر دې چې په هغه د جنازې لمونځ وکړي ، او د هغه د تدفين نه فارغ شي نو دا سړی دوه (۲) قيراطه ثواب حاصلو سره راواپس کيږي ، او هر قيراط ( د ثواب په اعتبار سره ) د اُحد د غر هومره برابر دی .

او څوک چې صرف د جنازې لمونځ ورباندې وکړي او د هغه د دفن کيدلو نه مخکې راشي ( يعنی د هغه په تدفين کې شريک نه شي ) نو دې يو قيراط ثواب حاصلولو سره راواپس کيږي .

## د دفن کيدو پورې د حصاريدلو اجر

حضرت عامربن سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه يو کرت د حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنهما سره ناست وُ ، چې په دې کې حضرت خباب رضي الله عنه راغی او وې فرمايل :

اې ابن عمر ! آيا تاسو د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه خبره نه ده اوريدلې ؟ هغه وايي چې نبي کريم صلی الله علیه وسلم فرمايي :

---

(۱) موت کې تياري بحواله زرقاني شرح موطاء امام مالک .

(۲) متفق عليه .

" مَنْ خَرَجَ مَعَ جَنَازَةٍ مِنْ بَيْتِهَا وَصَلَّى عَلَيْهَا وَاتَّبَعَهَا حَتَّى تُدْفَنَ كَانَ لَهُ قِيرَاطَانِ مِنْ أَجْرٍ كُلُّ قِيرَاطٍ مِثْلُ أُحُدٍ ، وَمَنْ صَلَّى عَلَيْهَا ثُمَّ رَجَعَ كَانَ لَهُ مِنَ الْأَجْرِ مِثْلُ أُحُدٍ " (۱)

څوک چې د خپل کور نه د جنازې سره ووځي ، په هغه جنازه وکړي ، او د دفن کيدو پورې ايسار شي هغه ته به دوه قيراطه اجر حاصليږي ، د هر قيراط اجر د اُحد د غر هومره دی.

او چې څوک جنازه وکړي ، بيا راواپس شي ( او د دفن کيدو پورې ايسار نه شي ) هغه ته د اُحد د غر هومره اجر حاصليږي ( يعنی صرف د يو قيراط ثواب ورته ملاويږي کوم چې په ثواب کې د اُحد د غر هومره دی ، حضرت ابن عمر رضي الله عنه به چې جنازه وکړه نو راتلو به ، د دفن کيدو پورې به نه حصاريده ، ده چې دا حديث واوريده ) نو د تصديق د پاره يې حضرت خباب رضي الله عنه حضرت عائشې رضي الله عنها ته وراوليږل ، چې د هغې نه د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه د قول متعلق پوښتنه وکړي ( چې آيا يقيني ده دا قول د نبي عليه السلام نه اوريدلی ؟ ) او حضرت خباب رضي الله عنه ته يې وويل : چې واپس راشي نو ما ته خبر راکړه چې حضرت عائشې رضی الله عنها څه وويل ؟ دلته ابن عمر رضي الله عنه د جُمات واړه واړه کاڼي په لاس کې يو لپه اچولي ؤ ، او اړول راړول يې ، تر دې چې حضرت خباب رضي الله عنه واپس راغې ، او وې ويل : حضرت عائشه رضي الله عنها وايي چې حضرت ابو هريرة رضي الله عنه صحيح ويلي ، ( دې اوريدو سره ) ابن عمر رضی الله عنهما کاڼي د لاس نه په زمکه وويشته ، او وې ويل :

---

(۱) عَنْ عَامِرِ بْنِ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ أَنَّهُ كَانَ قَاعِدًا عِنْدَ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا إِذْ طَلَعَ خَبَّابٌ صَاحِبُ المقصورة فَقَالَ : يَا عَبْدَاللهِ بن عُمَرَ أَلَا تَسْمَعُ مَا يَقُولُ أَبُوهُرَيْرَةَ ؟ يَقُولُ إِنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللهِ ﷺ يَقُولُ : " مَنْ خَرَجَ مَعَ جَنَازَةٍ مِنْ بَيْتِهَا وَصَلَّى عَلَيْهَا وَاتَّبَعَهَا حَتَّى تُدْفَنَ كَانَ لَهُ قِيرَاطَانِ مِنْ أَجْرٍ كُلُّ قِيرَاطٍ مِثْلُ أُحُدٍ ، وَمَنْ صَلَّى عَلَيْهَا ثُمَّ رَجَعَ كَانَ لَهُ مِنَ الْأَجْرِ مِثْلُ أُحُدٍ " فَأَرْسَلَ ابْنُ عُمَرَ خَبَّابًا إِلَى عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا يَسْأَلُهَا عَنْ قَوْلِ أَبِي هُرَيْرَةَ ثُمَّ يَرْجِعُ إِلَيْهِ فَيُخْبِرُهُ بِمَا قَالَتْ وَأَخَذَ ابْنُ عُمَرَ قَبْضَةً مِنْ حَصَى الْمَسْجِدِ يُقَلِّبُهَا فِي يَدِهِ حَتَّى رَجَعَ . فَقَالَ : قَالَتْ عَائِشَةُ : صَدَقَ أَبُوهُرَيْرَةَ . فَضَرَبَ ابْنُ عُمَرَ بِالْحَصَى الَّذِي كَانَ فِي يَدِهِ الْأَرْضَ . ثُمَّ قَالَ : لَقَدْ فَرَّطْنَا فِي قَرَارِيطَ كَثِيرَةٍ . رواه مسلم في الجنائز ٥٦ ، وابوداؤد الحديث ٣١٦٩ ، المتجر الرابح في ثواب العمل الصالح ص ١١١ ، الترغيب والترهيب ٨ / ٣٦١٢.

لَقَدْ فَرَّطْنَا فِيْ قَرَارِيْطَ كَثِيْرَةٍ. مونږ خو بيا د ډيرو قيراطو (اجر و ثواب) په ګټلو کې کوتاهي او کمې کړی.

## د يو مسلمان جنازه کول د جنت تللو سبب دی

يو کرت رسول الله صلى الله عليه وسلم صحابه کرامو ته وفرمايل:

مَنْ أَصْبَحَ مِنْكُمُ الْيَوْمَ صَائِمًا؟ نن د چا روژه ده؟

حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه ورته وويل: أَنَا. نن زما روژه ده.

نبي عليه السلام بيا پوښتنه وکړه:

مَنْ أَطْعَمَ مِنْكُمُ الْيَوْمَ مِسْكِيْنًا؟ نن ورځ په مسکين چا خوراک کړی؟

حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه وويل: أَنَا. ما په مسکين خوراک کړی.

نبي عليه السلام بيا اوفرمايل: مَنْ عَادَ مِنْكُمُ (الْيَوْمَ) مَرِيْضًا؟ نن ورځ چا د مريض بيمارپُرسي کړی؟

ابوبکر صديق رضي الله عنه وويل: أَنَا. ما د مريض بيمارپُرسي کړی.

پيغمبر عليه السلام بيا اوفرمايل: مَنْ تَبِعَ مِنْكُمُ الْيَوْمَ جَنَازَةً؟ نن څوک د جنازې سره تللي؟ او د جنازې لمونځ يې کړی؟

ابوبکر صديق رضي الله عنه وويل: أَنَا. ما د يو مسلمان جنازه کړی.

رسول الله ﷺ وفرمايل:

مَا اجْتَمَعَتْ هٰذِهِ الْخِصَالُ قَطُّ فِيْ رَجُلٍ إِلَّا دَخَلَ الْجَنَّةَ. (۱)

په چا کې چې هم دا خويونه جَمعه شي هغه به جنت ته داخليږي.

---

(۱) رواه مسلم في فضائل الصحابه ۱۲، والبيهقي ۳/۱۸۹، والمنذري في الترغيب ۴/۳۱۹، وابن حبّان، المتجر الرابح في ثواب العمل الصالح ص ۱۱۱.

## د سلو (۱۰۰) کسانو په جنازه کې شریکیدو سره د مړي مغفرت :

حضرت عائشه رضی الله عنها فرمايي چې نبي کریم ﷺ فرمايلي :

مَا مِنْ مَيِّتٍ تُصَلِّيْ عَلَيْهِ اُمَّةٌ مِّنَ الْمُسْلِمِيْنَ يَبْلُغُوْنَ مِائَةً كُلُّهُمْ يَشْفَعُوْنَ لَهٗ اِلَّا شُفِعُوْا فِيْهِ (۱)

په کوم یو مړي باندې چې د مسلمانانو یوه ډله د جنازې لمونځ وکړي او د دوی تعداد سلو (۱۰۰) کسانو ته رسي ، دوی د مړي د پاره شفاعت وکړي (او د مړي د مغفرت دُعا اوغواړي) نو د هغوی شفاعت قبلیږي او د مړي مغفرت نصیبه کیږي .

## د څلویښتو (۴۰) کسانو په جنازه کې شریکیدو سره د مړي مغفرت :

په یو بل روایت کې د څلویښتو کسانو تذکره ده ، حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنهما وایي :

سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا مِنْ رَجُلٍ مُسْلِمٍ يَمُوْتُ فَيَقُوْمُ عَلٰى جَنَازَتِهٖ اَرْبَعُوْنَ رَجُلًا لَا يُشْرِكُوْنَ بِاللهِ شَيْئًا اِلَّا شَفَّعَهُمُ اللهُ فِيْهِ . (۲)

ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه اوریدلي دي : کله چې یو مسلمان مړ شي او د هغه جنازه داسې څلویښت کسان وکړي چې د الله ﷻ سره څوک نه شریکوي ، نو الله ﷻ د دې مړي په حق کې د دې خلقو شفاعت قبلوي (او د دې مړي بښنه کوي) .

---

(۱) رواه مسلم الجنائز ۵۸ ، والنسائي ۷۵/۴ ، مشکوة باب المشي بالجنازة والصلوة عليها حديث ۱۶ .

(۲) رواه مسلم الجنائز ۵۹ ، والبيهقي ۳۸۱/۳ ، مشکوة باب المشي بالجنازة والصلوة عليها حديث ۱۵ . د ابوداؤد شریف په حدیث کې د درې (۳) صفونو ذکر دی . نبي علیه السلام فرمايي : " مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَمُوْتُ فَيُصَلِّيْ عَلَيْهِ ثَلَاثَةُ صُفُوْفٍ مِّنَ الْمُسْلِمِيْنَ اِلَّا اَوْجَبَ " اَيْ اِلَّا وَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ . وَكَانَ مَالِكٌ اِذَا اسْتَقَلَّ اَهْلَ الْجَنَازَةِ جَزَّاَهُمْ ثَلَاثَةَ صُفُوْفٍ لِهٰذَا الْحَدِيْثِ . رواه ابوداؤد في الجنائز ۴۳ ، وابن ماجه والترمذي وقال حديث حسنٌ ، والمنذري في الترغيب ۴/ ۳۴۴ ، المتجر الرابح في ثواب العمل الصالح ص ۱۱۲ .

# جنازې کولو سره د جنازه کوونکو مغفرت کيږي

لکه څرنګې چې د نيکانو خلقو په جنازه کولو سره د مړي مغفرت کيږي نو دغه شان د نيک مړي په جنازه کولو سره هم د جنازه کوونکو خلقو مغفرت کيږي.

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي:

إِنَّ أَوَّلَ مَا يُجَازِيْ بِهِ الْعَبْدُ بَعْدَ مَوْتِهِ أَنْ يُغْفَرَ لِجَمِيْعِ مَنِ اتَّبَعَ جَنَازَتَهُ. (۱)

مومن ته چې د مرګ نه روستو اول کومه ښه بدله او تحفه ورکولې شي هغه داده چې: چا په ده د جنازې لمونځ کړې وي د هغوى ټولو (واړه) ګناهونه او بخلې شي.

## واقعه

علماو يوه واقعه ليکلي چې: يوه نيکه ښځه وفات شوه، کله چې دفن شوه، نو يو غريب سړي سوچ وکړو چې څه به اوس د بل چا نه سوال کوم، دا کومه ښځه چې نن ښخه شوى، ددې نه به کفن اوباسم، او ځان له به يې خرڅ کړم، نو لاړ، ددې ښځې قبر يې راوسپړل، کله يې چې ورنه کفن راويسته، نو دا هغه ښځه ورته الله ﷻ ګويا کړه، او ورته وايي:

عجيبه ده چې يو جنتي سړې د جنتي ښځې نه کفن اُوباسي؟

دې سړي ورته وويل: چې ته خو به جنتي يې، ځکه چې ته نيکه بي بي وى. نو زه په څه شي جنتي شوم؟ زه خو ګناهګاريم.

هغې ورته وويل: چې کله تاسو په ماباندې جنازه وکړه، نو ستا په شفاعت او د خپلو نيکو اعمالو په وجه الله ﷻ زه اوبخلم، او دا احسان يې هم راسره وکړو چې چا هم زما جنازه کړى الله تعالى هغه ټول خلق زما په جنازه کولو سره اوبښل.

**فايده**: معلومه شوه چې د نيک سړي يا نيکې ښځې په جنازه کولو سره د جنازه کوونکو مغفرت هم کيږي.

(۱) رواه الهيثمي في المجمع ۳ / ۲۹، والمنذري في الترغيب ۴ / ۳۴۳، المتجر الرابح في ثواب العمل الصالح ص ۱۱۲، کنزالعمال ج۱ ص۱۲۸۳، د جنت کالي ص ۸۴۶.

# د نیکانو خلقو په تعریف سره د مړي جَنتي کیدل

کله چې متقیان او نیکان خلق د مړي په باره کې د خیر ګواهي ورکړي، او د مړي صفتونه بیان کړي نو دا د دې مړي د جنتي کیدو علامه ده.

او که نیکان او پرهیزګار خلق د یو مړي مذمّت بیان کړي نو دا د دې مړي د جهنمي کیدو علامه ده.

۱. حضرت عمر رضي الله عنه وايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

اَيُّمَا مُسْلِمٍ شَهِدَ لَهُ أَرْبَعَةٌ بِخَيْرٍ اَدْخَلَهُ اللهُ الْجَنَّةَ. قُلْنَا وَثَلَاثَةٌ قَالَ وَثَلَاثَةٌ. قُلْنَا وَاِثْنَانِ قَالَ: اِثْنَانِ. ثُمَّ لَمْ نَسْأَلْهُ عَنِ الْوَاحِدِ. (۱)

د کوم مسلمان (مړي) په باره کې چې څلور کسان د نیکۍ ګواهي ورکړي نو الله تعالی هغه جنت ته داخلوي، مونږ نبي علیه السلام ته وویل: که درې کسان دده د ښه والي ګواهي ورکړي؟ (نو آیا بیا به هم الله جل جلاله دې جنت ته داخلوي؟) رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: که درې کسان د ده د خیر ګواهي ورکړي نو هم الله جل جلاله یې جنت ته داخلوي.

مونږ بیا ورته وویل: که دوه کسان دده د خیر ګواهي ورکړي؟ پیغمبر علیه السلام او فرمایل: که دوه کسان دده باره کې د خیر ګواهي ورکړي نو هم الله جل جلاله به دې جنت ته داخلوي.

حضرت عمر رضي الله عنه فرمايي چې مونږ بیا د یو کس په باره کې ورنه پوښتنه ونه کړه (چې که یو کس دده باره کې د خیر ګواهي ورکړي نو آیا الله جل جلاله به دا مړې جنت ته داخلوي او که نه؟)

۲. حضرت انس رضي الله عنه وايي چې صحابه کرام په یوه جنازه تیر شو نو دوی د دې مړي تعریف وکړو، نبي کریم صلی الله علیه وسلم (چې د صحابه کرامو د ژبې نه دده تعریف واوریده نو دده باره کې یې) وفرمایل: وَجَبَتْ. دده د پاره واجب شو.

---

(۱) رواه البخاري ۲ / ۱۲۲، والنسائي ۴/ ۵۱، واحمد ۱ / ۲۲، ۳۰، ۶۴. مشکوة باب المشي بالجنازة والصلوة علیها حدیث ۱۸.

بيا صحابه کرام په يوه دويمه جنازه تېر شو نو دوی د هغه بدي بيان کړه ، نبي ﷺ اوفرمايل: وَجَبَتْ . واجب شو.

حضرت عُمر رضي الله عنه ووېل : ( اې د الله رسوله ! ) څه شی واجب شو ؟ پېغمبر عليه السلام ورته اوفرمايل : د کوم مړي چې تاسو تعريف وکړو نو د هغه د پاره جنت واجب شو ، او د کوم مړي چې تاسو بدي بيان کړه د هغه د پاره جهنم واجب شو . بيا رسول الله ﷺ اوفرمايل: أَنْتُمْ شُهَدَاءُ اللهِ فِي الْأَرْضِ. تاسو په مخ د زمکه د الله جل جلاله ګواهان يئ.

په يو بل روايت کې ذکر دي چې نبي کريم ﷺ وفرمايل :

اَلْمُؤْمِنُوْنَ شُهَدَاءُ اللهِ فِي الْأَرْضِ. مومنان په مخ د زمکه د الله جل جلاله ګواهان دي.(۱)

يعنی اکثر داسې کېږي چې يو سړی نيک وي نو نيکان بندګان دده د ښه والي ګواهي ورکوي ، ګويا دا دده د جنتي کېدو علامه ده . او چې يو سړی بَد وي نو نيکان بندګان دده د بدۍ ګواهي ورکوي ګويا دا دده د جهنمي کېدو علامه ده .

**خبردار ې** : خو دا د ښه والي او بد والي ګواهي د هرچا معتبره نه ده ، بلکه د نيکانو ، پرهيزګارو او د متقيانو ګواهي معتبره ده .

او هغه ګواهي معتبره ده چې په خپل اختيار يې د زړه د صِدق نه ووايي ، نه دا چې د جنازې په وخت کې اعلان وشي " تاسو ټول ووايئ چې دا ښه سړی و " لکه نن صبا چې دا رواج دی .

---

(۱) عَنْ اَنَسٍ رضي الله عنه قَالَ: مَرُّوْا بِجَنَازَةٍ فَأَثْنَوْا عَلَيْهَا خَيْرًا. فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: وَجَبَتْ. ثُمَّ مَرُّوْا بِأُخْرَى فَأَثْنَوْا عَلَيْهَا شَرًّا فَقَالَ: وَجَبَتْ. فَقَالَ عُمَرُ: مَا وَجَبَتْ؟ فَقَالَ: هٰذَا أَثْنَيْتُمْ عَلَيْهِ خَيْرًا فَوَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ، وَهٰذَا أَثْنَيْتُمْ عَلَيْهِ شَرًّا فَوَجَبَتْ لَهُ النَّارُ. أَنْتُمْ شُهَدَاءُ اللهِ فِي الْأَرْضِ. متفق عليه. وَفِيْ رِوَايَةٍ: اَلْمُؤْمِنُوْنَ شُهَدَاءُ اللهِ فِي الْأَرْضِ. بخاري باب الثناء على الميت حديث ۸٦۸ ، مشکوة باب المشي باب الجنازة والصلوة عليها حديث ۱۷ .

# د مرګ نه هيڅوک هم نشي خلاصدی

## د حضرت موسی عليه السلام د وفات واقعه :

د بخاري شريف او مسلم شريف حديث دی ، رسول الله ﷺ فرمايي : (۱)
چې ملک الموت حضرت موسی عليه السلام ته راغی ، او ورته وې ويل :
أَجِبْ رَبَّكَ . ته د خپل رب حکم قبول کړه (يعنی زه ستا د روح قبض کولو د پاره راغلې يم)
(چونکه ملک الموت د حضرت موسی عليه السلام کور ته نا څاپه په انساني شکل کې داخل شوې و ، نو حضرت موسی عليه السلام اونه پيژنده . (۱) )
نو حضرت موسی عليها السلام په مخ باندې په تيزه يو څپيړه ووهل ، چې په دې سره دده يوه سترګه راووته . حضرت عزرائيل عليه السلام الله رب العزت ته لاړ ، او ورته وې ويل :
أَرْسَلْتَنِيْ إِلَى عَبْدٍ لَا يُرِيْدُ الْمَوْتَ . اې الله ! تا خو زه داسې بنده ته د روح قبض کولو د پاره ليږلې ووم چې هغه مرګ نه خوښوي . (او زما سترګه يې هم ړنده کړه) .

---

(۱) د بخاري شريف حديث رانقل کوم : عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ : أُرْسِلَ مَلَكُ الْمَوْتِ إِلَى مُوْسٰى عَلَيْهِمَا السَّلَامُ فَلَمَّا جَاءَهُ صَكَّهُ . فَرَجَعَ إِلَى رَبِّهِ فَقَالَ : أَرْسَلْتَنِيْ إِلَى عَبْدٍ لَا يُرِيْدُ الْمَوْتَ . فَرَدَّ اللهُ عَلَيْهِ عَيْنَهُ ، وَقَالَ ارْجِعْ فَقُلْ لَهُ : يَضَعُ يَدَهُ عَلَى مَتْنِ ثَوْرٍ فَلَهُ بِكُلِّ مَا غَطَّتْ بِهِ يَدُهُ بِكُلِّ شَعْرَةٍ سَنَةٌ . قَالَ : أَيْ رَبِّ ! ثُمَّ مَاذَا ؟ قَالَ : ثُمَّ الْمَوْتُ قَالَ : فَالْآنَ . فَسَأَلَ اللهَ أَنْ يُدْنِيَهُ مِنَ الْأَرْضِ الْمُقَدَّسَةِ رَمْيَةً بِحَجَرٍ .
بخاري في الجنائز ج ۱ باب من احب الدفن في الارض المقدسة او نحوها حديث ۱۲۵۸ باب ۸۵۱ ، واخرجه ايضا (۲۴۰۷) في احاديث الانبياء باب وفاة موسی عليه السلام . و مسلم في الفضائل (۱۵۷) (۲۳۷۲) باب من فضائل موسی عليه السلام ، والنسائي (۴/ ۳۸) (۶۱۹۰) في الجنائز، واحمد (۲ / ۲۶۹) ، وابن حبان في صحيحه (۸/۳۸) (۶۱۹۰) .
(۱) ملک الموت والانبياء عليهم السلام ص ۴۷ . علامه عيني رحمه الله ليکلي : چې چونکه د حضرت موسی عليه السلام په طبيعت کې سختي وه نو چې ملک الموت ده ته په انساني شکل کې راغی ، او ده ته يې دا اونه ويل چې زه ملک الموت يم ، بلکه ده ته يې د وفات کيدو خبر ورکړو ، نو حضرت موسی عليه السلام دې اونه پيژندو ، او په څپيړه باندې يې ووهل ، چې په دې سره دده سترګه خرابه شوه ، بيا چې کله دوباره ورته ملک الموت راغی ، او ده اوپيژنده ، نو بيا يې د الله ﷻ حکم ته غاړه کيښوده . معلومه شوه چې د حضرت موسی عليه السلام ملک الموت لره په څپيړه باندې وهل د ژوند سره د محبت په وجه نه وو ، بلکه ده اول پيژندلې نه و . تفهيم البخاري ج۱ ص۵۶۹ .

الله ﷻ دده سترګه روغه کړه، او ورته وې ویل: چې لاړ شه، او حضرت موسی علیه السلام ته روایه: چې د غوایي په شا باندې لاس کیدي او دده د لاس لاندې چې څومره ویښتان راشي نو د هر ویښته په عوض کې به یو کال ژوند ورکوم.

کله چې حضرت موسی علیه السلام ته دا پیغام راورسید، نو وې فرمایل:

أَيْ رَبِّ! ثُمَّ مَاذَا؟ اې ربه! ددې کالونو پوره کیدو نه پس به بیا څه وي؟

الله ﷻ ورته وفرمایل: ثُمَّ الْمَوْتُ. بیا به مرګ وي. نو موسی علیه السلام وفرمایل:

فَالْآنَ مِنْ قَرِيْبٍ. (چې کله آخر هم مرګ شته) نو بیا خو زما روح اوس واخله....

فایده: معلومه شوه چې آخر هم مرګ شته.

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوا اسْتَعِيْنُوْا بِالصَّبْرِ وَالصَّلٰوةِ إِنَّ اللهَ مَعَ الصَّابِرِيْنَ ﴾ البقرة آيت ١٥٣.

﴿ إِنَّمَا يُوَفَّى الصَّابِرُوْنَ أَجْرَهُمْ بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴾.الزمر آيت ١٠.

# د صبر فضيلت او اهميت

تَاليف :

اَبُوالشَّمْس مولانا نُوْرُالْهُدیٰ عُفِيَ عَنْهُ

مُدَرِّس دَارُالعلوم فيضُ القرآن اکاخيل کالونی مردان

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# د صبر فضيلت او اهميت :

اَلْحَمْدُ لِحَضْرَةِ الْجَلَالَةِ ، وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ الرِّسَالَةِ ، وَعَلٰى آلِهٖ وَأَصْحَابِهِ الَّذِيْنَ هُمْ أَهْلُ الْفَضْلِ وَالْعَدَالَةِ .

أَمَّا بَعْدُ فَأَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ . قَالَ اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى فِي الْقُرْآنِ الْمَجِيْدِ وَالْفُرْقَانِ الْحَمِيْدِ : ﴿ إِنَّمَا يُوَفَّى الصَّابِرُوْنَ أَجْرَهُمْ بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴾. (١)

و قَالَ فِيْ مَوْضِعٍ آخَر : ﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوا اسْتَعِيْنُوْا بِالصَّبْرِ وَالصَّلٰوةِ إِنَّ اللهَ مَعَ الصَّابِرِيْنَ ﴾. (٢)

وَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ : مَا أُعْطِيَ أَحَدٌ عَطَاءً خَيْرًا وَأَوْسَعَ مِنَ الصَّبْرِ . (٣)

وَعَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِيْ وَقَّاصٍ رضي الله عنه قَالَ : قُلْتُ : يَارَسُوْلَ اللهِ ! أَيُّ النَّاسِ أَشَدُّ بَلَاءً ؟ قَالَ : اَلْأَنْبِيَاءُ ثُمَّ الْأَمْثَلُ فَالْأَمْثَلُ يُبْتَلَى الرَّجُلُ عَلٰى حَسْبِ دِيْنِهٖ فَإِنْ كَانَ دِيْنُهٗ صُلْبًا إِشْتَدَّ بَلَاءُهٗ وَإِنْ كَانَ فِيْ دِيْنِهٖ رِقَّةٌ إِبْتَلَاهُ اللهُ عَلٰى حَسْبِ دِيْنِهٖ . فَمَا يَبْرَحُ الْبَلَاءُ بِالْعَبْدِ حَتّٰى يَمْشِيَ عَلَى الْأَرْضِ وَمَا عَلَيْهِ خَطِيْئَةٌ . (٤) . صَدَقَ اللهُ الْعَظِيْم .

---

(١) الزمر آيت ١٠.

(٢) البقره آيت ١٥٣ .

(٣) اخرجه البخاري فى الزكاة باب الاستعفاف فى المسئلة (رقم ١٤٦٩ ) ومسلم كتاب الزكاة باب فضل التعفف والصبر (رقم ١٠٥٣\١٢٤ ) الترغيب والترهيب ج ٢ كتاب الجنائز الترغيب فى الصبر حديث نمبر ٢ .

(٤) ابن ماجه كتاب الفتن باب الصبر على البلاء ( رقم ٤٠٢٣ ) ، والترمذي كتاب الزهد باب ما جاء فى الصبر على البلاء (٢٣٩٨ ) وقال حسن صحيح ، وصحّحه الشيخ الالباني فى السلسلة الصحيحة ( رقم ١٤٣ ) ، الترغيب والترهيب ج٢ كتاب الجنائز الترغيب فى الصبر حديث ١٥ . وفي رواية : قَالَ النَّبِيُّ ﷺ أَشَدُّ النَّاسِ بَلَاءً اَلْأَنْبِيَاءُ ثُمَّ الصَّالِحُوْنَ ثُمَّ الْأَمْثَلُ فَالْأَمْثَلُ . اخرجه البخاري ( ١٠ / ١١١ ) نزهة الناظرين فى الأخبار والآثار المروية عن الأنبياء والصالحين ص ٥٣٨ كتاب الصبر والحمد والشكر .

# شریعت په هر حالت کې د انسان راهنمایي کړي

محترمو مسلمانانو ورونو ! دا دُنیا دَارُالإِمتِحَان دی . په دې کې په انسان باندې مختلف قسمه حالات راځي ، کله به مصیبتونه او غمونه وي ، او کله به خوشحالی او نعمتونه وي خو شریعت په هر حالت کې انسان ته یو دَستُورُ العَمَل ورکړی ، دده راهنمائي یې کړی ، او ده ته یې دا حکم کړی :

چې د خوشحالی په وخت کې د الله جَلَّ جَلَالُهُ شکریه ادا کوه ، په ژبه د الله جَلَّ جَلَالُهُ تعریف بیانوه ، او د ګناه په کار رونز کې دا نعمت مه استعمالوه . بیا الله جَلَّ جَلَالُهُ د انسان سره د شکریې په ادا کولو سره د نعمتونو د زیاتیدو وعده هم کړی ، الله تعالی فرمایي :

﴿ لَئِن شَكَرْتُمْ لَأَزِيدَنَّكُمْ وَلَئِن كَفَرْتُمْ إِنَّ عَذَابِي لَشَدِيدٌ ﴾ . (۱)

ترجمه : که چیرته تاسو ( زما ) شکریه ادا کړئ نو زه به تاسو له ضرور نور (نعمتونه) هم درکړم ، او که چیرته تاسو ( زما ) ناشکري وکړئ نو بیشکه زما عذاب ډیر سخت دی .

او کله چې په یو انسان باندې څه مصیبت یا غم راشي ( لکه څوک نزدې خپلوان یې وفات شي ، بیمار شي ، فقر و فاقه او غُربت ورباندې راشي ، مالي نقصان یې وشي ، د دُشمن نه یَره راشي ، یا په فصلونو او میوو کې کمې راشي ) نو په دې حالت کې هم شریعت د انسان راهنمایي کړی ، ده ته یې د صبر ، اِستقامت او الله جَلَّ جَلَالُهُ طرف ته د رجوع کولو حکم کړی .
ځکه د صبر په وجه انسان ته ډیر اجرونه حاصلیږي ، ګناهونه یې معاف کیږي ، درجې یې اوچتیږي ، د الله رحمتونه پرې راوریږي ، او د الله جَلَّ جَلَالُهُ معیَت او اِمداد ورته نصیبه کیږي .
الله تبارک وتعالی فرمایي :

﴿ وَلَنَبْلُوَنَّكُمْ بِشَيْءٍ مِنَ الْخَوْفِ وَالْجُوعِ وَنَقْصٍ مِنَ الْأَمْوَالِ وَالْأَنْفُسِ وَالثَّمَرَاتِ وَبَشِّرِ الصَّابِرِينَ ﴾ . (۲)

---

(۱) سورة إبراهيم آيت ۷.

(۲) البقرة آيت ۱۵۵.

ترجمه : او مونږ به ضرور اُوآزمايو تاسو په څه څيز د ويرې ، وَلږې ، د مالونو ، ځانونو او ميوو په نقصان سره ، او (اې پيغمبره !) ته زيرې ورکړه صبر کوونکو ته .

## د مومن په هر کار کې خير وي

الله ﷻ مومن ته داسې اِمتيازي شان و رکړی چې که چيرته دې په شريعت باندې عمل کوي نو دده په هر کار کې خير وي . رسول الله ﷺ د مومن دغه اِمتيازي شان بيانوي :

عَجَبًا لِأَمْرِ الْمُؤْمِنِ إِنَّ أَمْرَهُ كُلَّهُ لَهُ خَيْرٌ وَلَيْسَ ذٰلِكَ لِأَحَدٍ إِلَّا لِلْمُؤْمِنِ . إِنْ أَصَابَتْهُ سَرَّآءُ شَكَرَ فَكَانَ خَيْرًا لَهُ . وَإِنْ أَصَابَتْهُ ضَرَّآءُ صَبَرَ فَكَانَ خَيْرًا لَهُ . (۱)

د مومن په حال باندې تعجُب دی ، بيشکه دده په هر حال کې خير وي ، او دا شان (او اِمتياز) صرف د مومِن د پاره دی ، نو که ده ته راحت او خوشحالي ورسي او دې د الله تعالى شکريه ادا کړي نو دا هم دده د پاره خير دی ، او که ده ته څه ضرر اورسي او دې په هغې باندې صبر وکړي نو دا هم دده د پاره خير دی .

## په هر انسان باندې اِمتحانات او غمونه راځي

محترمو ! انسان هميشه په يو حالت باندې نه وي بلکه په ده باندې به مختلف قسمه امتحانات ضرور راځي . نو چې کله په هر انسان باندې خامخا څه نا څه مصيبتونه او امتحانات راځي نو په کار ده چې دا په دې باندې صبر وکړي ، الله ﷻ طرفته متوجه شي او دا تصوّر وکړي چې د کوم رب د طرفه ماته بې شماره نعمتونه ملاوېږي نو که اوس را باندې امتحانًا څه تکليف او مصيبت راغی نو په دې باندې صبر په کار دی .

---

(۱) اخرجه مسلم الزهد (٦٤) الترغيب والترهيب ج۲ كتاب الجنائز الترغيب فى الصبر حديث ۷ . د مشکوة شريف په حديث کې ورسره دا الفاظ هم شته : فَالْمُؤْمِنُ يُؤجَرُ فِي كُلِّ أَمْرِهِ حَتّٰى فِي اللُّقْمَةِ يَرْفَعُهَا إِلٰى فِيْ إِمْرَأَتِهِ . رواه البيهقي في شعب الايمان ، مشكوة باب البكاء على الميت الفصل الاول حديث ۱۲ . پس مومن ته په هر کار باندې ثواب ملاوېږي (چې په نيت د ثواب يې وکړي ، بيا نبي ﷺ يو مثال بيان کړو) تر دې چې يو سړی خپلې بې بې ته په خوله کې نوړی (د ثواب په نيت) ورکړي نو په دې باندې هم ده ته اجر حاصلېږي .

# د لقمان حکيم ترخه خربوزه په شوق خوړل

د لقمان حکيم په باره کې نقل دي چې دې اول د يو مالدار سړي غلام و ، هغه به د ده سره دده د هوښيارتيا په وجه ډير محبت کولو او په خپل لاس به يې په ده باندې د خوراک ښه ښه شيان خوړل .

يوه ورځ دغه مولی يې يوه خربوزه راوړه ، هغه يې پريکړه ، او په خپل لاس باندې يې لقمان حکيم ته ورکوله ، او ده به په ډيره مينه مينه خوړله ، چې کله دا خربوزه ختميدو ته نزدې شوه نو دې مولی په ژبه باندې او څکله (او لږه يې خولې ته واچوله) نو دا دومره ترخه وه چې واپس يې زر د خولې نه را وغورځوله ، او د ډير تريخ والي په وجه يې ژبه ورباندې پولۍ شوه ، بيا يې لقمان حکيم ته وويل : تا ولې ماته نه ويل چې دا خربوزه ترخه ده ؟ نو ما به تاله نه درکولی، تا خو دا ډيره په مينه مينه خوړه .

ده ورته وويل چې: د کوم آقا او مولی د طرفه ماته په نورو ورځو کې خواږه خواږه نعمتونه ملاويږي نو که نن راته د هغه د لاس نه ترخه خربوزه ملاؤ شي نو هيڅ پرواه نشته ، ځکه زما غيرت دا نه برداشت کوي چې زه تاته ووايم چې دا خربوزه ترخه ده او تا شرمنده کړم ، نو ځکه مې په شوق خوړله . (۱)

دغه شان د الله ﷻ د طرفه هم په انسان باندې هر وختې بې شميره نعمتونه دي نو که چيرته کله غم يا تکليف راشي نو په دې باندې هم صبر په کار دی او شکوې شکايتونه ندي په کار .

# د صبر فضايل او فوايد :

په قرآن کريم او احاديثو مبارکه وکې د صبر ډير زيات فضايل او فوايد بيان شوي ، تر دې چې امام غزالي رحمه الله په خپل کتاب " احياء العلوم "کې ذکر کړي چې الله ﷻ د صبر تذکره په قرآن کريم کې څه د پاسه اويا (۷۰) کرتې کړې . د دينه هم د صبر د فضيلت او اهميت اندازه کيدې شي . (۲)

---

(۱) نداے منبر ومحراب ج۱ ص ۲۷۶ .

(۲) ذَكَرَ الصَّبْرُ فِي الْقُرْآنِ فِي نَيِّفٍ وَسَبْعِينَ مَوْضِعًا . احياء العلوم ج۴ ص ۸۰ كتاب الصبر والشكر .

خوزه به درته صرف يو څو غټ فضايل د صبر بيان كړم .

## ۱ . صبر كوونكو ته بې حسابه اجر

په مصيبتونو ، غمونو او تكليفونو باندې د صبر كولو اول فضيلت دادى چې : صبر كوونكي ته به د قيامت په ورځ بې حسابه او ډير زيات اجر وركولې شي .

۱ . نبي ﷺ فرمايي : تُنْصَبُ الْمَوَازِيْنُ وَيُؤْتَى بِأَهْلِ الصَّلٰوةِ فَيُوَفُّوْنَ أُجُوْرَهُمْ بِالْمَوَازِيْنِ وَيُؤْتَىٰ بِأَهْلِ الصَّدَقَةِ فَيُوَفُّوْنَ أُجُوْرَهُمْ بِالْمَوَازِيْنِ . وَ يُؤْتَىٰ بِأَهْلِ الْحَجِّ فَيُوَفُّوْنَ أُجُوْرَهُمْ بِالْمَوَازِيْنِ وَ يُؤْتَىٰ بِأَهْلِ الْبَلَاءِ فَلَا تُنْصَبُ لَهُمْ مِيْزَانٌ وَلَايُنْشَرُ لَهُمْ دِيْوَانٌ وَ يُصَبُّ عَلَيْهِمُ الْأَجْرُ صَبًّا بِغَيْرِ حِسَابٍ حَتّٰى يَتَمَنّٰى أَهْلُ الْعَافِيَةِ أَنَّهُمْ كَانُوْا فِي الدُّنْيَا تُقْرَضُ أَجْسَادُهُمْ بِالْمَقَارِيْضِ مِمَّا يَذْهَبُ بِهِ أَهْلُ الْبَلَاءِ . وَذٰلِكَ قَوْلُهُ تَعَالٰى : ﴿ إِنَّمَا يُوَفَّى الصَّابِرُوْنَ أَجْرَهُمْ بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴾ . (۱)،(۲)

د قيامت په ورځ به د انصاف تله قايمه كړې شي او د لمونځونو واله به راوستې شي نو دوى ته به د عبادت موافق پوره پوره اَجر په تول سره وركړې شي ، بيا به صدقه وركوونكي او حج كوونكي خلق راوستې شي دوى ته به هم په تول سره د خپل عمل پوره اَجر وركړې شي ، بيا به هغه خلق راوستې شي چا چې په مصيبتونو او تكليفونو باندې صبر كړې وي نو نه خو به د دوى د پاره تول كولې شي او نه عمل نامه ، بلكه دوى ته به بې حسابه ( بې تولې او

---

(۱) ، (۲) الزمر آيت ۱۰ . تفسير مظهري ج۸ ص ۲۰۱ الزمر آيت ۱۰ . وفي رواية : عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ : يُؤْتَىٰ بِالشَّهِيْدِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَيُوْقَفُ لِلْحِسَابِ . ثُمَّ يُؤْتَىٰ بِالْمُتَصَدِّقِ فَيُنْصَبُ لِلْحِسَابِ . ثُمَّ يُؤْتَىٰ بِأَهْلِ الْبَلَاءِ فَلَا يُنْصَبُ لَهُمْ مِيْزَانٌ وَلَايُنْصَبُ لَهُمْ دِيْوَانٌ فَيُصَبُّ عَلَيْهِمُ الْأَجْرُ صَبًّا حَتّٰى أَنَّ أَهْلَ الْعَافِيَةِ لَيَتَمَنَّوْنَ فِي الْمَوْقِفِ أَنَّ أَجْسَادَهُمْ قُرِضَتْ بِالْمَقَارِيْضِ مِنْ حُسْنِ ثَوَابِ اللّٰهِ . الطبراني في المعجم الكبير ( ۱۲ /۱۸۲ ) رقم ( ۱۲۸۲۹ ) وابو نعيم في الحلية ( ۳ ۹۱ ) . المتجر الرابح في ثواب العمل الصالح ص ۳۸۹ ثواب الصبر على البلاء وان قلّ ، الترغيب والترهيب ج۲ ( ۳۰۵۷/۱۸ ) . همدغه شان مضمون د حضرت علي رضي الله عنه نه هم نقل دى ، حضرت علي رضي الله عنه فرمايي : كُلُّ مُطِيْعٍ يكَالُ لَهُ كَيْلًا وَيُوْزَنُ لَهُ وَزْنًا إِلَّا الصَّابِرُوْنَ فَإِنَّهُمْ يحثى عَلَيْهِمْ حثيًا . تفسير مظهري ج۸ ص ۲۰۱ سورة زمر آيت ۱۰ .

بې اندازې ) ډېر زيات اجر وثواب ورکړې شي . تر دې چې کومو خلقو په دُنيا کې په اطمينان او مزو کې ژوند تير کړې وي او هغوی هلته د صبر کوونکو مرتبې وګوري نو هغوی به هم هلته دا ارمان وکړي چې کاش ( څومره به ښه وه چې ) په دُنيا کې زمونږ وجودونه هم په قينچيانو سره پريکړې شوي وی خو چې نن مونږ ته هم ( بې حسابه ) دغه ثوابونه او اجرونه حاصل شوي وی ، ځکه الله تعالی پخپله فرمايي :

﴿ إِنَّمَا يُوَفَّى الصَّابِرُونَ أَجْرَهُمْ بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴾ .

ترجمه : بيشکه صبر کوونکو ته به د دوی اجر بې حسابه ورکړې شي .

## ۲. په صبر سره ګناهونه معاف کيږي

په تکليفونو باندې د صبر کولو دويمه فايده داده چې په دې سره د انسان ګناهونه معاف کيږي

۱ . رسول الله ﷺ فرمايي : مَا يُصِيبُ الْمُؤْمِنَ مِنْ نَصَبٍ وَلَا وَصَبٍ وَلَاهَمٍّ وَلَاحَزَنٍ وَلَاغَمٍّ حَتَّى الشَّوْكَةَ يُشَاكُهَا إِلَّا كَفَّرَ اللهُ بِهَا مِنْ خَطَايَاهُ . (۱)

کله هم چې يو مومن ته څه ستړې والې ، بيماري ، خفګان ، تکليف او غم اورسي ، تردې چې اَزغې يې په خپه کې لاړ شي نو ددې هر يو په عوض کې الله ﷻ دده ګناهونه معاف کوي

۲ . د ترمذي شريف حديث دی نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايي :

مَا يَزَالُ الْبَلَاءُ بِالْمُؤْمِنِ وَالْمُؤْمِنَةِ فِي نَفْسِهِ وَوَلَدِهِ وَمَالِهِ حَتَّى يَلْقَى اللهَ تَعَالَى وَمَا عَلَيْهِ خَطِيئَةٌ . (۲)

/

(۱) بخاري کتاب المرض باب ما جاء في کفارة المرض (رقم ۵٦۴۱ ، ۵٦۴۲ ) و مسلم کتاب البر والصلة والآداب ( ۵۲۷۳ / ۵۲ ) المنذري ۴ / ۲۸٦ ، الهيثمي في المجمع ۲ / ۳۳۱ ، ۱۰ / ۲۵٦ ، المتجر الرابح في ثواب العمل الصالح ص ۳۹۲ .

وفي رواية : مَا يُصِيبُ الْمُؤْمِنَ مِنْ وَصَبٍ وَلَا نَصَبٍ وَلَا سَقَمٍ وَلَا حَزَنٍ حَتَّى الْهَمُّ يَهِمُّهُ إِلَّا كُفِّرَ بِهِ مِنْ سَيِّئَاتِهِ . رواه مسلم ۵۲ البر والصلة ، والبخاري المرض والطب ۷ ، المتجر الرابح في ثواب العمل الصالح ص ۳۹۲ ثواب الصبر على البلاء وان قلّ .

(۲) رواه الترمذي في کتاب الزهد باب ماجاء بالصبر على البلاء (رقم ۲۳۹۹ ) وقال هذا حديث حسن صحيح ، والحاکم في المستدرک ( ۴ / ۳۱۴ ) وقال : حديث صحيح على شرط مسلم ولم يخرجاه ، و وافقه الذهبي .

هميشه د پاره په مومن سړي او مومنه ښځه باندې دده د نفس، بچي او مال په باره کې امتحانات او مصيبتونه راځي تر دې چې د الله تعالى سره به ملاقات وکړي او په ده باندې به هيڅ ګناه نه وي (بلکه د امتحاناتو او مصيبتونو په وجه به دده ګناهونه معاف شوي وي).

۳ . د مشکوة شريف حديث دی، رسول الله ﷺ فرمايي:

إِذَا كَثُرَتْ ذُنُوبُ الْعَبْدِ وَلَمْ يَكُنْ لَهُ مَا يُكَفِّرُهَا مِنَ الْعَمَلِ اِبْتَلَاهُ اللهُ بِالْحُزْنِ لِيُكَفِّرَهَا عَنْهُ . (۱)

کله چې د يو بنده ګناهونه زيات شي او دده په اعمالو کې څه داسې نيک عمل نه وي چې هغه دده ګناهونه لرې کړي نو الله تعالى هغه په غم او حزن کې مبتلاء کړي ددې د پاره چې ددې غم په وجه دده ګناهونه ختم کړي.

۴ . حضرت انس رضي الله عنه فرمايي:

اَتَىٰ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ شَجَرَةً فَهَزَّهَا حَتَّى تَسَاقَطَ وَرَقُهَا مَا شَآءَ اللهُ أَنْ يَتَسَاقَطَ ثُمَّ قَالَ: لَلْمُصِيْبَاتُ وَالْأَوْجَاعُ أَسْرَعُ فِي ذُنُوْبِ ابْنِ آدَمَ مِنِّيْ فِيْ هٰذِهِ الشَّجَرَةِ . (۲)

رسول الله ﷺ يوې اُونې ته راغی، هغه يې اُوخوزوله، تر دې پورې چې الله ﷻ څومره غوښته هماغومره مقدار پاڼې ورنه رااوغورځيدی، بيا نبي عليه السلام وفرمايل:

خامخا مصيبتونه او دردونه (تکليفونه) د انسان ګناهونه ددې نه ډير زر ختموي څنګه چې ما ددې اُونې پاڼې را اوغورځولی.

(يعنی که انسان په مصيبتونو باندې صبر وکړي نو په دې سره د ده ګناهونه ختميږي او صفا کيږي)

(۱) رواه احمد المسند ۱۵۷/۶، مشکوة کتاب الجنائز باب عيادة المريض وثواب المرض حديث ۵۸، الترغيب والترهيب ج۴ الترغيب في الصبر حديث ۴۱ .

(۲) رواه المنذري في الترغيب ۴ / ۲۸۶ ، المتجر الرابح في ثواب العمل الصالح ص ۳۹۱ .

۵ . د مسلم شریف روایت دی چې د قریشو څه ځوانان په حضرت عائشې رضی الله عنها باندې ور داخل شو ، او حضرت عایشه رضی الله عنها په منیٰ کې وه ، دوی خندل ، دې ورته پوښتنه وکړه : ولې خاندئ ؟ دوی وویل : فلانکې سړې د خیمې په رسۍ باندې را اوغورځید ، قریبه وه چې څټ یې مات شوې وی او یا یې سترګه ضایع شوې وی ، دې ورته وویل : تاسو مه خاندئ ځکه ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه اوریدلي چې فرمایل یې :

مَا مِنْ مُسْلِمٍ يُشَاكُ بِشَوْكَةٍ فَمَا فَوْقَهَا إِلَّا كُتِبَ [اللهُ] لَهُ بِهَا دَرَجَةٌ وَمُحِيَتْ عَنْهُ بِهَا خَطِيئَةٌ (۱)

د کوم مسلمان په خپه کې چې اَزغې لاړ شي ، یا ددې نه غټ مصیبت ورته اورسي نو الله تعالیٰ ددې په عوض کې دده درجې اوچتوي ، او په دې سره دده ګناهونه معاف کوي .

## ۳ . په صبر سره اُوچت او اَعلیٰ مقام حاصلیږي

کله چې د انسان د پاره د الله ﷻ په نزد د قربت یو مقام او مرتبه لیکلې شوي وي او ددې انسان خپل اعمال دومره کمزوري وي چې ددې اعمالو په وجه دې هغه مقام ته نه شي رسیدی نو الله ﷻ په ده باندې څه مصیبت او امتحان راولي ، نو کله چې دا کس په دې مصیبت باندې صبر وکړي نو الله ﷻ دې هغه مقام ته ورسوي .

۱ . نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي :

إِنَّ الْعَبْدَ إِذَا سَبَقَتْ لَهُ مِنَ اللهِ مَنْزِلَةٌ فَلَمْ يَبْلُغْهَا بِعَمَلٍ اِبْتَلَاهُ اللهُ فِي جَسَدِهِ أَوْ مَالِهِ أَوْ فِي وَلَدِهِ ثُمَّ صَبَّرَهُ عَلَى ذٰلِكَ حَتّٰى يُبْلِغَهُ الْمَنْزِلَةَ الَّتِي سَبَقَتْ لَهُ مِنَ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ . (۲)

---

(۱) دَخَلَ شَبَابٌ مِنْ قُرَيْشٍ عَلَى عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وَهِيَ بِمِنًى وَهُمْ يَضْحَكُونَ فَقَالَتْ : مَا يُضْحِكُكُمْ ؟ قَالُوا فُلَانٌ خَرَّ عَلَى طُنُبِ فُسْطَاطٍ وَكَادَتْ عُنُقُهُ اَوْ عَيْنُهُ أَنْ تَذْهَبَ فَقَالَتْ لَا تَضْحَكُوا فَإِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ ﷺ قَالَ: مَا مِنْ مُسْلِمٍ يُشَاكُ بِشَوْكَةٍ فَمَا فَوْقَهَا إِلَّا كُتِبَ [اللهُ] لَهُ بِهَا دَرَجَةٌ وَمُحِيَتْ عَنْهُ بِهَا خَطِيئَةٌ . مسلم کتاب البر والصلة باب ثواب المؤمن فیما یصیبه من مرض او حزن ۳۶/۶۵۲۱ (۲۵۷۲) ، المتجر الرابح في ثواب العمل الصالح ص ۳۹۲ ثواب الصبر على البلاء وان قل .

(۲) رواه ابوداود الحديث ۳۰۹۰ ، والبيهقي ۳/ ۳۷۴ ، والهيثمي في المجمع ۲ / ۲۹۲ ، والتبريزي في المشكاة ۱۵۶۸ ، ورواه الطبراني في الكبير والاوسط واحمد ، المتجر الرابح في ثواب العمل الصالح ص ۳۹۰ ثواب الصبر على البلاء وان قل .

بیشکه کله چې د یو بنده د پاره د الله ﷻ د طرفه (په جنت کې) یوه عظیمه مرتبه مقدّر وي خو لیکن انسان دغې مرتبې ته د خپل عمل (د کمزورۍ) په وجه نشي رسیدی نو الله ﷻ دې د خپل بدن، خپل مال او خپل اولاد په امتحان کې ګرفتار کړي او بیا هغه ته د صبر توفیق ورکړي، تردې چې دې هغې درجې اورسي کومه چې د الله ﷻ د طرفه ده د پاره مقدَر وي.

**فایده**: ددې حدیث نه معلومه شوه چې که یو بنده په مصیبت او امتحان باندې صبر وکړي نو الله ﷻ ده ته د آخرت داسې غټې مرتبې ورکوي کومې چې دې د خپلو اعمالو په ذریعه نه شي حاصلولې. (۱)

یو شاعر وایي:

تُندي بادِ مخالِف سے نه گهبرا اے عُقاب • یه تو چلتي هے تجهے اُونچا اُڑانے کے لیے

همدارنګې مشهوره خبره ده: هر چه از دوست مې رسد نیکواست. د حقیقي دوست له طرفه چې هر څه وي هغه ښه دي.

۲. حضرت بریده اسلمي رضي الله عنه وایي:

سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ: مَا أَصَابَ رَجُلًا مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ نَكْبَةٌ فَمَا فَوْقَهَا حَتَّى ذَكَرَ الشَّوْكَةَ إِلَّا لِإِحْدَى خَصْلَتَيْنِ: إِمَّا لِيَغْفِرَ اللهُ لَهُ مِنَ الذُّنُوْبِ ذَنْبًا لَمْ يَكُنْ لِيَغْفِرَهُ لَهُ إِلَّا بِمِثْلِ ذٰلِكَ. أَوْ يَبْلُغَ بِهِ مِنَ الْكَرَامَةِ كَرَامَةً لَمْ يَكُنْ لِيَبْلُغَهَا إِلَّا بِمِثْلِ ذٰلِكَ. (۲)

---

(۱) وَفِيْ رِوَايَةٍ: إِنَّ الرَّجُلَ لَيَكُوْنَ لَهُ عِنْدَاللهِ الْمَنْزِلَة فَمَا يَبْلُغُهَا بِعَمَلٍ فَمَا يَزَالُ يَبْتَلِيْهِ بِمَا يَكْرَهُ حَتَّى يُبَلِّغَهُ إِيَّاهَا. رواه ابو یعلی وابن حبّان، قال الهیثمي في مجمع الزوائد: "ورجاله ثقات" وقد اخرجه الحاکم في المستدرک (۱/۳۴۴) وقال هذا حدیث صحیح الاسناد، وقد حسّنه الشیخ الالباني في صحیح الجامع (۲/۱۶۲۱)، رواه الهیثمي في الموارد ۶۹۲، والمنذري ۲۸۳/۴، وابن حجر في المطالب ۲۴۲، والعراقي في المغني ۲۸۰/۴، المتجر الرّابح في ثواب العمل الصّالح ص ۳۹۰ ثواب الصبر علی البلاء وان قلّ.

(۲) خرّج ابنُ ابی الدنیا باسناده عن بریدة الاسلمي رضي الله عنه، رواه المنذري في الترغیب ۲۸۳/۴، المتجر الرّابح في ثواب العمل الصّالح ص ۳۹۰.

کله چې په مسلمانانو کې يو کس ته څه مصيبت اورسي ، تر دې پورې چې نبي علیه السلام د ازغي تذکره هم وکړه ( چې د انسان په خپه کې ازغې لاړ شي ) نو په دې مصيبت سره ده ته په دوه و ( ۲ ) کې یوه فایده خامخا رسي . یا خو الله ﷻ په دې مصیبت سره د د په گناهونو کې داسې گناه بخي چې هغه گناه صرف د دغه شان مصیبت برداشت کولو په وجه بخل کیږي . او یا الله تعالی په دې مصیبت سره دې داسې کرامت او مرتبې ته رسوي چې هغې ته صرف د داسې مصیبت برداشت کولو په وجه انسان رسي .

## ٤ . په صبر کولو سره جنت حاصليږي

د صبر څلورمه فایده داده چې کوم انسان په تکلیفونو او مصیبتونو زغملو باندې صبر وکړي ، شکوې او شکایتونه او نه کړي نو الله ﷻ دغه شان صابرينو سره د جنت وعده کړې

۱ . الله رب العزت فرمایي :

﴿ وَالَّذِينَ صَبَرُوا ابْتِغَاءَ وَجْهِ رَبِّهِمْ وَأَقَامُوا الصَّلٰوةَ وَأَنْفَقُوا مِمَّا رَزَقْنَاهُمْ سِرًّا وَعَلَانِيَةً وَيَدْرَءُوْنَ بِالْحَسَنَةِ السَّيِّئَةَ أُولٰئِكَ لَهُمْ عُقْبَى الدَّارِ . جَنَّاتُ عَدْنٍ يَدْخُلُونَهَا وَمَنْ صَلَحَ مِنْ آبَائِهِمْ وَأَزْوَاجِهِمْ وَذُرِّيَّاتِهِمْ وَالْمَلَائِكَةُ يَدْخُلُوْنَ عَلَيْهِمْ مِنْ كُلِّ بَابٍ . سَلَامٌ عَلَيْكُمْ بِمَا صَبَرْتُمْ فَنِعْمَ عُقْبَى الدَّارِ ﴾ . (۱)

ترجمه : کومو خلقو چې د خپل رب د خوشحالولو دپاره صبر وکړو ، او لمونځ يې قايم کړو ، او کوم مال چې مونږ ورکړی د هغې نه يې په پټه او ښکاره ( د نيکۍ په لاره کې ) خرچ وکړو ، او د نيکيو په ذريعه بدي دفعه کوي همدا هغه خلق دي چې د دوی دپاره د آخرت کور دی ، ( دغه کور ) باغونه د همیشه اوسیدو دي ، دوی به داخليږي دې جنت ته ، همدغه شان د دوی په پلارانو ، بيبيانو او اولاد کې چې څوک نیک وي ( هغوی به هم دې جنتونو ته داخلیږي ) ، او فرښتې به دوی ته د هرې دروازې نه راځي او دا به ورته وايي چې په تاسو باندې دې سلام وي ځکه چې تاسو به ( په دُنيا کې ) صبر کولو ( او په حق دين باندې مضبوط پاتې شوي وی ) نو د آخرت دا کور ( ستاسو د پاره ) ډیر ښه دی .

(۱) الرعد آيت ۲۲، ۲۳، ۲۴

۲ . بل ځای الله ﷻ فرمايي :

﴿ وَالَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَنُبَوِّئَنَّهُمْ مِنَ الْجَنَّةِ غُرَفًا تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا نِعْمَ أَجْرُ الْعَامِلِينَ . الَّذِينَ صَبَرُوا وَعَلَىٰ رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ ﴾ . (۱)

ترجمه : چاچې ايمان راوړو ، او نيک عملونه يې وکړه نو مونږ به دوی ته د جنت په بالاخانو کې ځای ورکړو چې د هغې لاندې به نهرونه بهيږي ، دوی به په هغې کې هميشه اوسيږي ، د (نيک) عمل کوونکو بدله ډيره ښه ده ، (دا عاملين هغه خلق دي) کومو چې صبر وکړو او په خپل رب باندې توکل کوي .

۳ . رسول الله ﷺ فرمايي :

يَقُوْلُ اللهُ : مَا لِعَبْدِيْ الْمُؤْمِنِ عِنْدِيْ جَزَاءٌ إِذَا قَبَضْتُ صَفِيَّهُ مِنْ أَهْلِ الدُّنْيَا ثُمَّ إِحْتَسَبَهُ إِلَّا الْجَنَّةَ . (۲)

الله رب العزت فرمايي : کله چې زه د يو بنده نه دده د خوښې کس واخلم (يعنی دده اولاد، مور او پلار يا بل نزدې خپلوان يې وفات شي) بيا دې د ثواب طلب ګار وي (يعنی صبر وکړي) نو د ما سره دده دپاره د جنت نه علاوه بله بهترينه هيڅ بدله نشته (بلکه دده ته به په دې صبر ورکولو سره جنت ورکوم) .

۴ . حديث قدسي دی الله تعالی فرمايي :

يَا ابْنَ آدَمَ إِنْ صَبَرْتَ وَاحْتَسَبْتَ عِنْدَ الصَّدْمَةِ الْأُوْلَىٰ لَمْ أَرْضَ لَكَ ثَوَابًا دُوْنَ الْجَنَّةِ . (۳)

اې د آدم ځويه ! که ته ديو مصيبت په وخت صبر وکړی ، او د صدمې په اِبتدايي مرحله کې د ثواب طلبګار شی (يعنی د مصيبت په شروع کې د ثواب په نيت صبر وکړی) نو زه به ستا د پاره د جنت نه په کم اجر و ثواب باندې نه راضي کيږم (يعنی تا ته به د دې صبر په عوض کې جنت درکړم) .

---

(۱) العنکبوت آيت ۵۸، ۵۹ .

(۲) رواه البخاري ، مشکوة باب البکاء علی الميت الفصل الاول حديث ۱۱ ، رياض الصالحين کتاب الصبر حديث ۳۱ .

(۳) مشکوة باب البکاء علی الميت الفصل الاول حديث ۳۷ .

۵ . حضرت عطاء بن ابي رباح رحمه الله وايي چې ماته حضرت ابن عباس رضي الله عنهما وويل :
آلا أُرِيکَ إِمْرَأَةً مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ ؟ آيا تاته جنتي ښځه او نه ښايم ؟
ما ورته وويل : هو (راته وې ښايئ) ، نو ده راته وويل : دغه توره ښځه نبي کريم صلى الله عليه وسلم ته راغله او ورته وې ويل :
إِنِّي أُصْرَعُ وَإِنِّي أَتَكَشَّفُ فَادْعُ اللهَ تَعَالَى لِي .
په ما باندې د ميرګو دَوره راځي ، (بې هوشه کيږم) او زه بې پردې کيږم ، نو ما د پاره د الله جل جلاله نه سوال وکړه (چې د مانه دا بيماري ختمه کړي) .
نبي عليه السلام ورته وفرمايل : إِنْ شِئْتِ صَبَرْتِ وَلَکِ الْجَنَّةُ وَإِنْ شِئْتِ دَعَوْتُ اللهَ أَنْ يُعَافِيَکِ . که ستا خوښه وي صبر کوې نو ستا د پاره جنت دی ، او که ستا خوښه وي نو زه به د الله جل جلاله نه (ستا د پاره) دُعا وغوارم چې تاته شِفاء درکړي .
نو دې وويل : أَصْبِرُ . زه به صبر وکړم . بيا يې وويل : إِنِّي أَتَكَشَّفُ فَادْعُ اللهَ لِي أَنْ لَا أَتَكَشَّفَ . زه بې پردې کيږم نو د الله جل جلاله نه دُعا وغواره چې زه نه بې پردې کيږم .
نو نبي عليه السلام دې ته دُعا وکړه. (۱)

---

(۱) عَنْ عَطَاءِ بْنِ أَبِي رَبَاحٍ قَالَ : قَالَ لِي ابْنُ عَبَّاسٍ : آلَا أُرِيکَ إِمْرَأَةً مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ ؟ فَقُلْتُ : بَلَى . قَالَ : هٰذِهِ الْمَرْأَةُ السَّوْدَاءُ أَتَتِ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم فَقَالَتْ : إِنِّي أُصْرَعُ وَإِنِّي أَتَكَشَّفُ فَادْعُ اللهَ تَعَالَى لِي . قَالَ : إِنْ شِئْتِ صَبَرْتِ وَلَکِ الْجَنَّةُ وَإِنْ شِئْتِ دَعَوْتُ اللهَ أَنْ يُعَافِيَکِ . فَقَالَتْ : أَصْبِرُ . فَقَالَتْ : إِنِّي أَتَكَشَّفُ فَادْعُ اللهَ لِي أَنْ لَا أَتَكَشَّفَ . فَدَعَا لَهُ . البخاري كتاب المرض باب فضل من يصرع من الريح (رقم ۵۶۵۲) ، ومسلم كتاب البر والصلة والآداب باب ثواب المؤمن فيما يصيبه من مرض او حزن او نحو ذلک حتى الشوكة يشاكها (رقم ۲۵۷۶/ ۵۴) ، المتجر الرابح في ثواب العمل الصالح ص ۳۹۱ ثواب الصبر على البلاء وان قلّ ، رياض الصالحين باب الصبر حديث ۳۴ . وفي رواية : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ : جَاءَتْ إِمْرَأَةٌ بِهَا لَمَمٌ إِلَى رَسُوْلِ اللهِ صلى الله عليه وسلم فَقَالَتْ : يَا رَسُوْلَ اللهِ اُدْعُ لِي فَقَالَ : إِنْ شِئْتِ دَعَوْتُ اللهَ فَشَفَاکِ وَإِنْ شِئْتِ صَبَرْتِ وَلَا حِسَابَ عَلَيْکِ . فَقَالَتْ : بَلْ أَصْبِرُ وَلَا حِسَابَ عَلَيَّ . رواه البزار وابن حبان ، ورواه الهيثمي في المجمع ۲ / ۲۹۱ . قال في مجمع الزوائد (۵/ ۲۹۱) : رواه احمد و رجاله الصحيح .. ، المتجر الرابح في ثواب العمل الصالح ص ۳۹۱ ثواب الصبر على البلاء وان قلّ ، وتكمله فتح الملهم ج۵ ص ۱۹۳ .

## ۵ . د صبر په وجه درجې اوچتيدل

څوک چې صبر وکړي نو الله تعالی د دې په وجه د ده درجې اوچتوي او غټ مقام ورکوي.
الله تعالی فرمايي: ﴿ وَجَعَلْنَا مِنْهُمْ أَئِمَّةً يَهْدُونَ بِأَمْرِنَا لَمَّا صَبَرُوا ... ﴾.(۱)
ترجمه: او مونږ په دوی کې څه خلق پيشوايان جوړ کړه چې زمونږ په حکم به يې خلقو ته سمه لاره ښودله، او دا پيشوايان مو ځکه جوړ کړي وو چې دوی به صبر کولو...

## ٦ . صابرينو ته بهترينه بدله

۱. الله ﷻ فرمايي: ﴿ وَلَنَجْزِيَنَّ الَّذِينَ صَبَرُوا أَجْرَهُمْ بِأَحْسَنِ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴾.(۲)
ترجمه: کومو خلقو چې صبر وکړو نو هغوی ته به مونږ خامخا د دوی اجر وکړو، د هغو ښو کارونو په عوض کې کوم چې به دوی کول.
۲. بل ځای الله تعالی فرمايي: ﴿ أُولَئِكَ يُؤْتَوْنَ أَجْرَهُمْ مَرَّتَيْنِ بِمَا صَبَرُوا ... ﴾.(۳)
ترجمه: همدا هغه خلق دي چې دوی ته به د دوی د صبر په وجه دوه (۲) کرتې اجر ورکولې شي.
۳. بل ځای الله تعالی د صابرينو په باره کې فرمايي:
﴿ أُولَئِكَ عَلَيْهِمْ صَلَوَاتٌ مِنْ رَبِّهِمْ وَرَحْمَةٌ وَأُولَئِكَ هُمُ الْمُهْتَدُونَ ﴾.(۴)
ترجمه: همدا (صابرين) هغه خلق دي په کومو باندې چې د خپل رب د طرفه مهرباني او رحمتونه دي، او همدغه خلق هدايت موندونکي (په سمه لاره) دي.

## ۷ . د الله ﷻ معيت د صابرينو سره

د صابرينو سره الله ﷻ د معيت او اِمداد وعده کړې:

(۱) سورة السجدة آيت ۲۴.
(۲) سورة النحل آيت ۹٦.
(۳) سورة القصص آيت ۵۴.
(۴) البقرة آيت ۱۵۷.

الله تعالى فرمايي: ﴿ وَاصْبِرُوْا إِنَّ اللّٰهَ مَعَ الصَّابِرِيْنَ ﴾ . (۱)

ترجمه: او صبر کوئ بيشکه الله تعالى د صابرينو سره دی.

## د حضرت داود عليه السلام پوښتنه

امام غزالي رحمه الله په إِحْيَاءُ الْعُلُوْم کې ليکلي: چې حضرت داود عليه السلام د الله جل جلاله نه پوښتنه وکړه:

يَا رَبِّ ! مَا جَزَاءُ الْحَزِيْنِ الَّذِيْ يَصْبِرُ عَلَى الْمَصَائِبِ ابْتِغَاءَ مَرْضَاتِکَ ؟

اې الله جل جلاله! کوم غمجن او مصيبت زده کس چې ستا د رضا د پاره په مصيبتونو باندې صبر کوي د هغه د پاره څه بدله ده؟

الله جل جلاله ورته وفرمايل: جَزَاؤُهُ أَنْ أُلْبِسَهُ لِبَاسَ الْإِيْمَانِ فَلَا أَنْزِعَهُ عَنْهُ أَبَدًا . (۲)

دده بدله داده چې زه به ده ته د ايمان داسې لباس ورواغوندم چې هيڅکله به يې بيا ورنه ونه باسم. (يعنی ده ته به د ايمان داسې خوږوالې نصيبه شي چې هيڅکله به يې د زړه نه او نه ووځي).

## په نيکانو خلقو باندې امتحانات او تکليفونه ډير راځي

قدرمنو! څومره چې يو انسان الله رب العزت ته ډير نزدې وي هومره په هغه باندې تکليفونه او امتحانات ډير راځي، دغه وجه ده چې د ټولو نه زيات امتحانات په پيغمبرانو راغلي، يا چې انسان په دين کې څومره مضبوط وي نو په هغه باندې امتحانات هم ډير راځي.

۱. حضرت سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه وايي چې ما د نبي کريم صلى الله عليه وسلم نه پوښتنه وکړه:

يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ ! أَيُّ النَّاسِ أَشَدُّ بَلَاءً ؟

اې د الله جل جلاله رسوله! په کومو خلقو باندې سخت امتحانات راځي؟

(۱) سورة الانفال آيت ۴۶.

(۲) احياء العلوم ج۴ ص۹۶ کتاب الصبر والشکر.

نبي عليه السلام راته وفرمايل :

اَلْأَنْبِيَاءُ . ثُمَّ الْأَمْثَلُ فَالْأَمْثَلُ . يُبْتَلَى الرَّجُلُ عَلَى حَسْبِ دِيْنِهِ فَإِنْ كَانَ دِيْنُهُ صُلْبًا اِشْتَدَّ بَلَاءُهُ وَإِنْ كَانَ فِيْ دِيْنِهِ رِقَّةٌ اِبْتَلَاهُ اللهُ عَلَى حَسْبِ دِيْنِهِ . فَمَا يَبْرَحُ الْبَلَاءُ بِالْعَبْدِ حَتَّى يَمْشِي عَلَى الْأَرْضِ وَمَا عَلَيْهِ خَطِيْئَةٌ . (۱)

ډير امتحانات په انبياء کرامو راځي ، بيا درجه په درجه چې څوک دوی ته ډير نزدې وي په هغه سخت امتحانات راځي ، په انسان باندې د دين موافق امتحان راځي : نو که دې په دين کې سخت و ( او ايمان يې مضبوط وي ) نو په ده امتحان هم سخت راځي ، او که په دين کې سست او کمزورې وي نو الله تعالی يې د دې موافق امتحان کې مبتلاء کوي ، هميشه د پاره په يو انسان باندې امتحان او مصيبتونه راځي تر دې چې دې بيا په زمکه روان وي خو په ده باندې هيڅ گناه نه وي پاتې ( بلکه ټول گناهونه يې د دې مصيبتونو په وجه معاف شوي وي )

۲ . حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه فرمايي :

كَأَنِّيْ أَنْظُرُ إِلَى رَسُوْلِ اللهِ ﷺ يَحْكِيْ نَبِيًّا مِنَ الْأَنْبِيَاءِ صَلَوٰتُ اللهِ وَسَلَامُهُ عَلَيْهِمْ ضَرَبَهُ قَوْمُهُ فَأَدْمَوْهُ وَهُوَ يَمْسَحُ الدَّمَ عَنْ وَجْهِهِ . يَقُوْلُ : اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِقَوْمِيْ فَإِنَّهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ . (۲)

گويا چې زه رسول الله صلى الله عليه وسلم ته گورم چې هغوی د الله جل جلاله د پيغمبرانو نه د يو پيغمبر حکايت بيانوي ، د الله جل جلاله رحمتونه او سلامونه دې په دې پيغمبرانو وي ( دې

(۱) ابن ماجه كتاب الفتن باب الصّبر على البلاء ( رقم ۴۰۲۳ ) ، والترمذي كتاب الزهد باب ما جاء في الصّبر على البلاء (۲۳۹۸) وقال : حسن صحيح ، وصحّحه الشيخ الالباني في السلسلة الصحيحة ( رقم ۱۴۳ ) ، الترغيب والترهيب ج۲ كتاب الجنائز الترغيب في الصّبر حديث ۱۵ . وفي رواية : قَالَ النَّبِيُّ ﷺ أَشَدُّ النَّاسِ بَلَاءً اَلْأَنْبِيَاءُ ثُمَّ الصَّالِحُوْنَ ثُمَّ الْأَمْثَلُ فَالْأَمْثَلُ . اخرجه البخاري ( ۱۰ / ۱۱۱ ) نزهة الناظرين في الاخبار والآثار المرويّة عن الانبياء والصّالحين ص ۵۲۸ كتاب الصّبر والحمد والشكر . وفي رواية ابن حبّان : سُئِلَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : أَيُّ النَّاسِ أَشَدُّ بَلَاءً ؟ قَالَ : اَلْأَنْبِيَاءُ . ثُمَّ الْأَمْثَلُ فَالْأَمْثَلُ يُبْتَلَى النَّاسُ عَلَى قَدْرِ دِيْنِهِمْ فَمَنْ ثَخُنَ دِيْنُهُ اِشْتَدَّ بَلَاؤُهُ . وَمَنْ ضَعُفَ دِيْنُهُ ضَعُفَ بَلَاؤُهُ وَإِنَّ الرَّجُلَ لَيُصِيْبُهُ الْبَلَاءُ حَتَّى يَمْشِيْ فِي النَّاسِ وَمَا عَلَيْهِ خَطِيْئَةٌ . رواه ابن حبان ، المتجر الرّابح في ثواب العمل الصّالح ص ۳۸۸ ثواب الصّبر على البلاء وان قلّ .

(۲) متفق عليه ، رياض الصّالحين باب الصّبر حديث ۳۵ .

پیغمبر ﷺ د خپل قوم نه داسې تکلیفونه برداشت کړي چې ) دې به خپل قوم د ومره ووهلو چې وینې به ورنه روانې شوی ( خو د صبر یې دا حالت و چې ) ده به د خپل مخ نه وینې پاکولې او دا به یې ویل : اې الله ! زما دې قوم ته هدایت وکړی ځکه دوی نه پوهیږي او ما نه پیژني .

دغه وجه ده چې په انبیاء کرامو باندې سخت امتحانات راغلي او دغوی د صبر او استقامت نه کار اخیستې دی ، **د یو څو پیغمبرانو تذکره ستاسو وړاندې کوم :**

## ۱. د حضرت ایوب ﷺ صبر

په تفاسیرو کې د حضرت ایوب ﷺ واقعه په تفصیل سره ذکر ده چې الله ﷻ په حضرت ایوب ﷺ باندې سخت امتحان راوستې و ، په وجود باندې یې خطرناکه بیماري راغله ، د اووه ( ۷ ) کالو یا اتلس ( ۱۸ ) کالو پورې سخت بیمار وُ ، ټول مال یې ختم شو ، اولاد یې وفات شو لیکن د دې ټولو امتحاناتو باوجود یې صبر کولو ، الله ﷻ طرفته متوجه و ، او د الله ﷻ نه یې هیڅ شکوه او شکایت نه دې کړی .

الله ﷻ د حضرت ایوب ﷺ په باره کې فرمایي :

﴿ إِنَّا وَجَدْنَاهُ صَابِرًا ۚ نِعْمَ الْعَبْدُ ۖ إِنَّهُ أَوَّابٌ ﴾ . (۱)

ترجمه : بیشکه مونږ دې ډیر صابره وموندو ، دې ډیر ښه بنده و ، او بیشکه مونږ ته ډیر رجوع کوونکې و .

نو د دې صبر په برکت سره الله ﷻ ده ته روغ صحت ، هغه ختم شوې مال او اولاد یې ورته دوچند ورکړو . الله ﷻ فرمایي :

﴿ وَوَهَبْنَا لَهُ أَهْلَهُ وَمِثْلَهُم مَّعَهُمْ رَحْمَةً مِّنَّا وَذِكْرَىٰ لِأُولِي الْأَلْبَابِ ﴾ . (۲)

---

(۱) سورة ص آیت ۴۴ .

(۲) سورة ص آیت ۴۳ .

ترجمه : او مونږ ده ته دده د كور خلق ( كوم چې وفات شوي وو ) او د دوی هومره نور (اولاد) هم وركړو ، دا (يو په دوچند مال اولاد وركول) زمونږ مهرباني وه او د عقلمندو د پاره په دې كې نصيحت (او د عبرت سبق) پروت دی .

## ۲. حضرت ابراهيم عليه السلام ته اِمامت د امتحان او صبر نه روستو حاصل شو

الله جل جلاله چې حضرت ابراهيم عليه السلام ته د خپلې دوستۍ انعام ورپه برخه كړی ، او ده ته خَلِيْلُ الله ويل شوی نو دا د ډيرو امتحاناتو او ازمائشونو نه روستو دې مرتبې ته رسيدلی، نو بيا الله جل جلاله د خلقو د پاره اِمام او مقتدا وګرځول . الله تعالی فرمايي :

﴿ وَإِذِ ابْتَلَى إِبْرَاهِيمَ رَبُّهُ بِكَلِمَاتٍ فَأَتَمَّهُنَّ قَالَ إِنِّي جَاعِلُكَ لِلنَّاسِ إِمَامًا ... ﴾ .(۱)

ترجمه : هر كله چې ابراهيم عليه السلام لره خپل رب په يو څو خبرو (او حُكمونو) سره او آزمايلو نو هغه دغه خبرې پوره كړی (او ټول حكمونه يې پوره كړه) نو الله تعالی وفرمايل: بشكه زه تا د ټولو خلقو د پاره امام (او پيشوا) جوړوم ...

هغه امتحانات په قرآن مجيد او احاديثو كې په تفصيل سره ذكر شوي : چې اول خو يې د خپل بُت پرست قوم سره مقابله راغله ، بيا نمرود په اُور كې واچول ليكن الله جل جلاله په ده اُور يخ او سالِم وګرځول ...

بيا ورته حكم اوشو چې اصلي وطن عراق نه شام ته هجرت وكړه ، بيا څه وخت پس ورته حكم اوشو چې حضرت هاجره بي بي او تِي خُور ماشوم "حضرت اسماعيل عليه السلام" روان كړه او په اُوچو غرونو او ريګستان كې يې د پريښودلو حكم ورته وكړو (كوم ځای چې اوس بَيْتُ الله دی) ، څه وخت پس بل امتحان ورباندې راغی چې اوس دا ماشوم حضرت اسماعيل عليه السلام ذبحه كړه .

دا ټول حكمونه حضرت ابراهيم عليه السلام پوره كړه ، او په دې تكليفونو او امتحاناتو يې صبر وكړو .

---

(۱) البقرة آيت ۱۲۴ .

الله تعالی فرمایي: ﴿ وَإِبْرَاهِيمَ الَّذِي وَفَّىٰ ﴾.(۱)

ترجمه: او ابراهیم ﷺ چاچې ټول حکمونه او وعدې پوره کړی.

نو الله تعالی ددې په عوض کې د ټولو خلقو اِمام او مقتدا! وګرځول، الله تعالی ورته اوفرمایل: ﴿ إِنِّي جَاعِلُكَ لِلنَّاسِ إِمَامًا ... ﴾.(۲)

ترجمه: زه تا د خلقو دپاره امام (او پیشوا) ګرځوم...

# ۳. په مخکیني خلقو اِمتحانات

د بخاري شریف حدیث دی، حضرت ابو عبدالله خبّاب بن ارتّ ﷺ وايي:

کله چې د کافرانو ظلمونه په مسلمانانو ډیر شو نو مونږ رسول الله ﷺ ته شکایت وکړو، نبي علیه السلام په دې وخت کې د یو څادر نه تکیه جوړه کړی وه او د خانه کعبې سوري ته ناست و، آرام یې کولو، نو مونږ ورته وویل:

أَلَا تَسْتَنْصِرُ لَنَا؟ أَلَا تَدْعُو لَنَا؟

آیا تاسو د مونږ د پاره اِمداد نه غواړی؟ او د مونږ د پاره دُعا نه غواړی؟ (بلکه زمونږ د پاره د الله ﷻ نه اِمداد او دُعا اوغواړئ چې ددې کافرانو د ظلمونو نه خلاص شو).

نو نبي کریم صلی الله علیه وسلم راته وفرمایل:

قَدْ كَانَ مِنْ قَبْلِكُمْ يُؤْخَذُ الرَّجُلُ فَيُحْفَرُ لَهُ الْأَرْضُ فَيُجْعَلُ فِيهَا. ثُمَّ يُؤْتَىٰ بِالْمِنْشَارِ فَيُوضَعُ عَلَىٰ رَأْسِهِ فَيُجْعَلُ نِصْفَيْنِ، وَيُمْشَطُ بِأَمْشَاطِ الْحَدِيدِ مَا دُونَ لَحْمِهِ وَعَظْمِهِ. مَا يَصُدُّهُ ذٰلِكَ عَنْ دِينِهِ.....(۳)

د تاسو نه مخکې چې کوم خلق وو نو د هغوی سرې به ونیوې شو، کنده به ورته وکنستې شوه، او په زمکه کې به ښخ کړی شو، بیا به آره راوړې شوه د هغه په سَر به کیښودې شوه او

---

(۱) النجم آیت ۳۷.

(۲) البقرة آیت ۱۲۴.

(۳) رواه البخاري، ریاض الصالحین کتاب الصبر حدیث ۴۰.

دوه ټکړې به کړې شو ، او د اُوسپنې په ګمنزو به یې غوښې او هډوکي شوکولې شو خو لیکن دې دومره تکلیفونو بیا هم دوی د الله ﷻ د دین نه نه وو بَند کړي (بلکه بیا به هم په خپل دین مضبوط او محکم پاتې وو) .

تر دې چې په سردارِ دوجهان ، فخرُ الرُسل محمّدٌ رّسول الله صلی الله علیه وسلم باندې هم د دین په باره کې ډیر زیات تکلیفونه او مصیبتونه راغلي ، او ټول یې د دین په خاطر برداشت کړي ، هیڅ شکوه او شکایت یې نه دې کړی .

## لوی ثوابونه د لوی تکلیفونو سره وي

۳ . نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمايي :

إِنَّ عِظَمَ الْجَزَاءِ مَعَ عِظَمِ الْبَلَاءِ ، وَإِنَّ اللهَ تَعَالَى إِذَا أَحَبَّ قَوْمًا إِبْتَلَاهُمْ فَمَنْ رَضِيَ فَلَهُ الرِّضَا وَمَنْ سَخِطَ فَلَهُ السُّخْطُ . (۱)

بیشکه لوي لوي ثوابونه د لویو لویو تکلیفونو سره وي او کله چې الله تعالی د یو قوم سره محبت کوي نو هغه په تکلیف کې مبتلاء کړي ، پس څوک چې د الله تعالی نه راضي شو نو الله تعالی هم د هغه نه راضي شي او څوک چې د الله تعالی نه ناراضه شو نو الله ﷻ هم دده نه ناراضه شي .

## د بنده نه د الله تعالی د راضي کیدو او ناراضه کیدو علامه

علماء کرامو لیکلي چې صحابه کرامو به په خپل مینځ کې د یو بل نه دا پوښتنه کوله : دا به څنګه معلومه شي چې الله تعالی د یو بنده نه راضي دی یا ناراضه دی ؟

(۱) الترمذي كتاب الزهد باب ما جاء في الصّبر على البلاء (رقم ۲۳۹٦) ، وابن ماجه كتاب الفتن باب الصّبر على البلاء (رقم ۴۰۳۱) وحسّنه الشيخ الالباني في السلسلة الصحيحة (رقم ۱۴٦) ، المتجر الرّابح في ثواب العمل الصّالح ص ۳۹۰ ثواب الصبر على البلاء وان قلّ ، الترغيب والترهيب ج۲ (۳۰۵۹/۲۲) . وفي رواية : إِذَا أَحَبَّ اللهُ قَوْمًا إِبْتَلَاهُمْ فَمَنْ صَبَرَ فَلَهُ الصَّبْرُ وَمَنْ جَزَعَ فَلَهُ الْجَزَعُ . رواه احمد في مسنده (۵ / ۴۲۸، ۴۲۹) و صححه الشيخ الالباني في صحيح الجامع (رقم ۲۸۲) ، المتجر الرّابح في ثواب العمل الصّالح ص ۳۹۰ ثواب الصبر على البلاء وان قلّ .

بيا به يې دا جواب ورکولو : چې که چيرته يو بنده د الله جل جلاله نه خوشحاله او راضي وي نو الله تعالى هم دده نه خوشحاله او راضي وي ، او که يو بنده د الله جل جلاله نه ناراضه او خفه وي نو دا به ګڼرلې شي چې الله تعالى هم دده نه ناراضه او خفه دى . (۱)

## دا معلومول چې دا مصيبت عذاب دى . او که امتحان ؟

### د شاه ولي الله رحمه الله تحقيق :

شاه ولي الله رحمه الله په حُجَّةُ الله البالغة کې ذکر کړي : چې کوم تکليفونه په نيکانو خلقو راځي ، او دوى ورباندې صبر وکړي ، زړه يې مطمئن وي ، او دا مصيبت داسې برداشت کوي لکه مريض چې تَرخه دارو برداشت کوي . نو دا علامه ددې ده چې دا تکليف عذاب نه دى ، بلکه دا د انسان د مرتبو اوچتولو او ګناهونو معاف کولو يوه ذريعه ده .

او که دې پدې مصيبت راتلو سره سخت خفه او پريشانه شي ، د خُلې نه يې د ناشکرۍ يا کفري کلمات ووتل ، نو بيا دا علامه ددې ده چې دا تکليف عذاب دى .

### د مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله تحقيق .

حکيم الامت حضرت مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله ددې علامه داخودلې :

چې که په يو انسان باندې مصيبت راشي ، او دې په دې وخت کې استغفار وايي ، توبه اوباسي او الله جل جلاله ته راجع شي ، نو دا غټه نښه ددې ده چې دا تکليف عذاب نه دى ، بلکه دده د ګناهونو ختمولو د پاره په ده يو امتحان دى .

او که دې د دې مصيبت په وخت ډيرې چغې او سُورې وهي ، او ګناهونو کې مبتلاء شي ، نو دا غټه نښه ددې ده چې دا مصيبت په ده د الله جل جلاله قهر او عذاب دى . (۲)

---

(۱) مظاهر حق ج۳ ص ٦٢ .

(۲) معارف القرآن سورة الروم آيت ۴۱ .

۴. د مسلم شريف حديث دی ، رسول الله ﷺ فرمايي :

مَثَلُ الْمُؤْمِنِ كَمَثَلِ الزَّرْعِ لَا تَزَالُ الرِّيَاحُ تُمِيْلُهُ وَلَايَزَالُ الْمُؤْمِنُ يُصِيْبُهُ الْبَلَاءُ ، وَمَثَلُ الْمُنَافِقِ كَمَثَلِ شَجَرَةِ الْأُرْزِ لَاتَهْتَزُّ حَتّٰى تُسْتَحْصَدَ . (۱)

د مؤمن مثال په شان د فصل دی چې هوا يې هميشه ټيټوي او غورځوي ، دغه رنګې مؤمن ته هم هميشه تکليفونه او مصيبتونه رسيږي ، او د کافر مثال په شان د صنوبر د اُونې دی چې ( د باد په وجه ) نه خوزي ، تر دې چې کټ کړې شي . نو دغه رنګې په کافر باندې هم څه مصيبتونه او امتحانات نه راځي او په يو ځل ورته الله ﷻ جزا ورکړي .

معلومه شوه چې څوک هم الله ﷻ ته ډير نزدې وي نو په هغه باندې امتحانات هم ډير راځي ، تر دې چې په يو حديث مبارکه کې ذکر دي :

چاته الله ﷻ د خير اراده وکړي نو په ده باندې مصيبتونه راولي ، رسول الله ﷺ فرمايي : مَنْ يُّرِدِ اللّٰهُ بِهٖ خَيْرًا يُّصِبْ مِنْهُ . (۲)

چاته چې الله ﷻ د خير اراده وکړي نو په ده باندې تکليفونه راولي .

يو شاعر وايي :

فَمَا عَلَى التِّبْرِ عَارٌ ✱ فِي النَّارِ حِيْنَ يُقَلَّبُ

د سرو زرو د پاره هيڅ شرم نه دی کله چې دا په اُور کې اړولې راړولې شي .

يعنی زرګر چې سره زر په اُور کې ګرموي او اړوي راړوي يې نو په دې سره خو ددېنه خيرې صفا کيږي . او سره زر نور هم سوچه او خالصه کيږي .

(۱) مسلم كتاب صفات المنافقين واحكامهم باب مثل المؤمن كالزرع ( رقم ۲۸۰۹ / ۵۸ ) ، المتجر الرابح في ثواب العمل الصالح ص ۳۸۷ ثواب الصبر على البلاء وان قلّ ، ومثل هذا الحديث في البخاري : ( ۸ / ۱٦۸ ) ، نزهة الناظرين ص ۵۳۹ .

(۲) البخاري كتاب المرضى باب ما جاء في كفارة المرض ( رقم ۵٦۴۵ ) ، المتجر الرابح في ثواب العمل الصالح ص ۳۸۸ ثواب الصبر على البلاء وان قلّ ، رياض الصالحين كتاب الصبر حديث ۳۸ الترغيب والترهيب ج۲ كتاب الجنائز باب الصبر ... حديث ۲۰ . قوله : ''يُصِبْ مِنْهُ'' اي يوجه اليه مصيبة ويصيبه ببلاء . الترغيب والترهيب كتاب الجنائز الترغيب في الصبر ص ۱۴۲ .

# د صبر په برکت سره دُشمن هلاکېدل

يو کس امام اعظم ابو حنيفه رحمه الله ته راغی او د ده د ګستاخۍ او بې ادبۍ په نيت يې ده نه پوښتنه وکړه: امام صاحب! زه خبر شوی يم چې ستا پلار وفات شوی. ده ورته ... : هو، هغه وفات شوی. هغه بيا پوښتنه وکړه: ستا مور ژوندۍ ده؟ ده ورته وويل: ... ژوندۍ ده. هغه د بې ادبۍ په اِراده وويل: ما اوريدلي دي چې ستا مور ډيره ښائسته ده، لهذا زه راغلی يم چې ته د هغې نکاح د ماسره وکړې (د امام صاحب مور ډيره بوډۍ وه، د نکاح نه وه خو د دې سړي مقصد د امام صاحب ګستاخي وه).

امام صاحب د صبر او اِستقامت نه کار واخيست، او ورته وې ويل: زما مور خو عاقله، بالغه ښځه ده، د نکاح اِختيار خو د هغې سره دی، زه خو يې په زوره تا ته په نکاح نه شم درکولی، البته زه به ورنه پوښتنه وکړم.

نو امام صاحب کور ته روان شو چې د هغې نه پوښتنه وکړي، چې څه لږ مخکې لاړ او شاطرف ته يې را وکته نو وې ليده چې ناڅاپه دا سړی را اوغورځيد او مړ شو، پوښتنه وشوه چې دا چا ووژل؟ جواب راغی چې دا د امام ابو حنيفه رحمه الله صبر قتل کړو.

يو شاعر وايي:

هيچ قومے را خدا رسوا نه کرد • تا دِلے صاحب دِلے نامد بدرد

هيڅ يو قوم تر هغه وخته پورې الله ﷻ نه دی رَسوا کړی تر څو چې دوی د يو ولِيُ الله زړه ته درد نه وي رسولی. (کله چې دوی يو ولِيُ الله ته تکليف اورسوي نو الله تعالی دغه قوم بيا رَسوا کوي). (۱)

الله رب العزت فرمايي:

﴿ إِنَّ اللَّهَ لَا يُغَيِّرُ مَا بِقَوْمٍ حَتَّىٰ يُغَيِّرُوا مَا بِأَنْفُسِهِمْ ﴾. (۲)

ترجمه: بيشکه الله تعالی د يو قوم (ښه) حالت تر هغې وخته پورې نه بَدلوي تر دې پورې چې دوی بدل نه کړي هغه (حالت) کوم چې د دوی په زړونو کې دی.

(۱) اشرف الحکايات ص ۵۵، مثالي فکر الکنز والفعات ص ۱۶۵، خطبات فقير ج۵ ص ۶۱.

(۲) سورة الرعد آيت ۱۱.

يعنى الله تعالى د يو قوم ښه حالت تر هغې وخته پورې نه بدلوي ترڅو پورې چې دوی په ځان کې پخپله تبدلي نه وي پيدا کړي .

## دُنيا د آزمائشونو کور دی

قدرمنو ! که انسان د عقل او نقل په ذريعه د دُنيا جائزه واخلي نو ده ته به معلومه شي چې دا دُنيا دَارُالْآلَامْ يعنی د مصيبتونو ، او غمونو کور دی ، دلته هيڅوک هم د امتحاناتو او غمونو نه محفوظ نه دی پاتې شوی ، او که يو کس محفوظ پاتې کيدې شوی نو بيا به پيغمبران او نيکان خلق د دې امتحاناتو نه محفوظ پاتې شوي وی ، حالانکه که مونږ اوګورو نو د حضرت آدم عليه السلام او حضرت نوح عليه السلام ټول ژوند د امتحاناتو نه ډک ؤ ، حضرت ابراهيم عليه السلام په اُور کې اوغورځولې شو ، د ځوي د ذبح کولو او نور مختلف قسمه امتحانات وربانديې راوستې شو ، حضرت يعقوب عليه السلام د خپل ځوي ( حضرت يوسف عليه السلام) په جدايۍ کې دومره اوژړل چې د سترګو نظر يې ختم شو ، حضرت زکريا عليه السلام په آره باندې په مينځ دوه ټوټې کړې شو ، حضرت موسیٰ عليه السلام ته د فرعون او خپل قوم د طرفه مختلف قسمه مصيبتونه ورسيده ، ټول عُمر يې په فقرو فاقه او امتحاناتو کې تير کړی ، ځکه خو نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايلي :

أَشَدُّ النَّاسِ بَلَاءً اَلْأَنْبِيَاءُ ثُمَّ الصَّالِحُوْنَ ثُمَّ الْأَمْثَلُ فَالْأَمْثَلُ . (۱)

سخت او ډير امتحانات په خلقو کې په انبياء کرامو راځي ، بيا په نيکانو خلقو باندې ، بيا درجه په درجه چې څوک دوی ته ډير نزدې وي په هغوی سخت امتحانات راځي .

## دُنيا د مومن د پاره قيد خانه ده

په يو حديث کې راځي : اَلدُّنْيَا سِجْنُ الْمُؤْمِنِ وَجَنَّةُ الْكَافِرِ . (۲)

(۱) اخرجه البخاري ( ۱۰ / ۱۱۱ ) ، نزهة الناظرين فى الاخبار والآثار المروية عن الانبياء والصالحين ص ۵۳۸ كتاب الصبر والحمد والشكر .

(۲) مسلم ، ترمذي ، ابن ماجه ، : احمد .

دُنيا د مومِن د پاره قيد خانه او د کافر د پاره جنت دی.

يعنی مومن به د شُتر بې مهار غوندې ژوند نه تيروي بلکه د الله ﷻ او د هغه د رسول ﷺ د احکاماتو مطابق به ژوند تيروي، په ده باندې به د دين په لاره کې امتحانات او تکليفونه راځي خو دا ټول به برداشت کوي.

## د مومِن په هر حالت کې خير وي

محترمو! د مسلمان شان دادی چې که په ده باندې خوشحالي راشي نو دې به د الله ﷻ شکريه ادا کوي، او که په ده تکليف يا مصيبت راشي نو دې به صبر کوي. نو په دواړو حالتونو کې دده خير دی. نبي عليه السلام فرمايي:

عَجَبًا لِأَمْرِ الْمُؤْمِنِ انَّ أَمْرَهُ كُلَّهُ خَيْرٌ وَلَيْسَ ذٰلِكَ لِأَحَدٍ اِلَّا لِلْمُؤْمِنِ إِنْ أَصَابَتْهُ سَرَّاءُ شَكَرَ فَكَانَ خَيْرًا لَهُ، وَإِنْ أَصَابَتْهُ ضَرَّاءُ صَبَرَ فَكَانَ خَيْرًا لَهُ. (۱)

د مومِن حالت ته تعجب دی (ځکه) دده په هر حالت کې خير دی، او د مومِن نه علاوه بل هيچا ته دا حالت (او خصوصيت) نه شي حاصليدی. (ځکه) که ده ته خوشحالي اورسي او دې شکر ادا کړي نو دا دده د پاره غوره ده، او که ده ته څه تکليف اورسي او دې صبر وکړي نو دا هم دده د پاره غوره ده (يعنی د مومِن په هر حالت کې خير او بهتري ده).

## د صبر اهميت:

د صبر په باره کې الله ﷻ مومنانو ته فرمايي:

﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوا اصْبِرُوْا وَصَابِرُوْا وَرَابِطُوْا وَاتَّقُوْا اللهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ﴾. (۲)

ترجمه: اې مومنانو! تاسو صبر کوئ، او يو بل په صبر آماده کوئ، او د جهاد د پاره تيار اوسئ، او د الله ﷻ نه ووېرېږئ ددې د پاره چې کامياب شئ.

(۱) مسلم کتاب الزهد والرقائق باب: المؤمن امره کله خير (رقم ۶۴/۲۹۹۹)، المتجر الرابح في ثواب العمل الصالح ص ۳۸۷ ثواب الصبر على البلاء وان قلّ.

(۲) آل عمران آيت ۲۰۰. اي اِصْبِرُوْا عَلَى طَاعَةِ اللهِ، وَصَابِرُوْا أَعْدَاءَ اللهِ، وَقِيْلَ: اِصْبِرُوْا عَلَى بَلَائِيْ وَصَابِرُوْا عَلَى نَعْمَائِيْ. نزهة الناظرين... ص ۵۲۷ کتاب الصبر والشکر.

## د صبر تعريف :

د صبر لفظي معنى ده : ايساريدل ، بنديدل او تړل . او د قرآن وسنت په اصطلاح کې صبر ديته ويلى شي چې نفس لره د طبعيت نه په خلاف څيزونو باندې ټينګ او مضبوط اولرلې شي . (۱)

## د صبر اَقسام :

علماؤ د صبر درې (۳) غټ اَقسام ذکر کړي :

**اول** : صبر على الطاعات : يعنى د کومو کارونو چې الله ﷻ او د هغه رسول ﷺ حکم کړى هغه کارونه په پابندۍ سره کول ، که د غه کارونه په طبعيت باندې هر څومره مشکل وي خو بيا هم نفس لره په دې باندې ټينګ او مضبوط لرل .

**دويم** : صبر عن المعاصي : يعنى د کومو کارونو نه چې الله ﷻ او د هغه رسول ﷺ منع کړى د هغې نه خپل نفس را ايسارول ، اګر چې نفس د پاره د غه کارونه هر څومره خوَنده وَر وي خو بيا هم د دينه ځان بندول او منعه کول .

**دريم** : صبر على المصائب : يعنى په تکليفونو ، مصيبتونو او غمونو باندې صبر کول ، او خپل نفس بې قابو کيدو ته نه پريښودل ، بلکه انسان ته دا ګمل په کار دي چې دا تکليفونه او راحتونه ټول د الله ﷻ د طرفه راځي . الله تعالى فرمايي :

(۱) معارف القرآن سورة آل عمران آيت ۲۰۰ . نورو علماؤ هم د صبر مختلف تعريفونه کړي : قَالَ ابْنُ عَطَاءٍ : اَلصَّبْرُ : اَلْوُقُوْفُ مَعَ الْبَلَاءِ بِحُسْنِ الْأَدَبِ ، وقال ابراهيم الخواص رحمه الله : اَلصَّبْرُ هُوَالثُّبَاتُ عَلَى الْكِتَابِ وَالسُّنَّةِ . وقال ابو علي الدقاق رحمه الله : حَقِيْقَةُ الصَّبْرِ اَنْ لَا يَعْتَرِضَ عَلَى الْمَقْدُوْرِ . فَأَمَّا اِظْهَارُ الْبَلَاءِ لَا عَلَى جِهَةِ الشَّكْوٰى فَلَا يُنَافِي الصَّبْرَ قَالَ اللهُ تَعَالَى فِيْ اَيُّوْب عَلَيْهِ السَّلَامُ ﴿ إِنَّا وَجَدْنَاهُ صَابِرًا نِعْمَ الْعَبْدُ إِنَّهُ أَوَّابٌ . سورة ص آيت ۴۴ . ﴾ مَعَ أَنَّهُ قَالَ : ﴿ أَنِّيْ مَسَّنِيَ الضُّرُّ وَأَنْتَ أَرْحَمُ الرَّاحِمِيْنَ . سورة الانبياء آيت ۸۳ ﴾.... نزهة الناظرين .. ص ۵۴۰ کتاب الصبر والحمد والشکر . بعضې علماء وايي چې صبر ديته وايي چې په انسان څه تکليف يا غم راشي نو دې په ژبه باندې خلافِ شرعه خبرې (لکه شکوې، شکايتونه او کفري خبرې) ونکړي ، د جسم په نورو اندامونو باندې خلافِ شرعه کار ونکړي ، او خپل ځان په قابو کې اوساتي .

﴿ مَا أَصَابَ مِنْ مُّصِيْبَةٍ إِلَّا بِإِذْنِ اللهِ ﴾ . (۱)

ترجمه : ( په دُنيا کې ) هر مصيبت چې راځي نو دا د الله د حکم نه بغير نه راځي .
لهذا په هر حالت کې هم هغه طرفته متوجه کيدل په کار دي . (۲)

**د صبر درجات** : بيا د هر قسم ځانله ځانله درجې دي ، حضرت عبدالله بن عباس رضى الله عنهما فرمايي : اَلصَّبْرُ فِي الْقُرْآنِ عَلَى ثَلَاثَةِ اَوْجُهٍ : ۱ . صَبْرٌ عَلَى اَدَاءِ فَرَائِضِ اللهِ تَعَالَى فَلَهُ ثَلَاث مِائَة دَرَجَةٍ ، ۲ . وَصَبْرٌ عَنْ مَحَارِمِ اللهِ تَعَالَى فَلَهُ سِتّ مِائَة دَرَجَةٍ ، ۳ . وَصَبْرٌ عَلَى الْمُصِيْبَةِ عِنْدَ الصَّدْمَةِ الْأُوْلَى فَلَهُ تِسْعُ مِائَة دَرَجَةٍ . (۳)

صبر په قرآن کريم کې په درې قسمه دی . اول : د الله ﷻ په فرائضو باندې صبر کول (چې انسان د فرائضو اداکولو اهتمام کوي ) ، ددې صبر درې سوه ( ۳۰۰ ) درجې دي .

دويم : کوم کارونه چې الله ﷻ حرام کړي د هغې نه ځان صبرول . دداسې صبر شپږ سوه (۶۰۰ ) درجې دي .

دريم : د مصيبت په اول وخت کې صبر کول . دداسې صبر نهه سوه ( ۹۰۰ ) درجې دي .

**فايده** : په مصيبتونو باندې د صبر کولو اجر ځکه زيات دی چې د مصيبت په وخت صبر کول په نفس باندې ګران وي نو ځکه يې فضيلت هم زيات دی . (۴)

(۱) سورة التغابن آيت ۱۱ .

(۲) معارف القرآن سورة آل عمران آيت ۲۰۰ . بعضو علماؤ د صبر داسې اقسام ذکر کړي : قَالَ الْعُلَمَاءُ رَحِمَهُمُ اللهُ: اَلصَّبْرُ عَلَى ثَلَاثَةِ اَضْرُبٍ : ۱ . صَبْرٌ لِلّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ، وَهُوَ صَبْرٌ عَلَى اَدَاءِ اَمْرِهِ . وَالْاِنْتِهَاءِ عَمَّا نهي عَنْهُ ، ۲ . وَصَبْرٌ مَعَ اللهِ تَعَالَى ، وَهُوَ الصَّبْرُ تَحْتَ جريَانِ قَضَائِهِ وَاَفْعَالِهِ فِيْكَ مِنْ سَائِرِ الشَّدَائِدِ وَالْبَلَاءِ ، ۳ . وَصَبْرٌ عَلَى اللهِ تَعَالَى ، وَهُوَ الصَّبْرُ عَلَى وَعْدِهِ مِنَ الرِّزْقِ وَالْفَرَجِ وَالثَّوَابِ دَارَالْآخِرَةِ . نزهة الناظرين ... ص ۵۴۰ کتاب الصبر والحمد والشکر .

(۳) احياء العلوم ج۴ ص ۹۵ کتاب الصبر والشکر .

(۴) احياء العلوم ج۴ ص ۹۵ کتاب الصبر والشکر .

همدغه شان خبره امام غزالي رحمه الله په مکاشفة القلوب کې هم څه په تفصيل سره ذکر کړې : چې د صبر درې قسمونه دي : ۱. صبر د الله ﷻ په طاعت او بندګۍ باندې . ۲. صبر د حرامونه . ۳ . صبر د دُنيا په مصيبتونو او سختيو باندې خو چې دا صبر په اوله مرحله کې اوشي .

نو څوک چې د الله تعالی په اطاعت او بندګۍ باندې صبر وکړي او هميشه د پاره د الله پاک بندګي او اطاعت کوي نو الله تعالی به ده ته د قيامت په ورځ داسې درې سوه (۳۰۰) درجې او مرتبې ورکړي چې د هرې درجې په مينځ کې به دومره فاصله وي لکه د زمکې او آسمان تر مينځه فاصله .

او څوک چې د حرامو نه صبر وکړي او ځان د حرامو نه اوساتي نو ده ته به الله ﷻ د قيامت په ورځ شپږ سوه (۶۰۰) داسې درجې ورکړي چې د هرې درجې تر مينځه به دومره فاصله وي لکه د اووم (۷) آسمان او د اووم (۷) زمکې تر مينځه چې څومره فاصله ده .

او څوک چې د مصيبت په وخت صبر وکړي نو ده ته به د قيامت په ورځ داسې اووه سوه (۷۰۰) درجې ورکړې شي چې د هرې درجې تر مينځ به دومره فاصله وي لکه څومره فاصله چې د عرش او د زمکې د بيخ تر مينځه ده . (۱)

## صبر نيم ايمان دی

د صبر د اهميت اندازه د دينه کيدی شي چې په احاديثو مبارکه وکې صبر ته نيم ايمان ويل شوی ، حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنهما فرمايي :

اَلصَّبْرُ نِصْفُ الْإِيْمَانِ .. (۲) صبر نيم ايمان دی .

په بعضې رواياتو کې صبر په منزله د سَر کرځول شوی ، لکه حضرت علي ﷺ فرمايي :

(۱) مکاشفة القلوب باب الصبر ص ۱۰ .

(۲) رواه الطبراني فی الکبير (۹/ ۱۰۷) رقم (۸۵۴۴) ، وقال الهيثمي في مجمع الزوائد : ورجاله الصحيح ، والمرفوع الذي اشار اليه الحافظ الدمياطي اخرجه ابونعيم فی الحلية وغيره ، المتجر الرابح في ثواب العمل الصالح ص ۳۸۷ ، احياء العلوم ج۴ ص ۸۱ کتاب الصبر والشکر .

اَلصَّبْرُ مِنَ الْإِيْمَانِ بِمَنْزِلَةِ الرَّأْسِ مِنَ الْجَسَدِ . وَلَا جَسَدَ لِمَنْ لَا رَأْسَ لَهُ . وَلَا إِيْمَانَ لِمَنْ لَا صَبْرَ لَهُ . (۱)

صبر د ايمان نه داسې دی لکه سر چې د جسم (او جسد) د پاره وي ، د کوم جسم چې سَر نه وي هغه دسره جسم نه دی (دغه شان) د کوم سړي چې صبر نه وي د هغه ايمان کامل نه دی .

## لمونځ او صبر به په قبر کې د انسان دفاع کوي

صبر به په قبر کې هم د انسان دفاع کوي ، او د راتلونکي عذاب نه به دغه کس محفوظ کوي ، حضرت ابو هريرة رضي الله عنه فرمايي :

چې کله مړي په قبر کې کېښودې شي نو نيک اعمال ده ته راشي ، نو که عذاب د سَر د طرفه راځي نو د قرآن مجيد تلاوت ورته مخې ته اودرېږي ، که د خپو د طرفه راځي نو دعبادت د پاره اودريدل ورته مخې ته ودرېږي ، که د لاسونو د طرفه راځي نو لاسونه ورته وايي : قسَم په الله جل جلاله ده به زه د صدقې او دُعا د پاره استعمالولم لهذا تاسو ته ددې طرفه د تللو اجازت نشته ، او که عذاب د خُلې د طرفه راځي نو ذکر او روژه ورته رامخې ته کيږي ، دغه شان لمونځ او صبر يو طرف ته ولاړ وي او دې نورو نيکو اعمالو ته وايي :

أَمَا إِنِّيْ لَوْ رَأَيْتُ خَلَلًا لَكُنْتُ أَنَا صَاحِبُهُ .

که چيرته زه څه خلل او کمې وګورم نو زه به ددې کس ملګرې يم (يعنی اول ددې مړي دفاع تاسو کوئ ، او که ما څه کمې وليده نو زه به دده د پاره کافي يم ). (۲)

---

(۱) احياء العلوم ج۴ ص ۸۲ كتاب الصبر والشكر ، نزهة الناظرين ص ۵۳۹ كتاب الصّبر والحمد والشكر .

(۲) قَالَ أَبُوْ هُرَيْرَةَ رضي الله عنه : إِذَا وُضِعَ الْمَيِّتُ فِيْ قَبْرِهِ جَاءَتْ أَعْمَالُهُ الصَّالِحَةُ فَاحْتَوَشَتْهُ . فَإِنْ أَتَاهُ مِنْ قِبَلِ رَأْسِهِ جَاءَ قِرَاءَتُهُ الْقُرْآنَ . وَإِنْ أَتَاهُ مِنْ قِبَلِ رِجْلَيْهِ جَاءَ قِيَامُهُ . وَإِنْ أَتَاهُ مِنْ قِبَلِ يَدِهِ قَالَتِ الْيَدَانِ : وَاللهِ لَقَدْ كَانَ يَبْسُطُنِيْ لِلصَّدَقَةِ وَالدُّعَاءِ لَا سَبِيْلَ لَكُمْ عَلَيْهِ . وَإِنْ جَاءَ مِنْ قِبَلِ فِيْهِ جَاءَ ذِكْرُهُ وَصِيَامُهُ . وَكَذٰلِكَ تَقِفُ الصَّلٰوةُ وَالصَّبْرُ نَاحِيَةً فَيَقُوْلُ أَمَا إِنِّيْ لَوْ رَأَيْتُ خَلَلًا لَكُنْتُ أَنَا صَاحِبُهُ . احياء العلوم ج۴ ص ۶۶۹ كتاب ذكر الموت ومابعده.

## صبر د اِنسان خاصه ده :

صبر د انسان خاصه ده ځکه په چارپيانو ( حيواناتو ) ، او ملائکو کې د صبر تصوّر نه شي کيدی . (۱)

## صبر کول د کامِل مومِن صفت دی

بل دا چې د کامِل مومن صفت هم دادی چې دې به په تکليفونو صبر کوي ، الله تعالی فرمايي :

﴿ وَالصَّابِرِيْنَ فِي الْبَأْسَاءِ وَالضَّرَّاءِ وَحِيْنَ الْبَأْسِ أُولٰئِكَ الَّذِيْنَ صَدَقُوْا وَأُولٰئِكَ هُمُ الْمُتَّقُوْنَ ﴾ . (۲)

ترجمه : ( نيکي ديته ويلې شي ) چې څوک د تنگ دَستی ، سختی او د جنگ په وخت کې صبر کوونکي وي ، همدا خلق ريښتوني ( نيکان ) دي او همدا خلق پرهيزگاره دي .

بل ځای الله رب العزت فرمايي :

﴿ وَلَمَنْ صَبَرَ وَغَفَرَ إِنَّ ذٰلِكَ لَمِنْ عَزْمِ الْأُمُوْرِ ﴾ . (۳)

ترجمه : او چا چې صبر وکړو او معافي يې وکړه بيشکه دا ډير د همت کارونو نه دی .

## نبي ﷺ ته د صبر حکم :

تردې چې نبي کريم ﷺ ته هم الله ﷻ د صبر حکم کوي :

﴿ فَاصْبِرْ كَمَا صَبَرَ أُولُوا الْعَزْمِ مِنَ الرُّسُلِ ﴾ . (۴)

ترجمه : اې پيغمبره ! ته صبر کوه لکه څرنگې چې د لوړ همت واله پيغمبرانو صبر کړی وُ

---

(۱) امام غزالي رحمه الله په خپل کتاب احياء العلوم کې ليکلي : فَإِنَّ الصَّبْرَ خَاصِيَّةُ الْإِنْسَانِ، وَلَا يُتَصَوَّرُ ذٰلِكَ فِي الْبَهَائِمِ وَالْمَلَائِكَةِ : أَمَّا فِي الْبَهَائِمِ فَلِنُقْصَانِهَا ، وَأَمَّا فِي الْمَلَائِكَةِ فَلِكَمَالِهَا . پوره تفصيل په '' احياء العلوم ج ۴ ص ۸۳ کتاب الصبر والشکر '' کې اوگوره .

(۲) البقرة آيت ۱۷۷ .

(۳) الشوریٰ آيت ۴۳ .

(۴) الاحقاف آيت ۳۵ .

## چا ته چې صبر ورکړی شو هغه ته بهترین نعمت ورکړی شو

نبي عليه السلام فرمايي :

مَا رُزِقَ عَبْدٌ خَيْرًا لَهُ وَلَا أَوْسَعَ مِنَ الصَّبْرِ . (۱)

هيڅ يو بنده ته د صبر نه علاوه دده د پاره بل بهترين او فراخه شی نه دی نصيبه شوی.

په يو روايت کې داسې الفاظ دي :

وَمَنْ يَتَصَبَّرْ يُصَبِّرْهُ اللهُ ، وَمَا أُعْطِيَ أَحَدٌ عَطَاءً خَيْرًا وَأَوْسَعَ مِنَ الصَّبْرِ . (۲)

څوک چې د الله ﷻ نه صبر طلب کړي نو الله تعالى به ده ته صبر ورکړي ، او هيچا ته د صبر نه بهترين ، اوچت او فراخه شی نه دی ورکړی شوی .

## صبر کول اول گران وي خو انجام يې ښه وي

د مصيبت په وخت انسان ته صبر کول او د ژړا او فرياد نه منع کيدل گران معلوميږي خو چې کله يو څو ورځې تيرې شي نو بيا ورته معلومه شي چې صبر فايده مند ؤ ، او جزعه فزعه او شکايتونه نقصاني وو .

**مثال** : ددې مثال داسې دی لکه يو ماشوم چې اول کې يې پلار د علم زده کړی ته کينوي، او د لهو ولعب نه يې منع کوي نو دا ورته ډير گران معلوميږي خو چې کله يې د بصيرت سترگې وغړيږي او هوښيار شي نو بيا په خپله ورته معلومه شي چې زما فايده د علم ته کيناستو او د لهو و لعب نه منع کيدو کې وه. (۳)

---

(۱) رواه الحاكم في المستدرك ( ۲ / ۴۱۴ ) وقال: صحيح على شرط البخاري ومسلم .

(۲) رواه البخاري في الزكاة باب الاستعفاف في المسألة (رقم ۱۳۶۹ ) ، ومسلم كتاب الزكاة باب فضل التعفف والصبر ( رقم ۱۰۵۳/۱۲۴ ) .

(۳) احياء العلوم ج ۴ ص ۱۰۶ كتاب الصّبر والشكر .

# صبر هغه دی چې په اول وخت کې اوشي

انسان ته چې د کوم صبر په وجه اجر وثواب ملاوېږي او په شریعت کې چې د کوم صبر فضایل بیان شوي نو دا هغه صبر دی چې د مصیبت په اول وَهلت کې اوشي، ځکه روستو خو د هر انسان زړه په خپله صبرېږي.

د بخاري او مسلم شریف حدیث دی، حضرت انس رضي الله عنه وایي: چې نبي کریم ﷺ په یوه ښځه باندې تیر شو چې د خپل یو ماشوم ځوي د قبر په څنګ کې یې ژړل، پیغمبر علیه السلام ورته وفرمایل:

إِتَّقِيْ اللهَ وَاصْبِرِيْ. د الله جل جلاله نه ووېرېږه، او صبر کوه.

نو دې ښځې ورته ووېل:

إِلَيْكَ عَنِّيْ فَإِنَّكَ لَمْ تُصَبْ بِمُصِيْبَتِيْ. ته د ما نه لرې شه ځکه تا ته خو زما په شان مصیبت نه دی دررسیدلې.

دې ښځې چونکه نبي علیه السلام نه و پېژندلی (نو ځکه یې دا خبره ورته وکړه، کله چې پیغمبر علیه السلام ورنه لاړ نو) دې ښځې ته ووېلې شو: دا خو نبي علیه السلام و، نو دا ښځه د پیغمبر علیه السلام دروازې ته راغله، په دروازه باندې یې څوک دربانچي (څوکیدار) اونه موندو (دا د پیغمبر علیه السلام تواضع او عاجزي وه)، دې ښځې رسول الله ﷺ ته ووېل:

(اې د الله رسوله!) ما تاسو نه وې پېژندلي (نو ځکه مې د خولې نه دا خبره وتې وه، لهذا تاسو خفه نه شئ) نبي علیه السلام ورته وفرمایل:

إِنَّمَا الصَّبْرُ عِنْدَ الصَّدْمَةِ الْأُوْلٰى. (۱)

---

(۱) متفق علیه، ریاض الصالحین باب الصبر حدیث ۳۰. وَعَنْ أَنَسٍ رضي الله عنه قَالَ مَرَّ النَّبِيُّ ﷺ بِامْرَأَةٍ تَبْكِيْ عِنْدَ قَبْرٍ فَقَالَ: إِتَّقِيْ اللهَ وَاصْبِرِيْ. قَالَتْ إِلَيْكَ عَنِّيْ فَإِنَّكَ لَمْ تُصَبْ بِمُصِيْبَتِيْ. وَلَمْ تَعْرِفْهُ. فَقِيْلَ لَهُ: إِنَّهُ النَّبِيُّ ﷺ فَأَتَتْ بَابَ النَّبِيِّ ﷺ فَلَمْ تَجِدْ عِنْدَهُ بَوَّابِيْنَ فَقَالَتْ: لَمْ أَعْرِفْكَ. فَقَالَ: إِنَّمَا الصَّبْرُ عِنْدَ الصَّدْمَةِ الْأُوْلٰى.
مشکوة باب البکاء علی المیّت الفصل الاول حدیث ۷.

بيشکه حقيقي صبر هغه وي چې په اول وخت کې وشي.

**فائده** : د دې حديث د آخري جملې مطلب دا دی چې بهترين او خوښ صبر د کوم په وجه ې انسان ته اجر و ثواب حاصليږي نو دا هغه دی چې د مصيبت په اول وخت کې وشي، ځکه که د مصيبت په اول وخت کې صبر او نه شي نو روستو که دې صبر وکړي او که او نه کړي د هر چا زړه په خپله صبريږي.(۱)

لهذا عقل مند انسان هغه دی چې د مصيبت په ابتدايي لمحاتو کې صبر وکړي ځکه روستو بيا ورباندې څه نتيجه مرتّب نه وي.

## عبدالله بن مبارک رحمه الله ته د يو مجوسي عجيبه خبره

د حضرت عبدالله بن مبارک رحمه الله په باره کې نقل دي چې کله د ده يو ځوي وفات شو نو يو مجوسي ده ته دتعزيت د پاره راغی، او ورته وې ويل:

عقل مند له په کار دي چې د مصيبت په اوله ورځ هغه رَويه اختيار کړي کومه چې جاهل پنځه(۵) ورځې پس اختياروي (يعنی عاقل ته د مصيبت په اولې مرحله کې صبر په کار دی)

عبدالله بن مبارک رحمه الله ناست خلقو ته وويل: ده ډيره قيمتي خبره وکړه دا د ځان سره وليکئ.

## د صبر علامات:

د صبر علامات دا دي: ۱. د الله ﷻ په فيصله راضي کيدل. ۲. په الله پاک باندې د اعتراض کولو نه ژبه کنټرول کول (يعنی داسې اعتراضات نه کول: چې ګني الله ﷻ په دې مخلوقاتو کې صرف زه ليدلې يم چې په ما باندې مصيبتونه راولي). ۳. مخ نه وهل. ۴. جامې او ګريوان نه شلول. ۵. د غم په وخت چې کوم خلق ناجائز کارونه کوي د هغې نه ځان ساتل.

(۱) مظاهر حق ج۳ ص باب البکاء علی الميت.

## د بې صبرۍ علامات

کله چې په يو چا باندې څه غم او مصيبت راشي او دی په دې وخت کې خپل مخ وهي ، ګريوان شلوي ، چغې او سورې وهي ، واويلا جوړه کړي ، ويښتان شلوي ، په سَر باندې خاورې اچوي ، د شريعت خلاف خبرې کوي نو دا ټول په بې صبرۍ دلالت کوي ددې نه په احاديثو کې سخته منع راغلې .

## په هر حالت کې الله ﷻ ته متوجه کيدل په کار دي :

لهذا انسان ته په کار دي چې کله هم په ده باندې څه مصيبت تکليف او غم راشي نو په دې باندې دې شَکوې او شکايتونه نه کوي ، بلکه په هر حالت کې الله ﷻ طرف ته متوجه کيدل په کار دي ، ځکه چې د کوم کس تعلق د الله ﷻ سره پيدا شي نو ده ته بيا د تکليفونو او امتحانونو په وجه هيڅ بې اطميناني نه وي ، اګر چې په ظاهره به دا غټ مصيبت وي خو ليکن دې به بيا هم د الله ﷻ په فيصله راضي وي او صبر به کوي ، ځکه ده ته دا معلومه وي چې په دې غمونو او امتحانونو سره زما ګناهونه معاف کيږي ، زما درجې اوچتيږي ، او ډير ثوابونه راته پرې حاصليږي .

## تکليف لرې کوونکې ذات هم الله ﷻ دی

او که يو انسان دا سوچ وکړي نو ده ته به معلومه شي چې کوم ذات په انسان باندې غم او تکليف راولي نو هماغه ذات د انسان نه دغه تکليف لرې کولې هم شي . لهذا په هر حال کې الله ﷻ طرفته متوجه کيدل په کار دي .

## افلاطون ته د حضرت موسی ؑ جواب

يو کرت افلاطون د حضرت موسی ؑ نه پوښتنه وکړه : دا راته ووايه چې کله آسمان کمان ( لينده ) شي ، د دُنيا مصيبتونه ددې غشي شي او غشي ويشتونکې الله ﷻ شي نو انسان به ددې نه ځنګه بچ شي ؟

حضرت موسی علیه السلام ورته وویل : ددې نه د بچ کیدو طریقه داده چې انسان غشي ویشتونکي ته ورشي ، او د هغه سره ودریږي ، ځکه غشي په لرې کس ویشتلې شي ، په نزدې کس نه شي ویشتلی.

افلاطون چې دا خبره واوریده نو وې ویل : ته یقیناً د الله جل جلاله نبي یې ، ځکه داسې مضبوط علم د انبیاؤ سره وي.

## په مومن حقیقي مصیبت نه راځي

لهذا کوم انسان چې همیشه الله جل جلاله طرفته متوجه وي نو په ده باندې حقیقي مصیبت او تکلیف نه راځي اګر چې په ظاهره به په ده باندې مصیبت او تکلیف وي خو چونکه دې به په دې حالت کې هم مطمئن وي او د الله جل جلاله نه به راضي وي ، نو ځکه به ورته مصیبت نه ښکاري. (۱)

او ددې د پاره په خارج کې څه نمونه هم شته لکه : سنکهیا د یو کس د پاره دوایي ده خو د بل د پاره زهر دي. یعنی که یو کس په څه تدبیر سره ددې سنکهیا زهر مړه کړي او مُصلحه یې کړي نو دده په حق کې دا سنکهیا دوایي ده او که ددې زهر مړه نه کړي نو دا بیا زهر دي.

دغه شان چې په نیکانو خلقو باندې څه مصیبتونه ، غمونه او تکلیفونه راشي نو دوی د صبر او الله جل جلاله طرفته متوجه کیدو په وجه ددې مصیبت زهر مړه کړي ، نو همدا مصیبت د دوی دګناهونو د مغفرت ، د مرتبې اوچتولو او د جنت تللو سبب جوړ شي.

او که یو کس د مصیبت په وخت جَزعه ، فَزعه ، شکوې ، شکایتونه او بې صبري کوي نو همدا مصیبت دده د پاره عذاب جوړ شي او د ثواب نه محرومه شي.

لهذا که انسان الله جل جلاله طرف ته متوجه شي او د الله جل جلاله په فیصله راضي شي نو ده ته به په مصیبت کې هم لذت محسوسیږي ، او که بې صبري وکړي او د الله جل جلاله نه اعِراض وکړي نو ده ته به بیا په نعمتونو کې هم پریشاني او خفګان وي. ددې څه مثالونه درته بیانوم :

---

(۱) ندائے منبر ومحراب ج۱ ص ۲۸۲.

**اول مثال** : لکه اور په ظاهره د عذاب سبب دی، ځکه چې هر يو ځيز په کې واچوی نو هغه سوزوي او ختموي يې خو همدا اور د حضرت ابراهيم عليه السلام د پاره ګُلِ ګلزار شو او دده د آرام وراحت سبب شو . او که بل طرفته اوګورو نو اوبه د الله تعالی نعمت دی ځکه هر شی داوبو په وجه ژوندي او تازه دی ليکن همدا او به د فرعون د پاره د هلاکت او عذاب سبب شوی .

**دويم مثال** : دغه شان اولاد ، بي بي او مال و دولت هم په ظاهره نعمت دی ليکن د ډيرو خلقو د پاره د پريشانۍ او خفګان سبب اوګرځي .

معلومه شوه چې که يو انسان په تکليف او مصيبت باندې صبر وکړي او الله ﷻ طرفته متوجه شي نو دا دده د پاره د مغفرت او درجې اوچتولو سبب ګرځي ، او ددې انسان سره د الله ﷻ معيت او امداد هم شامل حال وي .

## د يو ماشوم نا اشنا جواب

د حضرت عالمګير رحمه الله په دَورِ خلافت کې د يو رياست حاکم وفات شو ، ددې حاکم ځوي چونکه ورو کې و ، نو په دې مشوره کولې شوه چې آيا دا ماشوم ددې لائق دی چې ده ته د پلار عُهده ورکړې شي ؟

نو عالمګير بادشاه دا ماشوم ځان ته را اوغوښته ، کله چې دا ماشوم راغی نو په دې وخت کې دا عالمګير بادشاه د تالاب په غاړه ناست و ، بادشاه د خُوش طبعۍ د پاره دا ماشوم د دواړو لاسونو نه ونيوه ، او دې تالاب ته يې لاندې وَر زوړند کړو ، او ورته وې ويل: لاندې دې ور اوغورځوم چې ډوب شي ؟ دې ماشوم ورته وويل :

د چا لاسونه چې ستا غوندې د عظيم بادشاه په لاس کې وي د هغه د ډوبيدو څه خطره ده ؟

عالګمير چې دا عجيبه جواب واوريده نو فيصله يې وکړه چې ده ته د پلار عُهده اوسپارئ ( ځکه دا ډيره هوښيار دی ، او د هوښيار تيا خبره يې وکړه ) .

**فايده** : چونکه ددې ماشوم دواړه لاسونه د بادشاه په لاس کې وو نو ځکه مطمئن و ، او د ډوبيدو خطره ورسره نه وه . لهذا دغه شان چې د کوم مسلمان تعلق د الله ﷻ سره پيدا شي

او د الله ﷻ تابعدار او فرمانبردار جوړ شي نو دده د غمونو او مصيبتونو نه هم هيڅ خطره نشته بلکه دي به هم هر وخت او په هر حالت کې مطمئن وي. (۱)

## د يو بزرګ د توبې سبب

يو بزرګ د خپلې توبې وجه دا بيانوي چې يو کرت سخته قحط سالي وه او هيڅ غله نه پيدا کيده، په دې زمانه کې يوه ورځ ما يو غلام وليده چې ډير زيات خوشحاله او مطمئن روان و، او د غم هيڅ آثار وربانديې نه ښکاره کيده، ما ورنه پوښتنه وکړه:

نن صبا خو سخته قحط سالي ده، او په دې کې هم ته دومره مطمئن او بې فکره يې، دا ولې؟ هغه راته وويل: زه د فلانکي کس غلام يم، زما خوراک او څکاک د هغه په ذمه دی، او هغه مالدار دی ځکه هغه ته ديو کلي آمدن راځي نو ماته هيڅ فکر نشته.

دا بزرګ وايي چې کله ما دا خبره واوريده نو په زړه مې ډير آثر اوشو، او ذهن ته مې دا خبره راغله چې کله دا غلام د خپل معمولي مالدار مالِک په وجه دومره مطمئن دی نو په کار داده چې زه خو دده نه زيات مطمئن او خوشحاله شم، ځکه زه خو هم د داسې رب غلام او بنده يم کوم چې د آسمانونو او زمکو د ټولو خزانو مالِک دی او هغه هم د انسان د رزق ذمه واري په خپله ذمه اخيستې ده (۲) لهذا ماته هم هيڅ خفګان او غم نه دی په کار، نو په هماغه ځای کې مې توبه ووېسته او الله ﷻ طرفته متوجه شوم. (۳)

## عِلمي نُکته او قانون

دا يوه عِلمي نُکته او قاعده کليه ده چې انسان ته دځه شي او کومو آسبابو په وجه مصيبت اورسي او دې په دې باندې صبر وکړي نو الله تعالى همدغه آسباب دده د پاره د عزت ذريعه ګرځوي، او د همدغه اسبابو په ذريعه دې ته اطمينان او سکون نصيبه کيږي.

او ددې د پاره د رته د قرآن کريم نه يو دوه (۲) نمونې بيانوم:

---

(۱) ندائے ممبر ومحراب ج۱ ص۲۸۳.

(۲) الله تعالى فرمايي: وَمَا مِن دَآبَّةٍ فِي الْأَرْضِ إِلَّا عَلَى اللَّهِ رِزْقُهَا. سورة هود آيت ٦

(۳) ندائے ممبر ومحراب ج۱ ص۲۸۲.

# اوله نمونه

کله چې الله ﷻ د حضرت موسی ؑ مور ته حکم وکړو چې حضرت موسی ؑ په یو تابوت کې واچوه او په دریاب کې یې پریږده ، نو دا په ظاهره باندې یو لوي امتحان و ، بیا خاصکر د مور محبت خو د بچي سره زیات وي ، الله تعالی فرمایي :

﴿ وَأَصْبَحَ فُؤَادُ أُمِّ مُوسَىٰ فَارِغًا .. ﴾ . (۱)

ترجمه : او د حضرت موسی علیه السلام د مور زړه خالي (ناقراره) شو .

نو د دریاب دا اُوبه په ظاهره د پریشانۍ سبب وې خو چونکه مور یې صبر وکړو ، او د الله ﷻ حکم یې په ډیر خوشحالۍ سره عملي کړو . بیا داسې یو وخت راغی چې الله ﷻ په همدغه اُوبو کې فرعون او دده غونډ لښکر غرق کړو او ټولو بني اسرائیلو ته یې ددې غم نه نجات ورکړو .

نو کومې اُوبه چې ددې د پاره د خفګان سبب جوړې شوې خو صبر یې پرې وکړو نو هماغه اُوبه د حضرت موسی ؑ او د ټولو بني اسرائیلو د پاره د خوشحالۍ سبب اوګرځیدې چې فرعون په کې ډوب شو .

# دویمه نمونه

د حضرت یوسف ؑ پوره تفصیلي واقعه خو په قرآن مجید کې ذکر ده زه صرف مطلبي ځای ورنه بیانوم ، کله چې د حضرت یوسف ؑ وروڼو د حضرت یوسف ؑ قمیص پلار ته راوړو ، او ورته وې ویل : چې مونږ لوبې کولې او دې لیوه اوخوړه ...

نو حضرت یعقوب ؑ چې قمیص ولیده نو غم او تکلیف ورته ورسیده ، ځکه ظاهري سبب د تکلیف د پاره همدا قمیص شو ، د ډیرې ژړا په وجه یې د سترګو نظر هم ختم شوې و ، خو حضرت یعقوب ؑ په ژبه باندې هیڅ شکوه او شکایت او نه کړو بلکه صبر یې ورباندې وکړو .

(۱) سورة القصص آیت ۱۰

بیا روستو داسې يو وخت راغی چې کله الله ﷻ حضرت یوسف ؑ ته حکومت ورکړو، نو خپل قمیص یې پلار ته راولیږل، حضرت یعقوب ؑ چې قمیص د سترګو سره اولګول نو الله ﷻ ورته دوباره نظر ورکړو او خوشحالي ورته نصیبه شوه.

نو کوم قمیص چې ظاهري د مصیبت او غم سبب جوړ شوی ؤ روستو بیا د همدغه قمیص په وجه خوشحالي ورته نصیبه شوه.

معلومه شوه چې که یو انسان ته د یو ظاهري سبب په وجه څه مصیبت اورسي او دې په هغې باندې صبر وکړي نو الله ﷻ به د همدغه اسبابو په ذریعه ده ته اطمینان، سکون او خوشحالي ور نصیبه کړي. (۱)

## په بې صبرۍ سره مصیبت دوچند شي

حضرت عبدالله بن مبارک رحمه الله وايي چې مصیبت یو وي خو چې کله انسان په دې باندې جَزعه، فزعه، شکایت او بې صبري وکړي نو دا دوه (۲) مصیبتونه شي، یو اصل مصیبت، او دویم د بې صبرۍ په وجه د ثواب ختمیدلو مصیبت.

او دا د اجر و ثواب ختمیدو مصیبت د اصلِ مصیبت نه زیات سخت او نقصاني دی. (۲)

لهذا انسان ته د مصیبت په وخت باندې صبر په کار دی چې د هغه لوي لوي اجرونو او ثوابونو نه محرومه نه شي.

علماؤ لیکلي چې کله یو انسان د قیامت په ورځ د مصیبت په وخت د صبر کولو اجرونه او ثوابونه اوګوري نو دا ارمان به وکړي چې: کاش دده اهل و عیال او خپلوان دده نه مخکې وفات شوي وی چې په هغې مصیبت باندې د صبر کولو اجرونه راته اوس حاصل شوي وی.

---

(۱) خطبات فقیر ج۵ ۶۷.

(۲) قَالَ ابْنُ الْمُبَارَكِ: اَلْمُصِيْبَةُ وَاحِدَةٌ فَإِذَا جَزِعَ صَاحِبُهَا تَكُوْنُ ثِنْتَيْنِ: أَحَدُهُمَا اَلْمُصِيْبَةُ، وَالثَّانِيَةُ ذِهَابُ أَجْرِ الْمُصِيْبَةِ وَهِيَ أَعْظَمُ مِنَ الْمُصِيْبَةِ. درة الناصحين ص ۲۳۷ بيان صبر ايوب عليه السلام.

## د لوح محفوظ رومبۍ خبره

حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما وايي : د ټولو نه رومبۍ خبره چې الله تعالى په لوح محفوظ کې تجويز فرمايلې ده هغه داده چې : زه الله جل جلاله يم، زما نه بغير بل څوک معبود نشته، محمد صلى الله عليه وسلم زما رسول دی ، نو کوم کس چې په قضاء باندې رضا اختياروي ، په مصيبت باندې صبر کوي او زما په نعمتونو شکريه ادا کوي نو زه به يې صديق وليکم ، او څوک چې زما په نعمتونو شکر او په مصيبتونو صبر نه کوي نو هغه دې زمانه بغير بل رب اولټوي . (۱)

## يو کور هم د غم نه خالي نه دی

محترمو ! که انسان سوچ وکړي نو داسې يو کور به نه وي موجود چې په هغې کې څوک وفات شوې نه وي ، بلکه په هر کور کې به خامخا څه کسان وفات شوي وي ، نو دا غم صرف په يو خاندان نه راځي بلکه په هر خاندان باندې راتلونکې دی .

### واقعه :

علماؤ يوه واقعه رانقل کړې چې ديوې ګنډې ښځې صرف يو ځوی و ، او په دې باندې ډير ګران و ، څه وخت پس دا ځوي يې وفات شو ، چونکه ددې ورسره ډير محبت و لهذا دې دا ځوي ژوندي ګڼل ، او دده د علاج د پاره يې ډير کوششونه کول ، او هيڅ ته يې د ښخولو د پاره نه پريښوده ، خلقو ورته ډير نصيحتونه وکړه خو د ډير محبت په وجه ددې په خيال کې دا ژوندي و ، او ددې د علاج کوشش يې کولو .

آخر خلقو دا يو هوښيار سړي له بوتله چې هغه ورته تسلي ورکړي ، دا هوښيار کس ددې په حالت باندې پوهه شو ، دې ته يې ووېل چې ستا ځوي په حقيقت کې مړ شوی خو زه يې د دَم په ذريعه راژوندې کولې شم خو په دې شرط چې ته ماته د داسې يو کور نه يو کټورې (جام) اُوبه راوړې په کوم کور کې چې تراوسه څوک وفات شوې نه وي ، زه به په هغې اُوبو باندې دَم واچوم ، او دا به پرې راژوندې کړم .

(۱) تنزيه الشريعة .

دې ښځې ووېل: ډيره ښه ده، روانه شوه او غونډ ښار يې وکته، خو داسې کور يې پيدا نه کړو چې په هغې کې څوک مړ شوي نه وي، بلکه د هر کور نه به ورته دا جواب راتلو چې: دلته د ژوندو کسانو په نسبت وفات شوي کسان ډير دي.

کله چې دا ښځه ډيره وګرځيده او نا آميده شوه، نو واپس دې هوښيار کس ته راغله او ورته وې ويل چې ما خو داسې کور پيدا نه کړو چې په هغې کې څوک نه وي وفات شوی.

نو دې هوښيار کس ورته ووېل چې: کله تا په ټول ښار کې داسې کور پيدا نه کړو چې په هغې کې څوک مړ شوي نه وي نو بيا ته څنګه د خپل ځوي د ژوندي کيدو اميد کوې؟

لهذا داستا ځوي هم وفات شوی او ته په دې باندې صبر وکړه، ځکه دا غم صرف په تا باندې نه دی راغلی بلکه په هر کور باندې راغلی. (۱)

## د نزدې خپلوان په وفات کيدو صبر کول

کله چې په يو انسان باندې څه غم راشي يا نزدې محبوب کس يې وفات شي نو په کار ده چې دې په هغې باندې صبر وکړي، د الله ﷻ په فيصله باندې راضي شي، الله ﷻ طرفته متوجه شي او دا عقيده اولري چې دا يو امانت ؤ، په دې کې زما څه اختيار نشته.

ځکه که يو انسان بې صبري وکړي نو په دې سره ده ته په لاس هيڅ نه ورځي، او نه وفات شوې کس پرې راژوندې کيږي، بلکه په بې صبرۍ، مخ وهلو، ګريوان شلولو او د الله ﷻ نه شکوې او شکايت کولو سره انسان د صابرينو د مقام نه هم اوځي، او د صبر د ثواب نه هم محرومه کيږي.

(۱) ندائے ممبر ومحراب ج۱ ص ۳۹۶.

# د بچي په وفات کيدو صبر کول

د چاچې بچې وفات شي او دې پرې صبر وکړي، د ثواب طلبګار وي او د شفاعت ذريعه يې وګڼي نو دداسې کس دپاره په احاديثو کې ډېر اجرونه او ثوابونه ذکر دي:

## ۱. په جنت کې کور جوړيدل

نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايي:

إِذَا مَاتَ وَلَدُ الْعَبْدِ قَالَ اللهُ تَعَالَى لِمَلَائِكَتِهِ: قَبَضْتُمْ وَلَدَ عَبْدِيْ؟ فَيَقُوْلُوْنَ: نَعَمْ. فَيَقُوْلُ: قَبَضْتُمْ ثَمَرَةَ فُؤَادِهِ؟ فَيَقُوْلُوْنَ: نَعَمْ. فَيَقُوْلُ: مَاذَا قَالَ عَبْدِيْ؟ فَيَقُوْلُوْنَ: حَمِدَكَ وَاسْتَرْجَعَ فَيَقُوْلُ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ: اِبْنُوْا لِعَبْدِيْ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ وَسَمُّوْهُ بَيْتَ الْحَمْدِ. (۱)

کله چې د يو مومن بنده بچې مړ شي نو الله تعالى خپلو فرښتو (يعنى ملک الموت او دده معاونِ فرښتو) ته (سره د عِلمه) ووايي: تاسو زما د بنده د بچي روح قبض کړو؟ هغوى ورته ووايي: هو. الله تعالى اوفرمايي: تاسو دده د زړه ميوه اوشکوله؟ هغوى عرض وکړي: آو. بيا الله تعالى دې فرښتو ته وفرمايي: (په دې حادثه باندې) زما بنده څه وويل؟ هغوى عرض وکړي: هغه ستا حمد بيان کړو، او إِنَّا لِلّٰهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُوْن يې وويل، نو الله تعالى وفرمايي: زما دې بنده دپاره په جنت کې يو (لوي) کور جوړ کړئ او د هغې نوم بَيْتُ الْحَمْد کيدئ.

**فايده ۱:** ددې کور نوم بَيْتُ الْحَمْد ځکه ايښودلې شي چې دې کس د مصيبت په وخت د الله ﷻ حمد بيان کړو او الله ﷻ طرفته يې رجوع وکړه نو ددې په عوض کې چې کوم کور ورکړې شو د هغې نوم بَيْتُ الْحَمْد کيښودې شو. (۲)

---

(۱) رواه احمد ٦/ ٣٠٩، والمنذري في الترغيب ٣ / ٣٣٦، والزبيدي في الاتحاف ٥/ ١٠٣، ورواه الترمذي ٣٥١١، والدارمي ١ / ٤٠، والحاكم ٣/ ١٦، وابن المبارک في الزهد ٢ / ٢٧، نزهة الناظرين ص٥٣٨ کتاب الصبر والحمد والشکر مشکوة باب البکاء على الميت الفصل الاول حديث ١٥.

(۲) مظاهر حق شرح مشکوة ج٣ باب البکاء على الميت.

**فایده ۲**: بعضې علماو لیکلي چې په دې حدیث کې دلیل دی چې په دې بندې چې: انسان آخره خاتمه به په ایمان نصیبه کیږي.(۱)

## ۲. د قیامت په ورځ به بچې د والدینو شفاعت کوي

کله چې د یو مسلمان بچې وفات شي او دې په هغې باندې صبر وکړي نو د قیامت په ورځ به دغه بچې د والدینو د پاره شفاعت کوونکې وګرځي او جنت ته به یې د ځان سره یو ځای داخل کړي.

د مشکوة شریف حدیث دی چې یو کس به د نبي کریم ﷺ مجلس ته راتلو او د هغه سره به خپل ځوی هم و، نبي علیه السلام ورته پوښتنه وکړه: أَتُحِبُّهُ؟ آیا ته دده سره محبت کوې؟ (چې هر وخت د تا سره وي) هغه ورته وویل:

يَارَسُوْلَ اللهِ أَحَبَّكَ اللهُ كَمَا أُحِبُّهُ.

اې د الله رسوله! (زه به دده د محبت درته څه ووایم. بس) الله تعالی دې د تا سره داسې محبت وکړي څنګه چې زه دې خپل بچي سره محبت کوم.

(څه وخت پس دغه ماشوم وفات شو نو) نبي علیه السلام به دده سره دا ماشوم بیا نه لیده، پوښتنه یې وکړه: مَا فَعَلَ ابْنُ فُلَانٍ؟ د فلانکي سړي ځوي څه شو؟ (هغه خو ورسره اوس نه وي) صحابه کرامو ورته وویل: یا رسول الله! د هغه ځوی خو وفات شوی (ددې نه پس هغه سړې د رسول الله ﷺ مجلس ته راحاضر شو) نو حضور ﷺ ورته وفرمایل:

أَمَا تُحِبُّ أَنْ لَا تَأْتِيَ بَابًا مِنْ أَبْوَابِ الْجَنَّةِ إِلَّا وَجَدْتَهُ يَنْتَظِرُكَ؟

آیا ستا دا خوښه نه ده؟ چې د قیامت په ورځ ته د جنت په کومه دروازه هم ورځې هلته به ته خپل ځوي وګورې چې ستا انتظار به کوي (ددې د پاره چې د الله ﷻ په دربار کې ستا د پاره سفارش وکړي او تا د ځان سره جنت ته بوځي).

(۱) نزهة المجالس باب في ذكر الموت والامل والعصر ص ۹۵.

يو سړي عرض وکړو : يَارَسُوْلَ اللهِ ! لَهُ خَاصَّةً أَمْ لِكُلِّنَا ؟

اې د الله ﷺ رسوله ! آيا دا زيرې خاص دده دپاره دی ، او که زمونږ د ټولو دپاره هم دی؟ نبي عليه السلام ورته وفرمايل : بَلْ لِكُلِّكُمْ . بلکه د تاسو ټولو د پاره دی .(۱)

د نسايي او حاکم په روايت کې ورسره څه نوره اضافه هم شته : چې کله صحابه کرامو نبي عليه السلام ته خبر ورکړو چې د هغه کس ځوي وفات شوی ، نو رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : تاسو ماته اِطلاع ولې نه راکوله ؟ راځئ چې مونږ د خپل ورور د تعزيت د پاره لاړ شو ، کله چې د هغه صحابي کور ته لاړه ، نو هغه يې په غم او فکر کې وليده ، هغه کس نبي عليه السلام ته وويل : ای د الله رسوله ! ما د خپل بوډاتوب د کمزورۍ او دې ورځو د پاره دده نه د نفع اميدونه تړلي و (اوس چې هغه وفات شو نو هغه ټول اميدونه مې قطع شو نو ځکه خفه يم) حضور ﷺ ورته وفرمايل : آيا ستا دا خوښه نه ده چې د قيامت په ورځ ته حاضر شې او دې بچي ته ووېلې شي : '' ته جنت ته داخل شه ''

او ستا دا بچې ووايي : يا الله ! زما مور اوپلار خو بهر دي ( نو زه څنګه جنت ته داخل شم؟ ) درې (۳) کرته به ده ته د جنت داخليدو ووېلې شي خو دې به هر کرَت د خپل مور او

---

(۱) عَنْ قُرَّةَ الْمَزَنِيِّ أَنَّ رَجُلًا كَانَ يَأْتِي النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَعَهُ اِبْنٌ لَهُ فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَتُحِبُّهُ ؟ فَقَالَ : يَارَسُوْلَ اللهِ أَحَبَّكَ اللهُ كَمَا أُحِبُّهُ . فَفَقَدَهُ النَّبِيُّ ﷺ فَقَالَ : مَا فَعَلَ ابْنُ فُلَانٍ ؟ قَالُوْا يَا رَسُوْلَ اللهِ ! مَاتَ . فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ أَمَا تُحِبُّ أَنْ لَا تَأْتِيَ بَابًا مِنْ أَبْوَابِ الْجَنَّةِ إِلَّا وَجَدْتَهُ يَنْتَظِرُكَ ؟ فَقَالَ رَجُلٌ : يَارَسُوْلَ اللهِ ! لَهُ خَاصَّةً أَمْ لِكُلِّنَا ؟ قَالَ : بَلْ لِكُلِّكُمْ . رواه احمد ، مشكوة باب البكاء على الميت الفصل الثالث حديث ۳۵ . همدغه شان روايت په نسائي شريف کې په تفصيل سره ذکر دی : كَانَ نَبِيُّ اللهِ ﷺ إِذَا جَلَسَ . جَلَسَ إِلَيْهِ نَفَرٌ مِنْ أَصْحَابِهِ . فِيْهِمْ رَجُلٌ لَهُ اِبْنٌ صَغِيْرٌ يَأْتِيْهِ مِنْ خَلْفِ ظَهْرِهِ فَيُقْعِدُهُ بَيْنَ يَدَيْهِ . فَهَلَكَ فَامْتَنَعَ الرَّجُلُ أَنْ يَحْضُرَ الْحَلْقَةَ لِذِكْرِ اِبْنِهِ فَفَقَدَهُ النَّبِيُّ ﷺ فَقَالَ : مَالِيْ لَا أَرَى فُلَانًا ؟ قَالُوْا : يَارَسُوْلَ اللهِ ! بُنَيُّهُ الَّذِيْ رَأَيْتَهُ هَلَكَ . فَلَقِيَهُ النَّبِيُّ ﷺ فَسَأَلَهُ عَنْ بُنَيِّهِ فَأَخْبَرَهُ أَنَّهُ هَلَكَ . فَعَزَّاهُ عَلَيْهِ ثُمَّ قَالَ : يَا فُلَانُ ! أَيُّهُمَا كَانَ أَحَبَّ إِلَيْكَ ؟ أَنْ تُمَتَّعَ بِهِ عُمْرَكَ أَوْ لَا تَأْتِيَ إِلَى بَابٍ مِنَ الْجَنَّةِ إِلَّا وَجَدْتَهُ قَدْ سَبَقَكَ إِلَيْهِ يَفْتَحُهُ لَكَ ؟ قَالَ : يَا نَبِيَّ اللهِ ! بَلْ يَسْبِقُنِيْ إِلَى بَابِ الْجَنَّةِ فَيَفْتَحُهَا لَهُوَ أَحَبُّ إِلَيَّ . قَالَ : فَذٰلِكَ لَكَ . نسائي ، المعجر الرابع في ثواب العمل الصالح ص۱۲۳ ثواب من مات له ولدٌ واحدٌ.

پلار سفارش کوي تر دې چې د ده سفارش به قبول شي ، بيا به ټول په يو ځای جنت ته داخل شي .(۱)

د دې خبرې په اوريدو سره د دې صحابي غم لرې شو .

## نيمګړې (او ناتمام) بچې به هم د خپلو والدينو شفاعت کوي

۱ . رسول الله ﷺ فرمايي :

إِنَّ السِّقْطَ لَيُرَاغِمُ رَبَّهُ إِذَا أَدْخَلَ أَبَوَيْهِ النَّارَ فَيُقَالُ : أَيُّهَا السِّقْطُ الْمُرَاغِمُ رَبَّهُ أَدْخِلْ أَبَوَيْكَ الْجَنَّةَ فَيَجُرُّهُمَا بِسَرَرِهِ حَتَّى يُدْخِلَهُمَا الْجَنَّةَ .(۲)

بيشکه نيمګړې بچې (کوم چې د وخت نه مخکې د مور د خيټې نه ضائع شوې وي) کله چې ده د والدينو جهنم ته د داخلولو اراده وشي نو دې به هم د خپل رب سره جګړه کوي (او د والدينو شفاعت به کوي) ، نو د الله ﷻ د طرفه به ده ته وويلی شي :

اې د الله ﷻ سره جګړه کوونکيه نا تمام بچيه ! ته خپل مور او پلار جنت ته داخل کړه (ځکه ستا شفاعت قبول شو) ، نو دغه نيمګړی بچې به خپل مور او پلار د نوم په ذريعه راکاږي تر دې چې دوی دواړه به جنت ته داخل کړي .

۲ . د مشکوة شريف حديث دی نبي عليه السلام قسَم کوي :

وَالَّذِيْ نَفْسِيْ بِيَدِهِ إِنَّ السِّقْطَ لَيَجُرُّ أُمَّهُ بِسَرَرِهِ إِلَى الْجَنَّةِ إِذَا احْتَسَبَتْهُ .(۳)

زما دې قسَم وي په هغه ذات د چا په قبضه کې چې زما ساه ده بيشکه نيمګړې (نا تمام) بچې به هم خپله مور (او خپل پلار) د نامه په ذريعه باندې جنت ته راکاږي خو په شرط د دې چې دا مور صبر وکړي او د ده په مرګ د ثواب اميد وساتي .

---

(۱) نسائي ، حاکم .

(۲) رواه الهندي في الکنز ۶۵۶۷ ، ۳۴۳۲۴ ، والزّبيدي في الاتحاف ۵/ ۲۹۸ ، المتجر الرّابح في ثواب العمل الصّالح ص ۱۲۴ ثواب السّقط . و رواه ابن ماجه ، مشکوة باب البکاء على الميت الفصل الثالث حديث ۳۶ .

(۳) رواه احمد ۵/ ۲۴۱ ، وابن ماجه ۱۶۰۹،۱۶۵ ، المتجر الرّابح في ثواب العمل الصّالح ص ۱۲۵ ثواب السّقط ، مشکوة باب البکاء على الميت الفصل الثالث حديث ۳۳ .

**فایده** : د دې حدیث نه معلومه شوه چې کوم بچې لا ترا وسه پوره جوړ شوي هم نه وي بلکه کچه حمل غورځیدلی وي او والدین په دې باندې صبر وکړي او د ثواب امید وساتي نو دغه بچې به الله تعالی د دوی د پاره سفارش کوونکې وګرځوي، او د دوی د جنت داخلولو سبب به وګرځي. حالانکه دې نیمګړي بچي سره د مور څه ډیر تعلق هم نه وي پیدا شوی.

اوس چې کوم بچې ژوندې پیدا شوې وي، والدینو یې پرورش هم کړې وي او کمالِ تعلق او محبت یې هم ورسره پیدا شوې وي بیا چې دا بچې وفات شي او دده په مرګ والدین صبر وکړي نو داسې والدینو ته به الله ﷻ ډیر زیات اجر وثواب ورکوي او د والدینو د پاره به یې سفارش کوونکې جوړوي.

## ۳. د جنت مستحق کیدل

سردارِ دوجهان محمّدٌ رَسولُ الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

**یَقُوْلُ اللهُ تَعَالَی: مَا لِعَبْدِي الْمُؤمِنِ عِنْدِي جَزَاء إِذَا قَبَضْتُ صَفِيَّهُ مِنْ أَهْلِ الدُّنْيَا ثُمَّ إِحْتَسَبَهُ إِلَّا الْجَنَّةَ.** (۱)

الله تعالی فرمایي: کله چې زه د یو مومن بنده نه دده محبوب او د خوښې کس د اهلِ دُنیا نه واخلم ( لکه اولاد، مور پلار، یا د دوی نه علاوه بل نزدې خپلوان ) بیا دې د ثواب طلبګار وي (او صبر وکړي) نو د ماسره ددې بنده د پاره ددې په بدله کې صرف جنت دی (چې ده ته به په دې صبر باندې جنت ورکوم).

## ٤. د ثواب حاصلیدل:

### د حضرت داؤد علیه السلام بچې وفات کیدل

کتابونه لیکي: کله چې د حضرت داؤد علیه السلام ځوي وفات شو، نو دې ورباندې سخت خفه و، الله تعالی ورته وحي راولیږله چې: اې داؤد! ستا په نزد دا بچې د څه شي برابر وُ؟

(۱) اخرجه البخاري (۸/ ۱۱۲)، نزهة الناظرین ص ۵۳۸، ریاض الصالحین کتاب الصبر حدیث ۳۱، مشکوة باب البکاء علی المیت الفصل الاول حدیث ۱۱.

ده ورته وويل : اې ربه ! چې دا زمکه د آسمانه پورې مکمل د سرو زرو نه ډکه شي نو زما بچې ددې برابرو . الله‌تعالی ورته وفرمایل : د قیامت په ورځ به ستا د پاره د ماسره دومره ثواب وي لکه دا زمکه چې د آسمانه پورې د ثواب نه ډکه کړې شي . (۱)

# مرګ د آخرت لاره ده

## د حضرت سلیمان عليه السلام بچې وفات کېدل

حضرت ابودرداء رضي الله عنه فرمايي :

مَاتَ وَلَدٌ لِسُلَيْمَانَ عَلَيْهِ السَّلَامُ فَحَزِنَ عَلَيْهِ حُزْنًا شَدِيْدًا فَأَتَاهُ مَلَكَانِ . فَجَلَسَا بَيْنَ يَدَيْهِ فِيْ زِيِّ خُصُوْمٍ . فَقَالَ أَحَدُهُمَا : إِنِّيْ بَذَرْتُ بَذْرًا فَمَرَّ بِهِ هٰذَا . فَأَفْسَدَهُ . فَسَأَلَهُ سُلَيْمَانُ عَنْ ذٰلِكَ فَقَالَ : إِنَّهُ بَذَرَهُ عَلَى الطَّرِيْقِ وَلَابُدَّ مِنَ السُّلُوْكِ . فَقَالَ لَهُ : كَيْفَ بَذَرْتَ عَلَى الطَّرِيْقِ وَقَدْ عَلِمْتَ أَنَّهُ لَابُدَّ لِلنَّاسِ مِنْ طَرِيْقٍ ؟ فَقَالَ : يَا نَبِيَّ اللهِ ! كَيْفَ تَحْزَنُ عَلَى وَلَدِكَ أَمَا عَلِمْتَ أَنَّ الْمَوْتَ طَرِيْقٌ إِلَى الْآخِرَةِ ؟ (۲)

د حضرت سلیمان علیه السلام ځوي وفات شو چې ددې په وجه دې سخت غمجن شو ، نو ده ته دوه (۲) فرښتې په انساني شکل کې راغلې ، او دده د وړاندې د جګړه مار ( مُدَّعِيْ او مُدَّعیٰ عَلَیْه ) په شکل کې کیناستې ( یعنی ده ته یې خپله فیصله راوړه ) .

یو وویل ما فصل کرلې و ، تر اوسه مې کټ کړی نه و چې دا په لاره تیریدو ، او ټول فصل یې برباد کړو . حضرت سلیمان عليه السلام ددې دویم نه پوښتنه وکړه چې : تا ولې دده فصل برباد تیریږي ( نوځکه فصل برباد شو ) . کړو ؟ هغه وویل : ده چونکه په لاره کې فصل کرلې و او په لاره باندې خو خامخا خلق

(۱) مَاتَ وَلَدٌ لِدَاوُدَ عَلَيْهِ السَّلَامُ فَحَزِنَ عَلَيْهِ حُزْنًا شَدِيْدًا فَأَوْحَى اللهُ إِلَيْهِ : مَاكَانَ يَعْدِلُ هٰذَا الْوَلَدُ عِنْدَكَ؟ قَالَ : يَا رَبِّ ! كَانَ يَعْدِلُ عِنْدِيْ مِلْءَ الْأَرْضِ ذَهَبًا . قَالَ : لَكَ عِنْدِيْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مِلْءُ الْأَرْضِ ثَوَابًا . نزهة المجالس ج۱ ص ۹۵ باب ذکر الموت والامل والصبر .

(۲) نزهة المجالس ج۱ ص ۹۷ باب ذکر الموت والامل والصبر .

حضرت سليمان عليه السلام دې اول كس ته وويل : تا ولې په لاره باندې فصل كرلو حالانكه تاته ښه معلومه ده چې خلق خامخا په لاره تيريږي ؟ هغه ورته وويل :

اې د الله ﷻ پيغمبره ! بيا ته ولې په خپل بچي دومره خفه يې ؟ آيا تاته دا پته نشته چې مرګ د آخرت لاره ده ؟ ( هر سړى به خامخا په دې لاره باندې ځي او وفات كيږي به ) .

په رواياتو كې راځي چې حضرت سليمان عليه السلام د دې نه پس په خپل بچي پريشاني ښكاره نه كړه .

## حضرت معاذ بن جبل رضي الله عنه ته د ځوي په وفات كيدو د نبي عليه السلام خط

حضرت معاذ عليه السلام وايي : كله چې زما ځوي وفات شو نو رسول الله ﷺ ماته ( د تعزيت د پاره ) خط راوليږلو چې په هغې كې دا ليكلي وو :

دا خط د محمد صلى الله عليه وسلم د طرفه دى حضرت معاذ بن جبل رضي الله عنه ته

السلام عليكم ورحمة الله .

زه د هغه الله ﷻ حمد بيانوم د كوم نه بغير چې بل څوک معبود نشته ، د دې نه پس الله تعالى دې ستا اجر ډير زيات كړي ، او تاته دې د صبر توفيق دركړي ، او مونږ او تاسو ته دې د شكر توفيق راكړي . د دې نه پس دا چې زمونږ مال ، اولاد ، د كور خلق او د هغوى مال وغيره داټول هر څه د الله تعالى بهترينې عطيې دي ، او دا د مونږ سره د الله تعالى اَمانت دي، چې مونږ ورنه د يو محدوده وخته پورې نفعه او فايده اخلو ، او په خپل مقرر وخت باندې به هغه خپل اَمانت واپس اخلي ، بيا به د دې په عوض كې هغه اجر راكوي چې په مونږ باندې د هغې شكريه كول لازم دي ، او كه څه مصيبت راشي نو په مونږ باندې صبر كول فرض دي . او ستا ځوي هم د الله ﷻ د عطيو نه يوه عطيه وه ، د هغې نه يې د نفع اوچتولو يوه موقع دركړه ، او بيا يې د ډير لوي آجر په بدله كې درنه واخيست خو په دې شرط چې ته پرې صبر وكړې او د ثواب اميد وساتې .

لهذا اې معاذ ! په تا باندې هيڅ كله دا سې وخت را تلل نه دي په كار چې ستا جزعه فزعه او واويلا ستا اجر ختم كړي، او ته بيا په دې خپلې كوتاهۍ باندې پښيمانه كوونكې شې .

(اې معاذ !) که ته د خپل مصيبت ثواب ووينې نو يقين به وکړې چې ستا مصيبت د دې ثواب په نسبت ډېر کم دی، او ته يقين وکړه چې جزعه فزعه نه خو مړی واپس راګرځوندې کوي او نه غم ختموي ... والسلام. (۱)

# د چا چې درې (۳)، يا دوه (۲) بچي وفات شوي وي د هغوی د پاره بشارت

۱. د بخاري او مسلم شريف حديث دی، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَمُوْتُ لَهُ ثَلَاثَةٌ لَمْ يَبْلُغُوا الْحِنْثَ إِلَّا أَدْخَلَهُ اللهُ الْجَنَّةَ بِفَضْلِ رَحْمَتِهِ إِيَّاهُمْ. (۲)

د کوم مسلمان چې درې (۳) بچي د بلوغ نه مخکې وفات شي نو الله ﷻ به يې په خپل فضل و کرم سره د خپلو بچو سره جنت ته داخل کړي.

۲. حضرت ابوسعيد رضي الله عنه وايي: چې يوه ښځه د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضره شوه او عرض يې وکړو: اې د الله ﷻ رسوله! سړو خو ستاسو د مقدّسو اِرشاداتو نه اِستفاده وکړه نو تاسو زمونږ د پاره هم يوه ورځ مقرر کړئ چې په هغه ورځ مونږ ستاسو خدمت ته حاضرې شو او تاسو مونږ ته هغه خبرې وښايئ کومې چې تاسو ته الله ﷻ خودلي

(۱) تنزيه الشريعة ، كَتَبَ النَّبِيُّ ﷺ إِلَى مَعَاذٍ رضي الله عنه لَمَّا مَاتَ وَلَدُهُ: سَلَامٌ عَلَيْكَ فَإِنِّي أَحْمَدُ اللهَ الَّذِي لَا إِلٰهَ إِلَّا هُوَ. أَمَّا بَعْدُ . فَأَعْظَمَ اللهُ لَكَ الْأَجْرَ وَأَلْهَمَكَ الصَّبْرَ وَرَزَقَنَا وَإِيَّاكَ الشُّكْرَ . ثُمَّ إِنَّ أَنْفُسَنَا وَأَمْوَالَنَا وَأَهْلِيْنَا وَأَوْلَادَنَا مِنْ مَوَاهِبِ اللهِ الْمُسْتَوْدَعَةِ وَعَوَارِيْهِ الْمُستردةِ يُمَتِّعُ اللهُ بِهَا إِلَى أَجَلٍ مَعْدُوْدَةٍ وَيَقْبِضُهَا لِوَقْتٍ مَعْلُوْمٍ ثُمَّ افْتَرَضَ عَلَيْنَا الشُّكْرَ إِذَا أعطي وَالصَّبْرَ إِذَا ابْتلى وَكَانَ اِبْنُكَ هٰذَا مِنْ مَوَاهِبِ اللهِ تَعَالَى الْمُسْتَوْدَعَةِ وَعَوَارِيْهِ المستردةِ مَتَّعَكَ اللهُ بِهِ فِيْ غبطةٍ وَسُرُوْرٍ وَقَبَضَهُ بِأَجْرٍ كَثِيْرٍ إِنْ صَبَرْتَ وَاحْتَسَبْتَ . نزهة المجالس ج۱ ص ۹۶ فصل فى الصبر .

(۲) رواه البخاري فى الادب المفرد ۱۵۰ وفى التاريخ الكبير ۶۰ / ۴۲۱ ، والمنذري فى الترغيب ۳ / ۷۳ ، والنسائي ۴ / ۲۳ ، مشكوة باب البكاء على الميت الفصل الثالث ، رياض الصالحين باب فضل من مات له اولاد صغار حديث ۹۵۰ .

د ابن ماجه په حديث کې ورسره دا اضافه هم شته: إِلَّا تَلَقَّوْهُ مِنْ أَبْوَابِ الْجَنَّةِ الثَّمَانِيَةِ مِنْ أَيِّهَا شَاءَ دَخَلَ . رواه ابن ماجه الحديث ۱۶۰۳ ، واحمد ۲ / ۳۷۷ ، والهندي فى الكنز ۶۵۶۰ ، وابن حنيفه في جامع مسانيده ۱ / ۱۸۰ ، المتجر الرابح في ثواب العمل الصالح ص ۱۲۱ .

دي ، پيغمبر عليه السلام ورته وفرمايل : ښه ده ، تاسو په فلاني ورځ ، فلاني وخت اوفلاني ځای کې جمعه شئ .

کله چې دا ښځې راجمعه شوی نو رسول الله ﷺ دوی ته تشريف راوړو او هغه خبرې يې ورته اوخودی کومې چې ورته الله ﷻ خودلې وی ، بيا نبي ﷺ ورته وفرمايل :

مَا مِنْكُنَّ اِمْرَاَةٌ تُقَدِّمُ بَيْنَ يَدَيْهَا مِنْ وَلَدِهَا ثَلَاثَةٌ اِلَّا كَانَ لَهَا حِجَابًا مِنَ النَّارِ .

په تاسو کې چې چا هم د خپل اولاد نه درې ( ۳ ) بچي ( هلکان يا جينکۍ ) د ځان نه مخکې ليږلي وي ( يعنی وفات شوي وي ) نو دغه بچي به د دې د پاره د جهنم د اُور نه پَرده جوړه شي ( او دوزخ ته به يې نه پريږدي ) .

په دې ښځو کې يوې ښځې دا خبره وکړه :

يَارَسُوْلَ اللهِ ! اَوِ اثْنَيْنِ ؟

د کومې ښځې چې دوه بچي مړه شوي وي ( نو آيا د هغې د پاره هم همدا بشارت دی ؟ )

نبي عليه السلام ورته وفرمايل :

وَاثْنَيْنِ ، وَاثْنَيْنِ ، وَاثْنَيْنِ .

( هو ) که د چا دوه بچي مړه شوي وي د هغوی د پاره هم همدا بشارت دی . (۱)

---

(۱) مشكوة باب البكاء على الميت الفصل الثالث حديث ۳۲ . د بخاري او مسلم شريف حديث دی : عَنْ اَبِيْ سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ ؓ قَالَ : جَاءَتْ اِمْرَاَةٌ اِلَى النَّبِيِّ ﷺ فَقَالَتْ : يَارَسُوْلَ اللهِ ! ذَهَبَ الرِّجَالُ بِحَدِيْثِكَ فَاجْعَلْ لَنَا مِنْ نَفْسِكَ يَوْمًا نَاْتِيْكَ فِيْهِ تُعَلِّمُنَا ( مِمَّا ) عَلَّمَكَ اللهُ ، قَالَ : اِجْتَمِعْنَ فِيْ يَوْمِ كَذَا وَكَذَا فِيْ مَوْضِعِ كَذَا وَكَذَا . فَاجْتَمَعْنَ فَاَتَاهُنَّ النَّبِيُّ ﷺ فَعَلَّمَهُنَّ مِمَّا عَلَّمَهُ اللهُ . ثُمَّ قَالَ : مَا مِنْكُنَّ مِنْ اِمْرَاَةٍ تُقَدِّمُ ثَلَاثَةً مِنَ الْوَلَدِ اِلَّا كَانُوْا لَهَا حِجَابًا مِنَ النَّارِ . فَقَالَتِ امْرَاَةٌ : وَاثْنَيْنِ . فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : وَاثْنَيْنِ . رواه البخاري ۱/۳۶ ، ۹/۱۲۳ ، ومسلم في البر والصلة ۱۵۲ ، ۱۵۳ . د مسلم شريف روايت دی : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ لِنِسْوَةٍ مِنَ الْاَنْصَارِ : لَا يَمُوْتُ لِاِحْدَاكُنَّ ثَلَاثَةٌ مِنَ الْوَلَدِ فَتَحْتَسِبُهُ اِلَّا دَخَلَتِ الْجَنَّةَ . فَقَالَتِ امْرَاَةٌ مِنْهُنَّ : اَوِ اثْنَانِ يَا رَسُوْلَ اللهِ ؟ قَالَ : اَوِاثْنَانِ . رواه مسلم ، مشكوة باب البكاء على الميت الفصل الاول حديث ۹ .

په یو روایت کې داسې الفاظ دي: نبي علیه السلام فرمایي:

لَا يَمُوتُ لِأَحَدٍ مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ ثَلَاثَةٌ مِنَ الْوَلَدِ فَتَمَسَّهُ النَّارُ إِلَّا تَحِلَّةَ الْقَسَمِ.(۱)

د کوم مسلمان چې درې (۳) بچي وفات شي هغه به دوزخ ته نه داخلیږي مگر: قسم پوره کولو دپاره.

**فایده**: په " إِلَّا تَحِلَّةَ الْقَسَمِ " کې د الله تعالی دې قول ته اشاره ده چې:

﴿ وَإِن مِّنكُمْ إِلَّا وَارِدُهَا ﴾.(۲) ترجمه: قسم په الله، په تاسو کې داسې هیڅوک نشته چې په دې جهنم به نه تیریږي.

بلکه هر کس به په پُلِ صراط باندې تیریږي اگر که د بجلۍ د برق په شان وي. ځکه پُلِ صراط د جهنم د پاسه ایخودل شوی او په دې باندې به هر سړی تیریږي که هغه مومن وي او که کافر، که نیک وي او که بَد. خو کافر او بد کار به جهنم ته لاندې وغورځیږي او نیک عمله مسلمان به د بجلۍ د برق په شان پرې تیرشي، هیڅ تکلیف به ورته او نه رسي.

نو چې د چادرې (۳) بچي وفات شي او دې پرې صبر وکړي نو هغه به جهنم ته نه داخلیږي بلکه صرف د قسم پوره کولو دپاره به په پُلِ صراط باندې تیریږي.(۳)

## د چا چې یو بچی وفات شوی وي د هغوی دپاره د جنت بشارت

۱. د مشکوة شریف حدیث دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

مَا مِنْ مُسْلِمَيْنِ يُتَوَفَّىٰ لَهُمَا ثَلَاثَةٌ إِلَّا أَدْخَلَهُمَا اللّٰهُ الْجَنَّةَ بِفَضْلِ رَحْمَتِهِ إِيَّاهُمَا.

د کومو دوه و مسلمانانو (یعنی مور او پلار) چې درې (۳) بچي مړه شي نو الله تعالی به په خپل فضل او رحمت سره دغه دواړه مور او پلار جنت ته داخل کړي.

---

(۱) رواه البخاري ۱۶۸/۸، ومسلم في البر والصلة، والترمذي الحديث ۱۰۶۰، والنسائي ۲۵/۴، وابن ماجه ۱۶۰۳.
وَتَحِلَّةَ الْقَسَمِ قول الله تعالی ﴿ وَإِن مِّنكُمْ إِلَّا وَارِدُهَا. سورة مريم آيت ۷۱ ﴾ وَالْوُرُوْدُ هُوَ الْعُبُوْرُ عَلَى الصِّرَاطِ.
رياض الصالحين باب فضل من مات له اولاد صغار.

(۲) سورة مريم آيت ۷۱.

(۳) مظاهر حق شرح مشكوة ج۳ باب البكاء على الميت الفصل الاول حديث ۸.

صحابه كرامو عرض وكړو : يَارَسُوْلَ اللهِ ! أَوِ اثْنَانِ ؟ اې د الله ﷻ رسوله ! كه د چا دوه (۲) بچي مړه شوي وي (نو آيا د هغوی د پاره هم همدا بشارت دی ؟ )

نبي عليه السلام ورته وفرمايل : أَوِاثْنَانِ . هو ، كه دچا دوه (۲) بچي مړه شوي وي نو دهغوی د پاره هم همدا بشارت دی .

صحابه كرامو بيا پوښتنه وكړه : أَوْ وَاحِدٌ ؟ كه د چا يو بچی مړ شوې وي (نو آيا د هغه د پاره هم همدا بشارت دی ؟ )

پيغمبر ﷺ ورته وفرمايل : أَوْ وَاحِدٌ . آو ، كه د چا يو بچی مړ شوې وي نو د هغوی د پاره هم همدا بشارت دی (چې الله ﷻ به دغه مور او پلار جنت ته داخلوي ) .

بيا نبي ﷺ ورته وفرمايل : وَالَّذِيْ نَفْسِيْ بِيَدِهِ إِنَّ السِّقْطَ لَيَجُرُّ أُمَّهُ بِسَرَرِهِ إِلَى الْجَنَّةِ إِذَا احْتَسَبَتْهُ . (۱)

قسَم په هغه ذات د چا په قبضه كې چې زما ساه ده بيشكه نيمګړی (ناتمام) بچی به هم خپله مور (او خپل پلار) د نامه په ذريعه جنت ته راكاږي خو په دې شرط چې دا مور او پلار صبر وكړي او دده په مرګ د ثواب اميد وساتي .

۲. د ترمذي شريف حديث دی ، رسول الله ﷺ فرمايي :

مَنْ كَانَ لَهُ فَرَطَانِ مِنْ أُمَّتِيْ أَدْخَلَهُ اللهُ بِهِمَا الْجَنَّةَ .

زما په امت كې چې د چا دوه (۲) نابالغه بچي وفات شي (او دې پرې صبر وكړي) نو الله تعالى به د دغه دوه بچو په ذريعه دې جنت ته داخل كړي .

(دې اوريدو سره) حضرت عائشې رضي الله عنها وويل :

فَمَنْ كَانَ لَهُ فَرَطٌ مِنْ أُمَّتِكَ ؟ ستا په امت كې كه د چا يو نابالغه بچی وفات شوې وي (نو آيا د هغه دپاره هم همدا بشارت دی ؟ )

---

(۱) رواه احمد ۵/ ۱۵۹ ، ۲۲۱ ، والسيوطي في الدّر المنثور ۱/۱۵۸ ، وابن ماجه الحديث ۱۶۰۹ ، المتجر الرابح في ثواب العمل الصالح ص ۱۲۳ ، مشكوة باب البكاء على الميت . الفصل الثالث حديث ۳۳ .

رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: وَمَنْ كَانَ لَهُ فَرَطٌ يَا مُوَفَّقَةُ.

اې مُوَفّقې! (يعنى چاته چې د الله ﷻ د طرفه د خير او ښو خبرو پوښتنې کولو توفيق ورکړې شوې دی) د چا چې يو بچې وفات شوې وي د هغه دپاره هم همدا بشارت دی.

حضرت عائشې رضي الله عنها پوښتنه وکړه: فَمَنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ فَرَطٌ مِنْ أُمَّتِكَ؟

که ستاسو په امت کې د چا يو بچې هم نه وي وفات شوی؟ (نو د هغه د پاره څه بشارت دی؟)

نبي کريم صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل:

فَأَنَا فَرَطُ أُمَّتِي لَنْ يُصَابُوا بِمِثْلِي. (۱)

بيا به زه د خپل امت د پاره شفاعت کوونکې او جنت ته داخلوونکې يم، ځکه زما د وفات د مصيبت په شان بل لوي مصيبت سره به دوی نه وي مخامخ شوي.

يعنى زما د امت د هر فرد دپاره زما وفات کيدل لوي مصيبت او لويه حادثه ده، که هغه حقيقتًا وي او که حکمًا. نو د دې مصيبت په وجه به الله ﷻ دوی ته لوي اجر هم ورکوي، نو زه به د دوی سفارش کوم. (۲)

# صبر د ام سُليم رضي الله عنها غوندې په کار دی

په بخاري او مسلم شريف کې د حضرت ابو طلحة رضى الله عنه د بي بي ام سُليم رضي الله عنها واقعه ذکر ده: چې د حضرت ابو طلحه رضي الله عنه ځوی و او بيمار و، دې په

---

(۱) رواه الترمذي الحديث ١٠٦٢، واحمد ١/٣٣٤، ٣٣٥، والبيهقي ٤/٦٨، المتجر الرابح في ثواب العمل الصالح ص ١٢٣، مشكوة باب البكاء على الميت الفصل الثاني حديث ١٤. "اَلْفَرَطُ" بالتحريك هو الذي يتقدّمُ القوم ليرتاد لهم الماءَ ويُهيّء لهم الدِّلاء والرشاءَ. والمرادُ به هنا اَلْوَلَدُ دون البلوغ يقدّمه المرءُ بين يديه ذكرًا كان او أنثى، وَجَمْعُهُ اَفْرَاطٌ. وقوله ﷺ "فَأَنَا فَرَطُ أُمَّتِي" أي أتقدمهم الى الحوض قبل ورودهم أُهَيِّءُ مصالحهم في دار القرار. والله اعلم. المتجر الرابح في ثواب العمل الصالح ص ١٢٣.

(۲) مظاهر حق شرح مشكوة باب البكاء على الميت الفصل الثاني حديث ١٤.

سفر باندې ووت ، کله چې د سفر نه راغې نو ځوي يې وليد ، بيا د ماسخوتن لمانځه له لاړ ، دلته د ده ځوي وفات شو ، بي بي يې نور کور واله ته وويل :

کله چې ابوطلحة رضي الله عنه راشي تاسو ده ته د ځوي په باره کې څه مه وايئ ، ترڅو چې ما ورته خبر نه وي ورکړي ( ځکه د سفر نه راغلې ، خفه به شي ، زه به ورته په مناسبه طريقې سره خبر ورکړم ) . ابوطلحه رضي الله عنه ناوخته کور ته راغی ځکه نبي ﷺ ته يې کارګزاري اوروله .

نو پوښتنه يې وکړه : مَافَعَلَ اِبْنِيْ ؟ زما ځوي څنګه دی ؟

بي بي ورته وويل : هُوَ اَسْكَنُ مَاكَانَ . هغه ډير په سکون او آرام کې دی .

( دا دروغ هم نه وو ځکه دې دا ماشوم لمبولې و ، او د لوپټه يې پرې اچولې وه ، نو ځکه يې ويل : هَذَا نَفْسُهُ وَاَظُنُّ اَنَّهُ قَدْ اِسْتَرَاحَ . اوس قلار دی ، او زه ګمان کوم چې آرام يې اوموندلو ) .

ده ته يې د ماسخوتن ډوډی ( روټۍ ) تياره کړه ، ده ډوډی اوخوړه ، بيا دې بي بي ځان هم ښائسته کړو ، خاوند د بشري تقاضا موافق ورنزدې هم شو (۱) کله چې شپه تيره شوه نو دې بي بي ورته وويل :

يَا اَبَا طَلْحَةَ اَرَاَيْتَ لَوْ اَنَّ قَوْمًا اَعَارُوْا عَارِيَتَهُمْ اَهْلَ بَيْتٍ فَطَلَبُوْا عَارِيَتَهُمْ اَلَهُمْ اَنْ يَمْنَعُوْهُمْ ؟

که يو قوم يو شی د يو کور واله سره عارية ( او امانة ) ايښې وي ، او اوس هغوی د خپل مُستَعار ( امانت ) شي د واپس اخيستلو مطالبه وکړي نو آيا ددې کور واله دپاره دا جائز دي چې دوی دغه شی ورنه منع کړي ؟

حضرت ابوطلحة رضي الله عنه ورته وويل : لَا . نه ( دا جائز نه دي ، بلکه هغوی ته به خپل شی سپاري ) نو دې بي بي ورته وويل :

فَاحْتَسِبْ اِبْنَکَ . ته د خپل ځوي په مرګ صبر کوه او د الله جل جلاله نه د ثواب اميد ساته ( ځکه چې د الله تعالی امانت هغه ته واپس ورسيده او هغه وفات شوی )

---

(۱) ثُمَّ تَصَنَّعَتْ لَهُ اَحْسَنَ مَاكَانَتْ تَصَنَّعُ قَبْلَ ذٰلِکَ . فَوَقَعَ بِهَا . احياء العلوم ج۴ ص ۹۷ کې پوره تفصيل موجود دی .

حضرت ابوطلحة ﷺ ورته غصه شو او ورته وې ويل : تا به ماته مخکې خبر راکړی وی.
کله چې سهر شو نو حضرت ابوطلحه رضي الله عنه نبي عليه السلام ته ورغی او هغه ته يې ددې خبر ورکړو . (چې ماشوم وفات شوې و، او زه بي بي نه ووم خبر کړی) نبي عليه السلام ورته پوښتنه وکړه : هَلْ قَارَبْتُمُ اللَّيْلَ ؟ بيګاه شپه سره نزدې شوي وئ ؟ ده ورته وويل : آو ،(کله چې هغوی ﷺ ددې بي بي صبر وتحمل ته وکتل) نو نبي کريم ﷺ ورته دُعا وکړه : بَارَكَ اللهُ فِي لَيْلَتِكُمَا. الله تعالى دې ستاسو په دې شپه کې برکت واچوي.
کله چې د دوی بل ځوي اوشو نو رسول الله ﷺ د هغې نوم عبدالله کيښود .(۱)
د بخاري شريف روايت دی ، ابن عيينه وايي (چې د نبي عليه السلام د دعاګ داسې برکت و) چې د انصارو يوکس وايي :
فَرَأَيْتُ تِسْعَةَ أَوْلَادٍ كُلُّهُمْ قَدْ قَرَؤُوا الْقُرْآنَ .
ما دعبدالله (د کوم باره کې چې نبي عليه السلام د برکت دُعا کړی وه) نهه (۹) بچي وليده چې ټول د قرآن مجيد قاريان وو .(۲)

**فايده** : دا دصبر برکت و چې دې بي بي د صبر نه کار واخيست ، بيا ورته نبي عليه السلام د برکت دُعا وکړه ، نو ددې په عوض کې الله تعالى داسې ځوي (عبدالله) ورکړو چې د هغه نهه (۹) بچي وو او ټول د قرآن کريم قاريان وو .

## د صبر نه روستو فراخي راځي

کله چې په يو انسان باندې څه تکليفونه ، غمونه ، مشکلات او مصيبتونه راشي او دې په دې باندې صبر وکړي نو الله ﷻ په داسې کس باندې بيا آساني هم راولي ، د پښتو متل دی : '' د صبر ميوه خوږه وي '' او '' د صبر سره فراخي راځي ''.

(۱) متفق عليه ، رياض الصالحين کتاب الصبر حديث ۴۳ ، احياء العلوم ج۴ ص ۹۷ . و خطبات حضرت شيخ (حسن جان شهيد رحمه الله) ص ۵۳ .
(۲) متفق عليه ، رياض الصالحين کتاب الصبر حديث ۴۳ ، احياء العلوم ج۴ ص ۹۷ .

يو شاعر وايي :

إِذَا اشْتَدَّتْ بِكَ الْبَلْوَىٰ فَفَكِّرْ فِيْ أَلَمْ نَشْرَحْ * فَعُسْرٌ بَيْنَ يُسْرَيْنِ إِذَا فَكَّرْتَهُ فَافْرَحْ

کله چې په تا باندې مصيبتونه سخت او زيات شي نو په سورة إنشراح کې فکر وکړه، ځکه په دې کې يوه تنګي د دوه آسانيو په مينځ کې راغلې (۱) (نو ديوې سختۍ سره دوه آساني راځي) کله چې ته په دې کې فکر وکړې نو بيا خوشحاله شه (يعنی چې کله دا درته معلومه شي چې د يوې سختۍ سره دوه خوشحالي راځي نو ته به خوشحاله او تازه شې).

دغه وجه ده چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم او صحابه کرامو ډيرې سختۍ برداشت کړي: کله د کافرانو د لاسه تکليفونه برداشت کول، کله فقرو فاقه برداشت کول، تردې چې د ډيرې وګږې د وجې به يې په خيټو پورې کاڼي تړل، څو څو ورځې به د نبي کريم ﷺ او د صحابه کرامو په کورونو کې اُور بَل نه شو چې د خوراک پرې څه پَخ شوي وی، خو ليکن دوی په دې تکليفونو صبر وکړو نو الله ﷻ په دوی باندې فراخي راوسته.

## د مصيبت په وخت د ځان نه په غټ امتحان کې مبتلاء کس ته کتل په کار دي

کله چې په يو مسلمان باندې څه غم او امتحان راشي نو ده ته دا سوچ په کار دی چې که په ما باندې دا امتحان راغی نو هيڅ پرواه نه نشته ځکه په معاشره کې به داسې خلق هم موجود وي چې هغوی به ددې نه په غټ امتحان کې مبتلاء وي، ځکه امتحانات او مصيبتونه خو د يو بل نه ډير سخت راځي.

(۱) ځکه الله تعالى فرمايي: ﴿ فَإِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا ، إِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا . سورة الشرح آيت ۵، ۶ ﴾ او دا قاعده: اَلنَّكِرَةُ إِذَا أُعِيْدَتْ نَكِرَةً كَانَتِ الثَّانِيَةُ غَيْرَ الْأُوْلَىٰ ... وَالْمَعْرِفَةُ إِذَا أُعِيْدَتْ مَعْرِفَةً كَانَتِ الثَّانِيَةُ عَيْنَ الْأُوْلَىٰ ... مِثَالُ هَاتَيْنِ الْقَاعِدَتَيْنِ قَوْلُهُ تَعَالَىٰ ﴿ فَإِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا ، إِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا ﴾ فَإِنَّ الْعُسْرَ أُعِيْدَ مُعَرَّفًا فَيَكُوْنَ عَيْنَ الْأَوَّلِ ، وَالْيُسْرُ أُعِيْدَ مُنَكَّرًا فَيَكُوْنَ غَيْرَ الْأَوَّلِ . فَعُلِمَ أَنَّ مَعَ كُلِّ عُسْرٍ وَاحِدٍ يُسْرَيْنِ . وَهُوَ مَعْنَى قَوْلِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضی الله عنهما مَرْوِيًّا عَنِ النَّبِيِّ ﷺ لَنْ يَغْلِبَ عُسْرٌ يُسْرَيْنِ . نورالانوار بحث العام ... بيان ما وَرَدَ النكرةُ والمعرفةُ في مقامٍ واحد ...

نو په دې سوچ كولو سره به دې د الله جل جلاله په فيصله باندې راضي شي ، او د شكريه اداكولو توفيق به ورته نصيبه شي . دغه وجه ده چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

چې ( د دُنيا په اعتبار سره ) د ځان نه په كمې درجې خلقو باندې نظر ساته ( چې د شُكرېې عادت دې جوړ شي ) ، او د ځان نه اوچتو خلقو ته مه ګوره ، هسې نه چې په تا د الله جل جلاله كوم نعمتونه دي د هغې سپک والې اونه كړې . (۱)

نو كه په يو انسان باندې څه مصيبت او امتحان وي نو دا دې هغه خلقو ته وګوري چې په هغوى باندې دده نه ډير مصيبتونه او امتحانات دي نو ده ته به په دې خپل حالت او په دې تكليف باندې د صبر كولو توفيق حاصل شي .

## د شيخ سعدي رحمه الله واقعه

شيخ سعدي صاحب مشهور عالِم او اديب تير شوى ، په ده باندې داسې يو وخت راغى چې د ګرمۍ په موسم كې دده سره څپلۍ نه وى ، نو په زړه كې يې لږ شكايت پيدا شو چې : يا الله ! تا خو نافرمانو بندګانو له څومره نعمتونه وركړي ، او زه خو ستا عبادت ګزار بنده يم ليكن بيا هم د ما سره د پُخو كولو د پاره په دې سخته ګرمۍ كې څپلۍ هم نشته .

كله چې د ماسپخين لمانځه ته جُمات ته لاړ نو هلته يې په جُمات كې داسې يو ځوان وليد چې د هغه د سره خپې هم نه وى ، دې فوراً الله جل جلاله ته په سجده باندې پريوت ، او د الله تعالى شكريه يې ادا كړه : چې يا الله ! كه زما څپلۍ نشته نو كم از كم خپې خو مې شته ، او دې عاجز خو د سره خپې هم نشته .

لهذا دُنيوي اعتبار سره د ځان نه ښكته كس ته كتل په كار دي نو بيا به انسان ته په دې خپل حالت باندې د راضي كيدو او شكرېې اداكولو توفيق حاصليږي .

(۱) رواه ابن حبان في صحيحه في حديث طويل .

## د مصيبت برداشت كولو دپاره ضروري كارونه :

كه چيرته په يو انسان باندې څه غم او مصيبت راشي او دې په دې وخت كې دا يو څو كارونه عملي كړي اميد شته چې په ده باندې به دا غم سپك شي او صبر واستقامت به ورته نصيبه شي .

**۱ . دا امتحان په تقدير كې ليكل شوى و** : انسان دې دا سوچ وكړي چې دا امتحان او مصيبت چې په ما باندې راغى نو دا د ماسره په تقدير كې ليكلې شوى و ، په دې كې زما هيڅ اِختيار نشته ، بلكه دا به الله ﷻ ته منظوره وه ، نو په دې سره هم په ده باندې دا غم آسانيږي . الله رب العزت فرمايي :

﴿ مَا أَصَابَ مِن مُّصِيبَةٍ فِي الْأَرْضِ وَلَا فِي أَنفُسِكُمْ إِلَّا فِي كِتَابٍ مِّن قَبْلِ أَن نَّبْرَأَهَا إِنَّ ذَٰلِكَ عَلَى اللَّهِ يَسِيرٌ ، لِّكَيْلَا تَأْسَوْا عَلَىٰ مَا فَاتَكُمْ ...﴾ . (۱)

ترجمه : كوم مصيبت چې په زمكه يا ستاسو په ځانونو باندې راځي نو د پيدا كيدو نه مخكې دا مصيبت په يو كتاب كې ليكلې شوې وي ، بيشكه دا خبره په الله ﷻ باندې ډيره آسانه ده . ( دا خودَنه مو ځكه درته وكړه ) ددې د پاره چې د تاسو نه څه واخيستې شي په هغې خفه نه شئ . . .

د مسلم شريف حديث د ى :

وَإِنْ أَصَابَكَ شَيْءٌ فَلَا تَقُلْ : " لَوْ أَنِّي فَعَلْتُ كَانَ كَذَا " ، وَلَكِنْ قُلْ : " قَدَرُ اللَّهِ ، وَمَا شَاءَ فَعَلَ " . . . (۲)

كه تا ته څه تكليف اورسي نو داسې مه وايه : كه ما دا كار كړې وى نو دا تكليف به نه و رارسيدلى ، بلكه دا وايه : چې دا د الله ﷻ فيصله وه او څه چې الله ﷻ غوښته هغه يې وكړه او هغه واقع شو .

(۱) سورة الحديد آيت ۲۲ ، ۲۳ .

بل دا چې خوشحالي او مصيبتونه ټول د الله ﷻ د طرفه دي ، الله تعالی فرمايي :

﴿ مَا أَصَابَ مِن مُّصِيبَةٍ إِلَّا بِإِذْنِ اللَّهِ ﴾ . (۱)

ترجمه : هر مصيبت چې راځي نو دا د الله ﷻ د طرفه راځي .

نو کله چې هر مصيبت او امتحان د الله ﷻ د طرفه راځي او الله رب العزت خو حکيم ذات دی ، د هغه هر کار د حکمت نه خالي نه وي ، کيدې شي چې په دې امتحان کې دده خير وي . ځکه که دې صبر وکړي نو په هر مصيبت او امتحان سره يا خو د انسان ګناهونه معاف کيږي ، يا دده درجې اوچتيږي او د صبر ثواب ورته حاصليږي ، يا کله د انسان د تنبيه د پاره دا امتحان وربانديې راوستې شي .

او که دې صبر ونکړي نو بيا دا مصيبت دده د پاره د عذاب سبب شي .

۲. **د صبر فضايل رامخې ته کول** : انسان دې ځان ته د صبر فضايل رامخې ته کړي ، چې د مصيبت په وخت صبر کولو سره الله ﷻ انسان ته ډير اجرونه او ثوابونه ورکوي او الله ﷻ ورنه راضي کيږي . نو په دې سره هم په انسان باندې غم او تکليف آسانيږي .

## حضرت عبدالله ابن عباس رضی الله عنهما ته ديو باندېچي تسلي

کله چې د حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنهما پلار حضرت عباس بن عبد المطلب رضي الله عنه وفات شو نو يو باندېچي حضرت ابن عباس رضي الله عنهما ته د تعزيت د پاره راغی او ورته وې ويل :

۱. إِصْبِرْ نَكُنْ بِكَ صَابِرِيْنَ فَإِنَّمَا * صَبْرُ الرَّعِيَّةِ بَعْدَ صَبْرِ الرَّأْسِ

۲. خَيْرٌ مِّنَ الْعَبَّاسِ أَجْرُكَ بَعْدَهُ * وَاللَّهُ خَيْرٌ مِّنْكَ لِلْعَبَّاسِ (۲)

۱. ته صبر وکړه دده د پاره چې مونږ هم صبر وکړو ، ځکه د کشرانو صبر د مشر د صبر تابع وي .

---

(۱) سورة التغابن آيت ۱۱ .

(۲) په بعضې کتابونو کې دا دويم شعر داسې ذکر دی : أَجْرُ اللَّهِ خَيْرٌ لَّكَ مِنَ الْعَبَّاسِ * وَاللَّهُ خَيْرٌ مِّنْكَ لِلْعَبَّاسِ

۲. کوم اجر او ثواب چې تاته الله ﷻ د حضرت عباس رضي الله عنه د وصال په وجه درکوي دا تاته دحضرت عباس رضي الله عنه نه ډير غوره دی، او الله ﷻ د حضرت عباس رضي الله عنه د پاره د تانه ډير غوره دی.

(يعنی الله ﷻ ددې غم او صبر په وجه تاته هم بهترين اجر درکړو او هغه ته يې هم بهترين مقام ورکړو).

حضرت عبدالله ابن عباس رضی الله عنهما فرمايي چې ماته ددې بانديچي په دې خبرو باندې ډيره زياته تسلي حاصله شوه. (۱)

**۳. د ځان نه په غټ امتحان کښې گرفتار کس ته نظر کول:** د مصيبت په وخت دې انسان هغه خلقو ته نظر وکړي کوم چې دده نه په غټ امتحان او مصيبت کې گرفتار وي، نو په دې سره به هم دې په خپل حالت باندې راضي شي. (لکه دا خبره مخکې تيره شوه).

**۴. په بې صبرۍ سره مصيبت زياتيدل:** بې صبري کول او شکايتونه کول ځانله مستقل مصيبت دی، نو که انسان بې صبري کوي نو په دوچند مصيبتونو کې گرفتاريږي.

حضرت عبدالله بن مبارک رحمه الله وايي چې مصيبت يو وي خو چې کله انسان په دې باندې جَزعه، فزعه، شکايتونه او بې صبري وکړي نو دا ډبل مصيبتونه شي، يو اصل مصيبت، او دويم د بې صبرۍ په وجه د ثواب ختميدلو مصيبت.

او دا د اجر و ثواب ختميدو مصيبت د اصلِ مصيبت نه زيات سخت او نقصاني دی. (۲)

---

(۱) خطبات حکيم الامت ج۹ ص ۶۰. لَمَّا مَاتَ العبَّاسُ رضي الله عنه جَلَسَ وَلَدُهُ عَبْدُاللهِ رضي الله عنه لِلنَّاسِ يعزُونَهُ فَجَاءَ أَعْرَابِيٌّ فَوَضَعَ يَدَهُ فِي يَدِهٖ وَقَالَ: ۱. إِصْبِرْ نَكُنْ بِکَ صَابِرِيْنَ فَإِنَّمَا • صَبْرُ الرَّعِيَّةِ بَعْدَ صَبْرِ الرَّأْسِ .
۲. خَيْرٌ مِنَ العَبَّاسِ أَجْرُکَ بَعْدَهُ • وَاللهُ خَيْرٌ مِنْکَ لِلْعَبَّاس . نزهة المجالس ج۱ ص ۹۷ باب في ذکر الموت والامل.. خطبات حکيم الامت .

(۲) قَالَ ابْنُ الْمُبَارَک: اَلْمُصِيْبَةُ وَاحِدَةٌ فَإِذَا جَزَعَ صَاحِبُهَا تَکُوْنُ ثِنْتَيْنِ: أَحَدُهُمَا الْمُصِيْبَةُ، وَالثَّانِيَةُ ذِهَابُ أَجْرِ الْمُصِيْبَةِ وَهِيَ أَعْظَمُ مِنَ الْمُصِيْبَةِ. درة الناصحين ص ۲۳۷ بيان صبر ايوب عليه السلام.

# د يو بزرګ نا اَشنا صبر کول

د يو بزرګ په باره کې نقل دي چې ده خوراک کولو ، يو کس ورته راغی او ورته وې ويل: ستا ورور وفات شو . دې بزرګ د صبر او استقامت نه کار واخيست ، او ورته وې ويل: راځه کينه ډوډۍ اوخوره ، ماته د دې خبرې د مخکې نه پته وه .
هغه سړي ورته پوښتنه وکړه : چې د مانه مخکې خو تاته هيڅوک نه دې راغلی نو تاته څنګه پته وه ؟ ده ورته وويل : الله رب العزت فرمايي : ﴿كُلُّ نَفْسٍ ذَآئِقَةُ الْمَوْتِ﴾. (۱)
ترجمه : هر يو نفس څکونکې د مرګ دی . ( او خامخا به وفات کيږي ) .
نو چې کله هر يو کس وفات کيږي نو بيا جزعی فزعی او شکايتونو ته څه حاجت دی ؟

**۵ . هر مصيبت آخر هم ختميږي** : کله چې په يو انسان باندې څه مصيبت او غم راشي نو دا دې د ځان سره دا سوچ وکړي چې د دُنيا امتحانات او غمونه عارضي دي ، آخر هم ختميږي ، بلکه دا کس دې ځان ته مخکيني تيرشوي مصيبتونه او غمونه راياد کړي چې څنګه هغه ټول ختم شوي ، او اوس د هغې هيڅ اَثر پاتې نه دی نو دغه شان به دا مصيبت هم تير شي . اصل اعتبار آخري انجام ته دی ، نو که کوم انسان د خپل انجام په باره کې سوچ وکړي نو دا تکليفونه به ورته هيڅ هم معلوم نه شي :

**۶ . وطنِ اصلي يعنی آخرت ته نظر کول** : کله چې انسان خپل اصلي وطن او مقصودي ژوند آخرت ګڼي نو که بيا په ده باندې په دُنيا کې څه عارضي تکليفونه او غمونه راشي نو دې دا دير په خوشحالۍ برداشت کوي ځکه د ده نظر په آخرت او خپل مقصود باندې وي ، دا تکليفونه ورته هيڅ نه معلوميږي .

**مثال** : تاسو به کتلي وي چې کله يو سړی سفر کوي او يو منزلِ مقصود ته ځان رسوي نو په دې لاره کې په ده باندې مختلف قسمه تکليفونه راځي :
کله د خوراک تکليف وي ، کله د ناستې تکليف وي ، کله د خلقو سختې خبرې برداشت کولو تکليف وي ، کله د شپې تيرولو تکليف وي بلکه اکثر د سرائې په کټونو کې ګونګک

(۱) آل عمران آيت ۱۸۵.

(كتهَل) هم وي، ددې نه علاوه نورې د طبعيت خلاف خبرې هم وي خو ليكن انسان دا ټول تكليفونه او مصيبتونه ډير په خوشحالئ برداشت كوي ځكه ده ته معلومه وي چې دا هر تكليف عارضي دى، او زه به خپل منزلِ مقصود ته ځان رسوم.

دغه شان د مسلمان منزلِ مقصود او اَصلي كور آخرت دى، د دُنيا ژوند او ددې تكليفونه خو عارضي او آخر ختميدونكي دي. نو چې كله مسلمان دا تصوّر كوي نو ده ته بيا دا تكليفونه او غمونه دومره مشكل نه معلوميږي، بلكه ډير په خوشحالئ يې برداشت كوي.

يو شاعر وايي:

۱. إِصْبِرْ بِكُلِّ مُصِيْبَةٍ وَتَجَلَّدِ • وَاعْلَمْ بِأَنَّ الْمَرْءَ غَيْرُ مُخَلَّدِ

۲. وَاصْبِرْ كَمَا صَبَرَ الْكِرَامُ فَإِنَّهَا • نُوَبٌ تَنُوْبُ الْيَوْمَ تَكْشِفُ فِيْ غَدٍ

۳. وَإِذَا أَتَتْكَ مُصِيْبَةٌ تَشْجَىٰ بِهَا • فَاصْبِرْ مُصَابَكَ بِالنَّبِيِّ مُحَمَّدٍ

۱. په هر مصيبت باندې صبر او تحمل كوه، او په دې باندې پوهه شه چې هيڅ يو انسان هم په دُنيا كې پاتې كيدونكې نه دى.

۲. ته داسې صبر كوه لكه څرنګ چې معززو او بزرګانو صبر كړى و، ځكه مصيبت داسې تكليف دى چې نن شته خو صبا به بيا دا تكليف نه وي (بلكه هر تكليف آخر ختميږي)

۳. كله چې تاته داسې مصيبت راشي چې ته په هغې باندې غمجن شې، نو په رسول الله ﷺ باندې راغلي تكليفونو باندې غور وكړه نو په دې سره به تاته هم د صبر توفيق حاصل شي. (ځكه چې كله په نبي ﷺ تكليفونه راغلي نو په مونږ باندې خو به خامخا راځي).

# د مصيبت په وخت چغې سورې او مخ وهل منع دي

محترمو ! د مصيبت په وخت چغې سورې وهل ، مخ وهل ، ويښتان شلول ، ګريوان شلول، يا د شريعت خلاف خبرې کول دا ټول منع دي او په احاديثو کې د داسې خلقو د پاره سخته سزا ذکر ده .

۱. د بخاري او مسلم شريف حديث دی ، نبي عليه السلام فرمايي :

لَيْسَ مِنَّا مَنْ ضَرَبَ الْخُدُوْدَ وَشَقَّ الْجُيُوْبَ وَدَعَا بِدَعْوَى الْجَاهِلِيَّةِ . (۱)

هغه کس زمونږ په لاره د تلونکو نه ندې څوک چې ( د مصيبت په وخت ) مخونه وهي ، ګريوانونه شلوي ، او د جاهليت د زمانې په شان آوازونه اُوچتوي (يعنی د ژړا په وخت د ژبې نه داسې الفاظ او آوازونه را اُوباسي کوم چې شرعًا منع دي لکه نَوحه ، يا واويلا کول) .

۲ . د مسلم شريف حديث دی : حضرت ابوبرده رضي الله عنه وايي چې يو کرت په حضرت ابوموسی اشعري رضي الله عنه باندې بيهوشي راغله ، نو د هغه ښځه ام عبدالله په چغو چغو په ژړا شوه ، کله چې ابوموسی اشعري رضي الله عنه په هوش کې راغی نو دې بي بي ته يې ووېل : آيا تا ته معلومه نه ده چې په چغو چغو ژړا څومره بده ده ؟ راوي وايي چې بيا ابو موسی اشعري رضي الله عنه دې بي بي ته دا حديث بيان کړو چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

أَنَا بَرِيْءٌ مِمَّنْ حَلَقَ وَصَلَقَ وَ خَرَقَ . (۲)

زه د هغه چا نه بيزاره يم چې د مصيبت په وخت د سَر ويښتان شلوي ، په چغو چغو ژاړي او خپلې جامې شلوي .

۳ . په يو حديث کې راځي ، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

(۱) متفق عليه ، مشکوة باب البکاء علی الميّت الفصل الاول حديث ۴ ، رياض الصالحين باب تحريم النياحة علی الميت ... حديث ۱۶۵۲ .

(۲) متفق عليه ، مشکوة باب البکاء علی الميّت الفصل الاول حديث ۵ .

اَلنَّائِحَةُ إِذَا لَمْ تَتُبْ قَبْلَ مَوْتِهَا تُقَامُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَعَلَيْهَا سِرْبَالٌ مِنْ قَطِرَانٍ وَ دِرْعٌ مِنْ جَرَبٍ.(۱)

نَوحه (وِير) كوونكې ښځه كه د مرګ نه مخكې ددې كار نه توبه او نه باسي نو هغه به د قيامت په ورځ په داسې حال كې ودرولې شي چې ددې په جسم باندې به د ګوګړو پرتوګ وي او د خارخ قميص به وي.

(يعنى د قيامت په ورځ به ددې په جسم باندې خارخ مسلّط كړې شي يا به د هغې په جسم باندې ګوګړ مږلې شي چې په دې خارخ كې سوزش پيدا شي او د ډير تكليف سبب وګرځي.(۲))

۴. د ابوداود شريف حديث دى، رسول الله ﷺ په نَوحه (وِير) كوونكو ښځو باندې لعنت ليږلې. حضرت ابوسعيد خدري رضي الله عنه وايي:

لَعَنَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلنَّائِحَةَ وَالْمُسْتَمِعَةَ.(۳)

پيغمبر عليه السلام لعنت ليږلې په هغه ښځه باندې چې په مړي ژاړي (چغې سورې وهي، او خپل ګريوانونه شلوي)، او چې څوك دا اَوري (او ورباندې راضي وي) نو په دې هم لعنت دى.

لهذا د مصيبت په وخت كې چغې سورې وهل، وير او واويلا كول، غړانګې راښكل، مخ وهل، مخ تورول، ګريوان شلول، ويښته شلول، د سَر نه پټكې يا ټوپۍ غورځول، ګيره ويستل، او د شريعت خلاف خبرې كول دا ټول منع دي ددې نه ځان ساتل په كار دې، بلكه صبر او تحمّل په كار دى، او الله جل جلاله ته متوجه كيدل په كار دي ځكه په بې صبرۍ سره انسان ته هيڅ په ګوتو نه ورځي.

---

(۱) رواه مسلم، مشكوة باب البكاء على الميّت الفصل الاول حديث ٦، رياض الصالحين باب تحريم النياحة على الميت... حديث ١٦٥٨.

(۲) مظاهر حق شرح مشكوة. نوټ: قَطِرَان: د تاركولو په شان د يوې دوايي نوم دى چې تور او بدبوداره وي.

(۳) رواه ابوداؤد كتاب الجنائز باب ٢٥. ورواه البزار والطبراني. الترغيب والترهيب ج۴ ص ١٨٥ الترهيب من النياحة على الميت، مشكوة باب البكاء على الميّت الفصل الثاني حديث ١١.

## واقعه

په مشکوة شريف کې يوه واقعه ذکر ده کومه چې امام بخاري رحمه الله هم ذکر کړې :

چې کله حسن بن حسن بن علي رضي الله عنه وفات شو نو دده بي بي د هغه په قبر باندې پوره يو کال خيمه لږولې وه (او په خپله به هم هلته وه) بيا يې چې کله يو کال پس دا خيمه لرې کړه نو يو هاتفي غيبي آوازيې واوريد : أَلَا هَلْ وَجَدُوْا مَا فَقَدُوْا ؟ آيا (په خيمه اودرولو سره) دوی وفات شوې کس بيا موندو ؟ دويم هاتفي غيبي آواز ددې جواب ورکړو :

بَلْ يَئِسُوْا فَانْقَلَبُوْا . بلکه نا اميده شو ، خيمه يې اوښکله ، او واپس لاړه .(۱)

## بغير د چغو او سُورو نه صرف اوښکې بهيدل خير دی

البته که ديو چا په وفات کيدو سره دې چغې او سورې نه وهي بلکه صرف د سترګو نه يې اوښکې ځي نو دا خير دی ، ځکه طبعي خفګان خو هر چاته وي ، وجه داده چې که طبعي خفګان هم پيدا نه شي نو دا خو بيا امتحان نه شو ، البته نقصاني شی عقلي خفګان دی چې د مصيبت په وخت چغې سُورې جوړې کړي ، مخ وهي ، ويښتان شکوي او د شريعت خلاف خبرې کوي .

## د ځوي په وفات کيدو د نبي ﷺ د سترګو مبارکو نه اوښکې تلل

د بخاري او مسلم شريف حديث دی : کله چې د نبي کريم ﷺ ځوي ابراهيم وفات کيده نو د پيغمبر عليه السلام د سترګو مبارکو نه اوښکې رواني شوی ، حضرت عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه ورته وفرمايل :

---

(۱) لَمَّا مَاتَ الْحَسَنُ بْنُ الْحَسَنِ بْنِ عَلِيٍّ رضي الله عنه ضَرَبَتْ امْرَأَتُهُ الْقُبَّةَ عَلَي قَبْرِهٖ سَنَةً ثُمَّ رُفِعَتْ . فَسَمِعَتْ صَائِحًا يَقُوْلُ : أَلَا هَلْ وَجَدُوْا مَا فَقَدُوْا ؟ فَأَجَابَهُ اٰخَرُ : بَلْ يَئِسُوْا فَانْقَلَبُوْا . بخاري ج۱ باب مايكره من اتخاذ المساجد على القبور باب ۸۴۴ ، مشكوة باب البكاء على الميت الفصل الثالث حديث ۲۷ ، احب ، علوم ج۴ ص ۶۲۷ .

**نوټ** : په ظاهره معلوميږي چې دغې بي بي د خپل خاوند په قبر باندې خيمه ددې دپاره لږولې وه چې ددې کس خپلوان او دوستان به د ايصال ثواب ، قرآن خواني او د مغفرت دُعا د پاره راتلل . مظاهر حق شرح مشكوة .

وَأَنْتَ يَا رَسُوْلَ اللهِ ؟ اې د الله ﷺ رسوله ! ( په داسې موقعو باندې ) تاسو هم ژاړئ ؟ (حالانکه ستاسو د عظمتِ شان او کمالِ معرفت نه دا خبره بعيده ده چې تاسو دې هم وژاړئ)

نبي عليه السلام ورته وفرمايل : إِنَّهَا رَحْمَةٌ . دا د اُوښکو بهيدل خو رحمت دی . دد ې نه پس بيا د نبي عليه السلام د سترګو مبارکو نه اُوښکې بهيدی نو پيغمبر عليه السلام وفرمايل :

إِنَّ الْعَيْنَ تَدْمَعُ ، وَالْقَلْبُ يَحْزَنُ ، وَلَانَقُوْلُ إِلَّا مَا يَرْضَىٰ رَبُّنَا ، وَإِنَّا بِفِرَاقِكَ يَا إِبْرَاهِيْمُ لَمَحْزُوْنُوْنَ . (۱)

سترګې اوښکې ، بهيوي او زړه غمجن دی ، خو دد ې باوجود مونږ به په ژبه صرف هغه څه وايو چې په هغې زمونږ رب راضي کيږي ، او اې ابراهيمه ! بيشکه مونږ ستا په جدايۍ سره خامخا غمجن يو .

## د نمسي په وفات کيدو سره د نبي عليه السلام د سترګو مبارکو نه اُوښکې تلل

د بخاري او مسلم شريف حديث دی ، کله چې د نبي اکرم ﷺ د لور حضرت زينب رضي الله عنها د بچي زنکدن و ، او دا ماشوم د پيغمبر عليه السلام سره په غيږ کې و نو د نبي عليه السلام د سترګو مبارکو نه اُوښکې روانې شوی ، حضرت سعد رضي الله عنه په دې موقع موجود و هغه پوښتنه وکړه :

يَارَسُوْلَ اللهِ ! مَا هٰذَا ؟ اې د الله ﷺ رسوله ! دا څه دی ؟

(د حضرت سعد رضي الله عنه دا ګمان و چې د غم په وخت هيڅ قسمه ژړا جائز نه ده او نبي عليه السلام کيدې شي سهوًا ژاړي نو ځکه يې پيغمبر عليه السلام ته خبر ورکړو چې تاسو ولې ژاړئ ؟ (۲) )

رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل :

هٰذِهٖ رَحْمَةٌ جَعَلَهَا اللهُ فِيْ قُلُوْبِ عِبَادِهٖ فَإِنَّمَا يَرْحَمُ اللهُ مِنْ عِبَادِهِ الرُّحَمَاءَ . (۳)

---

(۱) متفق عليه ، مشکوة باب البکاء على الميت الفصل الاول حديث ۱ .

(۲) مظاهر حق شرح مشکوة باب البکاء على الميت الفصل الاول حديث ۲ .

(۳) متفق عليه مشکوة باب البکاء على الميت الفصل الاول حديث ۲ .

دا خو يو رحمت دی چې الله تعالی د خپلو بندګانو په زړونو کې پيدا کړې دی (او واورئ) بيشکه الله تعالی په خپلو بندګانو کې صرف په هغه خلقو باندې رحم کوي څوک چې د رحم جذبه لري.

## د نوحه او چغو نه بغير ژړل هم منع نه دي

لهذا د مصيبت په وخت که زړه دردمند وي او اوښکې د سترګو نه بهيږي، يا بغير د چغو او سورو نه ژاړي نو دا ژړا څه منع نه ده، بلکه په شريعت کې د چغو سورو، وير کولو، مخ وهلو او ګريوان شلولو نه منع راغلې.

د مشکوة شريف حديث دی، حضرت ابو هريرة رضي الله عنه وايي: يو کرت د رسول الله صلى الله عليه وسلم په اولاد کې يو کس وفات شو (دا د حضرت زينب رضي الله عنها څوي و). نو ښځې راجمع شوی او په ده يې (بغير د چغو او سورو نه) ژړل، کله چې حضرت عمر رضي الله عنه دا وليدی نو دايې منع کړی او څنې يې رخصت کړی، نبي عليه السلام چې دا وليد نو حضرت عمر رضي الله عنه ته يې وفرمايل:

دَعْهُنَّ يَا عُمَرُ! فَإِنَّ الْعَيْنَ دَامِعَةٌ وَالْقَلْبُ مُصَابٌ وَالْعَهْدُ قَرِيْبٌ. (۱)

اې عمر! دوی په خپل حال پريږده څکه سترګې اوښکې بهيوي، زړه مصيبت زده دی، او د مرګ وخت قريب دی.

په يو روايت کې دا هم ذکر دي چې کله نبي عليه السلام حضرت عمر رضي الله عنه منع کړو نو بيا يې دې ښځو ته وفرمايل:

إِيَّاكُنَّ وَنَعِيْقَ الشَّيْطَانِ. ثُمَّ قَالَ: إِنَّهُ مَهْمَا كَانَ مِنَ الْعَيْنِ وَمِنَ الْقَلْبِ فَمِنَ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ وَمِنَ الرَّحْمَةِ. وَمَا كَانَ مِنَ الْيَدِ وَمِنَ اللِّسَانِ فَمِنَ الشَّيْطَانِ. (۲)

تاسو څان د شيطان د آواز نه لرې وساتئ (يعنی په چغو چغو او وير کولو سره مه ژاړئ) بيا يې وفرمايل:

څه چې د سترګو (يعنی اُوښکې) ، او زړه نه (يعنی غم او رنج) ظاهره شي نو داد الله ﷻ د طرفه دی او د رحمت سبب دی ، او څه چې د لاس او ژبې نه ظاهر شي (لکه ګريوان شلول ، مخ وهل او په چغو چغو ژړل) نو دا د شيطان د طرفه دي .

## خلاصه :

د غونډ تقرير خلاصه دا راووته چې دُنيا کې په انسان باندې خامخا امتحانات ، مشکلات ، مصيبتونه ، تکليفونه ، بيماری او غمونه راځي خو په دې ټولو حالاتو کې د صبر او تحمّل نه کار اخيستل په کار دي ، او په هر حال کې الله ﷻ طرف ته متوجه کيدل په کار دي . همدارنګې د مصيبت په وخت چغې سورې وهل ، مخ وهل ، ګريوان شلول او د شريعت نه خلاف خبرې کولو نه ځان ساتل په کار دي .

## دُعا :

الله تبارک وتعالی دې مونږ ټول د امتحاناتو ، آزمائشونو او مصيبتونو نه وساتي ، او که امتحانات راباندې راشي نو الله ﷻ دې مونږ ټولو ته پرې د صبر او اِستقامت توفيق راکړي ، او الله ﷻ دې مونږ ټولو ته په هره مرحله کې د نبي کريم صلی الله عليه وسلم په نقشِ قدم باندې د عمل کولو توفيق رانصيبه کړي .

آمِيْن يَارَبَّ الْعَالَمِيْن .

وَآخِرُ دَعْوَانَا أَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ

# د صبر متعلق نور بهترين واقعات:

د ''صبر فضيلت او اَهميت'' موضوع متعلق مې نور بهترين واقعات ذکر کړي چې په اوريدو سره يې انسان ته د تکليفونو او غمونو په وخت کې د صبر توفيق نصيبه کيږي، او د بې صبرۍ، مخ وهلو، ګريوان شلولو، شکوې، شکايتونو او د شريعت خلاف خبرو او کارونو نه د منع کيدو قوت ورته حاصليږي.

## په نيکانو تکليفونه ډير راځي خو په خوشحالۍ يې برداشت کوي

په نيکانو او معزّزو بندګانو باندې تکليفونه ډير راځي خو په خوشحالۍ يې برداشت کوي او د خپلو ګناهونو د مغفرت سبب يې ګڼي، ددې په باره کې درته د يو څو بزرګانو واقعات ذکر کوم:

**۱**. يو بزرګ په لاره روان و، په يوه کوڅه تيريده نو د بَره نه چا څه خاوره را اوغورځوله، هغه دده په سَر باندې راپريوته، حالانکه په ده باندې بيا هم د غم هيڅ آثار نه معلوميده، بلکه خوشحاله و، او وې ويل چې د خپلو ګناهونو په وجه د اُور مستحق وم خو د خاورې په ذريعه کفايت وشو، ځکه په هر تکليف سره ګناهونه معاف کيږي.

**۲**. د يو بزرګ کورته غله (ډاکوان) لاړه، او د کور ټول اَسباب يې ورنه وې وړو، کله چې ده ته خلقو خبر ورکړو نو دې بيا هم ښه مطمئن و، او وې ويل چې په دې هم د الله تعالى شکريه ده چې غله راغله او د کور اَسباب يې وې وړو، شيطان خو نه و چې ايمان يې وړې وى. نو فى الحال چې راسره ايمان او روغ صورت دى نو په دې هم د الله تعالى شکريه اداء کوم.(۱)

**۳**. د دمشق يو کس و، عبدويه نوم يې و، يو کرَت ده سفر کولو نو په دَشته کې يې يو کس وليده چې د جامو په ځاى يې بورۍ اغوستې وه، او د الله ﷻ حمد او شکريه يې اداء کوله، عبدويه وايي چې ماورنه پوښتنه وکړه؛

ته د کوم نعمت شکريه ادا کوی ؟ ځکه زه خو په تا باندې ظاهري هيڅ يو نعمت نه ګورم.
هغه راته وويل: الله تعالى ما ته هر قسمه نعمتونه راکړي، او واوره:
الله تعالى مسلمان پيدا کړی يم، د رسول الله صلى الله عليه وسلم په اُمت کې يې پيدا کړې يم، روغ صحت يې راکړی، په ژبه د الله ﷻ د ذکر کولو توفيق يې راکړی، د دې مردارې دُنيا نه يې لرې ساتلې يم، زما زړه يې د دُنيا د محبت نه خالي کړی، او په زړه کې مې د دې دُنيا هيڅ تمنّا نشته.

عبدويه چې دا خبرې واورېدې نو په ژړا شو، او خپل ټول مال يې د الله ﷻ په لاره کې خرچ کړو، او خپله د الله ﷻ په عبادت کې مشغوله شو. (۱)

**۴**. شيخ عبدالقادر جيلاني رحمه الله ته چا د چين نه د مخ کتلو د پاره ډيره قيمتي آئينه (شيشه) راوړه، ده خپل خادِم ته ورکړه او ورته وې ويل: کله چې يې درنه زه اوغواړم نو بيا يې ما ته راوړه، يوه ورځ دې خادم دا آئينه راوړه نو ناڅاپه دده د لاس نه وغورځيده او ماته شوه، د يَرې په حالت کې يې عبدالقادر جيلاني ته وويل:

از قضاء آئينه چيني شکست. د تقدير او قسمت خبره وه چې د چين واله آئينه ماته شوه.
په دې اوريدو سره په عبدالقادر جيلاني باندې د غم هيڅ آثار ښکاره نه شو او وې ويل:
خُوب شُد اَسباب خود بيني شکست. ښه اوشو چې په خپلو خوبيانو باندې د نظرکولو واله اَسباب مات شو.
نو عبدالقادر جيلاني رحمه الله دا خبره په خندا تيره کړه او په دې خادم باندې يې هيڅ غصه ونکړه. (۲)

**۵**. يو بزرګ ته چا ډيره قيمتي ملغلره راوړه، ده چې وکتله نو د الله ﷻ شکريه يې ادا کړه، څه وخت پس دا ملغلره ورکه شوه، ده ته يې چې اطلاع ورکړه نو ده بيا هم د الله تعالى شکريه ادا کړه. خادم ورنه پوښتنه وکړه:

---

(۱) نداے منبر ومحراب ج۱ ص ۲۷۷.
(۲) نداے منبر ومحراب ج۱ ص ۲۷۴.

جناب ! دا څه وجه ده چې ددې ملغلرې په راتلو دې هم شکريه ادا کړې وه ، او اوس دې ددې په ورکيدو هم شکريه ادا کړه ؟

ده ورته وويل : ما خو نه ددې ملغلرې په راتلو شکريه ادا کړې او نه مې ددې په ورکيدو د الله ﷻ شکريه ادا کړې ، بلکه شکريه مې په يو بل شي ادا کړې ، هغه دا چې کله ماته دا ملغلره راغله نو ما خپل زړه ته نظر وکړو چې آيا زما په زړه کې خو د غيرُالله نه علاوه د بل شي محبت نشته ؟ نو ما په زړه کې ددې ملغلرې سره ډيره مينه او نه ليده نو په دې مې د الله تعالى شکريه ادا کړه ، بيا چې کله دا ملغلره ورکه شوه نو زه بيا خپل زړه ته متوجه شوم چې په دې باندې خو څه غم او تکليف نشته ؟ نو محسوسه مې کړه چې هيڅ غم او تکليف راته نه و نو په دې باندې مې بيا د الله تعالى شکريه ادا کړه.

لهذا ما چې دا شکريه دواړه ځايه ادا کړې نو دا په دې باندې چې زما په زړه کې د الله ﷻ نه علاوه د بل دُنيوي شي محبت نه و . (۱)

## د يوې صحابيه رضي الله عنها واقعه

علماء کرامو د يوې صحابيه رضي الله عنها واقعه رانقل کړې چې کله ددې واده وشو نو ديته الله ﷻ ډير زيات حُسن و جمال ورکړې و ، او واده يې هم د داسې مالدار صحابي ﷺ سره وشو چې هغه ته الله ﷻ ډير مال و دولت ورکړې و ، او د آرام و راحت هر قسمه وسائل ورسره هم موجود وو ، د دواړو په خپل مينځ کې ډير محبت و ، په خوشحالۍ يې ژوند تيرولو ، دې بي بي به د خپل خاوند ښه خدمت کولو او خوشحاله به يې ساتلو .

يوه شپه يې دا خاوند تږې شو ، دې ته يې وويل چې اُوبه راوړه ، دا چې د اُوبو پسې لاړه او اُوبه يې راوړې نو خاوند يې اُوده شوې و ، دې د اُوبو پياله په لاس کې نيولې وه او سَر ته يې ولاړه وه ، د ډير انتظار نه روستو چې کله ددې صحابي ﷺ سترګې راوغړيدى نو وې کتل چې دا بي بي ورته ولاړه ده او اُوبه يې په لاس کې نيولي ، نو دې ډير خوشحاله شو ، اُوبه يې ورنه واخيستې ، او وې څکلې ، بيا يې دې بي بي ته وويل :

(۱) للدائے منبر ومحراب ج۱ ص ۲۷۴ .

زه د تا نه ډېر خوشحال يم ځکه تا په انتظار کولو سره ډېر تکليف برداشت کړو ، نن چې ته د مانه څه او غواړې زه به ستا حاجت او فرمايش پوره کوم ، دې بي بي ورته وويل :

آيا ته په خپله خبره کې صادِق يې چې زما خبره به منې ؟ ده ورته وويل : هو ، ستا ضرورت به خامخا پوره کوم . نو دې بي بي ورته وويل : چې کله ته زما خبره منې نو ماته طلاق راکړه .

کله چې دې صحابي دا خبره واوريده نو ډېر خفه شو چې دومره ښائسته ، ښکلي اخلاقو واله ، وفاداره او خدمت ګاره بي بي د طلاقو مطالبه کوي .

ده ورنه پوښتنه وکړه : بي بي ! ما تا ته څه تکليف درسولی ؟ آيا ته د مانه خفه يې ؟ آيا زه ستا خوښ نه يم ؟ دې ورته وويل : نه . تا هيڅ تکليف نه دې رارسولې ، او زما درسره محبت هم شته ځکه خو ستا خدمت کوم .

دې صحابي ورته وويل : چې بيا د طلاقو مطالبه ولې کوی ؟ دې ورته وويل : تا د ماسره وعده کړې وه چې ستا خبره به منم او ستا حاجت به پوره کوم ، نو زه د تا نه د طلاقو مطالبه کوم ، زما دا حاجت پوره کړه .

صحابي ﷺ حيران دی ، ورته وې ويل : صحيح ده ، کله چې سهر شي نو دواړه به د نبي کريم صلی الله عليه وسلم په خدمت کې حاضر شو د هغه نه به د دې مسئلې پوښتنه وکړو هغه به زمونږ فيصله وکړي .

بي بي ورته وويل : ډيره ښه ده . شپه يې تيره کړه ، کله چې سهر شو نو دا بي بي ورته وايي : راځه ، جَلتي وکړه چې د نبي کريم ﷺ خدمت ته حاضر شو ، کله چې دواړه ورروان شو ، په لاره کې د دې خاوند خپَه اُوخويده او لاندې راوغورځيد ، د جسم نه يې وينه روانه شوه ، بي بي يې په جلتۍ سره خپله لوپټه ( زړوکې ) څيرې کړه ، او د خاوند زخم يې ورباندې وتړل ، بيا يې ورته وويل : راځه خپل کور ته واپس ځو ، اوس درنه د طلاقو غوښتلو مطالبه نه کوم ، خاوند يې حيران شو او ورته وې ويل چې : زه خو په دې باندې پوهه نه شوم چې هلته دې د طلاقو مطالبه کوله او اوس وايي چې زه طلاق نه غواړم .

بي بي ورته وويل : چې کله کور ته لاړ شو نو بيا به درته د دې وجه بيان کړم .

کله چې کور ته راغله، خاوند ورنه پوښتنه وکړه چې تا د مانه د طلاقو مطالبه ولې کوله؟ دې ورته وويل: يو څو ورځې مخکې ما د تانه د رسول الله صلی الله عليه وسلم دا حديث مبارکه اوريدلې و چې:

د کوم کس سره الله رب العزت محبت کوي په هغه باندې تکليفونه داسې راځي لکه اُوبه چې د اُوچت ځای نه ښکته په تيزئ سره راځي.

نو کله چې ما د نبي ﷺ دا فرمان واوريده نو د ما د ځان سره سوچ وکړو چې ما خو په دې کور کې نه څه غمونه ليدلي، نه مې څه مصيبتونه او پريشانئ ليدلي، بلکه مسلسل خوشحالي او سکون دی، نو ما د ځان سره وويل چې د رسول الله ﷺ فرمان خو صحيح دی، هيڅ شک په کې نشته، دا په مونږ چې څه تکليف نشته نو هسې نه چې زما د خاوند په ايمان کې څه فرق وي، يا دده په اعمالو کې څه فرق وي، او الله ﷻ دده سره محبت نه کوي نو ځکه راباندې مصيبتونه نه راځي. نو ما د ځان سره سوچ وکړو: چې کله د يو کس سره د الله رب العزت محبت نشته نو زه بيا د هغه خدمت ولې وکړم؟ او د هغه سره ولې پاتې شم؟

نو ځکه ما د تانه د طلاقو مطالبه وکړه، خو کله چې د مسئلې معلومولو او علم حاصلولو د پاره د نبي کريم ﷺ مجلس ته روان شو او په لاره کې ته را وغورځيدی، تا ته د الله ﷻ په لاره کې تکليف او مصيبت در ورسيد نو زه فورًا پوهه شوم چې د تا سره د الله ﷻ محبت شته، ځکه تکليف درباندې راغی، او بل ما ته معلومه شوه چې تا ته الله ﷻ دا خوشحالئ او نعمتونه درکړي نو داسې نه ده چې گني ته د الله ﷻ محبوب نه يې بلکه الله ﷻ د تا نه خوشحال دی، او د تا سره يې محبت هم شته، او دا نعمتونه يې هم درکړي.

نو ځکه مې د طلاقو غوښتلو مطالبه رَد کړه، اوس به ټول عُمر ستا خدمت کوم او تا به خوشحاله ساتم. (۱)

(۱) خطبات فقير ج۵ ص ۷۴.

# د مصيبت په وخت کې الله ﷻ ته رجوع په کار ده

کله چې په يو انسان باندې څه مصيبت يا تکليف راشي که هغه بدني وي او که مالي وي نو په دې باندې صبر په کار دی، او صرف الله ﷻ طرف ته رجوع په کار ده نو بيا الله ﷻ ددې انسان مدد کوي، لکه څنګه چې رسول الله ﷺ فرمايلي چې الله رب العزت فرمايي:

کله چې په يو بنده باندې مصيبت نازل شي او هغه د ما نه پناه وغواړي نو زه د هغه سوال د هغه د غوښتلو نه مخکې قبلوم او غوښتنه يې پوره کوم، او څوک چې د مصيبت په وخت کې زما په ځای د مخلوق نه مرسته وغواړي نو زه هغه ته د آسمان دروازې بندوم او دُعا يې نه قبلوم. (۱)

تر دې چې يو انسان ته د بل چا د لاس نه څه تکليف ورسي نو هم الله ﷻ ته يې حواله کول په کار دي، ځکه الله جل جلاله خو ډير غيرتي ذات دی، خامخا به ددې انسان امداد کوي، او ظالم ته به جزاء ورکوي:

## د يو بزرګ د صبر واقعه

ديو بزرګ په باره کې راځي چې ده سفر کولو، باران شوې و، هر ځای کې اُوبه وې، په لاره مخامخ يوه ښځه او خاوند راروان وو، چې کله ده ته راورسيده نو ددې بزرګ د څپلو نه څه څاڅکي والوته او د ښځې په جامو (کپړو) پريوته، کله چې دې خاوند دا وليده نو راغی او دا بزرګ يې يو څپيړه ووهل، او په غصه کې يې ورته وويل چې څه ړوند خو نه يې؟ زما د محبوبې جامې دې ګنده کړې، دده دا بي بي ډيره خوشحاله شوه چې زما بدله يې واخيسته، او دواړه په خوشحالۍ خوشحالۍ خپل کورته روان شو.

دا بزرګ چونکه کمزورې او بوډا و نو ځکه يې څه ونه ويل، بلکه صبر يې وکړو، او الله ﷻ ته يې هر څه حواله کړه، او مخکې روان شو سفر يې کولو.

په لاره کې د حلوايي دُکان و، هغه دُکاندار د ځان سره سوچ وکړو چې نن د باران ورځ ده نو که هر څوک ما وليده نو د ثواب د پاره به په هغه باندې ګرمه حلوا او چای څکوم، کله چې

(۱) مكاشفة القلوب للامام الغزالي باب في الصبر والمرض.

دا بزرگ ورورسیده نو هغه حلوايي ورته آواز وکړو ، دې ورغې ، هغه کرم شُوده (پي) او حلوه ورته رامخې ته کړه ، ده چې دا حلوا وخوړه او شُوده يې وڅکل نو د الله ﷻ شکريه يې ادا کړه . کله چې دا بزرگ د حلوايي دُکان نه راووت نو آسمان طرفته يې وکته او وې ويل : يا الله ! ستا څه عجيبه شان دی مخکې دې په يو کس باندې په يوه څپيړه ووهلم او اوس دې راباندې گرم شُوده او حلوا اوخوړه .

په دې وخت کې دا ښځه او خاوند خپل کور ته رسيدلي وو ، دا خاوند يې په آندرپايه باندې پاس چَت ته ختلو چې خپه يې اُوخويده ، او لاندې د سَر په طرف را وغورځيده چې په هماغه ځاى کې مړشو .

دې ښځې خلقو ته وويل : زما دې خاوند په لاره کې يو بزرگ په څپيړه وهلې و ، کيدې شي هغه خبرې کړې وي ، تاسو د هغه نه معافي اوغواړئ ، هسې نه چې نور تکليف راورسي خلق چې دې بزرگ ته راغله او پوښتنه يې ورنه وکړه : چې آيا تا خو د وی ته خبرې نه وی کړې ؟ هغه ورته وويل : چې ما ده ته هيڅ خبرې نه دي کړي ، خو چونکه دده د خپلې ښځې سره دومره محبت و چې زما د څپلو نه معمولي د اُوبو څاڅکي دده د بي بي په جامو ولړيده نو ده د هغې بَدل د ما نه واخيست ، او په څپيړه يې ووهلم ، او د ماسره چونکه زما د پروردگار محبت دی نو ماته چې چا تکليف راورسول نو الله ﷻ د هغه نه زما بَدله واخيسته ځکه ده په خپلې محبوبې غيرت وکړو ، او په ما باندې خپل رب غيرت وکړو . (۱)

لهذا انسان ته په کار دي چې په هر تکليف صبر وکړي ، او هره معامله الله ﷻ ته وسپاري نو الله ﷻ بيا دانسان مددگار جوړيږي .

## د يوې ښځې د صبر بهترينه واقعه

علامه اسماعيل حقي رحمه الله په خپل تفسير " تفسير روح البيان " کې د يوې ښځې د صبر واقعه رانقل کړی :

(۱) خطبات فقير ج۵ ص ۵۹ .

ابوالحسن وايي يو کرت زه حج ته لاړم ، هلته مې د خانه کعبې طواف کولو ، نو ناڅاپه مې يوه ښځه وليده چې الله ﷻ ډير زيات حُسن و جمال ورکړي و ، ما د ځان سره وويل :
قسَم په الله ما تر نن ورځې پورې دومره ښائسته ښځه نه ده ليدلې ، او داسې معلوميږي چې دې ښځې هم تر نن ورځې پورې چيرته هيڅ غم او خفګان نه دې ليدلې .
دې ښځې زما دا خبره واوريده ، او راته وې ويل : اې سړيه ! دا تا څه وويل ؟
قسَم په الله ، په ما داسې دردوُونکي غمونه او تکليفونه تير شوي چې په دې کې د ما سره هيڅوک هم نه دې شريک شوی .
ابوالحسن وايي : ما ورنه پوښتنه وکړه چې په تا باندې څه غمونه تير شوي ؟ دې راته وويل :
د اختر ورځ وه ، زما خاوند د قربانۍ ګډ ذبح کړو ، زما دوه (۲) بچي وو هغوی لوبې کولې ، او زما په غيږ کې يو تي خور ماشوم بچې هم و ، زه دوی ته د خوراک په برابرولو کې مصروفه ووم ، زما دې مشر بچي دې بل ته وويل :
زمونږ پلار خو ګډ حلال کړو ، هغه ورته وويل چې څنګه يې حلال کړو ؟ ده ورته وويل چې ته څمله ، کله چې هغه څملاست ، نو ده د هغه په مرۍ باندې چاړه راښکله او په هماغه ځای يې حلال کړو او مړ شو . بيا مې دا مشر ځوي ډيرې د وجې غَر طرف ته وتخيده ، کله چې مې خاوند خبر شو نو د هغه تلاش پسې ووت ، ځکه په ځنګل کې زمري او ليوان موجود وو ، ده د هغه تلاش کولو نو په يو ځای کې يې وموندو چې ليوانو خوړلې و ، پلار يې هم د ډيرې تَندې او خفګان د لاسه په هماغه ځای کې وفات شو .
کله چې هغوی ناوخته کړو ، نو ما خپل تي خور بچې په کور کې واچول ، او زه د دوی تلاش پسې راووتم ، کله چې واپس راغلم نو ما وکته چې دا ماشوم بچې په خاپوړو باندې نغرۍ ته راغلې و ، او په نغرۍ باندې د ګرمو ايشيدلو اُوبو ديګې ايښې و ، هغه يې په ځان باندې راړولې و ، او په هماغه ځای کې دې هم وفات شوې و .
په بل کلي کې زما لور واده وه ، هغه چې خبره شوه چې زما پلار او درې (۳) ورونه وفات شوي دي نو هغه هم په هماغه ځای کې د خفګان نه راوغورځيده او وفات شوه . دا ټول غمونه ځان له په ما باندې راغله .

نو اې سريه! ته څنګه وايې چې په دې ښځه باندې به چيرته غم نه وي تير شوی.

ابوالحسن وايي چې ما ورنه پوښتنه وکړه: تا په دې دومره لوي مصيبت باندې څنګه صبر وکړو؟

نو دې راته ووېل: کله چې په چا باندې مصيبت راشي او دې صبر وکړي نو ددې انجام ښه وي، او که بې صبري وکړي نو په دې سره د صبر هغه ثواب هم ختم شي او په لاس باندې هيڅ نه ورځي. لهذا ما د صبر او تحمل نه کار واخيست او دا مې د الله ﷻ يو امتحان اوګڼل. ابوالحسن وايي دې ښځې دا خبره وکړه او د ما نه روانه شوه. (۱)

## د مصيبت په وخت "إِنَّا لِلّٰهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُوْن" ويلو فضيلت

قَالَتْ أُمُّ سَلَمَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: مَا مِنْ مُسْلِمٍ تُصِيْبُهُ مُصِيْبَةٌ فَيَقُوْلُ مَا أَمَرَهُ اللهُ بِهِ: "إِنَّا لِلّٰهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُوْن اَللّٰهُمَّ أْجُرْنِيْ فِيْ مُصِيْبَتِيْ وَأَخْلِفْ لِيْ خَيْرًا مِنْهَا" إِلَّا أَخْلَفَ اللهُ لَهُ خَيْرًا مِنْهَا. فَلَمَّا مَاتَ أَبُوْ سَلَمَةَ قُلْتُ: أَيُّ الْمُسْلِمِيْنَ خَيْرٌ مِنْ أَبِيْ سَلَمَةَ؟ أَوَّلُ بَيْتٍ هَاجَرَ إِلٰى رَسُوْلِ اللهِ ﷺ ثُمَّ إِنِّيْ قُلْتُهَا. فَأَخْلَفَ اللهُ لِيْ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. (۲)

حضرت ام سلمة رضی الله عنها وايي چې نبي كريم صلى الله عليه وسلم فرمايلي: كوم مسلمان چې په څه (وړوکي يا غټ) مصيبت کې ګرفتار شي او د الله ﷻ د حکم مطابق دا الفاظ ووايي:

"إِنَّا لِلّٰهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُوْن اَللّٰهُمَّ أْجُرْنِيْ فِيْ مُصِيْبَتِيْ وَأَخْلِفْ لِيْ خَيْرًا مِنْهَا"

---

(۱) تفسير روح البيان ج ۴ ص ۳۹۰ سورة يوسف آيت ۸۳.

(۲) اخرجه مسلم ٦٣٢، مشكوة كتاب الجنائز باب ما يقال عند من حضره الموت حديث ۳، نزهة الناظرين ص ٥٣٦ كتاب الصبر والحمد والشكر الترغيب والترهيب ج۲ (۲/۳۱٥٦). **نوټ**: دا "إِنَّا لِلّٰهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُوْن" ويل ددې امت خصوصيت دی. قَالَ سَعِيْدُ بْنُ جُبَيْرٍ: مَا أُعْطِيَ أَحَدٌ فِي الْمُصِيْبَةِ مَا أُعْطِيَ هٰذِهِ الْأُمَّةُ يَعْنِيْ اَلْإِسْتِرْجَاعُ. وَلَوْ أُعْطِيَهَا أَحَدٌ لَأُعْطِيَهَا يَعْقُوْب. أَلَا تَسْمَعُ إِلٰى قَوْلِهِ فِيْ قِصَّةِ يُوْسُف: (يَا أَسَفٰى عَلٰى يُوْسُفَ... سورة يوسف آيت ۸۴) نزهة الناظرين ص ٥٣٦ كتاب الصبر والحمد والشكر.

ترجمه : مونږ د الله ﷻ يو او هم هغه طرف ته به مونږ واپس کيږو ، يا الله ! زما په دې مصيبت باندې ماته اجر راکړې او ددې بنه نِعْمُ الْبَدَلُ (عوض) راکړې .

نبي عليه السلام وفرمايل : چې کوم سړې دا دُعا ووايي نو الله ﷻ به ددې مصيبت ده ته بهترينه بدله ورکړي .

حضرت ام سلمة رضی الله عنها فرمايي چې کله زما اولنې خاوند ابوسلمه ﷺ وفات شو ( ماته د نبي کريم ﷺ دا حديث راياد شو نو د پيغمبر ﷺ د حکم په ځای راوړلو په خاطر مې دا کلمات ويل اوغوښته خو ) د ځان سره مې وويل چې د ابوسلمه ﷺ نه بهترين کوم مسلمان کيدی شي ؟ ( چې د هغه په عوض کې يې الله ﷻ ماته راکړي ) ځکه هغه خو د ټولو نه اولنې هغه کس و چې د خپل اهل وعيال سره يې نبي عليه الصلوة والسلام ته هجرت وکړو ( او د نبي ﷺ د ترور ځوي او رضاعي ورور هم و ) ، ام سلمه رضي الله عنها وايي چې ددې باوجود ما بيا هم " إِنَّا لِلّٰهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُوْن ... " وويل ، نو الله ﷻ د ابوسلمه ﷺ په بَدله کې ماته نبي کريم صلی الله عليه وسلم راکړو ( يعنی زه د هغه په نکاح کې راغلم ؛ چې دا يو عظيم سعادت او فضيلت دی ) .

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

﴿ اَلنَّارُ يُعْرَضُوْنَ عَلَيْهَا غُدُوًّا وَّعَشِيًّا وَيَوْمَ تَقُوْمُ السَّاعَةُ اَدْخِلُوْا اٰلَ فِرْعَوْنَ اَشَدَّ الْعَذَابِ ﴾ سورة المومن آيت ۴۶.

# په عالَمِ برزخ (قبر) کې عذابونه او نِعمتونه

تاَليف :


اَبُوالشَّمْس مولانا نُوْرُالْهُدٰى عُفِيَ عَنْهُ

مُدَرِّس دَارُالعلوم فيضُ القُرآن اکاخيل کالونی مردان

# نوټ:

" په عالَمِ برزخ (قبر) کې عذابونه او نِعمتونه" موضوع مې په یو څو غټو عنواناتو تقسیم کړی:

۱. د قرآن کریم او احادیثو نه دعذابِ قبر ثبوت.

۲. د عذابِ قبر اَسباب.

۳. په عذابِ قبر باندې د بې دینه خلقو اعتراضات او د هغې جوابات

۴. د قبر متعلق فقهي مسایل.

۵. په آخر کې د قبر د عذابونو او نعمتونو متعلق نور متعمد واقعات هم ذکر شوي.

ابوالشمس عفی عنه

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# په عالَمِ برزخ (قبر) کې عذابونه او نِعمتونه

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَكَفٰى . وَسَلَامٌ عَلٰى عِبَادِهِ الَّذِيْنَ اصْطَفٰى .

اَمَّا بَعْدُ فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ. بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ. قَالَ اللّٰهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى فِي الْقُرْآنِ الْمَجِيْدِ وَالْفُرْقَانِ الْحَمِيْدِ:

﴿ اَلنَّارُ يُعْرَضُوْنَ عَلَيْهَا غُدُوًّا وَّعَشِيًّا وَيَوْمَ تَقُوْمُ السَّاعَةُ أَدْخِلُوْا اٰلَ فِرْعَوْنَ أَشَدَّ الْعَذَابِ ﴾ (۱)

وَقَالَ فِيْ مَوْضِعٍ آخَرَ ﴿ يُثَبِّتُ اللّٰهُ الَّذِيْنَ آمَنُوْا بِالْقَوْلِ الثَّابِتِ فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَفِي الْآخِرَةِ وَيُضِلُّ اللّٰهُ الظَّالِمِيْنَ وَيَفْعَلُ اللّٰهُ مَا يَشَاءُ ﴾. (۲)

وَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ: اَلْقَبْرُ إِمَّا رَوْضَةٌ مِّنْ رِيَاضِ الْجَنَّةِ أَوْ حُفْرَةٌ مِّنْ حُفَرِ النَّارِ. (۳)

صَدَقَ اللّٰهُ الْعَظِيْمُ.

محترمو مسلمانانو ورونو! کله چې انسان وفات شي نو دې د عالمِ دُنيا نه عالمِ برزخ طرف ته منتقِل شي، دا دَوَر د وفات کيدو نه شروع کيږي او تر د دوباره ژوندي کيدو (يعنی قيامته) پورې جاري وي. الله تعالی هم فرمايي:

﴿ وَمِنْ وَّرَائِهِمْ بَرْزَخٌ إِلٰى يَوْمِ يُبْعَثُوْنَ ﴾. (۴)

ترجمه: د دوی د وړاندې برزخ دی چې دوی به په هغې کې تر قيامته پورې پاتې کيږي.

---

(۱) سورة المومن (غافر) آيت ۴۶.

(۲) سورة إبراهيم آيت ۲۷.

(۳) رواه الطبراني في الاوسط، الترغيب والترهيب ج۴ ص۱۱۹ الترغيب في ذكر الموت وقصر الامل... وَفِيْ رِوَايَةٍ: إِنَّمَا الْقَبْرُ رَوْضَةٌ مِّنْ رِيَاضِ الْجَنَّةِ أَوْ حُفْرَةٌ مِّنْ حُفَرِ النَّارِ. رواه الترمذي كتاب القيامة باب ۲۶ (۲۴۶۰) والبيهقي، الترغيب والترهيب ج۴ ص۱۱۸ الترغيب في ذكر الموت وقصر الامل...

(۴) سورة المؤمنون آيت ۱۰۰.

په دې دَوران کې که يو انسان په قبر کې دفن شي، يا په اُوبو کې ډُوب شي، يا په اُور کې اُوسوزي، يا په بله طريقه مړ شي نو په دې ټولو حالتونو کې دې په عالمِ برزخ کې داخل دی.

او دا د اَهْلُ السُّنَّةِ وَالْجَمَاعَةِ عقيده ده چې د مړي اَجزاء که په هر ځاى کې وي ده ته به په دې برزخي ژوند کې ثواب او جزاء ملاوېږي، يعنى که نيک عمله وي نو ثواب او راحت به ورته رسيږي او که بَدعمله، فاجِر او کافر وي نو عذاب او سختي به ورته رسيږي. (۱)

## د قبر عذاب او ثواب

په عالمِ برزخ کې د فرښتو سوالونه، او بيا صحيح جواب ورکوونکو ته ثواب، او غلط جواب ورکوونکو ته عذاب د قرآن کريم د لسو (۱۰) آيتونو نه اشارةً او د رسول الله صلى الله عليه وسلم د اويا (۷۰) متواتر احاديثو نه صراحةً معلومېږي، د غه رنګې په دې باندې د امت اِجماع هم ده، لهذا په دې کې د يو مسلمان د پاره هيڅ شک و شُبه نه ده په کار. (۲)

## د عذابِ قبر ثبوت د قرآن کريم نه

## اول آيت

الله جَلَّ جَلَالُهُ د فرعون او د هغه د ملګرو په باره کې فرمايي:

اَلنَّارُ يُعْرَضُوْنَ عَلَيْهَا غُدُوًّا وَّعَشِيًّا وَيَوْمَ تَقُوْمُ السَّاعَةُ اَدْخِلُوْا اٰلَ فِرْعَوْنَ اَشَدَّ الْعَذَابِ (۳)

ترجمه: دوى (په برزخ کې) سهر او ماښام اُور ته ور وړاندې کولې شي (او دا ورته خودلې شي چې تاسو به د قيامت په ورځ دې اُور ته داخلولې شئ)، او په کومه ورځ چې قيامت قائم شي (نو حکم به وشي چې) د فرعون ملګري سخت عذاب ته داخل کړئ.

(۱) قَالَ الْحَافِظُ ابْنُ قَيِّم رحمه الله: وَمِمَّا يَنْبَغِيْ أَنْ يُعْلَمَ أَنَّ عَذَابَ الْقَبْرِ هُوَ عَذَابُ الْبَرْزَخِ. فَكُلُّ مَنْ مَاتَ وَهُوَ مُسْتَحِقُّ الْعَذَابِ نَالَهُ نَصِيْبُهُ مِنْهُ قُبِرَ أَوْ لَمْ يُقْبَرْ. فَلَوْ أَكَلَتْهُ السِّبَاعُ أَوْ أُحْرِقَ حَتّٰى صَارَ رَمَادًا أَوْ نُسِفَ فِي الْهَوَاءِ أَوْ صُلِبَ. أَوْ غُرِقَ فِي الْبَحْرِ وَصَلَ إِلَى رُوْحِهِ وَبَدَنِهِ مِنَ الْعَذَابِ مَا يَصِلُ إِلَى الْقُبُوْرِ. الروح ص ۵۸ المسئلة السادسة، فتاوىٰ حقانيه ج۱ ص ۱۸۲ کتاب العقائد والايمانيات.

(۲) معارف القرآن لمولانا مفتي محمد شفيع رحمه الله سورة ابراهيم آيت ۲۷، وسورة مومن آيت ۴۶.

(۳) سورة المومن (غافر) آيت ۴۶.

نو دا آيت د عذاب قبر دليل دی (۱). دغه وجه ده چې امام بخاري رحمه الله هم دغه آيت د عذاب قبر په ثبوت کې ذکر کړی او مستقل باب يې قائم کړی :

بَابُ مَا جَآءَ فِيْ عَذَابِ الْقَبْرِ. بيا يې ددې لاندې دا آيت او څه نور آيتونه ذکر کړي (۲)

## د امام رازي رحمه الله تحقيق :

امام رازي رحمه الله ليکي چې : دا آيت د عذابِ قبر په ثبوت باندې واضحه دليل دی، ځکه په دې کې ذکر دي :

﴿ اَلنَّارُ يُعۡرَضُوۡنَ عَلَيۡهَا غُدُوًّا وَّعَشِيًّا ﴾ چې سهر او مابنام به دوی ته اُور پيش کولې شي. نو ددينه خو د دُنيا سهر او مابنام مراد نه دی ځکه دوی خو په دُنيا کې اُور ته نه وو پيش شوي، دغه رنګې آخرت هم مراد نه دی ځکه د آخرت تذکره روستو په خپله شته چې :

﴿ وَيَوۡمَ تَقُوۡمُ السَّاعَةُ ... ﴾. نو معلومه شوه چې د دينه د عالَمِ برزخ عذاب مراد دی. پس کله چې د فرعونيانو په باره کې عذاب قبر ثابت شو نو دنورو کافرانو او ګناهګارانو د پاره هم ثابتيږي، ځکه هيڅوک هم ددې قائِل نه دي چې ګني دغه عذابِ قبر د فرعون او دده ملګرو سره خاص دی. (۳)

**علمي نُکته** : بل دا چې په دې آيت کې د ﴿ وَيَوۡمَ تَقُوۡمُ السَّاعَةُ ﴾ عطف په ﴿ غُدُوًّا وَّعَشِيًّا ﴾ باندې شوی، او عطف تقاضا د مُغايرت کوي په مابين د معطوف او معطوف عليه کې، لهذا د غُدُوًّا وَّعَشِيًّا نه به مراد د قيامت نه مخکې د عالَمِ برزخ عذاب مراد وي.

---

(۱) معارف القرآن لمولانا مفتي محمد شفيع رحمه الله سورة مومن آيت ۴۶.

(۲) بخاري ج۱ كتاب الجنائز باب ما جاء في عذاب القبر باب ۸۶۹.

(۳) إِحْتَجَّ أَصْحَابُنَا بِهٰذِهِ الْآيَةِ عَلَى إِثْبَاتِ عَذَابِ الْقَبْرِ قَالُوْا : اَلْآيَةُ تَقْتَضِيْ عَرْضَ النَّارِ عَلَيْهِمْ غُدُوًّا وَّعَشِيًّا. وَلَيْسَ الْمُرَادُ مِنْهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ لِأَنَّهُ قَالَ ﴿ وَيَوْمَ تَقُوْمُ السَّاعَةُ أَدْخِلُوْا اٰلَ فِرْعَوْنَ أَشَدَّ الْعَذَابِ ﴾. وَلَيْسَ الْمُرَادُ مِنْهُ أَيْضًا الدُّنْيَا لِأَنَّ عَرْضَ النَّارِ عَلَيْهِمْ غُدُوًّا وَّعَشِيًّا مَا كَانَ حَاصِلًا فِي الدُّنْيَا. فَثَبَتَ أَنَّ هٰذَا الْعَرْضَ إِنَّمَا حَصَلَ بَعْدَ الْمَوْتِ وَقَبْلَ يَوْمِ الْقِيَامَةِ. وَذٰلِكَ يَدُلُّ عَلَى إِثْبَاتِ عَذَابِ الْقَبْرِ فِيْ حَقِّ هٰؤُلَاءِ. وَإِذَا ثَبَتَ فِيْ حَقِّهِمْ ثَبَتَ فِيْ حَقِّ غَيْرِهِمْ لِأَنَّهُ لَا قَائِلَ بِالْفَرْقِ. تفسير كبير ج۹ ص ۵۲۱ سورة المومن آيت ۴۶.

# مړي ته په عالمِ برزخ کې سهر او ماښام خپل مقام خودلې شي

نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايي :

إِنَّ أَحَدَكُمْ إِذَا مَاتَ عُرِضَ عَلَيْهِ مَقْعَدُهُ بِالْغَدَاةِ وَالْعَشِيِّ . إِنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ فَمِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ ، وَإِنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ النَّارِ فَمِنْ أَهْلِ النَّارِ . فَيُقَالُ : هٰذَا مَقْعَدُكَ حَتّٰى يَبْعَثَكَ اللّٰهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ . (۱)

په تاسو کې چې څوک وفات شي نو که دې جنتي وي او که جهنمي خو په عالمِ برزخ کې به ورته خپل مقام سهر او بيګاه ښودلې شي او دا به ورته ويلې شي چې د قيامت په ورځ (د حساب و کتاب نه روستو) دا ستا مقام دی (او ته به دلته راځې).

يعنی عالمِ برزخ کې به جنتيانو ته په جنت کې او جهنميانو ته به په جهنم کې خپل خپل مقام خودلې شي> او دا به ورته ويلې شي چې ستاسو آخِري ځای هم دادی.

## دويم آيت :

د عذاب قبر په ثبوت باندې دويم آيت دادی :

﴿ يُثَبِّتُ اللّٰهُ الَّذِيْنَ آمَنُوْا بِالْقَوْلِ الثَّابِتِ فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَفِي الْآخِرَةِ ﴾. (۲)

ترجمه : الله تعالی مومنانو لره ددې مضبوطې خبرې (کلمې طيّبې) په برکت سره د دُنيا په ژوند او آخرت (يعنی عالمِ برزخ) کې مضبوط ساتي.

د بخاري او مسلم شريف په حديث کې راغلي چې په دې آيت کې د " آخرت " نه مراد عالمِ برزخ دی ، يعنی د مرګ نه پس تر دوباره ژوندي کيدو پورې مينځني حالت مراد دی (۳)

---

(۱) هذا الحديث اخرجه البخاري في الجنائز باب الميت يعرض عليه مقعده بالغداة والعشي ۱۲۷۹ باب ۸۷۲ وفي بدء الخلق باب ما جاء في صفة الجنة وانها مخلوقة ۳۲۴۰ وفي الرقاق باب سكرات الموت ٦٥١٥ ، ومسلم باب عرض مقعد الميت من الجنة او النار عليه وإثبات عذاب القبر ٦٥/٧١٦٧ (٢٨٦٦) ، واخرجه الترمذي في الجنائز باب ما جاء في عذاب القبر ١٠٢٧ ، والنسائي في الجنائز باب وضع الجريدة على القبر ٢٠٧١ ، وابن ماجه في الزهد باب ذكر القبر والبلى ۴۳۲۴ .

(۲) سورة إبراهيم آيت ۲۷ .

(۳) معارف القرآن لمولانا مفتي محمد شفيع رحمه الله سورة ابراهيم آيت ۲۷ .

او دا آيت د عذابِ قبر په باره کې نازل شوی.

حضرت براء بن عازب رضي الله عنه د نبي کريم صلى الله عليه وسلم حديث نقل کوي چې پيغمبر عليه السلام فرمايي:

﴿ يُثَبِّتُ اللهُ الَّذِيْنَ آمَنُوْا بِالْقَوْلِ الثَّابِتِ ﴾ قَالَ: نَزَلَتْ فِيْ عَذَابِ الْقَبْرِ، فَيُقَالُ لَهُ: مَنْ رَبُّكَ؟ فَيَقُوْلُ: رَبِّيَ اللهُ، وَنَبِيِّيْ مُحَمَّدٌ، فَذٰلِكَ قَوْلُهُ عَزَّوَجَلَّ: ﴿ يُثَبِّتُ اللهُ الَّذِيْنَ آمَنُوْا بِالْقَوْلِ الثَّابِتِ فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَفِي الْآخِرَةِ ﴾. (۱)

دا آيت ﴿ يُثَبِّتُ اللهُ الَّذِيْنَ آمَنُوْا... ﴾ د عذاب قبر په باره کې نازل شوی، ددې انسان نه به په قبر کې پوښتنه وشي: مَنْ رَبُّكَ؟ ستا رب څوک دی؟ دې به ورته ووايي: رَبِّيَ اللهُ، وَنَبِيِّيْ مُحَمَّدٌ. زما رب الله جل جلاله دی او زما نبي محمد (صلى الله عليه وسلم) دی. همدا مطلب ددې قول د الله تعالى دی چې الله تعالى فرمايي: ﴿ يُثَبِّتُ اللهُ الَّذِيْنَ آمَنُوْا... ﴾

ترجمه: الله تعالى مومنان د صحيح خبرې په برکت سره په دُنيا او آخرت (يعنى عالمِ برزخ) کې مضبوط ساتي.

په يو روايت کې داسې الفاظ دي، نبي عليه السلام فرمايي:

إِذَا أُقْعِدَ الْمُؤْمِنُ فِيْ قَبْرِهٖ أُتِيَ ثُمَّ شَهِدَ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُوْلُ اللهِ (فَذٰلِكَ قَوْلُهُ: يُثَبِّتُ اللهُ الَّذِيْنَ آمَنُوْا بِالْقَوْلِ الثَّابِتِ ﴾. (۲)

کله چې مومن په خپل قبر کې کينولې شي نو ده ته فرښتې راشي (پوښتنې ورنه وکړي) بيا دې ګواهي ورکړي چې د الله جل جلاله نه بغير بل څوک لايق د عبادت نشته او محمد صلى الله عليه وسلم د الله جل جلاله رسول دی، او همدا تعبير او مطلب ددې قول د الله تعالى دی چې الله رب العزت فرمايي:

---

(۱) هذا الحديث أخرجه البخاري في الجنائز باب ما جاء في عذاب القبر ۱۳۶۹، وفي تفسير سورة إبراهيم باب ﴿ يُثَبِّتُ اللهُ الَّذِيْنَ آمَنُوْا بِالْقَوْلِ الثَّابِتِ ﴾ ۴۶۹۹، ومسلم باب عرض مقعد الميت من الجنة أو النار عليه و إثبات عذاب القبر ۷۳/۷۱۷۵ (۲۸۷۱)، وأخرجه الترمذي في تفسير سورة ابراهيم ۳۱۲، وأبوداود في السنّة باب في المسألة في القبر وعذاب القبر، وابن ماجه في الزهد باب ذكر القبر والبلى ۴۳۲۳.

(۲) بخاري شريف ج۱ كتاب الجنائز باب ماجاء في عذاب القبر حديث ۱۲۸۵.

﴿ يُثَبِّتُ اللّٰهُ الَّذِيْنَ آمَنُوْا بِالْقَوْلِ الثَّابِتِ ﴾ .

د حضرت براء بن عازب رضي الله عنه په روايت باندې همدا مضمون تقريبًا د څلويښتو (۴۰) صحابه کرامو نه په معتبرو سندونو سره نقل دی ، دغه احاديث امام ابن کثير رحمه الله په خپل تفسير (تفسير ابن کثير) کې راجمع کړي ، او شيخ جلال الدين سيوطي رحمه الله په خپلې منظوم رسالې ( اَلتَّثْبِيْت عِنْدَ التَّبْيِيْت ) کې رانقل کړي .

په شرحُ الصدور کې د اويا (۷۰) احاديثو په نقل کولو سره دې روايتونو ته متواتر ويل شوي ، او دې ټولو صحابه کرامو په دغه آيت کې د "آخرت" نه مراد قبر اخيستې دی ، او دا آيت يې د قبر د ثواب او عذاب په باره کې ګرځولی . (۱)

## قبر د جنت د باغيچو نه يوه باغيچه . يا د جهنم د کندو نه يوه کنده ده

نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايي :

اَلْقَبْرُ إِمَّا رَوْضَةٌ مِنْ رِيَاضِ الْجَنَّةِ أَوْ حُفْرَةٌ مِنْ حُفَرِ النَّارِ . (۲)

قبر يا خو د جنت د باغيچو نه يوه باغيچه ده ، او يا د جهنم د کندو نه يوه کنده ده .

يعنی که سړې نيک عمله مسلمان وي نو دده د پاره قبر د جنت د باغيچو نه يوه باغيچه ده ، او که سړې کافِر او بَد عمله وي نو دده د پاره د جهنم د کندو نه يوه کنده ده .

## د مومِن بنده نه په قبر کې د فرښتو پوښتنې

مومِن بنده ته الله جل جلاله په دُنيا کې هم د اطمينان ، سکون او خوشحالۍ والهٔ ژوند ورکوي ، د زنکدن په حالت کې هم ورسره نرمي کوي ، او په قبر کې هم په ده باندې اِنعام و اِحسان کوي چې د فرښتو د پوښتنو صحيح صحيح جواب ورکولو توفيق ورکوي .

(۱) معارف القرآن سورة ابراهيم ايت ۲۷ .

(۲) رواه الطبراني في الاوسط ، الترغيب والترهيب ج۴ ص ۱۱۹ الترغيب في ذكر الموت وقصر الامل ... وَفِيْ رِوَايَةٍ : إِنَّمَا الْقَبْرُ رَوْضَةٌ مِنْ رِيَاضِ الْجَنَّةِ أَوْ حُفْرَةٌ مِنْ حُفَرِ النَّارِ . رواه الترمذي كتاب القيامة باب ۲۶ ( ۲۴۶۰ ) والبيهقي ، الرغيب والترهيب ج۴ ص ۱۱۸ الترغيب في ذكر الموت وقصر الامل ...

نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايي: (۱)

چې کله مړی په قبر کې کيښودې شي نو ده ته دوه (۲) فرښتې (مُنکر او نَکِير) راشي، دوی دا مړی راکينوي، او پوښتنه ورنه وکړي:

مَنْ رَبُّکَ؟ ستا رب څوک دی؟

مومن بنده جواب ورکړي: رَبِّيَ اللّٰهُ. زما رب الله جل جلاله دی.

بيا ورنه پوښتنه وکړي: مَا دِيْنُکَ؟ ستا دين څه شی دی؟

دې ورته جواب ورکړي: دِيْنِيَ الْإِسْلَامُ. زما دين اسلام دی.

بيا ورنه پوښتنه وکړي: مَا هٰذَا الرَّجُلُ بُعِثَ فِيْكُمْ؟ (۲) دا کس (پيغمبر عليه السلام) چې تاسو ته درليږل شوی و دا څوک دی؟

دې به ورته ووايي:

هُوَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. دا د الله جل جلاله رسول دی.

---

(۱) عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ رضي الله عنه عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صلى الله عليه وسلم قَالَ: يَأْتِيْهِ مَلَكَانِ فَيُجْلِسَانِهِ فَيَقُوْلَانِ لَهُ: مَنْ رَبُّكَ؟ فَيَقُوْلُ رَبِّيَ اللّٰهُ. فَيَقُوْلَانِ لَهُ: مَا دِيْنُكَ؟ فَيَقُوْلُ: دِيْنِيَ الْإِسْلَامُ. فَيَقُوْلَانِ لَهُ: مَا هٰذَا الرَّجُلُ الَّذِيْ بُعِثَ فِيْكُمْ؟ فَيَقُوْلُ: هُوَ رَسُوْلُ اللّٰهِ. فَيَقُوْلَانِ لَهُ: وَمَا يُدْرِيْكَ؟ فَيَقُوْلُ: قَرَأْتُ كِتَابَ اللّٰهِ، فَآمَنْتُ بِهِ وَصَدَّقْتُ. فَذٰلِكَ قَوْلُهُ " ﴿ يُثَبِّتُ اللّٰهُ الَّذِيْنَ آمَنُوْا بِالْقَوْلِ الثَّابِتِ ﴾. الاية " قَالَ فَيُنَادِيْ مُنَادٍ مِنَ السَّمَاءِ أَنْ صَدَقَ عَبْدِيْ فَافْرِشُوْهُ مِنَ الْجَنَّةِ، وَالْبِسُوْهُ مِنَ الْجَنَّةِ، وَافْتَحُوْا لَهُ بَابًا إِلَى الْجَنَّةِ فَيُفْتَحُ لَهُ. قَالَ فَيَأْتِيْهِ مِنْ رَوْحِهَا وَطِيْبِهَا وَيُفْتَحُ لَهُ فِيْهَا مَدَّ بَصَرِهِ. رواه احمد، وابوداود باب المسألة في القبر وعذاب القبر ۴۷۵۲.

(۲) د ابوداود شريف په روايت کې دا سې الفاظ دي: مَنْ نَبِيُّكَ؟ ستا نبي څوک دی؟ دې به ورته ووايي: نَبِيِّيْ مُحَمَّدٌ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. زما نبي محمد صلی الله عليه وسلم دی. اخرجه ابوداود، والحاکم وقال: صحيح على شرط الشيخين، احياء العلوم ج۴ ص ۶۶۵ کتاب ذکر الموت وما بعده.

بيا هغوی پوښتنه وکړي : وَمَا يُدْرِيكَ ؟ تا ته څنګه معلومه شوه چې دا د الله ﷻ رسول دی ؟ دې به ورته جواب ورکړي : قَرَأْتُ كِتَابَ اللهِ فَآمَنْتُ بِهِ وَصَدَّقْتُ . ما د الله ﷻ کتاب لوستلې و (په هغې کې راته معلومه شوې وه چې دا د الله ﷻ رسول دی) په هغې مې ايمان راوړې و ، او زړه سره مې د هغې تصديق کړی و . نو د هغې په وجه ماته د پيغمبر عليه السلام رسول کيدل معلوم شو .

نبي عليه السلام فرمايي : چې د مومن بنده ددغې جواب متعلق الله تعالى فرمايي :

﴿ يُثَبِّتُ اللهُ الَّذِينَ آمَنُوا بِالْقَوْلِ الثَّابِتِ فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَفِي الْآخِرَةِ ﴾ . (۱)

ترجمه : الله تعالى مومنان د صحيح خبرې په برکت سره په دُنيا او آخرت (يعنى عالم برزخ) کې مضبوط ساتي .

بيا به د آسمان نه يو آواز کوونکې آواز وکړي :

أَنْ صَدَقَ عَبْدِيْ فَأَفْرِشُوْهُ مِنَ الْجَنَّةِ وَأَلْبِسُوْهُ مِنَ الْجَنَّةِ وَافْتَحُوْا لَهُ بَابًا إِلَى الْجَنَّةِ .

زما دې ريښتيا وويل ، ده ته د جنت بستره خوره کړئ ، ده ته د جنت لباس ور واغوندئ ، او ده د پاره د جنت نه دروازه راخلاصه کړئ .

نبي کريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل چې ده ته به د جنت نه دروازه راخلاصه شي چې د هغې نه به ده ته د جنت هوا او خوشبويي راځي ، بيا به دده قبر دومره اندازه فراخه کړې شي څومره چې دده نظر لړي .

نبي ﷺ وفرمايل : ددينه پس به ده ته د يو ښائسته مخ واله داسې کس راشي چې ښائسته جامې به يې اغوستې وي او خوشبويي به ورنه ځي ، ده ته به ووايي :

أَبْشِرْ بِالَّذِيْ يَسُرُّكَ هٰذَا يَوْمُكَ الَّذِيْ كُنْتَ تُوْعَدُ .

ته زيرې قبول کړه د هغه شي چې تا لره خوشحالوونکې دی (يعنى د داسې نعمتونو زيرې قبول کړه چې نه خو سترګو ليدلي ، نه غوږونو اوريدلي ، او نه د چا په زړه کې تير شوي) ، نن هغه ورځ ده چې د هغې په دُنيا کې د تاسره وعده شوې وه .

(۱) سورة إبراهيم آيت ۲۷ .

مومن بنده به دغه نه پوښتنه وکړي: ته څوک یې چې دومره ښکلې مخ دې دی او تا ماله خیر او خوشخبري راوړه؟ هغه به جواب ورکړي:

أَنَا عَمَلُكَ الصَّالِحُ. زه ستا نیک عمل یم (چې په دې شکل و صورت کې راغلی یم)

## د کافر او ګناهګار نه په قبر کې د فرښتو پوښتنې

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: (۱) چې کله کافر (او ګناهګار بنده) په قبر کې کیښودې شي، او دده روح دده جسم ته راواپس کړې شي نو دده له به هم دوه فرښتې راشي، دې به راکینوي، او پوښتنه به ورنه وکړي:

مَنْ رَبُّكَ؟ ستا رب څوک دی؟ دې به ورته ووایي: هَاهْ هَاهْ لَا أَدْرِيْ. هاې هاې زه نه پوهیږم.

بیا به فرښتې ورنه پوښتنه وکړي: مَا دِيْنُكَ؟ ستا دین څه شی دی؟ دې به ووایي: هَاهْ هَاهْ لَا أَدْرِيْ. هاې هاې زه نه پوهیږم.

فرښتې به بیا ورنه پوښتنه وکړي: مَا هٰذَا الرَّجُلُ بُعِثَ فِيْكُمْ؟ دا کس (پیغمبر ﷺ) چې تاسو ته درلیږل شوی و دا څوک دی؟ دې به ورته ووایي: هَاهْ هَاهْ لَا أَدْرِيْ. هاې هاې زه نه پوهیږم.

(ددې سوال و جواب نه روستو) یو آواز کوونکی به آواز وکړي:

أَنْ كَذَبَ فَأَفْرِشُوْهُ مِنَ النَّارِ، وَأَلْبِسُوْهُ مِنَ النَّارِ، وَافْتَحُوْا لَهُ بَابًا إِلَى النَّارِ.

---

(۱) وَأَمَّا الْكَافِرُ فَذَكَرَ مَوْتَهُ، قَالَ: وَيُعَادُ رُوْحُهُ فِيْ جَسَدِهِ، وَيَأْتِيْهِ مَلَكَانِ فَيُجْلِسَانِهِ فَيَقُوْلَانِ: مَنْ رَبُّكَ؟ فَيَقُوْلُ: هَاهْ هَاهْ لَا أَدْرِيْ. فَيَقُوْلَانِ لَهُ: مَا دِيْنُكَ؟ فَيَقُوْلُ: هَاهْ هَاهْ لَا أَدْرِيْ. فَيَقُوْلَانِ: مَا هٰذَا الرَّجُلُ الَّذِيْ بُعِثَ فِيْكُمْ؟ فَيَقُوْلُ: هَاهْ هَاهْ لَا أَدْرِيْ. فَيُنَادِيْ مُنَادٍ مِنَ السَّمَاءِ أَنْ كَذَبَ فَافْرِشُوْهُ مِنَ النَّارِ، وَأَلْبِسُوْهُ مِنَ النَّارِ وَافْتَحُوْا لَهُ بَابًا إِلَى النَّارِ. قَالَ: فَيَأْتِيْهِ مِنْ حَرِّهَا وَسَمُوْمِهَا. قَالَ: وَيُضَيَّقُ عَلَيْهِ قَبْرُهُ حَتّٰى تَخْتَلِفَ فِيْهِ أَضْلَاعُهُ ثُمَّ يُقَيَّضُ لَهُ أَعْمٰى أَصَمُّ مَعَهُ مِرْزَبَةٌ مِنْ حَدِيْدٍ لَوْ ضُرِبَ بِهَا جَبَلٌ لَصَارَ تُرَابًا فَيَضْرِبُهُ بِهَا ضَرْبَةً فَيَصِيْحُ صَيْحَةً يَسْمَعُهَا مَا بَيْنَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ إِلَّا الثَّقَلَيْنِ فَيَصِيْرُ تُرَابًا ثُمَّ يُعَادُ فِيْهِ الرُّوْحُ. رواه احمد، وابوداود باب المسالة في القبر وعذاب القبر ۴۷۵۲.

دې بنده دروغ وويل (يعنى ده د فرښتو د وړاندې ځان عاجزه او بې مجرمه ښکاره کړو حالانکه ده دروغ وويل ځکه دې د الله ﷻ د وحدانيت، د دينِ اسلام او د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه منکر وُ)، ده ته د اُور بستره خوره کړئ، د اُور لباس ور واغوندئ، او دجهنم دروازه ورته راخلاصه کړئ.

رسول الله ﷺ وفرمايل (ده ته به دجهنم دروازه راخلاصه شي) چې د هغې نه به ده ته د جهنم ګرمي او د هغې ګرمه سوزوونکې هوا راځي، او ده باندې به دا قبر داسې راتنګ کړې شي چې په دې سره به دده پوښتې په يو بل کې ورننوځي.

بيا به ده ته داسې يو بدصورته سړې راشي چې هغه به خرابې جامې اغوستې وي، او بَدبُويي به ورنه ځي، هغه به ورته ووايي:

أَبْشِرْ بِالَّذِيْ يَسُوْءُكَ هٰذَا يَوْمُكَ الَّذِيْ كُنْتَ تُوْعَدُ.

ته د داسې خرابې خبرې (سزاګانو) زيرې قبول کړه چې هغه تا غمجن کوي، نن هغه ورځ ده چې د کومې تاسره په دُنيا کې وعده شوې وه.

دغه کافر او ګناهګار بنده به دده نه پوښتنه وکړي: ته څوک يې چې دومره بَدرنګ مخ دې دی او د شَر زيرې دې راوړې دی؟ هغه به ورته ووايي:

أَنَا عَمَلُكَ الْخَبِيْثُ. زه ستا بد عمل يم. (۱)

د ابوداود شريف په حديث کې ورسره دا هم شته: چې بيا به په ده باندې د عذاب د پاره داسې فرښته مقرر کړې شي چې نه به څه ګوري، او نه به څه اَوري، د هغې سره به د اُوسپنې داسې ګُرز وي چې که چيرته په هغې باندې غَر يو ګوزار ووهلې شي نو دا غر به اِيرې شي.

دا فرښته چې کله دا کافر او ګناهګار په دې ګرَز باندې يو ګوزار ووهي نو داسې چغې به جوړې کړي چې د مشرق او مغرب په مينځ کې د انسانانو او پيريانو نه علاوه نور هر شی به دده دا چغې او سُورې اَوري، په دې يو ګوزار سره به دې خاورې شي، ددې نه روستو به بيا

(۱) مشكوة كتاب الجنائز باب ما يقال عند من حضره الموت حديث ۱۵.

په ده کې روح واچولې شي (نو دغه شان عذاب کې به دې گرفتار وي). (۱)

# په قبر کې د فرښتو په سوالونو کولو کې حکمت

بعضې علماء ليکي: فرښتې چې د انسان نه په قبر کې د رب او دين باره کې پوښتنه کوي نو ددې په حِکمتونو خو الله ﷻ پوهيږي خو يو حِکمت په کې دا دی چې: کله الله ﷻ په مخ د زمکه د خليفه پيدا کولو اراده وکړه نو فرښتو ورته وويل:

﴿ أَتَجْعَلُ فِيهَا مَن يُفْسِدُ فِيهَا وَيَسْفِكُ الدِّمَاءَ... ﴾. (۲)

ترجمه: اې الله! ته په دې زمکه داسې مخلوق آبادوې چې هغه به په دې زمکه کې فساد کوي او د يو بل وينه به توېوي؟

نو الله ﷻ ورته وويل: ﴿ إِنِّي أَعْلَمُ مَا لاَ تَعْلَمُونَ ﴾. (۳)

ترجمه: بيشکه زه په هغه کارونو پوهيږم چې تاسو پرې نه پوهيږئ.

اوس چې کله يو انسان وفات شي، الله ﷻ قبر ته دوه (۲) فرښتې ورولېږي، دوی ورنه پوښتنه کوي: مَنْ رَبُّكَ؟ وَمَا دِيْنُكَ؟ ستا رب څوک دی؟ ستا دين څه شي دی؟

---

(۱) ابوداود باب المسئلة في القبر وعذاب القبر ۴۷۵۳، واخرجه ابن ماجه ۱۵۴۸، معارف الحديث ج۱ ص ۱۲۳، مشکوة كتاب الجنائز باب ما يقال عند من حضره الموت حديث ۱۵. وَفِيْ رِوَايَةٍ: إِذَا قُبِرَ الْمَيِّتُ أَتَاهُ مَلَكَانِ أَسْوَدَانِ أَزْرَقَانِ يُقَالُ لِأَحَدِهِمَا "اَلْمُنْكَرُ" وَلِلْآخَرِ "اَلنَّكِيْرُ" فَيَقُوْلَانِ: مَا كُنْتَ تَقُوْلُ فِيْ هٰذَا الرَّجُلِ؟ فَيَقُوْلُ: هُوَ عَبْدُ اللهِ وَرَسُوْلُهُ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُوْلُهُ. فَيَقُوْلَانِ: قَدْ كُنَّا نَعْلَمُ أَنَّكَ كُنْتَ تَقُوْلُ هٰذَا. ثُمَّ يُفْسَحُ لَهُ قَبْرُهُ سَبْعُوْنَ ذِرَاعًا فِيْ سَبْعِيْنَ. ثُمَّ يُنَوَّرُ لَهُ فِيْهِ. ثُمَّ يُقَالُ لَهُ: نَمْ. فَيَقُوْلُ: أَرْجِعُ إِلٰى أَهْلِيْ فَأُخْبِرُهُمْ. فَيَقُوْلَانِ: نَمْ كَنَوْمَةِ الْعَرُوْسِ الَّذِيْ لَا يُوْقِظُهُ إِلَّا أَحَبُّ أَهْلِهِ إِلَيْهِ حَتّٰى يَبْعَثَهُ اللهُ مِنْ مَضْجَعِهِ ذٰلِكَ. وَإِنْ كَانَ مُنَافِقًا أَوْ كَافِرًا قَالَ: سَمِعْتُ النَّاسَ يَقُوْلُوْنَ قَوْلًا فَقُلْتُ مِثْلَهُ لَا أَدْرِيْ. فَيَقُوْلَانِ: قَدْ نَعْلَمُ أَنَّكَ تَقُوْلُ ذٰلِكَ. فَيُقَالُ لِلْأَرْضِ: اِلْتَئِمِيْ عَلَيْهِ فَتَلْتَئِمُ عَلَيْهِ فَتَخْتَلِفُ أَضْلَاعُهُ فَلَا يَزَالُ فِيْهَا مُعَذَّبًا حَتّٰى يَبْعَثَهُ اللهُ مِنْ مَضْجَعِهِ ذٰلِكَ. ذكره السيوطي في الدر المنثور ۲/ ۸۲، نزهة الناظرين في الاخبار والآثار المروية عن الانبياء والصالحين الفصل الاول في سؤال منكر ونكير ص ۶۲۲

(۲) البقره آيت ۳۰.

(۳) البقره آيت ۳۰.

کله چې دې ورته ووايي : رَبِّيَ اللّٰهُ ، وَدِينِيَ الْإِسْلَامُ . زما رب الله ﷻ دی او . زما دین اسلام دی. نو الله تعالی دې فرښتو و فرمايي :

يَا مَلَائِكَتِيْ اُنْظُرُوْا إِلٰى عَبْدِيْ قَدْ أَخَذْتُ رُوْحَهُ وَمَالَهُ . فَمَالُهُ لِعَدُوِّهِ وَزَوْجَتُهُ فِيْ حِجْرِ غَيْرِهِ وَضَيْعَتُهُ فِيْ يَدِ غَيْرِهِ . ثُمَّ إِنَّ الْمَلَائِكَةَ سَأَلُوْهُ فِيْ بَطْنِ الْأَرْضِ وَلَمْ يَذْكُرْ غَيْرَ تَوْحِيْدِيْ وَتَنْزِيْهِيْ لِتَعْلَمُوْا أَنِّيْ أَعْلَمُ مَا لَا تَعْلَمُوْنَ . (۱)

اې زما فرښتو ! تاسو زما دې بنده ته وګورئ چې ما دده نه روح او مال اخيستی ، دده مال بل چا ته پاتې شو ، بي بي يې د بل کس په نکاح کې راغله ، او اولاد يې د بل چا په لاس کې راغی ليکن بيا هم چې فرښتې دده نه د زمکې په خيته کې د رَب متعلق پوښتنه کوي نو دې زما د توحيد او پاکۍ نه علاوه بل شی نه ذکر کوي .

اې فرښتو ! دا ددې د پاره چې تاسو پوهه شئ چې زه پوهه يم په هغه څه باندې چې تاسو پرې نه پوهيږئ .

## په قبر کې د مومن د پاره راحت او د کافر و منافق د پاره سختي

د بخاري شريف حديث دی ، نبي اکرم صلی الله عليه وسلم فرمايي :

إِنَّ الْعَبْدَ إِذَا وُضِعَ فِيْ قَبْرِهِ وَتَوَلّٰى عَنْهُ أَصْحَابُهُ إِنَّهُ لَيَسْمَعُ قَرْعَ نِعَالِهِمْ أَتَاهُ مَلَكَانِ فَيُقْعِدَانِهِ فَيَقُوْلَانِ : مَا كُنْتَ تَقُوْلُ فِيْ هٰذَا الرَّجُلِ ؟ (لِمُحَمَّدٍ) فَأَمَّا الْمُؤْمِنُ فَيَقُوْلُ : أَشْهَدُ أَنَّهُ عَبْدُ اللّٰهِ وَرَسُوْلُهُ . فَيُقَالُ لَهُ : أُنْظُرْ إِلٰى مَقْعَدِكَ مِنَ النَّارِ قَدْ أَبْدَلَكَ اللّٰهُ بِهِ مَقْعَدًا مِنَ الْجَنَّةِ فَيَرَاهُمَا جَمِيْعًا . وَأَمَّا الْمُنَافِقُ وَالْكَافِرُ فَيُقَالُ لَهُ : مَا كُنْتَ تَقُوْلُ فِيْ هٰذَا الرَّجُلِ ؟ فَيَقُوْلُ : لَا أَدْرِيْ . كُنْتُ أَقُوْلُ مَا يَقُوْلُ النَّاسُ . فَيُقَالُ لَهُ : مَا دَرَيْتَ وَلَا تَلَيْتَ ، وَيُضْرَبُ بِمَطَارِقَ مِنْ حَدِيْدٍ ضَرْبَةً فَيَصِيْحُ صَيْحَةً يَسْمَعُهَا مَنْ يَلِيْهِ غَيْرُ الثَّقَلَيْنِ (۲)

---

(۱) نزهة الناظرين في الاخبار والآثار المروية عن الانبياء والصالحين ص ۶۴۳ الفصل الثاني في سوال منكر ونكير.

(۲) هذا الحديث اخرجه البخاري في الجنائز باب الميت يسمع خفق النعال ۱۳۳۸ وباب ما جاء في عذاب القبر ۱۳۷۴ ، واخرجه ابوداود في الجنائز ۳۲۳۱ وفي السنة باب في المسألة في القبر وعذاب القبر ۴۷۵۱ ، ۴۷۵۲ ، واخرجه النسائي في الجنائز باب المسألة في القبر ۲۰۵۰ وباب مسألة الكافر ۲۰۱ .

بنده چې کله په قبر کې کېښودې شي او په جنازه کې شريک خلق دده نه رخصت شي نو دې د
هغوی د خپو کشار آوري چې په دې کې ده ته دوه (۲) فرښتې راشي، دې راکينوي او پوښتنه
ورنه وکړي: مَا كُنْتَ تَقُوْلُ فِيْ هٰذَا الرَّجُلِ؟ ته د دې سړي په حق کې څه وايې؟ (فرښتې اِشاره
رسول الله ﷺ طرف ته وکړي). (۱)

---

(۱) مړي ته په قبر کې د نبي ﷺ شکل خودلو باره کې علمي تحقيق:
قِيْلَ يُكْشَفُ لِلْمَيِّتِ حَتّٰى يَرَى النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهِيَ بُشْرىٰ عَظِيْمَةٌ لِلْمُؤْمِنِ إِنْ صَحَّ ذٰلِكَ. وَلَا أَعْلَمُ حَدِيْثًا مَرْوِيًّا فِيْ ذٰلِكَ. وَالْقَائِلُ بِهِ إِنَّمَا إِسْتَنَدَ بِمُجَرَّدِ أَنَّ الْإِشَارَةَ لَاتَكُوْنُ إِلَّا لِلْحَاضِرِ. لٰكِنْ يَحْتَمِلُ أَنْ يَكُوْنَ الْإِشَارَةُ لِمَا فِي الذِّهْنِ فَيَكُوْنُ مَجَازًا. قاله العسقلاني، بذل المجهود في حل ابي داود ج۱۸ ص۱۵۸.

علامه تقي عثماني صاحب په تکملة د فتح الملهم کې ليکي:

ثُمَّ اشْتهرَ فِيْمَا بَيْنَ النَّاسِ أَنَّ الْمَيِّتَ يَرىٰ صُوْرَةَ النَّبِيِّ ﷺ عِنْدَ هٰذَا السُّؤَالِ. وَلٰكِنِّيْ لَمْ أَجِدْهُ ذٰلِكَ مُصَرَّحًا فِيْ شَيْءٍ مِنَ الرِّوَايَاتِ. ثُمَّ رَأَيْتُ فِيْ رِسَالَةٍ لِلْحَافِظِ ابْنِ حَجَرٍ رَحِمَهُ اللّٰهُ إِسْمُهَا "اَلْجَوَابُ الْكَافِيْ عَنِ السُّؤَالِ الْخَافِيْ" (وَهِيَ رِسَالَةٌ أَجَابَ فِيْهَا عَلىٰ عِدَّةِ أَسْئِلَةٍ مِنْ أَحْوَالِ الْمَوْتىٰ وَالْقُبُوْرِ) أَنَّهُ قَالَ:
وَأَمَّا الثَّامِنُ: وَهُوَ هَلْ يُكْشَفُ لَهُ (اَيْ لِلْمَيِّتِ) حَتّٰى يَرَى النَّبِيَّ ﷺ؟ فَالْجَوَابُ: أَنَّ هٰذَا لَمْ يَرِدْ فِيْ خَبَرٍ صَحِيْحٍ. وَإِنَّمَا إِدَّعَاهُ مَنْ لَايَحْتَجُّ بِهِ بِغَيْرِ مُسْتَنَدٍ. إِلَّا مِنْ جِهَةِ قَوْلِهِ: "فِيْ هٰذَا الرَّجُلِ" وَإِنَّ الْإِشَارَةَ بِلَفْظِ "هٰذَا" تَكُوْنُ لِلْحَاضِرِ. وَهٰذَا لَا مَعْنىٰ لَهُ. لِأَنَّهُ حَاضِرٌ فِي الذِّهْنِ. مجموعة الرسائل المنيرية، ۳/ ۴۱، تکملة فتح الملهم شرح صحيح مسلم ج۶ ص۱۲۴ مسالة عذاب القبر.

بعضې علماء وايي چې په قبر کې د نبي عليه السلام شکل خودل په هيڅ روايت کې ثابت نه دي. آپ کے مسائل اور ان کا حل ج۲ ص ۴۱۲.

وَفِيْ رِوَايَةٍ عِنْدَ أَحْمَدَ وَالطَّبْرَانِيِّ: مَا تَقُوْلُ فِيْ هٰذَا الرَّجُلِ؟ قَالَ: مَنْ؟ قَالَ: مُحَمَّدٌ. فَيَقُوْلُ... قَالَ ابْنُ حَجَرٍ: وَلَايَلْزَمُ مِنَ الْإِشَارَةِ مَا قِيْلَ مِنْ رَفْعِ الْحُجُبِ بَيْنَ الْمَيِّتِ وَبَيْنَهُ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتّٰى يَرَاهُ وَيُسْئَلُ عَنْهُ. لِأَنَّ مِثْلَ ذٰلِكَ لَايَثْبُتُ بِالْإِحْتِمَالِ. عَلىٰ أَنَّهُ مَقَامُ إِمْتِحَانٍ. وَعَدَمُ رُؤْيَةِ شَخْصِهِ الْكَرِيْمِ أَقْوىٰ فِي الْإِمْتِحَانِ.

قُلْتُ وَعَلىٰ تَقْدِيْرِ صِحَّتِهِ يَحْتَمِلُ أَنْ يَكُوْنَ مُقَيَّدًا لِبَعْضٍ دُوْنَ بَعْضٍ. وَالْأَظْهَرُ أَنْ يَكُوْنَ مُخْتَصًّا بِمَنْ أَدْرَكَ فِيْ حَيَاتِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ وَتَشَرَّفَ بِرُؤْيَةِ طَلْعَتِهِ الشَّرِيْفَةِ. مرقاة شرح مشكوة ج۱ ص۱۶۵ باب اثبات عذاب القبر الفصل الاول.

مومن به ورته ووايي : أَشْهَدُ أَنَّهُ عَبْدُ اللهِ وَرَسُوْلُهُ . زه دا ګواهي ورکوم چې دا د الله ﷻ بنده او (برحق) رسول دی.

ددې جواب په اوريدو سره به د فرښتو د طرفه ده ته وويل شي : ته په جهنم کې خپل ځای ته وګوره (که تا ايمان نه و راوړی نو دا به ستا ځای و، خو چونکه تا ايمان راوړی. (۱) نو) الله تعالی تاته ددې په بدله کې په جنت کې مقام درکړی. نو ده ته به په دې وخت کې جنت او جهنم دواړه اوخودې شي.

(حضرت قتادة رضي الله عنه وايي چې : ده ته به يا قبر دومره کلاو شي څومره چې دده نظر لړي).

نبي کريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل : چې د منافق او کافر نه کله پوښتنه وشي : مَاكُنْتَ تَقُوْلُ فِيْ هٰذَا الرَّجُلِ ؟ ته ددې کس په باره کې څه وايې ؟ (فرښتې به اشاره نبي ﷺ طرف ته وکړي).

دې به جواب ورکړي : لَا أَدْرِيْ ، كُنْتُ أَقُوْلُ مَا يَقُوْلُ النَّاسُ . زه نه پوهيږم ، خلقو به چې څه ويل ما به هم هماغه ويل.

ددې جواب په اوريدو سره به د فرښتو د طرفه ورته وويل شي : مَا دَرَيْتَ . وَلَا تَلَيْتَ . نه خو تا په خپله د پوهيدو کوشش کړی ، او نه دې د چا (ايمان والو) پيروي کړی.
يا به دې د اوسپنې په ګرزونو باندې په داسې زور سره ووهلې شي چې د هغې په وجه به دې داسې چغې جوړې کړي چې د انسانانو او پيريانو نه علاوه نور ټول نژدې مخلوق به يې اوري

**علمي تحقيق او تعارض ختمول** : د مخکيني حديث نه معلومه شوه چې د مړي نه به فرښتې درې (۳) پوښتنې کوي (د رب په باره کې ، د دين په باره کې ، او د نبي عليه السلام

(۱) د ابوداود شريف په روايت کې دلته داسې الفاظ دي : فَيَنْطَلِقُ بِهِ إِلَى بَيْتٍ كَانَ لَهُ فِي النَّارِ . فَيُقَالُ لَهُ : هٰذَا بَيْتُكَ كَانَ لَكَ فِي النَّارِ وَلٰكِنَّ اللهَ عَصَمَكَ وَرَحِمَكَ فَأَبْدَلَكَ بِهِ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ . ابوداود باب في المسألة في القبر وعذاب القبر ۴۷۵۱ .

په باره کې ) ، او د دې حديث نه معلومېږي چې فرښتې به د ده نه يوه پوښتنه کوي ( د نبي ﷺ په باره کې ) نو په ظاهره خو په دې کې تضاد معلومېږي .

خو حقيقت دا دی چې هيڅ تضاد نشته ځکه دا يوه پوښتنه د پيغمبر عليه السلام په باره کې داسې پوښتنه ده چې دا په هغه نورو دواړو باندې هم حاوي ده . يعنی د دې يو سوال په جواب سره د هغه نورو دوه (۲) سوالونو جوابونه هم معلومېږي ، نو ځکه په بعضو احاديثو کې صرف د يوې پوښتنې ذکر راغلی .

**اصولي خبره** : د قرآن کريم او احاديثو طرز همدا دی چې کله يوه واقعه پوره په تفصيل سره بيانوي ، او کله د هغې بعضې اجزاء بيانوي .

بل دا چې د نبي کريم ﷺ احاديث خو څه تصنيفي مقالات نه دي چې ګني هر ځای به پوره تفصيل وي بلکه د پيغمبر ﷺ احاديث عام طور مجلسي ارشادات دي ، او دا د فطرت بالکل برابره خبره ده چې يو معلِم او مُرَبِّي په خپلو اِرشاداتو کې کله د يوې خبرې پوره تفصيل بيانوي ، او کله د هغې بعضې اجزاء بيانوي .

دغه وجه ده چې په بعضو احاديثو کې د درې ( ۳ ) واړو پوښتنو ذکر دی ، او په بعضو کې صرف د يوې پوښتنې ذکر دی ، نو په دې کې هيڅ تضاد نشته . (۱)

## مومن په قبر کې په شين باغ کې

نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايي :

اَلْمُؤْمِنُ فِيْ قَبْرِهِ فِيْ رَوْضَةٍ خَضْرَاء ، وَيُرَحَّبُ لَهُ فِيْ قَبْرِهِ سَبْعُوْنَ ذِرَاعًا وَيُضِيْءُ حَتّٰى يَكُوْنَ كَالْقَمَرِ لَيْلَةَ الْبَدْرِ . هَلْ تَدْرُوْنَ فِيْمَا ذَا اُنْزِلَتْ ﴿ فَإِنَّ لَهُ مَعِيْشَةً ضَنْكًا (۲) ﴾ ؟ قَالُوْا : اَللّٰهُ وَرَسُوْلُهُ أَعْلَمُ .

---

(۱) معارف الحديث لمولانا محمد منظور نعماني رحمه الله ج۱ ص ۱۲۶ .

(۲) سورة طه آيت ۱۲۴ .

قَالَ : عَذَابُ الْكَافِرِ فِيْ قَبْرِهِ يُسَلَّطُ عَلَيْهِ تِسْعَةٌ وَتِسْعُوْنَ تِنِّيْنًا . هَلْ تَدْرُوْنَ مَا التِّنِّيْنُ ؟ تِسْعَةٌ وَتِسْعُوْنَ حَيَّةً . لِكُلِّ حَيَّةٍ سَبْعَةُ رُءُوْسٍ يَخْدِشُوْنَهُ وَيَلْسَعُوْنَهُ وَيَنْفُخُوْنَ فِيْ جِسْمِهِ إِلٰى يَوْمِ يُبْعَثُوْنَ . (۱)

مومن به په خپل قبر کې په شین باغ کې وي ، دده دپاره قبر اویا (۷۰) گزه فراخه کولې شي ، او دده قبر د څوارلسمې شپې سپوږمۍ غوندې روښانه کولې شي . آیا تاسو پوهیږۍ چې دا آیت ﴿ فَإِنَّ لَهُ مَعِيْشَةً ضَنْكًا ﴾ د چا په باره کې نازل شوی ؟

صحابه کرامو وفرمایل : الله ﷻ او دهغه رسول ښه پوهیږي (چې دا د چا په باره کې نازل شوی) . نبي علیه السلام وفرمایل : داد کافر د عذابِ قبر په باره کې نازل شوی ، دده ته به په قبر کې داسې عذاب ورکولې شي چې په ده باندې به په قبر کې نهه نوي (۹۹) تِنِّيْن (ماران) مسلط کړې شي . آیا تاسو پوهیږۍ چې تِنِّيْن څه شی دی ؟ (نبي علیه السلام پخپله ددې بیان وکړو چې) دا خو نهه نوي (۹۹) ماران (اژدهاگانې) دي ، او د هریو مار اووه (۷) سرونه دي چې د قیامت تر ورځې پورې به دې چیچي ، دده به ټکونه ورکوي ، او دده په جسم کې به زهر پُوکوي .

## د قبر په لیدلو د حضرت عثمان ﷺ حالت

د حضرت عثمان ﷺ په باره کې راځي چې کله به دې د یو قبر سره نزدې ودریدو نو دومره به یې وژړل چې ګیره مبارکه به یې د اُوښکو نه لمده شوه ، دده نه پوښتنه وشوه : (دا څه وجه ده چې) ته جنت او جهنم یادوی نو نه ژاړې خو ددې قبر (د لیدلو) د وجې ډیر ژاړې ؟ ده ورته وویل : نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي :

إِنَّ الْقَبْرَ أَوَّلُ مَنْزِلٍ مِنْ مَنَازِلِ الْآخِرَةِ فَإِنْ نَجَا مِنْهُ فَمَا بَعْدَهُ أَيْسَرُ مِنْهُ . وَإِنْ لَمْ يَنْجُ مِنْهُ فَمَا بَعْدَهُ أَشَدُّ مِنْهُ .

---

(۱) ذکره الزبیدي في الاتحاف (۱۰ / ۴۰۴) ، ورواه ابن حبان ، الترغیب والترهیب ج۴ ص ۶۶۵ کتاب ذکر الموت ومابعده .

بیشکه قبر د آخرت د منازلو نه اولنې منزل دی، که چیرته انسان د دینه نجات او موندو، نو راتلونکي منزلونه د دینه ډیر آسان دي، او که د قبر د منزل نه بنده نجات اونه موندو نو د دینه پس راتلونکي منزلونه د دینه هم سخت او مشکل دي.

حضرت عثمان رضی الله عنه وفرمایل چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم دا هم فرمایلي:

مَا رَأَيْتُ مَنْظَرًا قَطُّ إِلَّا وَالْقَبْرُ أَفْظَعُ مِنْهُ. (۱)

ما د قبر نه علاوه بل هیڅ منزل دومره سخت او خوفناک نه دې لیدلی څومره چې قبر سخت او خوفناک دی.

**فائده:** د حضرت عثمان رضی الله عنه مقصد داؤ چې کله زه په یو قبر باندې تیریږم نو ماته د رسول الله صلی الله علیه وسلم دغه ارشادات را یاد شي چې په دې سره د قبر او آخرت فکر کې مبتلاء شم نو ځکه وژاړم.

په یو روایت کې ورسره دا هم دي چې کله به حضرت عثمان رضی الله عنه د قبر سره ودریده نو دا اشعار به یې ویل:

فَإِنْ تَنْجُ مِنْهَا تَنْجُ مِنْ ذِيْ عَظِيْمَةٍ ❊ وَإِلَّا فَإِنِّيْ لَا أَخَالُكَ نَاجِيًا. (۲)

که چیرته تا د دینه نجات بیاموندو نو د یو لوي مصیبت نه به نجات ومومې، او که د دې نه دې نجات اونه موندو نو زه بیا تا لره نجات موندونکې نه موم.

## د قبر ازمایښتونو په اوریدو سره د صحابه کرامو حالت

حضرت اسماء بنت ابي بکر رضی الله عنها وایي:

---

(۱) عَنْ عُثْمَانَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّهُ كَانَ إِذَا وَقَفَ عَلَى قَبْرٍ بَكَى حَتَّى يَبُلَّ لِحْيَتَهُ. فَقِيْلَ لَهُ: تَذْكُرُ الْجَنَّةَ وَالنَّارَ فَلَا تَبْكِيْ، وَتَبْكِيْ مِنْ هَذَا؟ فَقَالَ إِنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: إِنَّ الْقَبْرَ أَوَّلُ مَنْزِلٍ مِنْ مَنَازِلِ الْآخِرَةِ فَإِنْ نَجَا مِنْهُ فَمَا بَعْدَهُ أَيْسَرُ مِنْهُ، وَإِنْ لَمْ يَنْجُ مِنْهُ فَمَا بَعْدَهُ أَشَدُّ مِنْهُ. قَالَ: وَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَا رَأَيْتُ مَنْظَرًا قَطُّ إِلَّا وَالْقَبْرُ أَفْظَعُ مِنْهُ. اخرجه ابن ماجه (۴۲۶۷)، والترمذي (۲۳۰۸)، الترغيب والترهيب ۶/۳۲۱۳.

(۲) الترغيب والترهيب كتاب الجنائز ۶/۳۲۱۳.

قَامَ رَسُوْلُ اللهِ خَطِيْبًا فَذَكَرَ فِتْنَةَ الْقَبْرِ الَّتِيْ يُفْتَنُ فِيْهَا الْمَرْءُ ذَلَمَّا ذَكَرَ ذٰلِكَ ضَجَّ الْمُسْلِمُوْنَ ضَجَّةً . (۱)

یوه ورځ رسول الله صلی الله علیه وسلم صحابه کرامو ته خطبه بیان کړه ، او په دې خطبه کې یې د هغه آزمائشونو ذکر وکړو په کوم کې چې وفات کیدونکې کس مبتلاء کیږي . کله چې نبي ﷺ صحابه کرامو ته ددې ذکر وکړو نو مسلمانانو د ویرې او دهشت د و جې نه چغې او سورې جوړې کړې .

## د عذابِ قبر نه پناه غوښتل په کار دي

قدرمنو ! مسلمان ته په کار دي چې دې هر وختې د عذابِ قبر نه پناه غواړي ځکه چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم اگر چې معصوم و خو لیکن بیا به یې هم دعذابِ قبر نه پناه غوښته ، لهذا زمونږ د پاره خو په طریق اولی بانديې د عذابِ قبر نه پناه غوښتل په کار دي .

## د نبي ﷺ د عذابِ قبر نه پناه غوښتل

امام بخاري رحمه الله مستقل باب ذکر کړی " بَابُ التَّعَوُّذِ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ " ، او په دې کې یې د حضرت ابوهریرة رضي الله عنه حدیث نقل کړی ، دې فرمایي :

كَانَ رَسُوْلُ اللهِ يَدْعُوْ وَيَقُوْلُ : اَللّٰهُمَّ إِنِّيْ أَعُوْذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ ، وَمِنْ عَذَابِ النَّارِ ، وَمِنْ فِتْنَةِ الْمَحْيَا وَالْمَمَاتِ وَمِنْ فِتْنَةِ الْمَسِيْحِ الدَّجَّالِ . (۲)

نبي کریم صلی الله علیه وسلم به چې دُعا کوله نو داسې به یې فرمایل : اې الله ! زه پناه غواړم په تا سره د عذابِ قبر نه ، د عذاب د جهنم نه ، د ژوند او د مرګ د ازمایشونو نه ، او د مسیح دجال د آزمائشونو نه .

د بخاري شریف حدیث دی ، چې یو کرت یوه یهودي ښځه حضرت عائشې رضی الله عنها ته راغله ، هغې د عذابِ قبر تذکره وکړه ، او وې ویل :

(۱) بخاري ج۱ باب ما جاء في عذاب القبر (۱۲۹۰) .

(۲) بخاري باب التعوّذ من عذاب القبر ۱۲۹۴ .

أَعَاذَكِ اللهُ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ. الله تعالى تا ته د عذاب قبر نه پناه در کړي.

نو حضرت عائشې رضى الله عنها د نبي کريم صلى الله عليه وسلم نه د عذابِ قبر باره کې پوښتنه وکړه ، نبي ﷺ ورته وفرمايل : نَعَمْ عَذَابُ الْقَبْرِ حَقٌّ. آو ، عذابِ قبر حق دى

حضرت عائشه رضى الله عنها فرمايي :

فَمَا رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعْدُ صَلّٰى صَلَاةً إِلَّا تَعَوَّذَ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ . (۱)

د دې نه پس ما نبي کريم صلى الله عليه وسلم هيڅ کله داسې نه دې ليدلى چې ده يو لمونځ کړې وي او په ښې کې يې د عذابِ قبر نه پناه نه وي غوښتې (بلکه د هر لمانځه سره به يې د عذابِ قبر نه پناه غوښته ).

## صحابه کرامو ته د عذابِ قبر نه د پناه غوښتلو حکم

حضرت زيد بن ثابت انصاري رضي الله عنه وايي : چې يو کرَت نبي کريم صلى الله عليه وسلم په خپله قچره باندې سور ؤ ، او د قبيله بني نجار د يو باغ سره تيريده ، مونږ صحابه کرام هم ورسره وو ، ناڅاپه د دوى قچره د لارې نه آخوا کړه شوه ، قريبه وه چې نبي عليه السلام يې غورځولې وى ، نبي ﷺ ناڅاپه وليده چې هلته شپږ يا پنځه يا څلور قبرونه وو ، پوښتنه يې وکړه : مَنْ يَعْرِفُ أَصْحَابَ هٰذِهِ الْأَقْبُرِ؟ د دې قبرونو خاوندان څوک پيژني ؟ (يعنى په تاسو کې چا ته معلومه ده چې په دې قبرونو کې څوک دي ؟ )

په دې کسانو کې يو ووېل : زه يې پيژنم . نبي ﷺ ورته وفرمايل :

فَمَتٰى مَاتُوْا؟ دا خلق په کومه زمانه کې مړه شوي ؟ هغه ورته ووېل : د شِرک په زمانه کې مړه شوي . رسول الله ﷺ ورته وفرمايل :

---

(۱) عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا أَنَّ يَهُوْدِيَّةً دَخَلَتْ عَلَيْهَا فَذَكَرَتْ عَذَابَ الْقَبْرِ فَقَالَتْ لَهَا : أَعَاذَكِ اللهُ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ . فَسَأَلَتْ عَائِشَةُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ عَنْ عَذَابِ الْقَبْرِ فَقَالَ : نَعَمْ عَذَابُ الْقَبْرِ حَقٌّ . قَالَتْ عَائِشَةُ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا : فَمَا رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعْدُ صَلّٰى صَلَاةً إِلَّا تَعَوَّذَ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ . بخاري ج۱ ما جاء في عذاب القبر ۱۲۸۹ .

إِنَّ هٰذِهِ الْأُمَّةَ تُبْتَلٰى فِيْ قُبُوْرِهَا فَلَوْ لَا أَنْ تَدَافَنُوْا لَدَعَوْتُ اللهَ أَنْ يُّسْمِعَكُمْ مِّنْ عَذَابِ الْقَبْرِ الَّذِيْ أَسْمَعُ مِنْهُ.

دا خلق په قبرونو کي په عذاب کي مبتلاء دي، که چيرته دا يَره نه وی چي تاسو به بيا مړي دفن نه کړئ نو ما به د الله ﷻ نه دُعا غوښتي وه چي څومره عذاب زه اورم د هغې نه څه به يې تاسو ته هم اورولي وی (خو د ما سره دا يَره ده چي که تاسو عذاب قبر واورئ نو بيا به خپل مړي نه خخوئ).

بيا رسول الله ﷺ مونږ طرف ته را متوجّه شو او وې فرمايل:

تَعَوَّذُوْا بِاللهِ مِنْ عَذَابِ النَّارِ. تاسو پناه وغواړئ په الله ﷻ سره د عذاب د اُور (جهنم) نه.

صحابه کرامو وفرمايل: نَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ عَذَابِ النَّارِ. مونږ پناه غواړو په الله ﷻ سره د عذاب د اُور نه.

بيا نبي کريم ﷺ وفرمايل: تَعَوَّذُوْا بِاللهِ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ. تاسو پناه وغواړئ په الله ﷻ سره د عذابِ قبر نه.

صحابه کرامو وفرمايل: نَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ. مونږ پناه غواړو په الله ﷻ سره د عذابِ قبر نه.

نبي ﷺ وفرمايل: تَعَوَّذُوْ بِاللهِ مِنَ الْفِتَنِ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ.

تاسو پناه وغواړئ په الله ﷻ سره د ښکاره او پټو فتنو نه.

صحابه کرامو وفرمايل: نَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الْفِتَنِ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ.

مونږ پناه غواړو په الله ﷻ سره د ښکاره او پټو فتنو نه.

نبي عليه السلام (بيا) وفرمايل:

تَعَوَّذُوْ بِاللهِ مِنْ فِتْنَةِ الدَّجَّالِ. تاسو پناه غواړئ په الله ﷻ سره د دجّال د فتنې نه.

صحابه کرامو وفرمایل : نَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ فِتْنَةِ الدَّجَّالِ . (۱)

مونږ پناه غواړو په الله ﷻ سره د فتنې د دجّال نه.

## په هره ورځ د قبر آواز

حضرت ابوهریرة رضي الله عنه وايي : (۲) يوه ورځ مونږ د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره د يو سړي جنازې سره لاړو ، کله چې جنازه قبرستان ته ورسيده ، نو نبي کريم ﷺ د يو قبر سره کيناست ، او وې فرمايل :

په قبر باندې داسې ورځ نه تيريږي چې دا په کې په ډير فصيح او صفا آواز سره دا اعلان نه کوي :

اې د آدم ځویه ! تا خو زه هير کړې يم ، آيا تا ته پته نشته چې زه کور د يواځې والي يم ؟ زه کور د نا آشنا والي يم ؟ زه کور د وحشت او ويرې يم ؟ زه کور د چينجو يم ؟ زه کور د تنګۍ

---

(۱) عَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ رضي الله عنه قَالَ بَيْنَمَا النَّبِيُّ ﷺ فِيْ حَائِطٍ لِبَنِي النَّجَّارِ عَلَى بَغْلَةٍ لَهُ ، وَنَحْنُ مَعَهُ . إِذْ حَادَتْ بِهِ فَكَادَتْ تُلْقِيْهِ . وَإِذَا أَقْبُرٌ سِتَّةٌ أَوْ خَمْسَةٌ أَوْ أَرْبَعَةٌ (قَالَ : كَذَا كَانَ يَقُوْلُ الْجَرِيْرِيُّ) فَقَالَ : مَنْ يَعْرِفُ أَصْحَابَ هٰذِهِ الْأَقْبُرِ ؟ فَقَالَ رَجُلٌ : أَنَا . قَالَ : فَمَتٰى مَاتَ هٰؤُلَاءِ ؟ قَالَ : مَاتُوْا فِي الْإِشْرَاكِ . فَقَالَ : إِنَّ هٰذِهِ الْأُمَّةَ تُبْتَلٰى فِيْ قُبُوْرِهَا فَلَوْ لَا أَنْ تَدَافَنُوْا لَدَعَوْتُ اللهَ أَنْ يُسْمِعَكُمْ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ الَّذِيْ أَسْمَعُ مِنْهُ . ثُمَّ أَقْبَلَ عَلَيْنَا بِوَجْهِهِ : فَقَالَ : تَعَوَّذُوْا بِاللهِ مِنْ عَذَابِ النَّارِ . قَالُوْا : نَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ عَذَابِ النَّارِ . فَقَالَ: تَعَوَّذُوْا بِاللهِ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ . قَالُوْا : نَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ . قَالَ : تَعَوَّذُوْا بِاللهِ مِنَ الْفِتَنِ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ . قَالُوْا : نَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الْفِتَنِ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ . قَالَ : تَعَوَّذُوْا بِاللهِ مِنْ فِتْنَةِ الدَّجَّالِ . قَالُوْا : نَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ فِتْنَةِ الدَّجَّالِ . هذا الحديث اخرجه مسلم باب عرض مقعد الميت من الجنّة أو النار عليه وإثبات عذاب القبر و التعوذ منه ۶۸/۷۱۶۹ (۲۸۶۸) ، واخرجه احمد في مسنده ۱۹۰/۵ والطبراني في المعجم الكبير ۱۲۲/۵ .

(۲) وَرُوِيَ عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ : خَرَجْنَا مَعَ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ فِيْ جَنَازَةٍ . فَجَلَسَ إِلٰى قَبْرٍ مِنْهَا فَقَالَ : مَا يَأْتِيْ عَلٰى هٰذَا الْقَبْرِ إِلَّا وَهُوَ يُنَادِيْ بِصَوْتٍ ذَلِقٍ طَلِقٍ : يَا ابْنَ آدَمَ نَسِيْتَنِيْ . أَلَمْ تَعْلَمْ أَنِّيْ بَيْتُ الْوَحْدَةِ ، وَبَيْتُ الْغُرْبَةِ ، وَبَيْتُ الْوَحْشَةِ ، وَبَيْتُ الدُّوْدِ ، وَبَيْتُ الضِّيْقِ ؟ إِلَّا مَنْ وَسَّعَهُ اللهُ عَلَيْهِ . ثُمَّ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : اَلْقَبْرُ إِمَّا رَوْضَةٌ مِنْ رِيَاضِ الْجَنَّةِ أَوْ حُفْرَةٌ مِنْ حُفَرِ النَّارِ . رواه الطبراني في الاوسط ، الترغيب والترهيب ج۲ ص ۱۱۹ الترغيب في ذكر الموت وقصر الامل ...

يم؟ البته که په چا باندې ما الله ﷻ فراخه کړي (نو بيا د هغه د پاره د تنګۍ کور نه يم).

بيا نبي ﷺ وفرمايل: قبر يا خو دجنت د باغيچو نه يوه باغيچه ده، او يا د جهنم د کندو نه يوه کنده ده.

د ترمذي شريف په روايت کې ورسره دا الفاظ هم شته: چې کله مومن په قبر کې دفن کړې شي نو قبر ورته مرحبا وايي، او دا ورته وايي:

أَمَا إِنْ كُنْتَ أَحَبَّ مَنْ يَمْشِيْ عَلَى ظَهْرِيْ إِلَيَّ فَإِذَا وَلِيْتُكَ الْيَوْمَ فَسَتَرَىٰ صَنِيْعِيْ بِكَ

زما په شا باندې چې څومره خلق ګرځېدل په هغې ټولو کې ته ماته ډير محبوب وې، نن چې زه په تا باندې مسلط شوم او ته ماته راغلی نو اوس به ته زما عمل (او احسان) اوګورې، چې زه د تا سره څنګه سلوک کوم؟

نبي عليه السلام وفرمايل:

فَيَتَّسِعُ لَهُ مَدَّ بَصَرِهِ، وَيُفْتَحُ لَهُ بَابٌ إِلَى الْجَنَّةِ.

دا قبر ده ته دومره فراخه شي څومره چې دده نظر لوېږي، او ده ته د جنت دروازه راخلاصه شي.

او چې کله فاجر او کافر دفن کړې شي نو قبر ده ته وايي:

لَا مَرْحَبًا وَلَا أَهْلًا أَمَا إِنْ كُنْتَ لَأَبْغَضَ مَنْ يَمْشِيْ عَلَى ظَهْرِيْ إِلَيَّ فَإِذَا وَلِيْتُكَ الْيَوْمَ إِلَيَّ وَصِرْتَ إِلَيَّ فَسَتَرَىٰ صَنِيْعِيْ بِكَ.

نه دې ستا د پاره مرحبا وي، او نه دې ستا د پاره خوش آمديد وي، زما په شا باندې چې څومره خلق ګرځېدل په دې ټولو کې ته ما ته ډير زيات ناخوښه (او مبغوض) وې، نن چې زه په تا باندې مسلط شوم او ته ما ته راغلی نو ته به زما عمل وګورې چې زه د تا سره څنګه عمل کوم؟

نبي عليه السلام وفرمايل: فَيَلْتَئِمُ عَلَيْهِ حَتَّى يَلْتَقِيَ عَلَيْهِ وَتَخْتَلِفُ أَضْلَاعُهُ.

دا قبر په ده باندې راتنګ شي، تر دې پورې چې په ده باندې به رايو ځای شي، او پښتۍ به يې په يو بل کې ورننوځي.

راوي وايي : چې دا قبر په ده باندې داسې راتنګ شي او پښتئ به يې په يوبل کې داسې ورننوځي چې نبي کريم ﷺ د پوهې د پاره د دواړو لاسونو ګوتې مبارکې په يو بل کې ورکړې . (چې دغه شان به يې پښتئ هم په يو بل کې ورننوځي) .

بيا نبي ﷺ وفرمايل :

وَيُقَيَّضُ لَهُ سَبْعُونَ تِنِّينًا . لَوْ أَنَّ وَاحِدًا مِنْهَا نَفَخَ فِي الْأَرْضِ مَا أَنْبَتَتْ شَيْئًا مَا بَقِيَتِ الدُّنْيَا فَتَنْهَشُهُ وَتَخْدِشُهُ حَتَّى يُفْضَى بِهِ إِلَى الْحِسَابِ .

په ده باندې به اويا (۷۰) ماران (اژدهاګاني) مسلط کړې شي ، (او دا به داسې ماران وي چې) که چيرته په دې کې يو مار په زمکه باندې پوکې وکړې نو تر د قيامت د ورځې پورې به دا زمکه څه شی رازرغون نه کړي ، دا ماران به دا کس ترهغې وخته پورې چيچي او ټکونه به ورکوي تر څو پورې چې دا سرې حساب وکتاب ته نه وي بوتلل شوی (يعنی د قيامت د ورځې پورې) .

(بيا) رسول الله ﷺ وفرمايل :

إِنَّمَا الْقَبْرُ رَوْضَةٌ مِنْ رِيَاضِ الْجَنَّةِ أَوْ حُفْرَةٌ مِنْ حُفَرِ النَّارِ . (۱)

يقيناً قبر يا خو د جنت د باغيچو نه يوه باغيچه ده ، او يا د جهنم د کندو نه يوه کنده ده .

## قبر هره ورځ پنځه کرتې آواز کوي

علماء ليکي چې قبر په هره ورځ پنځه (۵) کرتې دا آواز کوي :

يَا ابْنَ آدَمَ تَمْشِي عَلَى ظَهْرِي وَمَصِيرُكَ إِلَى بَطْنِي . يَا ابْنَ آدَمَ تَأْكُلُ الْأَلْوَانَ عَلَى ظَهْرِي وَتَأْكُلُكَ الدِّيدَانُ فِي بَطْنِي . يَا ابْنَ آدَمَ تَفْرَحُ عَلَى ظَهْرِي فَسَوْفَ تَحْزَنُ فِي بَطْنِي . يَا ابْنَ آدَمَ تَضْحَكُ عَلَى ظَهْرِي فَسَوْفَ تَبْكِي فِي بَطْنِي . يَا ابْنَ آدَمَ تذْنبُ عَلَى ظَهْرِي فَسَوْفَ تُعَذَّبُ فِي بَطْنِي . (۲)

(۱) رواه الترمذي كتاب القيامة باب ۲۶ (۲۴۶۰) ، والبيهقي ، الترغيب والترهيب ج۴ ص ۱۱۸ الترغيب في ذكر الموت وقصر الامل ...

(۲) نزهة الناظرين في الاخبار والآثار المروية عن الانبياء والصالحين ص ۶۲۰ كتاب ذكر الموت وما يتعلق به .

اې د آدم ځويه ! ته زما په شا باندې ګرځې خو ستا راتګ زما خيټې ته دى ، اې د آدم ځويه ! ته زما په شا باندې رَنګا رنګ طعامونه خورى خو زما په خيټه کې به تا چينجي اوخوري ، اې د آدم ځويه ! ته زما په شا باندې خوشحالي کوې خو ډير زر به ته زما په خيټه کې غمجن شې ، اې د آدم ځويه ! ته زما په شا باندې خاندې خو ډير زَر به ته زما په خيټه کې اوژاړې ، اې د آدم ځويه ! ته زما په شا باندې ګناهونه کوې خو ډير زر به تا ته زما په خيټه کې عذا ب درکړې شي .

## عُمر بن العزيزؒ ته د قبر نه آواز محسوسيدل

عمر بن عبدالعزيز رحمه الله يو کرَت د يوې جنازې سره لاړ ، کله چې مړې دفن شو .... نو دې د يو قبر سره ودريده ، او ډير يې اوژړل ، او دُعاګانې يې کولې .

ده د قبر نه يو هاتفي آواز محسوس کړو ( ګويا چې قبر ده ته دا وايي : ) اې عُمربن عبدالعزيز! ته د ما نه دا پوښتنه نه کوې چې زه دې خلقو سره څه سلوک کوم ؟ عمر بن عبدالعزيز وايي ما ورته وويل : ته د دوى سره څه سلوک کوې ؟ نو راته وې ويل :

زه د دوى کفَنُونه اوشکوم ، د دوى غوښې اوخورم ، د دوى د سترګو ګاتې مات کړم ، د دوى ګوتې د دوى د لاسونو نه جدا کړم ، د دوى لاسونه د مړوندونو او ولو نه جدا کړم ، ددوى خپې د ګيټو نه جدا کړم ، او غونډه خپه يې د پِتُون نه جدا کړم ، د دوى ګُناتې د ملاګانو نه جدا کړم .

کله چې عمر بن عبدالعزيز د تللو اراده وکړه ، نو د قبر نه آواز راغى :

أَلَا أُدُلُّکَ عَلَى أَکْفَانٍ لَا تَبلى ؟ آيا تا ته داسې کفنونه اونه ښايم چې هغه نه زړيږي ؟

ما ورته وويل : هغه څه شى دى ؟ نو وى ويل :

تَقْوَى اللّٰهِ وَالْعَمَلُ الصَّالِحُ . (۱) د الله ﷻ نه ويره ، او نيک عمل .

(۱) البداية والنهاية ج۵ ص ۲۴۰ جز ۹ حالات عمر بن عبدالعزيز رحمه الله ، احوال القبور لابن الجوزي ص ۲۳۲ ، الهواتف ص ۴۱ .

## عذابِ قبر بعض وخت د عبرت د پاره ښکاره کيږي

د رواياتو نه معلوميږي چې عذابِ قبر الله تعالى د انسانانو او پيريانو نه پټ ساتلى ځکه دد ې عذاب تعلق د عالمِ برزخ سره دى ، او د عالمِ برزخ احوال الله ﷻ د انسانانو او پيريانو نه پټ ساتلي .

ځکه په دې کې حکمت دادى چې که عذابِ قبر هر سړي وګوري نو بيا خو ايمان بالغيب نه پاتې کيږي ، بل دا چې بيا به څوک د ويرې نه خپل مړي هم خښ نه کړي او په خلقو کې به دومره ويره پيدا شي چې بيا به د دُنيانظام چليدل هم مشکل شي .(۱)

لکه حديث کې هم راځي چې يو کرَت رسول الله صلى الله عليه وسلم په خپله قچره سورۇ ، او د بني نجار په يو باغ کې تيريده چې ناڅاپه د دوى قچره د لارې نه کږه شوه قريبه وه چې نبي عليه السلام يې غورځولې وى ، هلته څه قبرونه وو ، او د قبرونو واله په عذابِ قبر کې مبتلاء وو ، نبي عليه السلام صحابه کرامو ته وفرمايل :

إِنَّ هٰذِهِ الْأُمَّةَ تُبْتَلَى فِي قُبُوْرِهَا فَلَوْ لَا أَنْ تَدَافَنُوْا لَدَعَوْتُ اللهَ أَنْ يُسْمِعَكُمْ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ الَّذِيْ أَسْمَعُ مِنْهُ .

دا خلق په قبرونو کې په عذاب کې مبتلاء دي ، که چيرته دا يَره نه وى چې تاسو به بيا مړي دفن نه کړئ نو ما به د الله ﷻ نه دُعا غوښتې وه چې څومره عذاب زه اورم د هغې نه څه به يې تاسو ته هم اورولې وى ( خو د ما سره دا يَره ده چې که تاسو عذاب قبر واورئ نو بيا به خپل مړي نه خخوئ ) .

البته بطورِ خَرْقُ الْعَادَةْ بعضې وخت الله ﷻ د څه مصلحت او غرض د پاره بعضې ځاى کې د قبر عذاب يا ثواب ښکاره کوي .

---

(۱) اَلْأَمْرُ الرَّابِعُ : أَنَّ اللهَ سُبْحَانَهُ جَعَلَ أَمْرَ الْآخِرَةِ وَمَا كَانَ مُتَّصِلًا بِهَا غَيْبًا ، وَحَجَبَهَا عَنْ إِدْرَاكِ الْمُكَلَّفِيْنَ فِيْ هٰذِهِ الدَّارِ ، وَذٰلِكَ مِنْ كَمَالِ حِكْمَتِهِ وَلِيَمِيْزَ الْمُؤْمِنُوْنَ بِالْغَيْبِ عَنْ غَيْرِهِمْ . كتاب الروح ص ۹۰ ، ۹۱ المسالة السابعة ، آپ کے مسائل اور ان کا حل ج۱ ص ۴۲۳ .

دغه وجه ده چې بعضې وخت د عبرت د پاره کوم ځای د قبر عذاب یا ثواب ښکاره شوی نو علماو په دې باندې مستقل کتابونه لیکلي : لکه علامه ابن قیم رحمه الله په کتابُ الرُّوح کې دغه شان څه واقعات ذکر کړي او بیا یې دهغې نه روستو لیکلي :

وَهٰذِهِ الْأَخْبَارُ وَاَضْعَافُهَا وَاَضْعَافُ اَضْعَافِهَا مِمَّا لَا يَتَّسِعُ لَهَا الْكِتَابُ مِمَّا اَرَاهُ اللهُ سُبْحَانَهُ بَعْضَ عِبَادِهِ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ وَنَعِيْمِهِ عَيَانًا . وَأَمَّا رُؤْيَةُ الْمَنَامِ فَلَوْ ذَكَرْنَاهَا لَجَاءَتْ عِدَّةَ أَسْفَارٍ...(۱)

دا واقعات کوم چې ما دلته ذکر کړه ، او ددې غوندې نور بې شمیره واقعات هم شته د کوم چې په دې کتاب کې د لیکلو گنجائش نشته ، دا ټول د هغې قبیلې نه دي چې الله ﷻ بعضې بندگانو ته د قبر عذاب یا د قبر نعمتونه ښکاره کوي (یعنی په ویښه یې ورته ښایي) او هرڅې په خُوب کې د قبر عذاب یا نعمتونه لیدل دي نو دا خو ډیر زیات دي ، که چیرته هغه ذکر کړم نو د هغې نه څو جلدونه جوړیږي .

بیا خاصکر الله تعالی بعضې اولیاء الله د قبرونو واله د حالاتو نه خبروي :

شیخ عبدالوهاب شعراني رحمه الله وايي :

أَنَّ كُلَّ مَنْ رَزَقَهُ اللهُ تَعَالَى الْأَمَانَةَ مِنَ الْأَوْلِيَاءِ سَمِعَ عَذَابَ الْقَبْرِ .(۲)

په اولیاؤ کې چې چاته الله ﷻ امانت (یعنی په دین پوهه او ولایت) ورکړې وي نو هغه د قبر عذاب اَوري .

قَالَ ابْنُ الْقَيِّمِ رحمه الله : فَرُؤْيَةُ هٰذِهِ النَّارِ فِي الْقَبْرِ كَرُؤْيَةِ الْمَلَائِكَةِ وَالْجِنِّ تَقَعُ أَحْيَانًا لِمَنْ شَاءَ اللهُ أَنْ يُرِيَهُ ذٰلِكَ .(۳)

ابن قیم رحمه الله وايي : په قبر کې د اُور لیدل داسې دي لکه الله ﷻ چې چاته وغواړي نو کله هغه ته ملائک او جِن هم ښايي .

---

(۱) کتاب الروح لابن قیم رحمه الله ص ۱۱۲ ، معارف الحدیث ج۱ ص ۱۳۰ .

(۲) الیواقیت ج۲ ص ۱۲٦ .

(۳) کتاب الروح ص ۸۹ المسالة السابعة فصل الامر الخامس ، فتاوىٰ حقانیه ج۱ ص ۱۷۸ .

بلكه د عذابِ قبر ليدلو دپاره ولايت او بزرگي هم شرط نه ده ، ځكه بعضې وخت فاسِق او فاجر هم ددې مشاهده كوي .

او په كوم حديث كې چې ذكر دي : فَيَصِيحُ صَيْحَةً يَسْمَعُهَا مَنْ يَلِيهِ غَيْرُ الثَّقَلَيْنِ . (۱)

نو په دې كې د غَيْرُ الثَّقَلَيْنِ قيد عاديه دى ، يعنى د الله ﷻ سُنّت او عادتِ عام دادى چې انسانانو او پيريانو ته عذابِ قبر نه ښايي ، خو خلافِ عادت كله كله دوى هم ددې مشاهده كوي . (۲)

## د نمونې د پاره د عذابِ قبر يو څو واقعات ستاسو د وړاندې ذكر كوم :

## ۱ . د لمونځ په پرېښودو سره قبر د اُور د لمبو نه ډكېدل

عمر بن دينار وايي چې په مدينه كې يو كس اوسيده ، د هغه يوه خور وه هغه وفات شوه ده د هغې د كفن او دفن انتظام وكړو ، كله چې يې په قبر كې كيښوده ، او كور ته راغى نو ورته راياد شو چې په قبر كې رانه قيمتي كاغذونه غورځيدلي ، نو د ځان سره يې بل كس هم روان كړو ، كله يې چې قبر راوسپړل ، او د قبر اوله تبې يې را لرې كړه نو وې ليده چې قبر ټول د اُور د لمبو نه ډک دى ، ده زر قبر بند كړو ، كور ته راغى ، او د مور نه يې پوښتنه وكړه چې زما خور به څه كار كولو چې په دومره غټ عذاب كې گرفتاره وه ؟

هغې ورته وويل : دې به خپل لمونځ د خپل وخت نه روستو كولو ، او بې اودسه به يې كولو ، او كله به چې گاونډيان اُوده شو نو دا به د هغوى دروازې ته لاړه او د هغوى پټ رازونه به يې معلومول . (۳)

---

(۱) هذا الحديث أخرجه البخاري فى الجنائز باب الميت يسمع خفق النعال ۱۳۳۸ وباب ما جاء في عذاب القبر ۱۳۷۴ ، واخرجه أبوداود فى الجنائز ۳۲۳۱ وفى السنة باب فى المسالة فى القبر وعذاب القبر ۴۷۵۱ ، ۴۷۵۲ ، واخرجه النسائي فى الجنائز باب المسالة فى القبر ۲۰۵۰ وباب مسالة الكافر ۲۰۱ .

(۲) فتاوىٰ حقانيه ج۱ ص ۱۷۸ .

(۳) أحمد ، نسائي ، إبن خزيمه ، بيهقي ، ابن ابى الدنيا ، شرح الصدور باب ۲۷ باب عذاب القبر ۲۴۴ ، إبن حجر الزواجر ، ملك الموت والانبياء ص ۱۸۸ ، موت اور قبر كے حيران كن واقعات اور جديد تحقيقات ص ۳۰۰ .

## ۲. د نبوي سُنتو نه د اِعراض کولو په وجه په قبر کې د قبلې نه مخ اوړيدل

ابو اسحاق فزاري ته يو کفن کش وويل : ما به قبرونه کنيسته، په دې کې ما داسې قبرونه هم ليدلي چې د مړي مخ به په قبر کې د قبلې نه راوړيدلې و.

ابو اسحاق فزاري وايي : ما ددې باره کې د امام اوزاعي نه پوښتنه وکړه (چې په قبر کې ددې خلقو مخونه ولې اوړيدلي؟) هغه راته وويل : دوی ته دا عذاب ځکه ورکولې شي چې أُولٰئِکَ قَوْمٌ مَاتُوا عَلٰی غَيْرِ السُّنَّةِ. دا خلق په داسې حالت کې مړه شوي چې دوی به د نبي عليه السلام په سنتو باندې عمل نه کولو، او ددې نه به يې اعراض کولو. (۱)

## ۳. د مور په نافرمانۍ د قبر نه د خره آواز راتلل

علامه ابن قيم رحمه الله په خپل کتاب "کتاب الروح" کې ليکلي چې ابو قزعه رحمه الله وايي : يو کرت مونږ د بصرې سفر کولو، په يوه علاقه تيريدو نو په هغه ځای کې مو د خره آواز واوريده، د خلقو نه مو پوښتنه وکړه چې دا د خره آواز د کوم ځای نه را اوځي؟ هغوی راته وويل : دلته نزدې زمونږ يو ګاونډي اوسيده، کله به چې هغه ته خپلې مور نصيحت کولو نو ده به هغې ته ويل : "ته څه د خره غوندې آوازونه کوې : "، نو د کله نه چې دا کس وفات شوی د هماغې وخت نه تر اوسه پورې هره ورځ د ده د قبر نه د خره آوازونه راوځي. (۲)

## ٤. د جُنابت نه غُسل نه کولو په وجه د قبر عذاب

په شرح الصدور کې يوه واقعه ذکر ده چې ابان بن عبدالله البجلي وايي : زمونږ يو ګاونډي وفات شو، مونږ د هغه په کفن دفن کې شريک شو، کله چې مونږ هغه قبرستان ته ونړ وړو، او په قبر کې مو د ايښودلو اِراده وکړه نو د هغه په قبر کې د پيشو غوندې يو حيوان راووت، خلقو کوشش وکړو چې دا شی ددې قبر نه را اوباسي، خو هغه د قبر نه نه راوته. مونږ مجبور شو او په بل ځای کې مو ورله قبر وکنيسته، په هغې کې هم همدا

---

(۱) ابن ابي الدنيا، ابن ابي الشيبه، شرح الصدور باب ۲۷ باب عذاب القبر. ملک الموت والانبياء ص۱۸۹).

(۲) کتاب الروح لابن قيم ص ۳۷.

حیوان موجود و ، بیا مو په دریم ځای کې ورله قبر وکنیسته هلته هم موجود و ، آخر مونږ عاجزه شو او دا مړې مو په همدې قبر کې دفن کړو ، قبر چې کله تیار شو او خلق ورته راروانیده نو د قبر نه یو خطرناک د ډَهماکې غوندې غټ آواز راووت ، خلق ډیر حیران شو ، چې دا د کومې گناه په وجه ده ته دومره سخته سزا ورکړې شوه ؟ نو دا خلق ددې مړي کورته راغله ، او دده د بي بي نه یې پوښتنه وکړه : چې دده کوم عمل داسې و چې د هغې په وجه ده ته داسې سخته سزا ورکړې شوه ؟ هغې ورته وویل : ده به د جُنابت نه غُسل نه کولو . (۱)

# د مرګ نه پس په کار راتلونکي اعمال

بعضې اعمال داسې دي چې د وفات نه روستو هم ده ته د هغې ثواب رسي ، نبي علیه السلام فرمايي :

إِذَا مَاتَ الْإِنْسَانُ اِنْقَطَعَ عَنْهُ عَمَلُهُ إِلَّا مِنْ ثَلٰثَةٍ : إِلَّا مِنْ صَدَقَةٍ جَارِيَةٍ ، أَوْ عِلْمٍ يُنْتَفَعُ بِهِ ، أَوْ وَلَدٍ صَالِحٍ يَدْعُوْ لَهُ . (۲)

کله چې انسان وفات شي نو دده نه د عمل سلسله قطعه شي لیکن د دریو (۳) عملونو ثواب د مرګ نه روستو هم جاري وي :

۱. صدقه جاریه ( لکه جُمات جوړول ، مدرسه جوړول ، کوهي ویستل وغیره ) .

۲. نفع ورکوونکې عِلم ( په دې کې شاګردانو ته دَرس او عِلمي تصنیفات هم شامل دي ) .

۳. نیک اولاد چې دده د پاره د خیر دُعا کوي .

په یو بل حدیث کې څه تفصیل ذکر دی ، نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمايي :

سَبْعَةٌ يَجْرِيْ أَجْرُهَا لِلْعَبْدِ بَعْدَ مَوْتِهٖ وَهُوَ فِيْ قَبْرِهٖ : مَنْ عَلَّمَ عِلْمًا ، أَوْ أَجْرٰى نَهْرًا ، أَوْ حَفَرَ بِئْرًا ، أَوْ غَرَسَ نَخْلًا ، أَوْ بَنٰى مَسْجِدًا أَوْ وَرَّثَ مُصْحَفًا ، أَوْ تَرَكَ وَلَدًا يَسْتَغْفِرُ لَهٗ بَعْدَ مَوْتِهٖ . (۳)

(۱) شرح الصدور باب ۲۷ باب عذاب القبر ص ۲۴۴ .

(۲) مسلم ۲ / ۴۱ .

(۳) ذکره الهیثمي في المجمع ۱ / ۱٦۸ ، نزهة الناظرین في الاخبار والآثار المرویة عن الانبیاء والصالحین الفصل الثالث فیما ینفع المیت في قبره ص ٦۴۵ .

اووه (۷) شيان داسې دي چې د هغې ثواب انسان ته د مرګ نه پس هم رسي حالانکه داسړی به په قبر کې وي. په دې کې اول کس هغه دی چا چې بل ته عِلم خودلې وي (او دا سلسله همداسې په مخکې جاري وي).

دويم هغه کس دی چې نهر يې جاري کړې (او کُنستې) وي.

دريم هغه کس چې کوهي يې کنستي وي (او د دينه خلق اُوبه ځکي).

څلورم هغه کس دی چې څه اُونه يې کرَلې وي (او د هغې نه خلق ميوه خوري).

پنځم هغه کس دی چې جُمات يې جوړ کړې وي.

شپږم هغه کس دی چې قرآن مجيد يې په ميراث کې پرېښې وي (او په هغې کې خلق تلاوت کوي).

اووم هغه کس دی چې داسې نيک اولاد يې پرېښې وي چې دده د مرګ نه روستو دده دپاره استغفار وايي او دده پسې دُعاګانې کوي.

امام احمد بن حنبل رحمه الله وايي: کله چې تاسو قبرستان ته لاړ شئ نو هلته سورة فاتحه، قُلْ هُوَاللّٰهُ أَحَدٌ او معوّذتين وايئ، او د هغې ثواب قبرستان والو ته ببښئ، ځکه چې دا ثواب دوی ته رسيږي. (۱)

# مړو ته د تلاوت ثواب ببښَل

## اوله واقعه

حضرت حماد مکي رحمه الله خپله يوه واقعه بيانوي: چې يوه شپه زه د مکې معظمې يو قبرستان ته لاړم، هلته خُوب راغی او اُوده شوم، ناڅاپه مې په خُوب کې وليده چې دا مړي ټول راجمع شوي او حَلقه يې جوړه کړې.

ما ورته وويل: آيا قيامت قائم شوی چې تاسو ټول د قبرونو نه راوتلي يئ؟ هغوی وويل: نه. (قيامت نه دې قائم شوی)، خو زمونږ يو اسلامي ورور قُلْ هُوَاللّٰهُ أَحَدٌ ويلی

(۱) مظاهرِ حق شرح مشکوة ج۳ ص ۱۹٦ باب دفن الميت.

او د هغې ثواب يې مونږ قبرستان واله ته رابښلی ، نو مونږ د يو کال نه دلته ناست يو او هغه
د يو قُلْ هُوَاللّٰهُ أَحَدٌ ثواب په خپل مينځ کې تقسيمو .(۱)

## دويمه واقعه :

يو عالِم ليکلي چې يو کس په خُوب کې قبرستان وليد چې د قبرونو نه مړي بهر راوتي ،
او څه شی راټولوي ، خو په دوی کې يو کس يو طرف ته بې غمه ناست دی ، او هيڅ شی نه
راټولوي . زه ډير په تعجب کې شوم چې دا خلق څه شی راټولوي ؟ او دا يو کس څنګه داسې
بې غمه ،خوشحال ناست دی ؟ نو زه ورغلم او ددې کس نه مې پوښتنه وکړه :
داخلق څه شی راټولوي ؟ هغه راته ووېل : کوم مسلمان چې استغفار ووايي ، تلاوت
وکړي ، يا بل عبادت وکړي او د هغې ثواب دې مړو پسې را اُوبښي نو دوی ته هغه ثوابونه
رارسي او دوی يې راټولوي .
ما ورنه بيا پوښتنه وکړه چې ته خو هم د دوی ملګرې يې ته ولې دومره بې غمه ناست
يې؟ هغه راته ووېل : زما يو ځوي دی هغه د قرآن مجيد ډير تلاوت کوي او د هغې ثواب
ماته رابخي هغه زما د پاره کافي دی . ما ورنه پوښتنه وکړه : هغه په کوم ځای کې دی؟
هغه راته ووېل : په فلاني ښار کې تجارت کوي .
کله چې زه سهر د خُوب نه راپاڅيدم ، او هغه ځای ته لاړم ، ما هلته يو ځوان وليد چې
دُکانداري يې کوله ، او شونډې يې خوزېدی . ما ورنه پوښتنه وکړه : اې ځوانه ! دا
شونډې دې څنګه خوزي؟ هغه راته ووېل :
زما پلار وفات شوی ، زه د قرآن مجيد تلاوت کوم او ددې ثواب د هغه پسې بښم .
څه وخت پس ما بيا هماغه شان خُوب وليد چې دا مړي د قبرونو نه راوتي ، او څه شی
ځانونو له راغونډوي ، خو عجيبه دا وه چې په دې ځل هغه سړي هم ددې نورو سره يو ځای
شيان راغونډول کوم چې اول بې غمه ناست و .
کله چې د خُوب نه رابيدار شوم ، نو حيران ووم چې په دې ځل هغه سړي هم د نورو
غونډې شيان راغونډول ، زه د ځوان په تلاش کې ووتم چې د هغه معلومات وکړم ، کله چې

(۱) مظاهرِ حق شرح مشکوة ج۳ ص ۱۹٦ باب دفن الميت .

هغه دُکان ته ورغلم، او د خلقو نه مې پوښتنه وکړه نو هغوی را ته وویل: څو ورځې شي چې هغه ځوان وفات شوی.

زه پوهه شوم چې اوس د هغه پلار پسې د تلاوت ثواب ښښولو واله څوک نه و نو ځکه یې د نورو مړو غونډې هغه ثوابونه راټولول کوم چې دعامو مسلمانانو د طرفه دوی ته ښښل شوي وو. (۱)

## په قبر کې د انسان نیک اعمال په کار راځي

قدرمنو! انسان ته په کار دي چې دې په نیک اعمالو کې کوشش وکړي، ځکه د مرګ نه روستو په قبر او آخرت کې د انسان نیک اعمال په کار راځي، او دا مال و دولت او بچي د انسان نه پاتې کیږي، د ده سره به قبر ته صرف نیک اعمال ځي.

الله تعالی فرمایي:

﴿اَلْمَالُ وَالْبَنُوْنَ زِيْنَةُ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَالْبَاقِيَاتُ الصَّالِحَاتُ خَيْرٌ عِنْدَ رَبِّكَ ثَوَابًا وَخَيْرٌ أَمَلًا﴾ (۲)

ترجمه: مال او اولاد خو صرف د دُنیا د ژوند یو زینت دی، او باقي پاتې کیدونکي نیک اعمال ستا د رب په نزد د ثواب او امید په اعتبار سره ډیر غوره دي.

په یو حدیث کې راځي چې مومن به د لرې نه اوګوري چې یو ډیر حسین وجمیل کس ده طرف ته راروان دی، دې به ډیر خوشحاله شي چې دا څوک دی؟ کله چې رانزدې شي نو دې به ورنه پوښتنه وکړي: ته څوک یې چې د دې بې کسۍ په حالت کې ماله راغلی؟

هغه به ورته ووایي: أَنَا عَمَلُكَ الصَّالِحُ. زه ستا نیک عمل یم (او تا ته تسلي درکوم چې هیڅ فکر مه کوه).

په قبر کې چې کله عذاب ده طرف ته راځي نو قرآن کریم د سَر طرف نه، لمونځ د ښي طرف نه، روژه د چپ طرف نه، او زکوة و صدقات به د خپو طرف نه د ده حفاظت کوي او عذاب به ورنه دفع کوي. نو په قبر کې هم د انسان نیک اعمال په کار راغلل.

(۱) موت اور قبر کے حیران کن واقعات ص ۲۸۴.

(۲) الکهف آیت ۴۶. نوټ: حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنه فرمايي چې د وَالْبَاقِيَاتُ الصَّالِحَاتُ نه مراد مطلق نیک اعمال دي.

# د مال، اولاد او نيکو اعمالو حيثيت

نبي کريم صلی الله عليه وسلم په يو حديث کې صحابه کرامو ته د مال و اولاد او نيکو اعمالو حيثيت ښکاره کړی. رسول الله ﷺ صحابه کرامو ته اوفرمايل:

د يو کس درې (۳) وروڼه وو، يو مشر، دويم مينځنې او دريم کشر. څه وخت پس چې دده د مرګ وخت رانزدې شو نو ده مشر ورور راووغوښت او ورته وې ويل:

اې وروره! ما د تا سره ټول عُمر ډير احسانات کړي، اوس په ما باندې سخته ده لهذا ته د ما سره څه مدد وکړه. هغه ورته په جواب کې ووېل:

زه ستا هيڅ اِمداد نه شم کولی، البته صرف دومره کولې شم چې تر څو پورې ستا په وجود کې روح موجود وي نو تر هغې وخته پورې به زه د تا سره ناست يم، خو چې کله ستا روح ووځي نو بيا به زما او ستا تعلق ختم وي. دا کس په دې جواب باندې سخت خفه شو.

بيا يې مينځنې ورور راووغوښت او د هغه نه يې د اِمداد سوال وکړو چې: زما آخري وخت دی، په ما باندې سختي ده، ته زما مدد وکړه، ځکه ما ټول عُمر د تاسره اِحسانونه کړي، خپله مې تکليف برداشت کړی خو ستا لحاظ مې ساتلی، اميد دی چې ته به زما مدد وکړې. هغه ورته ووېل: ستا خيال فاسِد دی، زه ستا هيڅ امداد نه شم کولی، زيات نه زيات به دومره وکړم چې ته کله مړ شې نو تا به په قبر کې دفن کړم، بيا به زما او ستا تعلق ختم وي. ده چې کله دا خبره واوريده نو ډير افسوس يې وکړو چې د کومو وروڼو سره مې ټول عُمر تکليفونه برداشت کړي وو هغوی خو ډير د نا اُميدۍ جوابونه راکړه.

په آخر کې يې کشر ورور راووغوښت، او ورته وې ويل: ته زما وروريې، ما د تا سره ډير ظلمونه کړي، ځما خُوله هم تا ته نه جوړيږي چې د تا نه مدد طلب کړم، خو اميد دی چې ته به زما مدد وکړې. هغه ورته ووېل: ته هيڅ غم مه کوه، زه به ستا هر قسمه مدد کوم، اګر چې تا د ما سره ډير بَد کړي خو آخر ته زما وروريې، زه به تا ته هيڅ تکليف نه راپريږدم، دې د هغه په تسلۍ باندې ډير خوشحاله شي.

ددې واقعې بيانولو نه روستو رسول الله ﷺ د صحابه کرامو نه پوښتنه وکړه: تاسو پيژنئ چې دا درې واړه وروڼه څوک دي؟ هغوی ووېل:

اَللّٰهُ وَرَسُوْلُهُ أَعْلَمُ . الله ﷻ او د هغه رسول ښه پوهيږي (چې دا دري ورونه څوک دي).

حضور صلی الله عليه وسلم وفرمايل: دا مشر ورور مال و دولت دی، چې انسان ټول عُمر ددې حاصلولو د پاره د ځان او د ايمان پرواه نه ساتي، هر قسمه ذلّت او تکليف برداشت کوي خو راجمع کوي يې، ليکن کله چې دې وفات شي نو د ټولو نه مخکې ورنه مال جدا کيږي او وارِثانو ته پاتې کيږي.

او دا مينځنې ورور اهل و عيال (بچي، ورور وغيره) دي، کله چې بچي نيک عمله نه وي نو زيات نه زيات به درسره د قبر پورې لاړ شي، د دفن کولو نه روستو به واپس درنه راځي.

البته که بچي نيکان وي او د والدينو دپاره دُعاګانې غواړي نو ددې فائده انسان ته د مرګ نه پس هم رسي.

او دا کشر ورور نيک عمل دی، اګر چې ده دا نيک اعمال په صحيح طريقه نه وي اداء کړي (لمونځ يې بې وخته کړې وي، روژه يې براى نام نيولې وه، صدقات يې د رياکارۍ نه ډک ورکړي) خو ليکن بيا هم چې د انسان کوم اعمال قبول شوي وي هغه اعمال دده په قبر کې هم په کار راځي او د قيامت په ورځ به يې هم په کار راځي. (۱)

## د ''سورة ياسين'' په برکت دقبر نه ژوندې راوتل

يو کرَت امام ناصرالدين بستي رحمه الله د سَکتې په مرض بيمار شو (سکته: داسې يو مرض دی چې سړې ژوندې وي خو خلقو ته مړ معلوميږي، ځکه ساه ډيره په قلاره آخلي نو داسې معلوميږي چې ګني وفات شوې دی)، خپلوانو ورباندې دا ګمان وکړو چې ګني دې وفات شو، غُسل او کفن يې ورکړو او جنازه يې پرې وکړه، او د شپې ناوخته يې خخ کړو، کله چې دې په قبر کې په هوش کې راغې، د سَکتې بيماري ورنه لاړه او خپل ځان يې په قبر کې وليد، نو ډير خفه شو چې دې خلقو خو زه ژوندې خخ کړې يم.

(۱) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: مَثَلُ ابْنِ آدَمَ وَمَالِهِ وَأَهْلِهِ وَعَمَلِهِ كَرَجُلٍ لَهُ ثَلَاثَةُ إِخْوَةٍ أَوْ ثَلَاثَةُ أَصْحَابٍ . فَقَالَ أَحَدُهُمْ: أَنَا مَعَكَ حَيَاتَكَ فَإِذَا مِتَّ فَلَسْتُ مِنْكَ وَلَسْتَ مِنِّي . وَقَالَ الْآخَرُ: أَنَا مَعَكَ فَإِذَا بَلَغْتَ تِلْكَ الشَّجَرَةَ فَلَسْتُ مِنْكَ وَلَسْتَ مِنِّي . وَقَالَ الْآخَرُ: أَنَا مَعَكَ حَيًّا وَمَيِّتًا . رواه البزار ور واته رواة الصحيح ، الترغيب والترهيب ج۴ ص ۸۲ الترغيب فى الزهد فى الدنيا ...

آخر يې ذهن ته دا خبره راغله چې كوم سرې په څه مشكل كې راګير شي او دې څلويښت (۴۰) كرَته سورة يسين ووايي نو الله ﷻ يې د دې مشكل نه اوباسي او فراخي ورباندې راولي ، نو ده سورة ياسين ويل شروع كړو .

چونكه دې شپې ناوخته خغ شوې و ، خلق چې ورنه څنګه لاړه نو يو كفن كش په منډه راغى ، او ده ده قبر راسپړل يې شروع كړه ، دې د پاره چې دا كفن ورنه را اوباسم او ځان له يې خرڅ كړم .

ناصرالدين بستي رحمه الله سورة ياسين نهه ديرش (۳۹) كرته پوره كړې و چې د قبر سپړلو درَزار يې واورېد ، ده په خپل فراست معلومه كړه چې دا څوک كفن كش دى ، نو سورة ياسين يې په قلاره ويل شروع كړه د دې د پاره چې دې او نه ويرېږي .

ده چې څنګه څلويښتمه (۴۰) پيره سورة ياسين ويل پوره كړه نو دې طرفته دې كفن كش هم قبر پوره راوسپړل ، كله چې دې كفن كش د قبر نه تبَي (غتې كاڼې) راپورته كړه نو ناصرالدين زر راپاڅيده او د قبر نه راووت ، دې كفن كش دا ګمان وكړو چې ګني دا مړى د ما پسې راپاڅيد ، د ډيرې ويرې دوجې نه كفن كش په هماغه ځاى كې وفات شو .

ناصرالدين بستي په همدغه شپه خپل ښار ته راغى او خلقو ته يې وويل : چې تاسو خو په ما باندې د مړ ګمان كړې و او زه مو ژوندې دفن كړې ووم .(او خپله واقعه يې ورته بيان كړه) . د دې واقعې نه روستو د شكريې په طور ناصرالدين بستي رحمه الله د قرآن كريم بهترين تفسير وليكل . (۱)

## د قبر نه آواز راتلل "چې دلته نيک اعمال په كار راځي"

كله چې حضرت فاطمة رضى الله عنها وفات شوه ، او د دې جنازه د قبر غاړې سره كېښودې شوه ، نو حضرت ابوذر غفاري ﷺ قبر ته خطاب كوي :

(۱) فوائد الفوائد مترجم ص ۱۳۹ . **نوټ** : كه د چا ذهن ته دا سوال راځي چې په قبر كې دا كس څنګه ژوندې پاتې شو حالانكه قبر كې خو تازه هوا نه وي ؟ جواب : كله چې د يو انسان نيټه پوره نه وي نو الله ﷻ يې په هر ځاى كې محفوظ ساتلې شي ، د مور په خيټه كې چې ماشوم ژوندې پاتې كيدې شي نو بيا په قبر كې هم الله ﷻ يو كس ژوندې ساتلې شي . ابوالشمس

يَا قَبْرُ ! أَتَدْرِيْ مَنِ اللَّتِيْ جِئْنَا بِهَا إِلَيْكَ ؟ هِيَ فَاطِمَةُ الزَّهْرَاءِ بِنْتُ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، وَزَوْجَةُ عَلِيِّ الْمُرْتَضٰى ﷺ ، وَأُمُّ الْحَسَنِ وَالْحُسَيْنِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا .

اې قبره ! تاته پته ده چې نن مونږ تاته کومه هستي راوړې ؟ دا خو حضرت فاطمة رضي الله عنها ده ، د رسول الله ﷺ لور مبارکه ده ، د حضرت علي ﷺ بي بي ده ، او د حضرت حسن او حضرت حسين رضي الله عنهما مور مبارکه ده ( نو ته خو ډير بختور يې ) .

د قبر نه يې يو هاتفي آواز واوريده :

مَا أَنَا مَوْضِعُ حَسَبٍ وَنَسَبٍ ، إِنَّمَا أَنَا مَوْضِعُ الْعَمَلِ الصَّالِحِ ، فَلَا يَنْجُوْ مِنِّيْ إِلَّا مَنْ كَثُرَ خَيْرُهُ ، وَسَلِمَ قَلْبُهُ ، وَخَلَصَ عَمَلُهُ . (۱)

زه د حسب و نسب بيانولو ځاى نه يم ، بلکه زه خو د عملِ صالح په باره کې د پوښتنې ځاى يم ، زما د عذاب نه به صرف هغه کس نجات مومي د چا چې خير ( نيک اعمال ) زيات وي ، زړه يې ( د کُفر ، شرک او ګناهونو نه ) سالِم وي ، او عمل يې خالص د الله ﷻ د پاره وي .

## د نيک عمله کس د خخيدو په وجه د نورو نزدې مړو مغفرت

کوم انسان چې نيک عمله وي او دې وفات شي نو په کومه مقبره کې چې دفن شي نو د ده د برکت نه الله جل جلاله د نورو نزدې ګناهګارانو مړو نه هم عذاب اوچتوي .

**واقعه** : ابن ابی الدنيا د عبدالله بن نافع ﷺ نه نقل کړې چې په مدينه منوره کې يو کس وفات شو او هملته په يو قبرستان کې دفن کړې شو ، يو څو ورځې روستو يو بزرګ دې په خوب کې وليد چې په سخت عذاب کې ګرفتار دى ، دا بزرګ ډير خفه شو .

يو څو جُمعې وروسته دې بزرګ بيا دې په خُوب کې وليد چې اوس په ډيرو نعمتونو او خوشحالۍ کې مشغوله دى ، دا بزرګ هم حيران شو چې دا سړې خو ما مخکې په ډير عذاب کې ګرفتار ليدلې و نو اوس څنګه په دې دومره ښه نعمتونو کې مشغوله دى ؟ د هغه نه يې پوښتنه وکړه ، هغه ورته ووېل : اصل واقعه همغه شان وه چې څنګه تا مخکې ليدلې وه ، زه د خپلو ګناهونو په وجه په عذاب کې مبتلاء ووم ، خو يو څو ورځې مخکې يو نيک سړې خلقو

(۱) مشکوة الانوار ، لدالي ممبر ومحراب ج۱ ص ۲۱۸ ، درة الناصحين ص ۱۹۱ مجلس ... في بيان الم الموت .

دلته نزدې دفن کړو ، هغه نيک سړي د الله ﷻ نه د نزدې څلويښتو (۴۰) کسانو د بخښش سفارش وکړو ، نو الله ﷻ د هغه سفارش قبول کړو او د دوی مغفرت يې وکړو ، په هغه څلويښتو کسانو کې يو زما نوم هم و نو ځکه زه په نعمتونو کې مشغوله يم . (۱)

## پنځه تيارې او پنځه رڼاګانې

حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه فرمايي:

اَلظُّلُمَاتُ خَمْسٌ وَالسُّرُجُ لَهَا خَمْسٌ : حُبُّ الدُّنْيَا ظُلْمَةٌ وَالسِّرَاجُ لَهُ التَّقْوٰى . وَالذَّنْبُ ظُلْمَةٌ وَالسِّرَاجُ لَهُ التَّوْبَةُ . وَالْقَبْرُ ظُلْمَةٌ وَالسِّرَاجُ لَهَا " لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللهِ " . وَالْاٰخِرَةُ ظُلْمَةٌ وَالسِّرَاجُ لَهَا الْعَمَلُ الصَّالِحُ . وَالصِّرَاطُ ظُلْمَةٌ وَالسِّرَاجُ لَهُ الْيَقِيْنُ . (۲)

تيارې پنځه (۵) دي ، او ددې دپاره ډيوې (رڼاګانې) هم پنځه (۵) دي :

۱ . د دُنيا محبت تياره ده ، او ددې دپاره ډيوه تقویٰ ده . ۲ . ګناه تياره ده او ددې دپاره ډيوه توبه ده . ۳ . قبر تياره ده او ددې د پاره ډيوه " لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللهِ " .
۴ . آخرت تياره ده او ددې دپاره ډيوه نيک عمل دی . ۵ . پُلِ صراط تياره ده او ددې دپاره ډيوه يقين دی.

## د ګناهګارانو په قبرونو کې ماران

حضرت عائشه رضی الله عنها فرمايي :

وَيْلٌ لِأَهْلِ الْمَعَاصِيْ مِنْ أَهْلِ الْقُبُوْرِ ، تَدْخُلُ عَلَيْهِمْ فِيْ قُبُوْرِهِمْ حَيَّاتٌ سُوْدٌ أَوْ دُهْمٌ ، حَيَّةٌ عِنْدَ رَأْسِهِ ، وَحَيَّةٌ عِنْدَ رِجْلَيْهِ ، تَقْرُصَانِهِ حَتّٰى يَلْتَقِيَا فِيْ وَسْطِهِ ، فَذٰلِكَ الْعَذَابُ فِي الْبَرْزَخِ الَّذِيْ قَالَ اللهُ تَعَالٰى : ﴿ وَمِنْ وَّرَائِهِمْ بَرْزَخٌ إِلٰى يَوْمِ يُبْعَثُوْنَ ﴾ . (۳)

(۱) کتاب القبور از مولانا عبدالمومن فاروقي ، موت اور قبر کے حيران کن واقعات ص ۱۸۶ .
(۲) منبهات ابن حجر العسقلاني رحمه الله باب الخماسي .
(۳) سورة المؤمنون آيت ۱۰۰ ، تفسير ابن کثير ج۴ ص ۴۹۳ آپ کے مسائل اور ان کا حل ج۲ ص ۲۶۳ .

په ګناهګاره قبرونو واله باندې دې هلاکت وي چې د دوی قبرونو ته به تک تور او برګ ماران داخلیږي، يو مار به د سَر له طرفه وي، او بل به د خپو له طرفه وي، دواړه به دا مړې چیچي، تر دې چې دا دواړه ماران به د مړي د بدن په مینځ کې سره يو ځای شي (چې په دې سره به مړې دوه ټوټې کړي). پس دا د برزخ هغه عذاب دی د کوم په باره کې چې الله تعالی فرمايي: ترجمه: د دوی د وړاندې برزخ دی چې دوی به په هغې کې تر قيامته پورې پاتې کیږي.

## مړې په مینځ دوه ټوټې کیدل

څه وخت مخکې د پیرودهائي راولپنډی په زوړ قبرستان کې د مړي د پاره يو قبر وکنیستې شو، کله چې مړې په دې قبر کې ورکوز کړې شو نو د قبر دواړه طرفونه داسې رابند شو ګويا چې دلته د سره چا قبر نه دې کنیستی.

هلته چې کوم موجود عالِم ورسره و هغه حکم وکړو چې دويم قبر ورله اوکنئ، کله يې چې دويم قبر جوړ کړو او هغې ته يې مړې کوزولو نو هغه هم رابند شو. په هغه موقعه موجود ټولو خلقو استغفار شروع کړو.

مولوي صاحب ورته ووېل چې بل ځای قبر ورته اوکنئ، کله يې چې ورته بل ځای قبر جوړ کړو، او دا مړې يې په کې کیښود نو ناڅاپه داسې ماران، لړمان او چينجي په کې راپيدا شو لکه د چينې نه چې اُوبه راخوټیږي.

مولوي صاحب ورته ووېل: دا دده خپل عمل دی په همدې کې دا مړې کیدئ، کله يې چې دا مړې په دې کې کیښود نو د مړي د لاندې طرف نه يو مار دده د اُوږو په طرف راپورته شو، او دويم مار د خپو د طرفه راپورته شو، بيا دا دواړه ماران په خپل مینځ کې يو ځای شو نو په لږ وخت کې يې دا مړې په مینځ داسې ټوټې کړو ګويا چې چا په اَره باندې غوڅ کړو. کله چې دا منظر په هغه ځای کې موجود خلقو ولیده نو په اکثرو باندې بې هوشي راغله. او دا خبر په راولپنډي (جنګ رپورټ) کې هم شائع شوې و.[1]

(۱) آپ کے مسائل اور ان کا حل ج۲ ص ۴۴۹ عذاب قبر کے اسباب

# د عذابِ قبر اَسباب :

د عذابِ قبر سبب د کبیره ګناهونو کول دي ، لهذا څوک چې ګناهِ کبیره کوي او بغیر د توبې نه مړ شي هغه به د قبر په سختیو کې مبتلاء کیږي .

بیا خاصکر کوم کس چې ښکاره د خلقو د وړاندې په فخر سره ګناهونه کوي ، یا د احکامِ شرعیه و سپکاوې کوي ، یا د کمزورو خلقو حقوق غصب کوي نو د داسې خلقو باره کې د عذابِ قبر ډیره ویره ده ، الله تعالی دې د دینه هر مسلمان اوساتي .

په احادیثو مبارکهؤ کې د ډیرو ګناهګارانو متعلق د عذابِ قبر تذکره راغلې ، کوم چې د بعضې ګناهونو په وجه په عذابِ قبر کې مبتلاء وو ، لهذا یو څو ګناهونه ستاسو د وړاندې بیانوم :

## ۱ ، ۲ : چُغل خوري او د تشو متیازو نه ځان نه ساتل

د عذابِ قبر اول سبب چُغل خوري ( یعنی د دوه و مسلمانانو په مینځ کې شیطانت ) کول ، او دویم سبب د تشو مِتیازو نه ځان نه ساتل دي .

امام بخاري او امام مسلم رحمهما الله د پیغمبر علیه السلام یو حدیث ذکر کړی ، په کوم کې چې د چُغل خورۍ او د تشو متیازو نه د ځان نه ساتلو په وجه د عذابِ قبر تذکره ده :

حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ فرمایي :

مَرَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى قَبْرَيْنِ فَقَالَ : " إِنَّهُمَا لَيُعَذَّبَانِ ، وَمَا يُعَذَّبَانِ مِنْ كَبِيْرٍ ، ثُمَّ قَالَ : بَلَى ، أَمَّا أَحَدُهُمَا فَكَانَ يَسْعَى بِالنَّمِيْمَةِ ، وَأَمَّا أَحَدُهُمَا فَكَانَ لَا يَسْتَتِرُ مِنْ بَوْلِهِ " ، قَالَ : ثُمَّ أَخَذَ عُوْدًا رَطْبًا فَكَسَرَهُ بِاِثْنَتَيْنِ ، ثُمَّ غَرَزَ كُلَّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا عَلَى قَبْرٍ ، ثُمَّ قَالَ : لَعَلَّهُ يُخَفَّفُ عَنْهُمَا مَا لَمْ يَيْبَسَا . (۱)

نبي کریم ﷺ په دوه ( ۲ ) قبرونو تیر شو نو وې فرمایل : دې دوه قبرونو واله ته عذاب ورکولې شي ، داسې نه ده چې ګني د څه غټې خبرې په وجه عذاب ورکولې شي ( چې ګني د

(۱) بخاري كتاب الجنائز باب عذاب القبر من الغيبة والبول .

هغې نه بچ کېدل مشکل دي) ، بيا نبي عليه السلام وفرمايل : آو ، يو به چُغل خوري کوله (يعنی دوه و مسلمانانو په مينځ کې به يې شيطانت کولو او هغوی به يې جنګول) ، او دې دويم به د تشو متيازو نه ځان نه ساتل .

راوي وايي : بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم يوه تازه څانګه راواخيسته ، په مينځ يې دوه ټوټې کړه ، او د هريو کس په قبر يې کېښودې ، او وې فرمايل :

ترڅو پورې چې دا څانګه اُوچه شوې نه وي شايد تر هغې وخته پورې به په دوی د عذاب تخفيف کولې شي .

## ۳ . په نبي عليه السلام باندې دروغ جوړول

د عذاب قبر دريم سبب په نبي کريم صلى الله عليه وسلم باندې دروغ جوړول دي ، امام بخاري او امام مسلم رحمهما الله د يو نصراني واقعه ذکر کړې ، حضرت انس ﷜ فرمايي :

كَانَ رَجُلٌ نَصْرَانِيًّا فَأَسْلَمَ وَقَرَءَ الْبَقَرَةَ وَ آلَ عِمْرَانَ فَكَانَ يَكْتُبُ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَعَادَ نَصْرَانِيًّا فَكَانَ يَقُوْلُ : ''مَا يَدْرِيْ مُحَمَّدٌ إِلَّا مَا كَتَبْتُ لَهُ'' . فَأَمَاتَهُ اللهُ . فَدَفَنُوْهُ ، فَأَصْبَحَ وَقَدْ لَفَظَتْهُ الْأَرْضُ . فَقَالُوْا : هٰذَا فِعْلُ مُحَمَّدٍ وَأَصْحَابِهِ لَمَّا هَرَبَ مِنْهُمْ نَبَشُوْا عَنْ صَاحِبِنَا فَأَلْقَوْهُ . فَحَفَرُوْا لَهُ فَأَعْمَقُوْا . فَأَصْبَحَ وَقَدْ لَفَظَتْهُ الْأَرْضُ . فَقَالُوْا : هٰذَا فِعْلُ مُحَمَّدٍ وَأَصْحَابِهِ نَبَشُوْا عَنْ صَاحِبِنَا لَمَّا هَرَبَ مِنْهُمْ فَأَلْقَوْهُ . فَحَفَرُوْا لَهُ وَأَعْمَقُوْا لَهُ فِي الْأَرْضِ مَا اسْتَطَاعُوْا . فَأَصْبَحَ وَقَدْ لَفَظَتْهُ الْأَرْضُ فَعَلِمُوْا أَنَّهُ لَيْسَ مِنَ النَّاسِ . فَأَلْقَوْهُ . (۱)

يو کس اول عيسايي و ، بيا يې اسلام راوړو ، سورة بقره او سورة آل عمران يې هم وويل ، او د نبي عليه السلام د پاره يې وحي هم ليکله ، بيا دا کس واپس عيسايي شو (عيسانو طرف ته لاړو) او خلقو ته به يې ويل : چې ما د محمد ﷺ د پاره څه ليکلي ، د هغې نه علاوه دې په نور هيڅ شي نه پوهيږي (نَعُوْذُ بِاللهِ) .

(۱) بخاري كتاب المناقب باب علامات النبوّة في الاسلام حديث ۳۶۱۷ ، مسلم ج۲ ص ۳۷۰ ، دلائل النبوّة ج٦ ص ۲۴۵ .

کله چې دې وفات شو نو خلقو خخ کړو ، چې سهر شو نو زمکې دې بهر راويشتلې و (او د قبر نه بهر پروت و ) ، عيسايانو وويل : دا کار محمد ﷺ او د هغه ملګرو کړی ، ځکه دې د هغوی نه راتختيدلې ، او د هغوی دين يې پرېښی ، نو ځکه يې دده قبر راسپړلې او د قبر نه بهر يې راغورځولې .

بيا دې خلقو دده د پاره دويم ښه ډوب قبر اوکنيست ، کله چې سهر شو نو زمکې دې بيا بهر راغورځولې و ، دې عيسايانو بيا هماغه شان خبره وکړه چې : دا د محمد ﷺ او د هغه د ملګرو کار دی ، ځکه چې دې د هغوی نه راتختيدلې ، او د هغوی دين يې پرېښی ، نو ځکه دوی زمونږ ددې ملګري قبر سپړلی ، او دايې د قبر نه بهر راغورځولی .

دې خلقو په دريم ځل دده د پاره قبر اوکنسته ، خو چې څومره د دوی په وَس کې وه دومره ډوب يې لاندې په زمکه کې خخ کړو ، خو کله چې سهر شو نو زمکې دې بيا بهر راغورځولې ؤ ، دا عيسايان پُوهه شو چې دا دچا انسانانو کار نه دی ،نو همدغه شان يې د زمکې د پاسه پرېښود

## ٤ . په ناحقه مسلمان وژل

د عذابِ قبر څلورم (۴) سبب په ناحقه مسلمان وژل دي . په ابن ماجه او نورو د احاديثو په کتابونو کې يوه واقعه تفصيلاً ذکر ده ، زه به يې درته خلاصةً ذکر کړم :

يو کرَت رسول الله صلی الله عليه وسلم د مسلمانانو يو لښکر مشرکينو ته د جهاد د پاره ورواوليږل ، په دې لښکر کې يو کس و (چې نوم يې محلم بن جثامه و ، ده د مشرکينو داسې يو کس قتل کړو چې هغه کلِمه (شهادت) ووېله ، خو ده بيا هم قتل کړو .....

کله چې دا قاتِل وفات شو ، او خخ يې کړو نو زمکې دده لاش بهر راووغورځول ، صحابه کرامو دا ګمان وکړو چې ګنيَ دا کار چا دشمن کړی ، دوباره يې خخ کړو ، او غلامانو ته يې حکم وکړو : دده څوکيداري کوئ چې څوک يې بيا را اونه باسي .

کله چې سهر شو نو دې بيا د زمکې دپاسه پروت و ، صحابه کرام فرمايي : مونږ داګمان وکړو چې کيدې شي دې غلامانو دا کار کړې وي ، نو مونږ بيا دفن کړو ، او په خپله مو دده څوکيداري کوله . کله چې سهر شو نو دې بيا د زمکې د پاسه پروت و ، صحابه کرام فرمايي چې بيا مونږ دې همداسې پرېښود .

په يو روايت کښې ورسره دا هم دي چې صحابه کرامو رسول الله ﷺ ته ددې خبر ورکړو ، پيغمبر عليه السلام ورته وفرمايل :

إِنَّ الْأَرْضَ لَتَقْبَلُ مَنْ هُوَ أَشَرُّ مِنْهُ وَلٰكِنَّ اللهَ أَحَبَّ أَنْ يُرِيَكُمْ تَعْظِيْمَ حُرْمَةِ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ .(۱)

بيشکه زمکه دده نه بدتر خلق هم قبلوي ، ليکن الله تعالى غوښته چې تاسو ته د لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ تعظيم وښايي (چې د لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ ويونکي جان و مال پائمال کول څومره لوي جُرم دی ، نو دعبرت د پاره الله ﷻ تاسو ته اوخوده ) . (۲)

## ۵ . د مور نافرماني کول

د عذابِ قبر پنځم ( ۵ ) سبب د مور نافرماني او بې عزتي کول دي .

حافظ سيوطي رحمه الله په '' شرحُ الصدور '' ، علامه اصبهاني رحمه الله په '' الترغيب والترهيب '' کښې او نورعلماو يوه واقعه رانقل کړې :

(۱) عن عمران بن حصين ... قَالَ ...إِنْ شِئْتُمْ حَدَّثْتُكُمْ حَدِيْثًا سَمِعْتُهُ مِنْ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ . قَالُوْا : وَأَنْتَ سَمِعْتَهُ مِنْ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ ؟ قَالَ : نَعَمْ . شَهِدْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ وَقَدْ بَعَثَ جَيْشًا مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ إِلَى الْمُشْرِكِيْنَ فَلَمَّا لَقُوْهُمْ قَاتَلُوْهُمْ قِتَالًا شَدِيْدًا فَمنحُوْهُمْ أكتافهم فَحَمَلَ رَجُلٌ مِنْ لحمتي عَلَى رَجُلٍ مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ بِالرُّمْحِ فَلَمَّا غَشِيَهُ . قَالَ : أَشْهَدُ أَنْ لَآ إِلٰهَ إِلَّا اللهُ إِنِّيْ مُسْلِمٌ . فَطَعَنَهُ فَقَتَلَهُ . فَأَتَى رَسُوْلَ اللهِ ﷺ فَقَالَ : يَارَسُوْلَ اللهِ ! هَلَكْتُ . قَالَ : وَمَا الَّذِيْ صَنَعْتَ ؟ مَرَّةً أَوْ مَرَّتَيْنِ . فَأَخْبَرَهُ بِالَّذِيْ صَنَعَ . فَقَالَ لَهُ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : فَهَلَّا شَقَقْتَ عَنْ بَطْنِهِ ؟ فَعَلِمْتَ مَا فِيْ قَلْبِهِ . قَالَ : يَارَسُوْلَ اللهِ ! لَوْ شَقَقْتُ قَلْبَهُ لَكُنْتُ أَعْلَمُ مَا فِيْ قَلْبِهِ . قَالَ : فَلَا أَنْتَ قَبِلْتَ مَا تَكَلَّمَ بِهِ وَلَا أَنْتَ تعلم مَا فِيْ قَلْبِهِ . قَالَ : فَسَكَتَ عَنْهُ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ فَلَمْ يَلْبَثْ إِلَّا يَسِيْرًا حَتّٰى مَاتَ . فَدَفَنَّاهُ فَأَصْبَحَ عَلٰى ظَهْرِ الْأَرْضِ . فَقَالُوْا : لَعَلَّ عَدُوًّا نَبَشَهُ . فَدَفَنَّاهُ ثُمَّ أَمَرْنَا غِلْمَانَنَا يَحْرُسُوْنَهُ . فَأَصْبَحَ عَلٰى ظَهْرِ الْأَرْضِ . فَقُلْنَا لَعَلَّ الْغِلْمَانَ نعسُوْا . فَدَفَنَّاهُ ثُمَّ حَرَسْنَاهُ بِأَنْفُسِنَا . فَأَصْبَحَ عَلٰى ظَهْرِ الْأَرْضِ . فَأَلْقَيْنَاهُ فِيْ بَعْضِ تِلْكَ الشِّعَابِ . وَفِيْ رِوَايَةٍ .... فَأُخْبِرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَالَ : إِنَّ الْأَرْضَ لَتَقْبَلُ مَنْ هُوَ أَشَرُّ مِنْهُ وَلٰكِنَّ اللهَ أَحَبَّ أَنْ يُرِيَكُمْ تَعْظِيْمَ حُرْمَةِ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ . ابن ماجه ص ۲۸ واللفظ له ، بيهقي دلائل النبوة ج۶ ص ۳۰۹ ، مصنف عبدالرزاق ج۱۱ ص ۱۷۳ ، مجمع الزوائد ج۷ ص ۲۹۴ .

(۲) آپ کے مسائل اور ان کا حل ج۱ ص ۴۵۱ موت کے بعد کیا ہوتا ہے ؟

حضرت عوام بن حوشب ﷺ خپله واقعه بیانوي چې یو کرت (ما په ایران، نیشاپور ښار کې سفر کولو نو) زه یو کلي ته ورسیدم، په هغه کلي کې یو طرفته مقبره وه (هلته په جُمات کې مې د مازیګر لمونځ وکړو) د لمانځه نه پس ما اوکته چې: په دې مقبره کې یو قبر وشلیده (یعنی څیرې شو) او د هغې نه یو کس را ووت، چې سَریې د خر ؤ، او نور بدن یې د انسان ؤ، ده د خَر غوندې یو درې آوازونه وکړه، بیا وربانديې قبر واپس رابند شو (زه ډیر حیران شوم چې دا څه معامله ده؟) ناڅاپه مې هلته یوه بوډۍ ولیده چې ویښتان یې کمخې کول، ماته دې بوډۍ وویل:

(اې فلانکیه!) ته دا پورې ښځه ګورې؟ ما ورته وویل چې په دې څه شوي (او څه خبره ده؟) دې بوډۍ راته وویل چې هغه ښځه د دې قبر واله مور ده. ما ورته وویل چې د دې څه واقعه ده؟ (هغه خو راته بیان کړه)، نو دې بوډۍ وویل:

دا د قبر واله کس د شرابو عادي ؤ، کله به چې کورته راغې نو دې مور به ورته وویل: اې بچیه! د الله ﷻ نه اویریږه، تر څو پورې به ته دا شراب څکې. نو ده ورته په جواب کې وویل: '' ته خو داسې بریکې (آواز کوی) لکه خَر چې بریکي '' نو دا کس د ماز یګر نه پس وفات شو. نو اوس ده ته الله ﷻ دا سزا ورکړې چې په هره ورځ د ماز یګر لمانځه نه پس دده قبر وشلیږي، د خر غوندې درې آوازونه وکړي، او بیا دوباره وربانديې قبر بند شي.(۱)

(۱) وَعَنِ الْعَوَّامِ بْنِ حَوْشَبٍ ﷺ قَالَ: نَزَلْتُ مَرَّةً حَيًّا، وَإِلَى جَانِبِ ذٰلِکَ الْحَيِّ مَقْبَرَةٌ. فَلَمَّا كَانَ بَعْدَ الْعَصْرِ اِنْشَقَّ مِنْهَا قَبْرٌ فَخَرَجَ رَجُلٌ رَأْسُهُ رَأْسُ الْحِمَارِ وَجَسَدُهُ جَسَدُ إِنْسَانٍ فَنَهِقَ ثَلَاثَ نَهِقَاتٍ، ثُمَّ انْطَبَقَ عَلَيْهِ الْقَبْرُ. فَإِذَا عَجُوزٌ تَغْزِلُ شَعْرًا أَوْ صُوفًا. فَقَالَتِ امْرَأَةٌ: تَرَىٰ تِلْکَ الْعَجُوزَ؟ قُلْتُ: مَالَهَا؟ قَالَتْ: تِلْکَ أُمُّ هٰذَا، قُلْتُ: وَمَا كَانَ قِصَّتُهُ؟ قَالَتْ: كَانَ يَشْرَبُ الْخَمْرَ فَإِذَا رَاحَ تَقُوْلُ لَهُ أُمُّهُ: يَا بُنَيَّ اتَّقِ اللهَ إِلَىٰ مَتَىٰ تَشْرَبُ هٰذِهِ الْخَمْرَ؟ فَيَقُوْلُ لَهَا: إِنَّمَا أَنْتِ تَنْهَقِيْنَ كَمَا يَنْهَقُ الْحِمَارُ، قَالَتْ: فَمَاتَ بَعْدَ الْعَصْرِ، قَالَتْ: فَهُوَ يَنْشَقُّ عَنْهُ الْقَبْرُ بَعْدَ الْعَصْرِ كُلَّ يَوْمٍ. فَيَنْهَقُ ثَلَاثَ نَهِقَاتٍ، ثُمَّ يَنْطَبِقُ عَلَيْهِ الْقَبْرُ. رواه الاصبهاني ج۲ ص ۲۲۶ کتاب البر والصلة، الترهيب من عقوق الوالدين، وَقَالَ الْأَصْبَهَانِي حَدَّثَ أَبُو الْعَبَّاسِ الْأَصَم بِنِيْسَابُوْر بِمَشْهَدٍ مِّنَ الْحُفَّاظِ فَلَمْ يُنْكِرُوْهُ. نزهة الناظرين في الاخبار والآثار المروية عن الانبياء والصالحين ص ۳۹۳ الباب الثاني عشر في برّ الوالدين وصلة الارحام.

## ٦. ملاوټ ( دهوکه ) کول

د عذابِ قبر شپږم (٦) سبب دهوکه او ملاوټ کول دي ، چې يو سړی د خوراک يا بل شي کې ملاوټ (ګډون) کوي او هغه د اعلیٰ شي په نوم خرڅوي ، نو د داسې کس باره کې هم د قبر عذابونه او سختيانې ذکر شوي .

حافظ ابن قيم رحمه الله په "كتابُ الروح" کې ، جلال الدين سيوطي رحمه الله په "شرحُ الصدور" کې ، او ابن ابی الدّنيا په "كتابُ القبور" کې يوه واقعه رانقل کړې :

عبدالحميد بن محمود وايي : زه د حضرت ابن عباس ﷺ سره ناست ووم ، چې په دې کې څه خلق راغلل ، او ابن عباس ﷺ ته يې ووېل : مونږ څه خلق د حج دپاره روان بو ، په لاره کې د مونږ نه يو ملګرې وفات شو .... مونږ د هغه د پاره قبر وکنيسته ، او لحَد مو ورله جوړ کړو ، کله چې د لحَد نه فارغه شو نو ناڅاپه مو په دې قبر کې دومره غټ مار وليد چې ټول قبر يې ډک کړې و ، بيا مو په دويم ځای کې ورله قبر وکنسته نو په هغې کې هم هماغه شان غټ مار راووت ، (نو د دې سره او س څه وکړو ؟) حضرت ابن عباس ﷺ ورته ووېل :

ذٰلِكَ الْغَلُّ الَّذِيْ يغلُّ بِهٖ . إِنْطَلِقُوْا . فَادْفِنُوْهُ فِيْ بَعْضِهَا فَوَالَّذِيْ نَفْسِيْ بِيَدِهٖ لَوْ حَفَرْتُمُ الْأَرْضَ كُلَّهَا لَوَجَدْتُمُوْهُ فِيْهِ .

دا تور مار دده د غاړې طوق (بَد اعمال) دي چې دده په غاړه کې وراچولې شي (او دده ته پرې سزا ورکولې شي) ، تاسو ورشئ او کوم قبرونه مو چې کنسيتي دي په هغې کې يې په يو قبر کې دفن کړئ . ځکه قسَم په هغه ذات د چا په قبضه کې چې زما ساه ده که چيرته تاسو دده د پاره ټوله زمکه اوکنئ نو په هر ځای کې به درته دا مار راووځي .

دا خلق وايي چې بيا مونږ لاړو ، او دا مړې مو په هماغه کنيستي شوي قبرونو کې په يو قبر کې خښ کړو .

کله چې مونږ د حج نه راواپس شو ، نو مونږ سره د دې مړي څه آسباب و هغه مو دده کور ته ورووړو ، او دده د بي بي نه مو پوښتنه وکړه : چې ستا دې خاوند به څه کار کولو چې په دې دومره سخت عذاب کې ګرفتار و ؟

هغې وويل : ده به غَله ( غنم يا جوار ) خرڅوله ، خو هره ورځ به يې د کور د ضرورت موافق غله د دينه راخيسته ، او ددې په ځای به يې په هغې کې زياتي بُوس او نور شيان ګډوَل ( ددې د پاره چي وزن يې زيات شي ، يعنی په غله کې به يې ملاوټ کول نو ځکه په دومره سخت عذاب کي ګرفتار و ) . (۱)

## ۷ . صحابه کرامو ته کنځل کول

د عذابِ قبر اووم ( ۷ ) سبب صحابه کرامو ته کنځل کول ، او دوی ته بَد رَد ويل دي .

ابن ابی الدُنيا په کتابُ القبور کې ذکر کړي چي ابو اسحاق وايي :

يو کرَت زه يو مړي ته د غُسل کولو د پاره اوغوښتې شوم ، کله چي زه ورغلم او د هغه د مخ نه مي څادر لرې کړو نو ناڅاپه مې يو غټ خطرناک مار وليده چي د دې مړي د څټ نه تاؤ شوې و ، زه واپس ورنه راغلم ، او ده ته مي غُسل ورنه کړو ( کله چي ددې کس په باره کې معلومات اوشو نو ) خلقو وويل : دې کس به صحابه کرامو ته کنځلي کولی ( نو ځکه ورته دا جزا ورکړې شوه ) . (۲)

(۱) عن عبدالحميد بن محمود قَالَ كُنْتُ جَالِسًا عِنْدَ ابْن عَبَّاسٍ فَأَتَاهُ قَوْمٌ . فَقَالُوْا : إِنَّا خَرَجْنَا حُجَّاجًا وَمَعَنَا صِاحِبٌ لَنَا . إِذَا أَتَيْنَا فَإِذَا الصفاحُ مَاتَ ، فهيأناه ، ثُمَّ انْطَلَقْنَا . فَحَفَرْنَا لَهُ . وَلَحَدْنَا لَهُ . فَلَمَّا فَرَغْنَا مِنْ لَحدِهِ إِذَا نَحْنُ بِأَسْوَدَ قَدْ مَلَأَ اللَّحدَ . فَحَفَرْنَا لَهُ آخَرَ فَإِذَا بِهِ قَدْ مَلَأَ لَحَدَهُ . فَحَفَرْنَا لَهُ آخر فَإِذَا بِهِ.... فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ : ذٰلِكَ الْغَلُّ الَّذِيْ يُغَلُّ بِهِ ، إِنْطَلِقُوْا . فَادْفِنُوْهُ فِيْ بَعْضِهَا فَوَالَّذِيْ نَفْسِيْ بِيَدِهِ لَوْ حَفَرْتُمُ الْأَرْضَ كُلَّهَا لَوَجَدْتُمُوْهُ فِيْهِ . فَانْطَلَقْنَا فَوَضَعْنَاهُ فِيْ بَعْضِهَا . فَلَمَّا رَجَعْنَا أَتَيْنَا أَهْلَهُ بِمَتَاعٍ لَهُ مَعَنَا . فَقُلْنَا لِإِمْرَأَتِهِ : مَا كَانَ يَعْمَلُ زَوْجُكَ ؟ قَالَتْ : كَانَ يَبِيْعُ الطَّعَامَ . فَيَأْخُذُ مِنْهُ كُلَّ يَوْمٍ قُوْتَ أَهْلِهِ . ثُمَّ يفرض الْفَضْل مِثْلَهُ فَيُلْقِيْهِ فِيْهِ . كتاب الروح واللفظ له ص ۹۸ المسالة السابعة ، شرح الصدور ص ۱۷۴ باب عذاب القبر .

(۲) وَقَالَ ابْنُ أَبِي الدُّنْيَا : حَدَّثَنِيْ مُحَمَّدُ بْنُ الْحُسَيْنِ ، قَالَ : حَدَّثَنِيْ أَبُوْ إِسْحَاق صَاحِبُ الشاط قَالَ : دُعِيْتُ إِلَى مَيِّتٍ لِأَغْسِلَهُ . فَلَمَّا كَشَفْتُ الثَّوْبَ عَنْ وَجْهِهِ إِذَا بِحَيَّةٍ قَدْ تَطَوَّقَتْ عَلَى حَلْقِهِ . فَذَكَرَ مِنْ غِلَظِهَا . قَالَ : فَخَرَجْتُ فَلَمْ أَغْسِلْهُ . فَذَكَرُوْا أَنَّهُ كَانَ يَسُبُّ الصَّحَابَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ . كتاب الروح ص ۹۸ المسالة السابعة ، شرح الصدور ص ۱۷۳ باب عذاب القبر .

## ۸ . بې اُودسه لمونځ کول او د مظلوم مدد نه کول

د عذابِ قبر اتم (۸) سبب بې اَودسه لمونځ کول، او د مظلوم مدد نه کول دي.

حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه وايي: چې يو بنده ته په قبر کې د سلو (۱۰۰) کوړو ورکولو حکم وشو، ده د الله جل جلاله نه مسلسل دُعا کوله (چې زه دې معاف شم)، آخر دا چې دده سره تخفيف وکړې شو، او يوه کوړه وهل پاتې شو، کله چې فرښتو دې په کوړه باندې ووهل نو غونډ قبر د اُور نه ډک شو، کله چې دا عذاب ختم شو، او دا سړې په هوش کې راغی نو د فرښتو نه يې پوښتنه وکړه:

عَلَامَ جَلَّدْتُمُوْنِيْ؟ تاسو ماته د کومې ګناه په وجه دا سزا راکړه؟ هغوی ورته وويل:

إِنَّكَ صَلَّيْتَ صَلَاةً بِغَيْرِ طُهُوْرٍ، وَمَرَرْتَ عَلَى مَظْلُوْمٍ فَلَمْ تَنْصُرْهُ. بيشکه تا يو لمونځ بې اَودسه کړې و، او يو کرت په مظلوم تير شوې وی ليکن تا د هغه مدد نه و کړی (نو ځکه دا سزا درکړې شوه). (۱)

## ۹. د عذابِ قبر نور اَسباب

امام بخاري رحمه الله د نبي کريم صلى الله عليه وسلم يو اُوږد خوب ذکر کړی په کوم کې چې د عالَمِ برزخ بعضې مناظِر دوی ته خودلي شوي وو. (۲)

(او د پيغمبر خوب هم وحي وي)، دغه وجه ده چې علامه ابن قيم رحمه الله ددې حديث ذکر کولو نه روستو وايي:

(۱) عَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ رضي الله عنه عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم قَالَ: أُمِرَ بِعَبْدٍ مِّنْ عِبَادِ اللهِ أَنْ تُضْرَبَ فِيْ قَبْرِهِ مِأَةَ جَلْدَةٍ، فَلَمْ يَزَلْ يَسْأَلُ اللهَ وَيَدْعُوْهُ حَتّٰى صَارَتْ وَاحِدَةً. فَامْتَلَأَ قَبْرُهُ عَلَيْهِ نَارًا، فَلَمَّا ارْتَفَعَ عَنْهُ أَفَاقَ. فَقَالَ: عَلَامَ جَلَّدْتُمُوْنِيْ؟ قَالُوْا: إِنَّكَ صَلَّيْتَ صَلَاةً بِغَيْرِ طُهُوْرٍ، وَمَرَرْتَ عَلَى مَظْلُوْمٍ فَلَمْ تَنْصُرْهُ. مشكل الآثار ج۴ ص ۱۳۱، كتاب الروح ص ۸۳ المسألة السادسة، شرح الصدور ص ۱۷۳ باب عذاب القبر.

(۲) بخاري ج۱ ص ۱۸۵ كتاب الجنائز باب ما قيل في اولاد المشركين، همدارنګې دا حديث په بخاري ج۲ ص ۱۰۴۳ كتاب التعبير کې هم ذکر دی.

وَهٰذَا نَصٌّ فِيْ عَذَابِ الْبَرْزَخِ ، فَإِنَّ رُؤْيَا الْأَنْبِيَاءِ وَحْيٌ مُطَابِقٌ لِمَا فِيْ نَفْسِ الْأَمْرِ .(۱)

دا حديث د برزخ په عذاب کې صريح نص دی ، ځکه د انبياو خُوب هم وحي وي او د نفس الامر مطابق وي )

په دې خُوب کې نبي کريم صلی الله عليه وسلم ته د دروغو اَفواه خوروونکي کس عذاب خودلې شوی ، دغه رنګې د قرآن کريم نه د غافله کس ، د زِناکار او د سود خُور عذاب خودلې شوی .

همدارنګې امام بيهقي رحمه الله په دلائلُ النّبوّة کې د حضرت ابوسعيد خدري رضي الله عنه حديث نقل کړی په کوم کې چې رسول الله صلی الله عليه وسلم ته د معراج په شپه د بعضو خلقو په عذاب کې مبتلاء کيدل خودل شوي و .

لکه : د حلال مال پريښودونکي او حرام مال خوړونکي ته عذاب ، سُود خُور ته عذاب ، د يتيم مال خوړونکي ته عذاب ، زِنا کاره او بَدکاره ښځو ته عذاب ، چُغل خُور ته عذاب ، فرض لمونځ پريښودونکي ته عذاب ، زکوة نه ورکوونکي ته عذاب ، د پردو ښځو سره تعلق ساتلو واله ته عذاب ، د خلقو حقوق نه ادا کوونکي ته عذاب ، خلق په ګمراهۍ او فتنه کې اچوونکي خطيب او واعظ ته عذاب .(۲)

---

(۱) کتاب الروح ص ۸۳ المسألة السادسة ، شرح الصدور ص ۱۶۷ باب في القبر حساب ، آپ کے مسائل اور ان کا حل ج۲ ص ۴۵۲ .

(۲) دلائل النبوّة ج۲ ص ۳۹۲ باب الدليل على انّ النبي صلى الله عليه وسلم عرج إلى السماء ، کتاب الروح لابن قيم ص ۸۳، ۸۴ المسألة السادسة ، شرح الصدور ص ۱۷۰ باب اثبات عذاب القبر ، نشر الطيب للتهانوي ص ۳۸ _ ۴۰ ، آپ کے مسائل اور اُن کا حل ج۲ ص ۴۵۳ موت کے بعد کيا هوتا هے ؟

# په عذاب قبر باندې څه اعتراضات او د هغې جوابات

بعضې بې دينه او مُلحِد خلق کوم چې د عذابِ قبر نه منکِر دي او صرف د عقلياتو تابِع دي هغوی په عذابِ قبر باندې مختلف قسمه اعتراضات کوي ، او د کمزوري مسلمانانو عقايد خرابوي ، د داسې بې دينه خلقو څه اعتراضات او د هغې مضبوط غاښ ماتي جوابات ستاسو د وړاندې ذکر کوم ، د دې د پاره چې انسان د داسې بې دينه خلقو نه متأثِره نه شي ، او په خپله صحيح عقيده باندې مضبوط پاتې شي .

## سوال : ۱ . د قبر احوال مونږ ولې نه محسوسوو ؟

بعضې خلق دا اعتراض کوي چې: مونږ خو قبرونه سپړلي ، په هغې کې خو مونږ نه ماران ليدلي ، نه لړمان ، او نه د جهنم د طرفه کړکۍ وي . دغه شان د مومِن د پاره د قبر فراخه کيدل او نعمتونه خو مونږ نه دي ليدلي . دغه شان په مِصر کې چې کوم لاشونه تر اوسه محفوظ دي ، يا نن صبا چې حکومت څو څو مياشتو پورې مړي د کيميکل مواد و په ذريعه ، يا سَرد خانو کې محفوظ ساتي نو په هغه مړو باندې خو هم د عذاب يا نعمتونو څه آثر نه ښکاري ، نو بيا څنګه مړي ته عذاب ورکولې شي ؟

**جواب** : د دې اعتراض تفصيلي جواب ډير اُوږد دی خو زه به يې درته مختصر جواب ذکر کړم :

د قبر عذاب يا نعمتونه د عالَمِ برزَخ احوال دي او د عالَمِ برزَخ احوال په دې عالَمِ دُنيا باندې قياس کول غلط دي ، ځکه د هغه ځای حالات جدا دي او د دې ځای حالات جدا دي ، الله تعالی په پيريانو او انسانانو باندې د هغه ځای اَحوال د څه مصلحت د پاره پټ ساتلي .

بل دا چې د يو شي نه ښکاره کيدل خو د هغه شي د نشتوالي دليل نه دی ، ځکه په دې دُنيا کې ډير داسې شيان شته چې هغه ښکاري نه خو موجود دي لکه : پيريان موجود دی خو ښکاري نه .

فرښتې موجود دی خو ښکاري نه . په قرآن مجيد کې ذکر دي چې ملک الموت ستاسو روحونه قبض کوي الله تعالی فرمايي :

﴿ قُلْ يَتَوَفَّاكُم مَّلَكُ الْمَوْتِ الَّذِي وُكِّلَ بِكُمْ ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّكُمْ تُرْجَعُونَ ﴾ . (۱)

ترجمه : اې پيغمبره دوی ته ووايه چې ملک الموت به ستاسو روحونه قبض کوي کوم چې ستاسو د روحونو په قبض کولو مقرر کړې شوی ، بيا به تاسو خپل رب طرف ته واپس کولې شئ .

دغه رنګې ډير خلق زمونږ د وړاندې وفات کيږي خو ليکن مونږ هيڅ کله ملک الموت د روح قبض کولو په وخت نه دې ليدلی ، دا ځکه چې دا ليدل د مشاهدې نه بهر دي صرف د نبي کريم ﷺ په وينا مو اعتماد کړی او بغير د ليدلو دا منو . (۱)

دغه رنګې حضرت جبرائيل عليه السلام به نبي کريم ﷺ ته وحي راوړه او په ګنتهو ګنتهو به يې د دوی سره خبرې کولې حالانکه صحابه کرامو ته نه خو حضرت جبريل عليه السلام ښکاريده ، او نه يې دهغه خبرې اوريدې ، بلکه د رسول الله ﷺ په وينا يې اعتماد کولو ، او د حضرت جبريل عليه السلام نزول يې منل . (۲)

دغه رنګې هوا موجود ده خو ښکاري نه ، او کومه کائناتي فضاء چې په دې دوَر کې د راکټونو او آلاتو په ذريعه معلومولې شي هغه د نن نه وړاندې چا نه وه ليدلی خو ليکن د هغې وجود شته .

---

(۱) سورة السجدة آيت ۱۱.

(۱) ثم يمد الملک يده إلى الروح فيقبضها ويخاطبها والحاضرون لايرونه ، ولايسمعونه ، ثم تخرج فيخرج لها نور مثل شعاع الشمس ... والحاضرون لايرون ولايشمونه . كتاب الروح ص ۹۰ ، ۹۱ المسالة السابعة

(۲) إن الله سبحانه وتعالى يحدث في هذه الدار ما هو أعجب من ذلک ، فهذا جبريل كان ينزل على النبي ﷺ ويتمثل له رجلا فيكلمه بكلام يسمعه ، ومَن إلى جانب النبي ﷺ لا يراه ولايسمعه ، وكذلک غيره من الأنبياء ، وأحيانًا يأتيه الوحي في مثل صلصلة الجرس ولايسمعه من الحاضرين ..... والله سبحانه قدحجب بني آدم عن كثير مما يحدثه في الارض وهو بينهم ، وقدكان جبريل يقرئ النبي ﷺ ويدارسه القرآن والحاضرون لايسمعونه ، وكيف يستنكر مَن يعرف الله سبحانه ويقرّ بقدرته أن يحدث حوادث يصرف عنها أبصار بعض خلقه حكمةً منه .... كتاب الروح ج۹۹ المسالة السابعة ، آپ کے مسائل اور اُن کا حل ج۲ ص ۲۱۲ تخريج شده ايڈيشن .

**مثال** : ددې عذاب يو حِسّي مثال دا دی چې يو کس د تاسره په څنګ کې اُوده وي ، کله هغه ته په خُوب کې سخت تکليف رسيږي : مثلاً په اُور کې سوزي ، يا په اُوبو کې ډوبيږي ، يا مار دده پسې شاته راروان وي ، يا نورې مختلف قسمه سزاګانې ورکولې شي .

دې ناڅاپه يوه چغه ووهي او راپاڅي ، رنګ يې تک زيړ وي ، په خَوَلو کې ډوب وي ، او سخت وويريږي .

که ته ورنه پوښتنه وکړې چې : څه چل اوشو ؟ او هغه درته خپل خُوب بيان کړي چې په اُور کې سوزيدم ، يا مار راپسې و . او ته ورته ووايې چې ته خوهسې دروغ وايې ځکه زه د تاسره نزدې ناست ووم ، ما خو نه اُور وليده ، نه مې ماران او لړمان وليده ، او نه بل شی .

نو آيا دده په دې اِنکار سره به ته خپل خُوب دروغ وګڼرې ؟ هيڅکله نه . بلکه ته به ورته ووايې چې : ته ويخ وې ، او زه چې د خُوب په کومه دُنيا کې ووم ته د هغې نه خبر نه وې ، ځکه زما او ستا په مينځ کې د بيدارۍ او خُوب فاصله وه . نو تا که څه په سترګو نه ليده خو بيا هم ما چې څه ليدل د هغې نه ما ته سخت تکليف و .

دغه شان زمونږ او ددې مړو په مينځ کې د برزخ فاصله ده : دا عالَمِ دُنيا ده ، او مړه شوي خلق په عالَمِ برزخ کې دي ، نو که په هغوی کوم تکليفونه يا نعمتونه وي مونږ ته د هغې اِدراک نه کيږي . (۱)

بل دا چې مونږ د الله ﷻ ذات نه دې ليدلی خو منو يې ، دغه شان فرښتې ، انبياء کرام ، د هغوی کتابونه ، آخرت ، حساب و کتاب ، جنت او جهنم او ددينه علاوه نور ډير غيبي حقايق مونږ نه دي ليدلي خو بيا يې هم مونږ منو ، ځکه په رسول الله ﷺ مو اعتماد کړی هغه را ته ددې بيان کړی ، نو ځکه يې مونږ بې ليدلو منو . همدغه شان هغوی د قبر د عذاب ، يا د قبر د نعمتونو هم خبر ورکړی اوس چې يو سړی دا ووايي :

چې دا خو زما عقل نه مني نو دا بيا غټ بې وقوف ، بې عقله ، بې دينه او کافِر دی . ځکه عذابِ قبر خو په قرآن کريم او متواتر احاديثو سره ثابت دی ، او ددينه اِنکار کفر دی . (۲)

---

(۱) آپ کے مسائل اور ان کا حل ج۲ ص ۴۴۳ .

(۲) آپ کے مسائل اور ان کا حل ج۲ ص ۴۴۳ .

لهذا په کومو احاديثو کې چې د قبر د مارانو او لړمانو ذکر دی هغه ټول حق دي اګر چې په عام حالاتو کې دا شيان مونږ د دُنيا په سترګو نه شو ليدی . ( د دې پوره تفصيل امام غزالي رحمه الله په خپل کتاب " إحياءُ العلوم " کې ذکر کړی . (۱) ) .

## سوال : ۲ . قبر ته فرښتې په کومه لار ورننوځي ؟

بعضی خلق دا اعتراض کوي چې قبر ته خو د تللو لار نشته ، نو بيا فرښتې د مړي د عذاب د پاره په کومه لاره ورننوځي ؟

**جواب** : دا شبه د هغه ناپوهه خلقو ذهن ته راځي چې هغوی فرښتې هم د انسانانو غوندې د غوښې او هډوکي نه جوړې شوې مادي مخلوق مني ، حالانکه داسې نه ده ، بلکه فرښتې خو يو نُوراني مخلوق دی ، دوی ته چې الله ﷻ کوم قدرت ورکړی د هغې په ذريعه دوی د کاڼي نه هم اخوا اوځي .

لهذا دوی ته يو ځای ته د رسيدو د پاره د هيڅ سُوري او لارې ضرورت نشته .

د دينه علاوه که په دُنيا کې مونږ اوګورو نو د شيشې په داسې يو ډَبي کې چې په هغې کې هيڅ سورې او دروازه نه وي ليکن بيا هم د نمر شُعاګانې دې ډَبي ته دننه ورننوځي .

---

(۱) فإن قلتَ : فنحن نشاهد الكافر في قبره مدّة و نراقبه ولانشاهد شيئًا من ذلک . فما وجه التصديق على خلاف المشاهدة ؟ فاعلم أن لک مقامات فی التصديق بأمثال هذا : أحدها : و هو الاظهر والأصح والأسلم أن تصدّق بأنها موجودة وهي تلدغ الميت ولکنک لاتشاهد ذلک . فإن هذه العين لاتصلح لمشاهدة الأمور الملکوتية . وکل ما يتعلق بالآخرة فهو من عالم الملکوت . أما ترى الصحابة رضی الله عنهم کيف کانوا يؤمنون بنزول جبريل وماکانوا يشاهدونه ، ويؤمنون بأنه عليه السلام يشاهده . ... وکما أن الملک لايشبه الآدميين والحيوانات فالحيات والعقارب التي تلدغ فی القبر ليست من جنس حيات عالمنا ، بل هي جنس آخر وتدرک بحاسة أخرى . المقام الثاني : أن تتذکر أمر النائم ، وأنه قد يرى في نومه حية تلدغه وهو يتألم بذلک حتى تراه يصيح في نومه ويعرق جبينه وقد ينزعج من مکانه ، وکل ذلک يدرکه من نفسه ويتأذى به کما يتأذى اليقظان ، وهو يشاهده وأنت ترى ظاهره ساکنًا ولاترى حواليه حية ، والحية موجودة في حقه ، والعذاب حاصل ولکنه في حقک غير مشاهد . وإذاکان العذاب في ألم اللدغ فلا فرق بين حية تتخيل أو تشاهد . احياء العلوم ج۴ ص ٦٦٥ کتاب ذکر الموت ومابعده .

دغه رنګې زمونږ نظر هم دننه د شیشې ډبې ته ننوځي،او په هغې کې موجود شیان مونږ ته ښکاري، نو چې کله په دُنیا کې داسې کیدې شي نو فرښتې خو په طريقِ اولی قبر ته ننوتې شي (۱)

## سوال: ۳ . که مړې په قبر کې دفن نه شي نو هغه ته څنګه عذاب ورکولې شي؟

بعضې خلق دا اعتراض کوي چې کله يو مړې په قبر کې دفن نه شي بلکه ځناور يې اوخوري، په سمندر کې ډوب شي، يا أوسوزي نو ده ته بيا څنګه عذابِ قبر ورکولې شي؟ ځکه دې خو په قبر کې نه دې خَخ شوی.

**جواب**: عذابِ قبر صرف ددې قبر سره خاص نه دی، بلکه کله چې يو کس مړ شي نو د مړ کيدو نه روستو تر د قيامته پورې چې دده اَجزاء په هر ځای کې موجود وي نو دا ځای دده دپاره قبر دی، او ده ته چې کوم عذاب ورکولې شي دیته عذابِ قبر وايي. اوس که دا کس په سمندر کې ډوب شي، يا أوسوزي، يا يې ځناور اُوخوري نو په دې ټولو صورتونو کې فرښتې دده نه پوښتنې هم کوي، او ده ته د قبر عذاب او نعمتونه هم ملاويږي.
ځکه اصلي ثواب او عذاب روح ته ورکولې شي او تبعًا جسم هم ددينه متأثره کيږي، اګر چې دا جسم په هر ځای کې وي. (۲)

---

(۱) معارف الحديث ج۱ ص ۱۲٦.

(۲) آپ کے مسائل اور ان کا حل ج۲ ص ۴۲۱، موت کے بعد کیا ہوتا ہے؟. واعلم أنّ عذاب القبر هو عذاب البرزخ. فكل من مات وهو مستحق للعذاب ناله نصيبه منه قُبِرَ أَوْ لم يُقْبَرْ. أكلته السباع أو احترق حتى صار رمادًا أو نسف فى الهواء أو صلب أو غرق فى البحر وصل إلى روحه و بدنه من العذاب ما يصل الى المقبور. شرح عقيدة الطحاوية ص ۴۵۱، كتاب الروح ص ۱۰۲، فتاوى حقانيه ج۱ ص ۱۸۲، آپ کے مسائل اور ان کا حل ج۲ ص ۴۲۳، فالحاصل أن الدّور ثلاث: دار الدنيا، دار البرزخ، دار القرار ..... وجعل أحكام البرزخ على الارواح، والأبدان تبع لها ... شرح عقيدة الطحاوية ص ۴۵۲. (الامر التاسع) أنه ينبغي أن يعلم أن عذاب القبر ونعيمه إسم لعذاب البرزخ ونعيمه وهو ما بين الدنيا والأخرة. قال الله تعالى: ﴿ومن ورائهم برزخ إلى يوم يبعثون﴾ وهذا البرزخ يشرف أهله فيه على الدنيا والآخرة. وسمى عذاب القبر و نعيمه وأنه روضة أو حفرة نار باعتبار غالب الحق. فالمصلوب والحرق والغرق. وأكيل السباع والطيور له عذاب البرزخ ونعيمه قسطه الذي تقتضيه أعماله وأن تنوعت أسباب النعيم والعذاب وكيفياتهما. كتاب الروح ص ۱۰۲ المسالة السابعة، آپ کے مسائل اور ان کا حل ج۲ ص ۴۴۰.

بل دا چې د وفات شوي کس اجزاء اگر چې بنه ډير خواره واره شي خو ليکن بيا هم د الله ﷻ د علم نه خو نشي غائب کيدی ، الله ﷻ په دې قادر دی چې دده اجزاء راجمع کړي ، بيا دده نه پوښتنې وکړي ، سزا يا نعمتونه ورته ورکړي .

## واقعه

لکه په بخاري او مسلم شريف کې يوه واقعه ذکر ده :

قَالَ رَجُلٌ لَمْ يَعْمَلْ حَسَنَةً قَطُّ لِأَهْلِهِ : إِذَا مَاتَ فَحَرِّقُوْهُ ثُمَّ اذْرُوْا نِصْفَهُ فِي الْبَرِّ وَنِصْفَهُ فِي الْبَحْرِ فَوَاللهِ لَئِنْ قَدَرَاللهُ عَلَيْهِ لَيُعَذِّبَنَّهُ عَذَابًا لَايُعَذِّبُهُ أَحَدًا مِنَ الْعَالَمِيْنَ . فَلَمَّا مَاتَ الرَّجُلُ فَعَلُوْا مَا أَمَرَهُمْ فَأَمَرَاللهُ الْبَرَّ فَجَمَعَ مَا فِيْهِ . وَأَمَرَ الْبَحْرَ فَجَمَعَ مَا فِيْهِ . ثُمَّ قَالَ : لِمَ فَعَلْتَ هٰذَا؟ قَالَ مِنْ خَشْيَتِكَ يَا رَبِّ ! وَأَنْتَ أَعْلَمُ . فَغَفَرَاللهُ لَهُ . (۱)

د بني اسرائيلو يو گناهگار کس کوم چې د ايمان نه علاوه بل هيڅ نيک عمل نه ؤ کړی (بلکه کفن کش ؤ (۲) ) ، کله چې دده د مرگ وخت نزدې شو نو خپل اولاد ته يې وويل : چې کله زه مړشم نو ما اوسوزَوئ ، بيا دا اِيره نيمه په اُوچه کې والوزَوئ ، او نيمه په درياب کې پريږدئ .

قسَم په الله ، که چيرته د الله ﷻ راباندې وَس بَر شو نو د اسې عذاب به راکړي چې په مخلوقاتو کې به يې بل هيچاته داسې عذاب نه وي ورکړی ( دا خبره يې د ډيرې ويرې د وجې وکړه (۳) ). کله چې دې وفات شو نو خپلو ځامنو ورسره د وصيت مطابق معامله وکړه

(۱) اخرجه البخاري في الأنبياء باب ما ذكر عن بني إسرائيل ۳۴۸۱ ، وفي التوحيد ۷۵۰۶ . واخرجه ايضا عن حذيفة وابي سعيد رضى الله عنهما في باب ما ذكر عن بني إسرائيل ۳۴۵۲ ، ۳۴۷۸ ، ۳۴۷۹ . ومسلم في سعة رحمة الله تعالى ۶۹۳۵ . واخرجه النسائي في الجنائز باب أرواح المؤمنين ۲۰۷۹ . ومالک في جنائز الموطا ، جامع الجنائز وابن ماجه في الزهد باب ذكر التوبة ۴۳۰۹ .

(۲) ذكر الحافظ عن رواية للطبراني أنه كان من بني إسرائيل وكان ينبش القبور وقد صرح عقبة بن عمرو رضى الله عنه بكونه نبّاشا وذلک في حديثه عند البخاري في الانبياء . تكمله فتح الملهم ج۶ ص ۱۲.

(۳) قال ذلک في حال دهشته وغلبة الخوف عليه . تكملة فتح الملهم ج۶ ص ۱۳ حديث ۶۹۳۵ .

بل طرفته الله ﷻ أوچې ته حکم وکړو چې دده اجزاء راجمع کړه ، او سمندر ته يې هم حکم وکړو چې دده اجزاء راجمع کړه . او پوره انسان يې ورنه جوړ کړو ، بيا الله ﷻ ورته وفرمايل :

اى بنده دا کار دې ولې کړى ؟ ( آيا ستا په ما يقين نه وُ چې زه انسان دوباره ژوندې کولې شم ؟ ) هغه ورته جواب ورکړو :

مِنْ خَشْيَتِكَ يَارَبِّ وَأَنْتَ أَعْلَمُ .

اى ربه ! ستا د ويرى د وجى مې دا کار کړى ، او تاته ښه معلومه ده چې ما هيڅ نيک کار ندې کړي ( ستا د عذاب نه ويريدم ، نو ځکه مې بچو ته حکم کړې و چې ما أوسوزوئ ) .

نبي عليه السلام اوفرمايل : چې د الله جل جلاله رحمت په جوش کې راغې فَغَفَرَاللّٰهُ لَهٗ او ده ته يې بخښنه وکړه .

بهر حال کله چې الله ﷻ په دې قادر دى چې دده اجزاء راجمع کړي ، نو اوس که د انسان اَجزاء په هر ځاى کې وي ده ته سزا او جزاء ورکول کيدې شي . (۱)

البته که يوچا ته د الله ﷻ په قدرتِ کامله کيدو کې شک وي ، او دده دا عقيده وي چې د انسان په خوَرُو وَرُو اجزاوُ جَمعه کولو باندې ګني الله ﷻ قادر نه دى ( نعوذُ بالله ) ، او صرف خپل عقليات جَنګوي نو بيا خو داسړي قطعي کافِر دى ، او د سره مسلمان نه دى .

نو دې چې بيا عذابِ قبر نه مني نو نه دې مني ، هيڅ پرواه نشته ، د پښتو متَل دى : " په رَزړو کې که يو سوټا نه وي نو هيڅ خبره نه ده " . يا " د يو هندو په تللو خو بَټ خيله نه ورانيږي " .

په دُنيا کې ډير داسې خلق شته چې د الله ﷻ ذات نه مني نو که دې عذابِ قبر نه مني نو نه دې مني .

---

(۱) آپ کے مسائل اور ان کا حل ج۲ ص ۴۳۴ .

## سوال : ۴ . په قرآن مجید کې خو دوه مرګه او دوه ژونده ذکر دي، نو د قبر ژوند د کوم ځای نه راغی ؟

بعضې خلق دا اعتراض کوي چې په سورة بقره کې خو د دوه (۲) مرګونو، او دوه (۲) ژوندونو ذکر دی ،لکه الله تعالی فرمايي :

﴿ وَكُنْتُمْ أَمْوَاتاً فَأَحْيَاكُمْ ثُمَّ يُمِيتُكُمْ ثُمَّ يُحْيِيكُمْ ثُمَّ إِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴾ . (۱)

ترجمه : تاسو مړه (غیر موجود) وئ نو هغه الله ﷻ تاسو ژوندي کړئ، بيا به هم هغه الله ﷻ تاسو مړه کړي ، بيا به مو په آخرت کې ژوندي کړي ، بيا به هغه الله ﷻ طرف ته تاسو ګرځولې شئ .

نو چې کله د آيت نه دوه (۲) ژوندونه ثابت شو : يو د دُنيا ژوند او بل د آخرت ژوند . نو دا د قبر دريم (۳) ژوند په کې د کوم د ځای نه راغی ؟

**جواب** : ددې آيت نه د عذابِ قبر نفي نشي کيدی ځکه د قبر ژوند ته برزخي ژوند وايي ، دا ژوند محسوس او مشاهد نه دی ، او د قرآن کريم په کومو آيتونو کې چې د دوه ژوندونو ذکر دی نو د هغې نه محسوس او مشاهد ژوند مراد دی . (۲)

د عذابِ قبر په باره کې خو د قرآن کريم آيتونه او د پيغمبر عليه السلام متواتر احاديث موجود دي ، ددې باوجود هم چې يو سړی انکار کوي نو ددې خو دا مطلب دی چې ګني په قرآن کريم باندې دې د نبي عليه السلام او د صحابه کرامو نه ښه پوهيږي (نعوذ بالله) .

دغه شان څوارلس سوه (۱۴۰۰) کاله نه را په ديخوا د امت د اکابرو د عذابِ قبر په باره کې اِجماعي عقيده ده چې عذابِ قبر او نعيمِ قبر شته .

اوس چې يو کس عذابِ قبر نه مني نو آيا دا ټول اکابرين د امت په قرآن کريم نه پوهيده ؟ څوارلس سوه کاله پس صرف همدا ته په قرآن کريم ښه پوهيږي چې د عذابِ قبر نه انکار کوی ؟ . (۳)

---

(۱) البقرة آيت ۲۸ .

(۲) آپ کے مسائل اور ان کا حل ج۲ ص ۴۱۷ تخریج شده ایڈیشن .

(۳) آپ کے مسائل اور ان کا حل ج۲ ص ۴۴۲ .

## فقهي مسایل :

د عذابِ قبر متعلق ضروري فقهي مسائل ستاسو د وړاندې ذکر کوم.

### ۱. د عذابِ قبر نه انکار کفر دی

**اوله مسئله** : عذابِ قبر د قرآن کریم او درسول الله صلی الله علیه وسلم د متواتر احادیثو نه ثابت دی (کوم آیتونه او احادیث چې وړاندې تیر شو)، دغه رنګې د صحابه کرامو رضي الله عنهم نه تر ذدې زمانې پورې د اُمت د اکابرو همدا اِجماعي عقیده ده نو که اوس یو کس د دینه انکار کوي نو دا د قرآن کریم، او د نبي علیه السلام د احادیثو نه اِنکار دی، او دا کُفر دی. (۱)

ځکه چې د چا په قرآن کریم او د نبي کریم ﷺ په متواترو احادیثو باندې ایمان نه وي، او د صحابه کرامو نه نیولې تر ددې وخته پورې د امت د اکابرو په دې اِجماعي عقیده باندې یقین نه لري، او د الله ﷻ قدرت نه مني بلکه صرف د عقلیاتو تابع وي نو دا سړې یقیني کافر دی، دده په کُفر کې هیڅ شک نشته. (۲)

### ۲. په عالَمِ برزخ کې عذاب په جسم او روح دواړو وي

**دویمه مسئله** : د جمهور علماو اهل السنة والجماعة په دې خبره اتفاق دی چې په عالَمِ برزخ کې تعذیب یا تَنعِیم په جسم او روح دواړو باندې وي.

---

(۱) آپ کے مسائل اور ان کا حل ج٢ ص ۴۱۸. وَعَذَابُ الْقَبْرِ لِلْكَافِرِيْنَ وَلِبَعْضِ عُصَاةِ الْمُؤْمِنِيْنَ ... ثَابِتٌ بِالدَّلَائِلِ السَّمْعِيَّةِ. شرح العقائد ص ۹۸. (اَلْأَصْلُ الثَّالِثُ): عَذَابُ الْقَبْرِ، وَقَدْ وَرَدَ الشَّرْعُ بِهِ، قَالَ اللهُ تَعَالَى: ﴿اَلنَّارُ يُعْرَضُوْنَ عَلَيْهَا غُدُوًّا وَعَشِيًّا وَيَوْمَ تَقُوْمُ السَّاعَةُ أَدْخِلُوْا آلَ فِرْعَوْنَ أَشَدَّ الْعَذَابِ . سورة مومن آیت ۴۶﴾ وَاشْتهرَ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ وَالسَّلَفِ الصَّالِحِ اَلْإِسْتِعَاذَةُ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ وَهُوَ مُمْكِنٌ فَيَجِبُ التَّصْدِيْقُ بِهِ. احياء العلوم ج۱ ص ۱۱۴ ط دارالفكر بيروت. قَالَ المروزي: قَالَ عَبْدُاللهِ: عَذَابُ الْقَبْرِ حَقٌّ لَايُنْكِرُهُ إِلَّا ضَالٌّ أَوْ مُضِلٌّ. كتاب الروح لابن قيم ص ۸۰ المسالة السادسة.

(۲) آپ کے مسائل اور ان کا حل ج٢ ص ۴۴۴.

لِمَا قَالَ الْعَلَّامَةُ مُلا علي قاري رحمه الله : وَاعْلَمْ أَنَّ أَهْلَ الْحَقِّ إِتَّفَقُوْا عَلَى أَنَّ اللهَ تَعَالَى يَخْلُقُ فِي الْمَيِّتِ نَوْعَ حَيَاةٍ فِي الْقَبْرِ قَدْرَ مَا يَتَأَلَّمُ أَوْ يَتَلَذَّذُ . (١)

قَالَ الشَّيْخُ اَبُوالْمُعِين : فَيُعَذَّبُ اللَّحْمُ مُتَّصِلًا بِالرُّوْحِ ، وَالرُّوْحُ مُتَّصِلًا بِالْجَسَدِ ، يَتَأَلَّمُ الرُّوْحُ مَعَ الْجَسَدِ وَإِنْ كَانَ خَارِجًا عَنْهُ . (٢)

---

(١) شرح فقه اكبر ص ١٠١ ضغطة القبر ، فتاوى فريديه ج١ ص ٤٣٣ باب ما يتعلق بالروح والبرزخ .

(٢) ابوالمعين على هامش شرح العقائد ص ٧٢ عذاب القبر ، ومثله في شرح الفقه الاكبر ص ١٤٩ اليأس من رحمة الله كفر .
فتاوى حقانيه ج١ ص ١٨١ . د جمهورو علماو مسلک دادی چې په قبر کې د مړي نه سوال کول ، يا نعمتونه ، يا عذابونه په روح او جسم دواړو وي . علامه تقي عثماني رحمه الله په تکلمه د فتح الملهم کې ددې تفصيل داسې ذکر کوي : السّادس : مذهب أهلُ السنّة ، وهو أنه تُعاد الروح إلى الجسد أو إلى بعضه عند السؤال أو العذاب ، كما ثبت في الحديث . ولو كان على الروح فقط ، لم يكن للبدن بذلك إختصاص . ولايمنع من ذلک كون الميت قد تتفرق أجزاؤه ، لأن الله قادر على أن يعيد الحياة إلى جزء من الجسد ويقع عليه السؤال ، كما هو قادر على أن يجمع أجزاءه .

وقال الحافظ : والحامل للقائلين بأن السؤال يقع على الروح فقط : أن الميت قد يشاهد في قبره حال المسألة لا أثر فيه من إقعاد ولاغيره ، ولاضيق في قبره ولاسعة . وكذلک غيرالمقبور كالمصلوب . وجوابهم أن ذلک غير ممتنع في القدرة . بل له نظير في العادة ، وهو النائم ، فإنه يجد لذة وألمًا لايدركه جليسه ، بل اليقظان قد يدرک ألمًا أو لذة لما يسمعه أو يفكّر فيه ، ولا يدرک ذلک جليسه . وإنما أتي الغلط من قياس الغائب على الشاهد ، وأحوال ما بعد الموت على ما قبله . والظاهر أنّ الله تعالى صرف أبصار العباد وأسماعهم عن مشاهدة ذلک ، وستره عنهم إبقاء عليهم لئلا يتدافنوا ، وليست للجوارح الدنيوية قدرة على إدراک الملكوت إلا من شاء الله . قال : وقد ثبتت الأحاديث بما ذهب إليه الجمهور ، كقوله "إنه ليسمع خفق نعالهم" وقوله : "وتختلف أضلاعه لضمة القبر" وقوله : "يسمع صوته إذا ضربه بالمطراق" وقوله : "يضرب بين أذنيه" وقوله : "فيُقعدانه" وكل ذلک من صفات الأجساد .

وقال الحافظ أيضا في رسالته "الجواب الكافي عن السوال الخافي" (٤١/٢) : وأما السادس : وهو هل العذاب على الروح أو الجسد؟ فالجواب : أنه عليهما ، لكن حقيقته على الروح ، ويتألم الجسد مع ذلک ويتنعم مع ذلک . لكن لا يظهر أثر ذلک لمن يشاهده من أهل الدنيا ، حتى لو نبش على الميت لوجد كهيئته يوم وضع . تكملة فتح الملهم شرح صحيح المسلم ج ٦ ص ١٢٤ .

## ۳ . د جُمعې په ورځ یا شپه باندې وفات کیدونکې کس د عذابِ قبر نه محفوظ وي

**دريمه مسئله** : کوم مسلمان چې د جُمعې په ورځ یا دجُمعې په شپه وفات شي نو د جُمعې د تعظیم او تکریم په وجه په ده باندې د ضغطه قبر نه علاوه نور عذاب نه وي .

نبي کريم صلی الله علیه وسلم فرمایي :

مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَمُوْتُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ أَوْ لَيْلَةَ الْجُمُعَةِ إِلَّا وَقَاهُ اللهُ فِتْنَةَ الْقَبْرِ . (۱)

کوم مسلمان چې د جُمعې په ورځ یا دجُمعې په شپه باندې مړ شي نو الله ﷻ دې د عذابِ قبر نه محفوظ ساتي .

بل حدیث کې راځي : مَنْ مَاتَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَقِيَ عَذَابَ الْقَبْرِ . (۲)

څوک چې د جُمعې په ورځ مړ شي نو دې به د عذابِ قبر نه محفوظ وي .

په فتاوی محمودیه کې هم ذکر دي چې د جُمعې په ورځ وفات کیدونکي کس باندې به عذابِ قبر نه وي ، همدغه رنګې کوم کس چې په رمضان کې وفات شي نو د ده سره به هم د آسانۍ معامله کولې شي . (۳)

(۱) رواه احمد ، مشكوة باب الجمعة ۱۲۱ ضغطة القبر وعذابه حق ، ترمذي ص ۲۰۵ باب ماجاء في من يموت يوم الجمعة .

(۲) اخرجه الهيثمي في مجمع الزوائد ج۳ ص ۵۸ في الجنائز في باب فيمن مات يوم الجمة عن ابي يعلى ، رقم الحديث ۳۸۹۱ طبعه دارالفكر بيروت . قال العلامة علاؤالدين الحصكفي رحمه الله : وفيه تجمع الارواح تزار القبور ويأمن الميت من عذاب القبر ، ومن مات فيه أو في ليلته أمِنَ مِنْ عذاب القبر . الدر المختار على صدر ردالمحتار ج۱ ص ۱۵۴ باب الجمعة ، مطلب ما اختص به يوم الجمعة .

قال العلامة بن عابدين رحمه الله : والمؤمن المطيع لايعذب بل له ضغطةٌ يجد هول ذلك وخوفه ، والعاصي يعذب ويضغط لكن ينقطع عنه العذاب يوم الجمعة وليلتها ثم لايعود ، وان مات يومها وليلتها قد يكون العذاب ساعة واحدة وضغطة القبر ثم يقطع . رد المحتار على الدر المختار ج۲ ص ۱۶۵ باب الجمعة مطلب ما اختص به يوم الجمعة .

قال العلامة ملا علي القاري رحمه الله : نعم ثبت في الجملة أنّ من مات يوم الجمعة أو ليلة الجمعة يرفع العذاب عنه . شرح الفقه الاكبر ص ۱۰۲ عذاب القبر حق ، فتاوى حقانيه ج۱ ص ۱۷۹ ، ۱۸۰ .

(۳) فتاوى محموديه ج۳ ص ۳۴ ، ۳۵ موت وميت كے احوال .

**نوټ** : کوم ځای چې دا خبره ذکر ده چې :
" که یو کس د جُمعې د ورځ نه مخکې مړ شي ، او هغه دفن کړي ، بیا د دې قبر حفاظت تر د جُمعې د ورځې پورې کوي نو په ده هم عذابِ قبر نه وي "
نو دا خبره نه خو چیرته په صحیح روایت کې ذکر ده ، او نه د چا معتمد فقیه قول دی ، بلکه دا د " کنز " محشي ابوالمکارم یا " غرائب " کتاب خبره ده چې معتبره نه ده . (پوره تفصیل په فتاویٰ حقانیه ج۱ ص ۱۸۰ کې ذکر دی) .

## ۴ . د قبرستان نه شنه ګیاه ختمول مکروه تحریمي ده

**څلورمه مسئله** : شنه ګیاه د الله حمد او تعریف بیانوي ، لهذا دا د قبرونو نه ختمول مکروه تحریمي ده ، بیا خاصکر نن صبا خلق چې د محرم الحرام په میاشت کې د قبرونو نه شنه وابنه ختموي او د هغې د پاسه نورې خاورې اچوي نو دا ناجائز دي ، البته که اُوچه ګیاه ورنه لرې کړې شي نو دا خیر دی . (۱)

## ۵ . د قبرونو د پاسه د اُوچې ګیاه سوزول منع دي

**پنځمه مسئله** : په بعضو علاقو کې دا عادت وي چې کله د دوی په قبرستان کې ګیاه اُوچه شي نو د صفائي د پاره دیته اُور واچوي .
خو خبردار ! دا ناجائز دی ،بلکه د صفایي د پاره څه بله طریقه اختیارول په کار دي ځکه چې قبرستان ته د اُور وړلو اجازت نشته ، نو بیا اُوچې ګیاه ته د اُور ورکولو اجازت د کوم ځای نه راغی ؟

---

(۱) قال العلامة حسن بن عماد الشرنبلالي :كره قطع الحشيش الرطب وكذا الشجرة من المقبرة لأنه مادام رطباً يسبّح الله تعالى فيونس الميت . و تنزل بذكر الله تعالى الرحمة . ولابأس بقلع اليابس فهما الحشيش والشجر لزوال المقصود . مراقي الفلاح على صدر طحطاوي كتاب الجنائز ص ١٢١ . قال العلامة ابن نجيم رحمه الله : ويكره قطع الحطب والحشيش من المقبرة إلا إذا كان يابسًا . ولايستحب قطع الحشيش الرطب . البحر الرائق ج٢ ص ١٩٦ باب الجنائز ، ومثله في فتاوى التاتارخانية ج٢ ص ١٧٣ باب الجنائز المتفرقات ، فتاوىٰ حقانيه ج٣ ص ٢٦٦ .

مفتي عبدالرحيم لاجپوري رحمه الله په خپله فتاویٰ کې ليکي :

جب قبرستان ميں آگ لے کر جانے کي ممانعت ہے تو قبروں کي اُوپر گھاس وغيره جلانے کي اجازت کس طرح هوسکتي ہے؟ البته صفائي کے لئے دوسروي تدبير عمل ميں لائي جائي. (۱)

## ٦ . د قبر سَر ته د سورة بقرې اول ، او خپو ته د سورة بقرې آخِر لوستل

**شپږمه مسئله** : د قبر سَر ته د سورة بقرې اول او خپو ته د سورة بقرې آخر لوستل سُنت دي، ځکه رسول الله ﷺ فرمايي :

إِذَا مَاتَ أَحَدُكُمْ فَلَا تُحْبِسُوْهُ وَأَسْرِعُوْا بِهِ إِلَى قَبْرِهِ . وَالْيُقْرَءُ عِنْدَ رَأْسِهِ فَاتِحَةَ الْبَقَرَةِ وَعِنْدَ رِجْلَيْهِ بِخَاتِمَةِ الْبَقَرَةِ. (۲)

کله چې په تاسو کې يو کس وفات شي نو هغه محبوس ( قيد ) مه ساتئ ، بلکه دې خپل قبر ته زر اورسوئ. او په کار دي چې ( قبر سره اودرېږئ او ) د هغه سَر ته د سورة بقرې ابتدايي آيتونه ( يعنی د شروع نه تر مُفلحون پورې ) او خپو ته د سورة بقرې آخري آيتونه ( يعنی د آمَنَ الرّسول ... نه تر آخره پورې ) ولوستلې شي.

## ۷ . په تابوت کې د مړي ښخولو حکم

**اوومه مسئله** : که زمکه نرمه وي او که کلکه خو د ښځې (زَنانه) د پاره تابوت جوړول جائز دي ، ځکه په تابوت سره د دې پَرده راځي.

---

(۱) فتاوی رحیمیه ج۵ ص ۱۰۳ باب احکام الجنائز ، فتاوی حقانیه ج۳ ص ۴٦٦ .

(۲) رواه البيهقي في شُعب الايمان ، مشکوة المصابيح ۱ : ۱۴۹ باب دفن الميت الفصل الثالث حديث ۲۴ . وَأَخْرَجَ الطِّبْرَانِي عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ الْعَلَاءِ بْنِ الْجلاج قَالَ: قَالَ لِيْ أَبِيْ: يَا بُنَيَّ! إِذَا أَوْضَعْتَنِيْ فِيْ لَحَدِيْ فَقُلْ: "بِسْمِ اللهِ وَعَلٰى مِلَّةِ رَسُوْلِ اللهِ" ثُمَّ سن عَلَيَّ التُّرَابَ سَنًّا. ثُمَّ اقْرَأْ عِنْدَ رَأْسِيْ بِفَاتِحَةِ الْبَقَرَةِ وَخَاتِمَتِهَا فَإِنِّيْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ ذٰلِكَ . شرح الصدور بشرح حال الموتى والقبور ۴۳ باب ما يقال عند الدفن والتلقين، فتاوی فريديه ج۳ ص ۲۷۵ ، ۲۷٦ .

او د سري د پاره تابوت صرف د ضرورت په وخت کې جائز دی لکه زمکه نرمه وي، يا نَمي وي په کې، يا د غورځېدو خطره وي. او بلا ضرورته د سړو دپاره تابوت جوړول مکروهه دی. (۱)

قَوْلُهُ: لَابَأْسَ بِاِتِّخَاذِ تَابُوْتٍ: اي يُرَخَّصُ ذٰلِكَ عِنْدَ الْحَاجَةِ. وَإِلَّا كُرِهَ كَمَا قَدَّمْنَاهُ آنِفًا. وَفِي الْمُحِيْطِ: وَاسْتَحْسَنَ مَشَايِخُنَا اِتِّخَاذَ التَّابُوْتِ لِلنِّسَاءِ يَعْنِيْ لَوْ لَمْ تَكُنِ الْأَرْضُ رَخْوَةً فَإِنَّهُ أَقْرَبُ إِلَى السَّتْرِ وَالتَّحَرُّزِ عَنْ مَسِّهَا عِنْدَ الْوَضْعِ فِي الْقَبْرِ. (۲)

## ۸. د قبرونو پخول او آبادي پرې کول منع دي

**اتمه مسئله**: د قبرونو پخول منع دي، د مسلم شريف حديث دی، حضرت جابر رضی الله عنه وايي:

نَهٰى رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُجَصَّصَ الْقَبْرُ وَأَنْ يُبْنٰى عَلَيْهِ وَأَنْ يُقْعَدَ عَلَيْهِ. (۳)

نبي عليه السلام منع کړی د دينه چې په قبر دې چونکه کاري وکړې شي (يعنی چې پوخ کړې شي)، او په دې باندې آبادي وکړې شي، او په دې دې کيناستې شي. (يعنی دا درې واړه کارونه منع دي).

په کتاب الازهار کې ذکر دي چې په قبرونو چونه کاري کول مکروهه دي، او دا دواړو صورتونو ته شامل دی: که د خښتې لړولو سره چونه کول وي، او که همداسې چونه کول وي، دا دواړه صورتونه مکروهه دي ځکه په دې کې يو قسم زينت او تکلف دی.

(۱) لَابَأْسَ بِاِتِّخَاذِ تَابُوْتٍ لَهُ عِنْدَ الْحَاجَةِ كَرَخَاوَةِ الْأَرْضِ اي يُرَخَّصُ ذٰلِكَ عِنْدَ الْحَاجَةِ وَإِلَّا كُرِهَ. درمختار مع الشامي نعمانيه ج۱ ص ۵۹۹ مطبوعه زکريا ج۳ ص ۱۴۰ باب صلاة الجنازة مطلب في دفن الميت، زيلعي ج۱ ص ۲۴۵ فصل السلطان احق بصلاته مطبوعه امداديه ملتان. مجمع الانهر ج۱ ص ۲۷۵ فصل في الصلاة عليه مطبوعه دارالکتب العلمية بيروت، فتاوی محموديه ج۱۳ ص ۲۳۸.

(۲) رد المحتار هامش الدر المختار ۱: ۶۶۰ مطلب في دفن الميت، فتاوی فريديه ج۳ ص ۲۶۲ فصل في الحمل والغسل والدفن والتعزية، فتاوی حقانيه ج۲ ص ۵۴.

(۳) رواه مسلم، مشکوة باب دفن الميت الفصل الاول حديث ۵.

البته بعضې علماو په خاورې سره لیو کول جائز ګرځولي .

دغه رنګې په قبر باندې عمارت جوړول هم صحیح نه دی . علامه توریشتي رحمه الله وایي : په قبرونو باندې د عمارت جوړولو دوه (۲) صورتونه دي :

۱ . په کاڼي او خښتو په ذریعه ورباندې عمارت جوړ کړې شي . ۲ . خیمه ورباندې اودرولې شي . دا دواړه منع دي ، ځکه په دې کې خو د مړي هیڅ فائده نشته ، بل دا چې دا دجاهلیت د زمانې فعل دی ، ځکه کافرانو به د مړي د پاسه لس (۱۰) ورځې سورې کولو .

دغه رنګې د قبر د پاسه کیناستل هم منع دي ، ځکه په دې سره د صاحبِ قبر سپکاوې ، او بې عزتي راځي او دا منع دي . (۱)

په ترمذي شریف کې دا حدیث په دې الفاظو ذکر دی :

نَهٰى رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهِ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُجَصَّصَ الْقُبُوْرُ وَأَنْ يُكْتَبَ عَلَيْهَا ، وَأَنْ تُوْطَاءَ . (۲)

نبي علیه السلام منع کړې ددینه چې قبرونه دې ګچ (پاخه) کړې شي ، په دې باندې دې لیکل وکړې شي ، او دا دې په خپو سره پائمال کړې شي (یعنی دا درې واړه کارونه منع دي)

**نوټ** : په دې حدیث کې په قبرونو باندې د لیکلو نه هم منع راغلی ، چې په قبرونو باندې د الله جل جلاله او د رسول ﷺ نوم مبارک یا د قرآن کریم څه آیت ولیکلې شي ، ځکه چې د خپو لاندې راتلو سره یا د ځناورو وغیره متیازؤ کولو په وجه د دې بې عزتي کیږي ، تر دې پورې چې علماء دا هم مکروهه ګڼي چې په کاڼي وغیره باندې د مړي نوم یا بل څه ولیکلې شي او په قبر باندې اودرولې شي .

البته بعضې علماء وایي چې که په کاڼي وغیره باندې د مړي نوم یا بل څه لیکل وکړې شي ، خاصکر د علماءِ دین او صلحاؤ په قبرونو باندې ودرولې شي نو دا خیر دی ، ځکه چې د وخت په تیریدلو سره بیا د دوی قبرونه پیژندلې شي . (۳)

(۱) مظاهر حق شرح مشکوة ج۲ ص ۱۸۰ .

(۲) رواه الترمذي ج۱ ص ۲۰۳ باب ماجاء في كراهية تجصيص القبور ، مشكوة باب دفن الميت الفصل الثاني حديث ۱۶ .

(۳) مظاهر حق شرح مشكوة ج۲ ص ۱۹۰ .

اګر چې بعضې فقهاؤ ددې ليکلو جواز ورکړی ، خو بهتره بيا هم داده چې په قبر ليکل اونه شي ، ځکه په شرعي حکم کې ډير زيات مصلحتونه او فائدې وي . (۱)

## د قبرونو پخولو او په دې باندې د تعمير کولو باره کې تحقيق:

**نوټ** : صرف د علماو په عِلم کې د اِضافې په خاطر دا مسئله تفصيلا ليکم ، اګر چې نفسِ مسئله پاس بيان شوه خو د مزيد فائدې په خاطر صرف علماو د پاره يې په تفصيل سره ليکم .(ابوالشمس)

د قبرونو پخول او په دې باندې آبادي کول نا جائز او ممنوع دي ، او دا ممانعت د احاديثو او فقهاو د کتابونو نه صراحة معلوميږي . همدارنګې د امام ابو حنيفه رحمه الله په نزد هم دا منع دي .

امام محمد رحمه الله په کتاب الآثار کې ليکي :

وَلَا نَرَىٰ أَنْ يُزَادَ عَلَىٰ مَا خَرَجَ مِنْهُ (اى) مِنَ الْقَبْرِ . وَنكره أَنْ يُجَصَّصَ أَوْ يُطِيْنَ أَوْ يُجْعَلَ عِنْدَهُ مسجد او علم او يُكْتَبَ عَلَيْهِ . وَنَكْرَهُ الْآجر أَنْ يُبْنَىٰ بِهِ أَوْ يدخل الْقَبْر . وَلَا نَرَىٰ بِرَشِّ الْمَاءِ عَلَيْهِ بَأْسًا وَهُوَ قَوْلُ أَبِي حَنِيْفَةَ . (۲)

علامه طحطاوي رحمه الله ليکي (۳) : وَلَا يُجَصَّصُ بِهِ . قَالَتِ الثَّلَاثَةُ لِقَوْلِ جَابِرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نَهَىٰ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ تَجْصِيْصِ الْقُبُوْرِ وَأَنْ يُكْتَبَ عَلَيْهَا وَأَنْ يُبْنَىٰ عَلَيْهَا . (۴)

---

(۱) مسائل رفعت قاسمي ج۷ ص ۱۱۳ مسائل ميت .

(۲) كتاب الآثار ج۲ ص ۱۹۱ باب تسنيم القبور وتجصيصها . مكتبه دارالفكر بيروت .

(۳) طحطاوي مع مراقى الفلاح ص ۵۰۴ فصل في حملها ودفنها . مكتبه مصر

(۴) مسلم ۱ / ۳۱۲ كتاب الجنائز فصل فى النهي عن تجصيص القبور والقعود عليها ... ، ابوداود ۲ / ۳۴۰ كتاب الجنائز باب البناء على القبور .

په مراقي الفلاح كي ذكر دي:

وَيحْرمُ الْبِنَاءُ عَلَيْهِ لِلزِّيْنَةِ لِمَا رَوَيْنَا . وَيَكْرَهُ الْبِنَاءُ عَلَيْهِ لِلْإِحْكَامِ . قَوْلُهُ لِمَا رَوَيْنَا مِنَ النَّهْيِ عَنِ التَّجْصِيْصِ وَالتَّرْبِيْعِ فَإِنَّهُ مِنَ الْبِنَاءِ . ( وَقَوْلُهُ يَكْرَهُ الْبِنَاءُ عَلَيْهِ ) ظَاهِرُ إِطْلَاقِهِ الكراهة أَنَّهَا تَحْرِيْمِيَّةٌ . قَالَ فِيْ غَرِيْبِ الْخطابي نهى عَنْ تَقْصِيْصِ الْقُبُوْرِ وَالتَّكْلِيْلِ بِنَاء الْكلل وَهِيَ الْقُبَابُ وَالصَّوَامِعُ الَّتِيْ تُبْنَىٰ عَلَى الْقَبْرِ .....

علامه طاهر ددې حديث په تشريح كې په مجمع البحار كې ليكي:

نهى عن تقصيص القبور وتكليلها اى رفعها بالبناء مثل الكل وهي الصوامع والقباب ، وقيل هو ضرب الكلة عليها وهي ستر مربع بقرب القبور . وقيل ستر رقيق وهي كالبيت يتوقى قبه من البق . (١)

همدارنګې د عرف الشذي د عبارت نه هم معلوميږي چې د قبرونو پخول او په دې باندې د آبادي كولو ممانعت دا مسئله اجماعي ده ، په دې كې د هيچا اختلاف نشته . دې ليكي:

وَلَا يَجُوْزُ التَّجْصِيْصُ عِنْدَ أَحَدٍ وَلَا الْبِنَاءُ .... (٢)

همدارنګې په كتاب المدخل كې هم دا مسئله پوره په تفصيل سره ذكر ده . (٣)

علامه عيني رحمه الله په شرح د هداية كې ليكي:

وَكَرِهَ أَبُوْحَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللهُ أَنْ يُبْنَىٰ عَلَى الْقَبْرِ ...... (۴)

**خلاصه** : ددې دومره احاديثو او د فقهاو د اَقوالو نه روستو په دې كې هيڅ شک و شُبه نشته چې قبرونه پخول او په دې باندې آبادي كول ناجائز او مكروهه دي .

(١) مجمع البحار ج٣ ص ٢٢٦ .

(٢) عرف الشذي ص ٣٥٣ باب ما جاء في كراهية تجصيص القبور .

(٣) المدخل ٣ / ٢٦٣ صفة القبر .

(۴) بنايه للعيني ١١٣ / ١ كتاب الصلوة الجنائز فصل في حمل الجنازة .

اوس که د يو چا قول د جوازوي نو د هغه قول د دې صريحو احاديثو او د فقهاو د صريحو عبارتونو د وړاندې هيڅ حيثيت نه لري.

**شبه ختمول**: پاتې شو د تفسير روح البيان واله هغه قول چې هغه د علماو او نيکانو خلقو په قبرونو باندې د قُبو او گنبدونو اجازت ورکړی: لکه هغه د آيت ﴿ إِنَّمَا يَعْمُرُ مَسَاجِدَ اللهِ مَنْ آمَنَ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ ..... ﴾ لاندې ليکي:

فَبِنَاءُ الْقُبَابِ عَلَى قُبُوْرِ الْعُلَمَاءِ وَالْأَوْلِيَاءِ وَالصُّلَحَاءِ وَوَضْعُ السُّتُوْرِ وَالْعَمَائِمِ وَالثِّيَابِ عَلَى قُبُوْرِهِمْ اَمْرٌ جَائِزٌ إِذَا كَانَ الْقَصْدُ بِذٰلِكَ اَلتَّعْظِيْمُ فِيْ أَعْيُنِ الْعَامَّةِ حَتّٰى لَا يَحْتَقِرُوْا صَاحِبَ هٰذَا الْقَبْرِ . وَكَذَا إِيْقَادُ الْقَنَادِيْلِ وَالشَّمْعِ عِنْدَ قُبُوْرِ الْأَوْلِيَاءِ وَالصُّلَحَاءِ مِنْ بَابِ التَّعْظِيْمِ وَالْإِجْلَالِ اَيْضًا لِلْأَوْلِيَاءِ فَالْمَقْصَدُ فِيْهَا مَقْصَدٌ حَسَنٌ . (۱)

نو دده د عبارت نه اګر چې جواز معلوميږي خو د صاحب د روح البيان واله په باره کې په فتاوىٰ محموديه ج ۱۳ ص ۴۱۵ کې ليکلي:

چې دا دې دومره صريحو احاديثو او د فقهاو د اقوالو په مقابله کې د تفسير روح البيان واله قول معتبر نه دی، او بل دا چې تفسير روح البيان په خپله څه معتبر کتاب نه دی ځکه په دې کې ډير مسائل غير معتبره موجود دي. (۲)، بل دا چې ده د دې د جواز د پاره هيڅ سَند

(۱) روح البيان ۳/۴۰۰ الجزء العاشر سورة توبه آيت ۱۸ ط دارالفكر بيروت.

(۲) **نوټ**: د روح البيان دا مسئله د اجماع خلاف ده، ځکه همدلته ده نقل کړي: وَكَذٰا الزَّيْتِ وَالشَّمْعِ لِلْأَوْلِيَاءِ يُوْقَدُ عِنْدَ قُبُوْرِهِمْ تَعْظِيْمًا لَهُمْ وَمَحَبَّةً فِيْهِمْ جَائِزٌ اَيْضًا لَا يَنْبَغِي النَّهْيُ عَنْهُ. روح البيان ۳/۴۰۰ الجزء العاشر سورة توبه آيت ۱۸ ط دارالفكر بيروت. حالانکه درمختار، طحطاوي، بحر وغيره ټولو دا نذر بالاجماع باطل او حرام ګرځولی: دوی ليکي: وَاعْلَمْ اَنَّ النَّذْرَ الَّذِيْ يَقَعُ لِلْأَمْوَاتِ مِنْ أَكْثَرِ الْعَوَامِ وَمَا يُؤْخَذُ مِنَ الدَّرَاهِمِ وَالشَّمْعِ وَالزَّيْتِ وَنَحْوِهَا إِلَى ضَرَائِحِ الْأَوْلِيَاءِ الْكِرَامِ تَقَرُّبًا إِلَيْهِمْ بِالْإِجْمَاعِ بَاطِلٌ وَحَرَامٌ. الدر المختار على رد المحتار ج۳ ص۴۲۷ قبل الاعتكاف ط زكريا، بحر ۲/۲۹۸ قبيل باب الاعتكاف، طحطاوي على مراقي الفلاح ص ۵۷۱ كتاب الصوم باب ما يلزم الوفاء به ... ط مصر. فتاوىٰ محموديه ج ۱۳ ص ۴۱۵ قبروں پر عمارت وغيره....

نه دې نقل کړی ، بلکه د جواز دپاره يې وجه صرف تعظيم خودلی ، حالانکه په مسائلو منصوصه و کې د هيڅا خبره بغير د سَند نه معتبره نه وي .

لهذا د روح البيان واله خبره د اجماع خلاف ده ، ځکه په رد المختار کې ذکر دي :

واما البناء عليه فلم أر مَنْ اختار جوازه الى عن أبي حنيفة رحمه الله يكره ان يبنیٰ بناء من بيت او قبة او نحو ذلک لما روی جابر ﷺ : نَهٰى رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ تَجْصِيْصِ الْقُبُوْرِ وَأَنْ يُكْتَبَ عَلَيْهَا وَأَنْ يُبْنَىٰ عَلَيْهَا . (۱)

**نوټ** : ددې مسئلې پوره تفصيل په " فتاویٰ محموديه ج۱۳ ص ۴۱۲ باب دهم قبروں پر عمارت وغيره " کې کتلې شئ .

## اعتراض : د أولياءُ الله په مزاراتو بيا ګنبدونه ولې دي ؟

بعضې خلق دا وايي چې کله قبرونه پخول او په دې باندې آبادي کول منع دي نو بيا د اولياء الله و په قبرونو باندې ولې مزارات جوړولې شي ؟

**جواب** : کله چې په دې قبرونو باندې دا مزارات حکومتِ وقت جوړول نو په هماغه وخت کې هم جيّد و علماؤ دوی منع کړي وو خو ليکن دوی نه وه منلی . لهذا د پيغمبر عليه السلام د صريحو احاديثو په مقابله کې د حکومت دا فعل سَند نه دی . (۲)

## اعتراض : د نبي عليه السلام په قبر باندې ګنبد ولی دی ؟

بعضې خلق دا اعتراض کوي چې کله په قبرونو باندې ګنبدونه جوړول منع دي نو بيا د نبي عليه السلام په قبر باندې ګنبد ولې جوړ شوی ؟

(۱) رد المختار ج۱ ص ۸۳۹ شامي کراچي ج۲ ص ۲۳۶ کتاب الجنائز باب صلوة الجنازة مطلب في دفن الميت .

(۲) فتاویٰ محموديه ج۱۳ ص ۴۲۱ .

**جواب** : د نبي عليه السلام د قبر اَصلي ځاى خو اوس هم کچه دى ، او د پيغمبر عليه السلام قبر خو د مخکې نه په حجره کې ؤ ، داسې نده چې ګني اول قبر ؤ او بيا پرې آبادي شوى ، بلکه د اول نه د رسول الله ﷺ قبر په حجره کې دننه ؤ .

تر ډير وخته پورې دا حجره هم کچه وه ځکه حضرت عمر رضي الله عنه د کچه خښتو نه جوړه کړې وه . خو د وليد بن عبدالملک په زمانه کې دا خامه حجره اوسپړل شوه او د مُنَقّش کاڼو نه جوړه شوه . د جوړولو په وخت کې هم حضرت عروة رضي الله عنه دې منع کړو خو ليکن دده خبره او نه منلې شوه .

بيا به وقتًا فوقتًا په دې کې تغير او تزيين کيده ، تر دې چې سن ٦٧٨ هجري کې قبه خضراء په دې جوړه شوه . (۱)

بل دا چې په قبرونو باندې د تعمير جوړلو نه رسول الله صلى الله عليه وسلم پخپله منع فرمايلى ، د مسلم شريف حديث دى ، حضرت جابر رضى الله عنه وايي :

نَهٰى رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُجَصَّصَ الْقَبْرُ وَأَنْ يُبْنٰى عَلَيْهِ وَأَنْ يُقْعَدَ عَلَيْهِ . (۲)

نبي عليه السلام منع کړى د دينه چې په قبر دې چونکه کاري وکړې شي (يعنى چې پوخ کړې شي) ، او په دې باندې آبادي وکړې شي ، او په دې باندې کيناستې شي . (يعنى دا درې واړه کارونه منع دي) .

همدارنګې په خپل مزار باندې يې د تعمير جوړولو حکم هم نه دې کړى .

اوس که يو بل چا دا کار کړى نو دده د عمل په وجه خو به د نبي عليه السلام صريح حديث نشي پريخودى .

(۱) جذب القلوب الى ديار المحبوب ص ۱۰۸ باب هفتم دربيان تغيرات وزيادات که بعد از رحلت آنحضرت ﷺ ، فتاوى محموديه ج۱۳ ص ۴۲۲ .

(۲) رواه مسلم ، مشکوة باب دفن الميت الفصل الاول حديث ۵ .

لهذا اِتباع به د حديث شريف کولې شي ، د صريح حديث په مقابله کې د چا بادشاهانو يا د بل چا عمل خو څه دليل نه دی . (۱)

## په کچه (خام) قبر کې د مړي فائده ده

بل دا چې په کچه قبر کې د مړي فائده هم وي ځکه چې په ده باندې اَنواراتِ الهي او رحمتِ خداوندي راوريږي ، او څوک چې ددې زيارت ته راځي هغه ته آخرت هم رايادېږي کوم چې د زيارتِ قبوز اصلي غرَض دی .

بل دا چې د مړي سره د محبت د پاره دا ضروري نه ده چې دده قبر دې پوخ کړې شي او په ده دې تعمير جوړ شي ، ځکه صحابه کرام په نبي عليه السلام باندې دا سې عاشقانۇ چې د دوی د اَودس اُوبه يې هم زمکې ته نه پرېښودی ، بلکه په خپل مخ او سترګو به يې مږلی ، ليکن د دې مَحبّت باوجود صحابه کرامو د نبي عليه السلام قبر مبارک پوخ نه کړو .

البته روستو بادشاهانو د حُجرې د پاسه ګنبد جوړه کړه ، او د بادشاه هغه کار چې د شريعت مخالف وي هيڅ دليل نه وي . (۲)

### مسئله :

اوس هم د شريعت دا مسئله ده چې که د يو بزرګ قبر پخول خوښ نه و ، او نه يې ددې حکم کړې و ، بلکه دده د مرګ نه پس چا دا کار د شريعت خلاف وکړو نو په دې کې ددې بزرګ هيڅ مؤاخذه نشته . (۳)

البته که يو بزرګ ته پته وه چې زما د وفات نه پس دا خلق زما قبر پخوي نو دده د پاره ضروري ده چې دې وصيت وکړي چې : زما قبر به نه پخوئ او نه به په ما باندې ګنبد جوړوئ . (۴)

---

(۱) فتاویٰ محموديه ج۱۲ ص ۴۲۳ .

(۲) مسائل رفعت قاسمي ج۷ ص ۱۸۳ مسايل ميت .

(۳) فتاویٰ دارالعلوم ديوبند ج۱ ص ۱۸۳ مسائل ميت ، مسائل رفعت قاسمي ج۷ ص ۱۸۳ مسايل ميت .

(۴) مسائل رفعت قاسمي ج۷ ص ۱۸۳ مسايل ميت .

## ۹ . په زوړ قبر باندې نوره خاوره اچول

**نهمه مسئله** : کله چې د وخت په تیریدو سره د قبر خاوره کیني ، یا د بارانونو سره ختمه شي ، او د قبر نښان (ننبه) ختمیږي نو بیا په دې قبر باندې نوره خاوره اچول جائز دي ، د دې دپاره چې قبر د غورځیدو او اهانت نه بچ شي .

اَلْمُخْتَارُ أَنَّ التَّطْيِيْنَ غَيْرُ مَكْرُوْهٍ وَكَانَ عِصَامُ بْنُ يُوْسَف يَطُوْفُ حَوْلَ الْمَدِيْنَةِ وَيَعْمُرُ الْقُبُوْرَ الْخربَة ..... (۱)

مختار قول دادی چې قبرونه په خټه لیوول مکروهه نه دي ، ځکه عصام بن یوسف به په مدینه کې ګرځیده او کوم قبرونه چې به وران شوي وو هغه به یې جوړول .

بیا خاصکر په هغه قبر خو نوې خاوره اچول په کار دي په کوم چې خاوره مکمل ختمه شوې وي ، او یا د چا په دې قبر کې د غورځیدو خطره وي :

لِأَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّ بِقَبْرِ إِبْنِهِ إِبْرَاهِيْمَ فَرَأَىٰ فِيْهِ حَجَرًا سَقَطَ فِيْهِ، وَقَالَ مَنْ عَمِلَ عَمَلًا فَلْيتقننهُ ..... (۲)

ځکه رسول الله ﷺ د خپل ځوي ابراهیم په قبر تیر شو ، نو وې لیده چې کاڼي په کې غورځیدلي و ، نبي علیه السلام وفرمایل : څوک چې یو کار کوي نو محکم او مضبوط کار دې کوي .

**نوټ** : د ضرورت په وخت په قبر نوې خاوره اچولې شی خو د عاشورې ورځ د دې د پاره خاص کول صحیح نه دي . (۳)

(۱) مجمع الانهر ج۱ ص ۳۷٦ باب صلاة الجنائز قبیل باب الشهید ، مراقی مع الطحطاوي ص ۵۰۵ فصل في حملها ودفنها ، بحرالرائق ۲ /۱۹۴ کتاب الجنائز فصل السلطان احق بصلاته ، فتاوی محمودیه ج۱۳ ص ۳۰۷ جنازه اٹھانے اور دفن کرنے کا بیان ، احسن الفتاوی ج۴ ص ۲۰۲ بحواله رد المختار ج۱ ص ۱۳۹ ، فتاوی دارالعلوم دیوبند ج۵ ص ۳۸، مسائل رفعت قاسمي ج۷ ص ۱۸۱ .

(۲) طحطاوي ص ۵۰۴ باب صلاة الجنائز فصل في حملها ودفنها ، مجمع الانهر ۱ / ۳۷٦ باب صلاة الجنائز ، فتاوی محمودیه ج۱۳ ص ۳۰۹ .

(۳) کفایت المفتي ج۴ ص ۳۸ ، مسائل رفعت قاسمي ج۷ ص ۱۸۱ مسائل میت .

## ۱۰. د دفن کولو نه پس د مړي بل ځای ته د منتقِل کولو حکم

**لسمه مسئله** : علامه طحطاوي رحمه الله د مړي د دفن کولو نه پس بل ځای ته د منتقِل کولو درې (۳) صورتونه ليکلي :

### ۱ . اتفاقاً نقل کول جايز دي

دا په هغه وخت کې دي چې کله مړې د غصب په زمکه کې خښ شوې وي (يعنی د بل چا په زمکه کې د هغه د اجازت نه بغير خښ شوې وي، او دا زمکه د هغه نه په زُوره غصب شوې وي) اوس د زمکې مالِک په دې راضي نه وی، او بار بار دا مطالبه کوي چې دا مړې د دې ځای نه اُوباسئ ، نو په دې حالت کې بالاتفاق به د مجبوريت د وجې نه دا مړې بل ځای ته نقل کولې شي.

### ۲ : اتفاقاً نقل کول ناجائز دي

دا په هغه وخت کې دي چې کله يو مړې چيرته لرې خښ شوې وي اوس وارثان د ده سره د مَحبت په وجه دا غواړي چې دا مړې نزدې مقبرې ته راوړي ، يا دې مړي وصيت کړې وي چې ما په دې نزدې مقبره کې خښ کړئ ، او دې خلقو چيرته لرې خښ کړې وي ، نو په دې صورت کې بالاتفاق دا مړې بل ځای ته نقل کول ناجائز دي.

### ۳ . اختلافي صورت

دا په هغه وخت کې دی چې کله په قبر باندې اُوبه راشي او د اُوبو د وجې دا مړې محفوظ نه وي نو په دې صورت کې بعضې علماء وايي چې دا مړې اوس بل ځای ته نقل کولې شي. (۱)

---

(۱) اَلنَّقْلُ بَعْدَ الدَّفنِ عَلٰى ثَلَاثَةِ أَوْجُهٍ : فِيْ وَجْهٍ يَجُوْزُ بِاتِّفَاقٍ ، وَفِيْ وَجْهٍ لَايَجُوْزُ بِاتِّفَاقٍ ، وَفِيْ وَجْهٍ اِخْتِلَافٌ. أَمَّا الْأَوَّلُ فَهُوَ إِذَا دُفِنَ فِيْ أَرْضٍ مَغْصُوْبَةٍ وَلَمْ يَرْضَ صَاحِبُهُ إِلَّا بِنَقْلِهِ عَنْ مِلْكِهِ. جَازَ أَنْ يُخْرجَ مِنْهُ بِاتِّفَاقٍ. أَمَّا الثَّانِيْ : فَكَالْأُمِّ مَثَلًا إِذَا أَرَادَتْ أَنْ تَنظُرَ إِلٰى وَجْهِ وَلَدِهَا أَوْ نَقْلَهُ إِلٰى مَقْبَرَةٍ أُخْرٰى لَايَجُوْزُ بِاتِّفَاقٍ. وَأَمَّا الثَّالِثُ : إِذَا غَلَبَ الْمَاءُ عَلَى الْقَبْرِ فَقِيْلَ يَجُوْزُ تَحْوِيْلُهُ .... طحطاوي ص ۵۰۷ فصل في حملها ودفنها احكام الجنائز ، حاشية الشبلي ج۱ ص ۲۴۶ قبيل فصل التعزية ، بحر الرائق ج۲ ص ۱۹۵ في الجنائز ، فتاوئ محموديه ج۱۳ ص ۲۶۱ جنازه اُٹھانے اور دفن کرنے کا بیان .

معلومه شوه چې بلا ضرورته د مړي د يو ځای نه راويستل او بل ځای خښول ناجائز دي:

وَأَمَّا نَقْلُهُ بَعْدَ دَفْنِهِ بِلَا ضَرُوْرَةٍ فَلَا مُطْلَقًا . (۱)

د مړي د خښولو نه روستو بلاضرورته بل ځای ته نقل کول مطلقًا نا جائز دي .

## د عذابِ قبر نه د بچ کيدو طريقه :

کوم سړې چې دا غواړي چې د عذابِ قبر نه اَمان اومومي نو ده له په کار دي چې په دې يو څو خبرو باندې عمل وکړي :

۱ . د عذابِ قبر چې کوم اسباب مخکې ذکر شو د هغې نه دې ځان وساتي .

۲ . د ګناهونو نه دې توبه اوباسي ، او د حقوق الله او حقوق العبادو لحاظ دې ساتي .

۳ . د عذابِ قبر نه دې پناه غواړي ، ځکه نبي عليه السلام هم د عذابِ قبر نه پناه غوښته.

ددې نه علاوه په احاديثو کې څه نور اعمال هم ذکر شوي چې د هغې په کولو سره هم د عذابِ قبر نه حفاظت راتلې شي : لکه د سورة المُلک تلاوت کول ، د الله ﷻ په لاره کې شهيد کيدل ، د جُمعې په ورځ يا د جُمعې په شپه وفات کيدل ، د خيټې په بيمارۍ ( يعنی دَستونو د وجې ) وفات کيدل ، او وفات کيدونکي کس ته سورة ياسين ويل . (۲)

## دُعا :

الله تبارک وتعالی دې مونږ ټول د عذابِ قبر نه وساتي ، او که څوک مسلمانان وفات شوي وي نو الله ﷻ دې د هغوی قبرونه د اَنواراتو نه ډک کړي ، او قبرونه دې ورله د جنت د باغيچو نه يوه باغيچه وګرځوي ، او د عذابِ قبر نه دې ورته پناه ورکړي .

آمِيْن يَارَبَّ الْعَالَمِيْن .

وَآخِرُ دَعْوَانَا أَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ

---

(۱) شامي ج۳ ص۱۴۷ ، حلبي کبيري ص ۶۰۷ باب الجنازة فی المتفرقات ، عالمکير ج۱ ص ۱۶۷ الفصل السادس فی القبر، فتاوی محموديه ج۱۳ ص ۲۶۰ .

(۲) آپ کے مسائل اور اُن کا حل ج۲ ص ۴۶۳ ، ۴۳۹ .

# د قبر عذابونو او نعمتونو متعلق نور بهترين واقعات:

په عالَمِ برزخ (يعنى قبر) کې مومنانو ته د نعمتونو، او کافرانو او گناهگارانو ته د عذابونو متعلق مې نور داسې بهترين واقعات ذکر کړي چې په اوريدو سره يې په انسان کې د گناهونو نه نفرت پيدا کيږي، د قبر او آخرت فکر ورسره پيدا کيږي، او د نيکو اعمالو طرف ته يې توجه پيدا کيږي.

## د گناهونو او نافرمانيو په وجه عذابِ قبر

کوم کس چې په گناه کبيره کې مبتلاء وي او بغير د توبې نه مړ شي نو دده د پاره په قبر کې سخت عذابونه مقرر شوي، بيا خاصکر چې کوم سړي په گناهونو ډير زړه وَر وي، بغير د څه خوف و خطر نه د الله ﷻ نافرماني کوي، د شرعي احکاماتو سپکاوې کوي او د نورو خلقو حقوق ضائع کوي نو دداسې خلقو د پاره ډيره ويره او سخت عذابونه دي. ددې په باره کې درته يو څو معتمد واقعات ذکر کوم:

## ۱. په بيت المال کې د خيانت کولو په وجه عذابِ قبر

حضرت رافع ؓ وايي: چې يو ځل زه د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره د جنّتُ البقيع په قبرستان باندې تيريدم، نو نبي عليه السلام اُف اُف وويل، ما دا خيال وکړو چې گني دوى زما په باره کې د ناخوښئ دا کلِمه وويله، نو ما فورًا عرض وکړو:

اې د الله ﷻ رسوله! د مانه څه خطاء اوشوه؟ نبي عليه السلام وفرمايل: څه مطلب؟ (يعنى ستا څه مقصد دى؟) ما عرض وکړو چې: تاسو ماته وکتل، او اُف مو وويل.

نبي عليه السلام وفرمايل: ما دا کلِمه ستا په باره کې نه ده ويلى، بلکه ددې قبر واله فلانکې کس ما فلانکئ قبيلې ته د زکوة وصولولو د پاره دعامِل په طور ليږلې و، ده هلته

يوه ګُرته (يا : زغره) پټه کړې وه ، او خيانت يې کړې و ، اوس هغه کورته ده ته اُور ګرځيدلې ، او ده ته وراغوستې شوې. أَعَاذَنَا اللهُ مِنْهُ. (۱)

## ۲. د يوې ستنې په وجه عذابِ قبر

په " اِصلاحي بيانات " کې يوه واقعه ذکر ده چې : يو عالِم وفات شو ، د ده د وفات نه روستو يو شاګرد دې په خُوب کې وليد چې په بدن باندې يې جامې نه وې ، او د سختې ګرمۍ د وجې يې په يو ميدان کې منډې رامنډې وهلې ، او سخت خفه و ، دې شاګرد ورنه پوښتنه وکړه :

جناب ! تاسو خو ټول عُمر په عباداتو ، د دين په خدمت او د خلقو په اِصلاح او تربيت کې تير کړی و ، نو آيا په دې ټولو عباداتو کې يو عبادت هم ندې قبول شوی ؟

هغه ورته وويل : الله تعالى چې د کوم عباداتو توفيق راکړی و هغه ټول قبول شوي ، خو دا عذاب راته د يوې ستَنې په وجه راکولې شي .

دا شاګرد وايي چې ما ورنه پوښتنه وکړه : د ستنې په وجه څنګه عذاب درکولې شي ؟ نو هغه راته وويل : د وفات کيدو نه يو څو ورځې مخکې ما د خپل ګاونډي نه د ګنډلو يوه ستَن راوړې وه ، کله مې چې پرې جامې وګنډلې نو هغه ستن مې په اَلمارۍ کې کيښوده ، او د مانه هيره شوه چې ما واپس ورکړې وی ، بيا زه وفات شوم . نو اوس چې ته ما په کوم عذاب کې وينې نو دا د هغه يوې ستنې په وجه دی .

خو اې شاګرده ! ته داسې وکړه چې کله سهر د خُوب نه راپاڅې نو زما کورته لاړ شه ، او هغوی ته روايه چې : په فلاني اَلمارۍ کې ستن ماله راکړئ ، بيا ته هغه ستن فلانکي ګاونډي ته وَسپاره ، د دې د پاره چې د ما نه دا عذاب لرې شي .

دا شاګرد چې کله سهر د خُوب نه راپاڅيد ، او د دې خپل استاذ کورته لاړ ، هغوی ته يې وويل : تاسو په فلانۍ الماری کې وګورئ چې ستن شته او که نه ؟ هغوی چې وکتل نو وې ويل : هو ، ستن شته . ده ورنه پوښتنه وکړه : تاسو ته معلومه ده چې دا د چا ده ؟

هغوی وویل : هو . دا مرحوم د فلانکي ګاونډي نه راخيستي وه ، خو هغه بيا وفات شو زمونږ اراده د ورکولو وه خو مونږ ويل : چې د ميلمنو دا تلل راتلل لږ کم شي نو بيابه يې ورله ويسو .

دې شاګرد ورته وويل : ما هغه په خُوب کې وليد چې ددې يوې ستنې په وجه په عذابِ قبر کې مبتلاء دی ، نو تاسو ماته دا ستن راکړئ چې زه يې هغه ته په جلتۍ وسپارم ، ددې د پاره چې د هغه نه عذابِ قبر لرې شي ، او د هغه مالِک نه ددې روستو والي معافي هم وغوارم .

کله چې دې شاګرد دا ستن هغه مالِک ته ورووړه ، او هغه ته يې وويل : چې مرحوم ددې يوې ستنې په وجه په عذابِ قبر کې ګرفتار دی نو ته هغه ته ددې تاخير کولو معافي وکړه .

کله چې دې ګاونډي دا خبره واوريده نو په سترګو کې يې اوښکې راغلې او وې ويل : د څومره معمولي حق په ضائع کولو دې په عذاب کې ګرفتار دی . خو اې الله ! ما دې معاف کړی ، ته هم په خپل رحم سره دې معاف کړه ، او د قبر عذاب ورنه لرې کړه .

دا شاګرد وايي : کله چې زه بيګاله بيا اُوده شوم نو په خُوب کې مې بيا وليد ، خو ليکن اوس معامله بَدَله وه : چې دا عالِم په ډير ښکلي باغ کې موجود و ، څلور واړه طرفته خادِمان موجود وو ، د هر قسمه ميوو اُونې موجودې وی ، او په دې باغ کې ښکلې يخې يخې هواګانې لږيدې ، او دا ډير زيات خوشحاله و ، نو زه نزدې ورغلم ، سلام مې پرې واچول ، د سلام نه روستو مې ورته وويل : اوس څه حال دی ؟ هغه راته وويل :

کله چې تا هغه ګاونډي ته ستن حواله کړه ، او هغه دا وويل : چې اې الله ! ما دې معاف کړی ته يې هم معاف کړی ، نو د هماغه وخت نه د مانه عذاب لرې شو . او دا کوم نعمتونه او خوشحاليانې چې ته ګورې نو دا د هغه عباداتو او د دين د خدمت په وجه دي چې الله تعالی د هغې بدله ماته راکړه . (۱)

(۱) اصلاحي بيانات ج۱ ص ۱۷۱ .

# ۳. په کافر، او تشو متيازو نه ځان نه ساتلو په وجه د قبر عذاب

علامه جلال الدين سيوطي رحمه الله په شَرْحُ الصُّدُوْر کې يوه واقعه رانقل کړې :

حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما وايي : يو کرَت زه په يو قبرستان تيريدم، ما وليده چې يو کس د قبرستان نه راووت، په غاړه کې يې د اُور ځنځيرونه، او د اُور په لمبو کې تاوَ وو.

د ما سره په مشکيزه کې لږې اُوبه وی، هغه چې زه وليدم، نو ما ته يې وويل : اې عبدالله! ما ته اُوبه راکړه ( ځکه زه سخت تږې يم ). په دې کې ناڅاپه يو بل کس د قبر نه رابنکاره شو، او راته وې ويل : اې عبدالله ! ده ته اُوبه ورنکړې ځکه دې کافر دی. بيا يې دې په وهلو وهلو دوباره قبر ته بوتلو.

بيا زما شپه په داسې يو کور کې راغله، چې په هغې کې يوه بوډۍ وه، او په دې کور کې يو قبر وُ. د هغې قبر نه به دا آواز راتلو " اَلْبَوْلُ مَالْبَوْلُ. اَلشَّنُّ مَالشَّنُّ " متيازې، دا متيازې څه شی دی ؟ ( چې د دې په وجه زه د قبر په عذاب کې ګرفتار يم )، مشک، مشک څه شی دی ؟

ما د هغې بوډۍ نه پوښتنه وکړه : دا څه مَاجرَا ( واقعه ) ده ؟ هغې راته وويل : دا قبر زما د خاوند دی، ده به چې متيازې کولې نو ځان به يې ورنه نه ساتلو، ما به ورته ډير نصيحت کولو چې د تشو متيازو نه خپل ځان او جامې ساته ( ځکه د تشو متيازو نه خو حيوانات هم ځان ساتي لکه چيلۍ او سپې، خو ده به زما خبرو ته هيڅ اهميت نه ورکولو.

اوس چې دې د کله نه هم مړ شوی نو همدا خبره کوي : " اَلْبَوْلُ مَالْبَوْلُ. اَلشَّنُّ مَالشَّنُّ " ما ورنه پوښتنه وکړه : دا شن څه شی دی ؟ هغې راته وويل : زما دې خاوند ته يو تږې سړې راغی ( کوم چې سختې تندې راخيستې و )، او زما د خاوند نه يې اُوبه اوغوښتې، ده د دينه اُوبه اوڅکه.

کله چې هغه سړې مشک ته ورغې نو په هغې کې اُوبه نه وی، دا سړې د ډيرې تندې د لاسه بيهوشه را اوغورځيد. اوس د کله نه هم چې زما دا خاوند وفات شوی نو دا هم وايي :

" اَلشَّنُّ مَا لشَّنُّ " مشک ، دا مشک څه شی دی ؟ ( چې ددې په وجه زه په عذابِ قبر کې گرفتاره یم ) .

حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما وايي چې کله زه نبي ﷺ ته لاړم او هغه ته مې دا واقعه بيان کړه ، نو ( هغه وفرمايل : يقيني د قبر عذاب د تشو متيازو دلاسه وي ، او همدارنگې بل مسلمان ته تکليف رسول هم د عذابِ قبر سبب دی ، نو ) زه هغه د يوائې سفر کولو نه منع کړم . (۱)

## ٤ . د ذخيره اَندوزۍ په وجه د قبر گرميدل

علامه ابن قيم رحمه الله په کِتَابُ الرُّوْح کې نقل کړي : چې حضرت عبدالله حراني وايي : زه د مازيگر د لمانځه نه روستو د خپل کور نه د بتان په طرف روان شوم ، د مانبام په وخت په يو قبرستان تيريدم ، هلته مې يو قبر وليد چې آهنگر د بټۍ په شان گرم و ( او دننه په کې مړي ته سخت عذاب ورکولې شو ) ، ما د هغه ځای د خلقو نه ددې قبر په باره کې پوښتنه وکړه چې دا قبر د چا دی ؟ دوی راته وويل :
دا کس ذخيره اَندوز و ( خلقو ته د ضرورت باوجود يې خوراکي شيان د قيمت زياتيدو د پاره ذخيره کول ) ، او دې همدا نن وفات شوی . (۲)

## ۵ . د بې پردگۍ او ناځن پالش په وجه د قبر عذاب

مفتي عبدالرؤف سکهروي په خپل کتاب " اصلاحي بيانات " کې د عذابِ قبر متعلق يوه واقعه رانقل کړې ، کومه چې د عبرت نه ډکه ده ، او الله ﷻ د عبرت د پاره کله کله د قبر عذاب خلقو ته ښايي .
دا واقعه په کِلکت کې راپيښه شوې وه ، چې يوه ښځه وفات شوه ، خلقو دفن کړه ، په دې لاره باندې يو کس تيريده ، هغه ددې قبر نه څه درَزار او آوازونه واوريده .

(۱) ابن ابی الدنيا في کتاب مَن عاش بعد الموت ، شرح الصدور باب ۲۷ عذاب القبر .
(۲) ابن قيم کتاب الروح ، شرح الصدور باب ۲۷ باب عذاب القبر .

نو د کلي خلق يې په منډه راوسته، او دا قبر يې راوسپړل، څنګه چې يې د قبر نه تخته رالرې کړه، نو وې ليده چې په قبر کې يوه ښځه لغړه ناسته ده ، خو کفن يې مکمل ختم شوې وُ، دې ښځې وويل: ما له څه جامې او څادر راوړئ چې ځان په کې تاؤ کړم، خلقو ورله په تيزئ باندې جامې او غټ څادر راوړو، دې په هغې کې ځان راتاؤ کړو او په منډه باندې خپل کور ته راغله.

کله چې کورته راورسيده نو کمرې ته ننوته، او د کمرې دروازه يې د دننه نه د ځان پسې بنده کړه، خلق چې راغله او وې ليده چې دروازه د دننه طرفه بنده ده، دې ته يې وويل: دروازه خلاصه کړه. دې ورته وويل: زه به دروازه خلاصه کړم خو چونکه زما حالت ډير خراب دی، د کتلو لايق نه دی، نو که تاسو راننوځئ نو داسې کس راشئ چې زما د ليدلو طاقت لري. نو څلور زړه وَر کسان دننه ورغله.

## د بې پردګۍ سزا :

نو دننه دې ښځې په څادر کې ځان راتاؤ کړې و ، د ټولو نه مخکې يې خپل سَر ښکاره کړو، دوی وليده چې په سَر باندې يې نه ويښتان شته او نه څرمن. دوی ورنه پوښتنه وکړه: دا ويښتان دې څه شو ؟ دې ورته وويل: زه به مخکې چې د کور نه وتم نو سَر به مې ښکاره و ، او په سَر مې هيڅ زړوکې (لوپټه) نه په سَر کول. کله چې قبر کې کيښودې شوم نو فرښتو دا سزا راکړه چې زما هر هر ويښته يې راښکوده ، تر دې چې زما د سَر څرمن هم ورسره لاړه.

## پردي خلقو ته د شوندو سرې کولو سزا :

ددې نه روستو دې ښځې خپله خُوله ښکاره کړه، مونږ چې وليده نو صرف غاښونه يې ښکاريده او شوندې يې بالکل نه وې. مونږ ورنه پوښتنه وکړه: چې دا شوندې دې څه شوې؟ دې راته وويل:

زه به چې د کور نه کله وتم نو ما به پردو (نامحرمه) خلقو ته خپلې شوندې سرې کولې، فرښتو په قبر کې دا سزا راکړه چې زما غونډې شوندې يې رانه کټ کړې.

**د ناخُن پالِش سزا :**

ددې نه پس دې ښځې د خپل لاس او خپو ګوتې راښکاره کړې ، نو مونږ وليده چې ددې د لاس او خپو په ګتو کې يو نُوک هم نه و ، مونږ ورنه پوښتنه وکړه : ستا نُوکونه څه شو ؟ دې راته وويل : چې کله به زه بهر ته وتم نو د پردو سړو د پاره به مې د لاس او خپو په نُوکانو باندې ناخُن پالِش لږول ، او بل دا چې ددې ناخُن پالش په وجه به دآودس او غُسل کولو په وخت کې اُوبه هم لاندې نُوک ته نه رسيدې . نو کله چې په قبر کې کيښودې شوم نو فرښتو رانه دا يو يو نُوک وويستله .

کله چې دې ښځې دا خبرې وکړې نو بې هوشي ورباندې راغله ، او په هماغه ځای کې وفات شوه . دا خلق وايي چې : مونږ دوباره دا ښځه قبرستان ته وې وړه او هلته مو خخه کړه . (۱)

**فايده** : په دې واقعه کې د هغه ښځو دپاره لوي عبرت دی کومې چې بې پردې په بازارونو کې ګرځي ، يا پردو سړو ته شوندې سرې کوي او ځان ورته ښکلې کوي ، او يا په نوکونو باندې ناخُن پالش لږوي . الله دې مونږ ټول د قبر د عذاب نه اوساتي .

## ٦ . د شرابي ، بېلمازه ، او تشو متيازو نه ځان نه ساتونکي د پاره د قبر عذاب

د جامعةُ الأزهر استاذ ډکتور مصطفی په خپل کتاب کې يوه واقعه رانقل کړې : چې عبدالملک بن مروان ته يو کس راغی ، ډير زيات خفه و ، او عبدالملک ته يې وويل :

إِنِّي إِرْتَكَبْتُ ذَنْبًا عَظِيمًا ، فَهَلْ لِي مِنْ تَوْبَةٍ؟ ما يوه ډيره لويه ګناه کړې ، آيا زما د پاره توبه شته ؟ عبدالملک ورنه پوښتنه وکړه : تا څه ګناه کړې ؟ حالانکه الله تعالی خو توبه قبلوي او د انسان غټې غټې ګناهونه معاف کوي .

هغه ورته وويل : اې امير المؤمنين ! زه کفن کش ووم ، ما به قبرونه سپړل ، خو په دې کې ما عجيبه عجيبه واقعات ليدلي .

---

(۱) اصلاحي بيانات ج۱ ص ۱۰۲ تا ۱۰۵ ، چهه ګناهګار عورتين لمولانا عبدالرؤف سکهروي صاحب ، مثالي فکر انګيز والعات و لطائف ص ۱۲۵ ، ناقابل يقين سچے واقعات ص ۱۴۳ باب نمبر ۸ .

عبدالملک ورته وویل : تا څه څه واقعات لیدلي ؟ په هغې کې خو یو څو بیان کړه . نو دا ځوان شروع شو :

**اوله عجیبه واقعه** : اې امیرالمؤمنین ! ما یوه شپه قبر راوسپړل ، نو په دې کې مې مړې ولید چې مخ یې د قبلې نه راووختې و ، ما چې ولید نو ډیر ویریدم ، او د تختید و اِراده مې وکړه ، نو یو هاتفي آواز مې واوریده چې اې انسانه ! ته ولې د دې مړي په باره کې پوښتنه نه کوې چې دده مخ د قبلې نه ولې راګرځیدلی ؟ ما ورته وویل : دده مخ ولې د قبلې نه راوړیدلی ؟ نو وې ویل :

كَانَ يَشْرَبُ الْخَمْرَ فِي الدُّنْيَا ، وَمَاتَ مِنْ غَيْرِ تَوْبَةٍ .

ده به په دُنیا کې شراب څکل ، او بغیر د توبې نه مړ شوی . ( نو ځکه یې مخ د قبلې نه راګرځیدلی ) .

**دویمه عجیبه واقعه** : اې امیرالمؤمنین ! څه وخت پس ما یو بل قبر وسپړل ، نو ما هغه مړې ولید چې د اُور په زنځیرونو تړل شوې و ، ژبه یې راوتې وه . په دې لیدلو سره زه سخت ویریدم ، او واپس د راتلو اِراده مې وکړه ، په ما باندې یو هاتفي غږ اوشو چې اې انسانه ! ته د دې کس متعلق پوښتنه نه کوې چې دې په دې عذاب کې ولې مبتلاء دی ؟ ما ورته وویل : دې ولې په دې عذاب کې مبتلاء دی ؟ نو وې ویل :

كَانَ لَايَحْتَرِزُ مِنَ الْبَوْلِ ، وَكَانَ ينقلُ الْحَدِيْثَ بَيْنَ النَّاسِ ، فَهٰذَا جَزَاءُهُ .

ده به ځان د تشو متیازو نه نه ساتل ، او د دوه کسانو په مینځ کې به یې شیطانت کولو . نو د داسې خلقو د پاره همدا جزاء ده .

**دریمه عجیبه واقعه** : اې امیرالمؤمنین ! ما بیا یو بل قبر وسپړل ، نو ما هغه مړې ولید چې غونډ قبر یې د اُور د لمبو نه ډک و ، او دې په اُور کې سوزیده ، په دې لیدلو سره ما واپس د راتلو اِراده وکړه ، خو دلته مې هم هاتفي آواز واورید : چې تا ته پته ده چې دې کس ته دا عذاب په څه وجه ورکولې شي ؟ واپس جواب راغی :

كَانَ تَارِكًا لِلصَّلٰوةِ. ده به لمونځ نه كولو او بېلمازه و. نو ځكه په دې عذاب كې گرفتار دى

**خلورمه عجيبه واقعه** : اې اميرالمؤمنين! څه وخت پس ما بيا يو بل قبر وسپړل، ما وليده چې دې مړي ته قبر دومره فراخه شوى و څومره چې د انسان نظر لېږي، او په دې قبر كې يو نُور ؤ، دا مړې په يو ښائسته تخت باندې اُوده ؤ، او دده نه يوه رڼا خَته. ما چې دا منظر وليده نو زه حيران شوم چې دې كس ته د كوم نيک عمل په وجه دومره عزت وركړې شوى؟ نو يو هاتفي آواز راغى:

كَانَ شَابًّا طَائِعًا نَشَأَ فِي طَاعَةِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ. وَعِبَادَتِهِ.

دا يو ځوان و، د الله ﷻ تابعدار و، او د الله رب العزت په طاعت او عبادت كې غټ شوې و (يعنى د الله تعالى په عبادت او طاعت كې يې ټول عُمر تير كړى). (۱)

## ۷. د يو كفن كش كوټې سوزيدل

د عذابِ قبر د ثبوت د پاره علماو مختلف دلايل او مختلف واقعات ذكر كړي. يوه واقعه حضرت مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله په خپل كتاب "حقوق العباد" كې ذكر كړى چې: په قصبه "تهانه بهون" كې يو كس و، دا يې عادت جوړ شوې و چې په مختلف علاقو كې به گرځيده، سوال به يې كولو، او هغه روپۍ به يې راوړى، او په كمره كې به يې په يو ځاى كې خخولى. څه شرير هلكانو دا كس د روپو په خخولو وليده، كله چې هغه د سوال د پاره بيا ووت، نو دې هلكانو دده ټولې روپۍ راواخيستې، او په هغې باندې يې ډير ښه خوراک پوخ كړو.

كله چې دغه كس راغى، نو دوى د ځان سره خوراک د پاره كينول، دې كس چې دومره اعلى خوراک وليد، پوښتنه يې ورنه وكړه چې: نن ستاسو څوک ميلمه راغلى و كه څنګه مو دومره اعلى خوراک تيار كړى؟ دې هلكانو ورته وويل: جناب! دا ستاسو بركت دى.

(۱) قصص الصالحين، ملک الموت والانبياء ص ۱۸۳.

خو دې پوهه نه شو ، دې کس خوراک کولو ، څه وخت پس یې بیا پوښتنه وکړه چې : څوک
اهم میلمه راغلی چې تاسو دومره قیمتي خوراک پوخ کړی ؟ دې هلکانو اوخندل او ورته
وې ویل : داهمدا ستاسو برکت دی .
دده په زړه کې شک پیدا شو چې چیرته دې هلکانو زما روپۍ نه وي راخیستي ، نو کمرې
ته ننوت ، کله یې چې هلته روپۍ اونه موندی ، نو دا خفګان یې برداشت نه کړې شو او په
هماغه ځای کې د زړه په دَوره ( هارټ اټیک ) باندې مړ شو .
په خلقو کې دا خبره خَوره شوه چې هلکانو ددې کس روپۍ راخیستې وی ، او هغه ددې د
لاسه مړ شو .

خلقو د تهانه بون مفتي مولانا سعید الحق صاحب نه ددې په باره کې پوښتنه وکړه چې :
اوس څه چل وکړو ؟ هغه ورته وویل : دا ډیرې سپیرې روپۍ دي ، ځکه چې ددې په وجه دې
مړ شوی ، لهذا ددې هلکانو نه دا روپۍ واپس راواخلئ ، او دده سره یې په قبر کې دفن کړئ.
کله چې خلقو دا دفن کړو ، او ټولې روپۍ یې هم ورسره ښخې کړی ، نو کفن کشو ته خبر
ورسیده چې ددې کس سره روپۍ هم ښخې دي . دوی یوه ډله ددې قبر سپړلو د پاره د شپې
په پټه لاړه ، کله یې چې قبر وسپړل ، او تخته یې ورنه رالرې کړه ، نو یو کفن کش خپلې دوه
ګوتې ورښکته کړی ، چې روپۍ راواخلي . خو چې څنګه یې ګوتې د روپو سره ولږیدی نو
یو دَم یې چغې کړی چې : ګوتې مې اُوسوی ، ګوتې مې اُوسوی . چغې یې وهلې او ټول
کفن کش وتختیده .

ددې روپو نه دراَصل د اُور سکروټې جوړې شوې وی ، او دې مړي ته یې عذاب
ورکولې شو ، ځکه ده به بلا ضرورته سوال کولو . او دا ناجائز دی .
مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله لیکلي چې قصبه تهانه بهون کې ددې کفن کش
واقعه ډیره مشهوره وه . دې کفن کش به خپلې دواړه سوزیدلې ګوتې د یخو اُوبو په غټ
لوخي کې ایښې وی ، خو چې څنګه به دا اُوبه ګرمې شوی نو ده به ورنه دا ګوتې رالرې کړی،
او په بل لوخي کې به یې کیښودی ، خو چې لږ ساعت به بغیر د اُوبو نه دا ګوتې پاتې شوی

نو ده به چغې او سورې وهلې چې : د سوزش د لاسه مړ شوم . يو څو ورځې روستو دې په دې حالت کې مړ شو . (۱)

**فايده** : قدرمنو ! تاسو سوچ وکړئ چې ددې کفن کش دې روپو سره د ګوتې لږيدو په وجه ده ته څومره تکليف ملاو شو ، نو کوم کس چې په دې عذاب کې په خپله مبتلاء وُ هغه ته به څومره غټ تکليف وُ ؟ الله تعالى دې مونږ ټول د عذابِ قبر نه په اَمان کړي . آمين

## ۸ . د عذابِ قبر نمونه :

حکيم الاسلام حضرت مولانا قار محمد طيب رحمه الله يوه واقعه ذکر کړی ، مولانا صاحب وايي چې : زما يو دوست و ، نوم يې مولوي مصطفى و ، هغه ماته د عذابِ قبر متعلق ديره عجيبه واقعه بيان کړی .

چې په دِلّي کې جَمنا علاقه کې يو کرت سخت سيلاب راغی ، چې ددې په وجه څه قبرونه هم خراب شو ، خاوره ورنه اُوبو وې وړه ، مولانا مصطفى وايي چې مونږ يو قبر وليد ، چې د سيلاب په وجه ښکاره شوی و ، په دې قبر کې يو مړي پروت و ، او ددې مړي په تندي باندې يو وړوکې غوندې ( د مچې په شان ) شی ناست و ، ده به ذې مړي په تندي باندې يو ټک ورکړو چې ددې په وجه به د مړي رنګ مکمل بدل شو ، او ټول مړې به اُوخوزيده .

يو څه وخت پس به بيا دا مړې خپل زوړ حالت ته راغی ، دې شي به بيا ټک ورکړو ، بيا هم ټول مړې اُولړزيده ، او رنګ به يې بدل شو ، مونږ ټولو دا حالت کتلو او ډير حيران وو .

په دې کې يو ډُهوبي دا حالت برداشت نه کړې شو ، يو کانې يې راواخيست ، او دا شی يې پرې وويشت ، هغه شی د مړي نه راوالوت ، دا ډُهوبي يې په تَندي باندې وچيچل ، او واپس لاړ ، د هغه مړي په تندي باندې بيا کيناست .

دلته دې ډُهوبي چغې او سورې کړی چې " های مړ شوم ، های مړ شوم " او مسلسل به د ډير تکليف نه لغړيدو ، او خلقو ته به يې ويل : زه داسې تکليف محسوسوم ګويا چې زه په هر هر رګ او هر هر ويښته باندې په زرهاؤ لړمانو او مارانو چيچلې يم ، او په غونډ وجود کې مې د سوزيدو او اُور ګرمايش چليږي .

---

(۱) رساله حقوق العباد لمولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله ، ناقابلِ يقين ، سچے واقعات ص ۱۴۰ .

مولوي مصطفى وايي چې زه پوهه شوم چې دا شى د دُنيا څه زهريله شى نه دى، بلکه دا د برزخ عذاب دى، نو ما د هِمّت نه کار واخيست، او قبر ته نزدې ورغلم، هلته مې د قرآن مجيد تلاوت شروع کړو، سورة ياسين، او قل هوالله احد مې وويل.

ما به چې څومره د قرآن مجيد تلاوت کولو، نو دومره به په قلاره قلاره دا شى وړوکې کيدو، تردې چې آخر دا شى ورک شو. مونږ ډير خوشحاله شو چې الله ﷻ دده نه د قبر عذاب لرې کړو، بيا مو دوباره دده قبر صحيح کړو، او بند مو کړو.

اوس هيڅ پته نه لږي چې دې کس ته الله ﷻ دا عذاب د کومې ګناه په وجه ورکولو؟

مولانا مصطفى وايي چې دغه دهوبي د درې (۳) ورځو پورې سختې چغې او سورې ووهلى، آخر درې ورځې پس دې هم وفات شو. (۱)

۱) ناقابلِ يقين، سچے واقعات ص ۴۷۹.

# د نيکانو او بزرګانو د قبرونو نه د مشکو خوشبوئ تلل

د نيکانو خلقو د پاره قبر د جنت د باغيچو نه يوه باغيچه وي ، او د عذابِ قبر نه په اَمان وي . ډير داسې خلق تير شوي دي چې د وفات نه روستو د دوی د قبرونو نه خوشبوی تلله .

د يو څو عظيمو هستيو تذکره ستاسو د وړاندې کوم :

## ۱. د حضرت سعدبن معاذ رضي الله عنه د قبر نه خوشبوی تلل

محمد بن شرحبيل بن حسنه رضي الله عنه وايي : چې کله حضرت سعد بن معاذ رضي الله عنه وفات شو ، او دده د قبر نه يو موټې خاوره راواخيستې شوه ، نو د هغې نه د مُشکو او عنبرو په شان خوشبوی تلله .

په يو روايت کې ورسره دا هم شته . چې کله ددې ذکر د رسول الله صلى الله عليه وسلم د وړاندې اوشو نو د دوی په مخ مبارک باندې د خوشحالۍ آثار ښکاره شو ، او وې فرمايل : سُبْحَانَ الله ، سُبْحَانَ الله . (۱)

حضرت ابوسعيد خدري رضي الله عنه وايي: چې کله مونږ د حضرت سعد بن معاذ رضي الله عنه د پاره په جنّتُ البقيع کې قبر کنيستو نو چې کله به په مونږ باندې د قبر کنيستو په وخت د خاورې څه ګرد راغې نو د هغې نه به مُشکو غوندې خوشبوی تلله ، تر دې چې مونږ قبر وکنيستو . (۲)

## ۲. د عبدالله بن غالب حمداني رضي الله عنه د قبر نه خوشبوی تلل

حضرت مغيره بن حبيب رضي الله عنه وايي : کله چې حضرت عبدالله بن غالب حمداني رضي الله عنه په يو جهاد کې شهيد شو نو د دفن کولو نه روستو دده د قبر نه خوشبوی تلله .

---

(۱) زرقاني ج۲ ص ۱۴۳ ، حجة الله البالغة ج۲ ص ۸۶۷ .

(۲) موت اور قبر کے حيران کن واقعات اور جديد تحقيقات ص۱۵۶ .

د دوی د خاندان يو کس دې په خُوب کې وليد... پوښتنه يې ورنه وکړه چې ستا سو د دې قبر نه خوشبوی څنګه څي؟ (يعنی کوم عمل مو کولو چې اوس د هغې په وجه ستاسو د قبر نه خوشبوی څي؟) هغه ورته وويل: د قرآن مجيد تلاوت، او په روژه کې د تَندې برداشت کولو په وجه. (۱)

مالک بن دينار رحمه الله وايي چې زه د هغه قبر ته لاړم، د هغه د قبر نه مې خاوره راپورته کړه، او بُوی مې کړه نو بوی يې بالکل د مُشکو په شان و. (۲)

## ۳. د امام بخاري رحمه الله د قبر نه خُوشبوی تلل

علامه ابن حجر عسقلاني رحمه الله د امام بخاري رحمه الله په باره کې ليکي:

وَلَمَّا صلّي عَلَيْهِ، وَ وُضِعَ فِيْ حفْرَتِهِ فَاحَ مِنْ تُرَابِ قَبْرِهِ رَائِحَة كَالمِسْکِ، وَجَعَلَ النَّاسُ يَخْتَلِفُوْنَ إِلى قَبْرِهِ مُدَّةً يَأْخُذُوْنَ مِنْ تُرَابِ قَبْرِهِ وَيَتَعَجَبُوْنَ مِنْ ذٰلِکَ. (۳)

کله چې په امام بخاري رحمه الله باندې د جنازې لمونځ اوشو، او په قبر کې دَفن کړې شو نو د قبر نه د مشکو او عنبرو غوندې خوشبوی خوره شوه... څه ډيره موده پورې به خلق راتله، د دە د قبر نه به يې خاوره راخيسته، بُويَوله به يې، او د الله ﷻ په دې احسان باندې يې تعجب کولو (او خوشحاليده به پرې).

## ٤. د احمد علي لاهوري رحمه الله دقبر نه خوشبوی تلل

کله چې شيخ التفسير حضرت مولانا احمد علي لاهوري رحمه الله وفات شو نو تر ډيره وخته پورې د دوی د قبر نه عجيبه خوشبوی تلله. تر دې چې سائنس دانانو دا خاوره په تَجربه ګاهو (ليبارټريانو) کې وکتله، او دا فيصله يې ورکړه: چې دا خوشبوی د څه دُنياوي مادي څيزونو نه ده، بلکه د دې تعلق د دويم جهان (آخرت) سره دی.

(۱) ابونعيم.

(۲) کتاب العاقبة ص ۱۳۰.

## ۵. د مولانا موسیٰ روحاني رحمه الله دقبر نه خوشبوی تلل

مولانا موسیٰ خان روحاني بازي رحمه الله د جامعه اشرفيه لاهور شيخ الحديث و ، ډير متقي او پرهيزګار عالِم و ، څه وخت مخکې وفات شوی . کله چې دې دفن کړې شو نو د دفن کولو نه روستو يې د قبر د خاورو نه خوشبوی تلل شروع شو چې د دې په وجه غونډ قبرستان هم معطّر شو ، او تر ډيره لرې ځايه پورې خوشبوی تلله .

دا خبره ډير زر خوره شوه ، د مختلف علاقو نه به خلق راتله ، او د ده د قبر د خوشبوی نه به معطّر کيده ، بعضې خلقو به د دوی د قبر نه خاوره هم د ځان سره وړله ، چې د دې په وجه به په قبر خاوره ختمه شوه ، نو خلقو به نوره خاوره وربانديې واچوله ، خو په څو منټو کې به د ننه د ننه د دې نوې خاورې نه هم خوشبوی تلل شروع شو .

عجيبه دا وه چې که چيرته د يو ځای نه به لسو (۱۰) کسانو خاوره راواخيسته نو د هر کس د خاورې خوشبوی به ځانله ځانله وه .

## ۶ . په قبر کې د ننه خوشبوی

۱ . محمد بن مخلد رحمه الله وايي : چې کله زما مور وفات شوه ، او مونږ د هغې د پاره قبر وکنيستو ، نو کله چې زه قبر ته د مور د ايښودلو د پاره ورکوز شوم ، نو په څنګ کې بل قبر ؤ په هغې کې سُورې اُوشو ، ما چې دننه اوکته نو يو مړې پروت و ، او ورسره څنګ کې د ګلانو يو ډيره خوشبويه ګلدسته پرته وه چې د هغې نه عجيبه خوشبوی راتله ، د هغه ځای موجود ټولو خلقو دا منظر وليده . بيا مونږ هغه قبر بند کړو .[1]

۲ . همدغه شان يوه بله واقعه هم علماو نقل کړې : د يو څو کالو مخکينې خبره ده چې خلقو د راجن پور په قبرستان کې د يو مړي د پاره قبر اوکنيستو ، تر او سه يې دا مړې راوړې نه ؤ چې په دې قبرستان کې عجيبه خوشبوی خوره شوه ، خلقو ډير تلاش وکړو چې دا خوشبوی د کوم ځای نه راځي ؟ په قبرستان کې هم څه داسې بوټې نه و چې د هغې نه خوشبوی تللی . د ډير تلاش نه روستو معلومه شوه چې کوم قبر دوی کنيستې و په هغې کې

(۱) شرح الصدور ص ۸۳ .

څنګ طرفته يو وړوکې سُورې (سوړه) وُ ، د هغې نه دا خوشبوي راتله ، خلقو چې دا سورې غټې کړو نو ورته معلومه شوه چې دا بل قبر دی ، په هغې کې يو سپين ګيرې سړې پروت و ، بالکل صحيح سالِم و ، خو عجيبه دا وه چې دده په جسم باندې يو ښکلې ګُل پروت وُ ، او خوشبوی د هغې نه راتلله . دا واقعه د هغه ځای موجود ټولو خلقو وليده .

## ۷. قبر د ګُلِ ريحان نه ډکيدل

حضرت وراد عجلي رحمه الله چې کله وفات شو ، او د دفن کولو د پاره يې قبرستان ته وې وړو ، نو څه خلق لاندې قبر ته ورکوز شو ددې د پاره چې دا مړې په قبر کې کيدي ، نو دوی وکته چې د قبر د ريحان د ګلانو نه ډک و ، په دې خلقو کې يو کس ددې نه يو ګل راواخيسته .

بيا به خلق ددې ګل د ليدلو د پاره راتله ، ترد اويا (۷۰) ورځو پورې دا ګل مکمل تازه وُ ، کله چې د وخت حاکم د خلقو دا ګڼه ګوڼه وليده نو د خلقو د خَورولو ، او د ګڼې ګوڼې ختمولو د پاره يې دا ګل ورنه واخيسته ، او په خپل کور کې يې کيښوده ، کله چې سهر راپاڅيده نو دا ګل غائب شوې و ، هيڅ پته نه لږيده چې څه شو ؟ (۱)

ګويا چې الله ﷻ مخلوق ته دا ښايي : څوک چې زما خاص بنده وي ، او زما د حبيب محمّدُ رّسولُ الله صلی الله عليه وسلم تابِعدار او عاشق وي نو د مرګ نه روستو هم د دوی خاص اعزاز او استقبال وي .

(۱) شرح الصدور ص ۸۳ .

# نيکان او اَولياءُ الله په قبرونو کې سالِم او تر و تازه وي

د نيکانو خلقو لاشونه په قبرونو کې تروتازه او سالِم وي، بيا خاصکر د شهيد په باره کې خو الله رب العزت فرمايي :

﴿ وَلَا تَقُوْلُوْا لِمَنْ يُّقْتَلُ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ اَمْوَاتٌ بَلْ اَحْيَاۗءٌ وَّلٰكِنْ لَّا تَشْعُرُوْنَ ﴾ . (۱)

ترجمه : کوم خلق چې د الله ﷻ په لاره کې شهيدان شي نو هغوی ته مړه مه وايئ ، بلکه هغوی (په حقيقت) کې ژوندي دي ليکن تاسو پرې نه پوهيږئ .

مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله په بيانُ القرآن کې ليکلي چې د شهيد برزخي ژوند د نورو په نسبت دومره قوي وي چې آثريې په ظاهري بدن هم ښکاره وي : لکه په بدن باندې يې خاوره اثر نه کوي ، او د ژوندي په شان روغ رَمټ وي ، لکه دا مضمون په احاديثو کې راغلې دی .

او په عامه توګه ليدلي شوي هم دي (چې ډيره موده پس هم د شهيدانو وجودونه سالِم وي) ، هم په دې وجه شهيدان ژوندي اوبللې شو ، او دوی لره د نورو عامو مړو په شان ګڼلو نه منع راغله .... (۲)

نو په برزخي ژوند کې انبياء عليهم السلام د ټولو نه زيات قوي دي ، وروسته شهيدان ، او وروسته عام مړي .

البته د ځنې احاديثو نه معلوميږي چې بعضې اولياءُ الله او نيکان خلق هم په دې فضيلت کې د شهيدانو سره شريک دي ... (۳)

**د صحابه کرامو ، شهيدانو او نورو بزرګانو وجودونه په قبر کې سالِم او روغ پاتې کيدو په باره کې يو څو واقعات ستاسو د وړاندې ذکر کوم :**

---

(۱) البقرة آيت ۱۵۴ .

(۲) بيان القرآن لمولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله البقره آيت ۱۵۴ ، معارف القرآن لمولانا مفتي شفيع رحمه الله البقرة آيت ۱۵۴ .

(۳) معارف القرآن لمولانا مفتي شفيع رحمه الله البقرة آيت ۱۵۴ .

## ۱. د غزوه احد د شهيدانو واقعه

امام مالک رحمه الله په خپل کتاب "موطا" کې ليکلي : چې د اُحد غره لاندې چې په کوم ځای د باران اُوبه تللې يو کرَت د ډير باران په وجه دومره ډيرې اُوبه راغلی چې د غزوه اُحد بعضو شيهيدانو قبرونه هم ښکاره شو ، خلقو چې وليده نو د هغوی جسمونه داسې تازه معلوميده ګويا چې اوس اوس دفن شوي ، حالانکه د هغوی د شهادت ډير کلونه شوي وو ، بل دا چې د هغوی د جسمونو نه هماغه شان تازه وينه روانه وه .

## ۲. د حضرت جابر ﷺ د پلار "حضرت عبدالله ﷺ" واقعه

په طبقات د ابن سعد کې د حضرت جابر ﷺ د پلار "حضرت عبد الله ﷺ" واقعه ذکر ده: چې کله حضرت عبدالله ﷺ په غزوه اُحد کې وفات شو ، نو نبي عليه السلام دې د حضرت عمروبن جموح ﷺ سره يو ځای دفن کړو . اتفاقًا د دوی قبر داسې په ښکته ځای کې و ، څلويښت (۴۰) کاله پس د حضرت معاويه ﷺ په زمانه کې دلته يو خو سيلاب راغې ، او بل دلته په دې لاره باندې يو نهر هم کنيستل په کار وُ ، نو د حضرت جابر رضی الله په موجودګۍ کې د دوی قبر اوکنيستې شو ، نو دوی وليده چې د دواړو شهيدانو جسمونه مکمل صحيح سالِم او تروتازه پراته وو .

په يو روايت کې ورسره دا هم شه چې د حضرت عبدالله ﷺ په مخ مبارک باندې چې کوم زخم و په هغې باندې د دوی لاس ايښودل شوې و ، خلقو چې د هغې ځای نه دده لاس رالرې کړو نو تازه وينه ورنه روانه شوه ، دوی چې واپس د هغه لاس په هماغه ځای کيښود نو وينه يې اودريده . (۱)

(۱) شرح الصدور باب ۴۸ .

## ۳. د حضرت ابوطلحه رضي الله عنه واقعه

حضرت ابوطلحه رضي الله عنه مشهور صحابي دی ، د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره هم په ډيرو غزاګانو کې شريک شوی و ، او په يو جهاد کې يې د نبي عليه السلام پوره دفاع کړې وه . هر وخت به يې نفلي روژې نيوی ، او هميشه يې د اعلاء کلمة الله دپاره په هر جهادي ميدان کې شرکت کړی .

د حضرت عثمان رضي الله عنه په دورِ خلافت کې يو کرت مسلمانانو د جهاد دپاره د بحري سفر تياري شروع کړو ، نو حضرت ابوطلحه رضي الله عنه هم د دوی سره د روانيدلو د پاره تيارې کولو . دې چونکه په دې وخت کې ډير کمزوري (او عُمر رسيده) ؤ .

کله چې دده ځوانانو بچو دې په تياري کولو باندې وليده ، نو ورته وې ويل : اې پلاره ! الله جل جلاله دې په تاسو باندې رحم وکړي ، تاسو خو د رسول الله صلی الله علیه وسلم ، د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه ، او د حضرت عمر رضي الله عنه سره ډير جهاد ونه کړي اوس خو تاسو کمزوري او بوډا يئ ، تاسو مهرباني وکړئ ، اوس زمونږ نمبر دی ، مونږ به ستاسو د طرفه جهاد کوو .

ده ورته وويل : اې بچو ! واورئ . الله رب العزت فرمايي :

﴿ انْفِرُوا خِفَافًا وَثِقَالًا وَجَاهِدُوا بِأَمْوَالِكُمْ وَأَنْفُسِكُمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ ذَٰلِكُمْ خَيْرٌ لَكُمْ إِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُونَ ﴾ . (۱)

ترجمه : تاسو اوځئ (جهاد له) سپک باري (يعنی د لږ سامان سره) ، يا درونډ باري (يعنی د ډير سامان سره) ، او جهاد کوئ د الله جل جلاله په لاره کې په خپلو مالونو او ځانونو سره ، همدا (جهاد ته وتل) تاسو د پاره ډيره بهتره ده که چيرته تاسو پوهيږئ .

اې زما بچو ! الله تعالی مونږ ټول ته په جهاد کې د وتلو حکم کړې دی ، او په دې کې د عُمر څه قيد نه دې لږولی .

(۱) سورة التوبة آيت ۴۱ .

لهذا دې دمسلمانانو سره جهاد ته روان شو ،چونکه دا سفر بحري سفر ؤ نو په کشتۍ کې کيناسته ، کشتۍ په سمندر کې ډير سفر وکړو ، دې په دې حالت کې بيمار شو ، بيماري يې زياتيده تر دې چې دې وفات شو ، دده نورو مجاهدينو ملګرو يوه جزيره (اُوچه علاقه) تلاش کوله چې دې په کې دفن کړي ، خو دا بحري سفر دومره اُوږد ؤ چې اُووه (۷) ورځې پس بيا يوه جزيره په نظر راغله ، خو ددې اُووه (۷) ورځو پورې دده جسد په دې کشتۍ کې تروتازه و ، داسې معلوميده ګويا چې دې اُوده دی .

همدغه شان څه زمانه مخکې چې کله د مسجدِ نبوي ﷺ توسيع د جنّتُ البقيع په طرف کيده ، نو په دې لاره کې د څه صحابه کرامو قبرونه وو ، جنت البقيع ته د منتقل کولو د پاره د شپې په وخت د دوی قبرونه اوسپړلې شو ، ددې د پاره چې ګڼه ګونه جوړه نه شي ، په هغه موقعه چې څوک موجود وو هغوی چې وليده نو د دغه قبرونو واله تروتازه او بالکل سالِم وو . (۱)

## ٤ . د امام احمد بن حنبل رحمه الله واقعه

په طبقات شعراني کې ذکر دي چې دامام احمد بن حنبل رحمه الله د وفات نه دوه سوه او ديرش (۲۳۰) کاله پس چې کله دده د قبر سره نزدې د ابو جعفر موسی رحمه الله دپاره قبر کنيستې شو نو اتفاقًا د امام احمد بن حنبل رحمه الله د قبر دننه حصه څه لږه ښکاره شوه، نو خلقو اوکته چې د دوه سوه او ديرش (۲۳۰) کاله تيريدو باوجود بيا هم دده کفن هم نه و خراب شوی ،او هماغه شان په قبر کې صحيح سالِم او تروتازه پروت و .

## ٥. د شيخ محمد بن سليمان جزولي رحمه الله واقعه

په مطالع المسرات کې ذکر دي چې د دلائل الخيرات کتاب مصنِف " شيخ محمد بن سليمان جزولي رحمه الله " کوم چې د سلسله عاليه شاذليه شيخ دی ، او څه د پاسه شپږلکه (۶۰۰۰۰۰) مريدان يې دي .

ده ته يو بَدبخته كس زهر وركړي وو ، چې د هغې په وجه دې د سهر په لمانځه كې په دويمه سجده كې وفات شو ، خلقو دې په همدغه ورځ په '' سوس '' مقام كې دفن كړو .

اووه اويا ( ۷۷ ) كاله پس چې كله دې '' مراكش '' ته رانقل كولې شو نو كفن يې بالكل روغ ؤ ، او وجود يې هماغه شان تازه ؤ .

يو چا دده په مخ باندې ګوته كيښوده نو د ژوندو خلقو غوندې يې په بدن د وينو چليدو سُور والې ښكاره شو . د دوی مزار اوس په مراكش كې دی .

## ٦ . د اووه كسانو په قبر كې تازه لاشونه

علامه ابن جوزي رحمه الله ذكر كړي : چې په بصره كې يو غټ قبر كلاو شو ( يعنى خاوره ورنه ختمه شوې وه او لاندې قبر را ښكاره شو ) . خلقو وليده چې لاندې فراخه قبر ؤ ، او په هغې كې اووه ( ۷ ) كسان دفن شوي وو ، خو دا معلومه نه وه چې دا كله او په كومه زمانه كې خښ شوي ، خو ليكن د هر يو كس كفن مكمل روغ ؤ ، او وجودونه يې هم صحيح سالِم وو ، په دې كې يو كس ځوان و ، د سَر ويښتان يې تك تور وو ، شونډې يې لمدې وی داسې معلوميده لكه اوس يې چې تازه اُوبه څكلي وي ، ستر ګې يې داسې تورې وی ګويا چې اوس يې تازه رانجه كړي دي ، خو دده په وجود كې د تورې غټ زخم و ( معلومه شوه چې په جهادي ميدان كې شهيدان شوي ) . (۱)

## د حضرت ابو ايوب انصاري رضي الله عنه د قبر نه نور اوچتيدل

په مبسوط د امام سرخسي رحمه الله كې ذكر دي : چې حضرت ابو ايوب انصاري رضي الله عنه د مسلمانانو د لښكر سره جهاد دپاره ووت ، ده مسلمانانو ته وصيت وكړو : چې كله زه وفات شم نو تر څو پورې چې كيدې شي تاسو زما لاش د ځان سره مخكې ويسئ ، ددې دپاره چې كله الله تعالى پوښتنه وكړي :

اې ابو ايوب ! ته خو د رسول الله ﷺ ميزبان وی ، تا زما په لاره كې څه كړي ؟ نو زه به ورته ووايم :

(۱) تاريخ ابن جوزي رحمه الله ، شرح الصدور .

یا الله ! چې تر څو پورې ژوندي ووم ستا په لاره کې مې جهاد کولو ، او کله چې وفات شوم بیا هم مجاهدینو سره زما لاش روان و .

د مسلمانانو لښکر چې یو ځای ته ورسیده ، نو په لاره کې حضرت ابو ایوب انصاري رضي الله عنه وفات شو ، مسلمانانو دده لاش د ځان سره مخکې وړلو ، مخکې په یو ځای کې د رومیانو یو کلې و ، دوی هلته دې دفن کړو .

سهر ددې کلي غونډ خلق مسلمانانو مجاهدینو ته راغله ، او پوښتنه یې وکړه : دا قبر د چا دی ؟ مسلمانانو ورته وویل : دا د رسول الله صلی الله علیه وسلم د یو جلیلُ القدر صحابي ''حضرت ابوایوب انصاري رضي الله عنه'' دی . هغه خلقو وویل :

مونږ بیګاه ټوله شپه لیده چې ددې قبر نه به یو نُور راپورته کیده ، تر آسمانه پورې به تللو ، بیا به واپس راتلو ، ټوله شپه همدغه کیفیت و . کله چې مونږ دا ولیده نو زمونږ په زړونو کې د اِسلام حقانیت ښکاره شو ، تاسو اوس ګواه اوسئ چې مونږ هر یو کس دا اقرار کوو : أَشْهَدُ أَنْ لَّآ إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُوْلُهُ . دا کلمه ټولو وویله ، او ټول کلي مسلمانان شو .

**فایده** : دا خو ما یو څو واقعات ستاسو د وړاندې ذکر کړه ، ددینه علاوه نور هم بې شماره واقعات شته چې الله جل جلاله د نیکانو خلقو وجودونه په قبر کې سالِم ساتي ، نو چا ته چې الله جل جلاله د خیر اراده کړې وي ، او په قسمت کې یې هدایت وي نو دداسې واقعاتو په لیدلو او اوریدلو سره یې ایمان او یقین نور هم مضبوطیږي ، او څوک چې بدبخته وي نو هغوی خو د شَقُّ الْقَمَر غوندې مشهوره معجزه کې هم تاویلات کوي ، او اِنکار ترې کوي .

## مؤمنان به په قبر کې ثابت قدمه وي

مؤمن او متقي کس به په قبر کې هم ثابت قدمه وي ، او فرښتو ته به ښه صحیح جوابونه ورکوي . الله تعالی فرمایي :

﴿ يُثَبِّتُ اللّٰهُ الَّذِيْنَ آمَنُوْا بِالْقَوْلِ الثَّابِتِ فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَفِي الْآخِرَةِ ﴾. (۱)

ترجمه : الله تعالى مومنانو لره دديې مضبوطې خبرې (كلمې طيبې) په بركت سره د دُنيا په ژوند او آخرت (يعنى عالمِ برزخ) كې مضبوط ساتي .

علامه جلال الدين سيوطي رحمه الله په شرح الصدور كې يو حديث نقل كړی : چې يو كرت رسول الله صلى الله عليه وسلم حضرت عمر رضي الله عنه ته وفرمايل :

اې عمر ! په هغه وخت كې به ستا څه حالت وي ؟ چې كله ستا د پاره په زمكه كې يو څو لويشتې اُوږد ، او دوه لويشتې پلن قبر وكنيستې شي ، بيا ستا خوا ته تور مخې ، اُوږده ويښته لرونكې فرښتې راشي ، د هغوی آواز به د آسمان د تندر په شان وي ، زمكه به په خپلو غاښونو سره ژوره وي ، او تا به راكينوي .

حضرت عمر رضي الله عنه عرض وكړو : اې د الله جل جلاله رسوله ! آيا په هغه وخت كې به زه په همدې حالت (يعنى د ايمان او تقوی په حالت) كې يم څنګه چې اوس يم ؟

نبي عليه السلام ورته وفرمايل : هو ، په همدې حالت كې به يې . حضرت عمر رضي الله عنه عرض وكړو : يا رسول الله بيا خو زه د دوی دواړو د پاره كافي يم . (۲)

په يو روايت كې داسې ذكر دي (۳) : چې يو كرت رسول الله صلى الله عليه وسلم د حساب وكتاب واله فرښتې تذكره وكړه نو حضرت عمر رضي الله عنه پوښتنه وكړه : أَتُرَدُّ عَلَيْنَا عُقُوْلُنَا يَارَسُوْلَ اللّٰهِ ؟

اې د الله جل جلاله رسوله ! آيا مونږ ته به زمونږ عقلونه راواپس كولې شي ؟ پيغمبر عليه السلام ورته وفرمايل : هو ، په همدغه شان كيفيت به يې لكه څنګه چې نن يې .

---

(۱) سورة إبراهيم آيت ۲۷ .

(۲) شرح الصدور باب ۲۴ .

(۳) عَنْ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَكَرَ فَتَّانَ الْقَبْرِ فَقَالَ عُمَرُ : أَتُرَدُّ عَلَيْنَا عُقُوْلُنَا يَارَسُوْلَ اللّٰهِ ؟ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صلى الله عليه وسلم : نَعَمْ كَهَيْئَتِكَ الْيَوْمِ . فَقَالَ عُمَرُ : بِفِيْهِ الْحَجَرُ . رواه احمد من طريق لهيعة ، والطبراني باسناد جيد ، الترغيب والترهيب ج ۲ (۱۰ / ۳۲۱۷) واسناده حسن .

حضرت عمر ﷺ وفرمایل : بیا خو آسانه دد ، زه به هغه خاموش کړم . ( د حضرت عمر ﷺ په الله ﷻ حُسنِ ظن و ، او دا امید یې لرلو چې فرښتو ته به صحیح جواب ورکوم ) .

**نوټ : په قبرونو کې د نیکانو د ثابت قدمه پاتې کیدو یو دوه (۲) واقعات درته ذکر کوم :**

## ۱ . د یزید بن هارون فرښتو ته جواب

په نُزهة الناظرین ... کتاب کې د یزید بن هارون واقعه ذکر ده :

عبدالله الصنعاني رحمه الله وایي : چې د یزید بن هارون ( کوم چې سپین ګیرې عالِم و ، او خلقو ته به یې د دین خوډَنه کوله ، دده ) د وفات نه څلور (۴) ورځې روستو ما په خُوب کې ولید ، پوښتنه مې وکړه : مَا فَعَلَ اللهُ بِکَ ؟ الله تعالی څه معامله درسره وکړه ؟ هغه راته وویل : تَقَبَّلَ مِنِّيْ الْحَسَنَاتِ وَتَجَاوَزَ عَنِّي السَّيِّئَاتِ . الله تعالی زما نیک اعمال قبول کړه او زما ګناهونه یې معاف کړه .....

بیا مې ورته وویل : منکر او نکیر خو حق دي . ده راته وویل : قسَم په الله ، زه دوی راکینولم ، او پوښتنه یې رانه وکړه :

مَنْ رَبُّکَ ؟ وَمَا دِیْنُکَ ؟ وَمَنْ نَبِيُّکَ ؟ ستا رب څوک دی ؟ ستا دین څه شی دی ؟ او ستا پیغمبر څوک دی ؟

نو ما ورته وویل : مِثْلِيْ يُسْأَلُ . أَنَا يَزِيْدُ بْنُ هَارُوْنَ الْوَاسِطِيْ كُنْتُ فِيْ دَارِ الدُّنْيَا سِتِّيْنَ سَنَةً أُعَلِّمُ النَّاسَ .

تاسو زما غوندې سړي نه سوال کوئ ؟ زه خو یزید بن هارون یم ، ما خو په دُنیا کې شپیته (۶۰) کاله خلقو ته د همدې سوالونو تعلیم ورکړی ( او هغوی ته مې زده کړي ، نو د مانه څنګه اوس هیر شو ؟ )

دې یوې فرښتې وویل : صَدَقَ ، هُوَ يَزِيْدُ بْنُ هَارُوْنَ ، نَمْ كَنَوْمَةِ الْعَرُوْسِ فَلَا رَوْعَةَ عَلَيْكَ بَعْدَ الْيَوْمِ . رښتیا یې وویل ، دا یزید بن هارون دی . ته د ناوې غوندې اُوده شه

(چې تا ته به هيڅ تکليف نشي درکولې) د نن نه پس به په تا باندې هيڅ يَره نه وي.(۱)

## ۲. د رابعه بصريه فرښتو ته جواب

مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله د رابعه بصريه رحمها الله يوه واقعه رانقل کړې: چې دا ډيره نيکه، پرهيزګاره او عالِمه ښځه وه، کله چې وفات شوه، نو چا په خوب کې وليده، پوښتنه يې ورنه وکړه چې فرښتو درسره په قبر کې څه معامله وکړه؟ دې ورته وويل: کله چې فرښتې راغلې او پوښتنه يې وکړه:

مَنْ رَبُّکَ؟ وَمَا دِيْنُکَ؟ وَمَنْ نَبِيُّکَ؟ ستا رب څوک دی؟ ستا دين څه شی دی؟ او ستا پيغمبر څوک دی؟

رابعه بصريه وايي چې ما ورته وويل: زه به ستاسو د سوال جواب روستو درکوم، خو اول تاسو زما د يو سوال جواب راکړئ: چې تاسو د کوم ځای نه راغلئ؟ فرښتو ورته وويل: مونږ د آسمان نه راغلو.

دې ورنه بيا پوښتنه وکړه: د آسمان او زمکې په مينځ کې څومره فاصله ده؟ فرښتو ورته وويل: پنځه سوه (۵۰۰) کاله په مسافت باندې.

دې ورنه په دريم ځل پوښتنه وکړه: چې تاسو خو ډير لرې ځای نه راغلی، آيا د تاسو نه الله ﷻ هير نه دی؟ دوی ورته وويل: نه، مونږ نه دې دومره لوې سفر باوجود هم الله ﷻ هير نه دی. رابعه بصريه ورته وويل: ښه، چې کله تاسو د دومره لرې نه هم راغلئ او بيا هم درنه الله ﷻ هير نه دی نو آيا ستاسو څه ګمان دی چې زه خو د زمکې نه صرف څلور يا پنځه ګزه ښکته راغلې يم نو د ما نه الله ﷻ څنګه هير شو؟ حالانکه په دُنيا کې خو زه يو ساعت هم د الله ﷻ نه نه يم غافله شوې. فرښتو چې دا جواب واوريده نو تعجب يې وکړو.(۲)

معلومه شوه چې مؤمن او پرهيزګار کس الله ﷻ په قبر کې هم ثابت قدمه ساتي.

---

(۱) نزهة الناظرين في الاخبار والآثار المرويّة عن الانبياء والصالحين کتاب ذکر الموت وما يتعلق به، الفصل الثاني في سؤال منکر ونکير ص۶۴۳.

(۲) حضرت تهانوي رحمه الله کے پسنديده واقعات ص ۴۳، مثالي فکر انگيز واقعات و لطائف ص ۶۲.

**نوټ**: دا خُطبه د تقریرونو نده، بلکه دا صرف شوقاً لیکل شوی

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

## د براعة الاستهلال والا خطبه

۱. اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ خَلَقَ الْاَرْضَ وَالسَّمٰوٰتِ الْعُلٰى
وَشَرَّفَ الْمُؤْمِنِيْنَ بِالنُّوْرِ الَّذِيْ هُوَ نُوْرُ الْهُدٰى

۲. وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى مُحَمَّدٍ هُوَ حَبِيْبُ اللهِ وَ شَمْسُ الْهُدٰى
وَعَلٰى آلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الَّذِيْنَ فَازُوْا بِالدَّرَجَاتِ الْعُلٰى

۳. ثُمَّ اَحْمَدُ اللهَ بِاَنْ وَفَّقَ الْعُلَمَاءَ لِخِدْمَةِ الشَّرِيْعَةِ الْغَرَّاءِ
اَلَّذِيْنَ يَعِظُوْنَ لِاِصْلَاحِ النَّاسِ بِالْوَعْظِ الْمُدَلَّلِ وَالْخُطَبِ الْفُصْحٰى

۴. وَيُبَيِّنُوْنَ مَسَائِلَ الدِّيْنِ بِطَرِيْقِ الْاَسْئِلَةِ وَالْاَجْوِبَةِ الْفَاضِلَةِ الْحُسْنٰى
وَيَجْتَهِدُوْنَ لِتَشْحِيْذِ الْاَذْهَانِ الْكَامِلَةِ فِيْ فَهْمِ الْكَلَامِ الْمُغْلَقِ وَالْمُعَنّٰى

### د خُطبې ترجمه :

۱. ټول تعریفونه الله ﷻ لره دي چاچې زمکه او اُوچت اسمانونه پیدا کړي، او مشرّف کړي يې دي مؤمنان په هغه رڼا سره کومه چې رڼا د هدایت ده (یعنی الله ﷻ مؤمنان د هدایت په رڼا سره مشرف کړي).

۲. او درود وسلام دې وي په محمد ﷺ باندې کوم چې د الله ﷻ محبوب او نمر د هدایت دی، او درود وسلام دې وي په اولاد او صحابه وُ د نبي علیه السلام باندې کوم چې په اوچتو مرتبو کامیاب شوي.

۳. بیا زه د الله ﷻ حمد بیانوم په دې باندې چې الله رب العزت علماؤ ته د روښانه شریعت د خدمت توفیق ورکړې، کوم علماء چې د خلقو د اِصلاح د پاره د مُدَلّل وعظ او فصیحه تقریرونو په ذریعه نصیحت کوي.

۴. او دغه علماء بیانوي خلقو ته د دین مسائل په طریقه د بهترین سوال او جواب سره، او دوی د کامل ذهنونو تیزولو د پاره د پیچیده او مُعنیٰ کلام په معلوملو کې پوره کوشش کوي.

ابوالشمس نُورالهدیٰ عفی عنه